

Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

منطق	خطبات	تفاسیر
معانی	سیرت	احادیث
تصوف	تاریخ	فقہ
تقابل ادیان	صرف	سوانح حیات
تجوید	نحو	درس نظامی
نعت	فلسفہ	لغت
تراجم	حکمت	فتاوی
تبلیغ ودعوت	بلاغت	اصلاحی
	تمام فنون	

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

فتاوی دار العلوم زکریا

جلد دوهم

کتاب الصلاة

افادات

حضرت مولانا مفتی رضاء الحق صاحب دامت برکاتهم
استاذ الحدیث ومفتی دار العلوم زکریا، جنوبي افريقا

تر اهتمام لاندي

حضرت مولانا شبير احمد السالوجي مدظله
مهتمم دار العلوم زکریا، لينيشيا جنوبي افريقا

تهذيب وترتيب

حضرت مفتی عبد الباری ومحمد الیاس شیخ

ناشر

مکتبه رشیدیه

ارګ بازار، کندهار-افغانستان

تيليفون: ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	**فتاوي دار العلوم زکریا**
تالیف	افادات شیخ الحدیث حضرت مفتي رضاء الحق صاحب
ژباړونکي	مولوي عبد الرحمن المظفر الارغستاني کندهاري
تصحیح	مولوي عبد الرحمن المظفر الارغستاني کندهاري
جلد	دوهم
کمپوز او ډیزاین	عبد الصمد
د چاپ کال	(۱۴۳۵ هـ ق، ۱۳۹۳ هـ ش)
د خپرونو لړ	(۱۴)
ناشر	مکتبه رشیدیه ارګ بازار، کندهار-افغانستان
ټلیفون شمېره	۰۷۰۰۳۸۸۶۷۴، ۰۷۷۲۲۱۰۷۰۹

فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالى:

﴿ يا أيها الذين آمنوا إذا قمتم إلى الصلاة فاغسلوا وجوهكم وأيديكم إلى المرافق وامسحوا برءوسكم وأرجلكم إلى الكعبين ﴾

كتاب الطهارت

كتاب دئ په بيان كي د پاكي

اول............باب

د اوداسه او غسل بيان

د بسم الله د هیرېدو په صورت کي په منځ کي د ويلو حکم

سوال: که يو څوک د اوداسه په شروع کي د بسم الله الرحمن الرحيم ويل هير کړی نو د اوداسه په منځ کي د بسم الله اوله واخره په ويلو سره سنت اداء کيږي او که نه؟

الجواب: چي کله د اوداسه په شروع کي بسم الله هيره کړي او په منځ کي يې ووايي نو سنت نه اداء کيږي خو بايد وويل سي چي په پاته اوداسه کي د سنت برکت حاصل سي يا دي بسم الله ووايي او بيا دي اودس له سره وکړي.

وګورئ په مرقات المفاتيح کي راځي:

وقال ابن الهمام رحمه الله: نسى التسمية فذكرها فى خلال الوضوء فسمى لاتحصل السنة بخلاف نحوه فى الأكل كذا فى الغاية معللا بأن الوضوء عمل واحد بخلاف الأكل. (مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح: ١٢/ ٤٥٥).

په بحر الرائق کي راځي:

ولو نسي التسمية في ابتداء الوضوء ثم ذكرها في خلاله فسمى لا تحصل السنة بخلاف نحوه في الأكل كذا في التبيين معللًا بأن الوضوء عملواحدبخلاف الأكل ، فإن كل لقمة فعلمبتدأ. ولهذا ذكر في الخانية لو قال كلما أكلت اللحم فلله علي أن أتصدق بدرهم فعليه بكل لقمة درهم؛ لأن كل لقمة أكل. لكن قال المحقق ابن الهمام: هو إنما يستلزم في الأكل تحصيل السنة في الباقي لا استدراك ما فات. وظاهره مع ما قبله أنه إذا نسي التسمية فإتيانه بها وعدمه سواءمع أن ظاهر ما في السراج الوهاج أن الإتيان بها مطلوبولفظه: فإن نسي التسمية في أول الطهارة أتى بها إذا ذكرها قبل الفراغ حتى لا يخلو الوضوء منها . (البحر الرائق:١/ ٢٠، كوئته).

په فتاوی شامي کي دي:

قوله (وأما الأكل الخ) أي إذا نسيها في ابتدائه واعلم أن الزيلعي ذكر أنه لا تحصل السنة في الوضوء وقال بخلاف الأكل لأن الوضوء عمل واحد بخلاف الأكل فإن كل لقمة فعل مبتدأ. ولايمكن الاستدارک فی الوضوء بقوله بسم الله اوله واخره لأن الحديث وارد فی الأكل ولاحديث فی الوضوء. (فتاوى الشامى:۱/ ۱۰۹، سعيد).

په طحطاوي علي الدر کي راځي:

وكما فی ابتداء الوضوء قبل الاستنجاء وبعده الاحال الانكشاف وفی محل نجاسة فيسمی بقلبه. ولو نسيها فسمی لاتحصل السنة بل المندوب كما فی سراج الوهاج ولفظه: إذا نسی التسمية فی أول الطهارة أتی بها إذا ذكرها قبل الفراغ حتی لايخلو الوضوء منها، فما فی أكثر الكتب من عبارة تدل علی عدم الاتيان بها مما لاينبغی، وكما فی ابتداء الأكل... الخ. (حاشية الطحطاوی علی الدر:۱/ ۵) . والله ﷻ اعلم.

په ولاړي د اوداسه کولو حکم

سوال: دلته او په ځينو نورو مملکتونو کي خلک په ولاړه اودس کوي ځکه د اوداسه ځای داسي جوړ سوی وي چي په اودس کولو کي اساني وي نو ايا په ولاړي اودس کول روا دئ او په ولاړه اودس کول ښه دئ او که په ناسته؟

الجواب: په ولاړه اودس کول روا دئ څه بدي پکښي نه سته په اوداسه کي اصل دا دئ چي په کوم حالت کي چي د اوداسه د اندامونو په منيځلو کي اساني وي بايد هغه طريقه اختيار سي که چيري د اوداسه ځای داسي جوړ وي چي ځيني اندامونه په ولاړي اسانه منيځل کيږي او ځيني په ناسته اسانه وي نو دغسي کول ښه دي، ځکه که د ولاړي په ځای کي په ناسته اودس وکړل سي نو له سختي سره سره به مستعملي اوبه پر جامو لويږي لکه څنګه چي کله د حضرت مفتي محمود الحسن ګنګوهی څخه سوال وکړل سو چي په ولاړه د پښو وينځل څنګه دي نو ده وفرمايل: چي په ولاړه سره د پښو

په منیځلو کي څه باک نه ستـه بلکي د مستعملو اوبو څخه د ځان ساتنی لـه پاره په ولاړه د پښو وینځل ښه دي. (فتاوی محمودیه:۷/ ۱٦).

همدارنګه په درمختار کي راځي:

والجلوس فی مکان مرتفع تحرزاً عن الماء المستعمل. (الدرالمختار:۱/ ۱۲۷).

معلومه سوه چي پـه اوداسـه کـي داسي هیئت اختیـارول چي لـه هغـه څخـه اسـاني راسـي او د مستعملو اوبو څخه ځان وساتل سي یوازي صحیح نه بلکي ډېر ښه دئ.

په بخاري شریف کي راځي:

عن كريب مولى ابن عباس ﷺ أن عبد الله بن عباس ﷺ أخبره أنه بات ليلةً عند ميمونة زوج النبي ﷺ وهي خالته فاضطجعت في عرض الوسادة واضطجع رسول الله ﷺ وأهله في طولها فنام رسول الله ﷺ حتى إذا انتصف الليل ، أو قبله بقليل ، أو بعده بقليل استيقظ رسول الله ﷺ فجلس يمسح النوم عن وجهه بيده ثم قرأ العشر الآيات الخواتم من سورة آل عمران ثم قام إلى شن معلقة فتوضأ منها. (بخاری شریف باب قراءة القرآن بعد الحدیث:۱/ ۳۰)

له دغه روایت څخه معلومه سوه چي انحضرت ﷺ له راځېدلي ژي څخه په ولاړه اودس وکړ، البته دا خبره باید په یاد کي وساتل سي چي په ولاړه اودس کول د اساني له امله روا دئ خو د نبي کریم ﷺ د عمل طریقه په اوداسه کي حضرت علي کرم الله وجهه نقل کړي ده چي اودس به يې په ناسته کاوه.

لکه چي په ترمذي شریف کي راځي:

"عن أبي حية قال : رأيت علياً توضأ فغسل حتى أنقاهما ثم مضمض ثلاثاً واستنشق ثلاثاً وغسل قدميه إلى الكعبين ثم قام فأخذ فضل طهوره فشربه وهو قائم ثم قال: أحببت أن أريكم كيف كان طهور رسول الله ﷺ" . (ترمذی شریف باب فی وضوء النبی کیف کان:۱/ ۱۷).

له دې روایت څخه معلومیږي چې د ده مبارک ﷺ عمل دا ؤ چې اودس به یې په ناستې کاوه، لهذا په ناستی اودس مستحب دي او په ولاړي یې کول روا دي. والله ﷻ اعلم.

په ناسته د اوداسه کولو د استحباب حکم

سوال: ایا اودس په ناسته کول مستحب دي او که په ولاړه؟

الجواب: په ناسته اودس کول مستحب دي په بهشتی زیور کې راځي د اودس کونکي له پاره په کار ده چې د اوداسه په وخت کې قبلې ته مخامخ پر داسې لوړ ځای کېښیني چې څاڅکي ورباندې ونه مښلي. (بشهتی زیور، ص:۲۵)

په ترمذي شریف کې راځي:

"عن أبي حية قال : رأيت علياً توضأ فغسل حتى أنقاهما ثم مضمض ثلاثاً واستنشق ثلاثاً وغسل قدميه إلى الكعبين ثم قام فأخذ فضل طهوره فشربه وهو قائم ثم قال: أحببت أن أريكم كيف كان طهور رسول الله ﷺ" . (ترمذی شریف باب فی وضوء النبی کیف کان:۱/ ۱۷).

له دې روایت څخه معلومیږي چې انحضرت ﷺ به په ناستې اودس کاوه بیا به یې د اوداسه پوره کولو وروسته پاته سوی اوبه په ولاړې چښلې او په ناسته اودس کول یې عادت شریفه ؤ.

علامه ابن عابدین رحمه الله وایي:

"الجلوس في مكان مرتفع تحرزاً عن الماء المستعمل". (فتاوی الشامی:۱/ ۱۲۷).

خو که یې په ولاړه اودس وکړ ګنجائش سته ځکه په حدیث شریف کې راځي:

"عن ابن عباس أن النبي ﷺ نام حتى نفخ ثم صلى ، وربما قال اضطجع حتى نفخ ، ثم قام فصلى ثم ، حدثنا به سفيان مرةً عن عمرو عن كريب ، عن ابن عباس قال بت عند خالتي ميمونة ليلةً فقام النبي ﷺ من الليل فلما كان في بعض الليل قلم النبي ﷺ فتوضأ من شن معلق وضوءًا خفيفًا يخففه عمرو ويقلله وقام ..." (بخاري شريف:۱/ ۲۵، باب التخفيف في الوضو).

بخاري شريف په دوهم روايت کي راځي:

"فقام إلى شن معلقة فتوضأ منها" (بخاری شريف:١/ ٣٠).

له دې روايت څخه معلوميږي چي انحضرت ﷺ له راځړيدلی ژی څخه په ولاړي اودس کړي دئ نو له دې څخه په ولاړه داودس کولو ګنجائش معلوميږي. والله ﷻ اعلم.

په اوداسه کي د ږيري د خلال صحيح طريقه

سوال: په اوداسه کي د ږيري د خلال صحيح طريقه څه ده؟

الجواب: د ږيري د خلال صحيح طريقه دا ده چي په خپل ورغوي کي اوبه واخلي د ږيري له لاندي څخه دي ورواچوي بيا دي د خپل ورغوی شا د خپلی غاړي طرفته کړي او له لاندي څخه دي لوړ طرفته خلال کړي دغه طريقه سعايي او طحطاوي اختيار کړي ده، خو علامه شامي فرمايي چي په ورغوي کي دي اوبه واخلی او د ږيري لاندي دي يې کښيږدي او لوړ طرفته دي مسح وکړي د ورغوی داړولو څخه داوبو اخيستلو مقصد نه حاصليږي خو علامه لکهنوی دغه رد کړي ده.

وګورئ په سعايه کي راځي:

وفي منح الغفار: كيفيته على وجه السنة أن يدخل أصابع اليد في فروجها التي بين شعراتها من أسفل إلى فوق بحيث يكون كف اليد إلى الخارج وظهرها إلى المتوضئ انتهى. وتعقبه ابن عابدين رحمة الله عليه بأن المتبادر من رواية أبي داود أنه عليه الصلاة والسلام أخذ كفاً من ماء تحت حنكه فخلل به لحيته إدخال اليد من أسفل بحيث يكون كف اليد الداخل من جهة العنق وظهرها إلى خارج ليمكن إدخال الماء الماخوذ في خلال الشعر ولايمكن ذلک على الكيفية المارة فلا يبقى لأخذه فائدة، قلت: ماذكره من المتبادر ليس بصحيح فإن الروايه المذكورة إنما تقتقي كون الكف إلى جهة العنق عند إدخال الماء إلى الشعرات وأما كونه كذلک عند التخليل فكلا، والظاهر أن يجعل الكف إلى عنقه حال وضع الماء ويجعل ظهر

كفه إلى عنقه حال التخليل هو الذي نقله الطحطاوي في حواشي مراقي الفلاح عن الحموي فافهم. (السعاية:١/ ١٢٧،ط:سهيل الكيدمي).

په ابو داؤد شريف كي راځي:

عن أنس ابن مالك ﷺ أن رسول الله ﷺ كان إذا توضأ أخذ كفا من ماء فأدخله تحت حنكه فخلل به لحيته وقال: هكذا أمرني ربي عز وجل. (أبو داؤد باب تخليل اللحية،ص:١٩).

له حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ چي به كله اودس كاوه نو په ورغوي كي به يې اوبه اخيستى او له زني لاندي به يې داخلاوه او د بېرې مباركي خلال به يې كاوه.

په طحطاوي كي راځي:

"وأصح الروايتين عن محمد كان يخلل لحيته ولحيته الشريفة كانت كثة غزيرة الشعر من جهة الأسفل إلى فوق ويكون الكف إلى عنقه أي حال وضع الماء ويجعل ظهر كفه إلى عنقه حال التخلل". (حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح،ص:٧٠، ط: قديمي). والله ﷻ اعلم.

په اوداسه كي له بل څخه د مرستي غوښتلو حكم

سوال: كه كوم څوك په اوداسه كي له بل څخه مرسته وغواړي او هغه ته وواېي چي ته اوبه راواچوه يا لاسونه او پښې راومنيځه نو حكم يې څه دئ؟

الجواب: په اوداسه كي داوبو تراچولو تر حده دبل څخه د مرستي غوښتلو گنجائش سته خو كه بل څوك بېله عذره لاسونه او پښې ورمينځي نو مكروه دي.

وحاصله أن الاستعانة في الوضوء إن كانت بصب الماء أو استقائه أو إحضاره فلا كراهة بها أصلا ولو بطلبه وإن كانت بالغسل والمسح، فتكره بلا عذر، ولذا قال في التاتر خانية من الاداء ب: أن يقوم بأمر الوضوء بنفسه ولو استعان بغيره جاز بعد أن لا يكون الغاسل غيره بل يغسل بنفسه . (فتاوى الشامي:١/ ١٢٧).

استعانت درې قسمونه لري (۱) استعانت په اوبو راغوښتلو کې روا دئ، (۲) استعانت په اوبو اچولو کې خلاف اولی دئ مګر دا چې کوم عذر وي، (۳) استعانت په اوبو اچولو او اندامونو مښلو سره مکروه دئ که چیري عذر نه ؤ . والله ﷻ اعلم.

په اوداسه کې د ګوتو د خلال وخت

سوال: په اوداسه کې د ګوتو خلال باید کوم وخت وکړل سي په آخر کې که په شروع کې یا د مړوندونو د وینځلو وروسته؟

الجواب: د ګوتو د خلال وخت د مړوندونو د وینځلو وروسته دئ .

وګورئ په درمختار کې راځي:

(و) تخليل (الأصابع) اليدين بالتشبيك والرجلين ... وفى البحر: ويقوم مقامه أى تخليل الأصابع الإدخال فى الماء ولولم يكن جارياً وفيه عن الظهيرية: والتخليل إنما يكون بعد التثليث لأنه سنة التثليث. (الدر المختار مع الشامى:۱/ ۱۱۷، سعيد).

په بحرالرائق کې راځي:

وفى الظهيرية: والتخليل إنما يكون بعد التثليث لأنه سنة التثليث . (بحر الرائق:۱/ ۲۲).

په بهشتی زیور کې راځي:

درې ځله دې راسته لاس له ګنګلی سره ومینځي بیا دې چپه لاس د ګنګلی سره درې ځله ومینځي او دیوه لاس ګوتې دې په بل لاس کې واچوي او هغه دې خلال کړي. (بشهتى زيور حصه اول،ص:٦٥).

له یاد عبارت څخه معلومیږي چې دواړه لاسونه دې له ګنګلو سره درې ځله ومینځي له هغه وروسته دې ګوتې خلال کړي. والله ﷻ اعلم.

د (contact lens) کنټېکټ لینز سره د اوداسه حکم

سوال: د کنټېکټ لینز (contact lens)[۱] سره اودس راو دي او که نه؟ ځینی علما وايي چې له هغه سره اودس روا نه دئ؟

الجواب: د کنټېکټ لینز (contect lens) سره اودس روا دئ ځکه په اوداسه او غسل کې د سترګي د دننه برخي مینځل ضروري نه دي .

په درمختار کي راځي:

ولايجب غسل مافيه حرج كعين، وفی رد المحتار: لأن في غسلها من الحرج مالايخفى لأنها شحم لاتقبل الماء. (الدر المختار مع الشامی:۱/ ۱۵۲، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولايجب إيصال الماء إلى داخل العينين كذا فی محيط السرخسي. (الفتاوی الهندية:۱/ ۱۳، الباب الثانی فی الغسل).

په فتاوی خانیه کي راځي:

ولايجب إيصال الماء إلى داخل العينين، ومن الناس من قال لايضم العينين كل الضم ولايفتح كل الفتح حتی يصل الماء إلى أشفاره وجوانب عينيه. (فتاوی خانيه:۱/ ۳۳، باب الوضوء والغسل).

په بدائع الصنائع کي راځي:

---

(۱) دا هغه شی دئ چې کله یو سړي د سپورټ پر ماشین باندي سپورټ کوي نو که چیري عینکي پر سترګو کي عینکي ورځخه ولیږي اوس دي (کنټېکټ لینز) استعمال وي .
یا اوسني ښځي يې د فیش له پاره په سترګو کي ایږدي مثلاً کالي يې سره وي دا ښځه دغه کنټېکټ لینز پر سترګو کوي چې سترګي يې سرې ښکاري سي.

لأن داخل العين ليس بوجه لأنه لايواجه إليه ولأن فيه حرجاً. (بدائع الصنائع مطلب غسل الوجه).

له ذکر سوي عبارت څخه معلوميږي چي په غسل او اوداسه کي د سترګي دننه برخي ته اوبه رسول ضروري نه دي، لهذا د کونټېک لينس د استعمال څخه پر اوداسه کوم اثر نه غورځي، البته د اوداسه په دوران کي سترګي په دومره زور سره بندول درست نه دي چي د سترګو کونجان وچ پاته سي ځکه د هغه منيځل ضروري دي. والله ﷻ اعلم.

د نوکانو د پالش په موجوديت کي د اوداسه او غسل حکم

سوال: که يې نوکان پالش کړي وه د غسل او اوداسه حکم څه دئ؟

الجواب: د ځينو علماؤ په اند که يې په ليري کېدو کي تکليف ؤ نو اودس يې کيږي خو د مشکوکو شيانو د لکولو څخه ځان ساتل په کار دي او د زينت له پاره نکريځي وغيره کافي دي، البته اکثره علماء فرمايي چي اودس او غسل يې نه کيږي.

په درمختار کي راځي:

ويجب أي يفرض غسل كل ما يمكن من البدن بلا حرج مرة ...ولايمنع ما على ظفر صباغ ولاطعام بين أسنانه أو في سنه المجوف به يفتى. وقيل: إن صلبا منع وهو الأصح.

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله أن صلبا) أي إن كان ممضوغاً مضغاً متأكداً، بحيث تداخلت اجزاؤه وصار له لزوجة وعلاكة كالعجين شرح المنية. (قوله وهو الأصح) صرح به فى شرح المنية وقال: لامتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة والحرج. (الدر المختار مع الشامى:۱/ ۱۵۲/ ۱۵٤).

په فتاوی هنديه کي راځي:

والصرام والصباغ ما في ظفر هما يمنع تمام الاغتسال وقيل كل ذلك يجزيهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع كذا في الظهيرية. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۳).

په فتاوی حقانیه کي رائحي:

د اوسنی زماني مشهور علماء د نوکانو د پالش د نه جواز قایل دي ځکه د نوکانو له پالش څخه د نوکانو جسم پټیږي په اوداسه او غسل کي ورته اوبه رسول ممکن نه وي نو د لندو اوړو په شان د اوداسه او غسل څخه مانع دي خو د ځینو نورو علماؤ په اند که د نوکانو پالش د ښځي له پاره زینت ومنل سي نو په دغه صورت کي که یې په لیري کېدو کي تکلیف نه وي نو د اوداسه او غسل له پاره یې لیري کېدل ضروري دي او که یې په لیري کېدو کي تکلیف وي نو که یې پوښ جوړ کړي نه وي بیا یې حکم د نکریځو په شان دئ او که پریو ځای جمع سوي وي پوښ یې جوړ کړی وي نو که یې په لیري کېدو کي حرج وي نو د حرج له امله ورته د اوبو رسول ضروري نه دي. (فتاوی حقانیه: ۲/ ۱۰۵).

په فتاوی فریدیه کي رائحي:

که چیري د نوکانو پالش د چاقو او نورو الاتو پرته نه لیري کېدئ نو بیا به د تکلیف له امله د اوداسه او غسل څخه مانع نه وي. (فتاوی فریدیه: ۲/ ۵۲).

بل ځای فرمایي احتیاط یې په لیري کېدو کي دئ، البته د بقا په صورت کي یې هم ګنجائش سته. (فتاوی فریدیه: ۲/ ۵٤).

البته د نورو علماؤ په اند د نوکانو پالش د اوداسه او غسل له پاره مانع دئ.

د تفصیل له پاره وګورئ (احسن الفتاوی: ۲/ ۲٦، جدید فقهی مسائل: ۱/ ۸۷). والله تعالی اعلم.

په تفریحی تالاب کي د دوا په اوبو سره د اوداسه کولو حکم

سوال: د تفریحی تالاب (SWIMMING _ POOL) اوبه اکثره د دوا (CHEMICALS) په ذریعه صفا کیږي او د دوا (CHEMICALS) له امله د واوبو بوي او خوند بدلیږي نو سوال دا دئ چي په داسي او یو اودس کول درست دي او که نه؟

الجواب: که چیري دوا (CHEMICALS) د صفایي له امله وراچول سوی وي نو په دغو اوبو اودس درست دئ که څه هم خوند او بوی یې بدل سي، البته که اوبه ختهه سي نو بیا اودس درست نه دئ.

په فتاوي هندیه کي راځي:

وإن طبخ فی الماء مایقصد به المبالغة فی النظافه کالأشنان والصابون جازالوضوء به بالإجماع إلا إذا صارثخیناً فلا یجوز کذا فی محیط السرخسی. (الفتاوی الهندیه:۱/ ۲۱).

په فتاوي قاضي خان کي راځي:

لایجوز الوضوء بماء الورد والزعفران ولابماء الصابون والحرض (اشنان) اذا ذهبت رقته وصار ثخینا وإن بقیت رقته ولطافته جاز به التوضؤو کذا لوطبخ بالماء مایقصد به المبالغة فی التنطیف کالسدر والحرص وان تغیر لونه ولکن لم تذهب رقته یجوزبه التوضؤ وإن صار ثخیناً مثل السویق لایجوز التوضؤ. (فتاوی قاضی خان:۱/ ۱۶) والله ﷻ اعلم.

په هغو اوبو سره چي شیدې ورګډې سوي وي د اوداسه حکم

سوال: هغه اوبو چي شیدې ورسره ګډي سي ایا اودس وربانديي کول درست دي او که نه؟

الجواب: که چیري د اوبو رنګ د شیدو په شان ؤ، نو اودس درست نه دئ او که شیدې ډېري لږ وي د اوبو رنګ یې بدل نه کړ نو اودس درست دئ.

په نور الایضاح کي راځي:

ولایجوز (الوضوء) بماء شجر وثمر إلی قوله ولابماء زال طبعه بالطبخ أو بغلبة غیره علیه، والغلبة فی المائعات بظهور وصف واحد من مائع له وصفان فقط کاللبن له اللون والطعم ولارائحة له. (نور الایضاح،ص:٢٤).

په امداد الفتاح کي راځي:

(من مائع له وصفان) فقط ومثل ذلک بقوله: کاللبن له اللون والطعم فإن لم یوجدا جاز به التوضؤ، وإن وجد أحدهما لم یجز. (امداد الفتاح،ص:٤١، وعالمگیری:١/ ١٣).

خلاصه دا ده چي که په اوبو کي شیدې یو ځای سي نو وبه لیدل سي که په اوبو کي د شیدو رنګ او یا خوند ښکاره سو یعنی له دو صفتونو څخه یې یو صفت بدل سو نو اودس به درست نه وي. والله ﷻ اعلم.

په اوداسه کي پر ځینو اعضاؤ د مسح کولو حکم

سوال: که د یو چا د پښې ځنی برخه زخمي وي او ځینی یې روغه وي نو پښه به مینځل کیږئ او که به مسح ورباندي کیږي یا به یو څه مینځي او پر یو څه به مسح کوي؟

الجواب: د پښې هغه برخه چي زخمي وي او اوبه ورته نقصان رسوي پر هغه برخه به یې مسح کیږي یعنی لوند لاس به ورباندي تېر کړي او پاته برخه به یې مینځي، همدارنګه چي زخم ته اوبه ونه رسیږي.

په امداد الفتاح کي راځي:

(ومسح الجریح) مسحاً علی الجسد إن استطاع وإلاعلی خرقة ونحوها وإن ضره ترکه.

(امداد الفتاح شرح نور الایضاح،ص:١٢٩).

په طحطاوي کي راځي:

وقیل یغسل الصحیح یمسح الجریح وصححه فی المحیط والخانیة. (حاشیه الطحطاوی علی مراقی الفلاح،ص:١٢٦، قدیمی).

په فتاوی شامي کي راځي:

لکن إذا كانت زائدة على قدر الجراحة فإن ضره الحل والغسل مسح الكل تبعاً وإلا فلا، بل يغسل ما حول الجراحة ومسح عليها لا على الخرقة، ما لم يضره مسحها فيمسح على الخرقة التي عليها. (ردالمحتار:۱/ ۲۸۰، سعید). والله ﷻ اعلم.

د کینسر (سرطان) د مریض له پاره د مسح کولو حکم

سوال: یو څوک د کینسر مریض دئ ډاکټر پر مخ داوبو تېرولو څخه منع کړی دئ په دغه حالت کي به دی اودس څنګه کوي؟

الجواب: داسي کس به پر مخ پنډه جامه واچوي او مسح به وکړي داوبو اچولو ضرورت نه سته، البته که يې نورو اعضاؤ ته هم اوبه ضرر ولري نو تيمم به کوي.

په فتاوی شامي کي راځي:

(تيمم لو) كان (أكثره مجروحاً) أو به جدرى اعتباراً للأكثر (وبعكسه يغسل) الصحيح ويمسح الجريح (قوله وبعكسه) وهو مالو كان أكثر الأعضاء صحيحاً يغسل... لكن إذا كان يمكنه غسل الصحيح بدون إصابة الجريح وإلا تيمم حلية (قوله ويمسح الجريح) أى إن لم يضره وإلا عصبها بخرقة ومسح فوقها خانية وغيرها ومفاده كما قال: إنه يلزمه شد الخرقة إن لم تكن موضوعة. (فتاوى الشامى:۱/ ۲۵۷، وهكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح،ص:۱۲٦، قديمى). والله ﷻ اعلم.

د ښځي د پوزي او غوږونو سوريو ته د اوبو رسولو حکم

سوال: که د يوې ښځي په پوزه او غوږونو کي سوري وي نو په اوداسه کي ورته د اوبو رسول ضروري دي او که نه؟

الجواب: کومه ښځه چي داسي شيان اغوندي چي له امله يې په غوږ او پوزه کي سوري وي نو هغه دي ښه وښوروي چي اوبه يې سوريو ته ورسيږي او د غسل په وخت کي داسي نه وي چي اوبه ونه

رسیږي او غسل او اودس یې صحیح نه وي، البته که یې ګوتمۍ او غوږ والي وغیره ازادوي چي بېله ښوررولو ورته اوبه ورسیږي نو ښوررول یې واجب نه دي، خو ښوررول یې اوس هم ښه دي. (بہشتی زیور،ص.۷۷).

د منیة المصلي په شرحه کي راځي:

امرأة اغتسلت هل تتكلف فی إیصا الـمـاء إلی ثقب القرط أم لا (القرط) ما یعلق فی شحمة الأذن (قال) محمد فی الاصل وهذا داب صاحب الـمحیط بذكر لفظ قال ومراده ذلک تتكلف فیه أی فی إیصال الـمـاء إلی ثقب القرط كما تتكلف فی تحریک الـخاتم ان كـان ضیقاً والـمعتبر فیه غلبة الظن بالوصول إن غلب علی ظنها أن الـمـاء لایدخله إلا بتكلف تتكلف وإن غلب أنه وصله لاتتكلف سواء كان القرط فیه أم لا وإن انضم الثقب بعد نزع القرط وصاربحال إن أمر علیه الـمـاء یدخله وإن غفل لا فلا بد من إمراره ولاتتكلف لغیر الإمرار من إدخال عود ونحوه فإن الـحرج مدفوع وإنما وضع الـمسألة فی الـمرأة باعتبار الغالـب وإلا فلا فرق بینها وبین الرجل. (شرح منیة الـمصلی،ص:٤٨).

له پورته عبارت ښخه معلومیږي چي کله د غوږو نرمی سوری وي او زیورات یې پکښي اچولی وي نو په غسل کي اوبه ورته رسول ضروري دي او که یې غالب ګمان وي چي هغه بند سوی دئ، نو د خلاصولو ضرورت یې نه سته خو د پزي سوري ته په اوداسه او غسل دواړو کي اوبه رسول ضروري دي که یې د پزي سوري بند سوی وي نو په زور سره یې د خلاصولو ضرورت نه سته، دا خبره دي یاده وي چي د غوږونو و سوریو ته په غسل کي د اوبو رسول ضروري دي مګر په اوداسه کي خو د غوږو مینځل نه سته. والله ﷻ اعلم.

که یې د سرو زرو غاښ او یا خول (پوښ) لګولی وي نو د اوداسه او غسل حکم

سوال: که چا د سرو زرو غاښ بېله ضرورته ولګاوه یا یې بېله ضرورته غاښ ته د سرو زرو پوښ ور واغوستی نو د ده غسل او اودس کیږي او که نه؟

الجواب: د سرو زرو د غاښ په ایښودلو کي د فقهاؤ اختلاف دئ نو چي تر څو پوري واقعي ضرورت نه وي له هغه څخه باید ځان وساتل سي مګر چي کله یې کښېښودي او بېله مشقته یې لیري کولای نه سي نو دغه د بدن د یو جزء په شان دئ لهذا د غسل څخه به مانع نه وي.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د امام اعظم رحمه الله په اند د سپینو زرو میخ پتری او غاښ ایښودل روا دي خو د سرو زرو میخ پتری لګول روا نه دي، د امام محمد رحمه الله په اند د سرو زرو میخ وغیره هم درست دي، د سرو زرو له میخ څخه د اختلاف له امله ځان ساتل ښه دي. (فتاوی محمودیه: ٥/ ٢١٨).

په فتاوی هندیه کي راځي:

قال محمد فی الجامع الصغیر: ولا یشد الأسنان بالذهب ویشدها بالفضة... وهو قال أبي حنیفة وقال محمد: یشدها بالذهب أیضاً... وذکر الحاکم فی المنتقی لوتحرکت سن رجل وخاف سقوطها فشدها بالذهب أو بالفضة لم یکن به بأس عند أبی حنیفه و أبي یوسف وروی الحسن عن أبي حنیفه أنه فرق بین السن والأنف. (الفتاوی الهندیة: ٥/ ٣٣٦).

په آپ کی مسائل او ران کا حل نومي کتاب کي راځي:

پر غاښونو د سرو زرو یا د هغه په مثال د بل فلز څخه جوړ سوی پوښ اغوستل روا دي په دغه حالت کي یې اودس او غسل روا کیږي کوم شی چي دارنګه ومښلي چي د هغه لیري کول ممکن نه وي مثلاً پر غاښونو د سرو او یا سپینو زرو خول دارنګه ومښلوي چي هغه نه لیري کیږي نو د هغه ښکاهر برخي ته د غاښ حکم ورکول کیږي او د لیري کېدو پرته یې غسل روا دئ. (آپ کی مسائل او ران کا حل: ٢/ ٥٢).

پہ فتاوی رحیمیہ کي راځي:

کله چي د غاښونو پہ سوریو کي سپین زر او یا سرہ زر اچول کیږي او هغه ډکیږي نو هغه اچول سوی شی د بدن جزء جوړیږي او پہ غسل او اوداسہ کي هغه شی تہ داوبو رسول کافي دي. (فتاوی رحیمه:۳/ ۱۰).

پہ فتاوی هندیہ کي راځي:

ولو کان سنه مجوفاً فبقي فيه أو بين أسنانه طعام أو درن رطب في أنفه تم غسله على الأصح كذا في الزاهدي. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۳). والله ﷻ اعلم.

د هغو دعا گانو حکم چي پہ اوداسہ کي ویل کیږي

سوال: پہ اوداسہ کي پر هر اندام دعاگاني ویل کیږي مثلاً د مخ د مینځلو پہ وخت کي "اللّٰهم بيض وجهي يوم تبيض وجوه" وغیرہ چي د فقهي پہ کتابونو کي ذکر سوي دي مثلاً پہ شامي کي راځي:

والدعاء بالوارد عند كل عضو، فيقول بعد التسمية عند المضمضة: اللّٰهم أعني على تلاوة القرآن وذكرك وشكرك وحسن عبادتك، وعند الاستنشاق: اللّٰهم أرحني رائحة الجنة ولا ترحني رائحة النار، وعند غسل الوجه: اللّٰهم بيض وجهي يوم تبيض وجوه وتسود وجوه، وعند غسل يده اليمنى: اللّٰهم أعطني بيميني وحاسبني حساباً يسيراً، وعند اليسرى: اللّٰهم لا تعطني كتابي بشمالي ولا من وراء ظهري، وعند مسح رأسه: اللّٰهم أظلني تحت عرشك يوم لا ظل إلا ظل عرشك، وعند مسح أذنيه: اللّٰهم اجعلني من الذين يستمعون القول فيتبعون أحسنه، وعند مسح عنقه: اللّٰهم أعتق رقبتي من النار، وعند غسل رجله اليمنىٰ: اللّٰهم ثبت قدمي على الصراط يوم تزل الأقدام، وعند غسل اليسرىٰ، اللّٰهم اجعل ذنبي مغفوراً وسعيي

مشكوراً وتجارتي لن تبور. (فتاوى الشامي:١/ ١٢٧، والدرر:١/ ١٢، والفتاوى الهندية:١/ ٩، كبيرى،ص:٣١). دغه دعاګانی ثابتي دي او که نه؟ دويلو حکم يې څه دئ؟

الجواب: د دغه رواياتو په سندونو کي اکثره راويان ضعيف دي او محدثينو په هغه کي کلام کړى دئ، امام نووی رحمه الله فرمايي "لا أصل له" لهذا دغه روايات ضعيف دي مګر موضوعی نه دي نو ځکه د فضائلو په باب کي ورباندي عمل کېداى سي نو که يې کله کله ووايي، څه باک نه لري، البته سنت به يې نه ګڼي، البته په شروع کي بسم الله او پر هر اندام د شهادت کلمه او په اخر کي "اللّٰهم اجعلنى ...الخ" دغه په حسن حديث ثابت دي او ويل يې مستحب دي.

پر رواياتو کلام وګورئ په کنز العمال کي راځي:

عن الحسن عن علي رضي الله عنه قال: علمني رسول الله ﷺ ثواب الوضوء فقال: يا علي إذا قدمت وضوءك فقل: بسم الله العظيم والحمد لله على الإسلام، فإذا غسلت فرجك فقل: اللّٰهم حصن فرجي واجعلني من التوابين ... الخ (أبو القاسم بن منده في كتاب الوضوء والديلمي، والمستغفري في الدعوات، وابن النجار، قال الحافظ ابن عساكر في أماليه: هذا حديث غريب ورواته معروفون لكن فيه خارجة بن مصعب تركه الجمهور وكذبه ابن معين، وقال حب: (ابن حبان فى صحيحه): كان يدلس عن الكذابين أحاديث رووها عن الثقات الذين لقيهم فوقعت الموضوعات في روايته. (كنز العمال:٩/ ٤٦٦/ ٢٦٩٩٠).

په کنز العمال کي راځي:

عن أبي إسحاق السبيعي رفعه إلى علي بن أبي طالب رضي الله عنه: علمني رسول الله ﷺ كلمات أقولهن عند الوضوء فلم أنسهن، كان رسول الله ﷺ إذا أتي بماء فغسل يديه قال: بسم الله العظيم والحمد لله على الإسلام ... الخ.

المستغفري في الدعوات، وأورده ابن دقيق في الاقتراح وقال: أبو إسحاق عن علي منقطع وفي إسناده غير واحد يحتاج إلى معرفته والكشف عن حاله، قال ابن الملقن في تخريج أحاديث الوسيط وهو كما قال فقد بحثت عن أسمائهم في كتب الأسماء فلم أر إلا أحمد بن مصعب المروزي قال في اللسان: هو متهم بوضع الحديث والراوي عنه أبو مقاتل سليمان بن محمد بن الفضل ضعيف. (كنز العمال:۹/ ٤٦٧/ ٢٦٩٩١).

یہ کنز العمال کی رائحی:

عن محمد ابن الحنفية قال: دخلت على والدي علي بن أبي طالب رضي الله عنه وإذا عن يمينه إناء من ماء فسمى ثم سكب على يمينه، ثم استنجى وقال: اللهم حصن فرجي واستر عورتي ولا تشمت بي الأعداء، ثم تمضمض واستنشق وقال: ...الخ. (كذا في أماليه وفيه أصرم بن حوشب كان يضع الحديث). (كنز العمال:۹/ ٤٦٨/ ٢٦٩٩٢).

یہ نیل الاوطار کی رائحی:

وأما ما ذكره أصحابنا والشافعية في كتبهم من الدعاء عند كل عضو كقولهم يقال عند غسل الوجه اللهم بيض وجهي.... فقال الرافعي وغيره: ورد بهذه الدعوات الأثر عن الصالحين. وقال النووي في الروضة: هذا الدعاء لا أصل له. وقال ابن الصلاح: لا يصح فيه حديث. وقال الحافظ: روي فيه من طرق ثلاث عن علي رضي الله عنه ضعيفة جداً أوردها المستغفري في الدعوات، وابن عساكر في أماليه، وهو من رواية أحمد بن مصعب المروزي عن حبيب بن أبي حبيب الشيباني عن أبي إسحاق السبيعي عن علي رضي الله عنه. وفي إسناده من لا يعرف ورواه صاحب مسند الفردوس من طريق أبي زرعة الراوي عن أحمد بن عبد الله بن داود، وساقه بإسناده إلى

علي ﷺ . ورواه ابن حبان في الضعفاء من حديث أنس ﷺ نحو هذا، وفيه عباد بن صهيب، وهو متروك . ورواه المستغفري أيضاً من حديث البراء بن عازب ﷺ وأنس ﷺ بطوله، وإسناده واه، ولكنه وثق عباد يحيى بن معين، ونفى عنه الكذب أحمد بن حنبل، وصدقه أبو داود وتركه الباقون.

قال ابن القيم في الهدي : ولم يحفظ عنه أنه كان يقول على وضوئه شيئا غير التسمية، وكل حديث في أذكار الوضوء الذي يقال عليه فكذب مختلق لم يقل رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم شيئاً منه ولا علمه لأمته. ولا يثبت عنه غير التسمية في أوله، وقوله "أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، اللّهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين" في آخره. (نيل الاوطار:١/ ١٩١).

په الاذكار كي رائحي:

أما ال دعاء على أعضاء الوضوء فلم يجئى فيه شيء عن النبى ﷺ وقد قال الفقهاء يستحب فيه دعوات جاءت عن السلف. (الأذكار،ص:٥٢، دار البيان).

په اعلاء السنن كي رائحي:

عن البراء مرفوعاً: "مامن عبد يقول حين يتوضأ: بسم الله ثم يقول بكل عضو أشهد أن لا اله الا الله ...الخ. ثم يقول: حين يفرغ الله اجعلنى...الخ إلا فتحت له ثمانية أبواب الجنة يدخل من أيها شاء" رواه المستغفرى فى الدعوات وقال حسن غريب. (اعلاء السنن:١/ ٧٠، بحواله كنز العمال:٩/ ٢٩٩/ ٢٦٠٨٩).

په سبل السلام کي راځي:

وأما حديث الذكر مع غسل كل عضو فلم يذكره للاتفاق على ضعفه، قال النووى الأدعية فى أثناء الوضوء لا أصل لها ولم يذكرها المتقدمون وقال ابن الصلاح لم يصح فيه حديث.

(سبل السلام:۱/ ۱۱۷).

قال ابن القيم فى المنار المنيف :(۲٦۸) وأحاديث الذكر على أعضاء الوضوء كلها باطل ليس فيها شيء يصح.

وأما الحديث الموضوع فى الذكر على كل عضو: فباطل. (المنار المنيف فى الصحيح والضعيف:۱۱۳، ۱۱۵/ ۲۷۲).

وفى المدخل فى أصول الحديث نصه: "يا أنس ادن منك اعلمك مقادير الوضوء فدنوت منه فلما ان غسل بديه قال: بسم الله ...الخ. وفى اسناده عياض بن صهيب، قال البخارى والنسائى: متروك، وقال النووى هذا الحديث باطل لا أصل له وتابعه ابن حجر. (المدخل فى اصول الحديث على هامش المنار المنيف،ص۱۱۵).

نور وګورئ: (فتح المعين:۱/ ۱۵، و روضة الطالبين:۱/ ٦۲، والفتوحات الربانية:۱/ ۲۷).

علامه ابن الملقن رحمه الله (م ۸۰۴هـ) په "البدر المنير" کي پر تولو طروقو تر تفصيلي بحث وروسته فرمايي:

فهذه أحاديث واردة عن سيدنا رسول الله ﷺ بعضها ضعيف ، وبعضها شهد له بالحسن المستغفري ، وبعضها لا أعلم به بأسا ، فكيف يقول الشيخ محيي الدين رحمه الله: لا أصل لها بالكلية ، وقد أتى بعبارة في كتاب "الأذكار" يزيد في الاعتراض عليه فقال : الدعاء الوارد على أعضاء الوضوء، لم يجيء فيه شيء عن النبي ﷺ وقد قال الفقهاء : يستحب فيه دعوات

جاءت عن السلف ... وقد نص العلماء رضي الله عنهم على أنه يتسامح في الأحاديث الواردة في فضائل الأعمال، ذكر الحاكم أبو عبد الله في كتابه "المستدرك على الصحيحين" في أول كتاب الدعاء بإسناده عن عبد الرحمن بن مهدي قال : إذا روينا عن النبي ﷺ في الحلال والحرام والأحكام شددنا في الأسانيد وانتقدنا الرجال ، وإذا روينا في فضائل الأعمال والثواب والعقاب والمباحات والدعوات تساهلنا في الأسانيد . قال الشيخ تقي الدين ابن الصلاح : نقاد أهل الحديث يتسامحون في أسانيد الرغائب والفضائل . والعجب أن النووي ممن نقل ذلك عن العلماء ... ويمكن أن يجاب عن كلامه المتقدم بأن هذه الأحاديث التي أوردناها غريبة عزيزة في خبايا وزوايا ، وليست في كتب السنن والمسانيد المشهورة ؛ فلأجل ذلك قال ما قال ، رحمنا الله وإياه. (البدر المنير فی تخریج الاحادیث والآثار الواقعة فی الشرح الکبیر:۲/ ۲۶۹_ ۲۹۵).

په فتاوی ابن تیمیه کي راځي:

وليس لأحد أن يسن للناس نوعًا من الأذكار والأدعية غير المسنون ويجعلها عبادةً راتبةً يواظب الناس عليها كما يواظبون على الصلوات الخمس ؛ بل هذا ابتداع دين لم يأذن الله به ؛ بخلاف ما يدعو به المرء أحيانًا من غير أن يجعله للناس سنةً. (فتاوی ابن تیمیه:۲۲/ ۵۱۱). والله ﷻ اعلم.

په تشناب کي د دعا ګانو او بسم الله ويلو حکم

سوال: که په غسل خانه کي (high pan toilet) سر پوښ لرونکي بیت الخلا موجوده وي نو په هغه کي داوداسه پر وخت دعاګاني او داسي نور ويلای سي او که نه؟

الجواب: په شامي کي راځي:

وسننه كسنن الوضوء سوى الترتيب واداء به كاداء به (قوله) كسنن الوضوء أي من البداءة بالنية والتسمية والسواك والتخليل والدلك والولاء الخ وأخذ ذلك في البحر من قوله ثم يتوضأ قوله سوى الترتيب أي المعهود في الوضوء وإلا فالغسل له ترتيب آخر بينه المصنف بقوله باديا عن أبي السعود أقول ويستثنى الدعاء أيضا فإنه مكروه كما في نور الإيضاح قوله واداء به كاداء به نص عليه في البدائع قال الشرنبلالي ويستحب أن لا يتكلم بكلام مطلقا أما كلام الناس فلكراهته حال الكشف وأما الدعاء فلأنه في مصب المستعمل ومحل الأقذار والأوحال أقول قد عد التسمية من سنن الغسل فيشكل على ما ذكره تأمل. (رد المحتار:۱/ ۱۵٦).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په غسل خانه کي په عامه توګه صفايي نه وي ځکه نو دبيت الخلاء په شان غسل خاني د ننوتلو په وخت کي دي لومړی چپه پښه دننه کړي او د راوتلو په وخت کي دي لومړی راسته پښه راوباسي د غسل څخه مخکي بسم الله ويل سنت ده، مګر په غسل خانه کي له ننوتلو مخکي دي ووايي او کله چي فارغ سي نو د غسل خاني دباندي دي هغه دعاء ګاني ولولي چي د اوداسه څخه وروسته ويل کيږي، که چيري غسل خانه ډېره صافه او پاکه وي او په هغه کي بيت الخلاء نه وي نو د ننوتلو په وخت کي چي هر پښه وغواړي هغه دي دننه کړي او بسم الله دي هم په غسل خانه کي د جامو له کښلو څخه مخکي ووايي که چيري چالنګ وغيره تړلی وي غسل کوي نو د جامو کښلو وروسته دي يې ووايي او د غسل په حالت کي د اوداسه دعاء ګاني هم ويلای سي. په حواله د شامي (احسن الفتاوی:۲/ ۳۷).

د يادو عبارتونو خلاصه دا ده چي که په غسل خانه کي د بيت الخلاء سر پوښ بند وي او د صفايي اهتمام پکښي سوی وي نو د اوداسه پر وخت دعاء ګاني او بسم الله وغيره ويلای سي.

په بخاري شريف کي هم د دغې مسئلې طرفته اشاره سته.

وګورئ په بخاري شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها أنها قالت: كان رسول الله ﷺ: يتكئ في حجري وأنا.

قال النووي: فيه جواز قراءة القرآن مضطجعاً ومتكئاً على الحائض وبقرب النجاسة.

وقال العيني رحمه الله: غرض البخاری الدلالة على جواز القراءة بقرب موضع النجاسة.

(عمدة القاری:۳/ ۱۰٤).

په فیض الباري کي راځي:

أنه يكره قراءة القرآن عند الجنازة قبل الغسل وحوالى النجاسة وليس هكذا فى الحائض، فإن نجاستها مستورة تحت الثياب. (فیض الباری:۱/ ۳۷٦).

د ذکر سوي عبارت او تشریح څخه معلومیږي چي کله نجاست پټ وي او ظاهري محل صاف وي نو بسم الله دعاء ګاني وغیره ویلای سي لهذا په دغه پوښتل سوی صورت کي که د بیت الخلاء سربند وي او ځای هم صاف وي نو بسم الله ماثوره دعاء ګاني وغیره باید وویل سي. والله ﷻ اعلم.

د اوداسه څخه وروسته د دستمال استعمال

سوال: د اوداسه څخه وروسته د لاسونو څنډل او په تولیه ضفا کول څنګه دي اجازه یې سته او که نه؟ که چیري وي نو بیا د دغه حدیث چي "لاتنفضوا أيديكم فإنها مراوح الشيطان" څه معنی ده؟

الجواب: د اوداسه څخه وروسته د لاسونو څنډل او د تولي استعمال دواړه درست دي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

"عن ابن عباس رضي الله عنه قال: قالت ميمونة: وضعت للنبي ﷺ غسلاً فسترته بثوب وصب على يديه فغسلهما ثم صب بيمينه على شماله فغسل فرجه فضرب بيده الأرض فمسحها ثم غسلها فمضمض واستنشق وغسل وجهه وذراعيه ثم صب على رأسه وأفاض على جسده ثم تنحى فغسل قدميه فناولته ثوبًا فلم يأخذه فانطلق وهو ينفض يديه". (رواه البخاری:۱/ ٤۱).

دوهم روایت راځي:

"عن عائشة ﵂ قالت : كان لرسول الله ﷺ خرقة ينشف بها بعد الوضوء". (رواه ترمذی:۱/ ۱۸).

په درمختار کي راځي:

ومن الاداء ب... والتمسح بمنديل وعدم نفض يده (قوله والتمسح بمنديل) ففى الخانية ولابأس للمتوضى والمغتسل روى عن رسول الله ﷺ انه كان يفعله ومنهم من كره ذلک ومنهم من كرهه للمتوضئى دون المغتسل والصحيح ما قلنا الا انه ينبغى ان لايبالغ و ولايستقصى فيبقى اثر الوضوء على اعضاءه... (قوله وعد نفض يده) لحديث "لاتنفضوا ايديكم فى الوضوء فانها مراوح الشيطان" ذكره فى المعراج لكنه حديث ضعيف كما ذكره المناوى بل قد ثبت فى الصحيحين. كما تقدم. (الدرالمختار مع الشامی:۱/ ۱۳۱).

په حاشيه الطحطاوي على مراقى الفلاح کي راځي:

(وإن مسح لايبالغ فيه) فى آثار محمد أخبرنا أبو حنيفة عن حماد عن إبراهيم فى الرجل يتوضأ فيمسح وجهه بالثوب قال: لابأس به ... وهو قول أبي حنيفة وفى الخانية لابأس للمتوضى والمغتسل أن يمسح بالمنديل بل روى عن رسول الله ﷺ أنه كان يفعل ذلک وهو الصحيح. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح،ص:۷۹، قديمى).

له اوداسه څخه وروسته په توليه سره په صفايي کولو کي څه باک نه سته مګر بنه دا دئ چي دېر زيې ونه مبني چي د اوداسه اثر پاته وي. (احسن الفتاوی:۲/ ۲۵).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

له اوداسه وروسته د اندامو وچول هم په حدیث شریف سره ثابت دي او نه وچول هم ثابت دي.

(فتاوی محمودیه:١٦/ ١٧٦).

د یادو احادیثو او اقوالو په رڼا کي دا خبره ښخي روښانه کیږي چي له اودسه وروسته د لاسونو وچول او څنډل دواړه درست دي او په صحیح احادیثو ثابت دي، لهذا له هغه څخه انکار یا د علم جواز قول درست نه دئ. والله ﷻ اعلم.

د "لاتنفضوا أيديكم ..." له حدیث څخه د استدلال حکم

دغه حدیث چي "لاتنفضوا أيديكم فإنهامر اويح الشيطان" ضعیف دئ له هغه څخه استدلال درست نه دئ په دې هکله د محدثینو او محققینو رایې په لاندي توګه دي:

أخرجه ابن أبي حاتم فی "العلل" (١/ ٣٦) وقال: قال أبي: هذا حديث منكر والبختری ضعيف الحديث وأبوه مجهول.

ورواه ابن حبان فی "المجروحين" (١/ ٢٠٣) وقال: البختری يروي عن أبيه عن أبي هريرة رضي الله عنه نسخة فيها عجائب، لايحل الاحتجاج به إذا انفرد لمخالفته الأثبات فی الروايات مع عدم تقدم عدالته... كان يسرق الحديث وربما قلبه.

قال الدار قطنی: البختري ضعيف، وأبوه مجهول. وقال الأزدی: كذاب ساقط. وقال أبو نعيم الحافظ: روى عن أبيه عن أبي هريرة موضوعات. (البدر المنير لابن الملقن:٢/ ٢٦٢، وميزان الاعتدال:١/ ٢٩٩، وتهذيب التهذيب:١/ ٣٨٥).

قلت: لـم ينفرد به البختري بل تابعه عبيد الله بن مـحمد الطائي، رواه ابـن طـاهر فـي "صـفوة التصوف" من طريق ابن أبي السري قـال: حـدثنا عبيـد الله بـن مـحمد الطائي عـن أبيـه عـن أبي هريرة رضي الله عنه به. وهذا إسناد مـجهول.

قال ابن حجر رحمه الله في "التلخيص" (١١٤): ولعل ابن أبي السري حدث بـه مـن حفظـه فـي الـمذكرة فوهم في اسم البختري بن عبيد . والله تعالى اعلم.

كه يې لاسونه شلور وي د هغه د اوداسه حكم

سوال: كه د يو چا څلور لاسونه وي په اوداسه كې ټول لاسونه مينځل لازم دي او كه د دوو؟

الجواب: زائد لاس ته به كتل كيږي چي ايا په هغه سره كار كيږي او كه نه؟ كه چيري په دواړو سره كار كوي نو د دواړو غسل واجب ګرځي او كه په يوه سره كار كوي او دواړه لاسونه يې مبنتي نه وي نو په كوم يوه سره چي بيله تكلفه كار كوي د هغه مينځل لازم دي او كه چيري متصل وي نو دواړه به پرېمينځي.

په درمختار كي راځي:

ولو خلق له يدان ورجلان فلو يبطش بهما غسلهما ولو بإحداهـمـا فهي الأصلية فيغسلها وكذا الزائدة إن نبتت من محل الفرض كأصبع وكف زائدين وإلا فمـا حـاذى منهمـا مـحل الفرض غسله وما لا فلا لكن يندب مجتبى. (الدرالمختار:١/ ١٠٢).

په ردالمحتار كي راځي:

(قوله ولو خلق له) أي من جانب واحد (قوله فلو يبطش) بالضم والكسر كمـا في القاموس. والبطش قاصر على اليدين، فلو قال ويمشي بهما نظرا إلى الرجلين لكان حسناً (قوله بإحداهـمـا الـخ) أي ولـو يـبطش بإحداهـمـا فهـي الأصـلية والأخـرى زائـدة لا يـجب غسلها، وظاهره ولو كانت تامة وفي النهر ولـم أر حكم ما لو كانتا تامتين متصلتين أو منفصلتين

والظاهر وجوب غسلهما في الأول وغسل واحدة في الثاني. فلم يعتبر البطش والظاهر أنه يعتبر البطش أولا. فإن بطش بهما وجب غسلهما وإن كانا منفصلتين لا يجب إلا غسل الأصلية التي يبطش بها وهو حسن جمعا بين العبارتين (قوله كأصبع) تنظير لا تمثيل، لأن الكلام في اليد. (ردالمحتار:١/ ١٠٢).

په البحر الرائق کي راځي:

ولو خلق له يدان على المنكب فالتامة هي الأصلية يجب غسلها ، والأخرى زائدفما حاذى منها محل الفرض وجب غسله وما لا فلا يجب بل يندب غسله وكذا يجب غسل ما كان مركبًا على اليد من الأصبع الزائدة والكف الزائدة والسلعة وكذا إيصال الماء إلى ما بين الأصابع إذا لم تكن ملتحمةً. (البحر الرائق:١/ ١٣).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ويجب غسل كل ما كان مركبا على اعضاء الوضوء من الاصبع الزائدة والكف الزائدة كذا فى السراج الوهاج. ولو خلق له يدان على المنكب فالتامة هى الاصلية يجب غسلها والاخرى زائدة فما حاذىٰ منها محل الفرض يجب غسله والا فلا كذا فى فتح القدير بل يندب غسله كذا فى البحر الرائق. (الفتاوى الهندية:١/ ٤).

خلاصه دا چي ځينو فقهاؤ په لاس سره کار کول او نه کول معيار ګرځولي دئ او ځينو دغه ته اعتبار ورکړی دئ چي کومه برخه چي زائد لاس وي او له هغه محل سره يو ځای وي چي په اوداسه کي داخل وي، نو مينځل يې فرض دي په بل صورت کي نه دي خو احتياط يې په مينځلو کي دئ.

والله ﷻ اعلم.

د غسل په دوران كي د كتاب ويلو حكم

سوال: يو څوک په غسل خانه كي غسل كوي اويو دنيايي او يا ديني كتاب هم گوري د دغه حكم څه دئ؟

الجواب: په بهشتي زيور كي راځي دغسل كولو په وخت كي به خبري نه كوي.

په شرح منيه كي راځي:

وان لايسرف فى الماء الى قوله لاتيكلم بكلام قط. (شرح منية،ص:٣٤).

قوله ويستحب (ان لايتكلم بكلام قط) من كلام الناس او غيره اما كلام الناس فلما تقدم فى الوضوء واما غيره من الذكر والدعاء فلانه فى مصب الماء المستعمل ومحل الاوضار اى الاوساخ والاقذار. (شرح منية،ص:٥١).

قال الشرنبلالي: ويستحب أن لا يتكلم بكلام مطلقاً، أما كلام الناس فلكراهته حال الكشف وأما الدعاء فلأنه في مصب المستعمل ومحل الأقذار والأوحال. أقول: قد عد التسمية من سنن الغسل فيشكل على ما ذكره تأمل. واستشكل في الحلية عموم ذلك بما في صحيح مسلم عن عائشة رضي الله عنها قالت: كنت أغتسل أنا ورسول الله من إناء بيني وبينه واحد، فيبادرني حتى أقول دع لي دع لي. وفي رواية النسائي يبادرني وأبادره حتى يقول دعي لي وأقول: أنا دع لي ثم أجاب بحمله على بيان الجواز أو أن المسنون تركه ما لا مصلحة فيه ظاهرة. أقول: أو المراد الكراهة حال الكشف فقط كما أفاده التعليل السابق والظاهر من حاله عليه الصلاة والسلام أنه لا يغتسل بلا ساتر. (فتاوى الشامي:١/ ١٥٦، سعيد).

د ذكر سوو عبارتونو خلاصه دا ده چي د غسل كولو په وخت كي خبري كول خلاف اولى دي كه ذكر او دعاء وي هم مكروه دي ځكه د مرداري، خيرو او لښوالي ځای دئ، همدارنګه ديني او يا دنيايي كتاب ويل هم مكروه دي. والله تعالى اعلم.

د لوڅ غسل کولو په وخت کي قبلي ته د مخ ګرځولو حکم

سوال: د لوڅ والی په حالت کي په غسل کولو کي قبلي ته مخ ګرځول د احنافو په اند مکروه دي او که مباح؟

الجواب: په عالمګیري کي یې د اداء ب الغسل لاندي لیکلي دي:

وأن لایستقبل القبلة وقت الغسل. (عالمگیری:۱/ ۱٤).

په درمختار کي لیکي:

واداء به کاداء به سوی استقبال القبلة لأنه یکون غالبا مع کشف العورة.

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله مع کشف عورة) فلو کان متزراً فلا بأس به کما في شرح المنية والإمداد. (فتاوی الشامی:۱/ ۱٥٦، والبحر الرائق:۱/ ٥۲).

خلاصه دا چي له دغو عبارتونو څخه معلومه سوه چي کله یو څوک لوڅ غسل کوي نو د قبلي وطرفته مخ نه کول مستحب دي نو په دغه حالت کي په غسل کولو کي د قبلي لوري ته مخ کول د احنافو په اند مکروه تنزیهي یا خلاف اولی دي. والله ﷻ اعلم.

د غاښونو د خول (پوښ) او تارونو سره د واجب غسل حکم

سوال: په اوسنی زمانه کي د یوه مصلحت له مخي پر غاښونو خول مښلوي یا یې د تارونو په ذریعه ټړي نو په واجب غسل کي یې حکم څه دئ چي په ایستلو کي یې مشکلات وي؟

الجواب: په احسن الفتاوی کي راځي:

د ځینو کسانو غاښونو ښوري او د ځینو کسانو دا ښځي ولویږي له دي څخه وروسته د دوی د سرو زرو خول درباندي مښلوي اوس چي د غسل ضرورت پېښ سي نو ایا د غسل په وخت کي یې د دغه خول لیري کول ضروري دي او که نه؟ اکثره دا ډېر ټینګ وي د ډاکټر د لیري کېدلو پرته نه لیري کېږي او ډېر مشکل وي نو ایا دغه پر خیرو او اوږو قیاس کولای سو او که نه؟ د اوږو لیري کول خو اسانه دي خو د تکلیف مالایطاق له قبیلې څخه دئ؟

جواب: داسي خول لکول په ضرورت کي داخل دي او په ليري کولو کي يې تکليف دئ وحرج مدفوع شرعاً لهذا بېله ليري کولو يې غسل صحيح کيږي.

ونظائرها مشهورة في کتب القوم مسطورة بل نصوا على جواز اتخاذ الاسنان من الذهب وشدها به ولو کان مانعا عن صحة الغسل لما افتوا به. (حسن الفتاوی: ۲/ ۳۲).

که کوم څوک د زينت له پاره غاښونو ته خول ورواغوندي نو اودس او غسل يې کيږي او که نه؟ کله چي اوږه وچ سي يا په نوکانو کي غوړزګي لرونکي خيره وي نو د فقهاء کرامو د وينا مطابق يې غسل نه کيږي د دغه جواب په کفايت المفتي کي دارنګه مذکور دي د غاښونو د خرابی له امله د سرو زرو خول وراغوستل ناروا نه دئ او يوازي د زينت له پاره مکروه دي او که يې د ضرورت له امله وراغوستی وي يا بېله ضرورته په هر حالت کي داوداسه او غسل څخه مانع نه دئ ځکه دغه د جزء لازم په شان کيږي پر خلاف د اوږو او غوړزګي لرونکي خيرئ چي هغه جزء لازم نه دئ. (کفايت المفتی: ۲/ ۳۱۳، په حواله شامی الاصل وجوب الغسل الاانه سقط للحرج: ۱/ ۱۵۲).

په فتاوی فريديه کي راځي:

سوال: **که څوک غوښونو ته د سرو زرو خول ورواغوستی د ښائست له پاره يا د کومي بيماری له امله نو ايا اوس به د غسل څخه مانع وي او که نه؟ همدارنګه داسي خول شرعاً اغوستل څنګه دي؟**

الجواب: **که د دغه روا يا ناروا د سرو زرو خول د هر غسل له پاره ليري کول او د غسل وروسته يې اېښودل تکليف درلودنو د غسل مانع نه دئ.** لان الحرج مدفوع. (۲/ ۷۳، ۲/ ۶۶۷). والله ﷻ اعلم.

پر بدن د پټی له امله د غسل حکم

سوال: **يوې ښځي د خپل جسم پر يوې برخي يو پلستر منښلولی دئ چي تر يوې هفتی پوري پر بدن منښتی وي بيا له يوې هفتی څخه وروسته ښځه هغه بدلوي نو ايا په دغه وخت کي چي پلستر يې پر بدن منښتی وي فرض غسل يې کيږي او که نه؟**

الجواب: **په دغه پوښتنل سوی صورت کي که د فرضي غسل په وخت کي که ښځي دغه پټی ليري نه کړل او تر هغه لاندي ځای وچ پاته سو نو فرض غسل يې نه کيږي او د دغې ښځي لمونځ به**

شرعاً قبول نه وي د دې له پاره مسح کافي نه ده ځکه مسح د سخت ضرورت او زخم په حالت کي وي او دلته کوم خاص ضرورت نه سته .

وګورئ په فتاوی الشامي کي راځي:

قوله بخلاف نحو عجين ... نعم ذكر الخلاف في شرح المنية في العجين واستظهر المنع لأن فيه لزوجة وصلابة تمنع نفوذ الماء ...ومفاده عدم الجواز إذا علم أنه لم يصل الماء تحته، قال في الحلية: وهو أثبت. قوله إن صلبا... صرح به في شرح المنية وقال لامتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة والحرج. (فتاوى الشامي:۱/ ۱۵٤، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د مړي د غسل ورکولو وروسته د غسل حکم

سوال: مړي ته د غسل ورکولو وروسته غسل کول مسنون دي او که مندوب يا مباح او په دې هکله چي کوم روايات راغلي دي د هغه تحقيق غواړو؟

الجواب: مړي ته د غسل ورکولو وروسته غسل کول مندوب او مستحب دئ.

وګورئ په فتح القدير کي راځي:

"من غسل ميتًا فليغتسل ، ومن حمله فليتوضأ" حسنه الترمذي وضعفه الجمهور ، وليس في هذا ولا في شيء من طرق علي حديثصحيح، لكن طرق حديث علي كثيرة، والاستحباب يثبت بالضعف غير الموضوع. (فتح القدير:۱/ ۱۳۳ ، دار الفكر).

په نفع المفتي والسائل کي راځي:

أى رجل يستحب له الغسل عند تغسله غيره؟

أقول: هو الذى غسل ميتاً فقد روى ابن ماجه عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: من غسل ميتاً فليغتسل وهو أمر استحباب لإزالة الرائحة الكريهة وعليه الأكثر للخبر الصحيح ليس عليكم فى ميتكم غسل. (نفع المفتى والسائل،ص: ۱۵۰، مكتبه رشيديه).

وګورئ حدیث شریف کي دي:

عن أبي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: من غسل ميتاً فليغتسل. رواه ابن ماجه (١/ ١٠٥)، وأحمد (٧٧٧٠)، والترمذي (٩٩٣) وحسنه، وابن حبان في صحيحه (١١٦١)، والبيهقي في الكبرى (١٤٨٥)، وابن أبي شيبة في مصنفه (١١٢٦٤)، وعبد الرزاق في مصنفه (٦١١٠)، وأبو داؤد (٣١٦١)، والبزار في مسنده (٨٢٦١)، من طرق عن أبي هريرة ﷺ، وبعضه حسن وبعضه صحيح على شرط مسلم، وقد ساق له ابن الملقن في "البدر المنير" (٢/ ٥٢٤)، ثلاثة عشر طريقاً عنه، وابن القيم في "تهذيب السنن" إحدى عشر طريقاً عنه، ثم قال: وهذه الطرق تدل على أن الحديث محفوظ.

قلت: قد صححه ابن القطان، وابن حزم في المحلى، والحافظ في التلخيص، وشعيب الأرنؤوط في تعليقه على صحيح ابن حبان.

خلاصه دا چي دا حدیث شریف له مختلفو صحابه کرامو مثلاً حضرت ابو هریره ﷺ، حضرت حذیفه بن یمان ﷺ، حضرت عائشه ﷺ، حضرت مغیره بن شعبه ﷺ، حضرت علي ﷺ، حضرت ابو سعید الخدري ﷺ څخه په مختلفو طریقه مروي دئ او په اکثره طریقو کي یې کلام دئ خو په مجموعي لحاظ د حسن له درجي څخه کم نه دئ.

د تفصیل له پاره وګورئ: (البدر المنير:٢/ ٥٢٤- ٥٤٣،ط: الرياض، والتلخيص الحبير رقم:١٨٢، والعلل المتناهية:١/ ٣٧٤، و اعلاء السنن:١/ ٢٢٨).

په حدیث شریف کي په ظاهره له امر څخه وجوب معلومیږي خو دوه احادیث ورسره متعارض دي له دې امله یې وجوب ساقط سو او استحباب یې پاته سو لکه څنګه چي فقهاء فرمایي.

دوه متعارض احادیث وګورئ:

الأول: أخرج الحاكم في "المستدرك" (١٤٢٦)، بسنده عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: "ليس عليكم في غسل ميتكم إذا غسلتموه فإن ميتكم ليس بنجس فحسبكم أن تغسلوا أيديكم. وقال: هذا حديث صحيح على شرط البخاري.

وأيضاً رواه البيهقي في "الكبرى"(١٥١٦)، والدار قطني(٢/ ٧٦).

قلت: إسناده حسن كما قال الحافظ في "التلخيص" (١٨٢).

والثاني: قول ابن عمر رضي الله عنهما: كنا نغسل الميت فمنا من يغتسل ومنا من لايغتسل".

أخرجه البيهقي في "الكبرى" (١٥٢١)، والدار قطني (١٩١)، والخطيب في "تاريخه" (٥/ ٤٢٤/ ٢٩٣٥) بإسناد صحيح.

قال الحافظ في "التلخيص" (١٨٢): إسناده صحيح. والله تعالى اعلم.

په اوداسه کې د مسواک پر ځای د غاښو د کريمو او برس حکم

سوال: که کوم نارينه يا زنانه د اوداسه په شروع کې د مسواک پر ځای برس استعمال کړي يا يوه ښځه د مسواک پر ځای دنداسه يا کوم بل شی مثلاً ژاولي وغيره استعمال کړي او د مسواک نيت پکښې وکړي نو ايا د مسواک ثواب ورکول کيږي او که نه؟

الجواب: مسواک سنت مؤکد دئ او د انحضرت ﷺ مسواک به د لرګی ؤ لهذا اصلي سنت خو همدغه دئ چې ديوې درختی د لرګی مسواک استعمال کړي او که يې لرګی هير سي يا موجود نه وي نو په دغه صورت کې د ګوتي په استعمال سره هم ثواب تر لاسه کيږي خو د لرګی په موجوديت کې د ګوتي پر استعمال ثواب نه ورکول کيږي .

اکثرو فقهاؤ همدغه فرمايلې دي برس هم د دغه په مثل دئ که لرګی ؤ، بيا پر برس ثواب نه سته .

وګورئ په امداد الفتاح کې راځي:

والسواك بكسر السين اسم الاستياك وللعود الذي يستاک به أيضاً... وفضيلة السواک تحصل ولوكان الاستياک بالأصبع أو خرقة خشبة عند فقده أى السواک أو فقد أسنانه أو ضرر بفمه. (امداد الفتاح،ص:۷٤).

په عالمګیري کي راځي:

ومنها السواک وينبغي أن يكون السواک من أشجار مرة لأنه يطيب نكهة الفم وشيد الأسنان ويقوي المعدة ولكن رطباً في غلظ الخنصر و طول الشبر و لايقوم الأصبع مقام الخشبة فإن لم توجد الخشبة فحينئذ يقوم الأصبع من يمينه مقام الخشبة كذا في المحيط والظهيرية. (الفتاوی الهندية:۱/ ۷).

په البحر الرائق کي راځي:

والسواك أي استعماله ؛ لأنه اسمللخشبة ... الأصبع أو الخرقة الخشنة مقامه عند فقده أو عدم أسنانه في تحصيل الثواب لا عند وجوده. (البحرالرائق:۱/ ۲۰، کوئته).

په خیر الفتاوی کي راځي:

که اتفاقاً دلرګي مسواک نه وي نو په برس به غاښونه صفا کوي اصل سنت دلرګي مسواک دئ بېله ضرورته برس د سنت مسواک پر ځای نه درېږي. (خیر الفتاوی:۲/ ۵۳).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

مسواک باید د درختی وي که کوم وخت د درختی مسواک موجود نه وي نو په ګوته دي غاښونه صفا کړي او د خولي بوی دي لیري کړي، دارنګه هم سنت اداء کیږي، همدارنګه د هادی عالم ﷺ فرمان دئ:

"الأصابع تجري مجرى السواک إذا لم يكن سواک" [رواه الطبرانی ـ قال ابن الملقن فی "البدر المنير"(۲/ ۵۹): قلت: وكثير ضعيف ... وذكر الحافظ ضياء الدين المقدسی فی كتابه "الاحكام" حديث

أنس ﷺ المتقدم بسندله، وقال: هذا إسناد لا أدری به بأساً. وقال الهیثمی فی "المجمع" (٢/ ٢٥٨): رواه الطبرانی فی الاوسط وکثیر ضعیف وقد حسن الترمذی حدیثه . انظر: نصب الرایة:١/ ١٠].

له دې څخه ثابته سوه چي اصلي سنت د درختی مسواک دئ که هغه نه وي یا غاښونه نه وي یا د غاښونو یا اوریو د خرابۍ له امله د مسواک څخه ورته تکلیف رسیږي نو د ضرورت له امله به په ګوتو یا پنډي جامې یا برس څخه د مسواک کار اخیستلای سي. (فتاوی رحیمه:٤/ ١٧).

په درس ترمذي کي راځي:

الف _ دلته دوه شیان جلا جلا دي یو سنة السواک دوهم استعمال المسواک المسنون تر کومه ځایه چي د سنة السواک تعلق دئ فقهاؤ لیکلي دي چي د مسنون مسواک په نه موجودیت کي په جامه برس یا ګوتي سره د مسواک سنت اداء کیږي که څه هم د استعمال المسواک المسنون سنت نه اداء کیږي. (درس ترمذی:١/ ٢٢٦).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (درس ترمذی:١/ ٢٢٦، کتاب الفتاوی:٢/ ٣٩، او کفایت المفتی:٢/ ٣٢٢).

باء _ که ښځه د مسواک پر ځای دنداسه یا کوم بل شی مثلاً ژاولي وغیره استعمال کړي او نیت هم وکړي نو دې ته د مسواک ثواب ورکول کیږي مګر علامه عبد الحی لکهنوي فرمايي: چي د مسواک سنت د نر او ښځي دواړو له پاره یو شان دي لهذا ښځي هم باید مسواک استعمال کړي البته که کوم مانع موجود ؤ نو بیا د بل شی له استعمال څخه هم د مسواک ثواب ورکول کیږي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

والعلك يقوم مقامه للمرأة لكون المواظبة عليه تضعف أسنانها فيستحب لها فعله .

(البحر الرائق:١/ ٢٠).

په فتاوی شامي کي راځي:

كما يقوم العلك مقامه للمرأة مع القدرة عليه أي في الثواب إذا وجدت النية وذلك أن المواظبة تضعف أسنانها فيستحب لها فعله. (فتاوى الشامي:١/ ١١٤، سعيد).

په السعايه کي راځي:

قلت: ظاهر الأخبار استواء الرجال والنساء في استنان السواك إلا أن يخاف منه أمر فحينئذ يصار إلى الأصبع. (السعاية:١/ ١١٨، سهيل). والله ﷻ اعلم.

د سر د مسح صحيح طريقه

سوال: د سر په مسح کي په شاته وړلو او مخ ته راوستلو کي درې ګوتي استعماليږي او که پنځه ګوتي استعماليږي يعنی د المحيط البرهانی او مراقي الفلاح په دواړو عبارتونو کي اختلاف دئ؟

وګورئ په المحيط البرهانی کي راځي:

وبيان كيفية الاستيعاب: أن يأخذ الماء ويبل كفه وأصابعه ثم يلصق الأصابع، ويضع على مقدم رأسه من كل يد ثلاث أصابع، ويمسك إبهاميه وسبابتيه ويجافي بين كفيه، ويمدهما إلى قفاه... (المحيط البرهانی:١/ ٤٤، ط:مكتبه رشيديه).

په حاشيه الطحطاوي کي راځي:

وله كيفيات متعددة وردت بها الأحاديث ذكر نبذة منها في البناية واختار بعض أصحابنا رواية عبد الله بن زيد بن عاصم المتفق عليها وهي بمعنى رواية محمد في موطئه عن مالك مسح من مقدم رأسه حتى ذهب بهما إلى قفاه ثم ردهما إلى المكان الذي منه بدأ ومن ثم قال الزيلعي: والأظهر أنه يضع كفيه وأصابعه على مقدم رأسه ويمدهما إلى قفاه على وجه مستوعب جميع الرأس... واختاره قاضيخان وقال الزاهدي هكذا روى عن أبي حنيفة ومحمد، وما في الخلاصة وغيرها من أنه يضع على مقدم رأسه من كل يد ثلاثة أصابع

ویمسك إبهامیه وسبابتیه ویجافي بطن کفیه ثم یضع کفیه علی جانبي الرأس ففیه تکلف ومشقة کما في الخانیة بل قال الکمال لا أصل له في السنة. (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح،ص:۷۲قدیمی). اوس فتوٰی پر کوم قول ده؟

الجواب: حنفی فقهاؤ د سر د مسح دواړي طریقی بیان کړي دي:

۱_ یو دا چي پوره لاس پکښي استعمال سي دا طریقه د طحطاوي له عبارت څخه معلومیږي.

۲_ هغه ده چي دري ګوتي پکښي استعمال سي دا طریقه په المحیط البرهاني، النهر الفائق، خلاصة الفتاوی او مجمع الانهر وغیره کي ذکر سوي ده.

علامه طحطاوي رحمه الله پر دغه طریقه تبصره کوي فرمایي، چي په دغه کي تکلیف او مشقت دئ او صاحب د بحر ضعیفه ګڼلي ده او محقق ابن همام رحمه الله بې اصله بللي ده .

مګر صاحب د مجمع الانهر لومړی طریقه ضعیفه ګڼلي ده له همدې امله مولانا زوار حسین صاحب فرمایي، چي دواړي طریقي درستي دي په کومه یوه چي وغواړي عمل دي پرې وکړي.

البته محقق ابن همام رحمه الله فرمایي، چي لومړی طریقه مسنونه ده او علامه شامي رحمه الله، علامه ابن نجیم رحمه الله او علامه زیلعی رحمه الله اظهره ګڼلي ده او حضرت مفتي علامه لکهنوی رحمه الله هم همدغه ته ترجیح ورکړي ده، لهذا لومړی طریقه سنت ته نژدې او په دوهمه طریقه هم عمل کول روا دي:

روی البخاری فی "صحیحه" (۱۸۵) عن عبد الله بن زید رضي الله عنه ...ثم مسح رأسه بیدیه فأقبل بهما وأدبر بدأ بمقدم رأسه حتی ذهب بهما إلی قفاه ثم ردهما إلی المکان الذي بدأ منه.

په فتاوی شامي کي راځي:

وتکلموا في کیفیة المسح والأظهر: أن یضع کفیه وأصابعه علی مقدم رأسه ویمدهما إلی القفا علی وجه یستوعب جمیع الرأس ثم یمسح أذنیه بأصبعیه، وما قیل من أنه یجافي المسبحتین والإبهامین لیمسح بهما الأذنین والکفین لیمسح بهما جانبي الرأس خشیة

الاستعمال فقال في الفتح: لا أصل له في السنة لأن الاستعمال لا يثبت قبل الانفصال والأذنان من الرأس. (فتاوى الشامي:١/ ١٢١، سعيد).

په فتح القدير كي راځي:

والمسنون في كيفية المسح أن يضع كفيه وأصابعه على مقدم رأسه آخذًا إلى قفاه على وجه يستوعب... وأما مجافاة السباحتين مطلقًا ليمسح بهما الأذنين والكفين في الإدبار ليرجع بهما على الفودين فلا أصل له في السنة. (فتح القدير:١/ ٢٠، دار الفكر).

په طور د قول فيصل د علامه لكهنوى رحمه الله عبارت وګورئ:

قلت: ماجعله أظهر أظهر بلاريب أما عقلاً فلما ذكره، واما نقلاً فلكونه ظاهر الأحاديث المروية فى المسح وكذا اختاره قاضيخان وحققه ابن الهمام وصاحب البحر والنهر والغنية وغيرهم، وأما ذكره فى المحيط وغيره، لا أصل له فى السنة كما نص عليه ابن الهمام وذكر الأكمل فى العناية: الكيفية المذكورة فى المحيط وغيره وقال هكذا روت عائشة مسح رسول الله ﷺ وتعقبه العينى بأنه لم يذكر هذه الكيفية أحد من أئمة الحديث عن عائشة رضي الله عنها ولا عن غيره من الصحابة الذين وصفوا وضوء رسول الله ﷺ والذى روى النسائى عن عائشة رضي الله عنها هو أنها وصفت وضوء النبى ﷺ ووضعت يديها فى مقدم رأسها ومسحت إلى مؤخرة ثم مدت يديها بأذنيها ثم مدت على الخدين. (السعاية:١/ ١٣٣، سهيل).

نور وګورئ: (البحر الرائق:١/ ٢٦، كوئته، ومنحة الخالق:١/ ٢٦، ومجمع الانهر:١/ ٢٤، و خلاصة الفتاوى:١/ ٢٦، وتبيين الحقائق:١/ ٥، ملتان). والله تعالى اعلم.

د غوږونو د مسح کولو صحیح طریقه

سوال: د غوږونو د مسح کولو صحیح طریقه څه ده؟ ځکه فقهاؤ د سبابه استعمال داوداسه په سنتونو کي ذکر کړی دئ او په اداء بو کي یې د خنصر استعمال ذکر کړي دئ. (شامی:۱/ ۱۲۱). یا دواړي ګوتي به استعمالوي او که داسي وي نو کومه ګوته به استعمالوي سبابه او که خنصره؟

الجواب: د فقهاؤ کرامو پر عبارتونو له غور کولو څخه معلومیږي چي د غوږونو د مسح کولو صحیح طریقه دا ده چي د غوږونو په دننه برخه کي دي د شهادت ګوتی استعمال سي او د غوږونو د باندي برخی له پاره دي بټه ګوته استعمال سي بیا دي په مسح کي د مبالغي له پاره د غوږونو په سوریو کي خچنۍ ګوتي داخلي کړي او د خچنۍ ګوتی استعمال داکثرو فقهاؤ په اند داوداسه په اداء بو کي شامل دئ داوداسه له سنتونو څخه نه دئ د غوږونو د مسح ترتیب هم له همدغه څخه معلومیږي چي لومړی دي د غوږونو سوري په سبابه ګوته مسح سي بیا دي پر دباندي برخه په بټه ګوته سره مسح وکړل سي او په آخر کي دي خچنه ګوته په سوریو کي ورواچوي او حرکت دي ورکړي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنه أن النبي ﷺ مسح برأسه وأذنيه ظاهرهما وباطنهما. رواه الترمذی، (رقم:۳٦) قال: هذا حديث حسن صحيح.

په حاشیه الطحطاوي على مراقي الفلاح کي راځي:

ويسن مسح الأذنين بأن يمسح ظاهرهما بالإبهامين، وداخلهما بالسبابتين وهو المختار كما في المعراج، ويدخل الخنصرين في حجريهما ويحركهما كما في البحر عن الحلواني، وشيخ الإسلام. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص:۷۲، قديمى).

په مجمع الانهر کي راځي:

ومن الآداب إدخال خنصره صماختي أذنيه. (مجمع الانهر:۱/ ۳٤).

په الدر المختار کي راځي:

(وأذنيه) أي باطنهما بباطن السبابتين وظاهرهما بباطن الإبهامين ... (ومن اداء به) إدخال خنصره المبلولة صماخ أذنيه عند مسحهما. (الدرالمختار:۱/ ۱۲۵، سعيد).

په شرح منية المصلى کي راځي:

ومن الآداب: أن يدخل أصبعيه الخنصرين فى صماخ أذنيه ... لحديث الربيع بنت معوذ بن عفراء أنها رأت النبى ﷺ يتوضأ قالت: ومسح رأسه ... وأذنيه مرة واحدة وأدخل أصبعيه في جحرى أذنيه. رواه أبو داؤد. والخنصر أبلغ فى الدخول لصغرها. (شرح منية المصلى،ص:۳۵، سهيل).

نور وګورئ: (لبحر الرائق:۱/ ۹٦، کوئته، والمحيط البرهانى:۱/ ۲۲). والله ﷻ اعلم.

د رقبې د مسح د مسائلو تحقيق

سوال: د غاړې د مسح حديث د محدثينو په اند څه حيثيت لري؟ او د فقهاؤ په انديې حکم څه دئ؟

الجواب: هغه احاديث چې د غاړې پر مسح کولو دلالت کوي تخريج يې په لاندې عبارت کې مذکور دي:

باب مسح العنق (عن ليث عن طلحة بن مصرف عن أبيه عن جده أنه : رأى رسول الله ﷺ يمسح رأسه حتى بلغ القذال وما يليه من مقدم العنق. (رواه احمد)

الحديث فيه ليث بن أبي سليم وهو ضعيف . قال ابن حبان : كان يقلب الأسانيد ويرفع المراسيل، ويأتي عن الثقات بما ليس من حديثهم، تركه يحيىٰ بن القطان وابن مهدي وابن معين وأحمد بن حنبل . قال النووي في تهذيب الأسماء : اتفق العلماء على ضعفه، وأخرج الحديث أبو داود وذكر له علة أخرى عن أحمد بن حنبل قال : كان ابن عيينة ينكره ويقول:

ايش هذا طلحة بن مصرف عن أبيه عن جده، وكذا حكى عثمان الدارمي عن علي بن المديني ... وفي الباب حديث (مسح الرقبة أمان من الغل) قال ابن الصلاح : هذا الخبر غير معروف عن النبي ﷺ وهو من قول بعض السلف، وقال النووي : في شرح المهذب : هذا حديث موضوع ليس من كلام النبي ﷺ. فيه شيء قال : وليس هو بسنة بل بدعة وقال ابن القيم في الهدي : لم يصح عنه في مسح العنق حديث البتة .

وروى القاسم ابن سلام في كتاب الطهور عن عبد الرحمن بن مهدي عن المسعودي عن القاسم بن عبد الرحمن عن موسىٰ بن طلحة قال : "من مسح قفاه مع رأسه وقي الغلي يوم القيامة" قال الحافظ ابن حجر في التلخيص : فيحتمل أن يقال هذا وإن كان موقوفا فله حكم الرفع لأن هذا لا يقال من قبيل الرأي فهو على هذا مرسل انتهىٰ.

وأخرج أبو نعيم في تاريخ أصبهان قال : حدثنا محمد بن أحمد حدثنا عبد الرحمن بن داود حدثنا عثمان بن خرزاد حدثنا عمر بن محمد بن الحسن حدثنا محمد بن عمرو الأنصاري عن أنس بن سيرين عن ابن عمر أنه كان إذا توضأ مسح عنقه ويقول : قال رسول الله ﷺ "من توضأ ومسح عنقه"ويقول: قال رسول الله ﷺ"من توضأ ومسح عنقه لم يغل بالأغلال يوم القيامة " والأنصاري هذا واه .

قال الحافظ : قرأت جزءا رواه أبو الحسين ابن فارس بإسناده عن فليح بن سليمان عن نافع عن ابن عمر : أن النبي ﷺ قال : "من توضأ ومسح بيديه على عنقه وقي الغل يوم القيامة" . وقال : إن شاء الله هذا حديث صحيح : قلت : بين ابن فارس وفليح مفازة فلينظر فيها انتهىٰ.

وهو في كتب أئمة العترة في أمالي أحمد بن عيسى، وشرح التجريد بإسناده متصل بالنبي ﷺ،

ولكن فيه الحسين بن علوان عن أبي خالد الواسطي بلفظ : "من توضأ ومسح سالفتيه وقفاه أمن من الغل يوم القيامة" وكذا رواه في أصول الأحكام والشفاء ورواه في التجريد عن علي من طريق محمد بن الحنفية في حديث طويل وفيه "أنه لما مسح رأسه مسح عنقه وقال له بعد فراغه من الطهور :افعل كفعلي هذا" وبجميع هذا تعلم أن قول النووي مسح الرقبة بدعة، وأن حديثه موضوع مجازفة، وأعجب من هذا قوله ولم يذكره الشافعي ولا جمهور الأصحاب، وإنما قاله ابن القاص وطائفة يسيرة فإنه قال الروياني من أصحابنا: هو سنة، وتعقب النووي أيضا ابن الرفعة بأن البغوي وهو من أئمة الحديث قد قال باستحبابه، قال : ولا مأخذ لاستحبابه إلا خبر أو أثر لأن هذا لا مجال للقياس فيه، قال الحافظ : ولعل مستند البغوي في استحباب مسح القفا ما رواه أحمد وأبو داود وذكر حديث الباب ونسب حديث الباب ابن سيد الناس في شرح الترمذي إلى البيهقي أيضا قال : وفيه زيادة حسنة وهي مسح العنق حسنة.

(نيل الاوطار باب مسح العنق،ص:۱۸۰_ ۱۸۰).

له یادو عبارتونو څخه دا خبره روښانه سوه چې تحقیقی خبره دا ده چې د مسح رقبې حدیث موضوعی نه دئ څکه نو فقهاؤ داوداسه په مستحباتو کې بیان کړي ده لکه څنګه چې په لاندې عبارتونو کې ذکر سوي ده.

په مبسوط کې راځي:

قال عليه الصلاة والسلام : لأهل قباء ما هذه الطهرة التي خصصتم بها؟: فقالوا إنا كنا نتبع الأحجار الماء فقال: هو ذاك، ولم يذكر فيه مسح الرقبة، وبعض مشايخنا يقول إنه ليس من أعمال الوضوء والأصح أنه مستحسن في الوضوء. قال ابن عمر رضي الله عنهما امسحوا رقابكم قبل أن تغل بالنار. (مبسوط:۱/ ۱۰).

مطلب مسح الرقبة (واما) مسح الرقبة فقد اختلف المشايخ فيه، قال أبو بكر الاعمش: إنه سنة، وقال أبو بكر الاسكاف: إنه أدب. (بدايع الصنائع:١/ ٢٣).

(ومسح الرقبة) بظهر يديه (لا الحلقوم) لأنه بدعة. (الدرالمختار).

(قوله ومسح الرقبة) هو الصحيح، وقيل انه سنة كما فى البحر وغيره. (ردالمحتار:١/ ١٢٤).

نوروگورئ: (شرح فتح القدير،ص:٣٦، والبحر الرائق،ص:٢٨، وتبين الحقائق شرح كنز الدقائق:١/ ٦).

د شوافعو په اند د مسح الرقبه حکم

سوال: د شوافعو په اند د مسح الرقبه حکم څه دئ؟

الجواب: په شرح المهذب للنووی کي راځي:

قوله: "وزاد أبو العباس ابن القاص مسح العنق" هذا قد ذكره ابن القاضي في كتابه المفتاح واختلفت عبارات الاصحاب فيه اشد اختلاف وقد رأيت ان اذكره بالفاظهم مختصراً ثم الخصه وابين الصواب منه لكثرة الحاجة إليه، قال القاضي أبو الطيب مسح العنق لم يذكره الشافعي رضي الله عنه ولا قاله أحد من اصحابنا ولا وردت به سنة ثابتة وقال الماوردى في كتابه الاقناع ليس هو سنة وقال القاضي حسين هو سنة وقيل وجهان فان قلنا سنة مسحه بالماء الذى مسح به الاذنين ولا يمسح بماء جديد وقال المتولي هو مستحب لا سنة يمسح ببقية ماء الرأس أو الاذن ولا يفرد بماء وقال البغوي يستحب مسحه تبعاً للرأس أو الاذن وقال الفوراني يستحب بماء جديد وقال الغزالي هو سنة وقال إمام الحرمين كان شيخي يحكي فيه وجهين احدهما انه سنة والثاني أدب قال الامام ولست أرى لهذا التردد حاصلاً وقال الرافعي: هل يمسحه بماء جديد ام بباقى بلل الرأس والاذن بناه بعضهم علي أنه سنة أم

أدب وفيه وجهان ان قلنا سنة فبجديد والا فبالباقي والسنة والادب يشتركان في الندبية لكن السنة تتأكد قال واختار الروياني مسحه بماء جديد وميل الاكثرين إلى مسحه بالباقي هذا مختصر ما قالوه وحاصله أربعة أوجه: أحدها: يسن مسحه بماء جديد والثاني يستحب ولا يقال: مسنون والثالث يستحب ببقية ماء الرأس والاذن والرابع لا يسن ولا يستحب وهذا الرابع هو الصواب ولهذا لم يذكره الشافعي رضي الله عنه ولا اصحابنا المتقدمون كما قدمناه عن القاضي أبي الطيب ولم يذكره أيضاً أكثر المصنفين... ولم يثبت فيه عن النبي ﷺ... وأما الحديث المروى عن طلحة بن مصرف عن أبيه عن جده أنه رأى رسول الله ﷺ يمسح رأسه حتى يبلغ القذال وما يليه من مقدم العنق، فهو حديث ضعيف بالاتفاق رواه احمد بن حنبل والبيهقي من رواية ليث بن ابي سليم وهو ضعيف وأما قول الغزالي ان مسح الرقبة سنة لقوله ﷺ: مسح الرقبة أمان من الغل فغلط لان هذا موضوع ليس من كلام النبي ﷺ وعجب قوله لقوله ﷺ بصيغة الجزم. (شرح المهذب: ۱/ ۴۶۳ – ۴۶۵، دار الفكر).

په الفقه الاسلامی کي راځي:

مسح الرقبة بالماء: عند الجمهور غير الحنفية؛ لأنه غلو في الدين وتشديد، قال الشافعية: ولا يسن مسح الرقبة إذ لم يثبت فيه شيء، قال النووي: بل هو بدعة. وكذلك قال المالكية: إنه بدعة مكروهة. (الفقه الاسلامی وادلته: ۱/ ۲۶۳، دار الفكر).

خلاصه دا چي د شوافعو په اند په مسح الرقبه کي مختلف اقوال دي خو د صحيح قول مطابق د شوافعو په اند مسح الرقبه سنت او مستحب نه ده بلکي پرېښودل يې اولى دي ځکه په دې هکله روايات عند الشوافع ضعيف او مرسل دي چي په احکامو کي حجت نه دي.

خو د اختلاف څخه د وتلو له پاره مسح کول ښه دي ځکه ځينو شوافعو يې استحباب ليکلي دي او د احنافو په اند هم په ځينو کتابونو کي مستحب ده.والله ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

عن عائشة رضي الله عنها قالت : قال رسول الله ﷺ : "من أصابه قيء أو رعاف أو قلس أو مذي، فلينصرف ، فليتوضأ" (رواه ابن ماجه).

دوهم .... باب

د اوداسه او غسل د ماتونکو بيان

عن زيد بن ثابت أن رسول الله ﷺ قال "الوضوء من كل دم سائل" (رواه الدار قطنى).

عن الحسن: أنه كان لايرى الوضوء من الدم إلا ماكان سائلاً. (رواه ابن ابى شيبة).

د پيچکارۍ لګولو سره د راوتونکي وينې حکم

سوال: که مريض ته پيچکارۍ ولګول سي او له هغه څخه لږ وينه ووزي نو اودس يې ماتيږي او که نه؟

الجواب: پر پيچکارۍ که د بدن لږ څه وينه ولګيږي په دومره وينه وتلو سره اودس نه ماتيږي ځکه دا دومره لږ وي چي نه بهيږي د فقهاؤ د اقولو مطابق که د بدن څخه وينه ووزي او هغه په يو شی وچه سي او اندازه يې هم دومره لږ وي که وچه نه سي نو هم نه بهيږي نو اودس نه ماتوي.

وګورئ په عالمګيري کي راځي:

إذا خرج من الجرح دم قليل فمسحه ثم خرج أيضاً ومسحه فإن كان الدم بحال لو ترك ما قد مسح منه فسال انتقض وضوءه وإن كان لايسيل لاينقض. (الفتاوى الهندية:١/ ١١).

یعنی کله چې د زخم څخه لږ وینه ووزي بیا هغه وچه کړي بیا ووزي بیا یې په یو شی وچه کړي نو که په مجموعي توګه د وینی اندازه دومره وي چې دغه وچه سوی وینه د پرېښودلو په صورت کې بهیږي نو اودس یې ماتیږي او که نه نه ماتیږي. والله ﷻ اعلم.

په قی کې د راتلونکی وینی حکم

سوال: که په قی کې وینه راغله نو اودس ماتیږي او که نه؟

الجواب: په دغه مسئله کې تفصیل دئ چې په قی کې راتلونکی وینه که نرمه او بهانده وي نو اودس یې ماتیږي که د وینی اندازه زیاته وي او که لږ وي خوله په ډکیږي او که نه.

او که چیري وینه کلکه وي او ټوټې وي خوله په ډکیږي بیا هم اودس په ماتیږی او که له ډکي خولي څخه لږ وي نو اودس نه په ماتیږي.

وګورئ په فتاوی شامي کې راځي:

(قوله أو علق الخ) العلق لغة: دم منعقد كما هو أحد معانيه، لكن المراد به هنا سوداء محترقة كما في الهداية وليس بدم حقيقة كما في الكافي ولهذا اعتبر فيه ملأ الفم وإلا فخروج الدم ناقض بلا تفصيل بين قليله وكثيره على المختار. (فتاوی الشامی:۱/ ۱۳۷).

په عمدة الفقه کې راځي:

که په قی کې وینه راغله نو هغه به یا له سر څخه راغلی وي یا به له معدې څخه راوتلې وي او هغه به بهیږي که له سر څخه کښته سوي وي او بهیدونکی وي نو بالاتفاق اودس په ماتیږي او که چیري ټینګه وي نو په هغه سره بالاتفاق اودس نه ماتیږي د بهاندې وینی په صورت کې د هغې بهیدل او ناړو باندې غلبه معتبره ده او که ناړې او وینی برابرې وي یعنی د ناړو رنګ سر والي ته مائل ژړ وُ بیا هم احتیاطاً اودس مات بلل کیږي او که ناړی غالبې او وینه مغلوبه وه یعنی د ناړو رنګ لږ ژړ وُ نو له دې څخه اودس نه ماتیږي او همدغه حکم د هغې وینی دئ چې له غاښو څخه وزي او د کلکی وینی په وتلو سره د دې امله اودس نه ماتیږي چې هغه د وینی له صفت څخه وتلې وه او که هغه وینه له معدې څخه راوتلې وي او کلکه وي نو د خولې د نه ډک والي په صورت کې په هغه سره بالاتفاق اودس نه ماتیږي خو که خوله په ډکې ده بیا اودس په ماتیږي او که چیري د معدې څخه راوتونکې وینه

بهیږي نو د امام ابو حنیفه رحمه الله د قول مطابق د بل ځای د راوتلي وینې په شان اودس ورباندي ماتیږي که څه هم په ډکه خوله نه وي ځکه د نس له زخم څخه وتلی ده، معده د وینې ځای نه ده. همدغه قول مختار دئ او اکثره مشائخو صحیح بللی دئ. (عمدة الفقه: ۱/ ۱۵۰). والله تعالیٰ اعلم.

د سترګو د خوږېدو له امله د راوتونکو اوبو حکم

سوال: که د درد له امله د یو چا د سترګو څخه اوښکي بهیدې نو ایا هغه پاکي دي او که نه؟ اودس ورباندي ماتیږي او که نه؟

الجواب: (۱) هغه اوبه چي د سترګو له تکلیف پرته بهیږي د هغو په پاکوالی کي د څه شک خبره نه سته.

۲_ هغه اوبه چي له سترګو څخه بهیږي صافي دي هغه هم اودس نه ماتوي البته که استحبابا یا احتیاطا اودس وکړي ښه دئ.

۳_ هغه اوبه چي د خپل اصلی حالت څخه اوښتي وي او د نوونو په شان وي په هغه سره اودس ماتیږي.

په شامي کي راځي:

بل الظاهر إذا كان الخارج قيحاً أو صديداً لنقض، سواء كان مع وجع أو بدونه لأنهما لا يخرجان إلا عن علة ... وعن محمد إذا كان في عينيه رمد وتسيل الدموع منها آمره بالوضوء لوقت كل صلاة لأني أخاف أن يكون ما يسيل منها صديداً فيكون صاحب العذر. قال في الفتح: وهذا التعليل يقتضي أنه أمر استحباب... نعم إذا علم بإخبار الأطباء أو بعلامات تغلب ظن المبتلى يجب. (فتاوى الشامي: ۱/ ۱۴۸، ۸، سعيد).

په طحطاوي علی مراقی الفلاح کي راځي:

وفي الجوهرة عن الينابيع الماء الصافي إذا خرج من النفطة لا ينقض... ولو كان بعينه رمدا أو عمش يسيل منها الدموع قالوا: يؤمر بالوضوء لوقت كل صلاة لإحتمال أن يكون صديداً

أو قيحاً قال العلامة الشلبي في حاشيته عليه: قال الشيخ كمال الدين في فصل المستحاضة: وأقول: هذا التعليل يقتضي أنه أمر استحباب ... نعم إذا علم أنه صديد أو قيح من طريق غلبة الظن بإخبار الأطباء أو علامة تغلب على ظن المبتلي يجب. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح،ص:۸۷، ۸۸، قدیمی). والله ﷻ اعلم.

وينه اودس ماتوي په مرفوع حديث سره يې ثبوت

سوال: داحنافو په اند د وينې په وتلو سره اودس ماتيږي د دغه په دليل کي چي کوم مرفوع احاديث ذکر کيږي پر هغه رد او قدح کيږي اوس کوم واضح مرفوع حديث وښاياست چي په هغه کي په وينه سره د اوداسه د ماتيدو يادونه سوى وي؟

الجواب: وګورئ په مستدرک حاکم کي راځي:

أخبرنا أبو بكر إسماعيل بن محمد الفقيه بالري ثنا محمد بن الفرج الأزرق ثنا حجاج بن محمد عن ابن جريج أخبرني هشام بن عروة عن أبيه عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: إذا أحدث أحدكم في صلاته فليأخذ بأنفه ثم لينصرف، تابعه عمر بن علي المقدمي و محمد بن بشر العبدي و غيرهما عن هشام بن عروة و هو صحيح على شرطهما و لم يخرجاه. (أخرجه الحاکم برقم ٦٥٥، وابن خزيمة فی صحيحه:۱۰۱۹).

په ابو داؤد کي راځي:

حدثنا إبراهيم بن الحسن المصيصى ثنا حجاجثنا ابن جريج أخبرنى هشام بن عروة عن عروة عن عائشة رضي الله عنها قالت قال النبى ﷺ: إذا أحدث أحدكم فى صلاته فليأخذ بأنفه ثم لينصرف. قال أبو داود: رواه حماد بن سلمة وأبو أسامة عن هشام عن أبيه عن النبى ﷺ: إذا دخل والإمام يخطب. لم يذكرا عائشة رضي الله عنها. (ابو داؤد: باب استئذان المحدث الامام:۱۱۵۹).

پہ الدرايه کي راځي:

إذا صلى أحدكم فقاء أو رعف فليضع يده على فمه وليقدم من لم يسبق بشيء لم أجده هكذا وأخرج أبو داود وابن ماجة من حديث عائشة رضي الله عنها إذا صل أحدكم فليأخذ بأنفه ثم لينصرف وأخرج الدارقطني عن علي رضي الله عنه موقفاً إذا أم القوم فوجد في بطنه رزءاً أو رعافاً أو قيئاً فليضع ثوبه على أنفه وليأخد بيد رجل من القوم فليقدمه. (الدراية فى تخرج احاديث الهداية:رقم ۲۱٦).

پہ ابن ماجه کي راځي:

حدثنا عمر بن شبة بن عبيدة بن زيد، ثنا عمر بن علي المقدمي، عن هشام بن عروة، عن أبيه، عن عائشة رضي الله عنها، عن النبي ﷺ قال: إذا صلى أحدكم فأحدث، فليمسك على أنفه، ثم لينصرف. ثنا حرملة بن يحيى، ثنا عبد الله بن وهب، ثنا عمر بن قيس، عن هشام بن عروة، عن أبيه، عن عائشة، عن النبي ﷺ نحوه.

وعلى هامشه: (قوله فليمسک على أنفه) أى ليحتال أنه مرعوف وليس هذا من الكذب بل من التعاريض بالفعل. (ابن ماجه:١/ ٨٥، باب ماجاء فيمن أحدث فى الصلاة كيف ينصرف).

روى البخارى فى "صحيحه"(باب غسل الدم، رقم:۲۲۸) عن هشام بن عروة، عن أبيه، عن عائشة رضي الله عنها، قالت: جاءت فاطمة ابنة أبي حبيش إلى النبي ﷺ فقالت: يا رسول الله! إني امرأةأستحاض فلا أطهر، أفأدع الصلاة؟ فقال: لا، إنما ذلك عرق، وليس بحيضة، فإذا أقبلت حيضتك فدعي الصلاة، وإذا أدبرت فاغسلي عنك الدم صلي، قال هشام: وقال أبي: ثم توضئي لكل صلاة حتى يجيء ذلك الوقت.

لايقال: قوله: ثم توضئ لكل صلاة من كلام عروة، لأن الترمذي لم يجعله من كلام عروة، وصححه، كذا ذكره العيني.

فنبه رسول الله ﷺ على العلة الموجبة للوضوء، وهو كون مايخرج منها دم عرق، وهو أعم من أن يكون خارجاً من السبيلين أو غيرهما، ثم أمرها بالوضوء لكل صلاة. [شرح الوقاية: ۱/ ۵۱]. (ماخوذ من أدلة الحنفية من الأحاديث الفقهية لمحمد عبد الله بن مسلم البهلوي، ص:۳۸).

له دې څخه علاوه نور احاديث هم شارحينو ذکر کړي دي په هغو احاديثو کي داوداسه د ماتيدو وروسته د پوزي د نيولو حکم دئ ګويا که د وينې په وتلو سره د اوداسه ماتيدل له مسلماتو څخه وه که په هغه سره اودس نه ماتيدای نو دا به يو مزاق او ټوکي وای. والله ﷻ اعلم.

د پېچکارۍ په ذريعه د وينو پر را ايستلو د اوداسه د ماتيدو حکم

سوال: که چيري د پېچکارۍ په واسطه وينه وکاږي اودس يې ماتيږي او که نه؟

الجواب: که چيري په پېچکارۍ سره د وينې ايستل او راکشول مقصود وي نو له امله يې اودس ماتيږي او د هغه نظير په فقه کي لاندي جزئيه ده:

القراد إذا مص عضو إنسان فامتلا دماً إن كان صغيراً لاينقض وضوءه كما لو مصت الذباب أوبعوض وإن كان كبيراً ينقض، وكذا العلقة إذا مصت عضو إنسان حتى امتلأت من دمه انتقض وضوءه كذا في محيط السرخسي. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۱، وكذا في الدر المختار: ۱/ ۱۳۹، والمحيط البرهاني: ۱/ ۴۲، الفصل الثاني في بيان مايوجب الوضوء).

يعنی کله چي منګوړ د انسان يو اندام وځبيښی او دی د وينو ډک سي نو که چيري کوچنی وي اودس يې نه ماتيږي او که غټ وي اودس يې ماتيږي لکه چي ژوره د انسان بدن وچيچي تر داسي اندازې چي له وينو څخه ډکه سي نو د ده اودس ماتيږي.

په فتاوی رحيمه کي راځي:

سوال: د پېچکارۍ په ذريعه چي وينه وايستل سي اودس په ماتيږي او که نه؟

جواب: که دغه ایستل سوي وینه د بهیدو اندازه وه نو اودس یې ماتیږي.

په کبیری کي راځي:

"إذا فصد وخرج منه دم كثير ولم يتلطخ رأس الجرح فانه ينقض". (شرح منية المصلي،ص:١٢٩).

په تېره زمانه کي د رګ وهلو آله ښکر لګول وه په اوسني دور کي پیچکاري د هغې متبادل صورت دئ همدارنګه د ژوري حکم هم دئ. "وكذا ينقضه علقة...الخ. (فتاوى رحيميه:٤/ ٢٦٧).

خلاصه دا ده چي د پیچکاري په ذریعه ایستل سوی وینه کي چیري د بهیدو اندازه وي نو اودس ماتیږي. والله تعالیٰ اعلم.

په نارو کي د وینی د اثر ښکاره کېدو څخه د اوداسه د ماتیدو حکم

سوال: که په نارو کي د وینی اثر ښکاره سي اودس ماتیږي او که نه؟

الجواب: که د نارو رنګ سور والی ته مائل سي نو اودس ماتیږي، البته که وینه ډېره لږ وي سور والی ته مائل نه وي نو اودس یې نه ماتیږي.

په مراقی الفلاح کي راځي:

وينقضه دم من جرح بفمه غلب على البزاق أي الريق أوساواه احتياطا ويعلم باللون فالأصفر مغلوب وقيل الحمرة مساو وشديدها غالب والنازل من الراس ناقض بسيلانه وإن قل بالإجماع. (مراقی الفلاح،ص:٣٧).

په فتاوی شامي کي راځي:

وينقضه دم غلب على بزاق حكماً للغالب أوساواه ولاينقضه المغلوب بالبزاق وعلامة كون الدم غالباً أو مساوياً أن يكون البزاق أحمرو علامة كونه مغلوباً أن يكون أصفر. (فتاوى الشامي:١/ ١٣٩، سعيد).

په بهشتی زېور کي راځي:

د چا په نارو کي که وينه معلومه سوه وينه ډېر لږ وه او د نارو رنګ سور والی یا ژېړ والی ته مائل ؤ نو اودس یې نه ماتیږي او که وينه زیاته وي یا برابره وي او رنګ یې سور والی ته مائل وي نو اودس یې ماتیږي.

نور وګورئ: (حاشية الطحطاوی علی الدر: ١/ ٨٠، وبدائع الصنائع: ١/ ٢٦، والفتاوی الهندية: ١/ ١١، والبحر الرائق: ١/ ٣٦). والله ﷻ اعلم.

پر سيټ په ناستی د بيدلو څخه د اودس د ماتيدو حکم

سوال: که څيري يو څوک د موټر يا هوايي طياري پر سيټ په ناستی ويده سي اودس يې ماتيږي او که نه؟

الجواب: که څيري يو څوک ديوال يا کوم بل شی ته تکيه ووهي ويده سي نو دوه صورتونه لري که څيري د ده ورنونه پر مځکه ټينګ وي نو په دغه کي د احنافو په اند دوه قوله دي:

١ _ يو قول دا دئ چي اودس يې ماتيږي صاحب د قدوري، صاحب د هدايي او امام طحطاوي دغه قول غوره کړي دئ.

٢ _ قول دا دئ چي اودس يې نه ماتيږي دغه ظاهر الرواية دي او اکثره حضراتو دغه قول اخيستی دئ لکه چي شامي، عالمګيري، البحر الرائق، بدائع الصنائع او په نورو کتابونو کي يې دغه قول اختيار کړی دئ.

په عالمګيري کي راځي:

ولو نام مستنداً إلى مالو أزيل عنه لسقط إن كانت مقعدته زئلة عن الأرض نقض بالإجماع وإن كانت غير زائلة فالصحيح انه لاينقض هكذا فی التبيين. (الفتاوی الهنداية: ١/ ١٢).

همدارنګه: شامي ١/ ١٤١، وبدائع الصنائع: ١/ ٣١، والبحر الرائق: ١/ ٣٨، کي دغه مسئله په تفصيل سره وګورئ.

خلاصه دا چي که یې کناټي پر سیټ ټینګ وي نو د ظاهر الروایة مطابق یې اودس نه ماتیږي دا قول زیات صحیح دئ او که چیري له مځکي جلا سوی وي اودس یې ماتیږي. والله ﷻ اعلم.

په چارزانو ناستي کي د اوداسه د ماتیدو حکم

سوال: که کوم څوک د جمعې د خطبې په دوران کي چارزانو ناست وي پر یوه لاس یې ځنګ ولګاوه او بیده سي نو اودس یې ماتیږي او که نه؟

لجواب: که یې ورنونه پر مځکه ټینګ وي نو د مفتی به قول مطابق یې اودس نه ماتیږي.

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

ولو نام مستنداً إلى مالو أزيل عنه لسقط إن كانت مقعدته زئلة عن الأرض نقض بالإجماع وإن كانت غير زائلة فاصحيح انه لاينقض هكذا فى التبيين. (الفتاوى الهنداية:۱/ ۱۲).

وفى العناية: والمروي عن أبي حنيفة رحمه الله: أنه لاينقض وضوءه على كل حال لأن مقعده مستقر على الأرض فيأمن من خروج شيء منه. (العناية على هامش فتح القدير:۱/ ٤٨، دار الفكر).

نور وګورئ: (احسن الفتاوی:۲/ ۲۲- ۲۳). والله ﷻ اعلم.

د سجدې په حالت کي په بېدو سره د اوداسه د ماتیدو حکم

سوال: په ځینو کتابو کي راځي که کوم څوک د سجدې په حالت کي بېده سي نو اودس یې ماتیږي ایا دغه صحیح ده؟ حال دا چي په نورو کتابونو کي راځي چي اودس یې نه ماتیږي؟

الجواب: په دواړو کي د تطبیق صورت دا دئ که چیري یې د سنت طریقې مطابق سجده وکړل نو اودس یې نه ماتیږي او که یې د سنت طریقې خلاف سجده وکړه نو اودس یې ماتیږي او د سجدې کولو سنت طریقه دا ده چي نس به له ورنو څخه لیري کوي او بازوګان به له بدن څخه لیري کوي یعنی سجده به ازاده کوي.

په هدايه کي راځي:

فصل في نواقض الوضوء .... ومنها النوم مضطجعاً بخلاف النوم حالة القيام والقعود والركوع والسجود في الصلاة وغيرهما في الصحيح لأن بعض الاستمساك باق.

(الهداية:۱/ ۲۵).

په فتح القدير کي راځي:

وقال ابن الهمام فى فتح القدير: (قوله في الصلاة وغيرها) هذا إذا نام على هيئة السجود المسنون خارج الصلاة بأن جافى، أما إذا لصق بطنه بفخذيه فينقض. (فتح القدير:۱/ ۴۸، دار الفكر، وكذا فى شرح العناية:۱/ ۴۸).

په فتاوی عالمګيري کي راځي:

ولاينقض نوم القائم والقاعد ولو فى السرج أو الحمل ولاالراكع ولا الساجد مطلقاً إن كان فى الصلاة وإن كان خارجها فكذلك إلا فى السجود فإنه يشترط أن يكون على الهيئة المسنونة له بأن يكون رافعاً بطنه عن فخذيه مجافياً عضديه عن جنبيه وإن سجد على غير هذه الهيئة انتقض وضوءه كذا فى البحر الرائق. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۲).

وقال ابن نجيم: لأن فى الوجه الأول الاستمساك باق والاستطلاق منعدم بخلافه فى الوجه الثاني. (البحر الرائق:۱/ ۳۸). والله ﷻ اعلم.

د ښځو د تيو څخه د راوتلو اوبو څخه د اوداسه د ماتيدو حکم

سوال: د ښځي له تيو څخه چي اوبه راوزي اودس وربانديماتيږي او که نه؟

الجواب: د زخم له امله راوتلي اوبه يعنى نوونه ناپاک دي او په هغه سره اودس ماتيږي خو هغه اوبه چي پرته له زخم څخه راوزي هغه پاکي دي، اودس وربانديږي نه ماتيږي.

په مراقي الفلاح کي راځي:

قوله كدم وقيح إشارة إلى أن ماء الصديد ناقض كماء الثدى والسرة والثدي والأذن إذا كان لمرض على الصحيح. (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى،ص:٨٧، قديمى).

په بهشتي زېور کي راځي:

که چیري له تیو ځخه اوبه راوزي او درد هم وي نو هغه مرداري دي په هغه سره اودس ماتیږي او که درد او تکلیف نه وي نو مرداري نه دي اودس نه وربانديماتیږي. (بهشتی زیور اوله برخه،ص:٥١).

همدارنګه وګورئ: (الفتاوى الهندية:١/ ١٠، فتاوى الشامى:١/ ١٤٧). والله ﷻ اعلم.

د غسل څخه وروسته د پاته منيو پر راوتلو د غسل د راګرځولو حکم

سوال: که چا له خپلي ښځي سره جماع وکړي يا احتلام سو بيا يې غسل وکړ او بيا پاته مني راووتل نو د غسل راګرځول ورباندي سته او که نه، همدارنګه که دغسي معامله ښځي ته پيښه سي نو د احنافو او شوافعو په انديې حکم څه دي؟

الجواب: که يې له يوې ښځي سره جماع وکړي او بيا يې غسل وکړ وروسته يې مني راووتل نو په هغه کي دا تفصيل دئ چي که چيري د زياتو تللو يا بولي کولو وروسته او يا تر خوب وروسته داسي وسوه نو پر ده د غسل راګرځيده نه سته خو که د بولو يا خوب يا زياتو تللو څخه مخکی مني ووتل، نو د طرفينو په اند ورباندي د غسل راګرځول ضروري دي خو د امام ابو يوسف رحمه الله په اند پر ده غسل نه سته د ضرورت په وخت کي د امام ابو يوسف رحمه الله په قول د عمل کولو ګنجائش سته خو په عامو حالاتو کي د غسل راګرځول ضروري دي او همدغه احوطه ده او د نجاست وغيره په باب کي احتياط اولی دئ.

په فتاوى هنديه کي راځي:

ولو اغتسل من الجنابة قبل أن يبول أوينام وصلى ثم خرج بقية المنى فعليه أن يغتسل عندهما خلافا لأبي يوسف رحمه الله ولكن لايعيد تلك الصلاة في قولهم جميعاً، ولو خرج بعد ما بال أ نام أو مشى لايجب عليه الغسل اتفاقاً كذا فى التبيين. (الفتاوى الهندية:١/ ١٤).

په فتاوی شامي کي راځي:

فلو اغتسلت فخرج منها مني، إن منيها أعادت الغسل لا الصلاة وإلا لا (بشهوة)... (وإن لـم يخرج) من رأس الذكر (بـها) وشرطه أبو يوسف. وبقوله يفتى في ضيف خاف ريبة اواستحيى. وفي القهستاني والتاترخانية معزياً للنوازل: وبقول أبي يوسف، نأخذ لأنه أيسر على المسلمين، قلت: ولاسيما في الشتاء والسفر.

قال المصنف: وإن لـم يخرج بـها : أي بشهوة. (قوله وشرطه أبو يوسف) أي شرط الدفق ...... (قوله قلت) ظاهره الـميل إلى اختيار ما في النوازل، ولكن أكثر الكتب على خلافه ولا سيما قد ذكروا أن قوله قياس وقولهما استحسان و أنه الأحوط، فينبغي الإفتاء بقوله في مواضع الضرورة فقط تأمل. (فتاوی الشامی:۱/ ۶۰، سعيد).

او كه چيري ښځي ته دا مسئله پيښه سي او د ښځي مني وي نو هم يې د احنافو په اند مسئله همدغه ده او كه له ښځي څخه د نارينه مني ووزي نو بيا ورباندي د غسل راګرځول نه ستـه بلكي يوازي اودس كافي دئ:

(قوله وإلا فلا) أی وإن لـم يكن منيها بل منی الرجل لاتعيد شيئاً وعليها الوضوء.

د شوافعو په اند كه چيري د غسل څخه وروسته مني ووزي نو بيله كومه تفصيله د غسل راګرځول ضروري دي لكه چي د دوی په كتابونو كي ليكلي دي:

(الـمسألة الثانية) إذا أمنی واغتسل ثم خرج منه مني على القرب بعد غسله لزمه الغسل ثانيا سواء كان ذلك قبل أن يبول بعد الـمنی أو بعد بوله هذا مذهبنا نص عليه الشافعي واتفق عليه الاصحاب. (شرح المهذب:۲/ ۳۹، دار الفكر).

او که ښځي ته داسي معامله پېښه سوه نو د شوافعو په اند د نارينه په شان پر ښځه هم د غسل راګرځول ضروري دي خو که د ښځي څخه د غسل وروسته د نارينه مني ووزي نو په دغه صورت کي که دوه شرطونه موجود سي نو د شوافعو په اند د غسل راګرځول ضروري دي او که نه نه دي.

لومړی شرط دا چي ښځه به شهوت لرونکی وي ضعيفه به نه وي.

دوهم دا چي په جماع سره به يې شهوت پوره سوی وي بيده به نه وي د خوب په حالت کي د ښځي سره په وطی کولو سره د ښځي شهوت او حاجت نه پوره کيږي که چيري له دغو دواړو څخه يو شرط نيستی وي نو د غسل راګرځول وربادي ضروري نه دي.

وګورئ په اعانة الطالبين کي راځي:

وطئت المرأة في دبرها فاغتسلت ثم خرج منها مني الرجل فلا يجب عليها إعادة الغسل، أو وطئت في قبلها ولم يكن لها شهوة كصغيرة، أو كان لها شهوة ولم تقضها كنائمة، فكذلك لا إعادة عليها. (عانة الطالبين:١/ ٧٠، وكذا في روضة الطالبين:١/ ٨٤).

يعنی که له ښځي سره وطی په دبره کي وسوي بيا له هغې څخه د نارينه مني ووتل نو پر ښځه د غسل راګرځول نه سته او که له ښځي سره د مخ په خوا کي وطی وسوي بيا د غسل څخه وروسته ورڅخه د نارينه مني ووتل نو که دا شهوت لرونکي نه وي مثلاً صغيره وي نو د غسل راګرځول وربادي نه سته او که چيري شهوت لرونکی وي خو په جماع سره يې حاجت او شهوت پوره نه سو لکه چي د بيدي سره چي څوک جماع وکړي بيا هم پر ښځه د غسل راګرځول ضروري نه دي. والله ﷻ اعلم.

د نارينه او ښځي يو د بل په مسه کولو سره د اوداسه د ماتيدو حکم

سوال: نارينه او ښځي يو ځای غسل وکړ او اودس يې هم وکړ بيا يې يو بل ته لاس وروړ نو ايا د اوداسه راګرځول لازم دي او که نه؟

الجواب: يوازي لاس وروړل اودس نه ماتوي، البته که يې مذي ووزي نو د اوداسه راګرځول لازم دي:

وفي الهندية: الفصل الخامس في نواقض الوضوء: منها مايخرج من السبيلين من البو والغائط والريح الخارجة من الدبرو الودي والمذي والمني والدودة والحصاة. (الفتاوى الهندية:۱/ ۹).

وفي الصحيحين من حديث عائشة رضي الله عنها أنها قالت: كنت أنام بين يدي رسول الله ﷺ ورجلاي في قبلته، فإذا سجد غمزني فقبضت رجلي، و إذا قام بسطتهما.

وما في السنن الأربعة: عن عائشة رضي الله عنها أن النبي ﷺ كان يقبل بعض أزواجه ثم يصلي ولايتوضأ. (شرح النقاية:۱/ ٦۰).والله تعالى اعلم.

په فرج کي د ګوتي په داخلولو سره د غسل د وجوب حکم

سوال: که چیري ډاکټر د مریضي په فرج کي ګوته واچول یا په خپله ښځي داسي وکړل نو غسل واجب دئ او که نه؟

الجواب: په شرح د منية المصلى کي راځي:

وفي وجوب الغسل بإدخال الأصبع في القبل أو الدبر خلاف والأولى أن يوجب في القبل إذا قصد الاستمتاع لغلبة الشهوة لأن الشهوة فيهن غالبة فيقام السبب مقام المسبب وهو الإنزال دون الدبر لعدمها وعلى هذا ذكر غير الآدمي وذكر الميت ومايصنع من خشب أو غيره. (شرح منية المصلى،ص:٤٦).

په حاشيه الطحطاوي على الدر کي راځي:

ولا (أي لايجب الغسل) عند إدخال أصبع ونحوه كذكر غير آدمي وذكر خنثى وميت وصبي لايشتهي وما يصنع من نحو خشب في الدبر أو القبل على المختار قال الطحطاوي: قوله على المختار يخالفه من جهة الترجيح في القبل ماذكره نوح آفندى ونصه قال في

النجنيس رجل أدخل أصبعه في دبره وهو صائم اختلفوا في وجوب الغسل والقضاء والمختار أنه لايجب الغسل ولاالقضاء لأن الأصبع ليس آلة الجماع فصار بمنزلة الخشبة وقيد بالدبر لأن المختار وجوب الغسل ى القبل إذا قصدت الاستمتاع لأن الشهوة فيهن غالبة فيقام السبب مقام المسبب دون الدبر لعدمها. فقد اختلف الترجيح في القبل أبو السعود. (حاشية الطحطاوي على الدر المختار: ١/ ٩٤).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

١ـ سوال: نارينه په قصده د ښځي په فرج کي ګوته داخله کړه په دغه حالت کي پر ښځي غسل واجبيږي او که نه؟

٢ـ يوې ښځي د بلي ښځي جسم ته د دوا رسولو او يا کومي بلي داخلي خرابی معلومولو له پاره لاس يا ګوته دننه کړه نو ايا غسل واجبيږي او که نه؟

جواب: (١ـ ٢) کي غسل نه واجبيږي. (فتاوی دار العلوم ديوبند: ١/ ١٨١). والله ﷻ اعلم.

د ښځي له عورت څخه د راوتونکی رطوبت حکم

سوال: د ښځي له عورت څخه راوتونکی رطوبت پاک دئ او که نه؟ په هغه سره اودس ماتيږي او که نه؟

الجواب: کوم رطوبت چي له فرج څخه دباندي وي هغه پاک دي او کومي اوبه چي له دننه څخه وزي هغه ناپاکي دي اودس په ماتيږي، د امام صاحب په اند د فرج داخل رطوبت د فرج خارج په شان پاک دي مګر د صاحبينو په اند د فرج داخل رطوبت ناپاک دئ او احتياط يې په نجس بللو کي دئ، البته د فرج داخل څخه وراندي چي کومي اوبه بهيږي هغه بالاتفاق ناپاکي دي.

الدر المختار كي راځي:

أي برطوبة الفرج، فيكون مفرعاً على قولهما بنجاستها، أما عنده فهي طاهرة كسائر رطوبات البدن. وفي الشامية: قوله برطوبة الفرج أي الداخل ... وأمار طوبة الفرج الخارج فطاهرة اتفاقاً. (الدر المختار مع رد المحتار:١/ ٣١٣، و:١/ ١٦٦، و:١/ ٣٤٩، ط: سعيد).

په موسوعة الفقهية الكويتية كي راځي:

ذهب أبو حنيفة إلى طهارة رطوبة فرج المرأة الداخلي كسائر رطوبات البدن ، وذهب أبو يوسف رحمة الله عليه ومحمد رحمة الله عليه إلى نجاسته أما رطوبة الفرج الخارجي فطاهرة اتفاقًا .

(موسوعة الفقهية الكويتية: ٤٠/ ٩٣).

په الدر المحتار كي راځي:

رطوبة الفرج طاهرة عنده. وفي ردالمحتار: قوله الفرج أي الداخل، أما الخارج فرطوبته طاهرة باتفاق. (الدر المختار مع ردالمحتار:١/ ١٦٦، سعيد).

په الجوهرة النير كي راځي:

وأما رطوبة الفرج فهي طاهرة عند أبي حنيفة رحمة الله عليه كسائر رطوبات البدن وعندهما نجسة لأنها متولدة في محل النجاسة. (الجوهرة النيرة:١/ ٤٤، ط: ملتان).

په امداد الفتاوى كي راځي: دلته درې ځايونه دي:

١ _ فرج خارج چي مينځل يې په غسل كي فرض دئ او د هغه رطوبت پاک دئ.

٢ _ فرج داخل چي وينځل يې فرض نه دي د هغه په رطوبت كي اختلاف دئ او احتياط يې په نجاست كي دئ.

٣ _ نه فرج داخل وي نه فرج خارج بلكي له فرج داخل څخه هم دننه وي د هغه رطوبت نجس دئ.

(امداد الفتاوى:١/ ١٢٢).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د فرج خارج رطوبت پاک دئ او د فرج داخل رطوبت نا پاک دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند: جلد اول، ص: ۱۹۱، کتاب الطهارة، عزیز الرحمن).



قال الله تعالى:

﴿فلم تجدوا ماءً فتيمموا صعيدًا طيبًا فامسحوا﴾ (سورة النساء:٤٣).

قال رسول الله ﷺ: "الصعيد الطيب وضوء المسلم ولوإلى عشر حجج مالم يجد الماء".

(رواه ابو داود، والترمذی، وابن حبان، والحاکم).

دریم .... باب
د تیمم بیان

په مسجد کې چې جنابت ورته پېښ سي د تیمم حکم

سوال: که چا ته په مسجد کې جنابت پېښ سي نو بېله تیممه دي دباندي ووزي او یا تیمم وکړي او یا داوبو په موجودیت کې تیمم فائده لري؟

الجواب: داسي کس دي د مسجد څخه د وتلو له پاره تیمم وکړي او تیمم ضروري دئ بلکي فوراً دي تیمم وکړي او له مسجد څخه دي ووزي، البته که کومه بېره وي نو د تیمم په کولو سره بېدلای سي.

وګورئ فتاوی شامي کې راځي:

ولوكان نائماً فيه (اى المسجد) فاحتلم والماء خارجه وخشي من الخروج يتيمم وينام فيه إلى أن يمكنه الخروج، قال في المنية: وإن احتلم في المسجد تيمم للخروج إذا لم يخف وإن خاف يجلس مع التيمم ولا يصلي ولا يقرأ. (فتاوى الشامى:١/ ٢٤٣). والله ﷻ اعلم.

يوازي د مسجد د داخليدو يا تلاوت کولو له پاره د تيمم کولو حکم

سوال: که کوم څوک د مسجد د داخليدو يا د قرآن کريم د تلاوت له پاره داوبو په موجوديت کې تيمم وکړي نو آيا دا درسته ده او که نه؟

الجواب: مسجد ته د ننوتلو یا د قرآن کریم د تلاوت له پاره داوبو په موجودیت کي د تیمم کول درست دي.

په طحطاوی علی الدر کي راځي:

(قوله وكذا لكل مالاتشرط له الطهارة) أى فإنه يجوز له التيمم مع وجود الماء (قوله وجاز لدخول مسجد) أى جاز التيمم لمحدث حدثاً أصغر أراد دخول مسجد. (حاشية الطحطاوى على الدر:١/ ١٢٩).

په البحر الرائق کي راځي:

أن ما ليست الطهارة شرطًا في فعله وحله ، فإنه يجوز التيمم له مع وجود الماء كدخول المسجد للمحدث. (البحر الرائق:١/ ١٥١).

په فتاوی شامي کي راځي:

يجوز لكل ما لا تشترط الطهارة له ولو مع وجود الماء وأما ما تشترط له فيشترط فقد الماء كتيمم لمس مصحف فلا يجوز لواجد الماء أى فلا يجوز التيمم لمس مصحف سواء كان عن حدث أو عن جنابة وأما للقراءة فإن كان محدثاً فكالأول أى كالذى لاتشترط له الطهارة فيتيمم له مع وجود الماء، أو جنباً فكا لثاني وهو ما تشترط له الطهارة. (فتاوى الشامي:١/ ٢٤٥، سعيد).

خلاصه دا چي که د کوچنۍ بې اودسی په حالت کي وي نو مسجد ته د ننوتلو له پاره تیمم روا دئ که څه هم اوبه موجودي وي، همدارنګه د قرآن کریم د تلاوت له پاره هم تیمم روا دئ چي کله یې له یاده وایي او د کوچنۍ بې اودسی په حالت کي وي، خو قرآن کریم ته د لاس وروړلو له پاره تیمم روا نه دئ چي اوبه موجودي وي. والله ﷻ اعلم.

د اوبو د وعدې سره سره په تیمم سره د اداء سوی لمانځه حکم

سوال: که یو چا ته دا یقین وي چې اوبه پر وخت پیدا کیږي یا یو چا ورسره د اوبو ورکولو وعده کړې وي نو له هغه څخه مخکې د اوبو د لیرې والی له امله په تیمم سره لمونځ روا دئ او که نه؟ او که یې وکړي نو راګرځول یې واجب دي او که نه؟

الجواب: که دیو چا یقین وي چې اوبه به پر وخت پیدا سي نو د هغه له پاره مستحب ده چې لمونځ تر اخر وخته وځنډوي خو که یې لمونځ تر اخیر وخته ونه ځنډاوه بلکې مخکې یې تیمم وکړ او لمونځ یې اداء کړ نو لمونځ یې کیږي خو شرط دا دئ چې د لمونځ کونکي او اوبو تر منځ به دیوه میل فاصله وي که دیوه میل فاصله نه وي نو د لمانځه ځنډول ضروري دي.

په درمختار کي راځي:

(وندب لراجيه) رجاءً قوياً (آخر الوقت) المستحب، ولو لم يؤخر وتيمم وصلى جاز إن كان بينه وبين الماء ميل وإلا لا.

په ردالمحتار کي راځي:

(رجاءً قوياً) المراد به غلبة الظن ومثله التيقن كما في الخلاصة وإلا فلا يؤخر لأن فائدة الانتظار اداء الصلاة بأكمل الطهارتين. (الدر المختار مع ردالمحتار: ١/ ٢٤٩، سعيد).

وفی شرح النقاية: لكن لايبالغ فی التاخير لئلاتقع الصلاة فی وقت الكراهية. (شرح النقاية: ١/ ١١٧).

همدارنګه که چا د اوبو وعده کړي وي نو هم انتظار کول لازم دي البته شرط دا دئ چې اوبه به له یوه میل څخه زیاته فاصله نه وي که چیري د وعدې سره سره یې بیله انتظاره لمونځ اداء کړ نو د دغه لمانځه راګرځول یې واجب دي.

په مراقی الفلاح کي راځي:

(ويجب) أي يلزم (التأخير بالوعد بالماء ولو خاف القضاء) اتفاقاً إذا كان الماء موجوداً أو قريبا إذ لاشك في جواز التيمم ومنع التأخير لخروج الوقت مع بعده ميلاً. (مراقی الفلاح مع حاشية الطحطاوی،ص:١٢٣، قديمی).

په حاشيه الطحطاوی کي راځي:

(أي يلزم) فالوجوب بمعني الافتراض كما في الذي بعده (إذا كان الماء موجوداً) أي عند الواعد أو قريباً منه دون ميل أما إذا لم يوجد عنده أو كان بعيداً منه ميلاً فأكثر فلا يجب التأخير لأن الشارع أباح له التيمم حلبي. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح،ص:١٢٣، قديمی). والله ﷻ اعلم.

پر اوداسه د قدرت نه لرونکی له پاره د تيمم کولو حکم

سوال: که کوم څوک پر اوداسه قدرت نه لري خو ښځه يا خادم ولري چي ده ته اودس ورکولای سي ايا پر ده اودس فرض دئ او که تيمم هم کولای سي او که يې په تيمم سره لمونځ اداء کړ نو لمونځ يې کيږي او که نه؟

الجواب: که چيري ښځه يا خادم ولري چي ده ته اودس ورکوي نو پر ده اودس فرض دئ که يې په دغه صورت کي په تيمم سره لمونځ وکړ نو لمونځ يې نه کيږي.

په البحر الرائق کي راځي:

وإن وجد خادمًا كعبده وولده وأجيره لا يجزيه التيمم اتفاقًا كما نقله في المحيط، وإن وجد غير خادمه من لو استعان به أعانه ولو زوجته فظاهر المذهب أنه لا يتيمم من غير خلاف بين أبي حنيفة وصاحبيه. (البحر الرائق:١/ ١٤٠، کوئته).

په فتح القدیر کي راځي:

فإن وجد خادمًا له أو ما يستأجر به أجيرًا أو عنده من لو استعان به أعانه فعلى ظاهر المذهب لا يتيمم لأنه قادر. (فتح القدير: ١/ ١٢٣، دار الفكر، وكذا في الفتاوى الهندية: ١/ ٢٨).

په فتاوی شامي کي راځي:

لكن قدمنا أن ظاهر المذهب أنه لايجوزله التيمم إن كان لواستعان بالزوجة تعينه وإن لم يكن ذلك واجباً عليها. (فتاوى الشامي: ١/ ٢٣٤، سعيد).

په امداد الاحکام کي راځي:

د اوداسه او غسل پر ځای دي تيمم کوي په دې شرط چي سائل د اولاد او زوجی خاوند نه وي او د خدمت له پاره د مزدور پر درولو قدرت نه لري يا اولاد او زوجه لري خو هغوی د ده په اوداسه او استنجاء کولو راضي نه وه او که يې ښځه راضي وي چي ده ته اودس او استنجاء ور وکړي نو بيا د ده له پاره تيمم روا نه دئ. (امداد الاحکام: ١/ ٣٧٥) . والله ﷻ اعلم.

که يو څوک د اوبو پر استعمال قدرت نه لري د هغه له پاره د تيمم حکم

سوال: که د چا سره د اوداسه اوبه وي خو د هغو پر استعمال قدرت نه لري (معذوره وي) او هلته يو پردی کس او يا د ده دوست موجود وي خو د هغه د مرستي د طلب پرته که چيري په تيمم سره لمونځ اداء کړي نو حکم يې څه دئ ايا پر داسي موقع مرسته غوښتل ضروري ده؟

الجواب: پر داسي کس لازمه ده چي هلته چي څوک موجود دئ پردی وي او که يې دوست وي له هغه څخه مرسته وغواړي په دغه صورت کي د مرستي د طلبولو پرته په تيمم سره د لمانځه کول روا نه دي.

په بحر الرائق کي راځي:

وإن وجد خادمًا كعبده وولده وأجيره لا يجزيه التيمم اتفاقًا كما نقله في المحيط ، وإن وجد غير خادمه من لو استعان به أعانه ولو زوجته فظاهر المذهب أنه لا يتيمم من غير خلاف بين أبي حنيفة وصاحبيه كما يفيده كلام المبسوط والبدائع وغيرهما. (البحر الرائق:١/ ١٤٠).

په عمدة الفقه کي راځي:

که کومه مريضي وي او اودس ورکونکی کس نه وي او مريض په خپله هم اودس کولای نه سي خو که کوم خادم وي يا په برابره مزدوري پيدا کېدئ او دی يې مزدوري ورکولای سي يا د ده سره کوم داسي څوک وي چي که له هغه څخه مرسته وغواړي نو هغه يې مرسته کوي نو د ظاهر مذهب مطابق به تيمم نه کوي ځکه دی پر اوبو قدرت لري. (عمدة الفقه:١/ ٢٣٧). **والله ﷻ اعلم.**

د مفلوج له پاره د تيمم حکم

سوال: يو څوک د فلج مريض دئ او يا د بدن درپيدلو مريضی لري چي له امله يې اودس کولای نه سي او بل هم داسي څوک نه وي چي ده ته اودس ور وکړي نو ايا داسي مريض تيمم کولای سي؟

الجواب: که مفلوج يا هغه مريض چي بدن يې رپيږي په خپله اودس کولای نه سي او کوم بل څوک هم نه وي چي ده ته اودس ور وکړي نو په دغه صورت کي دی تيمم کولای سي البته که خادم ولري يا دومره مال ولري چي په اسانی سره خادم ودروي او خادم له اجر مثل څخه زيات څه نه غواړي نو بيا به د تيمم اجازه نه وي.

په درمختار کي راځي:

(أو لمرض يشتد أو يمتد بغلبة ظن أو قول حاذق مسلم ولو بتحرك أو لم يجد من توضئه فإن وجد ولو بأجرة مثل وله ذلك لا يتيمم في ظاهر المذهب كما في البحر... وفى ردالمحتار (أو لم يجد) أي أو كان لا يخاف الاشتداد ولا الامتداد لكنه لا يقدر بنفسه ولم يجد من يوضئه (قوله كما في البحر) حاصل ما فيه أنه إن وجد خادماً أي من تلزمه طاعته كعبده وولده وأجيره لا يتيمم اتفاقا.. وفي البحر وظاهر ما في التجنيس أنه لو له مال يستأجر به أجيراً

لا يتيمم قل الأجر أو كثر وفي المبتغیٰ خلافه والظاهر عدم الجواز ولو قليلاً والمراد بالقليل أجرة المثل كما بحثه في النهر والحلية وبه جزم الشارح. (فتاوی الشامی:١/ ٢٣٣).

په طحطاوي على الدر کي راځي:

(قوله ولو باجر مثل) وقيل يجزيه التيمم قل الاجر او كثر كما فى التجنيس وفى المنتقى مريض لم يكن احد يوضئه الابا جر جاز له التيمم عند الامام قل الاجر او كثرو قالا: لايتيمم اذا كان الاجر ربع درهم. والظاهر عدم الجواز اذا كان الاجر قليلاً لا اذا كان كثيراً كذا فى البحر وكلامه يعطى ان القليل اجر المثل والكثير ما زاد عليه. (الطحطاوی على الدر:١/ ١٢٥).

وفي شرح النقاية: وإن وجده بثمن زائد على المثل زيادة لايتغابن الناس فيها يتيمم، لأنه لايصل إلى استعماله إلا بإتلاف بعض ماله بلاعوض، وحرمة المال كحرمة النفس. (شرح النقاية:١/ ١٠٨).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو كان مريضًا لا يضره استعمال الماء لكنه عاجزعن الاستعمال بنفسه وليس له خادمولا ماليستأجر به أجيرًا فيعينه على الوضوء أجزأه التيمم، سواءكان في المفازة؛ أو في المصر، وهو ظاهر المذهب؛ لأن العجز متحقق، والقدرة موهومةفوجد شرط الجواز وروي عن محمد رحمه الله أنه إن كان في المصر لا يجزيه إلا أن يكون مقطوع اليد؛ لأن الظاهر أنه يجد أحدًا من قريب، أو بعيد يعينه، وكذا العجز لعارض على شرف الزوال بخلاف مقطوع اليدين. (بدائع الصنائع:١/ ٤٨).

پہ فتاوی هندیه کې راځي:

ولوكان يجد الماء الا انه مريض يخاف ان استعمل الماء اشتد مرضه او ابطأبرءه يتيمم لافرق بين ان يشتد بالتحرك كالمشتكي من العرق المدنى او المبطون او بالاستعمال كالجدرى ونحوه او كان لايجد من يوضئه ولا يقدر بنفسه فان وجد خادما او ما يستأجر به اجيراً وعنده من لو استعان به اعانه فعلى ظاهر المذهب انه لايتيمم لأنه قادر. (الفتاوی الهندية:١/ ٢٨).

پہ فتاوی فریدیه کې راځي:

دغه کس د ملازم او خادم په نه موجودیت کې تیمم کولای سي. (فتاوی فریدیه:٢/ ٩٠، وكذا فى عمدة الفقه:١/ ٢٣٧). والله ﷻ اعلم.

د جنب له پاره د خلکو په وړاندې د تیمم کولو حکم

سوال: پر یوه کس غسل واجب دئ خو هلته د خلکو ګڼه ګوڼه ده او د پردې انتظام نه سته نو ایا داسې کس تیمم کولای سي او که نه؟

الجواب: جنب به د خلکو په وړاندې غسل نه کوي بلکې تیمم به کوي که په هیڅ صورت کې پرده ممکن نه وه بې پردګي ممنوع ده.

شرح منیه المصلی کې راځي:

وان يغتسل فى موضع لايراه احد لاحتمال بدو العورة حال الاغتسال او اللبس ولحديث يعلى بن امية ان النبى ﷺ قال: ان الله حيى ستير يحب الحياء والتستر فاذا اغتسل احدكم فليستتر (رواه ابو داؤد) وفى القنية رجل عليه الغسل وهناك رجال لايدعه... فغير مسلم، لأن ترك المنهى مقدم على فعل المأمور كما تقدم وللغسل خلف وهو التيمم ولايجوز كشف العورة عند من لايجوز نظره اليها لاجله... وبالجملة فلاضرورة فى كشف العورة للغسل

عـنـد مـن لا یـجوز نظـره الیهـا لان لـه خلفـا بخـلاف الـختان ونحـوه . انتهـیٰ. (شرح منیة المصلی،ص:۵۱).

په فتاوی شامي کي راځي:

عـن الـجامع الـصغیر للامـام التمرتاشـی عـن الامـام البقـالی: لوکـان علیـه نجاسـة لایمکـن غلسها الا باظهار عوٰرته یصلی معها، لان اظهارها منهی عنه والغسل مأمور به، إذا اجتمعا كان النهی اولٰی. (فتاوی الشامی:۱/ ۱۵۵، سعید).

خلاصه دا چي د خلکو په وړاندي ستر لځول روا نه دي لهذا دی به تیمم کوي غسل به نه کوي. والله ﷻ اعلم.

د بس پر دېواله د تیمم کولو حکم

سوال: **یو څوک په بس کي سفر کوي د لمانځه وخت سو په بس کي دا وداسه انتظام نه سته او نه بس درېږي نو دغه کس د بس پر دېواله تیمم کولای سي او که نه؟**

الجواب: **د بس پر دېواله که ګرد او غبار وي تیمم کولای سي او که نه وي نه يې سي کولای.**

په هدایه کي راځي:

ویجوز التیمم عند أبي حنیفة ومحمد رحمهما الله بکل ما کان من جنس الأرض کـالتراب والرمل والحجر والجص ... وکذا یجوز بالغبار. (الهدایة:۱/ ۵۱، باب التیمم).

جدید فقهی مسائل کي راځي:

د ریل ګاډی بس وغیره د دېوالونه عموماً د اوسپنی یا لرګی یا پلاسټک وي پر هغو تیمم کول درست نه دئ، البته د سفر په وخت کي کله کله پر هغه ګرد او غبار پرېوځي او د امام ابو حنیفه رحمه الله په اند پر ګرد او غبار هم تیمم کېدای سي. (جدید فقهی مسائل:۱/ ۹۸). والله ﷻ اعلم.

د حدیث د ویلو له پاره د تیمم کولو حکم

سوال: که یو طالب د اوبو د موجودیت په صورت کي د حدیث ویلو له پاره تیمم وکړي نو ایا دغه درسته ده او که نه؟ ایا د اوداسه پر ځای دربږي؟

الجواب: په پورتني صورت کي د علامه ابن نجیم مصري رحمه الله له عبارت څخه جواز معلومیږي خو علامه شامي ورباندي نیوکه کوي، البته حضرت علامه انور شاه کشمیري د صاحب د بحر عبارت ته ترجیح ورکوي بنا پر دغه په یاد صورت کي تیمم کول درست دئ خصوصاً چي د حدیث د درس د پاته کېدو وېره وي۔

په البحر الرائق کي راځي:

أن ما ليست الطهارة شرطًا في فعله وحله ، فإنه يجوز التيمم له مع وجود الماء كدخول المسجد للمحدث. (البحر الرائق: ۱/ ۱۵۱).

علامه شامي په ردالمحتار کي اوږد بحث کړی دئ او د صاحب د بحر قول یې رد کړي دئ په لنډه توګه یې وګورئ:

أن التيمم لما لم تشترط له الطهارة غير معتبر أصلاً مع وجود الماء إلا إذا كان مما يخاف فوته لا إلى بدل، فلو تيمم المحدث للنوم أو لدخول المسجد مع قدرته على الماء فهو لغو، بخلاف تيممه لرد السلام مثلاً لأنه يخاف فوته لأنه على الفور ولذا فعله ﷺ، وهذا الذي ينبغي التعويل عليه ... والحاصل أن ما بحثه في البحر من صحة التيمم لهذه الأشياء مع وجود الماء لا بد لها من دليل، وليس في شيء مما ذكره الشارح ما يدل عليها بل فيه ما يدل على خلافها كما علمت. (فتاوى الشامي: ۱/ ۲٤٤، سعيد).

علامه انور شاه صاحب رحمه الله د بحر الرائق قول ته ترجیح ورکړي ده. وګورئ:

والحل: أن التيمم للأشياء التي لا تحتاج إلى الطهارة صحيححال وجدان الماء أيضاً عند صاحب البحر، وإن رد عليه الشامي. والصواب عندي: ما اختاره ابن نجيم صاحب البحر.

(فيض الباري: ١/ ٤٠٣، كتاب التيمم).

په حديث شريف کي راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنه قال: أقبل رسول الله ﷺ من الغائط فلقيه رجلعند بئر جمل فسلم عليه فلم يرد عليه رسول الله ﷺ حتى أقبل على الحائط فوضع يده على الحائط ثم مسح وجهه ويديه ثم رد رسول الله ﷺ على الرجل السلام. (رواه ابو داؤد، رقم: ٣٣١، وابن حبان في صحيحه، رقم: ١٣١٦، وقال شعيب الارنؤوط: اسناده صحيح).

د سلام د جواب ورکولو له پاره پاکي شرط نه ده، خو انحضرت ﷺ تيمم کړي دئ او د سلام جواب يې ورکړی دئ که څه هم محدثين فرمايي چي دا اسلام په پيل کي د سلام د جواب ورکولو له پاره پاکي شرط وه وروسته يې وجوب منسوخ سو خو شاه صاحب رحمه الله وايي چي په مستحب والی يې کوم مشکل نه سته حاصل دا چي له دې حديث څخه معلوميږي چي د کوم شيانو له پاره طهارت شرط نه وي د هغه له پاره د اوبو په موجوديت کي د تيمم کولو ګنجائش سته، البته علامه شامي له دغه حديث څخه دا مسئله اخيستي ده چي د اوبو په موجوديت کي تيمم يوازي د هغه عمل له پاره درست دئ چي قضا کيږي او کوم نائب يې هم نه وي لکه د جنازې لمونځ وغيره او د سلام جواب هم له دې جملي څخه دئ نو د هغه جواب دا دئ چي د حديث درس هم له دې جملي څخه دئ يعنی تيريږي او بدل يې نه سته زيات پر دغه د حضرت جابر رضي الله عنه له حديث څخه معلوميږي چي د سلام جواب ژر نه پاته کيږي څکه دی فرمايي چي ما دري څله رسول الله ﷺ ته سلام وکړ ده مبارک ﷺ جواب را نه کړ په چابکی سره يې حجري شريفي ته تشريف يو وړ اودس يې وکړ او بيا راو واتی او دري څله يې د سلام جواب را باندي ولوراوه. (رواه احمد بن حنبل رحمه الله في مسنده). والله ﷻ اعلم.

بسم الله الرحمن الرحيم

عن المغيرة رضي الله عنه أن النبی ﷺ مسح علی الخفين.

وعن المغيرة بن شعبة رضي الله عنه قال: توضا النبی ﷺ ومسح علی الجوربين والنعلين.

څلورم .... باب

پر موزو او جرابو د مسح کولو بيان

پر جوربين منعلين د مسح حکم

سوال: که د موزو لاندې برخه د څمرې وي پر لوړ طرف يې د جامې موزي وگنډل سي او منعلين ورڅخه جوړي کړي، نو ايا مسح وربانډې روا ده او که نه؟

الجواب: په احسن الفتاوی کې راځي:

د منعل جرابی د څمرې څخه خالي جامه که داسي کلکه وي چي د مسح د روا والی شرطونه پکښې موجود وي نو بالاتفاق پر هغه مسح روا ده او که عامه جامه وي بالاتفاق روا نه ده او که داون جامه وي او پنډه وي مگر د مسح د روا والی شرائط پکښې موجود نه وي نو د مسح په روا والي کي يې د متاخرينو اختلاف دئ د نه جواز قول يې د اکثريت څخه علاوه احوط هم دئ. (احسن الفتاوی:۲/ ٦٥).

په فتاوی محموديه کي راځي:

داون او يا يوې جامې جرابي که منعل کړل سي نو پر هغه مسح روا ده. (ردالمحتار:۱/ ۲۷۰).

مگر په شرح منيه کي پر سوتي جرابو د منعل کېدو سره سره منع کړي ده ځکه نو له اختلاف څخه ځان ساتل ښه دي. (فتاوی محموديه:۹/ ٤٧)

د الطحطاوي په حاشيه کي ليکي:

وفي شرح النقاية: وكل مايستر الكعب أي: ويجوز المسح على مايستره ويمكن به السفر... سواء كانا مجلدين بأن كان الجلد أعلاهما وأسفلهما، أو منعلين بأن كان الجلد أسفلهما فقط، أو ثخينين مستمسكين على الساق في قول أبي يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله و أبي حنيفة رحمه الله أخيراً قبل موته بسبعة أيام وفى النوازل بثلاثة أيام، وعليه الفتوى. (شرح النقاية:١/ ١١٢). والله تعالى اعلم.

پر هغو جرموقينو چي له جامې څخه ، وړي سوی وي د مسح کولو حکم

سوال: جرموق څه شی دي او د جرموق پر لوړه برخه که جامه وي او پنډه نه وي نو پر هغه مسح رواده او که نه؟

الجواب: جرموقين پر موزو د هغو د حفاظت له پاره اغوستل کيږي چي له خاورو او نورو شيانو څخه د موزو حفاظت وکړل سي او پر داسي جرموقينو مسح کول هغه وخت درسته ده چي پر جرموقينو مسح وکړل سي او لوند والى يې موزو ته ورسيږي .

په فتاوى شامي کي راځي:

(قوله أو جرموقيه) بضم الجيم: جلد يلبس فوق الخف لحفظه من الطين وغيره على المشهور قهستاني، ويقال له: الموق وليس غيره كما أفاده في البحر. قوله (ولو فرق خف) أفاد جواز المسح عليهما منفردين أيضاً وهذا لو كانا من جلد فلو من كرباس لا يجوز ولو فوق الخف إلا أن يصل بلل المسح إلى الخف ثم الشرط أن يكونا بحيث لو انفردا يصح مسحهما حتى لو كان بهما خرق مانع لا يجوز المسح عليهما سراج. (ردالمحتار:١/ ٢٦٨).

په فتاوى عالمګيري کي راځي:

و إذا لبس الجرموقين فإن لبسهما وحدهما فإن كانا من كرباس أو ما يشبهه لايجوز المسح عليهما، وإن كانا من أديم أو ما يشبهه يجوز وإن لبسهما فوق الخفين فإن كانا من

كرباس أو مايشبه لايجوز المسح عليهما إلا أن يكونا رقيقين يصل البلل إلى تحتهما وإن كانا من أديم أو ما يشبهه أجمعوا أنه إذا لبسهما بعد ما أحدث قبل أن يمسح على الخفين أو بعد ما أحدث ومسح عليهما لايجوز المسح عليهما. (الفتاوى الهندية:١/ ٣٢، وكذا فى الفقه الاسلامی وادلته:١/ ٣٣٠).

په شرح النقايه كي راځي:

ويجوز المسح على الجرموقين أي الجرموقين يلبسان فوق الخفين في البلاد الباردة فارسي معرب، لما روى أبو داؤد، وابن ماجه، وابن خزيمة، والحاكم وصححه: أن عبد الرحمن بن عوف سأل بلالاً عن وضوء رسول الله ﷺ فقال: كان يخرج يقضي حاجته فآتيه بالماء فيتوضأ ويمسح على عمامته وجرموقيه. (شرح النقاية:١/ ١١٢، ط: بيروت). والله ﷻ اعلم.

د موزو په مسح كي د داړو لاسونو د استعمال حكم

سوال: د موزو په مسح كي يوازي راسته لاس استعماليږي او كه دواړه لاسونه استعماليږي؟

الجواب: د موزو په مسح كي دواړه لاسونه استعماليږي د راسته پښي په مسح كي راسته لاس او د چپه پښي په مسح كي چپه لاس.

په ردالمحتار كي راځي:

وكيفيته كما ذكره قاضيخان في شرح الجامع الصغير: أن يضع أصابع يده اليمنى على مقدم خفه الأيمن وأصابع يده اليسرى على مقدم خفه الأيسر من قبل الأصابع فإذا تمكنت الأصابع يمدها حتى ينتهي إلى أصل الساق فوق الكعبين... وإن وضع الكفين مع الأصابع كان أحسن هكذا روي عن محمد. (ردالمحتار:١/ ٢٦٧، سعيد).

په فتاوى هنديه كي راځي:

وكيفه المسح أن يضع أصابع يده اليمنى على مقدم خفه الأيمن ويضع أصابع يده اليسرى على مقدم خفه الأيسر ويمدهما إلى الساق فوق الكعبين ويفرج بين أصابعه. (الفتاوى الهندية: ١/ ٣٣).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

د موزو په مسح كي فرض د لاس د درې كوچنى ګوتو اندازه ده او سنت دا دي چي د ټول لاس په ګوتو مسح دارنګه وسي چي د راسته لاس ګوتى پر راسته پښه او د چپه لاس ګوتى پر چپه پښه كښيږدي بيا يې د پنډۍ و طرفته كش كړي. (فتاوى دار العلوم ديوبند از مفتي شفيع صاحب: ٢/ ٢٦١).

له يادو عبارتونو څخه معلوميږي چي د موزو په مسح كي به دواړه لاسونه استعمالوي. والله ﷻ اعلم.

د مسح على الجوربين تحقيق

سوال: پر جوربين غير ثخينين يعنى چي نرمى وي مسح كول روا دي او كه نه؟

الجواب: هغه باريكى موزي چي د جامې يا اون څخه جوړي سوى وي د څلورو امامانو په اند ورباندي مسح روا نه ده، او د امام ابو حنيفه رحمه الله په اند د مسح على الجوربين له پاره شرائط په لاندي ډول دي:

ټينګى به وي او به به نه باسي، دوه ميله تلل به پكښي ممكن وي او د ترلو پرته به له پنډۍ څخه نه لويږي.

وګورئ په تذكرة الرشيد كي راځي:

سوال: د حضرت ګنګوهى څخه سوال وسو چي د كشميري يا كومي بلي او بدل سوي پنډي جامي څخه چي موزه جوړه سي نو پر هغه به مسح روا وي او كه نه؟

جواب: داسي پنډه جامه چي اوبه جذب نه کړي او په تګ کي ونه لوېږي د هغې موزه درسته ده او مسح ورباندي روا ده. (تذكرة الرشيد: ١/ ١٨٢).

مفتي نظام الدين مفتى دار العلوم ديوبند ليكي:

هغه موزي چي د څرمي نه وي كه د نيلون وي يا كومه بله جامه وي چي په هغو كي د موزو ځانګړي او صاف او احوال پيدا كيږي مسح ورباندي روا ده هغه خصوصي اوصاف او احوال دا دي چي پښې او بجلكي به يې پټي كړې وي او دغه پټه حصه به له دباندي شخه نه معلوميږي د مسح لوند والى به دننه نه رسيږي او كه بيله څپليو تګ پكښي وسي نو يو ميل او يا دوه ميله به داسي پكښي تلاى سي چي پرې نه سي او نه د پښي شخه وخيږي نو هغه موزه چي د څرمي نه وي كه د نيلون وي يا كومي بلي جامي وي چي دغه اوصاف ولري يعنى دومره پنډه وي چي د مسح لوند والى بدن ته ونه رسيږي او دومره ټينګه وي چي بيله څپليو او بيله تړلو يو ميل او يا دوه ميله پكښي ولاړ سي ونه شكيږي او نه د پښي شخه ووزي نو د موزو په شان ورباندي مسح روا ده. (نظام الفتاوى: ١/ ٤٢).

البته پر باريكو موزو مسح درسته نه ده.

د مالكيه ؤ په اند پر جوربينو باندي د مسح له پاره لاندي شرائط دي:

د جوربينو پر لوړه برخه به څرما ګنډلي وي او هغه به پاكه وي بجلكي به يې پټي كړي وي په اساني به تلل پكښي ممكن وي.

د شوافعو په اند به جرابى پنډي وي ديوه قول مطابق به منعل وي، دوهم قول دا دئ چي منعل كېدل يې ضروري نه دئ.

امام نووي رحمه الله په شرح مهذب كي ليكي دي:

أما ما لا يمكن متابعة المشي عليه لرقته فلا يجوز المسح عليه بلا خلاف.

د حنابله ؤ په اند هم پنډ والى او په اساني تلل پكښي ذكر سوى دي او پر پنډيو به دريږي د تړلو ضرورت په يې نه وي.

مولانا عبد الرحمن مباركپوري صاحب غير مقلد هم د ثخينينو شرط لكولى دئ.

وګورئ په تحفة الاحوذي کي راځي:

والراجح عندي أن الجوربين إذا كانا صفيقتين ثخينين فهما في معنى الخفين يجوز المسح عليهما، وأما إذا كانا رقيقين بحيث لا يستمسكان على القدمين بلا شد ولا يمكن المشي فيهما فهما ليسا في معنى الخفين. (تحفة الاحوذی:۱/ ۱۱۲/ ۹۲، باب ماجاي في المسح على الجوربين والنعلين).

صاحب د تحفة الاحوذي ليکي چي د علامه ابن تيميه له کلام څخه معلوميږي چي په کومو جراپو کي چي تلل ممکن وي هغه موزو په حکم کي دي مسح وربانذي جائز ده.

په فتاوی محموديه کي راځي:

هغه موزه چي د چمړي نه وي خو داسي پنډه وي چي اوبه نه باسي او يو ميل تګ هم په اسانی سره پکښي کيدای سي نو پر داسي موزه هم د مقيم له پاره يو شواروز او د مسافر له پاره درې شو اروزه د مسح کولو په شريعت کي اجازه سته. (فتاوی محموديه:۵/ ۱۹۵، جامعه فاروقيه).

له دې څخه مخکي حضرت د منعلينو جرابو په مسح کولو کي هم تامل کړی دئ دغه فتوی په نهم جلد کي ده مګر د جواز فتوی د سنه (۹۴) ده او پر جوربينو منعلينو د مسح د نه کولو د احتياط فتوی د سنه (۵۹) ده.

خلاصه دا چي پر پنډو موزو مسح روا ده او پر باريکو موزو درسته نه ده. والله ﷻ اعلم.

د مسح على الجوربين د روايت تحقيق

ځيني حضرات د مسح على الجوربين روايت ضعيف بنيي حال دا چي دا خبره درسته نه ده هغه روايت او پر هغه کلام په لاندي توګه دئ.

په ترمذي شريف کي راځي:

حدثنا هناد و محمود بن غيلان قالا نا وكيع عن سفيان عن أبي قيس عن هزيل بن شرحبيل عن المغيرة بن شعبة قال : توضأ النبي ﷺ ومسح على الجوربين والنعلين، قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح. (ترمذی شریف:۱/ ۲۹).

وأخرجه ابن حبان فی "صحيحه" (۱۳۳۸) وصححه شعيب الأرنؤوط فی تعليقه.

وابن خزيمة فی "صحيحه" (۱۹۸) وصححه الأعظمي في تعليقه.

وقد أعله الإمام أبو داؤد وغيره عن عدد من الائمة بما لايقدح فيه. ودافع عنه صاحب "الجوهر النقي"، وسبقه ابن دقيق العيد، وكلامه فی "نصب الراية" (۱/ ۱۸۵) كما قال الشيخ محمد عوامة.

قال الدكتور بشار عواد معروف في تعليقاته على ابن ماجه:

إسناده صحيح، رجاله رجال الصحيح، وقال أبو داؤد: كان عبد الرحمن بن مهدی لايحدث بهذا الحديث لأن المعروف عن المغيرة أن النبی ﷺ مسح على الخفين، وقال أيضاً وروى هذا أيضاً عن أبی موسى الأشعری عن النبی ﷺ (وهو الحديث الآتی عن ابن ماجه) أنه مسح على الجوربين وليس بالمتصل ولابالقوي. (سنن ابن ماجه بتحقيق الدكتور بشار عواد معروف:۱/ ۴۴۸/ ۵۵۹).

امام ترمذي پر دغه حديث د حسن صحيح حكم كړی دئ دا حكم د سند په اعتبار سره دئ ځكه ټول راويان يې ثقه دي، البته احمد بن حنبل، ابن معين، ابن المدينی، مسلم، سفيان ثوري، عبد الرحمن بن مهدی ټولو د مسح على الخفين يادونه كړي ده يوازي ابو قيس د جوربين او نعلين ذكر كوي نو ايا دغه زياتونه شاذ ده؟

حال دا چې ذكر سوو امامانو رد كړي ده، د دغه تحقيق وګورئ:

د شاذ تعریف دا دئ چي ثقه د نورو راویانو مخالفت کوي.

په تدریب الراوي کي راځي:

"ما روي الثقة مخالفاً لرواية الناس لا أن يروي ما لايروي غيره".

یعنی د ثقه کسانو د روایت مخالف روایت وکړي نه دا چي ثقه یوه واقعه نقل کوي چي نوریې نه نقل کوي.

د شاذ مثال په ترمذي کي په دې ډول دئ:

"إذا صلى أحدكم ركعتي الفجر فليضطجع عن يمينه".

امام بیهقي رحمه الله فرمایي:

خالف عبد الواحد العدد الكثير في هذا فإن الناس إنما رووه من فعل النبي ﷺ (لا من قوله، وانفرد عبد الواحد من بين ثقات أصحاب الأعمش بهذا اللفظ. (یا لکه څنګه چي د تسبیحات فاطمي په شمېرلو کي د بیده لفظ راغلی دئ، خو ځینو د بیمینه لفظ ویلي دئ هغه شاذ دئ. (تدریب الراوی: ۱/ ۲۳۲).

یعنی په دغه حدیث کي عبد الواحد د نورو راویانو مخالفت کړي دئ چي نور کسان د نبي کریم ﷺ فعل نقل کوي او عبد الواحد قول نقل کوي، لهذا دا شاذ دئ او په دغه حدیث کي د خفین ذکر نه سته چي له هغه څخه معلومیږي چي هغه جلا واقعه ده او دغه جلا واقعه ده. ابو قیس د حضرت مغیره څخه مسح على الجوربين والنعلين نقل کړي ده او نورو راویانو مسح على الخفين نقل کړي ده، لهذا دا ویلای سو چي دغه د ابو قیس تفرد دئ مخالفت نه دئ او د ثقه راوی تفرد صحیح او مقبول دئ.

وګورئ په تدریب الراوی کي راځي:

(وإن لـم يـخالف الراوي) بتفرده غيرَه وإنما روى أمراً لـم يروه غيره فينظر في هـذا الـراوي الـمنفرد فإن كـان عـدلاً حافظاً موثوقـاً بـضبطه كـان تفـرده صـحيحاً، (وإن لـم يوثـق بـضبطه) ولكن (لـم يبعد عن درجة الضابط كان) مانفرد به حسناً. (تدريب الراوى:۱/ ۲۳۵).

د ثقه دزیـاتونی دزیـات تفـصیل لـه پـاره وگـورئ: (قفـوالاثر بتعليق الـشيخ عبـد الفتـاح ابـو غـدة، ص:٦٠، وشرح شرح نختبـه الفكـر مـع التعليقـات، ص:٣١٥- ١٢٠، والتحريـر لابـن الهـام:٢/ ٣٧٨، وقواعد فی علوم الحديث، ص:١٢٣).

او ابو قيس ثقه راوي دئ د مسلم څخه علاوه د صحاحو د کتابو راوي دئ:

په تهذيب الكمال كي رائحي:

قال العجلي: ثقة ثبت... روى له الجماعة سوى مسلم. (تهذيب الكمال:١٧/ ٢٢).

وفی تـحرير التقريب:

صـدوق، حـسن الـحديث، فقـد اطلـق توثيقـه يـحيى بـن معـين والعجلـى وابـن نمـير، زاد العجلی: ثبت. (تحرير التقريب:٢/ ٣١١).

وفيه هزيل بن شرحبيل، قال الحافظ: ثقة مخضرم. (التقريب،ص:٣٦٣).

قال الشيخ أحمد محمد شاكر في تعليقاته على سنن الترمذی:

أبو قيس اسمه عبد الرحمن بن ثروان الأودی وهو ثقة ثبت.

وهزيل بضم الـهماء وفتح الزاى، وهو ثقة من كبار التابعين يقال: إنـها أدرک الـجاهلية.

والـحديث رواه أبو داؤد (١/ ٦١- ٦٢) والنسائی من رواية ابن الأحمر، وهو مذكور بحاشية النسخة الـمطبوعة (١/ ١٠٢) كلهم من طريق وكيع عن الثورى، ورواه البيهقی(١/ ٢٨٣- ٢٨٤)

بإسنادين من طريق أبي عاصم عن الثوري، ونسبه الزيلعي في نصب الراية (١/ ٩٦) إلى صحيح ابن حبان.

هكذا صحيح الترمذي هذا الحديث وقد صححه غيره أيضاً وهو الحق، وقد أعله بعضهم بما لايدفع في صحته فقال أبو داؤد: كان عبد الرحمن بن مهدى لايحدث بهذا الحديث، لأ المعروف عن المغيرة أن النبي ﷺ مسح على الخفين، وقال النسائي ما نعلم أحداً تابع أبا قيس على هذه الرواية، والصحيح عن المغيرة أن النبي ﷺ مسح على الخفين ونقل البيهقي عن علي بن المديني قال حديث المغيرة في المسح رواه عن المغيرة أهل المدينة وأهل الكوفة وأهل البصرة ورواه هزيل بن شر حبيل عن المغيرة إلا أنه قال: و مسح على الجوربين وخالف الناس.

ونقل البيهقي تضعيفه أيضاً عن عبد الرحمن بن مهدى و أحمد وابن معين ومسلم بن الحجاج، و غلا النووي غلواً شديداً، فقال في المجموع (١/ ٥٠٠) بعد نقل ذلک: وهؤلاء هم أعلام أئمة الحديث، وإن كان الترمذي قال: حديث حسن، فهؤلاء مقدمون عليه، بل كل واحد من هؤلاء لوانفرد قدم على الترمذي باتفاق أهل المعرفة.

وليس الأمر كما قال هؤلاء الأئمة، والصواب صنيع الترمذي في تصحيح هذا الحديث، وهو حديث آخر غير حديث المسح على الخفين. وقد روى الناس عن المغيرة أحاديث المسح في الوضوء، فمنهم من روى المسح على الخفين، ومنهم من روى المسح على العمامة، ومنهم من روى المسح على الجوربين، وليس شيء منها بمخالف للآخر، إذهي أحاديث متعددة، وروايات عن حوادث مختلفة، والمغيرة صحب النبي ﷺ نحو خمس

سنين، فمن المعقول أن يشهد من النبي وقائع متعاددة في وضوءه ويحكيها، فيسمع بعض الرواة منه شيئاً، ويسمع غيره شيئاً آخر، وهذا واضح بديهي. (سنن الترمذی بتحقیق أحمد محمد شاکر:۱/ ۱٦۷ - ۱٦۸).

خلاصه دا چې حديث د مسح على الجوربين صحيح دئ او د دې څخه استدلال درست دئ.
زيات له دې څخه د صحابهؤ د آثارو څخه هم د دې حديث تائيد كيږي . وګورئ:

قال أبو داود ومسح على الجوربين على بن أبى طالب وابن مسعود والبراء بن عازب وأنس بن مالك وأبو أمامة وسهل بن سعد وعمرو بن حريث وروى ذلك عن عمر بن الخطاب وابن عباس. (أبو داؤد:۱/ ۸۰).

وذكر الشيخ جمال الدين القاسمى فى كتابه المسح على الجوربين،ص ۵۹۲، بعد نقل عبارة أبي داؤد وزاد ابن سيد الناس في شرح الترمذي: عبد الله بن عمر وسعد بن أبى وقاص. وزاد في شرح الإقناع: عماراً وبلالاً وابن أبى أوفى رضى الله عنهم فالجملة أربعة عشر صحابياً. وكذا المغيرة و أبو موسى لروايتهما المتقدمتين وكان المجموع ستة عشر صحابياً. تأمل.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (مصنف ابن ابی شيبة:۲/ ۲۷٤ - ۲۷۸، باب فی المسح علی الجوربين المجلس العلمی، ومصنف عبد الرزاق:۱/ ۱۹۹ - ۲۰۱، المجلس العلمی، وسنن ابی داؤد:۱/ ۸۰، وکتاب المسح علی الجوربين للشيخ جمال الدين القاسمی،ص:۵۹۲). والله ﷻ اعلم.

په مسح على الجوربين كي د ثخين د قيد حكم

سوال: په اوسنی وخت كي خلک پر نرمو جرابو مسح كوي او موږ ته وايي چي كله پر جوربينو مسح روا ده نو تاسو د ثخين او پنډ والي قيد له كومه ځايه ورسره ايږدي ايا د دوی قول درست دئ؟

الجواب:

۱_ په دې هكله بايد وپوهيږو چي په مسح كي اصل موزي دي او يا هغه جرابي چي د موزو په حكم كي وي او هغه ثخينين دي.

۲_ له احاديثو څخه دغه قيد معلوميږي وګورئ:

بعث رسول الله ﷺ بعثاً فاصابهم البرد فامرهم ان يمسح على العصائب والتساخين.

(صحيح: رواه احمد، رقم:۵۷۷، و ابو داؤد، رقم:۱٤۱، والحاكم، رقم:۱٦۹، وصححه).

(د عصائب معنی ده لنګوټه او تاساخين ګرمي جرابي يا موزي دي پر لنګوټه مسح يا منسوخ ده او يا د مسح تكميل مراد دئ).

۳_ عن سعيد بن المسيب قال وروى شعبة عن قتادة عن سعيد بن المسيب والحسن انهما قالا يمسح على الجوربين اذا كان صفيقين. (مصنف ابن ابی شيبه:۱/ ۱۸۸).

۴_ په مخكي زمانو كي خلكو د يخنی څخه د ځان ساتلو له پاره ګرمی او پنډي موزي اغوستي او پر هغوی يې مسح هم كول.

د حضرت علامه شمس الحق افغاني تحقيق او وضاحت.

د ثخينين په هكله د فقهی په كتابو كي په ردالمحتار، ص:۱۸۸، د ثخينين تر لفظ لاندي عبارت وګورئ:

بحيث يمشی فرسخاً ويثبت على الساق بنفسه ولايری ماتحته ولاينشف (الدر) وفی الدر وفی بعض الكتب ينشف وفسر فی الخانية الأول بأن لايشف الجورب الماء إلى نفسه

کالأدیم والصرم وفسر الثانی بأن لایجاوز الماء إلی القدم وقال تحت "بنفسه" أی من غیر شد.

اه دې عبارت څخه معلومیږي چي د جرابو د مسح له پاره د ثخانت شرط ضروري دئ چي په درو شیانو منځ ته راځي:

۱_ شرعي درې میله او یا له هغه څخه زیات به ېیله څپلیو تګ پکښي کولای سي.

۲_ د تړلو پرته به له پنډۍ سره مښلي.

۳_ که اوبه پر واچول سي نو د دننه به نه ځي.

د دغو درو واړو امورو مجموعه او په خاصه توګه دریم شی چي اوسینو نیلونی جرابو کي نه سته لهذا مسح درسته نه ده او په دې کي احتیاط ځکه ضروري دئ چي په قرآن پاک کي "غسل الرجلین" ذکر سوی دئ چي قطعي دئ او د مسح علی الخفین احادیث متواتر یا مشهور دي او هغه د تخصیص له پاره کافي دي یوازي په مسح علی الجوربین کي زما په اند داسي صحیح السند، صریح الدلالة احادیث د شهرت په درجه کي موجود نه دئ او د قیاس علی الخفین له پاره د هغو سره قوي مشابهت او مشاکلت ضروري دئ. (فتاوی فریدیه:۲/ ۱۰٤).

د "ثخینین" پر قید اشکال او د هغه جواب

اشکال: نن سبا ځنی کسان پر ډېرو باریکو جرابو مسح کوي او موږ ته وایي چي پر جرابو مسح روا ده نو تاسو د ثخینین او پنډ والی قید له کومه ځایه ورسره یو ځای کوي ایا د دوی قول درست دئ؟

الجواب: اصل په مسح کي موزي دي یا هغه جرابي چي د موزو په حکم کي دي او هغه ثخینین دي.

وګورئ په مستدرک حاکم کي راځي:

أخبرنا أحمد بن جعفر القطیعي ثنا عبد الله بن أحمد بن حنبل حدثني أبي ثنا یحیی بن سعید عن ثور عن راشد بن سعد عن ثوبان رضي الله عنه قال: بعث رسول الله ﷺ سریة فأصابهم

البرد فلما قدموا على رسول الله ﷺ أمرهم أن يمسحوا على العصائب و التساخين هذا حديث صحيح على شرط مسلم و لم يخرجاه بهذا اللفظ إنما اتفقا على المسح على العمامة بغير هذا اللفظ و له شاهد. (أخرجه الحاكم برقم ۶۰۲).

د عصائب معنی ده لنکوټه او د تساخين يوه معنی د پښو د ګرمېدو موزي يا جرابي دي:

والتساخين كل مايسخن به القدم من خف او جوزب ونحوهما. (تحفة الاحوذی:۱/ ۱۱۲/ ۹۲).

له دې څخه معلومیږي چي پر دغو جرابو د مسح کولو ګنجائش سته چي د يخ په موسم کي د پښو د ګرم والی له پاره استعماليږي يعنی ګرمي او پنډي وي.

په ابو داؤد شريف کي راځي:

حدثنا أحمد بن محمد بن حنبل حدثنا يحيى بن سعيد عن ثور عن راشد بن سعد عن ثوبان قال بعث رسول الله ﷺ سريةً فأصابهم البرد فلما قدموا على رسول الله ﷺ أمرهم أن يمسحوا على العصائب والتساخين. (أبو داؤد باب المسح على العمامة).

مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

حدثنا هشيم، قال : أخبرنا يونس ، عن الحسن وشعبة ، عن قتادة ، عن سعيد بن المسيب، والحسن أنهما قالا : يمسح على الجوربين إذا كانا صفيقين. (مصنف ابن ابی شية رقم :۱۹۷۶).

قال محمد بن ابراهيم النيسابوری: وحدثونا عن بندار ثنا عبد الرحمن ثنا هشام بن مسعود عن ابی ابی حازم قال رأيت سهلا يمسح على الجوربين وقال بهذا القول عطاء بن ابی رباح والحسن وسعيد بن المسب كذلک قالا اذا كانا صفيقين وبه قال النخعي وسعيد بن جبير والا

عمش وسعید بن المسیب کذلک قالا اذا کانا صفیقین وبه قال النخعی وسعید بن جبیر والا
عمش وسفیان الثوری والحسن بن صالح وابن المبارک وزفر واحمد واسحاق قال احمد
قد فعله سبعة أو ثمانية من أصحاب النبی ﷺ وقال اسحاق مضت السنة من أصحاب النبی
ﷺ ومن بعدهم من التابعين فی المسح علی الجوربین لا اختلاف بینهم فی ذلک وقال ابو
ثور یمسح علیهما اذا کان یمشی فیهما وکذلک قال یعقوب ومحمد اذا کا نا ثخینین
لا یشفان. (کتاب الاوسط: ۱/ ۴۶۳).

په لومړی زنامه کي خلکو دیخ څخه دځان ساتلو له پاره ګرمي او پنډي موزي اغوستی او پر هغو يې مسح هم کول. والله ﷻ اعلم.

د ریف کمپنۍ پر موزو د مسح کولو حکم

سوال: د ریف کمپنۍ پر "فلیپر" (fleeper) جرابو مسح کول روا ده او که نه؟

الجواب: د ریف کمپنۍ پر ډائیونګ سوکس (Divinq socks) همدارنګه هغو ته سیل اسکین سوکس (seal skin socks) هم ویل کیږي په هغو کي د جوربین ثخینین ټول شرائط په مکمله توګه پیدا کیږي یعنی بجلکي پټوي بیله تړلو پر پښو بندي وي او هغه تارونه ربړ وغیره چي يې د تړلو له پاره وي هغه د موزي جزء دي دباندي شی نه دي او یو فرسخ یعنی درې میله بیله څپلیو تلل پکښې ممکن دي بلکي ځینی مفتیانو د تللو تجربه پکښې کړي ده بیخي صحیح او سالمي وي او په هغو کي اوبه نه ځي ځینو يې دارنګه تجربه هم کړه ده چي په لاس يې اغوستي ده لاس يې په اوبو کي اچولی دئ نو لوند والی يې هیڅ محسوس کړی نه دئ بلکي اوبه پکښې اچول سوی دي نو د ګلاس په شان په هغه کي محفوظ وي، همدارنګه د سربیره برخي وینځل يې دلاندي برخي له پاره بالکل کافي نه دي بلکي لاندي برخه به يې جلا مینځی، همدارنګه لاندي یو مضبوط پلاستیک پکښې سته چي له دباندي څخه نه معلومیږي له دې امله پر دغو موزو مسح کول زموږ په اند جائز او درست ده.

مفتي نظام الدین د دار العلوم دیوبند مفتي لیکي:

هغه موزي چي د چمړي نه وي که د نیلون وي یا کومه بله جامه وي چي په هغو کي د موزو ځانګړي اوصاف او اصول پیدا کیږي مسح وربانديي روا ده او هغه خصوصي احوال او اوصاف دا دي چي پښي او بجلکي به یې پټي کړي وي او دغه پټه برخه به له دباندي څخه نه معلومیږي د مسح لوند والی به دننه نه رسیږي او که بیله څپلیو وترل سي تګ پکښې وسي نو یو میل او یا دوه میله به داسي تګ پکښې کولای سي چي نه به پرې کیږي او نه به له پښي څخه خیږي نو هغه موزه چي د چمړي نه وي که د نیلون وي او یا کومي بلي جامې وي چي دغه اوصاف ولري یعنی دومره پنډه وي چي د مسح لوند والی بدن ته نه رسیږي او دومره پنډه وي چي بیله څپلیو او بیله ترلو یو میل او یا دوه میله پکښې ولاړ سي ونه شکیږي او نه د پښي څخه ووزي نو پر دغه به د موزو په شان مسح روا وي. (نظام الفتاوی:۱/ ۴۲).

حضرت مفتي فرید صاحب وایي:

که د نیلون دارنګه جرابي موجودي وي چي په هغو کي دا ټول شرائط موجود وي نو بیا به د مفتی به قول مطابق پر هغو مسح روا وي. (فتاوی فریدیه:۲/ ۱۰۴).

حضرت علامه شمس الحق افغاني فرمایي:

د ثخینیو په هکله د فقهي په کتابو کي په ردالمحتار ۱۸۸ کي لاندي عبارت وګورئ:

بحيث يمشي فرسخاً ويثبت على الساق بنفسه ولا يرى ما تحته ولا يشف (الدر) وفي الدرو في بعض الكتب ينشف وفسر في الخانية الأول بأن لايشف الجورب الماء إلى نفسه كالأديم والصرم وفسر الثاني بأن لايجاوز الماء إلى القدم وقال تحت "بنفسه" أي من غير شد.

له دغه عبارت څخه معلومه سوه چي د مسح د روا والی له پاره ثخانت ضروري دئ چي په درو امورو منځ ته راځي:

۱ _ د شرعي درو میلو او یا له هغه څخه زیات د څپلي پرته انسان پکښي تلای سي.

۲ _ بیله ترلو پر پنډی ټینګي وي.

۳_ که اوبه پر واچول سي نو د دننه نه پکښې ځي. (فتاوی فریدیه: ۲/ ۱۰٤).

البته پر باریکو موزو مسح کول درسته نه ده، لهذا دغه فتوی پر هر قسم جرابو باید ونه لګول سي زموږ دوست مفتي شبیر صاحب مفتي واستاد حدیث دارُ العلوم بري انګلینډ ډېره ښه خبره کړي ده فرمایي:

که پر دومره مضبوطو او پنډو جرابو مسح روا نه وي نو دا سوال پیدا کیږي چې فقهاؤ او محدثینو چې پر کومو جرابو د مسح روا والی لیکلي دئ ایا په دنیا کې یې په یوه زمانه کې وجود هم سته یا یې یوه هوایي مسئله بیان کړي ده.

عاجز بنده وایي چې د نوو مصنوعاتو او جامو مضبوطوالی د پخوا زماني په مقابل کې ډېر لوړ دئ نو چې کله په مخکنی زمانه کې پر مضبوطو جرابو د مسح کولو اجازه سته نو په دغه زمانه کې باید په طریق اولی اجازه وي موږ ته معلومه ده چې (۵۰) کاله مخکې به پنډې جامې په یوه کال او یا څه زیاته مده کې شلیدلي او په دغه زمانه کې جامې په کلونو ځیریږي یو چا یوه جوړه جامې تقریبا (۱۳) کاله استعمال کړي او بیا یې بل چا ته ورکړي. والله ﷻ اعلم.



عن واثلة بن الأسقع قال قال رسول الله ﷺ: "أقل الحيض ثلاثة أيام وأكثره عشرة أيام". (رواه الدار قطنى).

عن أم سلمة رضي الله عنها قالت: كانت المرأة من نساء النبى ﷺ تقعد فى النفاس أربعين يوماً أو أربعين ليلة، إلا أن ترى الطهر قبل ذلک" (رواه ابو داؤد، والترمذى، وابن ماجه، والحاکم وصححه).

پنځم ....باب
د حيض او نفاس بيان

د حيض پر تکليف باندي د اجر او ثواب حکم

سوال: ښځي چي په هره مياشت کي د حيض له امله تکليف برداشتوي ايا پر دغه تکليف هغوی ته اجر او ثواب ورکول کيږي او که نه؟

الجواب: ښځي چي د حيض په حالت کي تکليف وړي پر هغه جرا او ثواب سته.

په حديث شريف کي راځي:

"عن النبى ﷺ قال: مايصيب المسلم من نصب ولاوصب ولاهم ولاحزن ولا أذى حتى الشوكة يشاكها إلا كفر الله بها من خطاياه". (رواه مسلم:۲/ ۳۱۸).

په دوهم روايت کي راځي:

"ما من مسلم يصيبه أذى شوكة فما فوقها إلا كفر الله بها سيئاته وحطت عنه ذنوبه كما تحط الشجرة ورقها". (رواه مسلم:۲/ ۳۱۸).

له دغو احاديثو څخه په ډاګه معلومه سوه چي مسلمان چي هر تکليف برداشتوي پر هغه ورته زيات اجر او ثواب ورکول کيږي هغه که د حيض تکليف وي او که کوم بل تکليف وي علاوه له

دې ځخه د حیض راتلل په خپله کوم مصیبت او یا غم نه دئ بلکي د انسان د نسل ذریعه کېدو له امله دا هم د الله ﷻ یو نعمت دي که څه هم په هغه کي تکلیف وي.

په عمدة القاري کي راځي:

ان الله تعالی قطع حیض بنی اسرائیل عقوبة لهن ولازواجهن لکثرة عنادهم ومضت علی ذلک مدة ثم ان الله تعالی رحمهم واعاد حیض نسائهم لان من حکم الله تعالی انه جعل الحیض سبباً لوجود النسل ألا تری أن المرأة إذا ارتفع حیضها لا تحمل عادة. (عمدة القاری:۳/ ۹۶).

یعنی الله تعالی د څه مدې له پاره د بنی اسرائیلو له ښځو ځخه حیض واخیست (د سزا په توګه) بیا یې دوهم ځل ورته راوګرځاوه ځکه دا د انساني نسل ذریعه ده. والله ﷻ اعلم.

د حیض د جامو حکم

سوال: د حیض جامه باید دفن سي او که دي غورځول سي؟

الجواب: د حیض د جامې دفن کول ښه دي البته که یې وغورځوي هم درسته ده.

په فتاوی هندیه کي راځي:

یدفن اربع الظفر والشعر وخرقة الحیض والدم کذا فی فتاوی عتابیة. (الفتاوی الهندیة:۵/ ۳۵۸).

په مجمع الزوائد کي راځي:

"عن أم سعد امرأة زید بن ثابت قالت: سمعت رسول الله ﷺ یأمر بدفن الدم إذا احتجم. رواه الطبراني في الأوسط وفیه هیاج بن بسطام وهو ضعیف". (مجمع الزوائد:۵/ ۹۴).

له دې روایت ځخه معلومیږي چي نبي کریم ﷺ به د وینې د دفن کولو حکم کاوه.

لهذا د حیض جامي چي په وینو لړلي وي هغه هم باید دفن سي.

علامه ابن قدامه یو روایت نقل کوي:

"عن أبي جريح عن النبي ﷺ قال: كان يعجبه دفن الدم". (المغنى:١/ ٧٢).

لهذا ښه دا ده چې د حيض جامې دفن کړل سي. والله ﷻ اعلم.

د امام محمد رحمه الله پر مسلک د حیض یوه مهمه مسئله

سوال: يوه ښځه مني ته د تللو وروسته پاکه سوه د پاکېدو څخه مخکې ورته څلور ورځې حيض ورغلی ؤ بيا د ذی الحجی تر (١٦) تاريخه اووه ورځې پاکه وه په دغه وخت کي يې طواف سعی او لمنځونه ټول اداء کړل د (١٦) تاريخ څخه يې بيا وينه شروع سوه درې ورځې روانه وه، سوال دا دئ چي د امام محمد رحمه الله د مسلک مطابق د دغې ښځې څو ورځې طهارت او څو ورځې يې حيض شمېرل کيږي؟

الجواب: په ردالمحتار کي راځي:

قول محمد إن الشرط أن يكون الطهر مثل الدمين أو أقل في مدة الحيض، فلو كان أكثر فصل، لكن ينظر إن كان في كل من الجانبين ما يمكن أن يجعل حيضاً فالسابق حيض ولو في أحدهما فهو الحيض والآخر استحاضة وإلا فالكل استحاضة ... ولو رأت ثلاثة دماً وخمسة طهراً ويوماً دما فالثلاثة حيض لغلبة الطهر فصار فاصلاً الخ وقد صحح قول محمد في المبسوط والمحيط وعليه الفتوىٰ. (ردالمحتار:١/ ٢٩٠، سعيد).

په بحر الرائق کي راځي:

وقال محمدالطهر المتخلل إن نقص عن ثلاثة أيام ولو بساعة لا يفصل اعتبارًا بالحيض، فإن كان ثلاثةً فصاعدًا ، فإن كان مثل الدمين أو أقل فكذلك تغليبًا للمحرمات ؛ لأن اعتبار الدم يوجب حرمتها واعتبار الطهر يوجب حلها فغلب الحرام الحلال ، وإن كان أكثر فصل، ثم ينظر إن كان في أحد الجانبين ما يمكن أن يجعل حيضًا فهو حيضوالآخر استحاضة، وإن

لـم يمكن فالكل استحاضة، ولا يمكن كون كل من الـمحتوشين حيضًا ؛ لأن الطهر حينئذ أقل من الدمين إلا إذا زاد على العشرة فيجعل الأول حيضًا لسبقه لا الثاني. (البحر الرائق:١/ ٢٠٦).

په بدائع الصنائع کي راځي:

واختار مـحمدلنفسه في كتاب الـحيض مذهبًا فقال : الطهر الـمتخلل بين الدمين إذا كان أقل من ثلاثة أيام لا يعتبر فاصلًا ، وإن كـان أكثـر مـن الـدمين ، ويكـون بمنزلـة الـدم الـمتوالي ، وإذا كان ثلاثة أيام فصاعدًا فهو طهر كثير فيعتبر لكن ينظر بعد ذلك إن كـان الطهـر مثـل الـدمين، أو أقل من الدمين في العشرة لا يكون فاصلًا ، وإن كان أكثر من الدمين يكون فاصـلًا ، ثـم ينظـر إن أمكن أن يـجعل أحدهـمـا حيضًا جعل ، وإن أمكن أن يـجعل كـل واحـد منهمـا حيضًا يـجعل أسرعهمـا حيضًا . (بدائع الصنائع:١/ ٤٤، سعيد).

په شرح الوقايه کي راځي:

وعند مـحمد يشترط مع هذا كـون الطهـر مسـاويا للـدمين او اقـل ثـم اذا صـار دمـا عنده فـان وجد فى عشرة هو فيها طهر أخر يغلب الـدمين الـمحيطين بـه لكـن يـصير مغلوبـاً ان عـد ذلـک الدم الـحكمى دماً فانه يعد دماً حتى يـجعل الطهـر الآخـر حيـضاً ايـضاً، وقـد ذكـران كثيراً من الـمتقدمين والـمتأخرين افتوا بقول مـحمد. (شرح الوقاية:١/ ١١١).

خلاصه دا ده چي د امام محمد رحمه الله مسلک واضح دئ چي د ده په اند طهر متخلل کـه لـه درو ورځو څخه کم وي نو طهر نه شمارل کيږي او که چيري طهر له درو ورځو يا له هغه څخه زيات ؤ نو وبه ګورو که چيري د حيض په ورځو کي (يعنی پـه لـسو ورځـو کـي) د لومړی وينی او وروسته وينی زمانه د طهر د زماني سره برابره وي يا د دواړو وينو زمانه غالبه وي که چيري داسي وي بيا هم پـه دواړو صورتو کي د طهر زمانه حيض شمېرل کيږي نه د طهر که چيري طهر متخلل غالب وي نو هغه حقيقی طهر شمېرل کيږي.

بيا به وګورو كه چيري له دواړو وينو څخه يوه هم حيض نه سي جوړيداى نو دا به حيض نه وي او كه چيري له دواړو وينو څخه يوه حيض جوړيداى سوه كه اوله وي او كه دوهمه نو هغه به حيض وي او كه دواړي حيض جوړيداى سوي نو يوازي اوله حيض ګڼو او دوهمه به استحاضه وي.

اوس په دغه صورت كي دواړي ويني څلور ورځي اول او دري ورځي اخر د حيض د جوړيدو صلاحيت لري نو به هغه اولي حيض وګرځيږي كه څه هم د دواړو وينو زمانه د طهر د زماني سره برابره وه خو د حيض په ورځو كي يعني په لس ورځي كي طهر غالب دئ نو څلور ورځي به حيض وي اووه ورځي به طهر وي او د آخري درو ورځو ويني به استحاضه وي.

د يادي ښځي له پاره دغه مسلک اسان دئ او پر دغه بايد فتوى وركول سي او علامه سرخسي پر همدغه فتوى وركړي ده. والله ﷻ اعلم.

د حيض په مسئله كي د امام محمد رحمه الله مسلک

سوال: يوې ښځي ته دوې ورځي وينه راغله بيا يې تر لسو ورځو وينه بنده وه بيا يې يولسمه ورځ وينه دوباره وليده نو دغه به پرلپسى وينه شمېرل كيږي په هدايه كي راځي " إذا كان أقل من خمسة عشر يوماً لا يفصل وهو كله كالدم المتوالي لأنه طهر فاسد" كله كله د حج او په رمضان كي ښځو ته دغه صورت پيښيږي چي له امله يې دوى ډېر مشقت او تكليف پورته كوي د دې له پاره څه حل د فقهى په كتابو كي سته او كه نه؟

الجواب: په ذكر سوى صورت كي د امام محمد په اند دوې ورځي استحاضه ده لس ورځي طهر دئ له دې وروسته چي كومه وينه راسي كه هغه درې ورځي جاري وي نو حيض دئ او كه له درې ورځي څخه كمه وي نو استحاضه ده، ځيني فقهاؤ د امام محمد پر قول فتوى وركړي ده وفي الوجيز "الفتوى على قول محمد" د روژې او حج د مشكلاتو له امله د امام محمد پر قول فتوى وركول كېداى سي.

امام حسن بن زياد په روايت كي چي هغه له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه اخيستى دئ په هغه كي ذكر سوى دي چي كله د دوو وينو تر منځ درې ورځي طهر حائل سي نو هغه طهر بلل كيږي د دوى په

اند د وينو د ورځو غلبه او يا مساوات هم ضروري نه دي: كما فى شرح النقاية للملا على قارى رحمه الله: وقد روى الحسن بن زياد عن ابى حنيفة رحمه الله ان الطهر المتخلل بين الدمين اذا كان دون ثلثة ايام لايصير فاصلاً. (شرح نقاية:١/ ٨٣).

او علامه شامي د حيض په رنګونو کي ليکلي دي چي د اسانۍ له پاره پر هر قول فتوى ورکول کېداى سي:

وفى المعراج عن فخر الائمة: لوافتى مفت بشىء من هذه الاقول فى مواضع الضرورة طلباً للتيسير كان حسناً. (فتاوى الشامى:١/ ٢٨٩).

لهذا زما په اند د حسن بن زياد رحمه الله د قول په هکله هم بايد مفتيان فکر وکړئ. والله تعالى اعلم.

حائضه چي مړي ته کښېني د هغه حکم

سوال: ايا حائضه ښځه مړي ته کښېستلاى سي او که نه؟

الجواب: ښه دا ده چي حائضه ښځه دي مړي ته نه کښېني.

وګورئ په الفقه الاسلامي کي راځي:

قال الحنفية: ويخرج من عنده الحائض والنفساء والجنب، لامتناع حضور الملائكة بسببهم. (الفقه الاسلامى وادلته:٢/ ٤٥٤، دار الفكر).

په البحر الرائق کي راځي:

قال ابن نجيم: ويخرج من عنده الحائض والنفساء. (البحرالرائق:٢/ ١٧١).

په ردالمحتار کي راځي:

قال ابن عابدين (ويخرج من عنده الحائض والنفساء والجنب) فى النهر وينبغى اخراج الحائض... وفى نور الايضاح واختلف فى اخراج الحائض. (ردالمحتار:٢/ ١٩٣).

په طحطاوي على مراقى الفلاح کي راځي:

قوله (وجه الإخراج) إخراجهم على سبيل الأولوية إذا كان عن حضورهم غنى فلا ينافي ما ذكره الكاكي من أنه لا يمتنع حضور الجنب والحائض وقت الاحتضار ووجه عدم الإخراج أنه قد لا يمكن الإخراج للشفقة أو للاحتياج إليهن. (حاشية الطحطاوى على مراقي الفلاح،ص:٥٦٣، قديمى كتب خانه).

خلاصه دا ده چي حائضه ښځه دي د مړي سره نه کښيني همدغه ښه ده. الأولىٰ أن لاتجلس عند الميت الحائض والنفساء والجنب. والله ﷻ اعلم.

هغه دوا گاني چي حيض بندوي د هغو د استعمال حکم

سوال: د حيض د بندولو له پاره دوا استعمالول په حج او يا رمضان کي درسته ده او که نه نن سباد حيض د بې ترتيبی له امله ښځي تکليفونه گالي؟

الجواب: حيض يو داسي شی نه دئ چي جاري کېدل يې ضروري دي بلکي عارضي شی دئ د هغه د بندولو له پاره د دوا خوړل منع نه دي بلکي روا دي خصوصاً په حج يا رمضان کي د دوا استعمال فائده کولای سي چي ښځه خپل واجبات په سهولت او اسانی سره اداء کړلای سي ځکه په دغو ورځو کي د حيض د راتلو څخه په عامه توگه تکليف پيښيږي البته د همېشه له پاره د حيض د بندولو دوا استعمالول مناسب نه ده ځکه له امله يې پر صحت اثر غورځي ځکه نو احتياط ښه دئ.

په ردالمحتار کي راځي:

وقال في السراج سئل المشايخ عن المرضعة إذا لم ترى حيضاً فعالجته حتى رأت صفرة في أيام الحيض قال هو حيض تنقضي به العدة. (ردالمحتار:١/ ٣٠٤).

همدارنگه وگورئ: لو انقطع دمها فعالجته بدواء حتى رأت صفرة فى ايام الحيض اجاب بعض المشايخ بانه تنقضى به العدة. (ردالمحتار:٣/ ٥٥).

لکه څنګه چي ښځه د خپل حیض د جاري کولو له پاره علاج کولای سي د مصلحت له امله د عدې د پوره کولو له پاره همدارنګه د حیض د بندولو له پاره هم دوا خوړلای سي د خپلو واجباتو د اداء کولو د مصلحت له امله ځکه نه د حیض راتلل په شریعت کي مطلوب دي او نه يې بنديدل.

په جدید فقهي مسائلو کي راځي:

د حج په ورځو کي د معمول او د خپل ټاکلي وخت مطابق د حج د ټولو افعالو د سر ته رسولو له پاره که چیري ښځي داسي دوا ګاني استعمال کړي چي د څه وخت له پاره د حیض وینه بنده کړي نو څه قباحت نه لري، چي د حج افعال پر ټاکلي وخت اداء کړلای سي. (جدید فقهي مسائل: ۱/ ۲٤۳). والله ﷻ اعلم.

د حیض له خبر تیا سره سره د جماع کولو حکم

سوال: یو څوک د خپلي ښځي سره د حیض په حالت کي جماع وکړي سره د دې چي ورته معلومه وه چي د حیض په حالت کي جماع کول حرامي دي نو د ده حکم څه دئ؟

الجواب: پر داسي کس توبه او استغفار لازم دئ او مستحب دا ده چي څه صدقه ورکړي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

"عن ابن عباس رضي الله عنه عن النبي ﷺ: في الرجل يقع على امرأته وهي حائض قال يتصدق بنصف دينار، وفي رواية اذا كان دما احمر فدينا روان كان دماً اصفر فنصف دينار". (ترمذی شریف: ۱/ ۳۵).

وفی الطحطاوی: قوله ثم هو كبيرة، أي الوطء حال الحيض كبيرة يجب على فاعله التوبة والاستغفار (قوله ويندب تصدقه بدينار او نصفه) قيل بديناران كان اول الحيض وبنصفه ان وطيء فی آخره الی قوله... وقيل ان كان الدم اسود يتصدق بدينار وان كان اصفر فبنصف دينار ويدل له ما روى عنه عليه الصلوة والسلام الخ... وهل على المرأة تصدق قال

فی الضیاء الظاهر لا (قوله الظاهر لا) قد یقال انه یحرم علیها التمکین کما یحرم علیه المباشرة فیندب لها التصدق کما یندب له. (حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار:/ ۱۵۲).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

که د کوم بدبخته څخه دغه کبیره ګناه پېښه سي نو د الله ﷻ په دربار کې د زړه د اخلاصه په عاجزۍ سره توبه او استغفار واجب دئ بل دا چې د خپل حیثیت مطابق صدقه او خیرات وکړي ځکه د قانون ماتوني او کبیره ګناه له کولو څخه د الله ﷻ غضب په جوش کې راځي او هغه د صدقې په سبب منع کیږي. (فتاوی رحیمیه:۱/ ٦٤).

له دغو عبارتونو څخه معلومه سوه چې پر داسي کس توبه او استغفار لازم دئ او مستحب دا ده چې څه صدقه ورکړي لکه چې په حدیث کې راغلی دي چې که وینه سره وي نو یو دینار دي صدقه کړي او که ژړه وي نو نیم دینار دي صدقه کړي ځکه د صدقې په سبب د الله ﷻ غضب لیرې کیږي او نجات ورکونکې ده او که ښځه هم صدقه وکړي نو ښه به وي. والله ﷻ اعلم.

د عادت له ورځو وروسته د خړو اوبو د لیدلو حکم

سوال: که چیرې یوې ښځې ته پنځه ورځې حیض ورغی او د دې عادت هم دغه ؤ له هغه څخه وروسته یې لږ خړې او یا ډېرې خړې وینې ولیدې نو دغه دوې ورځې یې حیض شمېرل کیږي او که نه؟

الجواب: دغه دوې ورځې د پاکي دي لهذا په حیض کې نه شمېرل کیږي ځکه دغه خړ رنګې وینې ته اعتبار نه ورکول کیږي.

په فتاوی تاتار خانیه کې راځي:

ومن جملة ذلک التربیة... وکان الفقیه محمد بن ابراهیم المیدانی یقول: ان التربیة لیست بشیء لان موضع الفرج اذا شتدت فیه الحرارة یخرج منه ماء رقیق وهو التربیة. (فتاوی تاتار خانیه:۱/ ۳۲۹).

په الفقه الاسلامي کي راځي:

وليست الصفرة والكدرة بعد العادة حيضاً. (الفقه الاسلامی:۱/ ٤٥٨).

په سنن دارمي کي راځي:

وعن علی قال اذا طهرت المرأة من المحيض ثم رأت بعد الطهر ما يريبها فانما هی ركضة من الشيطان فی الرحم فاذا رأت مثل الرعاف او قطرة الدم اوغسالة اللحم توضأت وضوءها للصلوة ثم تصلی فان كان دما عبيطاً الذی لاخفاء به فلتدع الصلوة وعن علی فی المرأة تكون حيضها ستة ايام او سبعة ايام ثم ترى كدرة او صفرة او ترى القطرة او القطرتين من الدم ان ذلک باطل ولايضرها شئياً. (سنن دارمی:۱/ ۲۳٥).

نن سبا څنګه چي د ښځو د حيض نظام خراب دئ که چيري د ضرورت او اسانی له پاره دغه فتوی ورکول سي چي د عادت له ورځو وروسته کدرت او تربت حيض نه دئ نو ښه به وي.

لکه څنګه چي علامه شامي ليکي:

وفي المعراج عن فخر الأئمة: لو أفتى مفت بشيء من هذه الأقوال في مواضع الضرورة طلباً للتيسير كان حسناً، وخصه بالضرورة لأن هذه الألوان كلها حيض في أيامه. (فتاوی الشامی:۱/ ۲۸۹، سعيد).

لهذا په ذکر سوی صورت کي د عادت د ورځو وروسته چي خړي اوبه ووينی حيض به نه وي او ښځه دي پنځه ورځي وروسته لمونځ شروع کړي. والله ﷻ اعلم.

د عادت د ورځو څخه علاوه زعفرانی رنګ وينه ليدل

سوال: يوې ښځي يوه ورځ ډېره لږ ژړ رنګ وينه وليده له هغه وروسته يې يوه هفته څه ونه ليده بيا يې څو ورځي وروسته د عادت مطابق حيض شروع سو نو دغه ژړ رنګ به حيض شمېرل کيږي او که نه؟ او حيض به له څو څخه تر څو پوري وي؟

الجواب: ژړ رنګه وينه به حيض نه شمېرل کيږي حيض به د ښځي د عادت مطابق و شمېرل سي.

په الفقه الاسلامي کي راځي:

وليست الصفرة والكدرة بعد العادة حيضاً، لقول ام عطية ﷺ كنا لانعد الصفرة والكدرة بعد الطهر شئيا. رواه ابو داؤد والبخارى ولم يذكر بعد الطهر والحاكم. (الفقه السلامى وادلته: ١/ ٤٥٩).

په فتاوی تاتار خانيه کي راځي:

وكان الشيخ ابو منصور الماتريدى رحمه الله مرة يقول: فى الصفرة اذا رأتها ابتداء فى زمان الحيض أنها حيض، وأما اذا رأتها فى زمان الطهر و اتصل ذلك بزمان الحيض فانها لاتكون حيضاً. ومرة يقول: إذا اعتادت المرأة ان ترى ايام الطهر صفرة وايام الحيض حمرة فحكم صفرتها يكون حكم الطهر حتى لوامتدت هي بها لم يحكم لها بالحيض في شيء في هذه الصفر، وحكمها حكم الطهر على قول أكثر المشايخ رحمهم الله. (الفتاوى التاتار خانية: ١/ ٣٢٨). والله ﷻ اعلم.

د ولادت څخه وروسته تر درو مياشتو پوري د وينې د راتلو سره د نفاس او حيض د ورځو حکم

سوال: د ښځي د ولادت څخه وروسته تقريباً تر درو مياشتو پوري وينه نه بنديږي البته کله کمه سي نو د دي نفاس څو ورځي دئ او حيض يې څو ورځي دئ؟

الجواب: که يې لومړی ولادت وي يعنى مبتداءه وي نو د ولادت څخه وروسته به يې څلوېښت ورځي نفاس وي له دې وروسته به يې پنځلس ورځي طهر شمېرل کيږي او د دې په منځ کي چي وينه وليدل سي هغه استحاضه ده له هغه څخه وروسته حيض شمېرل کيږي د خپل عادت مطابق بيا استحاضه بيا د عادت موافق حيض شمېرل کيږي او که يې لومړی ولادت نه وي بلکي له دې څخه مخکي يې هم اولاد سوی وي يعنى معتاده وي نو د عادت مطابق به يې نفاس وي له هغه وروسته به پنځلس ورځي طهر وي بيا به د عادت مطابق حيض شمېرل کيږي؟

پہ فتاوی شامي کي راځي:

قال ابن عابدين: (قوله والزائد على أكثره او اكثر النفاس) أي في حق المبتدأة، أما المعتادة فما زاد على عادتها ويجاوز العشرة في الحيض والأربعين في النفاس يكون استحاضة كما أشار إليه بقوله أو على العادة. (فتاوى الشامي:۱/ ۲۸۵، سعيد).

پہ درمختار کي راځي:

وأقل الطهر بين الحيضتين أو النفاس والحيض خمسة عشر يوما ولياليها إجماعاً.

(الدرالمختار:۱/ ۲۸۵- ۳۰۰).

پہ فتاوی هنديه کي راځي:

وان زاد الدم على الاربعين فالاربعون في المبتدءة والمعروفة فى المعتادة نفاس هكذا فى المحيط. ولورأت الدم بعد اكثر الحيض والنفاس فى اقل مدة الطهر فمارأت بعد الاكثران كانت مبتدءة وبعد العادة ان كانت معتادة استحاضة. (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۷).

نور وګورئ: (الفتاوى الهندية:۱/ ۴۰، وامداد الاحكام:۱/ ۳۲۶). والله ﷻ اعلم.

د حيض يوه مهمه مسئله

سوال: يوې ښځي ته درې ورځي حيض ورغی بيا څلور ورځي پاکه سوه بيا يې وينی شروع سوی درې ورځي اوس غواړو چي معلومه کړو چي د امام محمد رحمه الله په اند د دې ښځي څو ورځي طهر دئ او څو ورځي يې حيض دئ؟

الجواب: په دغه مسئله کي که چيري دواړه حيضونه يعنی د دواړو وينو مده يو ځای کړل سي نو ټولي شپږ ورځي جوړيږي او د طهر د څلور ورځو د يو ځای کولو سره ټولي لس ورځي کيږي، دارنګه د امام محمد رحمه الله د مسلک مطابق دواړه شرطونه موجود سوه هغه شرطونه دا دي که د طهر زمانه د حيض له زماني څخه کمه وي او د حيض په مده کي وي نو طهر متخلل حيض شمارل کيږي نو په ذکر سوی صورت کي لس ورځي حيض شمېرل کيږي. والله ﷻ اعلم.

د حیض په حالت کې د تفسیر ویلو او مسه کولو حکم

سوال: ښځه د حیض په حالت کې تفسیر ویلای سي او که نه تفسیر ته لاس ور وړلای سي او که نه؟

الجواب: د حیض په حالت کې ښځه تفسیر ویلای سي او لاس ور وړل یې هم درست دي مګر خلاف اولی دي او د تفسیر څخه هغه مراد دئ چې تفسیر یې غالب وي.

وګورئ په الدرالمختار کې راځي:

وقد جوز أصحابنا مس كتب التفسير للمحدث ولم يفصلوا بين كون الأكثر تفسيرا أو قرآناً ولو قيل به اعتباراً للغالب لكان حسناً. (الدر المختار:۱/ ۱۷۷).

قال العلامه ابن عابدين: (قوله لكن فى الاشباه الخ) استدراک على قوله والتفسير كمصحف فان ما فى الاشباه صريح في جواز مس التفسير فهو كسائر الكتب الشرعية، بل ظاهره أنه قول أصحابنا جميعاً وقد صرح بجوازه أيضا في شرح درر البحار، وفي السراج عن الإيضاح أن كتب التفسير لا يجوز مس موضع القرآن منها وله أن يمس غيره وكذا كتب الفقه إذا كان فيها شيء من القرآن بخلاف المصحف فإن الكل فيه تبع للقرآن. (رد المحتار:۱/ ۱۷٦، سعيد).

ولا بأس لحائض وجنب بقراءة أدعية ومسها وحملها وذكر الله تعالى وتسبيح (قوله بقصده) فلو قرأت الفاتحة على وجه الدعاء اوشئياً من الآيات التى فيها معنى الدعاء ولم ترد القراءة لاباس به. (ردالمحتار:۱/ ۲۹۳، سعيد).

البته د تفسیر په کتابونو کې چې چیرې قرآن ایاتونه وي هغو ته لاس روړل مکروه دي.

والله ﷻ اعلم.

د عادت څخه د زیاتی وینی حکم

سوال: د یوې ښځي شپږ ورځي د حیض عادت ؤ مګر په یوه میاشت کي دیارلس ورځي وینه ورغله بیا پاکه سوه نو د حیض ورځي او د پاکي ورځي به یې څو وي؟

الجواب: د عادت موافق به یې شپږ ورځي حیض وي نوري ورځي به یې استحاضه (مریضی) وي.

وګورئ حضرت مولانا اشرف علی تهانوي لیکي:

یو چا ته همېشه درې ورځي یا څلور ورځي حیض ورتلی بیا په یوه میاشت کي زیات ورغلی خو له لسو ورځو څخه زیات سوی نه دئ نو هغه ټول حیض دئ او که چیري له لسو ورځو څخه زیات سو نو څومره ورځي چي یې له مخکي څخه عادت ؤ هغه حیض دئ پاته ټوله مریضي ده. (بهشتی زیور، حصه دوهم،ص:۵۷). والله ﷻ اعلم.

د اسقاط یا رحم د صفایي څخه وروسته د وینی حکم

سوال: که د ښځي کوچنی اسقاط سي یا ښځه په خپله د رحم صفایي وکړي نو له هغه څخه وروسته چي وینه راځي هغه به حیض وي که نفاس به وي او که به استحاضه وي؟

الجواب: که چیري په اسقاط کي یو او یا نیم اندام جوړ سوی وي نو د اسقاط څخه وروسته راتلونکي وینه به نفاس وي او که یې کوم اندام جوړ سوی نه وي یوازي غوښه وي نو دغه وینه به د نفاس نه وي، البته که چیري حیض کېدای سوه نو حیض به وي که نه استحاضه به وي. (بهشتی زیور ملخصاص،دوهم حصه، ص:٦٢).

علامه ابن الهمام رحمه الله لیکي:

والسقط الذي استبان بعض خلقه كأصبع أو ظفر ولدفلو لـم يستبن منه شيءلـم يكـن ولدًا فإن أمكن جعله حيضًا بأن امتد جعل إياه وإلا فاستحاضة. (فتح القدير:١/ ١٨٧). والله ﷻ اعلم.

د مكمل نفاس څخه يوولس ورځي وروسته د وينې راتلو حكم

سوال: يوې ښځي د نفاس د څلوېښتو ورځو د پوره كولو وروسته پاكه سوه له دې څخه يوولس ورځي وروسته يې بيا وينه وليده نو ايا دغه وينه به حيض وي او كه استحاضه؟

الجواب: په ياد صورت كي به دغه وينه مريضی ګڼل كيږي ځكه د طهر اقله مده دوو حيضونو تر منځ يا نفاس او حيض تر منځ پنځلس ورځي ده، د پنځلس ورځي څخه كمه استحاضه ده حيض نه دئ.

په درمختار كي راځي:

وأقل الطهر بين الحيضتين أو النفاس والحيض (خمسة عشر يوماً) ولياليها إجماعاً ولا حد لأكثره. (الدر المختار:١/ ٢٨٥).

په ردالمحتار كي راځي:

(قوله بين الحيضتين الخ) أي الفاصل بين ذلك ولم يذكر أقل الطهر الفاصل بين النفاسين وذلك نصف حول (قوله أو النفاس والحيض) هذا إذا لم يكن في مدة النفاس، لأن الطهر فيها لا يفصل عند الإمام سواء قل أو كثر فلا يكون الدم الثاني حيضاً. (ردالمحتار:١/ ٢٨٥، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د ياس د سن تحقيق

سوال: د ياس او نااميدي سن كله شروع كيږي او له هغه څخه وروسته د راتلونكې وينې حكم څه دئ؟

الجواب: د مفتى به قول مطابق د نااميدي عمر (٥٥) كاله دئ په دغه وخت كي چي كومه وينه راسي هغه حيض ګڼل كيږي او ملا علي قاري رحمه الله په شرح نقايه كي (١/ ١٢٠) كي وايي، چي زموږ په زمانه كي (٥٠) كاله دئ.

په درمختار كي ليكي:

(وقیل يحد بخمسین سنة وعلیه المعول) والفتوىٰ في زماننا مجتبىٰ وغيره (تيسيراً)

وحده في العدة بخمس وخمسين قال في الضياء وعليه الاعتماد. (الدرالمختار:۱/ ۳۰٤).

وفی الشامية: (قوله وحده) أي المصنف في باب العدة، قال في البحر: وهو قول مشايخ بخاری وخوارزم وبخط الشارح في هامش الخزائن. قال قاضیخان وغيره وعليه الفتوىٰ. وفي نكت العلامة قاسم عن المفيد أنه المختار، ومثله في النيض وغيره. (فتاوی الشامی:۱/ ۳۰۵).

وقال أيضاً: إنها إذا كانت عادتها قبل الإياس أصفر فرأته كذلك أو علقاً فرأته كذلك كان حيضاً. (فتاوی الشامی:۱/ ۳۰٤).

له یادو عبارتونو څخه معلومیږي چي له (۵۵) کلونو مخکي چي وینه ښځي ته راځي هغه حیض دئ که وینه په خپله راسي او که د دوا په نتیجه کي وي، البته هغه وینه چي له (۵۵) کلونو څخه وروسته راسي هغه به هغه وخت حیض وي چي کله یې رنګ د (۵۵) کلونو څخه مخکي د راتلونکی وینی په شان وي مثلاً که مخکي وینه سره وي اوس ژړه وي، شنه، خاکي وي نو دغه به حیض نه شمېرل کیږي او که سره او یا توره وي نو حیض به وي. والله ﷻ اعلم.

د نفاس له پوره کېدو څخه وروسته د حیض د راتلو حکم

سوال: ایا د څلوېښت ورځي نفاس د پوره کېدو وروسته فوراً بېله پاکي حیض راتلای سي او که نه؟

الجواب: د څلوېښت ورځو نفاس د پوره کېدو وروسته حیض نه سي راتلای چي لږ تر لږ پنځلس ورځي پاکي تېره نه سي که چیري له څلوېښت ورځو څخه وروسته هم وینه روانه وه نو هغه ورځي استحاضه ده حیض نه دئ.

په ردالمحتار کي راځي:

قوله والزائد على أكثره أي في حق المبتدأة، أما المعتادة فما زاد على عادتها ويجاوز العشرة في الحيض والأربعين في النفاس يكون استحاضة. (ردالمحتار:۱/ ۲۸۵، سعید).

وفی الهندیة: لو رأت الدم بعد اكثر الحيض والنفاس فی اقل مدة الطهر فما رأت بعد الاكثر ان كانت مبتدأة وبعد العادة ان كانت معتادة استحاضة وفی الهندیة: ص،۴۰: واذا جاوز الاربعين ولها عادة فی النفاس ردت الی ایام عادتها. (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۷).

په الفقه الاسلامي وادلته کي راځي:

واكثره...عند الحنفية والحنابلة: أربعون يوماً، وما زاد عن ذلك فهو استحاضة، بدليل قول أم سلمة: كانت النفساء تجلس على عهد رسول الله ﷺ أربعين يوماً وأربعين ليلة .رواه ابو داؤد والترمذی وابن ماجه واحمد. (الفقه الاسلامي وادلته:۱/ ۴۶۷).

په امداد الاحکام کي راځي:

نو په ذکر سوی صورت کي د دې نفاس د پخوانی عادت مطابق شمېرل کیږي نوري ورځي استحاضه ده حیض نه دئ ځکه د نفاس څخه وروسته چي تر څو پنځلس ورځي تېري سوی نه وي تر هغه وخته حیض نه سي کېدای، البته که د نفاس پنځلس ورځي وروسته هم وینه راغله او هغه تاریخونه د حیض وي نو هغه به حیض بلل کیږي. (امداد الاحکام:۱/ ۳۶۳).

له دغو عبارتونو څخه معلومیږي چي د نفاس له څلوېښتو ورځو تیرېدو وروسته فوراً حیض نه سي راتلای. والله ﷻ اعلم.

د نفاس د مدې په اول او آخر کي د وینی حکم

سوال: که یوې ښځي ته د نفاس په ورځو کي په شروع کي لس ورځي وینه راغله بیا شل ورځي پاکه وه، بیا لس ورځي وینه ورته راغله نو نفاس به یې څومره وي؟

الجواب: په دغه صورت کي به پوره څلوېښت ورځي نفاس وي.

په ترمذي شريف کي روايت دئ:

"عن أم سلمة رضي الله عنها قالت : كانت النفساء تجلس على عهد رسول الله ﷺ أربعين يوماً".

(رواه الترمذي:۱/ ۳۶).

په ردالمحتار کي راځي:

ان من اصل الامام ان الدم اذا کان فی الاربعین فالطهر المتخلل لایفصل طال او قصر حتی لو رأت ساعة دما واربیعن الاساعتین طهراً ثم ساعة دما کان الاربعون کلها نفاساً وعلیه الفتویٰ. (ردالمحتار:۱/ ۲۹۹) هکذا فی حاشیة الطحطاوی علی الدرالمختار:۱/ ۱۵۳) وفی البحر الرائق:۱/ ۲۱۹).

وفی الهندیة: الطهر المتخلل فی الاربعین بین الدمین نفاس عند ابی حنیفة رحمه الله وان کان خمسة عشر یوماً فصاعداً وعلیه الفتویٰ. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۳۷).

له یادو عبارتونو څخه معلومه سوه چي په ذکر سوی صورت کي د مفتی به قول مطابق پوره څلوېښت ورځي نفاس شمېرل کېږي او د منځ په شلو ورځو کي چي وینه راغلي نه ده هغه هم د پرلپسی وینو په شان ده. والله ﷻ اعلم.

که د څلورو میاشتو حمل ساقط سي او دوهم بچی یې په نس کي وي نو د راتلونکي وینی حکم

سوال: دیوې ښځي پر حمل څلور میاشتي تیري سوی خو بیا معلومه سوه چي په نس کي یې دوهم کوچنی سته او د اسقاط څخه وروسته یې وینه د عادت مطابق جاري وه نو د دوهم کوچنی د پیدایښت څخه وړاندي به دغه وینه حیض شمېرل کېږي یا استحاضه او که نفاس؟

الجواب: د دې مسئلي دوه صورتونه دي:

۱_ که چیري دوهم کوچنی د لومړي کوچنی د پیدایښت څخه وروسته په څلوېښت ورځي کي دننه پیدا سو نو د لومړی کوچنی د ولادت څخه تر څلوېښت ورځو پوري نفاس شمېرل کېږي پاته استحاضه ده.

۲_ او که دوهم کوچنی د لومړی کوچنی څخه څلوېښت ورځي وروسته پیدا سو نو دغه وینی د مریضی دي نفاس نه دئ.

په ردالمحتار کي راځي:

والـمرئى عقيب الثانى ان كان فى الاربعين فمن نفاس الاول والا فاستحاضة. (رد المحتار: ۱/ ۳۰۱).

قال فى الطحطاوى: ما تراه عقب الثانى ان كان قبل الاربعين فهو نفاس للاول التمامها واستحاضة بعد تمامها فتغسل وتصلى كما وضعت الثانى وهو الصحيح كذا فى البحر.

(الطحطاوى على الدرالمحتار: ۱/ ۱۵٤). والله ﷻ اعلم.

د حائضې له پاره د اذان د جواب ورکولو حکم

سوال: ایا د ښځي له پاره د اذان جوب ورکول مستحب دي؟ او که ښځه د حیض په حالت کي وي نو حکم یې څه دئ؟

الجواب: د ښځي له پاره د اذان جواب ورکول مستحب دي، البته د حائضې په هکله اختلاف دئ د اکثره فقهاؤ په اند باید د حائضې جواب ورنه کړل سي ځکه د اجابت معنى کار پرېښودل او د لمانځه ځای ته راتلل دي که څه هم ښځه په مسجد کي لمونځ نه کوي خو د بالفعل د اجابت څخه عاجزه ده.

په ردالمحتار کي راځي:

(ويجيب وجوباً) وقال الحلواني ندبا والواجب الاجابة بالقدم من سمع الأذان يفهم منه أنه لو لم يسمع لصمم أو لبعد أنه لا يجيب قوله (لا حائضا ونفساء) لأنهما ليسا من أهل الإجابة بالفعل فكذا بالقول بخلاف الجنب فإنه مخاطب بالصلاة، ولأن حدثه أخف من الحيض والنفاس لإمكان إزالته سريعاً. (ردالمحتار: ۱/ ۳۹٦).

په فتاوى هنديه کي راځي:

ویجوز للجنب والحائض الدعوات وجواب الاذان ونحو ذلک کذا فی السراجیة. (فتاوی هندیه: ۱/ ۳۸).

په الفقه الاسلامی کي راځي:

وقال الحنفية: تشمل الاجابة من سمع الاذان ولو كان جنباً لاحائضاً ونفساء. (الفقه الاسلامی وادلته: ۱/ ٥٥٤).

په حاشیه الطحطاوی کي راځي:

ویجیب الجنب لاالحایض والنفساء لعجزهما عن الاجابة بالفعل، ای فسقطت بالقول تبعا للفعل. (حاشية الطحطاوی: ۱/ ۱۱۰). والله ﷻ اعلم.

د حائضې او جنب له پاره تلاوت او د قرآن کریم د لیکلو حکم

سوال: د جنب او حائضې له پاره د قرآن کریم یو یا دوه آیتونه لیکل، ویل یا مسه کول روا دي او که نه؟ که روا نه دي نو مراد غټ آیت دئ او که کوچنی د غټ آیت اندازه څه ده؟

الجواب: په دغه مسئله کي حائضه او جنب برابر دي د دوی له پاره د قرآن د ویلو په روا والي او نه روا والی کي دا تفصیل دئ که چیري یې د قرائت په نیت ولوستی نو روا نه دئ که یو ایت وي یا له هغه څخه کمه اندازه وي دا هغه وخت چي پوره ایت مرکب یعنی یو ځای ولولي او که یې یو یو لفظ جلا جلا ولوستی نو روا دي لکه چي حائضه یا جنب یې کوچنیانو ته وایي.

په ردالمحتار کي راځي:

قوله (وقراءة قرآن) أي وكره ولو دون آية من المركبات لا المفردات لأنه جوز للحائض المعلمة تعليمه كلمة كلمة كما قدمناه. (ردالمحتار: ۱/ ۲۹۳).

په بحر الرائق کي راځي:

(قوله : وقراءة القرآن) أي يمنع الحيض قراءة القرآن وكذا الجنابة لقوله لا تقرأ الحائض ولا الجنب شيئًا من القرآن. رواه الترمذي وابن ماجه وحسنه المنذري وصححه النووي .

وعن علي رضي الله عنه قال كان رسول الله ﷺ يقرئنا القرآن على كل حال ما لم يكن جنبًا . رواه أبو داود والترمذي وقال إنه حسنصحيح.

وبقولنا قال أكثر أهل العلم من الصحابة والتابعين كما حكاه الترمذي في جامعه وشمل إطلاقه الآية وما دونها...

عن علي رضي الله عنه قال اقرءوا القرآن ما لم يصب أحدكم جنابة، فإن أصابه فلا ولا حرفًا واحدًا رواه الدارقطني". (البحرالرائق:١/ ١٩٩).

له دغو عبارتونو څخه معلومه سوه چي په دغو حالاتو کي د قرائت په نيت ويل روا نه دي هغه که يو آيت وي او که زيات وي، البته کي يې د قرائت په نيت ونه لولي بلکي د ثناء يا د شروع ديوه کاريا دعاء په نيت ولولي نو څه حرج نه سته.

په ردالمحتار کي راځي:

(قوله بقصده) فلو قرأت الفاتحة على وجه ال دعاء ء أو شيئاً من الآيات التي فيها معنى ال دعاء ء ولم ترد القراءة لا بأس به كما قدمناه عن العيون لأبي الليث وأن مفهومه أن ما ليس فيه معنى الدعاء كسورة أبي لهب لا يؤثر فيه قصد غير القرآنية. (ردالمحتار:١/ ٢٩٣).

په بحر الرائق کي راځي:

أما إذا قرأه على قصد الثناء أو افتتاح أمر لا يمنع في أصح الروايات وفي التسمية اتفاقأنه لا يمنع إذا كان على قصد الثناء أو افتتاح أمر كذا في الخلاصة وفي العيون لأبي الليث ولو أنه قرأ

الفاتحة على سبيل الدعاء أو شيئًا من الآيات التي فيها معنى الدعاء ولم يرد به القراءة فلا بأس به. (البحر الرائق:١/ ١٩٩).

معلومه سوه چي که د قرائت په نيت ونه ويل سي بلکي د دعاء، ثناء يا افتتاح په نيت ولوستل سي نو روا دئ په دې شرط چي په آيت کي د دعاء يا ثناء معنى موجوده وي، البته دا مسئله پاته ده چي د قرائت په نيت څومره ويل روا نه دي له دې څخه کوچنى آيت مراد دئ يا غټ او اندازه يې څه ده د ځينو فقهاؤ په اند له يوه آيت څخه دلږ مقدار قرائت روا دئ.

په بحر الرائق کي راځي:

وفي رواية الطحاوي يباح لهما ما دون الآية وصححه صاحب الخلاصة ومشى عليه فخر الإسلام في شرح الجامع الصغير. (البحر الرائق:١/ ١٩٩).

البته هغه کوچنى آيت چي د کلام الناس سره مشابه وي او د کلام په نيت سره وويل سي نه د قرائت په نيت نو روا دئ.

فحاصله أن التصحيح قد اختلف فيما دون الآية والذي ينبغي ترجيح القول بالمنع لما علمت من أن الأحاديث لم تفصل والتعليل في مقابلة النص مردود؛ لأن شيئًا كما في الكافي نكرة في سياق النفي فتعم وما دون الآية قرآن فيمتنع كالآية ... ويؤيده ما رواه الدارقطني عن علي رضي الله عنه قال: اقرءوا القرآن ما لم يصب أحدكم جنابة، فإن أصابه فلا ولا حرفًا واحدًا.

(البحر الرائق:١/ ١٩٩).

ردالمحتار يې عدم د جواز ته ترجيح ورکړي ده:

(قوله وقراءة القرآن) ولو دون آية. (ردلمحتار:١/ ٢٩٣).

البته هغه کوچنى آيت چي د کلام الناس سره مشابه وي او د کلام په نيت سره وويل سي نه د قرائت په نيت نو روا دئ.

وقد انكشف بهذا ما في الخلاصة من عدم حرمة ما يجري على اللسان عند الكلام من آية قصيرة من نحو ﴿ ثم نظر ﴾ أو ﴿ لم يولد ﴾. (البحرالرائق:۱/ ۱۹۹).

همدارنګه که حائضه معلمه یا جنبی معلم وي نو د دوی له پاره روا ده، چې کوچینانو ته قرآن ووایي خو شرط دا دئ چې کلمې به جلا جلا وایي، البته د امام طحاوی په اند په یوه وخت کې نیم آیت هم ورته ویلای سي.

په البحرالرائق کې راځي:

وإذا حاضت المعلمة فينبغي لها أن تعلم الصبيان كلمةً كلمةً وتقطع بين الكلمتين على قول الكرخي وعلى قول الطحاوي تعلم نصف آية... واختلف المتأخرون في تعليم الحائض والجنب والأصح أنه لا بأس به إن كان يلقن كلمةً كلمةً ولم يكن من قصده أن يقرأ آيةً تامةً.

(البحر الرائق:۱/ ۲۰۰).

همدارنګه د دوی له پاره د قرآن مسه کول هم روانه دي که چیري قرآن د مصحف په شکل کې وي نو راجح قول دا دئ چې الفاظ د بیاض ځای او هغه جلد چې متصل وي د هغه مسه کول روا نه دي او که د قرآن کریم څخه برخه پر تخته درهم یا دېواله لیکلي وي نو یوازې لیکلي الفاظ مسه کول ممنوع دي د نور ځای مسه کول روا دي.

په ردالمحتار کې راځي:

(قوله ومسه) أي القرآن ولو في لوح أو درهم أو حائط، لكن لا يمنع إلا من مس المكتوب، بخلاف المصحف فلا يجوز مس الجلد وموضع البياض منه وقال بعضهم يجوز، وهذا أقرب إلى القياس والمنع أقرب إلى التعظيم كما في البحر أي والصحيح المنع.

(ردالمحتار:۱/ ۲۹۳).

يادونه: کوچنی ایت هغه دئ چې تر شپږ حروف کم وي مثلا ﴿ ثم نظر ﴾. والله ﷻ اعلم.

د حیض او نفاس په حالت کې د نوکانو پرې کولو حکم

سوال: د حیض او نفاس په ورځو کې ښځې نوکان او تر نامه لاندې ورېښتان صفا کولای سي او که نه؟

الجواب: د حیض او نفاس په ورځو کې نوکان تر نامه لاندې ورېښتان وغیره صفایې کول روا او درسته ده، البته د جنابت په حالت کې مکروه ده ځکه جنابت په غسل سره پور ته کېږئ حال دا چې د حیض او نفاس ناپاکي په غسل سره نه لیرې کېږي او د حیض او نفاس مده اوږده وي او حال دا چې د دغو شیانو صفایي هر هفته مستحب ده.

په فتاوی عالمګیري کې راځي:

الأفضل أن يقلم أظفاره ويحفي شاربه ويحلق عانته وينظف بدنه بالاغتسال في كل أسبوع مرة فإن لم يفعل ففي كل خمسة عشر يوماً ولا يعذر في تركه رواء الأربعين فالأسبوع هو الأفضل والخمسة عشر الأوسط والأربعون الأبعد ولا عذر فيما وراء الأربعين ويستحق الوعيد كذا في القنية... وحلق الشعر حالة الجنابة مكروه وكذا قص الأظافير كذا في الغرائب. (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٥٧- ٣٥٨). (وكذا في فتاوى الشامي:٦/ ٤٠٦). والله ﷻ اعلم.

د مستحاضې له پاره د استنجاء حکم

سوال: که یوې ښځې ته د استحاضې وینه ورتله او په لاره کې د لمانځه ضرورت پېښ سو نو ایا پر دې استنجاء لازمه ده او که نه؟

الجواب: مستحاضه دې د هر لمانځه له پاره اودس وکړي استنجاء وربانديې لازمه نه ده مګر دا چې د اوداسه څخه مخکې يې بولې او چکر کړی وي.

په درمختار کې راځي:

ودم استحاضة حكمه كرعاف دائم وقتاً كاملاً لا يمنع صوماً وصلاةً ولو نفلاً وجماعاً لحديث "توضئي وصلي وإن قطر الدم على الحصير". (الدرالمختار:١/ ٢٩٨، سعيد).

پہ بحر الرائق کي راځي:

قوله : وتتوضأ المستحاضة ومن به سلس بول... لوقت كل فرض وقيد بالوضوء ؛ لأنه لا يجب عليها الاستنجاء لوقت كل صلاة ، كذا في الظهيرية أيضًا. (البحر الرائق:۱/ ۲۱۵).

البته که یې د فرج شا وخوا په وینو وه او اندازه یې له یوه درهم څخه زیاته وه نو د هغه ازاله ضروري ده.

پہ فتاوی قاضی خان کي راځي:

النجاسة نوعان... والغليظة اذا زادت على قدر الدرهم تمنع جواز الصلوة. (فتاوى قاضى خان:۱/ ۱۸).

پہ بدائع الصنائع کي راځي:

ولنا ما روي عن عمر رضي الله عنه أنه سئل عن القليل من النجاسة في الثوب فقال : إذا كان مثل ظفري هذا لا يمنع جواز الصلاة ؛ ولأن القليل من النجاسة مما لا يمكن الاحتراز عنه... ولأنا أجمعنا على جواز الصلاة بدون الاستنجاء بالماء ... ولهذا قدرنا بالدرهم على سبيل الكناية عن موضع خروج الحدث. (بدائع الصنائع:۱/ ۷۹). والله تعالیٰ اعلم.



قالت عائشة رضي الله عنها كنت أغسله (المنى) من ثوب رسول الله ﷺ فيخرج إلى الصلاة وأثر الغسل في ثوبه. (متفق عليه).

وعن أنس رضي الله عنه قال: بينما نحن فى المسجد مع رسول الله ﷺ إذ جاء أعرابى فقام يبول فى المسجد ... قال فأمر رجلا من القوم فجاء بدلو من ماء فشنه عليه. (متفق عليه).

شپږم .... باب
له نجاستونو څخه د پاکی کولو بیان

د ناپاکي غالی د پاکولو طریقه

سوال: ډېر وختونه یوه غالی ناپاکه سي او د هغې پرمینځل مشکل وي بلکي په ځینو صورتونو کي ناممکن وي ځکه هغه نه نښتیځل کیږي او حال دا چي نښتیځل یې ضروري دي نو د دغسی غالي د پاکولو طریقه څه ده؟

الجواب: د داسي درني غالی د پاکولو صورت دا دئ چي یو ځل دي هغه ومینځي تر داسي وخته دي یې پرېږدي چي اوبه څیڅیدل یې ودرېږي تر هغه وروسته دي یې بیا ومینځي بیا دي انتظار وکړي چي اوبه یې ودرېږي دارنګه دي درې ځله وکړي نو غالی به پاکه سي.

په فتاوی هندیه کي راځي:

ومالاينعصر يطهر بالغسل ثلاث مرات، والتجفيف فى كل مرة لأن للتجفيف أثراً فى استخراج النجاسة، وحد التجفيف أن يخليه حتى ينقطع التقاطر ولا يشترط فيه اليبس.

(الفتاوى الهندية:١/ ٤٢).

په بحر الرائق کي راځي:

قوله : وبتثليث الجفاف فيما لا ينعصر، أي ما لا ينعصر فطهارته غسله ثلاثًا وتجفيفه في كل مرة ؛ لأن للتجفيف أثرًا في استخراج النجاسة وهو أن يتركه حتى ينقطع التقاطر ولا يشترط فيه اليبس. (البحر الرائق:۱/ ۲۳۸).

خو که یې مینځل هم مشکل وي نو بیا دي یوه جامه لنده کړي څو ځله دي په هغه سره په ښه شان صافه کړي تر داسي بریده چي نجاست یې لیري سي او اطمینان یې راسي دغه هم علماؤ په مطهراتو کي شمېرلي دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي

"غسل ومسح والجفاف مطهر" (الدرالمختار:۱/ ۳۱۵).

په فتاوی اللکنهوی کي راځي:

المطهر السادس: المسح بخرقات مبتلة. (فتاوی اللکنهوی،ص:۱٤۱).

همدانګه چي نن سبا د فرش وینځلو مشینونه دي په هغه سره هم غالی پاکېږي. والله ﷻ اعلم.

د ناپاکه لاسي پمپ د پاکولو طریقه

سوال: که لاسي پمپ ناپاک سي نو د پاکولو طریقه به یې څه وي؟

الجواب: د لاسي پمپ د پاکولو طریقه دا ده چي هغه وچلول سي او دومره اوبه وبهیږي چي په هغه سره پمپ دریې ځله وینځل کېدای سي د لاسي پمپ د اوبو انداژه په ظن غالب معلومېدای سي، البته په ځینو کتابو کي چي د اوبو د جاري کولو کومه طریقه ذکر سوي ده چي له لوړه طرفه دي دومره اوبه پر واچول سي چي پائپ ډک سي او اوبه یې وبهیږي د اوبو د بهیدلو له امله به پاک سي دغه محل نظر دئ او دغه ته جریان ویل مشکل دي ځکه جریان له یوه طرفه اچول او د بل طرفه وتلو ته ویل کیږي.

په ردالمحتار کي راځي:

وبقي شيء آخر سئلت عنه وهو أن دلواً تنجس فأفرغ فيه رجل ماء حتى امتلأ وسال من جوانبه هل يطهر بمجرد ذلك أم؟ لا والذي يظهر لي الطهارة أخذاً مما ذكرناه هنا ومما مر من أنه لا يشترط أن يكون الجريان بمدد. (ردالمحتار:۱/ ۹۶). والله ﷻ اعلم.

د جامو د مینځلو په ماشین کي د مینځلو سوو جامو حکم

سوال: د مینځلو په ماشین کي هر قسم جامي اچول کیږي پاکي هم وي او ناپاکي هم وي په دارنګه مینځلو سره جامي پاکیږي؟ همدارنګه په پټرولو څو څو ځله جامې مینځل کیږي که چیري په هغه سره لومړی ناپاکي جامي ومینځی نو ایا وروسته مینځل سوی جامې پاکیږي؟

الجواب: په دې هکله دا معلومه سوې ده چي په هغه کي کیمیاوي مواد مثلاً پټرول وغیره استعمالیږي چي خالص د جامو د مینځلو او صفایي له پاره جوړ سوی دي لهذا په هغه سره نجاست لیري کیږي او پاکي او ناپاکي هر راز جامې پاکیږي.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

کوم نجس څاڅکي چي پر جامه ولوېږي هغه په پټرولو هم لیري کیږي د پټرولو په مینځلو سره جامه پاکیږي. (فتاوی محمودیه:۱۷/ ۱۳۵).

په جدید فقهی مسائلو کي راځي:

په پټرولو سره جامي وغیره مینځل یا دیوه بل محسوس نجاست لیري کېدل به درست وي ځکه اوبه ضروري نه دي هر بهیدونکی شی کافي دئ.

په هدایه کي راځي:

"ویجوز تظهیرها بالماء وبکل مائع طاهر یمکن ازالتها به کالخل وماء الورد". (جدید فقهی مسائل:۱/ ۸۶).

په نظام الفتاوی کي راځي:

له همدې ځایه دا خبره معلومیږي چي کله په پټرولو کي په ګرځولو سره د جامو داغونه لیري کیږي او جامې صفا کیږي نو چي کله پټرول په جامه کي نه جذب کیږي په هوا سره ختم کیږي او د

هغه د پورته کېدو وروسته د نجاست اثر رنګ، بوی، خوند نه پاته کیږي بلکي له منځه ځي نو دا ویل کیږي چي په پټرولو سره لیري سوه او تطهیر د نجاست د لیري کېدو نوم دئ.

که د ماهیت د بدلون له امله وي لکه شراب چي سرکه وګرځي او سرکه پاکه بلل کیږي یا یوازي په هوا کي د پورته کېدو له امله وي لکه چي ناپاکه پنبه وشنل سي نو پنبه پاکیږي یا د مینځلو په ذریعه وي د یا یو بل بهیدونکی شی د مینځلو په ذریعه وي او دلته همداسي ده لهذا د دوهم ځل پاکولو ضرورت به نه وي، البته هغه کسان چي جامه یې په یقیني توګه ناپاکه وي هغه یې بایـد د پټرولو مینځلو مخکي ومینځي یا یې بیا وروسته احتیاطا و مینځي همدارنګه د ماشین د راوتلو وروسته که د جسم لرونکي نجس جسم پاته ؤ نو مینځل به یې ضروري وي له هغه پرته پاکه نه ګڼل کیږي. همدارنګه یو جلا خبره دا هم ده چي د تقوی له امله د داسي مینځل سوی جامي پاکي د شریعت د قانون مطابق په خپله وکړل سي، مګر دا فتوی نه سي ګڼل کېدای.(منتخبات نظام الفتاوی:۱/ ۳۰-۳۲).

له دغو عبارتونو څخه معلومه سوه چي په پټرولو سره نجاست لیري کیږي پاته سو دا سوال چي پټرول چي کله یو ځل استعمال سي تر هغه وروسته یې فلټر کوي نجس اجزاء ورڅخه لیري کوي او هغه صفا کوي نو دارنګه د مستعملو اوبو په شان دي جواب دا دئ چي مستعملي اوبه پاکي دي، البته پاکونکی نه دي او نجاست حقیقي لیري کولای سي.

په احسن الفتاوی کي راځي:

مستعملي اوبه پاکي دي په هغه سره اودس او غسل درست نه دئ البته حقیقي نجاست په پاکیږي یعني که نجس وربانديي ومینځل سي نو هغه پاکیږي په ردالمحتار کي راځي: وحکمه انه لیس بطهور للحدث بل لخبث علی الراجح. (احسن الفتاوی:۲/ ۴۰).

الغرض احتیاط دا دئ چي د کالو مینځلو د ماشین څخه درایستلو وروسته پر جامو څه اوبه واچول سي او ونښتیځل سي. والله ﷻ اعلم.

ناپاک فرش چې وچ سي د هغه د پاکولو حکم

سوال: هغه فرش چې سیمینټ سوی وي یا په بل شی سره جوړ سوی وي ناپاک سي بیا وچ سي نو دغه به پاک وي او که ناپاک؟

الجواب: مځکه او هغه شی چې د مځکي په حکم کي وي یا د اتصال له امله د مځکي تابع وي د ټولو حکم دا دئ چې که چیري ناپاک سي نو د وچیدو او د اثر د لیري کیدو وروسته پاکیږي:

وإذا ذهب أثر النجاسة عن الأرض و قد جفت ولو بغير الشمس على الصحيح طهرت و جازت الصلاة عليها لقوله ﷺ " أيما أرض جفت فقد زكت" دون التيمم منها المراد بالأرض ما يشمله إسم الأرض كالحجر والحصى والآجر واللبن ونحوها إذا كانت متداخلة في الأرض غير منفصلة (تبعاً للأرض) يلحق بما ذكر في هذا الحكم كل ما كان ثابت فيها كالحيطان والخص وهو حجيزة السطح وغير ذلک ما دام قائماً عنها فيطهر بالجفاف وذهاب الأثر هو المختار. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح،ص:۱۸۸).

په بحرالرائق کي راځي:

(والأرض باليبس وذهاب الأثر للصلاة لا للتيمم) ويشارك الأرض في حكمها كل ما كان ثابتًا فيها كالحيطان والأشجار والكلأ والقصب وغيره ما دام قائمًا عليها فيطهر بالجفاف وهو المختار ، كذا في الخلاصة (البحر الرائق:۱/ ۲۲۵، کوئته).

تفصیل وګورئ: (الفتاوی الهندیة:۱/ ٤٤، والدرالمختار:۱/ ۳۱۲، و احسن الفتاوی:۲/ ۸۸).

همدارنګه په فتاوی محمودیه کي سوال ذکر سوی دئ چې هغه مځکه چې په چونه سره جوړه سوی وي که کوچنی بولي یا چکر وکړي چې کله هغه صفا کړل سي او هغه فرش وچ سي د بولو او مرداري اثر پاته نه سي نو هغه پاکیږي. (فتاوی محمودیه:۱٦/ ۱۷۵).

په پوښتل سوي صورت کي د سيمينټ فرش د اتصال له امله د مځکي په حکم کي دئ او د هغه تابع دئ دواړه ناپاک وه، البته دوچيدو له امله پاک سوه. والله ﷻ اعلم.

اووم ....باب

د طهارت د بېلو مسائلو بيان

پرلاس د اوبو اچولو سره ايا دا اوبه مستعملى گرځي؟

سوال: يو چا لاس مينځلى نه وي، البته لاس يې پاک وي په هغه ستل کي چي دى غسل ورباندي کوي د پيالى يا بل لوښى سره لاس واچوي نو ايا دغه د ستل اوبه مستعملى گرځي او که نه؟

الجواب: په دې هكله د فقهاؤ عبارتونه په لاندي ډول دي.

په فتاوى قاضي خان کي راځي:

(المحدث او الجنب) اذا دخل يده فى الاناء للاغتراف وليس عليها نجاسة لايفسد الماء وكذا اذا وقع الكوز فى الجب فادخل يده فى الجب الى المرفق لاخراج الكوز لايصير الماء مستعملاو كذا الجنب اذا ادخل يده فى البئر لطلب الدلو لايصير الماء مستعملا لمكان الضرورة. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:۱/ ۱۵).

په فتح القدير کي راځي:

ثم إدخال مجرد الكف إنما لا يصير مستعملًا إذا لم يرد الغسل فيه بل أراد رفع الماء، فإن أراد الغسل إن كان أصبعًا أو أكثر دون الكف لا يضر مع الكف بخلافه ذكره في الخلاصة، (قوله مع الكف بخلافه) كذا بالاصول ولعله بخلافه مع الكف. (فتح القدير:۱/ ۸۷).

په فتاوی هندیه کي راځي:

اذا ادخل المحدث او الجنب او الحائض التی طهرت یده فی الماء للاغتراف لایصیر مستعملاً للضرورة کذا فی التبیین وکذا إذا وقع الکوز فی الجب فادخل یده فیه الی المرفق لاخراج الکوز لایصیر مستعملاً بخلاف ما إذا أدخل یده فی الإناء أورجله للتبرد فإنه یصیر مستعملاً لعدم الضرورة هکذا فی الخلاصة (ومثله فی البحر الرائق)... ویشرط ادخال عضو تام لصیروة الماء مستعملاً فی الروایة المعروفة عن أبي یوسف رحمه الله کذا فی المحیط.... وبإدخال الأصبع أو الأصبعین لایصیر مستعملاً وبإدخل الکف یصیر مستعملاً کذا فی الظهیریة. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۲۲).

له دغو عبارتونو څخه په ښه توګه معلومه سوه چي د ضرورت په وخت کي داسي کول اوبه مستعملي نه ګرځوي، البته که يې بېله ضرورته داسي وکړی نو اوبه به مستعملي وي. والله ﷻ اعلم.

بیت الخلاء ته د تګ په وخت کي د سر پټولو ثبوت په حدیث سره

سوال: بیت الخلاء ته د تګ په وخت کي په خولی او یا بل شی سره د سر د پټولو ثبوت په حدیث کي سته او که نه؟

الجواب: هو، په څو احادیثو او روایاتو کي د خولی پر سر کول او سر پټول راغلی دي.

په سنن الکبری للبیهقی کي راځي:

(۱) عن عائشة رضي الله عنها قالت کان النبی ﷺ "إذا دخل الخلاء غطی رأسه وإذا أتی أهله غطی رأسه". (رواه البیهقی فی السنن الکبری:۱/ ۹۶، وابن عدی فی الکامل:۷/ ۵۵۵، و ابو نعیم فی الحلیة:۷/ ۱۵۸، والنووی فی الجموع:۲/ ۱۱۳، وابن قدامة:۷/ ۲۲۸).

(۲) عن حبیب بن صالح قال : کان رسول الله ﷺ "إذا دخل الخلاء لبس حذاءه وغطی رأسه". (السنن الکبریٰ) وقد اتفق العلماء علی ان الحدیث المرسل والضعیف والموقوف یتسامح به فی فضائل الاعمال ویعمل بمقتضاه وهذا منها".

(۳) په کنز العمال کي راځي:

قال ابو بکر استحیوا من الله، فانی لادخل الخلاء فاقنع رأسی حیاءً من الله عزوجل". (کنز العمال رقم: ۸۵۱٤، واعلاء السنن: ۱/ ۳۲۲، ورواه البیهقی: ۱/ ۹٦).

(۴) په مصنف عبد الرزاق کي راځي:

عن سعید بن عبد الله بن ضرار رضي الله عنه قال: رأیت أنس بن مالك رضي الله عنه أتی الخلاء ثم خرج وعلیه قلنسوة بیضاء مزرورة". (مصنف عبد الرزاق: ۱/ ۱۹۰).

(۵) په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

ان ابا موسیٰ خرج من الخلاء فمسح علی القلنسوة. (مصنف ابن ابی شیبه: ۱/ ۳۱۰، باب من کان یری المسح علی العمامة).

همدارنګه علامه مناوی د سر د پټولو حکمتونه په لاندي توګه بیان کړی دي:

"وغطی رأسه حیاءً من ربه تعالی ولأن تغطیة الرأس حال قضاء الحاجة أجمع لمسام البدن وأسرع لخروج الفضلات ولاحتمال أن یصل شعره ریح الخلاء فیعلق به. قال أهل الطریق: ویجب کون الإنسان فیما لا بد منه من حاجته حیي خجل مستور". (فیض القدیر: ۵/ ۱۲۸).

والله ﷻ اعلم.

وخپلو بولو او ځکر ته د کتلو حکم

سوال: خپلو بولو او ځکر ته کتل څنګه دي؟

جواب: خپلو بولو او ځکر ته کتل ناخوښه کار دئ او د ادب څخه خلاف دئ.

وګورئ په بحر الرائق کي راځي:

ولا ينظر لعورته إلا لحاجة ولا ينظر إلى ما يخرج منه ولا يبزق. (البحر الرائق:١/ ٢٤٣).

په حاشيه طحطاوي على مراقى الفلاح کي راځي:

ولا إلى الخارج فإنه يورث النسيان وهو مستقذر شرعا ولا داعية له. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:١/ ٣١). والله تعالى اعلم.

د ساعت او داسي نور په صفايي کي د اسپرټو استعمالول

سوال: ايا د ساعت يا کوم بل شی په صفايي کي اسپرټ استعمالول صحيح دي حال دا چي دغه د شرابو روح دئ؟

الجواب: اسپرټ که څه هم مردار دي له استعمال څخه يې بايد ځان وساتل سي مګر د عموم بلوى له امله يې ګنجائش سته، همدارنګه د شيخينو رحمهم الله تعالى په اند به دا هغه وخت نجس وي چي له انګورو، کشمشو او يا خرما څخه جوړ سوی وي او له تحقيق څخه معلوميږي چي نن سبا اسپرټ له انګورو، کشمشو يا خرما څخه نه جوړيږي لهذا د شيخينو د وينا مطابق پاک دي که څه هم د اهل د زماني د فساد له امله د امام محمد قول مفتى به بلل سوی دئ خو نن سبا د تداوی د ضرورت او عموم بلوی له امله د شيخينو پر قول فتوی ورکول کيږي.

د نورو علماؤ اقوال په لاندي توګه دي:

په امداد الفتاوی کي راځي:

اسپرټ که د انګورو، وچکو لندي او يا وچي خرما څخه نه وه جوړ سوي نو د هغو ګنجائش سته للاختلاف او که نه بيا يې ګنجائش نه سته للاتفاق. (امداد الفتاوى:١/ ١٣٧).

په نظام الفتاوی کي راځي:

دا ضروري نه ده چي اسپرټ به د دغو څلورو شيانو څخه وي ځکه هغه نجس دي بلکي د ګړي وغيره څخه هم جوړيږي لهذا چي تر څو په شرعي دليل ثابت نه سي چي اسپرټ د دغو شرابو جوهر

یا پاته سوي برخه ده تر هغو ورته ناپاک او نجس نه ویل کیږي او د دوی استعمال ته ناجائز او حرام نه ویل کیږي.

همدارنګه د لوبنی په صفا کول او په دواګانو کي یې اچول هم ناجائز او حرام نه بلل کیږي دا فتوی ده او د تقوی خبره بېله ده. (نظام الفتاوی،ص:۳۶۱).

په احسن الفتاوی کي راځي:

اسپرټ که له انګورو، کشمشو یا خرما څخه جوړ سوی وي نو بالاتفاق نجس دي او که له دغه څخه پرته له کوم بل شی څخه جوړ سوی وي نو د شیخینو په اند پاک او د امام محمد په اند نجس دي له تحقیق څخه معلومه سوه چي نن سبا د اسپرټ او الکحل له پاره انګور او خرما نه استعمالیږي لهذا د شیخینو د وینا مطابق پاک دي فقهاؤ حضراتو که څه هم د اهل د زماني د فساد له امله د امام محمد قول مفتی به بللی دئ مګر نن سبا د تداوي د ضرورت او د عموم بلوی له امله د شیخینو پر قول د طهارت فتوی ورکول کیږي هسي هم د اصولو په لحاظ د شیخینو قول ته ترجیح وي. (احسن الفتاوی:۲/ ۹۵).

په جدید فقهی مسائل کي راځي:

د اسپرټ استعمال په ځینو داسي شیانو کي هم وي چي رواج یې ډېر زیات دئ او زموږ په زمانه کي ځان ورڅخه ساتل ډېر مشکل وي مثلاً د جامو رنګ د قلم رنګ وغیره نو استعمال به یې هم درست وي، یو خو دا چي استعمال یې عام سوی دئ او د ابتلاء عام صورت پیدا سوی دئ چي په فقهی احکامو کي د تخفیف باعث وي، فمن القواعد الشرعیة المتفق علیها "ان الامر اذا ضاق اتسع". الاشباه والنظائر لابن نجیم،ص:۸٤، (جدید فقهی مسائل:۱/ ۱۰۷).

خلاصه دا چي که اسپرټ که د څلورو حرامو شرابو څخه علاوه د بل شی څخه وي نو په هغه سره ساعت صفا کول یا نور شیان صفا کول درست دي خو احتیاط بنه دئ. والله ﷻ اعلم.

په اوداسه کي او د بيت الخلاء ته ننوتلو په وخت کي د بسم الله ويلو حکم

سوال: د بيت الخلاء او اوداسه په وخت کي پوره بسم الله الرحمن الرحيم ويل په کار دي يا يوازي بسم الله ويل کافي دي او په هغه سره سنت اداء کيږي؟

الجواب: د بيت الخلاء او اوداسه په وخت کي بسم الله ويل کافي دي پوره بسم الله الرحمن الرحيم ضروري نه ده او په همدغه سره سنت اداء کيږي، البته د ځينو حضراتو په انديږ مکمل ويل ښه دي په ډېرو رواياتو کي د بيت الخلاء تللو او اوداسه په وخت کي يوازي د بسم الله يادونه ده، ټوله بسم الله لرحمن الرحيم ذکر سوي نه ده .

په اعلاء السنن کي راځي:

"عن ابى هريرة ﷺ قال: رسول الله ﷺ يا ابا هريرة اذا توضأت فقل: "بسم الله والحمد لله". (اعلاء السنن:۱/ ٦٩).

په تخريج د ترمذي کي راځي:

"حديث جابر ﷺ فيه: قال رسول الله ﷺ بسم الله، ثم قال اسبغوا الوضوء". (تخريج ترمذى شريف:۱/ ۲۹۲).

په ردلمحتار کي راځي:

"ومن اداء به (اى الوضوء) التسمية عند غسل كل عضو وهى بسم الله العظيم والحمد لله على دين الاسلام". (ردالمحتار:۱/ ۱۲۷، همدارنګه وګورى: حاشية الطحطاوى:۱/ ٦۷، البحر الرائق:۱/ ۱۸).

وقيل الافضل بسم الله الرحمن الرحيم بعد التعوذ. (ردالمحتار:۱/ ۱۰۹).

د بيت الخلاء د ننوتلو په هکله هم يوازي د بسم الله الفاظ منقول دي:

په مشکوة شريف کي راځي:

"عن علی رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ ستر ما بین اعین الجن وعورات بنی آدم اذا دخل احدهم الخلاء ان یقول بسم الله". (مشکوة المصابیح:۱/ ۷۳، زیات وگوري: عمل الیوم واللیلة:۱/ ۷، سنن ابن ماجه:۱/ ۲٦، تحفة الاحوذی:۱/ ٤۳).

همدارنګه په ردالمحتار کي راځي:

فاذا وصل الی الباب یبدأ بالتسمیة قبل الدعاء هو الصحیح ویقول بسم الله اللّٰهم انی اعوذبک...". (ردالمحتار:۱/ ۳٤٥، البحر الرائق:۱/ ۱٦٦، الدرالمختار:۱/ ۱٦٦).

خلاصه دا چي په دغو ټولو احادیثو کي یوازي د بسم الله یادونه ده، لهذا یوازي د بسم الله په ویلو سره سنت اداء کیږي له دي څخه علاوه چي نور الفاظ منقول دي هغه له فقهاؤ څخه نقل سوی دي په احادیثو کي موجود نه دي، همدارنګه دا د اوږده ذکر ځای نه دئ نو پر اختصار باید کفایت وسي.

په حلیه الفقهاء کي راځي:

قال الشیخ حسین بن احمد الرازی اذا دخل الخلاء المنقول بسم الله اللّٰهم اعوذبک من الخبث والخبائث ولیس المحل محل ذکر حتی تستحب الزیادة علیه والمبالغة فیه". (حلیة الفقهاي:۱/ ۲۱٤). والله ﷻ اعلم.

د جنابت په حالت کي د نوکانو پرېکولو حکم

سوال: د جنابت په حالت کي د نوکانو پرېکولو حکم څه دئ؟

الجواب: د جنابت په حالت کي د نوکانو پرېکول مکروه دي ښه دا دي چي له پاکوالی څخه وروسته یې پرې کړي خو که یې د نوکانو له مینځلو وروسته پرې کړي مکروه نه دي.

په فتاوی عالمګیری کي راځي:

حلق الشعر حالة الجنابة مکروه وکذا قص الاظافیر کذا فی الغرائب. (الفتاوی الهندیة:٥/ ۳٥۸).

په مغنی المحتاج کي راځي:

فائدة: وقال (الامام الغزالی رحمه الله) في الإحياء: لا ينبغي أن يقلم أو يحلق أو يستحد (يحلق لعانة) أو يخرج دمًا أو يبين من نفسه جزءًا وهو جنب، إذ يرد إليه سائر أجزائه في الآخرة فيعود جنبًا، ويقال: إن كل شعرة تطالب بجنابتها. (مغنی المحتاج:۱/ ۲۲۲).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د جنابت په حالت کي نوکان او وریښتان خریل مکروه دي د پاکي څخه وروسته دي لیري کړي. (فتاوی محمودیه:۱۷/ ۳۲۰ همدارنګه په فتاوی رحیمه:۳/ ۱۸۸، او آپ کی مسائل اور ان کا حل:۲/ ۵۷). والله تعالی اعلم.

د چونګوښي د بولو او چکر حکم

سوال: د چونګوښي د بولو او چکر حکم څه دئ؟

الجواب: د چونګوښي بولي او چکر ناپاک دئ او نجاست غلیظه دئ ځکه چنګوښه د غیر ماکول اللحم حیواناتو څخه ده او د داسي حیواناتو بولي او چکر ناپاک وي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وقوله عز شأنه ويحرم عليهم الخبائث والضفدع والسرطان والحية ونحوها من الخبائث وروي عن رسول الله ﷺ سئل عن ضفدع يجعل شحمه في الدواء فنهى عليه الصلاة والسلام عن قتل الضفادع وذلك نهيعن أكله وروي أنه لما سئل عنه فقال عليه الصلاة والسلام: خبيثةمن الخبائث. (بدائع الصنائع:۵/ ۳۵، وکذا فی فتاوی قاضیخان:۳/ ۳۵۸).

په درمختار کي راځي:

وبول غير مأكول ولو من صغير لم يطعم... وروث خثیٰ افادبهما نجاسة خرء كل حيوان غير الطيور. (الدرالمختار:۱/ ۳۱۸، سیعد).

وقال ابن عابدين: (قوله افاد بهما) اراد بالنجاسة المغلظة. (فتاوی الشامی:۱/ ۳۲۰، وکذا في الطحطاوی علی مراقی الفلاح،ص:۸۳).

په فتاوی حقانیه کې راځي:

د فقهي اصولو او قواعدو څخه معلومیږي چې د چنګوښې بولي ناپاکي دي څکه د غیر ماکول اللحم بولي نجاست غلیظه دي. (فتاوی حقانیة:۲/ ۵۸٤).

په امداد الفتاوی کې راځي: فی الدرالمختار فی النجاسة الغليظة وبول غير ماکول. **نو دې قاعدې له امله د چنګوښې بولي سخت نجاست دئ، البته هغه چنګوښه چې داوبو وې همهلته يې ګذراه وي د هغې په هکله د نجاست حکم نه کیږي.**

کما فی الدرالمختار مسائل البير ولا نزح فی بول فارة علی الأصح فی ردالمحتار ولعلهم رجحوا القول بالعفو للضرورة. (امدا الفتاوی:۱/ ۷۵). والله ﷻ اعلم.

هغه کافر چې جنب وي مسجد ته يې د ننوتلو حکم

سوال: ايا روا ده چې د کافر د جنابت په حالت کې مسجد ته داخل سي؟

الجواب: رواه ده.

وګورئ په درمختار کې راځي:

وما يصيب الثوب من بخارات النجاسة، قيل ينجسه، وقيل لا وهو الصحيح. وفي الحلية: استنجى بالماء وخرج منه ريح لا ينجس عند عامة المشايخ وهو الأصح، وكذا إذا كان سراويله مبتلاً.

وفي الخانية: ماء الطابق نجس قياساً لا استحساناً. وصورته: إذا أحرقت العذرة في بيت فأصاب ماء الطابق ثوب إنسان لا يفسده استحساناً ما لم يظهر أثر النجاسة فيه، وكذا الاصطبل إذا كان حاراً، وعلى كونه طابق أو كان فيه كوز معلق فيه ماء فترشح، وكذا الحمام

لـو فيهـا نجاسـات فعـرق حيطانــها وكواتــها وتقــاطر. قــال في الــحلية: والظــاهر العمــل بالاستحسان، ولذا اقتصر عليه في الخلاصة، والطابق: الغطاء العظيم من الزجاج أو اللبن. (فتاوى الشامي: ١/ ٣٢٥، سعيد).

په بهشتي زېور كي راځي:

له نجاستونو څخه چي كوم بخارات پورته كيږي هغه پاک دي. (بهشتی زیور،ص: ٨٦٠).

وللاسزادة انظر: (حاشية الطحطاوي على الدر المختار: ١/ ١٦١، كوئته، والفتاوى الهندية: ١/ ٤٧، وفتح القدير: ١/ ٢١٢، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.



عن أنس رضي الله عنه قال بينما نحن في المسجد مع رسول الله ﷺ إذ جاء أعرابي فقام يبول في المسجد فقال أصحاب رسول الله ﷺ: مه مه، فقال رسول الله ﷺ "لا تزرموه دعوه"، فتركوه حتى بال، ثم إن رسول الله ﷺ دعاه، فقال له: "إن هذه المساجد لا تصلح لشيء من هذا البول ولا القذر إنما هي لذكر الله عز وجل والصلاة وقراءة القرآن". (متفق عليه).

اتم..................باب

د مساجدو د احکامو بیان

د مسجد او جماعت خاني احکام

سوال: مسجد او جماعت خانه څه شي ته ویل کیږي د دواړو په احکامو کي فرق سته او که نه؟

الجواب: د شرعي مسجد له پاره څو خبري ضروري دي:

لومړی_ دا چي وقف کونکي به ځمکه د مسجد له پاره وقف کړي وي.

دوهم_ دا چي ځمکه به يې د خپل ملک او یا دبل د ملک څخه دارنګه جلا کړی وي چي د ده او یا کوم بل چا حق به ورسره اړه نه لري.

دریيم_ دا چي په هغه کي به يو ځل په جماعت سره لمونځ اداء سوی وي.

که داسي نه وي بلکي هغه ځمکه وقف سوي نه وي ديو چا ذاتي ملکيت وي او هغه يوازي د لمانځه اجازه کړي وي یا د حکومت ملکيت وي او په کرايه يې اخيستي وي نو هغه هم شرعي مسجد نه دئ پر هغه د شرعي مسجد ټول احکام نه جاري کيږي، البته په هغه کي د جماعت د اداء کولو ثواب سته او جمعه وغيره پکښي قائمول درست دي، همدارنګه د علامه شامي رحمه الله د وینا مطابق د مکروهو شيانو څخه باید وژغورل سي لکه څنګه چي د شرعي مسجد ساتل ضروري دي، مثلاً خرڅول، رانيول، جنسي اړيکي، بولي، دنياوي خبري احتياط په دغه کي دئ خو د شرعي مسجد احکام مثلاً شرعي مسجد تر قيامته پوري مسجد وي هغه باید خرڅ نه سي دا احکام پکښي

نه جاري کيږي مالک يې خرڅولای سي او لوږه او لاندي برخه يې هم په مسجد کي داخله نه ده، دوکانونه او نور شيان پکښي جوړ ولای سي داوسېدو سرای هم پکښي جوړولای سي، په عرف او اصطلاح کي هغه ته مصلی ويل کيږي، البته که دمسجد شرائط پکښي موجود سوه بيا دا جماعت خانه نه بلکي مسجد دئ که څه هم خلک ورته مصلی ووايي ځکه د دواړو ترمنځ ډېر ښکاره فرق موجود دئ.

په فتاوی شامی کي راځي:

(ويزول ملكه عن المسجد والمصلىٰ) شمل مصلى الجنازة ومصلي العيد قال بعضهم: يكون مسجداً حتى إذا مات لا يورث عنه وقال بعضهم: هذا في مصلى الجنازة أما مصلى العيد لا يكون مسجداً مطلقاً وإنما يعطي له حكم المسجد في صحة الاقتداء بالإمام وإن كان منفصلاً عن الصفوف وفيما سوى ذلك فليس له حكم المسجد، وقال بعضهم: يكون مسجداً حال اداء الصلاة لا غير وهو والجبانة، سواء ويجنب هذا المكان عما يجنب عنه المساجد احتياطاً خانية وإسعاف، والظاهر ترجيح الأول لأنه في الخانية يقدم الأشهر (قوله بالفعل) أي بالصلاة فيه ففي شرح الملتقى أنه يصير مسجداً بلا خلاف...

قلت: وفي الذخيرة وبالصلاة بجماعة يقع التسليم بلا خلاف حتى أنه إذا بنى مسجداً وأذن للناس بالصلاة فيه جماعة فإنه يصير مسجداً... وفي القهستاني: ولا بد من إفرازه أي تميزه عن ملكه من جميع الوجوه فلو كان العلو مسجداً والسفل حوانيت أو بالعكس لا يزول ملكه لتعلق حق العبد به كما في الكافي... وإذا كان السرداب أو العلو لمصالح المسجد أو كانا وقفاً عليه صار مسجداً ... شرنبلالية ... قال في البحر: وحاصله أن شرط كونه مسجداً أن

يكون سفله وعلوه مسجداً لينقطع حق العبد عنه لقوله تعالى ﴿وأن المساجد لله﴾. (فتاوى الشامي: ٤/ ٣٥٥، سعيد).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

دار فيها مسجد إن كانت الدار إذا غلقت كان للمسجد جماعة ممن كان في الدار فهو في حكم مسجد جماعة يثبت فيه أحكام المسجد من حرمة البيع وحرمة الدخول للجنب إذا كانوا لايمنعون الناس من الصلة فيه وإن كانت الدار إذا أغلقت لم يكن فيها جماعة إذا فتح بابها كان لها جماعة فليس هذا مسجد جماعة وإن كانوا لايمنعون الناس عن الصلاة فيه.

(فتاوى قاضي خان: ١/ ٦٨).

په کفایت المفتی کي راځي:

د مسجد احکام بیل دي همدا ډول حالات هم مختلف دي د مثال په توګه یو حکم خو دا دئ چي مسجد د شرعي قاعدې موافق یو ځل مسجد سي هغه تر قیامته پوري مسجد دئ د دې حکم د ثبوت له پاره ضروري ده چي پر کومه ځکه چي لومړی ځل مسجد جوړ سوی وي یا هغه د ځمکي مالک چي دغه ځکه یې د مسجد له پاره وقف کړی وي د خپلو حقوقو څخه یې بېخي بېله کړی نو داسي مسجد چي پر غیر موقوفه ځکه جوړ سوی وي د هغه له پاره دا حکم نه ثابتیږي، البته د مجبورۍ له امله پر داسي ځکه مسجد جوړول او په هغه کي لمونځ کول جمعه او جماعت قائمول ټول دا جر او ثواب باعث دي، مګر احکام هغه وخت جاري کیږي چي کله هغه ځکه د مسجد له پاره وقف وي د مشروطي اجازې په صورت کي د مسجد احکام وربادي جاري کیږي. (کفایت المفتی: ۷/ ٤۷، کتاب الوقف). والله تعالیٰ اعلم.

د مسجد له پاره د کافر چنده قبلول

سوال: ایا د مسلمان له پاره په مسجد، مدرسه او مذهبی جلسو کي د کافر چنده قبلول روا دي؟

الجواب: په فتاوی رحمیه کي راځي:

دمسجد او مدرسي عمارت ته که نقصان ورسيږي نو دامداد اخيستلو گنجائش سته. (فتاوى رحيمه:۲/ ۱۵۷).

په فتاوى محموديه کي راځي:

که چيري دوى په اند مسجد جوړول عبادت او ثواب وي او کوم بل ځنډ موجود نه وي نو د دوى روپى د مسجد په تعمير کي لگول په شريعت کي درست دي په آيت کي د عمارت ځخه مراد د مسجد آبادي توليت او انتظام دئ. (فتاوى محموديه:۱/ ٤٨٧).

په عمدة القاري کي راځي:

ومن فوائد هذا الحديث جواز الاستعانة بأهل الصنعة فيما يشمل المسلمين نفعه... (عمدة القارى:۳/ ٤٧٨).

دعبارت خلاصه دا ده چي که چيري کوم کافر په مسجد، مدرسه يا کوم بل ديني کار کي چنده ورکړي او د ثواب نيت ولري او عبادت يې وگڼي نو په شريعت کي يې قبلول او استعمالول درست دي په دې شرط چي د فتنى ويره نه وي او احسان يې ونه گڼى. والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د ورک شى د اعلان حکم

سوال: د ورک شى له پاره په مسجد کي اعلان ځنگه دئ؟

الجواب: د ورک شى اعلان په مسجد کي روا نه دئ.

په ترمذي شريف کي راځي:

"عن أبي هريرة ﷺ أن رسول الله ﷺ قال: إذا رأيتم من ينشد ضالة فقولوا: لاردها الله عليک". (رواه الترمذى، رقم:۱۳۲۱، وقال حسن غريب، وابن السنى، رقم:۱۵۳، والحاكم، رقم:۲۳۳۹، وقال: صحيح على شرط مسلم، ووافقه الذهبى، و والبيهقى،رقم:٤١٤٢).

په درمختار کي راځي:

(ویکره إلی قوله وإنشاد ضالة) هی الشیء الضائع وإنشادها السوال عنها وفی حدیث إذا رأیتم من ینشد ضالة فی المسجد فقولوا: لاردها الله علیک. (الدر المختار: ۱/ ۶۶۰).

په حاشیه طحطاوي علی الدر المختار کي راځي:

(ویکره إنشاد ضالة) لقوله علیه السلام فذکر الحدیث المتقدم.

(حاشیة الطحطاوی: ۱/ ۲۷۸).

په آپ کی مسائل اور ان کا حل کي راځي:

په مسجد کي د ورک شی د تلاش له پاره اعلان روا نه دئ په حدیث شریف کي یې سخت ممانعت راغلی دئ، البته د ورک سوي کوچنی له پاره اعلان د انساني اهمیت له امله روا دئ او کوم شی چي په مسجد کي وموندل سي د هغه اعلان روا دئ، د جنازي د لمانځه اعلان هم روا دئ له دي پرته نور اعلانونه روا نه دي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ۲/ ۱۴۴).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ذکر الفقیه فی التنبیه حرمة المسجد خمسة عشر فقال: الخامس أن لایطلب الضالة فیه.

(الفتاوی الهندیة: ۵/ ۳۲۱).

له یادو عبارتونو څخه معلومیږي چي د ورک شی اعلان مکروه دئ په آپ کی مسائل اور ان کا حل کي د عدم جواز قول دئ او د شامي او طحطاوی مطابق مکروه دي او په دواړو کي کوم تعارض نه سته ځکه د مکروه تحریمی او ناجائز یو مطلب دئ. والله ﷻ اعلم.

د قرباني د پوست د پیسو په مسجد کي د لګولو حکم

سوال: که یې د قرباني د حیوان پوست خرڅ کړ او د صدقې په نیت یې خرڅ کړ نو هغه پیسې په مسجد کي مصرفیدای سي او که نه؟

الجواب: د قرباني د حیوان پوست خرڅول او پیسې یې په مسجد کي د صدقې په نیت ورکول روا نه دي ځکه هغه د زکوة حکم لري او په زکوة کي د فقیر تملیک ضروري دئ او مسجد په خپله فقیر نه دئ.

په درمختار کي راځي:

فإن بيع اللحم أو الجلد به أي بمستهلك أو بدراهم تصدق بثمنه. (الدر المختار كتاب الاضحية، ص:٣٢٦، سعيد).

(كتاب الهبة: والصدقة كالهبة لاتصح غير مقبوضة). باب المصرف للزكاة وجازت التطوعات من الصدقات و غلة الأوقاف لهم. (الدر المختار، باب المصرف:٢/ ٣٥١، سعيد).

له دغو عبارتونو څخه معلومیږي چي د قرباني د پوست د قیمت صدقه کول واجب دي او په هغه کي تملیک هم ضروري دئ ځکه دا د زکوة په شان دي لهذا د قرباني د پوست قیمت په مسجد کي لګول درست نه دي.

ځینی افغاني علماء فرمایي:

چي د ثمن خیراتول یې هغه وخت واجب دي چي د مال راسته راوړلو په نیت یې خرڅ کړي نو په هغه کي خبث او خرابي راځي خو که یې د صدقې په نیت خرڅ کړي نو په هغه کي څه خرابي نه سته، البته د صدقې د نیت له امله یې واجب التملیک ګڼي همدارنګه هغه حضرات فرمایي، چي دغه پیسې د زکوة او سرسایې په ډول نه وي بلکي دا د غوښو بدل دئ او په غوښو کي تملیک ضروري نه دئ بلکي غوښي په خپله هم خوړلای سي او بل چا ته یې هم ورکولای سي په منی کي یې په مخکینو زمانو کي تر ذبح کولو وروسته څه غوښه اخیسته او پاته یې پرېښودل چي دغه یقیناً تملیک نه دئ او ډېر وخت په دغه طریقه عمل کېدئ مرغانو او سپو به غوښي خوړي یا به ورستی سوي نو دا باید د زکوة په شان نه سي، البته فقهاء یې له دې امله واجب التملیک ګرځوي چي د خرید او فروخت او تجارت دروازه یې خلاصه نه سي او د تمول ذریعه یې ونه ګرځوي.

غرض دا چي دغه پیسې د نذر او زکوة په شان نه دئ، دغه پیسې واجب التصدق لغیره دي ځکه نو د مسجد په مصرفولو کي یې څه باک نه سته د دې له پاره نظیر دا دئ که یو څوک د سهار او مازدیګر د لمانځه څخه وروسته نذر سوی لمونځ وکړي او یا د طواف دوه رکعتونه وکړي نو دا مکروه دي، حال دا چي واجبات د سهار او مازدیګر څخه وروسته اداء کېدای سي ځکه دغه واجب لغیره دي

یعنی وجوب یې د بنده پر فعل موقوف دئ، د نفلو په حکم کي دئ وجوب یې عارضي دئ کما فی
(الدر والطحطاوي:۱/ ۱۸۱).

یا نفل فاسد کړي او د ماز دیګر او سهار څخه وروسته یې اداء کوي نو دا مکروه دي معلومه سوه
چي عارضی وجوب د اصلي نفلو په حکم کي دئ دلته هم د قرباني غوښي او پوست د اصل په
اعتبار واجب التملیک نه دئ بلکي د نفلي صدقاتو په شان دئ غنی ته یې هم ور کولای سي.
البته د خرڅولو وروسته په هغه کي په عارضي توګه د تملیک وجوب د ده د فاسد نیت له امله
پیدا سو، لهذا چي کله فاسد نیت نه وي بلکي د صدقې په نیت یې خرڅوي نو د اصل په اعتبار
څنګه چي دغه نفلي صدقه ده، لهذا په مسجد کي یې مصرفولای سي په ظاهره د افغاني علماؤ خبره
باریکه ده او د دوی د علاقي په لحاظ د استحسان للضرورة په درجه کي هم ده. مګر څنګه چي زموږ د
دیوبند د اکابرینو مسلک د فقهي د کتابونو د ظاهر سره برابر دئ لهذا د عاجزه بنده په خیال که چیري د
قرباني خاوند د پوست د خرڅولو مخکي ټول پوست مسجد ته ورکړي او د مسجد متولي هغه خرڅ
کړي نو بیا یې قیمت پر مسجد مصرفیدای سي او مسجد د پوست مالک ګرځیدای سي او دا وقف
هم نه دئ، لهذا د مسجد او مدرسي پر نورو ضروریاتو یې مصرفولای سي.
وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

ولو قال وهبت داری للمسجد او اعطیتها له صح ویکون تملیکاً فیشترط التسلیم کما
لوقال وقفت هذه المأة للمسجد یصح بطرق التملیک اذا سلمه للقیم كذا في الفتاوى العتابية.
(الفتاوى الهندية:۲/ ٤٦٠).

په فتاوی شامي کي راځي:

لوغرس شجرة للمسجد فثمر تها للمسجد. (شامی:۱/ ٦٦١، سعید).

همدارنګه د حضرت مولانا عتیق احمد قاسمی صاحب تحقیق هم همدغه دئ چي د قرباني د
پوستونو نوعیت له زکوة او واجبو صدقاتو څخه بالکل مختلف دئ ځکه د زکوة تعریف وربانديي نه
صادقیږي لامل یې دا دئ چي د قرباني پوست نه د نصاب جزء دئ او نه یې فقیر ته ور کول ضرودي

دي بلکي په خپله يې هم استعمالولای سي يوازي قيمت يې په خپله مصرفول منع دي بيا په هغه کي د هاشمي او غير هاشمي قيد نه ستته ، همدارنګه د صدقه کولو باوجود له هغه څخه نفع اخيستلای سي يعنی يوه مسجد ته له وقف کولو وروسته پر هغه په خپله هم لمونځ کولای سي.

(ملحض از زکوة اور مسئله تمليک مولانا عتيق احمد صاحب استاذ دار العلوم ندوة العلماء لکهنو،ص:۱۵۱ - ۱۵۵).

همدارنګه ځيني علماء په واجبه صدقه او واجب التصدق کي هم فرق کوي او وايي، چي په صدقه واجبه لکه زکوة او صدقه الفطر کي تمليک ضروري دئ خو په واجب التصدق کي د فقير تمليک ضروري نه دئ بلکي يوازي له خپل ملکيت څخه ايستل يې ضروري دي چي په مسجد کي ورکولو سره پوره کيږي ځکه نو شامي هغه پيسې چي غنی کس د لقطي په توګه موندلی وي د مړي په کفن او دفن کي مصرفول جائز بللی دي، ځکه دغه پيسې واجب التصدق دي، صدقه واجبه نه ده. (شامی:۲/ ۳۳۸).

همدارنګه حضرت تهانوی پر قبر د لګېدلو هغو ډبرو په هکله چي مالک يې معلوم نه وي ليکي: چي هغه د لقطي په حکم کي دي او د لقطی حکم دا دئ چي په يوه نيک کار کي دي ولګول سي.

(امداد الفتاوی:۲/ ۵۸۷، په حواله د فتاوی عثمانی:۳/ ۱۳۲).

څنګه چي دغه پيسې هم بېله خبثه واجب التصدق دي نو په مسجد کي مصرفول به يې روا وي. د يادي مسئلي نور تفصيلات او دلائل په کتاب الاضحيه کي ذکر کيږي ان شاء الله تعالی. والله ﷻ اعلم.

په شرعي حيله د زکوة پيسې په مسجد کي د لګولو حکم

سوال: ايا د زکوة پيسې په مسجد کي په شرعي حيله مصرفولای سي او که نه؟

الجواب: د سخت ضرورت په وخت کي د زکوة روپۍ په شرعي حيله سره د مسجد وغيره په تعمير کي لګولای سي خو په عامه توګه څنګه چي د دغه ضرورت نه وي، لهذا مسجد بايد يوازي د صدقې په پيسو جوړ سي بېله ضرورته حيلی او تدبيرونه بايد اختيار نه کړل سي.

په فتاوی هنديه کي راځي:

وكذلك من عليه الزكاة لو أراد صرفها إلى بناء المسجد أو القنطرة لايجوز، فإن أراد الحيلة فالحيلة: أن يتصدق به المتولي على الفقراء ثم الفقراء يدفعونه إلى المتولي ثم المتولي يصرف إلى ذلك كذا في الذخيرة. (الفتاوى الهندية:۲/ ۴۷۳).

په درمختار کې راځي:

وحيلة التكفين بها التصدق على الفقير ثم هو يكفن فيكون الثواب لهما، وكذا في تعمير المسجد ... الخ.

په ردمحتار کې راځي:

(قوله وكذا) الإشارة إلى الحيلة. (الدرالمختار مع ردالمحتار:۲/ ۲۷۱، سعيد).

په كفايت المفتي کې راځي:

د سخت ضرورت په حالت کې دارنګه حیله کول د زکوة پیسې په مسجد کې مصرفول روا دي چې یوه مستحق ته د زکوة پیسې د ملکیت په توګه ورکول سي او هغه يې قبض کړي د خپله طرفه يې په مسجد کې ولګوي یا يې په کوم بل کار کې مصرف کړي چې په هغه کې په خپله زکوة نه سي مصرفیدای. (الكفايت المفتى:۴/ ۳۰۵).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

که یو څوک حیلې کولو ته مجبور وي او ده د زکوة مستحق بیله څه ویلو مالک او مختار جوړ کړ بیا يې هغه ته د خیر په کار کې د لګولو ترغیب ورکړ او هغه يې په خوشحالی خبره ومنله نو زکوة يې اداء کیږي. (فتاوى رحيمه:۲/ ۸). والله ﷻ اعلم.

د کعبې شریفې ډبرې د تبرک په توګه راوړل

سوال: د کعبې تعمیر شروع دئ د تبرک په توګه يې ډبرې را وړل ردست دي او که نه؟ او د سعودي حکومت يې هم په ظاهره په وړلو خوشحاله نه دئ ایا دغه ډبرې وقف دي او که نه؟

الجواب: د حرم ډبري او د حرم خاوره د حرم څخه دباندي وړل درست دي. البته د کعبې شريفي څخه د تبرک په توګه ډبري راوړل درستي نه دي ځکه دا وېره ستة چي جاهلان به يې پر نړولو او وړلو حمله وکړي چي له هغه څخه د بيت الله شريفي تعمير ته د سخت نقصان رسېدو وېره ستة علاوه له دې څخه هغه د وقف مال دئ او د واقف (حکومت) له اجازې پرته يې اخيستل شرعا صحيح نه دي ځکه چي اوس د کعبې د مرمت او يا د حرم د مرمت کار کيږي او د هغې ډبرې حکومت غورځوي د دوی په کار نه ورځي لهذا په وړلو کي يې څه باک نه ستة.

غرض دا چي له وړلو څخه يې تعمير ته کوم نقصان نه رسيږي او حکومت يې د تبرکاتو له امله منع کوي ځکه نو په وړلو کي يې څه مشکل نه ستة.

په فتاوی شامي کي راځي:

(تنبيه) لا بأس بإخراج التراب والأحجار التي في الحرم، وكذا قيل في تراب البيت المعظم إذا كان قدراً يسيراً للتبرك به بحيث لا تفون به عمارة المكان كذا في الظهيرية. وصوب ابن وهبان المنع عن تراب البيت لئلا يتسلط عليه الجهال فيفضي إلى خراب البيت والعياذ بالله تعالى، لأن القليل من الكثير كثير كذا في معين المفتي للمصنف. (فتاوى الشامي:٢/ ٦٢٦، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولابأس بإخراج حجارة الحرم وترابه إلى الحل عندنا وكذا إدخال تراب الحل إلى الحرم... ولايجوز أخذ شيء من طيب الكعبة لا للتبرك ولا لغيره ومن أخذ شيئاً منه لزمه رده إليها فإن أراد التبرك أتى بطيب من عنده فمسحه بها ثم أخذه كذا فى السراج الوهاج.

(الفتاوى الهندية:١/ ٢٦٤). والله ﷻ اعلم.

د مسجد یا مدرسي اوبه کور ته وړل

سوال: د مسجد او یا مدرسي اوبه کور ته وړل څه حکم لري په احسن الفتاوی کي یې ناروا بللی دي؟

الجواب: د مسجد او یا مدرسي اوبه هغه وخت و کور ته د وړلو اجازه سته چې کله وقف کونکو د عامي استفادي له پاره لګولی وي او د محلي خلکو ته یې د اوبو وړلو اجازه کړي وي او که وقف کونکو د مسجد له پاره ځانګړي کړي وي نو وړل یې درست نه دي په عامه توکه د مسجدونو له ځاهانو څخه خلک اوبه وړي او واقفین یې نیت کوي همدارنګه چې د دباندي څخه راوړل کیږي په هغه کي هم د ضرورت په اندازه د وړلو اجازه وي.

په احسن الفتاوی کي راځي:

غسل خانه که د مسجد په حدودو کي وي نو د عامو خلکو له پاره یې استعمال روا نه دئ یوازي امام، مؤذن او د مسجد د خدمت اړوند افراد یې استعمالولای سي او که د ضروریاتو د مسجد له پاره د مځکي د پوره وقف کولو څخه وړاندي د عام استعمال له پاره جوړه سوی وي نو د هر کس له پاره د اوبو وړلو اجازه سته په دې شرط چې د مسجد تلویث رانه سي او لمونځ کونکو ته تشویش او تکلیف نه سي. (احسن الفتاوی :٦/ ٤٤٧).

په فتاوی رحمیمه کي راځي:

د ټانکۍ اوبه د مسجد له پاره ځانګړي وي د محلي خلکو ته اوبو وړلو اجازه ورکول صحیح نه ده د جګړي سبب هم کیږي. (فتاوی رحیمیه:٦/ ٩).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

که په مسجد کي ځاه یا نل لګېدلی وي نو د دغه ځاه اوبه یوازي لمونځ کونکي د اوداسه له پاره استعمالولای سي او که یې د محلی نور کسانْ هم د خپلو ضروریاتو له پاره استعمالولای سي د داسي ځاه اوبه د لمانځه څخه علاوه په نورو کاور کي مصرفول هم درست دي خو احتیاط ضروري دئ یعنی هغه ځاه که د مسجد پر فرش وي نو باید د مسجد فرش چټل نه سي، همدارنګه د مسجد سلواغه او رسی استعمالول درست نه دي که سلواغه او رسی ورکونکو عامه اجازه کړي وي نو درست دي او د مسجد نل دي دومره زیات او په زور سره نه استعمالوي چې ژر خراب سي، او که یې د

مسجد په پیسو لګولی وي نو د لمانځه د ضروریاتو پرته دي هغه نه استعمالوي. (فتاوی محمودیه: ٦/ ١٦٠).

همدارنګه یو ځای لیکي له دغه نل څخه د محلي کسان اوبه وړلای سي مګر هغه دي په احتیاط استعمال کړي که خراب سي دوی یې باید جوړ کړي داسي نه چي اوبه د محلي کسان وړي او مرمت یې د مسجد پر ذمه وي. (فتاوی محمودیه: ١٥/ ١٧٨).

په امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: د مسجد متولی صاحب د مسجد څاه د احتیاط او طهارت له امله د لمونځ کونکو له پاره ځانګړی کوي د محلي عامو کسانو ته یې خپل کور ته د وړلو اجازه نه ورکوي عوام چي داوبو له پاره لوښی راوړي هغه ورماتوي شرعي حکم یې راته وښایاست؟

جواب: د مسجد د پاکي له پاره یې منع کول روا دي چي کله نږدې کوم دوهم څاه یا داوبو داسي نظم وي چي په هغه سره د عوامو حاجت پوره کړل سي او که چیري دوهم څاه یا داوبو نظم نه ؤ نو منع کول یې حرام دي او لوښی ماتول یې ظلم او حرام دئ. (امداد الفتاوی: ٢/ ٧١٥).

په بزازیه کي راځي:

وحمل ماء السقاية إلى أهله إن كان ماذوناً للحمل يجوز وإلا فلا. (الفتاوی البزازية: ٦/ ٣٧٢).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ويجوز أن يحمل ماء السقاية إلى بيته ليشرب أهله كذا في قاضي خان. (الفتاوی الهندية: ٣/ ٣٠٦). والله ﷻ اعلم.

د چندي په پیسو د هیټر یا ګرمو اوبو انتظام کول

سوال: که په مسجد کي ډېر یخ وي نو د وقف په پیسو د مسجد د ګرمولو له پاره د هیټر او یا ګرمو اوبو انتظام وکړل سي درست دي او که نه؟

الجواب: په فتاوی قاضی خان کي راځي:

مسجد له میستغلات واوقاف اراد المتولی ان یشتری من غلة الوقف للمسجد دهنا او حصیراً او حشیشاً او اجراً وجصاً لفرش المسجد او حصی قالوا ان وسع الواقف ذلک للقیم وقال تفعل ماتری من مصلحة المسجد کان له ان یشتری للمسجد ماشاء. وان لم یوسع ذلک ولکنه وقف لبناء المسجد وعمارة المسجد لیس للقیم ان یشتری ما ذکرنا لان هذا لیس من العمارة ولامن البناء وان لم یعرف شرط الواقف فی ذلک ینظر هذا القیم الی من کان قبله فان کانوا یشترون من اوقاف المسجد الدهن والحصیر والحشیش والا جرما ذکرنا کان للقیم ان یفعل ذلک والا فلا. (فتاوی قاضی خان:۳/ ۲۹۷).

په فتاوی هندیه کي راځي:

والأصح ما قال الامام ظهیر الدین ان الوقف علی عمارة المسجد وعلی مصالح المسجد سواء کذا فی فتح القدیر. (الفتاوی الهندیة:۲/ ٤٦٢).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

سوال: د مسجد په پیسو که سکاره رانیول سي او د سهار اوبه په ګرمي سي په دغو اوبو اودس کول څنګه دي؟

جواب: که د وقف روپۍ د سکرو له پاره وي او په وقف نامه کي یې اجازه معلومه وي نو روا ده او که نه نه ده. (الفتاوی رحیمه:۲/ ٢٤٧).

له یادو عبارتونو څخه معلومه سوه چي کوم شیان چي د مسجد په مصالحو کي داخل وي د مسجد د چندي پیسې وربانديي مصرفول روا دي البته که یې د چندي ورکولو په وخت کي دا په ډاګه کړه چي دغه پیسې به یوازي پر عمارت او د مسجد پر بنا لګوي نو د ځینو حضراتو په اند هغه په نورو مصارفو کي لګول روا نه دي خو اصح قول دا دئ چي وقف علی عمارة المسجد او وقف علی

مصالح المسجد دواړه په حکم کي برابر او یو شان دي یعنی دیوه پیسې به پر بل مصرفول روا دي لکه چي په فتاوی هندیه کي د فتح القدیر په حواله ذکر سوي دي. والله ﷻ اعلم.

د امام یا استاذ د متولي جوړیدو حکم

سوال: هغه امام یا استاذ چي له فنډ څخه تنخواه اخلي هغه د مسجد متولي کېدای سي او که نه؟

الجواب: هر هغه څوک د مسجد متولي جوړېدای سي چي دیندار او امانت دار او د وقف له مسائلو څخه خبر وي او دغه صفات په عامه توګه د مساجدو په امامانو کي په پوره توګه پیدا کیږي پاته سوه دا مسئله چي هغه امام د مسجد له فنډ څخه تنخواه اخلي نو د مسجد له فنډ څخه تنخواه اخیستل د مسجد د متولي جوړیدو څخه مانع نه ده ځکه له هغه څخه د امامت او درس تنخواه ورکول کیږي نه د مسجد د متولي کېدو او که بالفرض یو څوک مفت متولي کېدو ته تیار نه وي نو هر څوک چي صحیح خدمت کوي د هغه له پاره مناسبه تنخواه ایښودل به درست وي که څه هم د مسجد امام وي.

په فتاوی هندیه کي راځي:

سئل الفقیه ابو القاسم عن قیم مسجد جعله القاضی قیما علی غلاتها وجعل له شیئاً معلوماً یأخذ کل سنة حل له الإخذ ان کان مقدار اجر مثله کذا فی المحیط. (فتاوی هندیة: ۲/ ٤٦١).

همدارنګه د استاذ یا امام له پاره دمتولي نه جوړید وجه څه ده چي کله یو عام دنیاداء ره فاجر کسان متولي جوړیدای سي نو د امام او استاذ د متولي جوړېدو سوال عجیبه معلومیږي. والله ﷻ اعلم.

لوړ منزل په کرایه ورکول او لاندي وقف کول

سوال: زما دوکان دوه منزله دئ لوړ منزل چي په کرایه ورکړی دئ خلک پکښې اوسیږي په هغه کي بیت الخلاء او د کور ټول لوازمات دي په هغه کي تې وي هم دئ نو زما له پاره روا ده چي زه لاندي منزل د مسجد له پاره وقف کړم او لوړ منزل پر خپل حالت پاته سي ایا دغه وقف صحیح کیږي؟

الجواب: په دغه صورت کي دلاندي منزل وقف صحیح نه دئ حضرت محمد شفیع صاحب فرمایي که چیري یې مسجد دارنګه جوړ کړی وي چي لاندي یې دوکانونه یا زیر خانه وي پر چت یې

د مسجد غولی یا د مسجد کوم عمارت وي نو په دې شرط روا دئ چې لاندي دوکانونه د مسجد په شان وقف سي او د هغو ګټه د مسجد په کارونو کي مصرف سي او دارنګه دا هم روا ده چې د مسجد پر چت یو مکان د مسجد د مصلحتونو له پاره جوړ سي په دغو دواړو صورتونو کي مسجد ته څه خلل نه رسیږي. (جواهر الفقه:۳/ ۱۲۳).

په درمختار کي راځي:

وإذا جعل تحته سرداباً لمصالحه أي المسجد جاز كمسجد القدس ولو جعل لغيرها أو جعل فوقه بيتاً وجعل باب المسجد إلى طريق وعزله عن ملكه لا يكون مسجداً وله بيعه يورث عنه.

وفي ردالمحتار: ظاهره أنه لا فرق أن يكون البيت للمسجد أو لا إلا أنه يؤخذ من التعليل أن محل عدم كونه مسجداً فيما إذا لم يكن وقفاً على مصالح المسجد وبه صرح في الإسعاف فقال: وإذا كان السرداب أو العلو لمصالح المسجد أو كانا وقفاً عليه صار مسجدا. وقال في البحر وحاصله ان شرط كونه مسجداً ان يكون سفله وعلوه مسجداً لينقطع حق العبد عن لقوله تعالى ﴿ وأن المساجد لله ﴾. (الدرالمختار مع ردالمحتار:٤/ ٣٥٧).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ومن جعل مسجداً تحته سرداب او فوقه بيت وجعل باب المسجد الى الطريق وعزله فله ان يبيعه وان مات يورث عنه ولو كان السرداب لمصالح المسجد جاز كما فى مسجد بيت المقدس كذا فى الهدايه. (الفتاوى الهندية:٢/ ٤٥٥).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په کوم ځای کي چې مسجد جوړ سوی وي هغه کښته او لوړ ټول مسجد وي هلته کوم داسي کار چې د مسجد له احترام څخه خلاف وي منع دئ د مسجد په لاندي برخه او یا لوړه برخه کي باید د بنده

حق اړوند نه وي... وكره تحريماً الوضوء فوقه والبول والتغوط لانه مسجد الى عنان السماء. (درمختار)...قوله الى عنان السماء بفتح العين وكذا الى تحت الثرى ولوجعل تحته سردابا لمصالحه جاز. (فتاوى الشامى:١/ ٦٥٦، سعيد).

په احسن الفتاوى كي راځي:

قال فى التنوير وإذا جعل تحته سردابا لمصالحه اى المسجد جاز كمسجد القدس (ردالمحتار) وقال الرافعى: (قول المصنف لمصالحه) ليس بقيد بل الحكم كذلک اذا كان ينتفع به عامة المسلمين على ما افاده فى غاية البيان حيث قال: ارود الفقيه ابو الليث سوالاً وجواباً فقال: فان قيل: أليس مسجد بيت المقدس تحته مجتمع الماء والناس ينتفعون به قيل: إذا كان تحته شئى ينتفع به عامة المسلمين يجوز لانه اذا انتفع به عامتهم صار ذالک لله تعالى أيضاً. (احسن الفتاوى:٦/ ٤٤٣). والله تعالى اعلم.

د مسجد د ځپليو دبي په كرايه وركول

سوال: په مسجدونو كي يې د ځپليو له پاره الماري وغيره ايښي وي په كرايه يې اخيستل روا دي او كه نه؟ كه چيري وقف وي نو د ټولو له پاره برابري دي؟

الجواب: په فتاوى محموديه كي راځي:

هغه كوټه كه چيري د امام د اوسېدو او درس وركولو له پاره جوړه سوى وي نو په كرايه يې وركول درسته نه ده او كه د كرايي له پاره جوړه سوى وي نو په كرايه وركول يې او كرايه اخيستل يې درست دي. (فتاوى محموديه:١١/ ٣١٨).

په فتاوى بزازيه كي راځي:

واذا آجر الموقوف عليه الوقف ان كان كل الاجر له بأن لم يكن له شريک ولم يكن الوقف محتاجاً الى العمارة جاز فى الدورو الحوانيت. (بزازية:٦/ ٢٨٥).

په درمختار کې راځي:

ولم تزد في الأوقاف على ثلاث سنين في الضياع وعلى سنة في غيرها كما مر في بابه والحيلة أن يعقد عقوداً متفرقة كل عقد سنة بكذا، فيلزم العقد الأول لأنه ناجز لا الباقي لأنه مضاف وللمتولي فسخه خانية... (الدرالمختار: كتاب الإجارة).

په ردالمحتار کې راځي:

قال فى الاسعاف: ولو استثنى فى كتاب وقفه فقال لا تؤجر أكثر من سنة إلا إذا كان أنفع للفقراء فحيئنذ يجوزا يجارها إذا رأى ذلك خيرا من غير رفع الى القاضى للاذن له منه فيه... والظاهرانه لو أذن فى ذلك للمتولى صح فافهم. (ردالمحتار:٦/ ٧).

په ردالمحتار په دوهم ځای کې دي:

(قوله فلم يزد القيم الخ) يعنى اذا شرط الواقف أن لا يؤجر اكثر من سنة... وان لم يشترط الواقف فللقيم ذلك بلا اذن القاضى كما فى المنح عن الخانية... (قوله لفقير) اى فيما اذا كان الوقف على الفقراء، ومثله الوقف على المسجد. (ردالمحتار:٤/ ٤٠٠).

له دغو عبارتونو څخه معلوميږي چې دغه كار درست دئ ځكه هغه الماري د دې له پاره جوړې سوې دي چې لمونځ كونكو ته به يې كرايه وركوي او د وقف شيان په كرايه وركول روا دي كه څه هم د تولو حق وي ځكه د كرايې پيسې پر وقف مصرفيږي. والله ﷻ اعلم.

د مسجد د وقف سوي جائداد د خرڅولو حكم

سوال: د مسجد څو جائدادونه د مسجد له پاره وقف سوي دي د مسجد د مسئولينو څخه يو چا څه برخه د نورو له اجازې پرته خرڅه كړه د شريعت له نظره يې حكم څه دئ بيان يې كړئ؟

الجواب: هغه مځكه چې د مسجد له پاره وقف سوې وي د خرڅولو اختيار يې چا ته نه سته دغه مسئول داسې كار كړى دئ چې د شريعت له نظره روا نه دئ.

وګورئ په بخاري شريف كې راځي:

"عن ابن عمر رضي الله عنهما أن عمر رضي الله عنه تصدق بمال له على عهد رسول الله ﷺ، وكان يقال له ثمغ، وكان نخلاً فقال عمر رضي الله عنه يا رسول الله إني استفدت مالاً وهو عندي نفيسفأردت أن أتصدق به فقال النبي ﷺ تصدق بأصله لا يباع، ولا يوهب، ولا يورث ولكن ينفق ثمره. الخ". (رواه البخاري:١/ ٣٨٧/ ٢٦٨٣).

وفي لهداية: قال وإذا صح الوقف لم يجز بيعه ولا تمليكه الخ. (الهداية:٢/ ٦٤٠).

وفي الشامي: فإذا تم ولزم لايملك ولايملك ولايعار ولا يرهن قوله لايملك اي لايكون مملو كاً لصاحبه ولايملك اي لايقبل التمليك لغيره بالبيع ونحوه لاستحالة تمليک الخارج عن ملكه. (فتاوى الشامي:٤/ ٣٥١).

وفي الفتاوى الهندية: وفي الفتاوى النسفية سئل عن اهل المحلة باعوا وقف المسجد لاجل عمارة المسجد قال لايجوز بامر القاضي وغيره كذا في الذخيرة. (الفتاوى الهندية:٢/ ٤٦٣).

په فتاوى رحيميه كي راځي:

كه له وقف سوى مځكي ځخه لږ كټه هم تر لاسه كيداى سوه نو خرڅول يې په شريعت كي اجازه نه لري. (فتاوى رحيميه:٦/ ٧٣).

په امداد الفتاوى كي راځي:

كه هغه شى دغير منقول جائداد له جملي څخه وي چي دمسجد له پاره وقف سوي وي نو دهغه خرڅول روا نه دي. (امداد الفتاوى:٢/ ٧١٧).

په فتاوى محموديه كي راځي:

كوم مكان چي دمسجد له پاره وقف سوى وي دهغه دخرڅولو له پاره دسنى سينټرل وقف بورډ اجازه كافي نه وه دوقف سوى مكان دبيع حق نه سته دمتولى صاحب څخه به مطالبه كيږي چي

ولي یې خرڅ کړ دا خو د خرڅولو قابل نه دئ او بیع دي فسخ کړي د مځکي په شان دي مکان وقف وګرځوي.

په فتاوی محمودیه کي بل ځاي راځي :

کومه مځکه چي وقف کیږي د هغه مقصد دا دئ چي په خپله دغه مځکه پاته سي او د هغې ګټي دالله ﷻ په لاره کي مصرف سي هغه مځکه د تجارت له پاره نه ورکول کیږي لهذا د هغې خرڅول او زیاته ګټوره مځکه رانیول روا نه دي مګر دا چي له وقف سوی مځکي څخه ګټه ختمه سي نو حکم یې بل دئ د هغه په عوض کي بله مځکه اخیستل او د هغه پر ځاي یې وقف کول درست دي. (فتاوی محمودیه: ۱۵/ ۱۷۵).

له یادو فقهي عبارتونو څخه دا خبره روښانه کیږي چي د مسجد د وقف سوي جائداد خرڅول په هیڅ طریقه شرعاً درست نه دي که ټول مسئولین اجازه ورکړي یا اجازه ورنه کړي په پورتني صورت کي چي یې مځکه خرڅه کړي ده بیا یې هم خریدار مالک نه دئ بیرته دي یې واپس کړي او د مسجد له پاره دي هغه وقف کړي که یې قانوناً واپسي ممکنه نه وي نو په دغو پیسو دي د مسجد له پاره بل ځاي رانیسي او هغه دي د مسجد په مصالحو کي مصرف کړي. والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي پر چت کوټه او لاندي د بیت الخلاء جوړولو حکم

سوال: د مسجد په لوړه برخه کي د امام او مؤذن له پاره کوټه او په لاندي برخه کي بیت الخلاء جوړول روا دي او که نه؟ ایا دغه به د مسجد تابع او په هغه حکم کي وي او که نه؟

الجواب: د مسجد د لومړني جوړښت په وخت کي که د مسجد جوړونکی دا نیت ولري چي په لوړه برخه کي به یې د امام او مؤذن له پاره کوټي او په لاندي برخه کي به د عوامو د ګټي له پاره بیت الخلاء جوړ وي نو د هغه ګنجائش سته او دغه به له شرعي مسجد څخه خارج وي خو چي کله یو ځل مسجد جوړ سو او د لومړني تعمیر په وخت کي یې دا شیان شامل نه کړل نو د مسجد لوړه برخه تر اسمانه او لاندي برخه یې تر تحت الثری پوري د مسجد تابع ده او د هغه په حکم کي ده او س یې کومه برخه له مسجد څخه نه ایستل کیږي او نه پر دغه ځاي کوټي وغیره جوړول درست دي بلکي د دغه ځاي احترام د مسجد په شان دئ.

په درمختار مع ردالمحتار کي راځي:

"(وإذا جعل تحته سرداباً لمصالحه) أي المسجد جاز كمسجد القدس (فرغ) لو بنى فوقه بيتاً للامام لايضر لانه من المصالح اما لوتمت المسجدية ثم اردا البناء منع (قوله اما لوتمت المسجدية) اى بالقول على المفتى به او بالصلاة فيه على قولها وعبارة التتارخانية وان كان حين بناه خلى بينه وبين الناس ثم جاء بعد ذلک يبنى لايترک". (الدر مع ردالمحتار: ٤/ ٣٥٧- ٣٥٨).

وفيها أيضاً فى كتاب الصلاة تحت أحكام المسجد:

وكره تحريماً الوطىء فوقه والبول والتغوط لانه مسجد إلى عنان السماء.

(قوله الى عنان السماء) وكذا إلى تحت الثرى كما فى البيرى عن الاسبيجانى، بقى لو جعل الواقف تحته بيتاً للخلاء هل يجوز كما فى مسجد محلة الشحم فى دمشق؟ لم اره صريحاً نعم سيأتى متناً فى كتاب الوقف انه لو جعل تحته سردابا بالمصالحة جاز تأمل".

(الدر مع ردالمحتار: ١/ ٦٥٦).

په تقريرات رافعی کي راځي:

(قوله لم أره صريحاً نعم سيأتى متناً الخ) الظاهر عدم الجواز وما يأتى متناً لايفيد الجواز لان بيت الخلاء ليس من مصالحه على ان الظاهر عدم صحة جعله مسجداً بجعل بيت الخلاء تحته كما يأتى انه لو جعل سقاية اسفله لايكون مسجداً فكذا بيت الخلاء لانهما ليسا من المصالح تأمل ثم رأيت فى غاية البيان ما يفيد الجواز كما يأتى نقل عبارتها فى كتاب الوقف من احكام المسجد. (تقريرات الرافعى: ١/ ٨٥).

وفی کتاب الوقف.

"قال اورد الفقیه ابو اللیث سؤالاً وجواباً فقال فان قیل الیس مسجد بیت المقدس تحته مجتمع الماء والناس ینتفعون به قیل اذا کان تحته شئی ینتفع به عامة المسلمین یجوز لانه اذا انتفع به عامتهم صار ذلک لله تعالی ایضاً. یعلم حکم کثیر من مساجد مصر التی تحتها صهاریج ونحوها". (تقریرات الرافعی:٤/ ٨٠، کتاب الوقف، سعید).

نوروګورئ: (جواهر الفقه، ٣: ١٢٣ - ١٢٤، وفتاوی رحیمیه:٩/ ٩٣،ط: کراچی). والله ﷻ اعلم.

د مسجد او مدرسي د متولی له پاره ضروري صفات

سوال: د مسجد او مدرسي متولي باید څنګه کس وي؟

الجواب: په فتاوی هندیه کي راځي:

"الصالح للنظر من لم یسال الولایة للوقف ولیس فیه فسق یعرف هکذا فی فتح القدیر وفی الاسعاف: لا یولی إلا امین قادر بنفسه او بنائبه ویستوی فیه الذکر والانثی، ویشترط للصحة بلوغه وعقله کذا فی البحر الرائق". (الفتاوی الهندیة:٢/ ٤٠٨).

په فتاوی ابن تیمیه کي راځي:

"ولا یجوز تولیة الفاسق مع إمکان تولیة البر". (فتاوی ابن تیمیه:٢٣/ ٣٤١).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

متولي باید داسي کس وګرځیږي چي امین وي (خائن نه وي) دیندار وي بې دینه نه وي د وقف د انتظام اهلیت او له سره شوق ولري په پیل کي فاسق بې دینه کس متولي جوړول ګناه ده. (فتاوی محمودیه:١٢/ ٢٨٣).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

د مسجد متولي به باعمله عالم وي که عالم نه وي نو دين داره او مانت ساتونکی به وي هغه فاسق چې عالم نه وي متولی جوړول يې روا نه دي.

الله تعالی فرمايي: ﴿إنما يعمر مساجد الله من آمن بالله واليوم الآخر﴾. د دغه ايات په تفسير کې مولانا ابو الکلام ازاد ليکي دا حقيقت يې هم په ډاګه کړ چې د الله ﷻ د عبادت ځايونو د تولی حق متقی مسلمان ته سته هغه يې اباد ولای سي له دې دا خبره معلومه سوه چې فاسق او فاجر کس د مسجد متولي نسي کېدای ځکه د دواړو تر منځ کوم مناسبت نه سته بلکي متضادي خبري به جمع سي هغه دا چې مسجدونه د خدای پرستی ځايونه دي او متولي د خدای ﷻ د عبادت څخه ليري وي.

(فتاوی رحيميه:۳/ ۱٦٤ - ۱٦٦).

د کلام خلاصه دا ده چې متولی بايد باعمله عالم وي که داسي کس نه وي نو د روژې او لمانځه پابند به وي، امانت داره به وي د وقف له مسائلو به خبر وي ښه اخلاق به يې وي، شفقت لرونکی عادل د علماؤ تعظيم لرونکی به وي په چا کي چې دغه صفات زيات وي هغه بايد متولي وګرځول سي.
والله ﷻ اعلم.

د مسجد له چندي څخه د مدرسي او مدرسينو تنخواه ورکول

سوال: څه فرمايي علماء کرام په دغه مسئله کي چې زموږ په ځای ويندا کي له هر دوکان څخه هره مياشت سل روپۍ د مسجد په نامه جمع کيږي نو ايا له دغو پيسو څخه د مدرسي د استاذانو تنخواه ورکول کېدای سي شرعي حکم يې بيان کړئ؟

الجواب: کومي پيسې چې د مسجد له پاره جمع کيږي له هغه څخه د مدرسي د مدرسينو تنخواه ورکول صحيح نه ده البته له کومو کسانو څخه چې چنده اخيستل کيږي هغو ته دي يو ليک ورولېږي چې ستاسو چنده به له مسجد څخه علاوه پر مدرسه او مدرسينو هم مصرفيږي که پر دغه دوی دستخط وکړي يا له دوی سره خبري وسي يا په مسجد کي اعلان وسي بيا دغه پيسې له مسجد څخه علاوه پر مدرسه هم مصرفولای سي که چيري يې تر اوسه بېله اجازي مصرف کړي وي نو د ورکونکو په اجازه سره به هغه مصرفول هم الله ﷻ قبول وګرځوي. والله ﷻ اعلم.

د مسجد د نامه بدلون او چنده له غړیتوب سره مشروطه ګرځول

سوال: څو کاله مخکې د عوامو په مرسته او چنده سره په (cyreldene) کې یو مکان رانیول سوی ؤ او هغه مکان په جماعت خانه او مدرسه تبدیل سوی ؤ او د تبرک له پاره ورباندې د مسجد امدادیه نوم ایښودل سوی ؤ څنګه چې زموږ تعلق د شیخ ذکریا صاحب له خانقاه سره دئ ځکه نو موږ خپل ځای سره د جماعت خانې او مدرسې د تعلیم الدین د مدرسې تابع جوړ کړ چې د حضرت حافظ عبد الرحمن صاحب دامت برکاتهم په نګرانی کې ده بیا موږ د جماعت خانې او مدرسې له پاره ضوابط جوړ کړل او د مسجد شورٰی د لمونځ کونکو او محلې د کسانو څخه جوړه سوه زموږ په دغه جماعت خانه کې اصلاحي او تبلیغی پروګرام تر سره کیږې او وخت پر وخت جماعتونه هم راځې او په جماعت خانه کې اوسیږې زموږ په محله کې د مسلمانانو تعداد زیاتیږې ځکه نو جماعت خانه کوچنی سوه له همدې امله زموږ اراده سوه چې پر دغه ځای یو نوی مسجد او مدرسه جوړه سي په دې هکله موږ اراده وکړه چې پر دغه ځای یو نوی مسجد او مدرسه جوړه کړو چې په دې هکله موږ چنده شروع کړ ځینی کسان په دې هکله څه سوالونه لري چې موږ غواړو چې هغه لیرې کړو:

۱_ ځینی کسان وایي، چې د مسجد نوم دې تبدیل سي مثلاً (cyreldene) مسلم جاعت دارنګه دې یې ضوابط هم بدل سي ایا مخکنی قوانین او نوم ایښودل ښه دي یا دې هغه تبدیل سي؟

۲_ څنګه چې زموږ تړاو له خانقاه ذکریا سره دئ ایا له دې امله زموږ مسجد او مدرسه د بلې مدرسې او مسجد څخه بیل دي یا دواړه برابر حیثیت لري؟

۳_ ځینی کسان وایي، چې موږ به چنده والا ته وایو چې زموږ تعلق له خانقاه ذکریا سره دئ او که نه چنده جائز نه ده او نه باید عوام چنده ورکړي د دغه شرعي حکم څه دئ؟

۴_ ځینی کسان وایي، چې چنده په دې شرط درکوو چې د مسجد په شورٰی کې به یې شاملوې او که نه چنده نه ورکوو د دغه شرعي حکم څه دئ؟

۵_ چې کله د ټولو پروګرامونو اجازه سته او ټولو ته د مسجد راتلو اجازه ده نو بیا یوازې له دې امله مخالفت کول چې دی د شورٰی غړی نه دئ روا ده؟

الجواب:

۱ _ که چیري د شورى ټول غړى او یا اکثریت د نوم بدلون غواړي نو بیا یې بدلول څه باک نه لري خو زوړ نوم مسجد تعلیم الدین ښه نوم دئ او په هغه کي نیک فالي هم ده نو زما په اند که دغه نوم پرېښودل سي ښه به وي.

۲ _ ټول مسجدونه په مسجد بللو کي برابر دي البته که په کوم مسجد کي د ذکر او اذکارو مجلس روان وي نو د هغه نوم یا د هغه له نامه سره د خانقاهي مسجد زیاتونه کېدای سي چي د خانقاهي کارونو معلومات وکړل سي خو ضروري نه ده.

۳ _ د چندي اخیستلو په وخت کي دومره ویل ضروري دي چي په فلانی علاقه کي مسجد جوړېږي او دا چي له فلانی خانقاه سره اړه لري ویل یې ضروري نه ده، البته د دیوبندي مسلک سره تعلیق ښودل کافي دي خو که چا تفصیلات وغوښتل بیا دي ورته وښودل سي له غلط بیانی څخه دي ځان وساتل سي.

۴ _ دا د شورى د غړو پر رایې موقوفه ده که کوم څوک د غړیتوب له پاره مناسب نه ګڼي نو داسي څوک دي غړى نه ټاکي او له هغه څخه دي چنده هم نه اخلي او که څوک ګټور وي نو د هغه چنده دي قبوله کړي او هغه ته دي غړیتوب ورکړي خو څوک باید د شورى پر غړیتوب اصرار ونه کړي اصلی کار د دین خدمت دئ که غړیتوب ولري او که نه.

۵ _ چي د اهل حق د ټولو پروګرانو اجازه ستنه نو بیا د چا مخالف درست نه دئ بلکي د الله ﷻ رضا له پاره باید د مسجد په خدمت کي وړاندي وي که د شورى غړى وي او که نه. والله ﷻ اعلم.

د ذاتي خفګان له امله بېله کومه سببه د امام لیري کول

سوال: زموږ سره امام صاحب د دوه نیمو کالو څخه د مسجد او مدرسي خدمت سرته رسوي الحمد لله تر اوسه یې په هکله کوم شکایت راغلی نه دئ اوس څو میاشتي مخکي د امام او دیوه زده کونکی د پلار تر منځ معمولي واقعه پېښه سوه اتفاقاً هغه د مسجد د مشر (chairman) زوی دئ له دې څخه وروسته ده او ځیني متولیانو د مسجد د امام صاحب مخالفت شروع کړ او د هغه د وظیفي څخه د لیري کولو کوښښ یې وکړ بالاخر هغه یې معزول کړ او یوازي دا نه بلکي مدرسه یې هم بنده کړه او شاګردانو پلرونو ته یې وویل چي کوچنیان دي په بله مدرسه کي داخل کړي د ځینو متولینو د دغه چلند له امله نورو متولیانو استعفاء وکړل امام د دې علاقي دئ او کله کله لمونځ ورکوي ځکه لمونځ

کونکی ورسره اختلاف نه لري خو متولی دلته موجود وي هغه يې نه خوښوي او مؤذن ته د لمونځ ورکولو وايي له دغه تمهيد څخه وروسته څو سوالونه په لاندي توګه دي؟

۱_ د مسجد متوليانو چي کوم چلند له دغه امام سره وکړ ايا شرعاً له علماؤ سره داسي چلند روا دئ؟

۲_ عام د محلي خلک او لمونځ کونکي د دغه راز متوليانو د اعمالو او اخلاقو ذمه داره دي او که نه؟

۳_ ايا يو عالم له امامت ورکولو څخه منع کېدای سي چي په علاقه کي تر ټولو لوی عالم دي وي؟

الجواب: قال في التنوير وشرحه:

"ولو أم قوماً وهم له كارهون، إن الكراهة لفساد فيه أو لأنهم أحق بالإمامة منه كره له ذلك تحريماً لحديث أبي داود لا يقبل الله صلاة من تقدم قوما وهم له كارهون وإن هو أحق لا والكراهة عليهم وهكذا فى الهندية:۱/ ۸۷".

وفى الدر ايضاً:

"والأحق بالإمامة تقديماً بل نصبا الأعلم بأحكام الصلاة (الى ان قال) والخيار الى القوم فان اختلفوا اعتبر اكثر هم ولو قدموا غير الأولى اساوأ بلا اثم، وفى ردالمحتار: قال فى التتار خانية ولوان رجلين فى الفقه والصلاح سواء الا ان احدهما اقرأ فقدم القوم الاخر فقد اساؤ او تركوا السنة ولكن لا يأثمون لانهم قدموا رجلاً صالحاً. (التنوير مع الدرالمختار:۱/ ۵۵۷).

وفى الدر أيضاً:

الباني للمسجد أولى من القوم بنصب الإمام والمؤذن في المختار إلا إذا عين القوم أصلح ممن عين الباني لان منفعة ذلک ترجع اليهم. (الدرالمختار:۴/ ۴۳۰)."

وفى شرح النقاية:

"وفی روایة: ان سرکم ان تقبل صلوتکم فلیؤمکم علماء کم فانهم وفدکم فیما بینکم وبین ربکم، رواه الطبرانی وفی روایة الحاکم فلیؤمکم خیارکم، وفی روایة، اکرموا حملة القرآن فمن اکرمهم فقد اکرمنی وفی روایة حامل القرآن رایة الاسلام ومن اکرمه فقد اکرم الله ومن اهانه فعلیه لعنة الله" (الجماع الصغیر للامام الحافظ السیوطی:۱/ ۱٤۲). (شرح نقایه:۱/ ۸٦).

له دغو عبارت څخه لاندي امور معلومیږي که امام صاحب ګنهکار نه وي او د دغو متولیانو په خفګان کي د ده قصور نه وي او په امام کي څه نقصان هم نه وي نو د دغو متولیانو ناراضه کېدل څه اعتبار نه لري په امام پسي بیله کراهته لمونځ صحیح دئ او د دې معاملي ګناه به پر دغه متولیانو وي همدارنګه چي کله د متولیانو له یوه امام سره اختلاف وي نو بیا به د لمونځ کونکو د اکثریت رای ته اعتبار دئ او څنګه چي دلته اکثره له امام څخه راضي دي نو د دوی رای ته اعتبار سته، همدارنګه چي کله په ټوله محله کي یا د امام تر ټولو زیات حقدار او د امامت اهلیت لري نو د کوم بل تاکل د سنت څخه خلاف عمل دئ لهذا په ذکر سوي صورت کي چي امام خطاکار نه وي او لمونځ کونکی خوشحاله وي نو د دغو بعضو متولینو له امله د امام معزوله کول روا نه دئ د ذاتي عداوت او اختلاف له امله د امام معزول کول او د امام توهین کونکی ظالم او مجرم دئ سخت ګنهکار دئ د ده له پاره په کار ده چي د امام صاحب څخه عفو وغواړي او پر دغه توبه لازمه ده که نه فاسق او د سزا مستحق دئ.

۞ دغه سوال له یوه طرفه راغلی دئ هغه متولیان چي مخالفت کوي د هغو دریځ موږ نه دي اورېدلي که چیري هغوی د شرعي لاملونو له امله امام نه خوښوي نو د امام مخالفت به درست وي. والله ﷻ اعلم.

زړه عیدګاه په مسجد او مدرسه بدلول

سوال: یوه زړه عیدګاه وه چي اوس یې ښخي ضرورت نهٔ څکه بله عیدګاه موجوده ده، همدارنګه خلک په مسجدونو کي هم د اختر لمونځ کوي دا ځای خالی پاته دئ خره او اسان پکښې ګرځي وقف کونکي هغه مدرسه کړ چي له سبق سره سره د اخترونو او جمعې د لمنځونو له پاره مسجد هم دئ، داسي کول روا دي او که نه؟

الجواب: په فتاوی هندیه کي راځي:

"ذکر فی المنتقی عن محمد رحمه الله فی الطریق الواسع بنی فیه اهل المحلة مسجداً وذلک لایضر الطریق فمنعهم رجل فلا بأس أن یبنوا کذا فی الحاوی".

قوم بنوا مسجداً واحتاجوا الی مکان لیتسع المسجد اخذوا من الطریق وادخلوه فی المسجد ان کان یضربا صحاب الطریق لایجوزوان کان لایضر بهم رجوت ان لایکون به بأس، کذا فی المضمرات وهو المختار کذا فی خزانة المفتین. (الفتاوی الهندیة:۲/ ۴۵۶-۴۵۷).

په امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: یوه هدېره له (۲۵) کلونو څخه خرابه پرته ده په هغه کي مړي هم نه دفن کېږي اوس په هغه کي یو سرای د اسلامي انجمن له پاره جوړول غواړي نو ایا روا دئ او که نه؟

جواب: دبخاري په شرح عینی کي راځي:

"وقال ابن القاسم لو أن مقبرة من مقابر المسلمین عفت فبنی فیها مسجداً لم أر بذلک بأساً وذلک لأن المقابر وقف من أوقاف المسلمین لدفن موتاهم لا یجوز لأحد أن یملکها فإذا درست واستغنی عن الدفن فیها جاز صرفها إلی المسجد لأن المسجد أیضاً وقف من أوقاف المسلمین لا یجوز تملکه لأحد فمعناهما علی هذا واحد".

له ذکر سوی جواب څخه د علت د اشتراک له امله علت معلومیږي چي د عامي فائدي له امله د انجمن له پاره د وقف مکان د هدېري په ځای کي جوړول روا دئ. والله اعلم. (امداد الفتاوی:۲/ ۵۶۵).

له یادو عبارتونو څخه دا خبره څرګندیږي چي عیدګاه هم د عامو مسلمانانو د عامي نفعي له پاره وقف سوي وي چي کله یې په ظاهره ګټه نه وي او د هغه له پاره بنه بدل هم موجود دئ لهذا مدرسه

جوړول روا او درسته ده په هغه کي د عامو مسلمانانو فائده هم ده او د عيدګاه مقصد هم تر لاسه کيږي او د وقف مڅکه هم له خرابي. وروسته اباده سوه چي دغه د وقف په مقصدونو کي غټ مقصد دئ لهذا دا ډول مدرسه جوړول به درسته او صحيح وي. والله ﷻ اعلم.

د مسجد له ضرورت څخه زائد سامان خرڅول

سوال: يو چا داوبو بمبه د مسجد د اودس خانو له پاره وقف کړه د مسجد شورى هغه کنبېښنوده د استعمال ضرورت يې پېښ نه سو بيا شورى د مسجد له پاره يو سراى جوړول شروع کړ چي هغه په کرايه ورکړي او ګټه يې په مسجد کي مصرف کړي اوس هغه سراى څه شيانو ته ضرورت لري ايا د هغه پمپ خرڅول روا دي چي پيسې يې په هغه کور کي ولګول سي؟

الجواب: په ردالمحتار کي راځي:

"ولوخرب ما حوله واستغنى عنه يبقى مسجداً عند الامام والثانى ابدا الى قيام الساعة وبه يفتى وعاد الى ملک البانى أو ورثته عند محمد وعن الثانى ينقل الى مسجد آخر باذن القاضى ومثله فى الخلاف المذكور حشيش المسجد وحصره مع الاستغناء عنهما وكذا ولو خرب المسجد وما حوله وتفرق الناس عنه لايعود الى ملک الواقف عند ابى يوسف فيباع نقضه باذن القاضى ويصرف ثمنه الى بعض المساجد". (ردالمحتار:٤/ ٣٥٨).

په فتاوى محموديه کي راځي:

مسجد ته د وقف سوي سامان بيع روا نه ده او کوم سامان چي وقف نه وي د موقت ضرورت له امله يو چا ورکړى وي يا يې رانيولي وي د ضرورت د پوره کېدلو سره يې بيع روا ده کوم مسجد چي خراب سوى وي هغه سامان دي په کوم نژدې مسجد کي مصرف کړي د مسجد ځاى دي وساتي چي بې عزتي يې ونه سي. (فتاوى محموديه:٦/ ١٩٩).

خلاصه دا چي که د دغه مشين اوس ضرورت نه وي نو د هغه خرڅول او پيسې يې په سراى کي مصرفول روا دي. والله ﷻ اعلم.

د مسجد تعمیر چې کمزوري سوی وي د هغه نړول او دوهم ځل یې جوړول

سوال: زه د یوه مسجد متولي یم له مخکې یو نیم کال څخه موږ د مسجد د فراخي اړوند مشوره کول خو اوس یې د څو لاملونو څخه نوی تعمیر ضروري ګڼل سوی دئ؟

۱_ د زاړه مسجد زیر خانه د اوبو د څڅیدو له امله خرابه سوي ده که یې ترمیم وکړل سي هم یې سمیدل یقیني نه دي؟

۲_ که اوسنی تعمیر ته بنیادونه نوي کوي له دې څخه د نقصان ېره ده؟

۳_ که پر دغه عمارت تعمیر کوي نو د لوړ والي له تهاکلي اندازې څخه تیریږي او زوړ تعمیر کمزوري هم دئ؟

۴_ که یې له سره جوړ کړي مصرفونه به یې د مزدوري وغیره په اعتبار سره لږ وي کار به چابک او د لمانځه په وختونو کې به هم کار جاري وي اوس لومړی شوری ته دا فکر سته چې ایا د دغو وجوهاتو له امله د مسجد بندول صحیح او روا دي؟

الجواب: په فتاوی هندیه کې راځي:

"مسجد مبنی اراد رجل أن ینقضه ویبنیه ثانیاً أحکم من البناء الاول لیس له ذلک، لانه لاولایة له کذا فی المضمرات، وفی النوازل: الا ان یخاف أن ینهدم إن لم یهدم کذا فی التتار خانیة وتاویله: اذا لم یکن البانی من اهل تلک المحلة، وامام اهل تلک المحلة فلهم ان یهدموا ویجددوا بناءه ویفرشوا الحصیر ویعلقوا القنادیل، لکن من مال أنفسهم أما من مال المسجد فلیس لهم ذلک إلا بامر القاضی کذا فی الخلاصة". (فتاوی هندیة: ۲/ ٤٥٧).

له دغه عبارت څخه معلومیږي چې که د زاړه تعمیر د نړیدلو وغیره ویره وي نو د هغه نړول او تینګ یې جوړول څه باک نه لري.

په بحر الرائق کې راځي:

"وفي البزازية أرادوا نقض المسجد وبناؤه أحكم من الأول إن لم يكن الباني من أهل المحلة ليس لهم ذلك وإن كان من أهل المحلة لهم ذلك". (البحر الرائق:٥/ ٢٥١).

حاصل دا چي د شورئ غړي دیادو لاملونو په سبب مسجد شهیدولای سي او پر ځای یې نوي مسجد جوړولای سي، د دغه هدف له پاره چنده هم کولای سي، البته که یې فانوس او نور د زینت شیان پکښې ځړول هغه دي خپل مال مصرف کړي یا دي د دغه له پاره چنده وکړي د ښکلا په شیانو به د چند ورکونکو د اجازې پرته د مسجد مال نه لګوي، البته که چنده ورکونکو اجازه کړي وي نو بیا د مسجد مال استعمالولای سي. والله ﷻ اعلم.

د مسجد اړوند د څو سوالونو جوابونه

سوال:

۱_ که دغه نړیدلي مسجد ته نژدې څو نور مسجدونه وي چي موږ و هغه ته په اسانی سره رسېدلی سو ایا زموږ له پاره ضروري ده چي د لمانځه له پاره یو بل ځای انتظام وکړو، همدارنګه د نورو دینی امورو لکه د تبلیغ او نورو له پاره؟

۲_ یو سرای د مسجد په ملکیت کي سته چي په تېرو ورځو کي یې خالي کړی دئ او مسجد ته نژدې هم دئ موږ دا فکر وکړ چي هغه استعمال کړو نو ایا ټول لمنځونه په هغه کي اداء کولای سو؟او د جمعې لمونځ به څنګه کوو؟

الجواب:

۱_ چي تاسو ته نژدې نور مسجدونه سته چي په اسانې سره ورته رسېدلای سي نو ستاسو له پاره بل ځای انتظام کول ضروري نه دي.

۲_ ستاسو په وینا چي د مسجد سرای موجود دئ او کافی لمونځ کونکي هم جمع کیږي نو که دغه سرای د لمنځونو له پاره استعمال سي او هلته پنځه وخته لمونځ اداء سي نو ښه به وي، البته د جمعې له پاره ذکر سوی سرای کوچنی دئ او جمعه د اسلام له شعائرو څخه ده چي د هغه مقصد دا دئ چي د اسلام شعائر ښکاره سي نو مناسب ده چي په یوه لوی جماعت سره اداء سي.

په فتاوی رحیمه کي داسي جواب ذکر سوی دي:

یا د مسجد ډېر کوچنی دئ د هغه د ابادي له پاره دومره کافي ده چي پنځه وخته اذان او د جماعت لمونځ پکښې وسي د جمعې پر اقامت د مسجد ابادي موقوفه نه ده د جمعې امامت د اسلام له شعائرو څخه دئ د هغه مقصد دا دئ چي د دین شعائر په لویه توګه څرګند سي او دا هلته کیږي چي جمعه په عظیم الشان جماعت سره اداء سي په هره محله کي په کوچینو مسجدونو کي د جمعې په اداء کولو سره د جمعې د برپایه کېدو مقصد فوتیږي او پر نورو مسجدونو هم اثر غورځوي لهذا په دغه مسجد کي به د جمعې د قائمولو اجازه نه وي. (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۸۰). البته که په دغه سرای کي یې جمعه و کړل نو د جمعې لمونځ اداء کیږي.

۳ _ سوال: که اوسنی مسجد بند سي او کوم بل ځای هم استعمال نه کړي نو ایا امام او مؤذن ته به بیا هم پوره تنخواه ورکول کیږي؟

جواب: په دغه صورت کي به د عقد د شرائطو مطابق معامله کیږي یعنی اهل مسجد چي له دوی سره څنګه عقد کړي ؤ د هغه مطابق معامله به وي که چیري هغه پرېښودل کیږي نو د دغه وخت تنخواه به هم ورکوي.

وګورئ په شرح العنایه کي راځي:

"ولا فرق بين طويل المدة وقصيرها عندنا إذا كانت بحيث يعيش إليها العاقدان ، لأن الحاجة التي جوزت الإجارة لها قد تمس إلى ذلك ، وهي مدةمعلومةيعلم بها مقدار المنفعة فكانت صحيحةً كالأجل في البيع" (شرح العناية: ۹/ ٦۳).

که چیري په سرای کي د جماعت انتظام وي او د امام او مؤذن ضرورت وي نو هغوی ته به د کار له امله تنخواه ورکول کیږي. والله ﷻ اعلم.

د مسجد له پاره وقف سوى قرآن دباندي وړل

سوال: يو چا قرآن كريم د مسجد له پاره وقف كړى وي هغه له مسجد څخه دباندي وړل صحيح دي او كه نه؟

الجواب: كوم قرآن كريم چي د مسجد له پاره وقف سوى وي هغه د ويلو له پاره دباندي وړل صحيح دي او كه نه.

په فتاوى محموديه كي راځي:

كوم قرآن كريم چي د مسجد له پاره وقف سوى وي بل ځاى يې وړل صحيح نه دي. (فتاوى محموديه:١٢/ ٢٩٦).

په احسن الفتاوى كي راځي:

كه چيري كتاب د مسجد له پاره وقف سوى وي نو بل ځاى ته يې وړل روا نه دي د مسجد په حدودو كي دي ور څخه ګټه واخيستل سي. (احسن الفتاوى:٦/ ٤٥٠).

په درمختار كي راځي:

"وقف مصحفا على أهل مسجد للقراءة إن يحصون جاز وإن وقف على المسجد جاز ويقرأ فيه".

په ردمحتار كي راځي:

"لو وقف المصحف على المسجد أي بلا تعيين أهله قيل يقرأ فيه أي يختص بأهله المترددين إليه وقيل لا يختص به أي فيجوز نقله إلى غيره وقد علمت تقوية القول الأول بما مر عن القنية وبقي ما لو عمم الواقف بأن وقفه على طلبة العلم لكنه شرط أن لا يخرج من المسجد أو المدرسة كما هو العادة. (ردمختار:٤/ ٣٦٥).

البته که یو چا له مسجد څخه قرآن کریم واخیستی او بیا یې د مسجد په غولي او یا فناء کي درېلو له پاره کښېښستی نو په دغه کي هم څه باک نه سته ځکه د احنافو په اند که څه هم د مسجد فناء مسجد نه دئ خو په ځینو وختونو کي یې د مسجد په حکم کي شمېري او فقهاء ځینی وختونه د مسجد په فناء کي هم داسي کار منع کوي چي د مسجد شان ته ضرر ورسوي او د هغه حرمت پاتهٔ نه سي.

په فتاوی هندیه کي راځي:

"قیم المسجد لایجوز له أن یبنی حوانیت فی حد المسجد أو فی فنائه لان المسجد إذا جعل حانوتاً ومسکناً تسقط حرمته وهذا لایجوز والفناء تبع المسجد فیکون حکمه حکم المسجد". والله ﷻ اعلم.

په هدېره او یا مسجد کي چي میوه داره درخته وي نو د هغې د میوې د خوړلو حکم

سوال: په هدېره یا مسجد کي چي میوه لرونکی درخته وي د میوې خوراک یې روا دئ او که نه؟

الجواب: که چیري هغه مسجد او یا هدېره وقف وي نو یو چا ته د هغې د میوې د شکولو او په خپل کار کي د مصرفولو اجازه نه سته نه د میوې اجازه سته او نه یې د قیمت بلکي د وقف پر مصارفو یې مصرفول واجب دي، البته د حضرت گنگوهي له فتوی څخه معلومېږي چي که چیري د مسجد یا هدېري میوه لرونکي درخته د لمونځ کونکو یا عامو خلکو له پاره ایښودل سوی وي نو له هغې څخه خوراک روا دئ.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما حکم الوقف الجائز ، فحکمه أنه یزول الموقوف عن ملك الواقف ولا یدخل في ملك الموقوف علیه ، لکنه ینتفع بغلته بالتصدق علیه ؛ لأن الوقف حبس الأصل وتصدقبالفرع ، والحبس لا یوجب ملك المحبوس کالرهن ، والواجب أن یبدأ بصرف الفرع إلی مصالح الوقف من عمارته وإصلاح ماله من بنائه وسائر مؤناته التي لا بد منها ، سواءشرط ذلك

الواقف أو لـم يشرط ؛ لأن الوقف صدقة جارية في سبيل الله تعالى ، ولا تـجري إلا بـهذا الطريق.

(بدائع الصنائع:٦/ ٢٢٠- ٢٢١).

که چيري د هديرې او مسجد يوازې مځکه د وقف له پاره وي درختې او بل شی نه وي نو هم د مالک د اجازې پرته د هغه شي استعمالول درست نه دئ.

په احسن الفتاوی کې راځي:

که وقف کونکي يوازې مځکه وقف کړي وي درختې او ميوه يې وقف کړی نه وي نو هغه د ده په ملکيت کې ده د ده د اجازې پرته د هغه شی استعمالول درست نه دي مګر دی به مجبوره کيږي چې درختې وکاږي او د هديرې مځکه فارغه کړي او که يې له مځکې سره درختې وغيره هم وقف کړې وي نو کوم شی چې د وقف مصرف وي د درختو مصرف به هم هغه وي. (احسن الفتاوی:٦/ ٤١٨).

په فتاوی تاتارخانيه کې راځي:

رجل جعل ارضاً مقبرة وفيها اشجار قال الفقيه أبو جعفر رحمه الله وقف الاشجار لايصح فتكون الاشجار للواقف ولورثته ان مات". (فتاوى قاضيخان:٣/ ٣١٣).

په فتاوی محموديه کې راځي:

که هديره وقف وي نو د هغه ميوه دې خرڅه کړي د هديره پر ضرورياتو دې مصرف کړي په خپله دې نه هغه ميوه استعمالوي او نه د هغه قيمت. (فتاوی محموديه:١٢/ ٣٨٩).

د مسجد اړوند په فتاوی محموديه کې راځي:

د مسجد له پاره وقف سوې مځکه د کښت له پاره يا په کرايه ورکول کيدای سي او د هغه ګټه دې د مسجد پر ضرورياتو ولګوي که نه په هغه کې دې درختې کښيږدي په مسجد دې يې مصرف کړي. (فتاوی محموديه:١٥/ ١٧٦).

په فتاوی رشيديه کې راځي د مسجد د ميوه لرونکو درختو مسئله:

سوال: که په مسجد کې د امروت درخته وي نو لمونځ کونکي يې استعمالولای سي او که نه؟

جواب: کومه درخته چې د لمونځ کونکو د خوراک له پاره لګیدلي وي له هغه څخه خوراک درست دئ.(فتاوی رشیدیه،ص:٥٧٨). والله ﷻ اعلم.

د متولي د انتخاب طریقه

سوال: متولي باید څنګه وټاکل سي؟

الجواب: د متولي د انتخاب له پاره دي د مسجد د خواصو رای معلومه سي پر کومو کسانو چي د اکثریت اتفاق وي هغه دي متولي وګرځوي، ځکه په شریعت کي که څه هم د عوامو د رای اکثریت اعتبار نه لري خو د خواصو او د رای د خاوندانو د اکثریت پر معتبرولو د قرآن او حدیث څخه ثبوت او د امت د علماؤ ارشادات موجود دي وګورئ له دغه آیت چي:

﴿ما یکون من نجوی ثلاثة إلا هو رابعهم﴾ الآية،

څخه علامه شبیر احمد عثماني رحمه الله په خپل تفسیر کي د رای د کثرت پر معتبرولو استدلال کړي دئ، علامه عثماني رحمه الله په خپل تفسیر کي لیکي په مشوره کي که یوازي دوه کسان وي نو د اختلاف په صورت کي به ترجیح ورکول مشکل وي ځکه نو په مهمو معاملاتو کي طاق عدد ساتي او له یوه څخه وروسته لومړی طاق عدد دري ؤبیا پنځه الخ. (تفسیر عثمانی،ص:٧٢٠).

همدغه مضمون په تفسیر مظهري (جلد٩ ص ٢٢١) کي هم راځي، همدارنګه له حادیثو څخه هم د اکثریت د ترجیح دلائل معلومیږي.

په ابن ماجه کي راځي:

"عن أنس بن مالك رضي الله عنه، يقول: سمعت رسول الله ﷺ، يقول: إن أمتي لا تجتمع على ضلالة، فإذا رأيتم اختلافًا فعليكم بالسواد الأعظم".

د ابن ماجه په حاشیه انجاح الحاجه کي ذکر سوی دي:

"قوله السواد الأعظم أي جماعة الناس ومعظمهم الذين يجتمعون على طاعة السلطان وسلوك المنهج المستقيم". (ابن ماجه مع حاشیه انجاح الحاجة:ص،٢٨٣).

په مشکوة شریف کي راځي:

"وعنه (ای ابن عمر رضي الله عنهما) قال رسول الله ﷺ اتبعوا السواد الاعظم فانه من شذ شذ فی النار". (مشکوة،ص:٣٠)

په حواله د مرقات شرح د مشکوة کي دي:

"قوله اتبعوا السواد الاعظم يعبر به عن الجماعة الكثيرة والمراد ما عليه اكثر المسلمين".

(حاشية مشكوة په حواله د مرقاة،ص:٣٠).

او په فقه کي هم اکثریت ته اعتبار ورکول سوی دئ لکه څنګه چي یوه کلیه قاعده مشهوره ده:

"ولابی حنيفة ان الاكثر يقوم مقام الكل فی كثير من الاحكام". (هداية:٤/ ٤٣٧).والله تعالیٰ اعلم.

د متولی تر ژونده پوري د ده د انتخاب حکم

سوال: ایا د ټول ژوند له پاره متولی وټاکل سي یا دیوه ټاکلي وخت له پاره او ایا دغه متولی دوهم ځل بیا ټاکل کېدای سي او که نه؟

الجواب: متولیان د ټول وخت له پاره هم ټاکل کېدای سي او هغوی پر دغه منصب ټوله ژوند پاته کېدای سي تر څو چي له دوی څخه د شریعت خلاف خبره او یا خیانت صادر نه سي لکه څنګه چي خلفای راشدینو رضی الله تعالیٰ عنهم ته چي کله خلافت ورکول سو نو دغه ټاکنه دیوې ټاکلي مدې له پاره نه وه بلکي د ټول ژوندانه له پاره وه په اوس کي هم چي د مدرسو له پاره کومه شوری ټاکل کیږي هغه په عامه توګه د ټول ژوندانه له پاره ده د ټاکلی مدې له پاره نه وي، البته که داولیکل سي چي د دوی ټاکل به تر یوه ټاکلي وخت پوري وي هم درسته ده. والله تعالیٰ اعلم.

لاندي افراد د شوریٰ په فیصلو د خبرولو حکم

سوال: شوریٰ چي کومي فیصلي کړی وي هغه فیصلي او د هغو لاملونه ماتحت افرادو ته ښودل د متولیانو له پاره ضروري دي او که نه؟

الجواب: د تهمت څخه د ځان ساتلو له پاره او د احتیاط له امله باید لاندي کسانو ته وښودل سي چي څه بد ګمانی پیدا نه سي، انحضرت ﷺ دام المؤمنین حضرت صفیې سره راوواتی نو چي

څوک په مخه ورغلل هغو ته يې وويل چې دا صفيه ده چې له دوی سره بدګماني پيدا نه سي په دغ
کي امت ته د احتياط او بدګماني څخه د ځان ساتلو تدبير ښودل سوی دئ، البته که ماتحت افراد
اطمينان اظهار کوي او دا وايي چي که تاسو مورږ ته څه ونه واياست هم مورږ اطمينان لرو نو په ن
ښودلو کي يې څه باک نه سته . والله ﷻ اعلم.

دلاندی افرادو پر شوری د عدم اعتماد حکم

سوال: ماتحت افراد پر شوری د عدم اعتماد اظهار کولای سي او که نه؟

۲_ ماتحت فراد متوليان تهول او يا ځينی ليري کولای سي او که نه؟

الجواب: که د متوليانو څخه خيانت وسي او يا يې بدانتظامي ښکاره سي يا د شريعت خلاف
کارونه کوي نو د دوی معزوله کول درست دي بلکي واجب دي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

"(وينزع) وجوباً بزازية (لو) الواقف أی لوكان المتولی هو الواقف، فغيره بالاولی قال فی
البحر: استفيد منه ان للقاضی عزل المتولی الخائن غير الواقف بالاولی، (غير مأمون) أو
عاجزاً او ظهربه فسق كشرب خمر ونحوه فتح، او كان يصرف مالة فی الكيمياء نهر بحثاً
(وان شرط عدم نزعه) او ان لاينزعه قاض ولاسلطان لمخالفته لحكم الشرع فيبطل كالوصی
فلوما مونا لم تصح تولية غيره، اشباه". (الدرالمختار مع فتاوی الشامی:٤/ ٣٨٠، ٣٨١، ٣٨٢).

له دغو عبارت څخه معلومه سوه چي که وقف کونکی په خپله متولی وي او د ده خيانت ښکاره
سي نو دی دي هم ليري کړل سي معلومه سوه چي د همدارنګه شکايتونو له امله دي نور کسان په
درجه اولی معزوله کړل سي او که قاضي دغه خائن متولی معزول نه کړي نو هغه به هم ګنهګار وي.

وګورئ په ردالمحتار کي راځي:

"مقتضاه اثم القاضی بتركه ولاثم بتولية الخائنم ولا شک فيه، بحر ..." وفی الجواهر القيم
اذا لم يراع الوقف يعزله القاضی". (ردالمحتار:٤/ ٣٨٠).

په دغه زمانه کي چي شرعي قاضي موجود نه دئ نو د هغه معزوله کول د عامو مسلمانانو ذمه داري ده لکه څنګه چي له لاندي عبارتونو څخه معلومیږي.

"وأما عزل الخائن واقامة غيره ممن يحفظ الوقف ويعمره ويحفظ ما بقى على مستحقه واقامة متول على وقف لم يكن له متول فلا يتوقف على القاضى فضلاً عن قاضى القضاة وان عزله واجب على كل مسلم يستطيعه فانه من قبيل انكار المنكر فليحفظ هذا فانه نفيس جدا، وهذا غريب". (تقريرات رافعى:٤/ ٨٤).

او که له هغه څخه کوم خیانت یا د شریعت خلاف خبره ښکاره نه سي نو بیله کومي وجي یې معزوله کول روا نه دي. وګورئ:

"الذى حققه السندى بعبارة طويلة ان الوصى او المتولى المنصوب من الواقف او القاضى لولم يتحقق من احدهما خيانة واراد من عدا قاضى القضاة عزله واقامة غير مقامه ممن هوا صلح منه و اورع فليس له ذلک ولايتولى ذلک الاقاض القضاة". (تقريرات الرافعى:٤/ ٨٤). والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د هغو پیسو د مصرفولو حکم چي په قوالی لاس ته راوړل سي

سوال: هغه پیسې چي په قوالی سره لاسته راوړل سي پر مسجد یې مصرفول څنګه دي (قوالی هغه سندرو او سرو زونو ته ویل کیږي چي د بزرګانو پر مزارونو ویل کیږي)؟

الجواب: دغه پیسې مکروه بلکي ناروا دي پر مسجد دي نه مصرفیږي پر مسجد دي پاکي پیسې مصرف کړي.

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

مسجد د الله ﷻ مقدس او پاک کور دئ د هغه په تعمیر او جوړولو کي دي حلال او پاک مال استعمال سي حرام مال په مسجد کي استعمالول منع دي او مکروه دي په حدیث شریف کي راځي:

خدای ﷻ پاک مال قبلوي، لهذا په حرام او مشتبه مال سره په شریعت کي د مسجد د جوړولو اجازه نه ستته .(فتاوی رحیمیه:٦/ ۹۹).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

هغه پیسې چي په حرامه توګه په لاس راوړل سي باید په مسجد کي ونه لګیږي. (فتاوی محمودیه:٥/ ۱۳٦).

خلاصه دا چي د قوالی شخه په لاس راغلي مالونو په مسجد کي د لګولو شخه باید ځان وژغورل سي. والله ﷻ اعلم.

د هغه مسجد حکم چي په حرام مال سره جوړ سي

سوال: هغه مسجد چي په حرام مال سره جوړ سوی وي هغه به نړیږي او که به په هغه کي لمونځ کیږي؟

الجواب: ځیني بزرګان په دغه مسئله کي احتیاط او سختي کوي که په خالص حرام مال سره یا په غالب حرام سره جوړ سوی وي نو په هغه کي لمونځ مکروه تحریمی دئ هغه دي ونړوي یا دي دهغه پر ځای بل مسجد جوړ کړي یا دي هغه مسجد بند کړي، مګر حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی په امداد الاحکام کي لیکي چي که دومره مال صدقه سي شومره چي حرام پکښي مصرف سوی دي نو په هغه کي به لمونځ کول روا وي په دې شرط چي د سامان رانیولو په وخت کي یې د دغه حرام مال لوري ته په اشاره کولو سره سامان اخیستی نه وي.

وګورئ په امداد الاحکام کي راځي:

په حرام مال سره جوړ سوی مسجد هغه دئ چي په هغه کي خښتي، لرګي وغیره غصب سوي وي یا یې مځکه غصب کړي وي او که یې پیسې حرامي وي نو هغه پیسې خو په مسجد کي نه دي لګیدلي بلکي په هغه سره رانیول سوی سامان په مسجد کي مصرف سوی دئ او که داسي وي چي لومړی یې سامان په پور اخیستی وي بیا یې په حرام مال سره قیمت اداء کړی وي نو په مسجد کي حرام مال نه دئ لګیدلی او که قیمت نقد ورکول سوی وي نو په هغه کي دوه صورتونه دي یو دا چي حرام مال ورکول سوی دئ او بیا معامله سوي وي چي د دغه روپیو فلانی شی راکړه.

دوهم دا چې حرام مال نه وي ورښكاره سوى بلكې داسې وواېي، چې دلسو روپيو يا پنځلسو شى راكړه په قيمت كې يې تاكلى روپې ذكر كړي نه وي بيا يې هغه قيمت د حرام مال څخه نقد اداء كړى وي په اول صورت كې به رانيول سوى شى حرام وي او په مسجد كې به يې لګول حرام وي په دوهم صورت كې رانيول سوى شى حرام نه دئ په مسجد كې يې لګول درست دي كه څه هم دا ګناه به وي چې د حرام مال څخه يې قيمت اداء كړ. (امداد الاحكام:۳/ ۳٤۳).

په ردالمحتار كې راځي:

(قوله اكتسب حراما الخ) توضيح المسألة ما في التتارخانية حيث قال رجل اكتسب مالا من حرام ثم اشترى فهذا على خمسة أوجه(۱) أما إن دفع تلك الدراهم إلى البائع أولا ثم اشترى منه بها (۲) أو اشترى قبل الدفع بها ودفعها (۳) أو اشترى قبل الدفع بها ودفع غيرها (٤) أو اشترى مطلقا ودفع تلك الدراهم (٥) أو اشترى بدراهم أخر ودفع تلك الدراهم، قال أبو نصر: يطيب له ولا يجب عليه أن يتصدق إلا في الوجه الأول وإليه ذهب الفقيه أبو الليث، لكن هذا خلاف ظاهر الرواية فإنه نص في الجامع الصغير: إذا غصب ألفا فاشترى بها جارية وباعها بألفين تصدق بالربح وقال الكرخي: في الوجه الأول والثاني لا يطيب وفي الثلاث الأخيرة يطيب، وقال أبو بكر: لا يطيب في الكل، لكن الفتوى الآن على قول الكرخي دفعا للحرج عن الناس.

وفي الولوالجية: وقال بعضهم: لا يطيب في الوجوه كلها وهو المختار، لكن الفتوى اليوم على قول الكرخي دفعا للحرج لكثرة الحرام، وعلى هذا مشى المصنف في كتاب الغصب تبعاً للدرر وغيرها. (ردالمحتار:٥/ ۲۳٥). والله ﷻ اعلم.

په مسجد کې په تنخواه سره کوچنیانو ته د درس ویلو حکم

سوال: که یو امام په مسجد کې کوچنیانو ته درس وایي او د درس تنخواه اخلي نو ایا دا صحیح ده او که نه؟

الجواب: وفي الهندية: وامام المعلم يعلم الذى الصبيان بأجر اذا جلس فى المسجد يعلم الصبيان الضرورة الحر وغيره لايكره. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۱۰، وكذا فى خلاصة الفتاوى:۱/ ۲۲۹).

په احسن الفتاوی کې راځي:

په مسجد کې په تنخواه درس ویل روا نه دي که د مسجد څخه دباندې ځای نه وي نو په مسجد کې ویل یې په لاندې شرائطو روا دي:

۱_ مدرس دې د تنخواه د هوس پر ځای د ګذارې په اندازه پر وظیفه اکتفاء وکړي.

۲_ ولمانځه، ذکر، تلاوت او نورو عباداتو ته به ضرر نه رسوي.

۳_ د مسجد د پاکی، نظافت او ادب او احترام پوره خیال دې وساتي.

۴_ کمسنه او هغه کوچینان چې نه پوهیږي هغه دې مسجد ته نه راولي. (احسن الفتاوی:۶/ ۴۵۸).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

په مسجد کې مستقله تنخواه ورکول مکروه ده خصوصا په داسې حالت کې چې مسجد ته نژدې کوټه هم وي چې په هغه کې تعلیم ورکول کېدای سي کوچنی هلکان د پاکی او ناپاکی تمیز نه کوي.(فتاوی محمودیه:۱۰/ ۱۵۰).

په جدید فقهی مسائل کې راځي:

په مسجدونو کې په اجرت سره تعلیم ورکول فقهاء درست نه ګڼي ځکه مسجدونه د عبادت او نصیحت ځایونه دي نه د کسب کولو مګر زموږ د زماني د حالاتو تقاضا دا ده چې اجازه ورکول سي ځکه عموماً وسائل نه وي بل ځای نه موندل کیږي او د مجبوري له امله وي اوس که په دغه معامله کې

سختي وكړل سي نو د سخت نقصان خبره به وي او د شرعي مصلحت خلاف به هم وي هغه طلباء چي عصري تعليم حاصلوي او د سهار او ماښام په لږ وخت كي د دين بنيادي تعليم حاصلوي هغه به هم له دې څخه محروم پاته سي، همدارنګه به د داسي همېشنيو مدرسو بنديدل د هغې علاقي دخلكو له پاره د تعليم څخه د محرومتيا سبب وګرځي ځيني بزرګان په دې هكله ډېره سختي كوي حال دا چي په خپله د فقهي له كتابونو څخه معلومېږي چي د ضرورت له امله په مسجد كي تعليم وركول كېداى سي البته كه كوم بل ځاى موجود وي نو د مسجد پر ځاى دي هلته تعليم وركړي، د عالمګيري او خلاصة الفتاوى په حواله. (جديد فقهى مسائل: ۱/ ۷۳).

وفى البزازية: "وتعليم الصبيان فيه (اى المسجد) بلا أجر وبالاجر يجوز" (الفتاوى البزازية: ٦/ ٣٥٧، نوع فى المسجد من كتاب الكراهية).

په مسجد كي په اجرت سره د تعليم وركولو په هكله د احنافو د فقهي په كتابونو كي مختلف عبارتونه موندل كيږي په ځينو كتابونو كي يې مطلقاً مكروه ليكلي دي مثلاً په فتح القدير، شرح منية المصلى، الاشباه والنظائر فتاوى نوازل، فتاوى قاضي خان وغيره او په ځينو كتابونو كي يې د ضرورت له امله روا بللي دي مثلا خلاصة الفتاوى، فتاوى عالمګيري، البته په فتاوى بزازيه كي يې مطلقاً روا بللي دي لكه څنګه چي عبارت ذكر سو لهذا اوس به د زمانې د ضرورت او د تعليم د اهميت له امله د بزازيې د عبارت له مخي جائز ګڼل كيږي او انشاء الله د صواب څخه به خلاف نه وي، البته د مسجد د ادب او احترام لحاظ به ساتل كيږي چي د نصوصو مخالفت هم رانه سي .

زما په اند هغو كوچيانو ته چي په څه پوهيږي كه په مسجد كي تعليم وركول سي او تنخواه واخيستل سي نو د دې له پاره به ګنجائش وي ځكه د دغه درس ګټه د كوچنيانو د اصلاح او دينداری په كښل كي ښكاره كيږي دا د انفرادي كسب په شان نه ده دا د مصالح المسليمن له جملي څخه ده لكه په مسجد كي چي په اجرت سره امامت كول روا دي ځكه دا د دين د ترويج په معنى سره دئ په مسجد كي درس هم د امامت په شان دئ، البته كه د مسجد څخه دباندي ځاى وي نو هلته دي ولوستل سي. والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي محراب له کوم وخت څخه دئ؟

سوال: په مسجدونو کي محراب له کوم وخت څخه دئ؟

الجواب: په مساجدو کي د محراب ثبوت د نبی پاک ﷺ او صحابه کرامو له زماني څخه دئ.

وګورئ:

قال الامام البيهقى أخبرنا أبو سعد : أحمد بن محمد الصوفى أنبا أبو أحمد بن عدى الحافظ ثنا ابن صاعد ثنا إبراهيم بن سعيد ثنا محمد بن حجر الحضرمى حدثنا سعيد بن عبد الجبار بن وائل عن أبيه عن أمه عن وائل بن حجر رضي الله عنه قال : حضرت رسول الله ﷺ حين نهض إلى المسجد فدخل المحراب ، ثم رفع يديه بالتكبير. (رواه البيهقى فى سننه الكبرى:۲/ ۳۰)

په عون المعبود کي راځي:

قلت : ما قاله القاري من أن المحاريب من المحدثات بعده فيه نظر ، لأن وجود المحراب زمن النبي ﷺ يثبت من بعض الروايات ، أخرج البيهقي في السنن الكبرى، كما مر آنفاً. وأم عبد الجبار هي مشهورة بأم يحيى كما في رواية الطبراني في معجم الصغير. (عون المعبود:۲/ ۱۰٤، باب فى كراهية البزاق فى المسجد).

په مقدمات الامام الكوثرى کي راځي:

وليس عدم ذكر ام عبد الجبار فى سنده بضائره لانها لاتشذ عن جمهرة الروايات اللاتى قال عنهن الذهبى ولاعلمت فى النساء من اتهمت ولامن تركوها على أنها زوجة صحابى. (مقدمات الامام الكوثرى،ص:٤٢٥).

فائده: له دې حديث څخه معلوميږي چي په نبوی دور کي محراب موجود ؤ همدارنګه د دغه حديث مويد هم موجود دئ. وهى رواية عند الطبرانى من حديث سهل بن سعد رضي الله عنه قال كان

رسول الله ﷺ يصلى إلى خشبة فلما بنى له المحراب تقدم اليه. الحديث. (رواه الطبرانى فى الكبير:٦/ ١٢٦).

وفيه عبد المهيمن بن عباس وهو ضعيف. (قاله الهيثمى فى مجمع الزوائد:٢/ ٥٢).

په نصب الرايه و تحفة الاحوذى كي راځي:

ولما استمر عمل اهل المدينة فى محراب النبى ومقامه. (نصب الراية:١/ ٣٣٣، وتحفة الاحوذى:٢/ ٥٠).

په فتح القدير كى راځي:

(قوله في الطاق) أي المحراب ... ولا يخفى أن امتياز الإمام مقررمطلوبفي الشرع في حق المكان حتى كان التقدم واجبًا عليه ، وغاية ما هنا كونه في خصوص مكان ، ولا أثر لذلك فإنه بني في المساجد المحاريب من لدن رسول الله ﷺ ، ولو لم تبن كانت السنة أن يتقدم في محاذاة ذلك المكان لأنه يحاذي وسط الصف وهو المطلوب ، إذ قيامه في غير محاذاته مكروه. (فتح القدير:١/ ٤١٣).

په عمدة القاري كي راځي:

و ذكر أبو البقاء أن جبريل عليه الصلاة والسلام وضع محراب رسول الله ﷺ مسامت الكعبة . (عمدة القارى:٣/ ٣٦٠، باب فضل استقبال القبلة).

علامه عينى رحمه الله فرمايي: چي حضرت جبرائيل عليه السلام راغى د كعبې په طرف كي يې د رسول الله ﷺ له پاره محراب جوړ كړ.

فائده: د علامه عينى رحمه الله له تحقيق څخه معلوميږي چي د نبي كريم ﷺ په زمانه كي محرابونه موجود وه.

په فتاوى قاضي خان كي راځي:

وجهة الكعبة تعرف بالدليل والدليل فى الامصارو القرى المحاريب التى نصبتها الصحابة والتابعون رضى الله عنهم. (فتاوى قاضى خان:١/ ٦٩).

په طحطاوی علی مراقی الفلاح کي راځي:

(وجهتها الخ) قالوا جهتها تعرف بالدليل فالدليل في الأمصار والقرى المحاريب التي نصبتها الصحابة والتابعون فعلينا إتباعهم في إستقبال المحاريب النصوبة. (حاشية الطحطاوى،ص:٢١٢، قديمى).

په مبسوط کي راځي:

ومعرفة الجهة إما بدليل يدل عليه أو بالتحري عند انقطاع الأدلة فمن الدليل المحاريب المنصوبة في كل موضع لأن ذلك كان باتفاق من الصحابة رضي الله عنهم ومن بعدهم .

(المبسوط للاعلامة السرخسى:١٠/ ١٩٠).

په بحر الرائق کي راځي:

والدليل في الأمصار والقرى المحاريب التي نصبها الصحابة والتابعون رضي الله عنهم أجمعين فعلينا اتباعهم في استقبال المحاريب المنصوبة. (البحر الرائق:١/ ٢٨٥، وهكذا فى النهدية:١/ ٦٣).

وفى موسوعة الفقية تحت باب التحرى:

ولايجوز الاجتهاد عند الجمهور الفقهاء مع وجود محاريب الصحابة وكذلك محاريب المسلمين التى تكررت الصلوة اليها.

وايضا تحت استقبال الصحابة والتابعين:

ذهب الجمهور الى ان محاريب الصحابة كجامع دمشق وجامع عمرو بالفسطاط ومسجد الكوفة والقيروان والبصرة، لايجوز الاجتهاد معها في اثبات الجهة، لكن لايمنع ذلک من الانحراف اليسير يمنة او يسرة، ولاتحلق بمحاريب النبى ﷺ اذ لايجوز فيها أدنى انحراف.

فقالوا: هذا المحراب الذى كان يصلي فيه رسول الله ﷺ ثم ابو بكر، ثم عمر، ثم عثمان ثم الائمة، وهلم جرا. (فتاوى ابن تيميه:۲۲/ ٤٢٨).

له احادیثو او فقهی عبارتونو څخه معلومیږي چي محرابونه دده مبارک ﷺ په زمانه کي او د صحابه کرامو په زمانه کي موجود وه، البته په ځینو روایاتو کي راځي چي حضرت عمربن عبد العزیز رحمه الله ایجاد کړي دي.

وګورئ:

حديث عبد المهيمن بن عباس يقول فيه لم يكن لمسجد النبى ﷺ محراب فى زمنه ثم أحدثه عمر بن عبد العزيز. (مقدمات الامام الكوثرى،ص:٤٢٦،ص:سعيد).

د دې جواب دا دئ چي په دغه کي عبد المهيمن بن عباس ضعيف راوي دئ لهذا دغه روايت ضعيف دئ او د عبد المهيمن بن عباس دوهم روايت د محراب د ثبوت سته چي د طبرانی په حواله تېر سوی دئ لهذا د دواړو تر منځ به تطبيق دارنګه کيږي:

والواقع ان المحراب كان موجوداً والذى زاد فيه عمر بن عبد العزيز ايام امرته بالمدينة المنورة سنة ٨٣ هو التجويف البالغ فى المحراب. (مقدمات الامام الكوثرى،ص:٤٢٦).

يعنى په عهد مبارک کي محراب موجود ؤ خو غير مجوف ؤ او حضرت عمربن عبد العزيز رحمه الله مجوف جوړ کړ يعنى منځ يې ډېر ورخالی کړ لهذا د دواړو روايتونو په تطبيق کي دا ښه توجيه ده. والله ﷻ اعلم.

د منبر رسول ﷺ څو زینی وې؟

سوال: د انحضرت ﷺ د منبر څو زینی وې؟ که درې وي نو له هغه څخه زیاتی جوړول به روا وي یا بدعت او یا مباح؟

الجواب: په شامي کي راځي:

ومنبره ﷺ كان ثلاث درج غيره المسماة بالمسترح. (فتاوى الشامى:٢/ ١٦١، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

چي د حضور ﷺ د منبر درې درجي وي له هغه سره موافقت بنه دئ کموالی او زیاتولی هم روا دئ.

(احسن الفتاوی:٤/ ١٢٠).

له ذکر سوي عبارت څخه معلومیږي چي د منبر نبوي درې زینی وي او له درو څخه زیاتي جوړول هم روا دي مګر بهتره او بنه همدغه ده چي د نبوي منبر سره موافقت وسي.

په امداد الفتاوی کي راځي:

قال الحافظ فى فتح البارى: إن فى الأحاديث الصحيحة أنه ﷺ كان يستند إلى الجذع إذا خطب ولم يزل المنبر عن حاله ثلث درجات حتى زاده مروان في خلافة معاوية رضي الله عنه ست درجات من أسفله ثم ذكر سبب ذلك. (ج ٢:ص٣٣١).

وروى أبو داود عن تميم الداري أنه قال لرسول الله ﷺ: ألا أتخذ لك منبراً يا رسول الله يجمع عظامك قال: بلى فأتخذ له منبراً مرقاتين. (رقم:١٠٨٣). إسناده صحيح.

وقال سيدي مولاي خليل أحمد دام مجده (فى شرحه قال الحافظ: وإسناده جيد) فاتخذ له منبراً مرقاتين أى درجتين وبين ما فى الصحيح أنه ثلث درجات منافات.

قلت: الذي قال: مرقاتين لم يعتبر الدرجة التى كان يجلس عليها النبى ﷺ.

(ج٢،ص:١٧٨).

له دې څخه معلومه سوه چې د نبوي منبر ټولي درې درجې وې سره د هغې درجې چې پر هغه به رسول الله ﷺ کښیناستی او پر کومو زینو چې به پورته کېدئ هغه دوې وې نو حاصل دا چې د پورته کېدو له پاره دوې زینې وې او د ناستی د درجې په یو ځای کېدو سره ټولي درې درجې وې او په شامي چې "ومنبره صلی الله علیه وسلم ثلاث درج غیر المسماة بالمستراح" (ج ۱/ ص۸٦۰).

په هغه کې له مستراح څخه د ناستی ځای مراد نه دئ بلکې هغه ځای چې هغه ته به یې شا لګوله مطلب دا چې شامي مستراح یعنی مستند ظهر په درو درجو کې نه دئ شمېرلې بلکې درې درجې له هغه څخه علاوه وې نو دغه عبارت د فتح الباري او عینی له عبارت سره منافي نه دئ او که له مستراح څخه د ناستي درجه مراد وي لکه دوهم قائل چې وایي او د شامي عبارت له فتح او عینی سره منافي وبلل سي نو د شامي عبارت ترجیح نه لري ځکه دی یې بیله سند نقل کوي او په فتح او عینی کې د صحیح سند په حواله درې درجې ښودل سوی دي او محقق عینی په روایت کې له علامه شامي څخه لوړه مرتبه لري او د حافظ رتبه خو ((اظهر من الشمس)) ده. (امداد الاحکام:۱۹۵، احکام المساجد). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالیٰ:

﴿ إن الصلاة كانت على المؤمنين كتابًا موقوتًا ﴾

عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: سألت النبيا

(أی العمل أحب إلى الله قال: الصلاة على وقتها) (رواه البخاری).

كتاب الصلوة باب

اول .... باب

د لمانځه د وختونو بيان

د پنځو لمنځونو پر پنځو وختونو د تقسيم دليل او حكمت

سوال: پنځه لمنځونه ولي پر پنځو وختونو تقسيم سوي دي؟ د مشروعيت دليـل يـې څه دئ او د دغو وختونو حكمت څه دئ؟

الجواب: د قرآن كريم له ډېرو اياتونو څخه د وختونو مشروعيت معلوميږي همدارنګه د جبرئيل د امامت له حديث او له دې څخه پرته نور احاديث هم د وختونو د مشروعيت دلائل دئ.

وګورئ الله تعالى فرمايي:

﴿ أقم الصلاة لدلوك الشمس إلى غسق الليل وقرآن الفجر إن قرآن الفجر كان مشهودًا ﴾.

(سورة بنی اسرائيل: الاية:۷۸).

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب ليكي:

جمهورو مفسرينو دغه آيت كريمه پنځو لمونځو ته جامع حكم بللى دئ:

﴿ لدلوك الشمس إلى غسق الليل﴾. (سورة الإسراء آيت:۷۸).

کي څلور لمنځونه راغلل ماپښين، مازديګر، ماښام او ماخستن و قران الفجر دلته يې لفظ د قرآن ويلي دئ مراد يې لمونځ دئ ځکه قرآن د لمانځه مهم جزء دئ د تفسير اکثرو امامانو ابن کثير، قرطبي. مظهري وغيره هم همدغه معنى ليکلي ده ځکه نو دآيت مطلب به داوي چې ﴿ لدلوك الشمس إلى غسق الليل﴾. په الفاظو کي د څلور لمنځونو بيان وو پنځم د سهار د لمانځه بيان دئ د هغه په جلا بيانولو کي د دغه لمانځه خاص اهميت او فضيلت ته اشاره ده. (معارف القرآن:٥/ ٥٠٢).

﴿ فسبحان الله حين تمسون وحين تصبحون (١٧) وله الحمد في السماوات والأرض وعشيا وحين تظهرون ﴾. (سورة الروم:الآية:١٧-١٨).

په تفسير درمنثور کي راځي:

أخرج عبد الرزاق والفريابي ، وابن جرير ، وابن المنذر ، وابن أبي حاتم والطبراني والحاكم وصححه عن أبي رزين رضي الله عنه قال : جاء نافع بن الازرق إلى ابن عباس رضي الله عنهما فقال : هل تجد الصلوات الخمس في القرآن؟ قال : نعم ، فقرأ ﴿ فسبحان الله حين تمسون ﴾صلاة المغرب ﴿ وحين تصبحون ﴾ صلاة الصبح، ﴿ وعشيا ﴾ صلاة العصر ﴿ وحين تظهرون ﴾ صلاة الظهر، وقرأ ﴿ ومن يعد صلاة العشاء ﴾ وأخرج ابن أبي شيبه ، وابن جرير ، وابن المنذر عن ابن عباس رضي الله عنهما قال : جمعت هذه الآية مواقيت الصلوة ﴿ فسبحان الله حين تمسون ﴾ قال : المغرب والعشاء .... (الدر المنثور:٦/ ٤٨٨).

په معارف القرآن کريم کي ليکي:

علماء وايي چي په دغه آيت کي د پنځو لمنځونو سره د دوی د وختونو يادونه راغلي ده لکه څنګه چي د حضرت ابن عباس څخه چا پوښتنه وکړه چي په قرآن کي د پنځو لمنځونو يادونه په څرګنده

توګه سته او په استدلال کې يې همدغه آيت وړاندې کړ او حضرت حسن بصري رحمه الله وايي: چې په ﴿ حين تمسون ﴾ کې ماښام او ماخستن دواړه داخل دي. (معارف القرآن جلد ٦/ ٧٢٩).

په بخاري شريف کې راځي:

عن ابن شهاب أن عمر بن عبد العزيز رحمه الله أخر الصلاة يومًا فدخل عليه عروة بن الزبير فأخبره أن المغيرة بن شعبة رضي الله عنه أخر الصلاة يومًا وهو بالعراق فدخل عليه أبو مسعود الأنصاري رضي الله عنه فقال: ما هذا يا مغيرة؟ أليس قد علمت أن جبريل عليه السلام نزل فصلى فصلى رسول الله ﷺ ثم صلى فصلى رسول الله ﷺ ثم قال: بهذا أمرت ... الخ. (رواه البخاري: ١/ / ٧٥/ ٥١٥، باب مواقيت الصلاة).

په ترمذي شريف کې راځي:

أن النبي ﷺ قال: أمني جبريل عليه السلام عند البيت مرتين فصلى الظهر في الأولى منهما حين كان الفيء مثل الشراك ثم صلي العصر حين كان كل شيء مثل ظله ثم صلي المغرب حين وجبت الشمس وأفطر الصائم ثم صلى العشاء حين غاب الشفق ثم صلي الفجر حين برق الفجر وحرم الطعام على الصائم وصل المرة الثانية الظهر حين كان ظل كل شيء مثله لوقت العصر بالأمس ثم صلي العصر حين كان ظل كل شيء مثليه ثم صلي المغرب لوقته الأول ثم صلي العشاء الآخرة حين ذهب ثلث الليل ثم صلي الصبح حين أسفرت الأرض ثم التفت إلى جبريل عليه السلام فقال يا محمد هذا وقت الأنبياء من قبلك والوقت فيما هذين الوقتين. (رواه الترمذي: ١/ ٣٨، ابواب الصلاة – وأبو داؤد: ١/ ٥٦).

په درس ترمذي کې راځي:

دغه حديث حديث امامت جبرئيل بلل کيږي او په باب کې د مواقيتو اصل دئ که الله تعالى وغواړي نو دا هم ممکنه وه چې د مواقيتو تعليم يې په الفاظو ورکړی وای خو د حضرت جبرئيل

ﷺ په ذریعه یې د عملي تعلیم طریقه اختیار کړه ځکه هغه په ذهن کې ښه ثابته وي. (درس ترمذی: ۱/ ۳۹۳).

پر وختونو د تقسیمولو حکمت

سهار راپورته کېدل د مرګ څخه وروسته د راژوندی کېدو په معنی دي لهذا د شکر په توګه باید لمونځ وسي، د زوال په وخت کې د ژوندانه د زوال لوري ته اشاره ده باید د مرګ تیاري وکړئ د مادزیګر وخت مرګه ته د نژدې کېدو علامه ده چې د لمر په شان زه هم تلونکی یم د ماښام پر مهال چې لمر لوېدلی وي د ژوندانه د لمر د ډوبېدو لوري ته اشاره ده نو باید په عبادت کې مشغول سي او په ماخستن کې د لمر نښانونه هم ورک سوي وي نو اشاره ده چې یوه ورځ به ستا نښانونه هم داسې ورک وي لهذا د خپل ځای له پاره تیاري وکړه او د ماخستن لمونځ وکړه. والله تعالیٰ واعلم.

د رمضان المبارک په میاشت کې د سهار لمونځ په اول وخت کې اداء کول

سوال: د رمضان په میاشت کې احناف د سهار لمونځ په اول وخت کې اداء کوي حال دا چې په سهار کې اسفار مستحب دي، نو په رمضان کې د تعجیل او تلوار کولو دلیل څه دئ؟

الجواب: د دې لپاره دلیل په حدیث شریف کې موجود دئ.

حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه فرمایي: چې موږ د رسول الله ﷺ سره پیشلمي وکړ بیا د سهار د لمانځه لپاره ودرېدو راوی پوښتنه وکړه چې د پیشلمي او د سهار د لمانځه تر منځ څومره فاصله وه؟ وې فرمایل: چې دومره چې پنځوس ایاتونه وویل سي.

وګورئ په ترمذي شریف کې راځي:

عن زید بن ثابت رضي الله عنه: قال تسحرنا مع النبي ﷺ ثم قمنا إلی الصلاة قال: قلت: کم کان قدر ذلك قال: قدر خمسین آیة. (رواه الترمذی: ۱/ ۱۵۰، باب ماجاء فی تاخیر السحور).

حضرت علامه کشمیري رحمه الله د دغه حدیث شرحه لیکي فرمایي:

لقد تحیر الحافظ في هذا الحدیث فإن قدر خمسین آیة یمکن في أقل من أربع دقائق، ثم قال: إن هذا التبین إنما هو من شأن النبوة لا یمکن لغیره وهو حقیقة الأمر، ودل الحدیث علی

تغليسه عليه الصلاة والسلام في رمضان وهو عمل قطان ديوبند . (عرف الشذى:۱/ ۱۵۱،باب ماجاء فی تاخير السحور).

همدارنګه علامه بنوري رحمه الله هم په معارف السنن کي همدغه ليکلي دي.(معارف السنن:۵/ ۳۶۲، سعيد).

د هدايې ځينو شارحينو ليکلي دي چي اصل دا دئ چي په اول وخت کي لمونځ اداء سي په سهار کي تاخير د جماعت د زياتوالی له پاره دئ او په رمضان المبارک کي تکثير د جماعت په اول وخت کي دئ که نه خلک به د پيشلمي وروسته بيده سي او لمونځ به يې قضاء سي له همدې امله په رمضان المبارک کي په اول وخت کي لمونځ اداء کول ښه دي.

وګورئ علامه شامي رحمه الله ليکي:

نعم ذكر شراح الهداية وغيرهم في باب التيمم أن أداء الصلاة في أول الوقت أفضل إلا إذا تضمن التأخير فضيلة لا تحصل بدونه كتكثير الجماعة ولهذا كان أولى للنساء أن يصلين في أول الوقت لأنهن لا يخرجن إلى الجماعة. كذا في مبسوطي شمس الأئمة وفخر الإسلام. (شامي:۱/ ۳۶۷، سعيد). والله ﷻ اعلم.

هغه مملکتونه چي ورځي يې معتدلي نه وي د لمانځه، روژې او اختر لمانځلو حکم يې

سوال: هغه ممالک چي ورځي يې اوږدې دي يا خو شفق نه لوېږي يا وخت نه وي، نو د لمانځه، روژې او اختر حکم يې څه دئ؟

الجواب: غير معتدل مملکتونه پر درې قسمه دي: (۱) شپه او ورځ خو په څلېرويشت ساعتونو کي پوره کېږي خو د ورځي څه اجزاء نه وي مثلاً شفق نه لوېږي، نو شپه نه راځي يا شفق ښکاره وي خو لمر نه راخيږي په دې صورت کي حکم دا دئ چي اندازه دي وکړي او لمنځونه دي اداء کړي او د اندازې کولو درې صورتونه دي: (۱) په ټول کال کي دي د معتدلو ورځو د اخرنۍ ورځي حساب د غير معتدلو ورځو پر ټوله مده ولګوي په هغه حساب دي لمونځ وغيره اداء کړي، خو دا ډېره مشکله

ده مثلاً چې کله اخري ورځ شفق ولوېږي او بيا سپيدې راوخيږي نو د (۸) دقيقو فاصله وه نو (۸) دقيقې انتظار کول او بيا لمونځ اداء کول ډېر مشکل دئ.

(۲) هغه نژدې علاقې ته دې اعتبار وکړي چيرې چې شفق لوېږي.

(۳) شفق چې کله د غروب لورې ته مايل سي نو هغه د ماښام او ماخستن وخت دئ، همدارنګه چې اول نيمايي به يې د ماښام له پاره او دوهم نيمايي به يې د ماخستن له پاره وي او کله چې شفق د لمر راختلو لوري ته مايل سي نو هغه به د سهار وخت وي له دغو درو څخه هر لاره چې اسانه وي په هغه عمل کولای سي.

۱_ که شپه او ورځ په څليرويشتو ساعتونو کي پوره کيږي او ټول وختونه هم موجود دي خو ځيني وختونه ډېر لنډ وي په داسي علاقو کي به لمونځ پر خپل معلوم وخت اداء کوي که څه هم ډېر لږ وي، البته که د سنتونو او نوافلو موقع نه وي، نو يوازي په فرضو دې اکتفاء وکړي بيا دي بل وخت د پاته سوو سنتونو په اندازه نوافل وکړي، خو که وخت دومره لنډ وي چې څلور رکعته فرض هم اداء کېدای نه سي، نو دوه احتماله دي: (۱) په دغه وخت کي دي لمونځ وکړي که څه هم د وخت د پوره کېدلو وروسته پوره سي. (۲) په اندازه سره دي لمونځ وکړي. (۳) که شپه او ورځ په څليرويشتو ساعتونو کي نه پوره کيږي بلکي کله شپه شپږ مياشتي وي او کله ورځ شپږ مياشتي وي په داسي ممالکو کي دي نژدې علاقي ته اعتبار ورکړل سي.

د روژې حکم

چيري چې شپه او ورځ په څليرويشتو ساعتونو کي پوره کيږي خو شپه يې ډېره لنډه وي نو که يې روژه د تحمل او برداشت وړ وي نو د ټولي ورځي روژه دي ونيسي او که د تحمل وړ نه وي مثلاً د خوراک او څښاک له پاره کافي وخت نه وي يا په څليرويشتو ساعتونو کي يو ځل خوراک کافي نه وي نو په دغه صورت کي دي نژدې علاقې ته اعتبار ورکړل سي، همدارنګه چيري چې د شپږ مياشتې شپه او شپږ مياشتې ورځ وي هلته دې هم نژدې مملکتونو ته اعتبار ورکړل سي په هغه اندازه دي روژې نيسي او افطار دي کوي.

د اختر لمانځلو طريقه

رمضان او اخترونه د سپوږمۍ څخه معلوميږي د حضور ﷺ ارشاد دئ :

صوموا لرؤيته وأفطروا لرؤيته. (ترمذي:۱/ ۱٤۷:باب ماجاء لاتتقد الشهر لصوم).

او که سپوږمی ونه لیدل سي نو میاشت به دېرش ورځي شمېرل کیږي.

د رسول الله ﷺ وینا ده:

فإن حالت دونه غيابة فأكملوا ثلاثين يوما. (ترمذى شريف:۱/ ۱٤۸، باب ماجاء ان الصوم لروية الهلال الافطارله).

دا حکم د لومړنیو دوو ډلو له پاره دئ چي هلته شپه او ورځ په څلیرویشتو ساعتونو کي پوره کیږي پاته سوه اخرني قسمونه چي هلته همېشه شپه او یا همېشه ورځ وي هلته به اندازه کوو او د اندازه کولو دوه صورتونه دي:

۱_ څلیرویشت ساعتونه به یوه ورځ شمېرو او میاشت به دېرش ورځي وشمېرو.

۲_ د نژدې ملک پیروي دي وکړي چیري چي شپه او ورځ برابره وي د دې مسئلې دلیل د دجال حدیث دئ.

وګورئ په مشکوة شریف کي راځي:

عن النواس بن سمعان رضي الله عنه قال ذكر رسول الله ﷺ الدجال فقال " إن يخرج وأنا فيكم فأنا حجيجه دونكم إلى قوله ... قلنا يا رسول الله وما لبثه في الأرض قال " أربعون يومًا يومكسنة ويومكشهر ويومكجمعة وسائر أيامه كأيامكم ". فقلنا يا رسول الله هذا اليوم الذى كسنة أتكفينا فيه صلاة يوم؟ قال: لا، اقدروا له قدره. (مشكوة شريف:۲/ ٤۷۳، باب العلامات بين يدى الساعة وذكر الدجال).

طحطاوی علي الدرالمختار کي راځي:

(وفا قد وقتهما كبلغار فإن فيها يطلع الفجر قبل غروب الشفق فى أربعينية الشتاء مكلف بهما فيقدر لهما) اعلم أن التقدير له معنيان أحدهما: ماسيأتي تقريره فى مسئلة الدجال

والثانی: فیه طریقتا: الأولی: أن یعتبر بأقرب البلاد إلیهم کما ذکره الشافعیة .... والثانیة: أن ینظر إلی وقت العشاء فی القریبة منها ماذا یکون من لیلهم فبقدر هذه النسبة یفعل فی هؤلاء فإن کان السدس جعلنا لهؤلاء سدسه وقت المغرب وبقیة وقت العشاء وإن قصر جداً، وکذا یقدرون فی الصوم لیهلم بأقرب بلدیلیهم ... (قوله واختاره الکمال) حیث قال: ومن لم یوجد عندهم وقت العشاء أفتی البقال بعدم الوجوب علیهم لعدم السبب کما یسقط غسل الیدین من الوضوء عن مقطو عهما من المرفقین ولایر تاب متأمل فی ثبوت الفرق بین عدم محل الفرض وبین سببه الجعلی الذی جعل علامة علی الوجوب الخفی الثابت فی نفس الأمر لجواز تعدد المعرفات للشیء فانتفاء الوقت انتفاء المعرف وانتفاء الدلیل عی الشیء لایستلزم انتفائه لجواز دلیل اخر وقد وجد وهوما توالت علیه أخبار الإسراء من فرض الله تعالی الصلوات خمسًا بعد أمر الله تعالی أولاً بخمسین ثم استقر الأمر علی الخمس شرعاً عاماً لأهل الآفاق لاتفصیل فیه بین قطر وقطر وما روی أنه ﷺ ذکر الدجال قلنا مالبثه فی الأرض قال: أربعون یوماً یوم کسنة ویوم کشهر ... فقد أوجب أکثر من ثلثمأة عصر قبل صیرورة الظل مثلاً أو مثلین وقس علیه فاستفدنا أن الواجب فی نفس الأمر خمس علی العموم غیر أن توزیعها علی تلک الأوقات عند وجودها ولایسقط بعدمها الوجوب ولذا قال ﷺ خمس صلوات کتبهن الله علی العباد .(طحطاوی علی الدر المختار:١/ ١٧٥-١٧٦).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (تکملة فتح الملهم:٦/ ٣٧٣ -٣٨٣). والله ﷻ اعلم.

که وخت دوهم ځل داخل سي نو د لمانځه حکم

سوال: که کوم چا د جمعې لمونځ په اول وخت کې اداء کړ بیا یې په یوه تیز جهاز کې سفر وکړ چیرې چې و رسېدۀ هلته بیا د جمعې وخت را داخل سو نو دوهم ځل لمونځ فرض دۀ او که نه؟

الجواب: فرض لمونځ دوهم ځل اداء کول لازم نه دي فرض یې اداء سوی دي، البته د وخت د احترام له امله او د مسلمانانو د موافقت له پاره دي هغه اداء کړي۔

وګورئ په فتاوی محمودیه کې راځي:

سوال: یو چا دلته د ماښام لمونځ اداء کړ بیا د طیارې په ذریعه مکې مکرمې ته ورسېدۀ هلته د وخت د تفاوت له امله د ماښام د لمانځه وخت راغی ایا دوهم ځل به د ماښام د لمانځه اداء کول لازمي وي؟

الجواب: احتراماً الوقت وموافقه للمسلمین دي هغه لمونځ وکړي که څه هم فرض یې اداء سوی دي. (فتاوی محمودیه: ۱۰/ ۳۷۸: کتاب الصوم).

په احسن الفتاوی کې راځي:

سوال: یو چا د ماښام لمونځ اداء کړ په طیاره کې سپور سو طیاره د مغرب لورې ته په دومره تیزي سره ولاړه چې بیا لمر ولیدل سو نو ایا پر ده به دوهم ځل د ماښام لمونځ واجب وي؟

الجواب: د ماښام لمونځ دوباره اداء کول واجب نه دي. قال في شرح التنویر فلو غربت ثم عادت هل یعود الوقت؟ الظاهر نعم. قال ابن عابدین رحمه الله (قوله الظاهر نعم) بحث صاحب النهر حیث قال: ذکر الشافعیة ان الوقت یعود ... قلت: علی ان الشیخ إسمعیل ردما بحثه في النهر تبعاً للشافعیة بان صلاة العصر بغیبوبة الشفق تصیر قضاءً ورجوعها لایعیدها أداءً وما في الحدیث خصوصیة علی ﷺ کما یعطیه قوله علیه الصلاة والسلام: إنه کان في طاعتک وطاعة رسولک. قلت: ویلزم علی الأول بطلان صوم من أفطر قبل ردها وبطلان صلاة المغرب لو سلمنا عود الوقت بعودها للکل. والله ﷻ اعلم. (ردالمحتار: ۱/ ۳۳٤- احسن الفتاوی: ٤/ ٦۹).

د صبح صادق او لمر راختلو همدارنگه د لمر لوېدو او د ماخستن د لومړی وخت تر منځ د فاصلي اندازه

سوال: د صبح صادق او لمر راختلو تر منځ همدارنگه د لمر لوېدو او ماخستن د شروع تر منځ یو ساعت فاصله وي او که زیاته ځیني کسان وایي چي (۱۸) درجي دي او ځیني یې (۱۵) گڼي کوم قول درست دئ؟

الجواب: د دغو دواړو وختونو تر منځ د فاصلي اندازه اکثرو حضراتو د یو ساعت او شلو دقیقو څخه تر یو ساعت او (۳۸) دقیقو پوري ښودلي ده، البته حضرت مفتي رشید احمد رحمه الله (۵۷) دقیقې ښودلي دي.

خو دا یوازي د ده تفرد دئ د اکثرو حضراتو راي له ده څخه خلاف ده او د (۱۸) درجو قول اکثرو حضراتو غوره کړي دئ.

وگورئ په کفایت المفتي کي راځي:

دغه وقفه همېشه یو شان نه وي یعني په لړو لړو ورځو کي په هغه کي زیاتوالی او کموالی کیږي خو دغه وقفه له یو ساعت او یوویشتو دقیقو څخه هیڅکله نه کمیږي د جون په میاشت کي هغه تر ټولو زیاته یعني یو ساعت او (۳۸) دقیقې وي او په ستمبر کي هغه تر ټولو کمه یعني یو ساعت او یوویشت دقیقې وي. (کفایت المفتی: ۳/ ۷۲).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:


د لمر لوېدو څخه وروسته د ماخستن وخت عند الامام ابی حنیفه رحمه الله هغه وخت وي چي سپین شفق غائب سي د هغه اندازه په ځینو موسمونو کي یو ساعت (۲۴) یا (۲۵) دقیقې او په ځینو موسمونو کي یو ساعت (۲۷) دقیقې او په ځینو وختونو کي له دې څخه زیاته وي، نو د ماښام او ماخستن تر منځ باید فاصله له یو نیم ساعت څخه کمه نه وي بلکي احتیاطا باید پاو کم دوه ساعته فاصله ورکړل سي او له جنتري څخه لمر راختل لمر لوېدل د صبح صادق وغیره اندازې په هر وخت کي معلومېدای سي. (فتاوی دار العلوم دیوبند: ۲/ ۴۲). والله تعالی اعلم.

د سلو کالو وړاندي د صبح صادق تحقیق

له نن څخه تقریباً سل کاله وړاندې سنه (۱۳۱۳) هـ مطابق سنه (۱۸۹۶) کې د صبح صادق په هکله یوه رساله په نامه د حل الدقائق فی تحقیق الصبح الصادق عالم رباني حضرت مولانا محمد لطف الله صاحب تالیف کړې وه په هغه کې دی د صبح صادق په هکله لیکي غرض دا چې د سپیلو د راختلو څخه تر لمر راختلو پورې زمانه د لمر لوېدو او شفق د لوېدو سره برابره وي له نقلي وجوهاتو څخه علاوه یې ظاهري وجه دا ده چې کله لمر د مځکې څخه لاندې د راختلو له پاره حرکت کوي تر داسې بریده چې ترافق پورې ورته (۱۸) درجې پاتې وي نو په دغه وخت کې په افق کې عرضاً رڼا ښکاره کیږي چې د هغه نوم صبح صادق دئ او دغه رڼا زیاتیږي تر داسې بریده چې سهار سي همدارنګه چې مازدیګر بیا د مځکې پر لورې ځي تر داسې بریده چې (۱۸) درجې د مځکې لورې ته رسیږي نو هغه سپین والی چې د لمر لوېدو څخه وروسته وي او د هغه نوم شفق دئ هغه لوېږي دا ښکاره خبره ده چې کله د لمر راختلو پر وخت یې پر (۱۸) درجې رڼا وکړل نو همدارنګه به د لوېدو په وخت کې د ده رڼا د (۱۸) درجو څخه وروسته پټیږي او د همدغه شفق د پټېدو وروسته د ماخستن د لمانځه وخت شروع کیږي او نن سبا د همدغه مطابق تعامل دئ. (حل الدقائق ص ۳۲).

په دغه زمانه کې منشي محمد اعلی رئیس میرټهـ هم یوه رساله د صبح صادق په نامه تصنیف کړې ده په هغه کې یې هم صبح صادق هغه وخت لیکلي دئ چې لمر (۱۸) درجې د افق څخه لاندې سي د دغو دواړو رسالو تصدیق د علماء دیوبند د اکابرینو له لورې څخه شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب، حضرت مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوري، مؤلف د بذل المجهود او حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمن صاحب او حضرت مولانا حبیب الرحمن عثماني همدارنګه حضرت مولانا حافظ احمد بن حضرت مولانا محمد قاسم صاحب باني دار العلوم دیوبند قدس الله اسرار هم کړې ده او پر هغه یې تقریظونه لیکلي دي.

نقشه



(برطانیه واعلی عروض البلاد باندي صبح صادق وشفق تحقیق، از مولانا یعقوب قاسمی، ص: ۸۰-۸۱، جامعه علوم القرآن جمبوسر).

د صبح صادق د اولنی وخت په هکله د (۱۸) درجو د قول دلائل

مؤلف د روح المعاني علامه آلوسی رحمه الله د سورة تکویر د دغه آیت کریمه ﴿ والصبح إذا تنفس﴾ په تفسیر کي لیکي:

ان تنفس الصبح وضیاءه بواسطة قرب الشمس إلى الأفق الشرقی بمقدار معین وهو فی المشهور ثمانیة عشر جزءً . (روح المعانی:۳۰/ ۵۹).

ژباړه: صبح صادق هغه رڼا ده چي د لمر پر مشرقي افق په ټاکلي اندازه رانژدې کیږي او د مشهور قول مطابق هغه (۱۸) درجي ده، دلته له سهار څخه صبح صادق مراد دئ ځکه له دي څخه مخکي علامه آلوسی رحمه الله وایي:

فی الآیة إشارة إلی الفجر الثانی الصادق وهو المنتشر ضوءه معترضا بالأفق.

په ربع المجیب کي لیکلي دي:

وعلی قول أبی حنیفة رحمه الله المعتبر فی الحصتین أن یکون الشمس منحطة (۱۸ درجة) والدائرة لإرتفاع ۱۸ بدرجة النظیر هو الحصة لکل منهما فهما مستویان. (ربع المجیب: صد ۲۳).

د اوسني زماني د علم فلکیات ماهر استاد علامه محمد بن عبد الوهاب مراکشی زید عمره په کتاب ((ایضاح القول الحق فی مقدار انحطاط الشمس وقت طلوع الفجر وغروب الشفق)) **کي لیکي:**

۱- وقد عرف بالتجربة أن انحطاط الشمس عند أول طلوع الفجر ۱۸ جزءا. (ص ۱۰)

۲- وممن قال بالثمانیة عشر أبو الحسن عبد الرحمن الصوفی البزاز المتوفی ۶۷۳.

۳- وممن قال بالثمانیة عشر فی الفجر و فی الشفق الأستاذ الرئیس أبو علی الحسن بن عیسی المجاصی فقد قال فی رسالته تذکرة أولی الألباب فی عمل صفة الإصطرلاب، فصل فی تخطیط أوقات الصلاة أما الفجر والشفق فان خطیهما هو مقنطرة ثمانیة عشر فی کل عرض وفی کل زمان. (ص ۱۴).

۴- عمل طائفة من المتقدمین من فلکی الإسلام علی أن حصتی الفجر و الشفق متساویان وان ابتداء طلوع الفجر و انتهاء غروب الشفق یکونان عند انحطاط الشمس عن الافق ۱۸ عشر درجة. (ص ۱۶).

له نن څخه تقریباً شپیته کاله مخکي مولانا محمد عبد الواسع د جامعه عثمانیې حیدر اباد دکن د شرعیاتو د څانګي پروفیسر په خپل کتاب کي د سهار او شفق د تفصیلي وضاحت څخه وروسته

لیکي د سهار ابتداء او د شفق ابیض انتهاء هغه وخت کیږي چې کله لمر له عمود څخه (۱۸) درجې لاندې وي. (معیار الاوقات للصیام والصلات:۱۵).

پروفیسر عبد اللطیف صاحب کراچي په خپل کتاب کې له تفصیلي بحث څخه وروسته د پاکستان او هندستان د لمانځه د وختونو د نقشو په هکله لیکي له ډېرو کلونو څخه په برصغیر کې د وختونو د مخکنیو نقشو او جنتریو مطابق کوم وخت چې د سهار اذان کیږي یا کوم وخت چې صبح صادق گڼل سوی دئ چې هغه ته د پیشلمي اخرني وخت هم ویل کیږي هغه د هغې خاصي لمحې وختونه دي چې کله لمر د راختلو مخکې (۱۸) درجې د زیر افق حد ته رسېدلی وي او د دغه وخت څخه د فلکیاتو د ماهرینو په اعتبار د صبح صادق وخت شروع کیږي. (ملخص از کتاب ((برطانیه و اعلی عروض البلاء د پر صبح صادق وشفق کی تحقیق)) ص ۷۳- ۷۸، مؤلف: حضرت مولانا یعقوب قاسمی رکن جامعه علوم القران مجلس شوری، ناشر: جمبو سرو برطانیه، دیو زبری).

په عمدة الفقه کې حضرت مولانا سید زوار حسین شاه صاحب لیکي:

نن سبا ساعتونه زیات دي او قات نمودونکی جنتریاني عامي دي او نقشې په اکثرو مسجدونو کې موجودي دي د دوی مطابق د لمنځونو د وختونو پابندي کول روا بلکې مستحسن دي ساعتونه باید صحیح وي زموږ په ملک کې د سپیدو څخه د لمر تر راختلو پوري لږ تر لږه یو ساعت او (۱۸) دقیقې وقفه ده او زیاته یو ساعت او (۳۵) دقیقې ده. (عمدة الفقه کتاب الصلاة حصه دوهم ص ۲۶).

په دغه مسئله کې د (۱۸) درجو قول راجح او معتمد دئ او همدغه زیات مشهور او په تجربه هم ثابت دئ.

حضرت مفتي محمد فرید صاحب لیکي:

همدارنگه ښکاره سوه چې د صبح صادق وخت د لمر د راختلو څخه یو نیم ساعت مخکې نه شروع کیږي له زیات نه زیات پاؤ بالا یو ساعت مخکې شروع کیږي. ((کما هو یعلم من المشاهده والریاضی)). (فتاوی فریدیه:۲/ ۱٤٥: باب المواقیت).

نوټ: حضرت مفتي صاحب به د څو خاصو ورځو په هکله ويلي وي که نه په ځينو ورځو کي له پاؤ بالا يوه ساعت څخه زيات وخت وي، زمونږ د مشاهدي پر بنياد غالباً پاؤ بالا يو ساعت د سهار وخت وي او همدارنګه د ماښام وخت دئ . (فتاوی فريديه: ۲/ ۱۵۱ : باب المواقيت).

چي کله لمر يقيناً ولويږي او له هغه څخه وروسته پاؤ بالا يو ساعت تېر سي نو د ماخستن وخت داخليږي زمونږ په مشاهده او تجربه سره دا خبره ثابته ده. (فتاوی فريديه: ۲/ ۱۵٦ : باب المواقيت).

په منهاج السنن کي راځي:

قلت: وصرح المشائخ بتفاوت الوقت بين طلوع الفجر الصادق وطلوع الشمس وكذا بين غروب الشمس وغيوب البياض بتفاوت المواسم والبلاد والمشاهد فى ديارنا قدر ساعة وربع ساعة . (منهاج السنن: ۲/ ۱۰، باب مواقيت الصلاة).

تر کومه ځايه چي د مشاهدي تعلق دئ نو د هغه يو غټ دليل کتاب د تسهيل الفلکيات چي مصنف يې پروفيسر عبد اللطيف صاحب دئ پر هغه د جامعي دار العلوم وزيرستان (وانا) د مهتمم مولانا نور محمد تقريظ هم دئ چي د هغه فوټو کاپي هم موجوده ده او هغه تقريظ په لاندي ډول دئ:

جناب محترم عبد اللطيف صاحب زيد مجدکم

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته:

ستاسو د غوښتل سوو اوقاتو اړوند مو مخکي هم تحقيق درليږلی ؤ اوس بيا يادونه کوو چي ما د دار العلوم وزيرستان وانا د جيدو علماء يوه شورا وټاکل چي هغوی د تاريخ (۱۳) جون سنه (۸۸) څخه تر (۲۱) جون پوري د صبح صادق او لمر لوېدو اوقات وکتل او بيا يې ما ته راکړه چي کله ما ستا د راليږلو اوقاتو سره وکتل، نو ستاسو نقشه ښخي سل فيصده ورسره برابره وه حال دا چي ما د غو علماؤ ته ستا د نقشي اوقات ښودلي نه دي، نو تاسو ته زيری درکوو چي د وانا د اوقاتو اړوند ستا نقشه ښخي درسته ده، د شورا د علماؤ نومونه دا دي:

(۱) مولانا عبد الوارث صاحب. (۲) مولانا عبد المجيد صاحب.

(۳) مولانا اصلاح الدين صاحب. (۴) مولانا فريد احمد صاحب.

په دغه تقریظ کي دا خبره په ډاګه ده چي د جناب عبد اللطیف صاحب نقشه بېخي درسته ده او یاده دي وي چي د ده نقشه د (۱۸) درجو مطابق ده د دغې موضوع اړوند په برطانیه کي جلسه جوړه سوه د هغې اړوند د حضرت مفتي محمود صاحب ګنګوهی مفتي اعظم دار العلوم دیوبند فیصله وګورئ.

څنګه چي په برطانیه کي د صبح صادق د رویت هلال مسئله همېشه په اختلاف کي ده له یوه سره خپل دلائل دي او هریو پر خپله رائې ټینګ دئ په سنه (۱۴۰۳) کي چي کله حضرت مفتي محمود صاحب هلته تشریف یووړ نو د هغه ځای علماؤ په دغه مسئله کي هغه ته رجوع وکړه، ده د علماؤ د دلائلو او شواهدو مطالعه وکړه او داسي یې ولیکل خلاصه یې دا ده.

په برطانیه کي د صبح صادق شفق د بیاض منتشر مسئله نه ډېر وخت څخه شېړل سوي ده د ماښام او ماخستن د سهار د وخت او د پیشلمي د وخت پای ته رسېدل له هغه سره خاص تړا ولري ناکاره بنده د علماؤ په تحریراتو سره مشرف سو مګر زه اقرار کوم چي د مطالعي څخه وروسته یوې حتمي فیصلي ته د رسېدو څخه قاصر یم احقر محمود غفرله . ١٦ شعبان ۱۴۰۳.

مګر له دې څخه وروسته ټولو علماؤ د فکر کولو څخه وروسته د قرب الایام پر وړاندیز متفق سوه او ټولو دا وړاندیز قبول کړ حضرت مفتي صاحب پر هغه دستخط وکړ او خپل مخکني تحریر یې واپس واخیست.

متفقه فیصله

نن (١٦) شعبان سنه (۱۴۰۳ هـ) کي د جمعیة العلماء برطانیه له طرفه یوه غونډه د حضرت مفتي محمود صاحب تر مشرتابه لاندي جوړه سوه چي په هغه کي په برطانیه کي د صبح صادق په هکله د اوږده غور او فکر وروسته ګډون کونکو علماؤ په لاندي توګه فیصله وکړه چي له دې څخه مخکي چي په برطانیه کي خونو ټیکل ټور ولائټ چي (۱۲) درجي صبح صادق ګرځولي ؤ هغه غلط دئ او په برطانیه کي چي په کومو ورځو کي صبح صادق وي یعنی چي لمر له افق څخه (۱۸) درجي لاندي ولاړ سي دغه ته په اصطلاح کي سترونو میکل ټولائټ ویل کیږي په دغو ورځو کي به همدغه وخت صبح صادق وګڼل سي ځکه همدغه وخت په اصل کي د صبح صادق وخت دئ البته په کومو ورځو کي چي په برطانیه کي په مختلف عرض البلد کي لمر له (۱۸) درجو څخه لاندي نه

ځي په دغو ورځو كي د صبح صادق په هكله همدغه فيصله سوي ده، چي د عرض البلد پر خپل ځای چي په اخرنی تاریخ کي د صبح صادق هر وخت ؤ د هغه مطابق به پر هغه وخت په نورو ورځو کي هم د صبح صادق پيل او اختتام تاكل كيږي. العبد شبير احمد عفى عنه.

حضرت والا دغه فيصله درسته وګڼل او علماء كرامو ته يې مبارکي ورکړه او خپل مخکني تحرير يې واپس واخيست.

د حضرت والا رالیږل سوی تحرير:

۱۶ شعبان سنه ۱۴۰۳ کي د صبح صادق بياض منتشر د پيشلمي د اخرنی وخت اړوند د بحث له پاره د جمعية علماء برطانيه مجلس جوړ سو په هغه کي احقر هم شامل ؤ له دې ځخه وړاندې د علماء كرامو څو ليكني پر دغه مسئله احقر مطالعه كړي وي، مګر يوې رائې ته ترجيح وركول مشكل وه څو وروسته علماء كرامو بحث وكړ او پر يوه رائې يې اتفاق وكړ او چا هغه باطله كړې نه ده. نو احقر هم پر هغه دستخط وكړ او خپله ليكنه يې دوباره واخيسته. (ملخص از حیات محمود: ص: ۲۰۱-۲۰۵).

نقشه وګورئ

تاريخ	صبح صادق	طلوع لمر	درميان وخت	غروب لمر	ابتدائي عشاء	درميان وخت
مياشت	دقيقه ساعت	دقيقه ساعت	دقيقه ساعت	دقيقه ساعت	دقيقه ساعت	دقيقه ساعت
۱، جنوری	۵:۱۷	٦:٤٣	۱:۲٦	٥:۱۹	۷:٤۱	۱:۲۲
۱، فرورى	۵:۱۹	٦:٤۱	۱:۲۲	٥:٤۱	۷:۰۱	۱:۱۹
۱، مارچ	۵:۰۱	٦:۲۱	۱:۲۰	٦:۰۰	۷:۱۷	۱:۱۷
۱، اپريل	٤:۳۰	٥:٥۰	۱:۲۰	٦:۱٤	۷:۳۱	۱:۱۷

١، مئی	٣:٥٦	٥:٢٣	١:٢٧	٦:٢٨	٧:٥٠	١:٢٢
١، جون	٣:٣٦	٥:٠٨	١:٣٢	٦:٤٣	٨:١٣	١:٣٠
١،جولائی	٣:٣٦	٥:١١	١:٣٥	٦:٥٢	٨:٢٢	١:٣٠
١،اگست	٣:٥٦	٥:٢٥	١:٢٩	٦:٤٣	٨:٠٩	١:٢٦
١،ستمبر	٤:١٦	٥:٣٩	١:٢٣	٦:١٧	٨:٣٨	١:٢١
١،اکتوبر	٤:٢٩	٥:٥٠	١:٢١	٥:٤٦	٧:٠١	١:١٥
١، نومبر	٤:٤٢	٦:٠٥	١:٢٣	٥:١٨	٦:٣٦	١:١٨
١،دسمبر	٥:٠٠	٦:٢٦	١:٢٦	٥:٠٧	٦:٢٨	١:٢١

یوه عالمی تاریخ د حضرت مولانا عثمان معروفی ص:١٦١-١٧٢

نقشه د جوهانسبرغ له پاره

تاریخ	صبح صادق	طلوع لمر	درمیان وخت	غروب لمر	ابتدائي عشاء	درمیان وخت
میاشت	دقیقه ساعت	دقیقه ساعت	دقیقه ساعت	دقیقه ساعت	دقیقه ساعت	دقیقه ساعت
١، جنوری	٣:٥٠	٥:٢٠	١:٣٠	٧:٠٦	٨:٣٣	١:٢٧
١، فروری	٤:١٩	٥:٤٣	١:٢٤	٧:٠٣	٨:٢٤	١:٢١
١، مارچ	٤:٤٣	٦:٠٢	١:١٩	٦:٤٢	٧:٥٧	١:١٥
١، اپریل	٥:٠٠	٦:١٧	١:١٧	٦:١٠	٧:٢٣	١:١٣

۱، مئی	۵:۱۳	٦:۳۱	۱:۱۸	۵:٤۲	٦:۵۷	۱:۱۵
۱، جون	۵:۲٦	٦:٤۷	۱:۲۱	۵:۲۷	٦:٤٦	۱:۱۹
۱،جولائی	۵:۳۳	٦:۵٦	۱:۲۳	۵:۳۱	٦:۵۰	۱:۱۹
۱، اگست	۵:۲۷	٦:٤۷	۱:۲۰	۵:٤۵	۷:۰۱	۱:۱٦
۱، ستمبر	۵:۰٤	٦:۲۱	۱:۱۷	۵:۵۹	۷:۱۳	۱:۱٤
۱،اکتوبر	٤:۳۱	۵:٤۸	۱:۱۷	٦:۱۱	۷:۲۵	۱:۱٤
۱، نومبر	۳:۵۷	۵:۱۹	۱:۲۲	٦:۲۸	۷:٤۷	۱:۱۹
۱، دسمبر	۳:۳۹	۵:۰۸	۱:۲۹	٦:٤۹	۸:۱۵	۱:۲٦

نوټ: دهري میاشتې په هر تاریخ کي چي څومره فاصله دلمر لوېدو او غروب شفق ترمنځ وي تقریباً په هغه اندازه فاصله د صبح صادق او لمر راختلو ترمنځ هم وي. (فتاوی رحیمیه:۳/ ۳٤).

په امداد الاحکام کي راځي صبح صادق دلمر له راختلو څخه (۱۸) درجي مخکي وي. (امداد الاحکام:۱/ ٤۰۱). والله ﷻ اعلم.

د غیر مسلم د تحقیق د قبلولو حکم

سوال: ایا د سپیدو د راختلو یا شفق په هکله د غیر مسلمو د تحقیق اعتبار کیږي او که نه؟

الجواب: د غیر مسلمو تحقیق یوازي د دین په خبرو کي قبول نه دئ لکه چي دا او به پاکي دي یا ناپاکي دي دا خوراک حلال دئ یا حرام، مګر که هغه کومه داسي خبره وکړي چي پر هغه کومه دیني خبره مرتبیږي، نو د دوی خبره معتبره ده په دې شرط چي زړه یې د صداقت شاهدي ورکړي، مثلاً داسي ووایي چي ما دا ړوږئ د فلاني مسلمان څخه رانیولي ده، نو ښکاره خبره ده چي د مسلمان څخه د رانیولو وروسته به پاکه ګڼل کیږي.

ويقبل قول كافر ولو مجوسياً قال: اشتريت اللحم من كتابي فيحل أو قال: اشتريته من مجوسي فيحرم ولا يرده بقول الواحد وأصله أن خبر الكافر مقبول بالإجماع في المعاملات لا في الديانات وعليه يحمل قول الكنز ويقبل قول الكافر في الحل والحرمة يعني الحاصلين في ضمن المعاملات لا مطلق الحل والحرمة. (الدرالمختار مع الشامى:٦/ ٣٤٤-٣٤٥، كتاب الحظر والإباحة، سعيد).

په طحطاوي کي راځي:

و إذا صح قول الواحد فى أخبار المعاملات عدلاً كان أو غير عدل فلا بد فى ذلک من تغليب رأيه فيه أن خبره صادق فإن غلب على رأيه ذلک عمل عليه وإلا لا. (حاشية الطحطاوى على الدرالمختار:٤/ ١٧٤، كتاب الحظر والإباحة، كوئتة).

له پورتنی عبارت څخه معلومیږي چي که چیري د دوی پر تحقیق غالب ګمان موجود وي چي صحیح دئ نو په هغه به عمل کیږي او که نه بیا به نه کیږي.

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولا يقبل قول الكافر في الديانات إلا إذا كان قبول قول الكافر في المعاملات يتضمن قوله في الديانات ، فحينئذ تدخل الديانات في ضمن المعاملات فيقبل قوله فيها ضرورةً هكذا في التبيين. من أرسل رسولًا مجوسيا أو خادمًا فاشترى لحمًا فقال : اشتريته من يهودي أو نصراني أو مسلم وسعه أكله ، وإن كان غير ذلك لم يسعه أن يأكل منه ، معناه إذا كان ذبيحة غير الكتابي والمسلم ؛ لأنه لما قبل قوله في الحل أولى أن يقبل في الحرمة ، كذا في الهداية .

(الفتاوى الهندية:٥/ ٣٠٨، كتاب الكراهية:الباب الأول فى العمل بخبر الواحد).

په یاد صورت کي هم چي کافر د صبح صادق او شفق دلوېدو خبره وکړي چي هغه په خپله د دین خبره نه ده بلکي د اسمان د افق تحقیق دئ بیا پر هغه د لمانځه کېدل یا نه کېدل د روژې پیل کېدل یا

نه کېدل به مرتبیږي، لهذا د صبح صادق او شفق په هکله د غیر مسلمو تحقیق معتبر دئ او بل دا چې دا یوازې د هغوی تحقیق نه دئ بلکې هغه مسلمانان چې په فلکیاتو کې مهارت لري د هغوی تحقیق هم دغه ډول دئ. والله ﷻ اعلم.

د ماز دیګر لمونځ دومره ځنډول چې د مکروه وخت شبه راسي

سوال: دلته د ماز دیګر لمونځ پر پنځه بجې کیږي او په اوس وخت کې تقریباً پر (۳۵: ۵) باندې لمر لوېږي او ډېر کسان مسبوق وي، نو پوښتنه دا ده چې دغه وخت صحیح دئ او که مکروه یا باید له دې څخه مخکې لمونځ وکړل سي چې له مکروه والي څخه وژغورل سي؟

الجواب: د ماز دیګر د لمانځه ځنډول مستحب دي خو دومره ځنډول چې د مکروه وخت شبه راسي درسته نه دي او په عامه توګه له لمر لوېدو څخه یو ساعت مخکې لمونځ کول له مکروه وخت څخه ډېر لېري دئ، لهذا په دې کې څه تکلیف نه سته مکروه وخت له هغه څخه وروسته شروع کیږي، البته په سوال کې چې کوم صورت ذکر سوی دئ چې پر (۵) بجې شروع کیږي او تقریباً پر لس بالا به ختم کیږي کراهت ته نژدې دئ له دې څخه باید ځان وژغورل سي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

و تأخير عصر صيفًا وشتاءً توسعةً للنوافل ما لم يتغير ذكاء بأن لا تحار العين فيها في الأصح. قوله في الأصح صححه في الهدايه وغيرها وفي الظهيريه: إن أمكنه إطالة النظر فقد تغيرت وعليه الفتوى وفيها: وينبغي أن لايؤخر تأخيرًا لايمكن المسبوق قضاء مافاته. وقيل حد التغير أن يبقى للغروب أقل من رمح وقيل أن يتغير الشعاع على الحيطان كما في الجوهرة ابن عبد الرزاق. (الدرالمختار مع الشامي: ۱/ ۳۶۷، سعيد).

په فتاوی هندیه کې راځي:


ویستحب تأخیر العصر في کل زمان ما لم تتغیر الشمس والعبرة لتغیر القرص لا لتغیر الضوء فمتی صار القرص بحیث لا تحار فیه العین فقد تغیرت وإلا لا کذا في الکافي. وهو الصحیح کذا في الهدایة. (الفتاوی الهندیة: ۱/ ۵۲، وکذا فی شرح المنیة: ص ۲۳۳، سهیل). والله ﷻ اعلم.

د زوال او فی الزوال د معلومولو له پاره د دائره هندیه استعمال

سوال: دائره هندیه څه شی ده او څه کار کوي؟

الجواب: دائره هندیه په لاندي نقشه کي وګورئ:

نقشۂ دائرۂ هندیه



دغه د دائري هندیه نقشه ده چي د زوال او فی الزوال د معلومولو له پاره استعمالیږي او د دغه د استعمال طریقه په شرح وقایه کي ذکر سوي ده.

وللظهر من زوالها إلی بلوغ ظل کل شیء مثلیه سوی فیء الزوال. لابد ههنا من معرفة وقت الزوال. وطریقه ان تسوی الأرض بحیث لایکون بعض جوانبها مرتفعاً وبعضها منخفضًا اما بصب الماء أو ببعض موازین المقنین وترسم علیها دائرة وتسمی الدائرة

الهندية، وينصب في مركزها مقياس قائم بان يكون بعد رأسه عن ثلث نقط من محيط الدائرة متساوياً ولتكن قائمته بمقدار ربع قطر الدائرة فرأس ظله في أوائل النهار خارج الدائرة لكن الظل ينقص إلى أن يدخل في الدائرة فتضع علامة على مدخل الظل من محيط الدائرة، ولاشک أن الظل ينقص إلى حدماً ثم يزيد إلى أن ينتهي إلى محيط الدائرة ثم يخرج منها، وذلک بعد نصف النهار فتضع علامة على مخرج الظل فتنصف القوس التي هي مابين مدخل الظل ومخرجه وترسم خطًا مستقيمًا من منتصف القوس إلى مركز الدائرة مخرجًا إلى الطرف الآخر من المحيط، فهذا الخط هو خط نصف النهار، فإذا كان ظل المقياس على هذا الخط فهو نصف النهار، والظل الذي في هذا الوقت هو فيء الزوال، فإذا زال الظل من هذا الخط فهو وقت الزوال، فذلک أول وقت الظهر. (شرح الوقاية مع الحاشية:١/ ١٢٨- و حاشية المختصر القدوري:٦:٢٦، سعيد).

ژباړه: او د ماپښین وخت د زوال له پیل څخه دئ تر هغه چي د هر شي سایه د هغه دوه چنده کیږي پرته له اصلی سایي څخه دلته د زوال د وخت پیژندل هم ضروري دي او د هغه طریقه دا ده چي مځکه دي برابره سي همدارنګه چي د مځکي یوه برخه له بلي برخي څخه پورته او کښته نه وي یا دي اوبه وربانديٰ وبهول سي او یا دي یې د سائنس پوهانو په اسبابو برابره کړي بیا دي پر دغه هواره مځکه یوه دائره یعنی ګول حلقه جوړه کړي او دغه دائره ته دائره هندیه ویل کیږي بیا د دائرې په مرکز کي مقیاس (لرګي یا تار) عموداً همدارنګه ودروي چي ښخي سېده وي یعنی د مقیاس او مځکي تر منځ په څلورو طرفونو کي قائمه زاویه جوړه سي که مقیاس کوږ وي بیا دا عمل نه تر سره کیږي د تار یا یوې بلي اندازي په ذریعه معلومه کړي چي د مقیاس سر شمالاً جنوباً، شرقاً او غرباً د دائرې څخه په مساوي اندازه دئ که نه، بیا به کوږ وي نو د دغه مقیاس سایه به د ورځي په پیل کي د دائرې هندیي څخه دباندي وي خو سایه به کرار کرار کمیږي تر داسي بریده چي د مقیاس سایه د مغرب له لوري په

دائره کي دننه سي، نو پر دغه ځای دي یوه علامه کښیږدي (دا به له نصف النهار څخه وړاندي وي) او په دې کي شک نه سته چي سایه به کمیږي بیا به د مشرق پر لوري ځي تر داسي بریده چي د دائرې محیط ته به ورسیږي او له دائرې څخه به دباندي ووزي او دا به له نصف النهار څخه وروسته وي، نو بیا دي د وتلو پر ځای هم یوه علامه کښیږدي بیا دي د مدخل الظل او مخرج الظل تر منځ قوس پر دوې برخي ووېشتي او د قوس له نیمایي څخه دي یو خط سېده کش کړي دا خط به له مرکز څخه تېر سي د دائرې محیط ته به ورسیږي نو دغه خط ته د نصف النهار خط ولیل کیږي او چي کله د مقیاس سایه د نصف النهار پر خط وي هغه نصف النهار ده یعنی استواء شمس ده او کومه سایه چي په دغه وخت کي وي هغه اصلی سایه ده او څنګه چي دا سایه له نصف النهار څخه د مشرق لوري ته ځي هغه زوال بلل کیږي نو له همدغه وخته د ماپښین وخت پیلیږي عملی طریقه یې په نقشه کي وګورئ.

په قواعد الفقه کي راځي:

الدائرة الهندية لمعرفة فيء الزوال فى كل بلدة صفتها فى شرح الوقاية فليراجع. والله ﷻ اعلم. (قواعد الفقه: صـ ۲۸۷). والله ﷻ اعلم.

زوال تر کومه وخته پاته وي چي په هغه کي لمونځ کول مکروه وي

سوال: زوال څومره وخت پاته وي چي په هغه وخت کي لمونځ مکروه وي؟

الجواب: د استواء قارن څخه تر زوال فارق پوري تقریباً لس دقیقې وي لهذا په نقشو کي د لیکل سوي زوال د وخت څخه پنځه دقیقې مخکي او پنځه دقیقې وروسته باید لمونځ ونه کړل سي.

وګورئ په شامي کي راځي:

(قوله واستواء) وفي القنية: واختلف في وقت الكراهة عند الزوال، فقيل من نصف النهار إلى الزوال لرواية أبي سعيد رضي الله عنه عن النبي ﷺ ((أنه نهى عن الصلاة نصف النهار حتى تزول الشمس)) قال ركن الدين الصباغي: وما أحسن هذا لأن النهي عن الصلاة فيه يعتمد تصورها فيها وعزا في القهستاني القول بأن المراد انتصاف النهار العرفي إلى أئمة ما رواه النهر وبأن

المراد انتصاف النهر الشرعي وهو الضحوة الكبرى إلى الزوال إلى أئمة خوارزم .... وفي شرح النقاية للبرجندي: وقد وقع في عبارات الفقهاء أن الوقت المكروه هو عند انتصاف النهار إلى أن تزول الشمس ولايخفى أن زوال الشمس إنما هو عقيب انتصاف النهار بلا فصل، وفي هذا القدر من الزمان لايمكن اداء الصلاة فيه، فلعل المراد أنه لاتجوز الصلاة بحيث يقع جزء منها في هذا الزمان. (فتاوى شامي:۱/ ۳۷۱، سعيد).

په احسن الفتاوى كي راځي:

دلمانځه په كراهت كي نصف النهار عرفي معتبر دئ. علامه برجندي رحمه الله په شرح نقايه كي پر دغه اشكال كړى دئ چي د نصف النهار عرفي وخت اوږد نه وي ځكه نو په هغه كي د لمانځه تصور نه سي كېداى نو له هغه څخه منع صحيح نه ده له همدې امله ځيني حضراتو له نصف النهار شرعي څخه تر نصف النهار حقيقي پوري وخت د لمانځه له پاره مكروه ګڼلى دئ او حال دا چي په يو حديث سره يې هم تائيد نه كيږي بلكي ټول احاديث پر نصف نهار عرفي دلالت كوي.

د دغه اشكال له پاره څو جوابونه كېداى سي:

۱ـ كه څه هم په دغه وخت كي د ټول لمانځه تصور نه كيږي مګر مقصد دا دئ چي د لمانځه هيڅ جزء په دغه وخت كي واقع نه سي، دغه جواب په خپله علامه برجندي رحمه الله هم وركړى دئ.

۲ـ دلمر د مركز پر ځاى د لمر ټول صورت ته اعتبار دئ. كما في حديث عبد الله الصنابحي رضي الله عنه ثم إذا استوت قارنها فإذا زالت فارقها (مؤطا مالك:ص ۲۰۱).

دلمر د محيط د يوې كناري له تېرېدو څخه دبلي كناري تر تېرېدو پوري د حساب له مخي دوې دقيقې او اته ثانيې مصرفيږي په دومره وخت كي د لمانځه تصور كېداى سي.

۳ـ د شرعي احكامو مدار د رياضي پر حسابونو نه دئ بلكي پر مشاهده دئ او په مشاهده كي د استواء قارن څخه تر زوال فارق پوري تقريباً لس دقيقې اندازه سوې دي، لهذا په نقشو كي د وركول سوي زوال له وخت څخه پنځه دقيقې مخكي او پنځه دقيقې وروسته بايد لمونځ ونه كړل سي.

ویؤید ما نقله ابن عابدین رحمة الله علیه عن الطحطاوی رحمة الله علیه فی تفسیر قول شارح التنویر (ووقت الظهر من زواله أي ميل ذكاء عن كبد السماء) أي وسطها بحسب مايظهر لنا. (ردالمحتار،۱/ ۳۳۲). **د کراهت له علت بیانولو څخه همدغه ثابته ده د لمانځه په شان عبادت هم په آن واحد کي متصور نه دئ چي د لمر عبادت کونکی دي پوازي استواء د عبادت وخت وګنی. فقط والله اعلم** (احسن الفتاوی:۲/ ۱۳۷).

همدارنګه وګورئ: (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۲/ ۱۰۵، اوقات نماز، فتاوی محمودیه:۵/ ۳۸۳، باب المواقیت). والله تعالی اعلم.

د ماپښین او مازدیګر په لمانځه کي د حنفی فقهاء د اختلاف او د لمانځه د اداء کولو د احتیاط طریقه

سوال: د ماپښین د لمانځه په انتهاء او د مازدیګر د لمانځه په پیل کي د حنفی فقهاؤ اختلاف څه دئ؟ او د مازدیګر او ماپښین د لمانځه د اداء کېدو له پاره د احتیاط طریقه کومه ده، همدارنګه که چا د مازدیګر لمونځ په مثل ثاني کي اداء کړ نو ایا راګرځول به یې واجب وي او که نه؟

الجواب: د ماپښین د وخت د انتهاء په هکله د امام صاحب څخه مختلف روایات مروي دي د مشهور روایت مطابق تر مثلینو پوري د ماپښین وخت دئ او د مثلینو وروسته د مازدیګر وخت شروع کېږي او د صاحبینو وغیره په اند مثل اول د ماپښین وخت دئ او مثل ثاني د مازدیګر وخت دئ، خو د احنافو په مسلک کي د احتیاط طریقه دا ده چي ماپښین دي په مثل اول کي اداء کړي او مازدیګر دي له مثل ثاني څخه وروسته اداء کړي چي له اختلاف څخه ووزي، البته که کوم چا د مازدیګر لمونځ په مثل ثاني کي اداء کړ نو لمونځ صحیح دئ اعاده یې واجب نه ده.

وګورئ په درمختار کي راځي:

(ووقت الظهر من زواله إلى بلوغ الظل مثليه) وعنه مثله وهو قولهم وزفر والأئمة الثلاثة قال الإمام الطحاوی رحمة الله علیه وبه نأخذ وفی غرر الأذكار وهو المأخوذ به وفي البرهان وهو

الأظهر لبیان جبرئیل علیہ السلام وهو نص فی الباب وفی الفیض وعلیه عمل الناس الیوم وبه یفتی.

وفی الشامی: (قوله إلی بلوغ الظل مثلیه) هذا ظاهر الروایة عن الإمام نهایة وهو الصحیح بدائع ومحیط وینابع وهو المختار غیاثیة واختاره الإمام المحبوبی وعول علیه النسفی وصدر الشریعة تصحیح قاسم واختاره أصحاب المتون وار تضاه الشارحون فقول الطحاوی رحمہ اللہ وبقولهما نأخذ لایدل علی أنه المذهب، وما فی الفیض من أنه یفتی بقولهما فی العصر و العشاء مسلم فی العشاء فقط علی مافیه وتمامه فی البحر. (وقوله وعنه) أی عن الإمام أبی حنیفة رحمہ اللہ وفی روایة عنه أیضاً أنه بالمثل یخرج وقت الظهر ولایدخل وقت العصر إلابالمثلین ذکرهما الزیلعی وغیره وعلیها فما بین المثل والمثلین وقت مهمل. (قوله وهو نص فی الباب) فیه أن الأدلة تکافأت ولم یظهر ضعف دلیل الإمام بل أدلته قویة أیضًا کما یعلم من مراجعة المطولات وشرح المنیة وقد قال فی البحر لایعدل عن القول الإمام إلی قولهما أو قول أحدهما إلا لضرورة من ضعف دلیل أو تعامل بخلافه کالمزارعة وإن صرح المشایخ بأن الفتوی علی قولهما کما هنا. (قوله وعلیه عمل الناس الیوم) أی فی کثیر من البلاد والأحسن ما فی السراج عن شیخ الإسلام أن الاحتیاط أن لایؤخذ الظهر إلی المثل وأن لایصلی العصر حتی یبلغ المثلین لیکون مؤدیاً للصلاتین فی وقتهما بالاجماع.

(الدر المختار مع الشامی:۱/ ۳۵۹، سعید- وکذا فی الطحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۱۷۳ – وهکذا فی المبسوط للامام السرخسی رحمہ اللہ:۱/ ۱۴۲ – وفی شرح منیة المصلی:ص ۲۲۷، سهیل- والبحر الرائق:۱/ ۲۴۵ – وفتح القدیر:۱/ ۲۱۹، دار الفکر – وحاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۱۷۶، قدیمی – ومجمع الانهر فی شرح ملتقی الابحر:۱/ ۶۹- ۷۰، والفتاوی الهندیة:۱/ ۵۱).

په فیض الباري کي راځي:

فتحصل أنه صلى الظهر تارةً في المثل وهو وقتها المختص وتارةً في المثل الثاني وهو الوقت الصالح لها، وكذلك صلى العصر تارةً بعد المثل الأول، وهو وقتصالحلها أيضًا، وصلاها تارةً بعد المثل الثاني قبل نهاية المثل الثالث، وهو الوقت المختص بها مع إبقاء الفاصلة بين الصلاتين في اليومين، وهذا عين مذهبنا ولله الحمد أولا وآخرًا. (فيض الباري:۲/ ۹۹، كتاب مواقيت الصلاة).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

قول مختار او مفتی به خو دغه دئ چي د مازدګر وخت له مثلينو څخه شروع کيږي مګر دوهم قول دا هم دئ چي د مثل واحد څخه وروسته شروع کيږي او په دغه وخت کي داداء سوي لمونځ راګرځول لازم نه دي. (فتاوی محمودیه:۵/ ۳۳۸، باب المواقیت، جامعه فاروقیه،او فتاوی حقانیه:۳/ ۳٦، باب المواقیت). والله ﷻ اعلم.

په حرمينو شريفينو کي د مازديګر لمونځ په مثل ثاني کي د اداء کولو حکم

سوال: د احنافو د مسلک مطابق د مازديګر د لمانځه په مثل ثاني کي د کولو ګنجائش سته او که نه؟ او دغه مسئله په حرمينو کي ډېره پېښيږي؟

الجواب: د احنافو په مسلک کي قول مختار همدغه دئ چي د مازديګر وخت له مثلينو څخه شروع کيږي، نو په عامو حالاتو کي بايد په مفتی به قول عمل وکړل سي احتياط په دغه کي دئ، البته دوهم قول دا دئ چي د مازديګر وخت له مثل اول څخه وروسته شروع کيږي لهذا که څوک معذور او يا مسافر وي يا د کوم شافعی المسلک امام تر شا لمونځ کوي نو په مثل ثاني کي هم د مازديګر د لمانځه د کولو ګنجائش سته خصوصاً په حرمينو کي خو بايد په جماعت سره لمونځ اداء کړل سي د مسجد او جماعت فضيلت بايد پرې نه ښودل سي، همدغه افضله ده.

په فيض الباري کي راځي:

فتحصل أنه صلى الظهر تارةً في المثل وهو وقتها المختص وتارةً في المثل الثاني وهو الوقت الصالح لها، وكذلك صلى العصر تارةً بعد المثل الأول، وهو وقتصالحلها أيضًا، وصلاها تارةً بعد المثل الثاني قبل نهاية المثل الثالث، وهو الوقت المختص بهما مع إبقاء الفاصلة بين الصلاتين في اليومين، وهذا عين مذهبنا ولله الحمد أولا وآخرًا. (فيض الباري:۲/ ۹۹، كتاب مواقيت الصلاة).

په فتح القدیر کي راځي:

اعلم أن الروايات عن أبي حنيفة رحمه الله اختلفت في آخر وقت الظهر، روى محمد رحمه الله عنه إذا صار ظل كل شيء مثليه سوى فيء الزوال خرج وقت الظهرو دخل وقت العصر وهو الذي عليه أبو حنيفة رحمه الله وروى حسن بن زياد رحمه الله عنه إذا صار ظل كل شيء مثله سوى فيء الزوال خرج وقت الظهرو دخل وقت العصر وبه أخذ أبو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله وزفر رحمه الله والشافعي رحمه الله. (فتح القدير:۱/ ۲۱۹، دار الفكر – وكذا في فتاوى اللكنوي:ص ۱۹۴-۱۹۸، بيروت).

په فتاوی هندیه کي راځي:

قالوا الاحتياط أن يصلي الظهر قبل صيرورة الظل مثله ويصلي العصر حين يصير مثليه ليكون الصلاتان في وقتيهما بيقين. (الفتاوى الهندية:۱/ ۵۱).

په فتاوی حقانیه کي راځي:

د ماز دیګر لمونځ باید له مثلینو څخه وروسته کول افضل دي که څه هم په هغه کي د جماعت د تېرېدلو بېره وي مګر دا حکم د عامو ځایو له پاره دئ د حرمینو شریفینو د حرمت او فضیلت له امله باید په جماعت کي شریک سي او تر مثلینو پېښ ځنډول ضروري نه دي بلکي په حرمینو کي په

جماعت سره لمونځ کول افضل دي. (فتاوی حقانیه:۳/ ۴۲۹). **همداسې وګورئ:** (فتاوی محمودیه:۵/ ۳۴۱: باب المواقیت). والله تعالی اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿ المؤذنون أطول الناس أعناقاً يوم القيامة ﴾. (رواه مسلم).

اول .... باب

د اذان او اقامت بیان

په اذان کي د الله ﷻ د لفظ د مد د اوږدولو اندازه

سوال: په اذان کي به د الله ﷻ د لفظ مد څومره اوږد وي؟

الجواب: د تجوید د فن په لحاظ د اذان په هغو کلمو کي چي اصلي مد وربانـدي سته د تعظیم او اهتمام په غرض یې له یوه الف څخه زیات کشول درست دي قاریانو صاحبانو د مد په اسبابو کي تعظمي مد هم شمېرلي دئ حضرت مولانا قاري فتح محمد صاحب پانی پتي، په مفتاح الکمال کي لیکلي دي د مد د سبب له پاره دوه قسمونه دي یو لفظي دوهم معنوي، معنوي هم دوه دي:

۱ _ په نفی کي مبالغه.

۲ _ تعظیم یعنی د شان لوی والی ښکاره کول او دا د الله ﷻ په لفظ کي کیږي په دغه کي فقهاؤ دا وو الفاظو په اندازه مد هم درست ګڼلی دئ. (مفتاح الکمال: ۶۵-۶۶).

او د یوه قول مطابق یې له دې زیات هم کشولای سي.

په تبیین الحقائق کي راځي: وإن كان المد في لام الله فحسن مالم يخرج عن حدها. (تبيين الحقائق: ۱/ ۱۱٤).

په فتاوی کي راځي: ومد لام الله صواب. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۷۳).

په الاذکار کي دي: واعلم أن محل المد بعد اللام من الله ولايمد في غيره. (الاذكار: ص ٤۲).

په کشف القناع کي راځي:

ولاتضر زيادة المد على الألف بين اللام والهاء لأنها أي زيادة المد إشباع لأن اللام ممدودة فغايته أنه زاد في مد اللام ولم يأت بحرف زائد وحذفها أي حذف زيادة المد أولى لأنه يكره تمطيطه أي التكبير. (كشف القناع:١/ ٣٣٠).

په کتاب الفروع کي رائحي:

ولا يضرلو خلل بين اللام والهاء لأنه إشباع وحذفها أولى لأنه يكره تمطيطه والزيادة على التكبير قيل يجوز وقيل يكره. (كتاب الفروع:١/ ٤٠٩).

په فتاوى الرملى کي رائحي:

وفي التهذيب ولو مد التكبير بين اللام والهاء في كلمة الله يجوز. (فتاوى الرملى بهامش الفتاوى الكبرى:ص ١٣١).

وقد جاء في كتاب: تمكين المد للعلامة مكى بن أبى طالب ما هو أوسع من ذلك، فصل: في أن مده لايضر وأن تقديره بالألفات للتقريب على المبتدئين والتقدير عندنا للمد بالألفات إنما هو تقدير على المبتدئين وليس على الحقيقة لأن المد إنما هو فتح الفم بخروج النفس مع امتداد الصوت وذلك قدر لايعلمه إلا الله ولايدرى قدر الزمان الذى كان فيها المد للحرف ولاقدر النفس الذى يخرج مع امتداد الصوت في حيز المد إلا الله تعالى فمن ادعى قدر المد حقيقة فهو مدعى على الغيب ولايدعى ذلك من له عقل وتمييز وقد وقع في كتب القراء التقدير بالألف والألفين والثلاثة على التقريب للمتعلمين ألا ترى أنهم حين أرادوا التحقيق للمد ذكروا أنه لايحكيه إلا المشافهة وقسمه بعضهم على رتب وعلى أربع رتب وبعضهم على ثلاث رتب ولم يقل أحد من القراء والنحويين أن المد يحصر في قدر الألف

وقدر الألفين وأنه لايكون أكثرولا أكثرو لا أقل هذا لم يقله أحد ألا ترى أن أبا إسحاقال الزجاج قال: لو مددت صوتک يوماً وليلة لم يكن الألف واحد. ألا ترى إلى قول سيبويه في حروف اللين هي حروف المد التي تمد بها الصوت وتلک الحروف الألف والياء والواو وقد ذكر أن الصوت يمد بما ولم يجد مقدار المد. (دا لبلاغي ديوې فتولی خلاصه ده چې د دار العلوم کراچي شخه را وتلي ده).

دالمحمود په میاشتنی گنه کي د مفتي عبدالقیوم راجکوټی صاحب یوه فتوی چاپ سوي ده په هغه کي راغلي دي دلته دي يوه نكته ياده وي هغه دا چي په اذان کي د اواز پورته کول مطلوب او مستحسن دي په دې کي د چا اختلاف نه سته .

په مراقي الفلاح کي راځي:

ويستحب ترتيل الأذان ورفع الصوت. ويستحب أن يجعل إصبعيه في أذنيه لقوله ﷺ لبلال رضي الله عنه اجعل إصبعيک في أذنيک فإنه أرفع لصوتک . (مراقی الفلاح علي هامش الطحطاوی:ص ۱۹۷، قديمی).

په فتاوی هنديه کي دي:

ومن السنة أن يأتي بالأذان والأقامة جهراً رافعاً بهما صوته. (الفتاوی الهنديه:۱/ ۵۵).

اوس به دا وګورو چي په دغه استحباب د عمل کولو له پاره قصر يعني يو الف کشول مفيد او موثر دي او که طول چي اندازه يې له يوه الف څخه زياته ده چي مخکي بيان سوه ښکاره خبره ده چي د قصر په کولو کي د اواز د پورته کولو د استحباب پر ځای کول که مشکل نه وي له تکليف څخه خالي نه دي ځکه په دغه صورت کي به د مؤذن اواز په پوره توګه اوچت سوی نه وي چي د قصر اندازه يعنی يو الف به پوره سي او حال دا چي د اوږد والي په صورت کي به په پوره طريقه د اواز د اوږد والي په استحباب عمل راسي معلومه سوه چي د اواز اوږد والي د استحباب له پاره مقدمه ده لکه څنګه چي د واجبو له پاره مقدمه واجب ګرځي همدارنګه که د مستحب مقدمه مستحب نه وي لږ تر

لږه روا خو به خامخا وي د دې تقاضا او غوښتنه هم همدغه ده چې د اذان كلمې كش كړل سي په هر حال په مسئله كي اختلاف سته خو د حلت او د حرمت مسئله نه ده ځكه نو تشدد بايد پكښي ونه سي ځوك چي يې نه كشوي هغه بايد غلط ونه ګڼل سي او كوم كسان چي يې په حدودو كي دننه اوږد والى كوي هغه دي نه منع كيږي حضرت فقيه الامت وايي، زما حال دا دئ چي كه يې ځوك نه كشوي نه ورته وايم چي ته يې كش كړه حال دا چي د حكيم الامت رحجان يې د اوږد والى لوري ته ؤ په مختلف فيه مسائلو كي د شريعت د حدودو لحاظ ساتل او د كار اسانتيا احتياط لرونكى وي.

په شرح عقود رسم المفتى كي راځي:

التاسع: ما إذا كان أحدهما أوفق لأهل الزمان فإن كان أوفق لعرفهم أو أسهل عليهم أولى بالاعتماد عليه. (شرح عقود رسم المفتى:ص ۸۹).

نوټ: ديوه الف اندازه دبندي ګوتي د خلاصولو او يا خلاصي ګوتي د بندولو اندازه وي. (ماهنامه المحمود:ص ٤٠ - ٤١). والله ﷻ اعلم.

په اذان كي د الله اكبر د راء اعراب

سوال: په اذان كي د الله اكبر د لفظ پر راء فتحه ضمه كسره يا ساكن ويل په كار دي؟

الجواب: په اذان كي دوه تكبيره يوه كلمه شمېرل كيږي لهذا دوهم تكبير به ساكن وايي او د اول ساكن ويل هم صحيح دي او كه يې سره يو ځاى كوي نو فتحه بايد وويل سي ضمه ويل يې خلاف سنت ده كه ځوک سوال وكړي چي ساكن ته بايد كسره وركول سي ځكه چي قاعده ((الساكن اذا حرک حرک بالكسر)) نو جواب دا دئ چي د الله اكبر راء ته كسره وركول د سنت او مشهوري طريقې څخه خلاف دئ همدارنګه كسره وركول د الله ﷻ له شان او عظمت او كبريايي سره هم مناسب نه ده.

وګورئ په درمختار كي راځي:

وبفتح راء أكبر والعوام يضمونها. وفي الشامية: فائدة: في روضة العلماء قال ابن الأنباري عوام الناس يضمون الراء في أكبر، وكان المبرد يقول: الأذان سمع موقوفاً في مقاطيعه والأصل

في أكبر تسكين الراء فحولت حركة ألف اسم الله إلى الراء كما في ((الـم الله)) وفي المغني: حركة الراء فتحة وإن وصل بنية الوقف ثم قيل هي حركة الساكنين ولم يكسر حفظا لتفخيم الله.

قلت: والحاصل أن التكبيرة الثانية في الأذان ساكنة الراء للوقف حقيقة ورفعها خطأ، وأما التكبيرة الأولى من كل تكبيرتين منه وجميع تكبيرات الإقامة، فقيل محركة الراء بالفتحة على نية الوقف، وقيل بالضمة إعراباً، وقيل ساكنة بلا حركة على ما هو ظاهر كلام الإمداد والزيلعي والبدائع وجماعة من الشافعية .... ثم رأيت لسيدي عبد الغني رسالة في هذه المسألة سماها (تصديق من أخبر بفتح راء الله أكبر) أكثر فيها النقل وحاصلها أن السنة أن يسكن الراء من الله أكبر الأول أو يصلها بالله أكبر الثانية، فإن سكنها كفى، وإن وصلها نوى السكون فحرك الراء بالفتحة، فإن ضمها خالف السنة. لأن طلب الوقف على أكبر الأول صيره كالساكن أصالة فحرك بالفتح. (الدر المختار مع الشامي: ۱/ ۳۸٦، مطلب فى الكلام على حديث ((الاذان جزم))، سعيد).

په احسن الفتاوى كي راځي:

په اذان او اقامت كي دوه تكبيرونه يوه كلمه شمېرل كيږي په اذان كي په دواړو تكبيرونو كي پر لومړني تكبير او په اقامت كي په لومړنيو درو تكبيرونو كي پر راء باندي پېښ ويل خلاف سنت دي، هغه بايد ساكن ولوستل سي او يا فتحه وركول سي له دوهمې كلمې سره يو ځاى سي. (احسن الفتاوى: ۲/ ۲۹٦).

په فتاوى محموديه كي راځي:

ښه خبره دا ده چې دارنګه ویل سي چې په دواړو تکبیرونو کې راء ساکنه سي کوم حرکت ورنه کول سي که پر لومړی راء حرکت وایي نو زور دي ووایي پېښ ورباندي ویل یې په ردالمحتار کې د سنت خلاف بللي دئ، د دوهم الله اکبر راء دي په هر حال کې ساکنه ولولي. (فتاوی محمودیه:۵ / ۴۰۹).والله ﷻ اعلم.

د اذان د کلمو تر منځ د وقفې اندازه

سوال: ځینې ځایونه د اذان په کلیمو کې ډېره وقفه کوي چې له امله یې د اذان د ختم کېدو ګمان کیږي حال دا چې هغه ختم نه وي په شریعت کې یې حکم څه دئ؟

الجواب: د اذان د کلماتو تر منځ لنډه وقفه چې په ښه توګه د اذان جواب ورکول سي سنت ده او له دې څخه زیاته وقفه فاصله ګڼل کیږي او داسې چې د اذان د ختم کېدو ګمان وسي درسته نه ده بلکي خلاف سنت ده او د اذان راګرځول مستحب دي.

وګورئ په شامي کې راځي:

(قوله ويترسل) أي يتمهل (قوله بسكتة) أي تسع الأجابة. (شامی:۱/ ۳۸۷، سعید).

په فتاوی تاتار خاینه کې راځي:

سئل عمن يقف في خلال الأذان؟ قال: يعيد الأذان قال: هذا إذا كانت الوقفة كثيرة بحيث تعد فاصلة فأما إذا كانت يسيرة مثل التنحنح والسعال فانه لايعيد. (الفتاوى التاتار خاينة:۱/ ۵۲۳).

په نفع المفتی والسائل کې راځي:

وفى القنية (مت)أي مجد الائمة الترجماني وقف في الأذن التنحنح أو سعال لايعيد وإن كانت الوقفة كثيرة يعيد . (نفع المفتی والسائل:صـ ۷۰، ادارة القرآن).

په احسن الفتاوی کې راځي:

د اذان له هري کلمې وروسته دومره دربدل چي په هغه کي جواب ورکول سي سنت دي د دغه سنت پرېښودل مکروه دي او په دغه صورت کي د اذان راګرځول مستحب دي. (احسن الفتاوی:۱/ ۲۸٦، فتاوی حقانیه:۳/ ٦۲). والله ﷻ اعلم.

په اذان کي د اشهدان محمدا رسول الله په ويلو او يا اورېدلو سره درود د ويلو حکم

سوال: که کوم څوک په اذان کي اشهدان محمد رسول الله ولولي او يا يې واوري نو درود ووايي څه حکم لري؟

الجواب: د اذان په وخت کي د اشهدان محمد رسول الله په ويلو او يا اورېدلو درود ويل ثابت نه دي بلکي خلاف سنت دي ځکه د رسول الله ﷺ ارشاد دئ چي کله تاسو اذان واورئ، نو همدغه کلمات ووایاست چي مؤذن یې وایي بیا له اذان څخه وروسته پر ما باندي درود ووایاست بیا دعاء وکړئ له دغه حدیث شریف څخه معلومه سوه چي له اذان څخه وروسته درود شریف ویل ثابت دي، نه د اذان په منځ کي، البته اورېدونکی چي کله د اشهدان محمد رسول الله کلمه ورسره راګرځوي نو که صلی الله علیه وسلم ووایي څه باک نه لري.

په مسلم شریف کي راځي:

عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه أنه سمع النبی ﷺ يقول: إذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما يقول ثم صلوا على فإنه من صلى على واحدة صلى الله عليه بها عشراً ثم سلوا الله لی الوسيلة فإنها منزلة في الجنة لاتنبغى إلا لعبد من عباد الله وأرجوأن أكون أنا هو فمن سأل لی الوسيلة حلت عليه الشفاعة. (رواه مسلم:۱/ ۱٦٦).

په فتاوی شامي کي راځي:

ويستحب أن يقال عند سماع الأولى من الشهادة: صلى الله عليک يا رسول الله.... وذكر ذلک الجراحی وأطال، ثم قال: ولم يصح في المرفوع من كل هذا شيء.

(فتاوی شامی:۱/ ۳۹۸).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په اذان کي د حضور ﷺ له نامه سره درود شریف ویل نه منقول دي او نه معمول بلکي د دي برعکس د حضور ﷺ ارشاد دئ چي تاسو هم هغه کلمې ولولی چي مؤذن یې وایي بیا له اذان څخه وروسته لومړی درود شریف ولولی او بیا دعا وکړئ. والله ﷻ اعلم.

په اذان کي د حی علی خیر العمل ویلو حکم

سوال: په اذان کي د حی علی خیر العمل ویلو حکم څه دئ؟

الجواب: داحادیثو په کتابو کي په اذان کي د دغه یادونه نه سته البته له ابن عمر رضی الله عنهما څخه دا الفاظ مروي دي مګر دغه روایت موقوف دئ. همدارنګه هغه پر تثویب یعنی اعلان حمل دئ او دا خبره تولو ته معلومه ده چي اهل سنت والجماعت پر هغه عمل نه کوي او دا د روافضو شعار او علامه ده ځکه نو له دغو الفاظو څخه باید ځان وژغورل سي.

وګورئ په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

حدثنا حاتم بن إسماعيل عن جعفر عن أبيه ومسلم بن أبى مريم: أن على بن الحسين كان يؤذن فإذا بلغ حى على الفلاح قال: حى على خير العمل ويقول: هو الأذان الأول. (رقم الحديث: ٢٢٥٣).

حدثنا أبو خالد، عن ابن عجلان، عن نافع، عن ابن عمر رضی الله عنهما أنه كان يقول في أذانه: الصلاة خيرمن النوم، وربما قال: حي على خير العمل. (رقم الحديث: ٢٢٥٤).

حدثنا أبو أسامة، قال: حدثنا عبيد الله، عن نافع، قال: كان ابن عمر رضی الله عنهما ربما زاد في أذانه: حي على خير العمل. (رقم الحديث: ٢٢٥٥).

له دي څخه وروسته شیخ محمد عوامه وایي:

قول على زين العابدين هو الأذان الأول يشعربأن هذه الجملة (حى على خير العمل) كانت على عهد النبى ﷺ فهى فى حكم المرفوع المرسل وأنها نسخت.

والذی فی کتب السنة مما یشهد لرفع هذه الجملة حدیث واحد مرفوع: رواه الطبرانی فی الکبیر (۱۰۷۱) والبیهقی: (۱/ ۴۲۵) ویستفاد من إسناد البیهقی أن أبا الشیخ رواه أیضا، کلهم من طریق یعقوب بن حمید بن کاسب عن عبد الرحمن بن سعد بن عمار عن عبد الله بن محمد بن عمار، وعمار وعمر ابنی حفص بن عمر بن سعد القرظ، عن آبائهم، عن أجدادهم، عن بلال أنه کان ینادی بالصبح فیقول: حی علی خیر العمل، فأمره ﷺ أن یجعل مکانها، الصلاة خیر من النوم وترک حی علی خیر العمل.

وابن کاسب فیه کلام کثیرو شیخه عبد الرحمن، وشیخه عبد الله: ضعیفان، وعمار بن حفص، وأخوه عمر لیسا بشیء عند ابن معین، فالإسناد مسلسل بالضعفاء لهذا قال البیهقی: هذه اللفظة لم تثبت عن النبی ﷺ فیما علم بلالا وأبا محذورة، ونحن نکره الزیادة فیه، وهذا فیه إشارة إلی إعلان آخر للحدیث السابق، وهو أنه مخالف للثابت المستفیض من أحادیث بلال وأبی محذورة رضی الله عنه أیضًا ذکر هذه الزیادة، وأما الأثران التالیان عن ابن عمر رضی الله عنه: فواضح منهما أنه کان یقول هذه الجملة علی سبیل التثویب والحض علی القیام لصلاة الفجر بدلا من قوله: الصلاة خیر من النوم علی أن فی روایة ابن عجلان عن نافع، اضطرابا عند یحیی القطان.

وفی الأثر الأخیر علیه زیادة ملاحظة، فلفظه: ربما زاد فی أذانه .... ولو کان عند ابن عمر رضی الله عنهما عهد من النبی ﷺ فی ذلک لما ترکه، لما عهد عنه من التمسک بسنة النبی ﷺ فهو واضح أنها زیادة من عنده للتثویب، لاعلی أنها من ألفاظ الأذان الملتقی عن النبی ﷺ.

(المصنف لابن أبی شیبة: کتاب الاذان، من کان یقول فی أذانه حی علی خیر العمل:۲/ ۳٤٥، المجلس العلمی – وکذا فی البیهقی:۱/ ٤۲٥، باب ما روی فی حی علی خیر العمل – ومجمع الزوائد:۱/ ۳۳۰، باب کیف الأذان).

په طحطاوي على مراقى الفلاح كي راځي:

قوله (من علم) كمنكر الرؤية (أو عمل) كمن يؤذن بحي على خير العمل . (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۳۰۳، کتاب الصلاة، باب فی بیان الأحق بالإمامة).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

د پنځو لمنځونو په اذانو كي د ((حى على الفلاح)) پر ځاى ((حى على خير العمل)) ويل روا نه دي په ټولو صحيحو احاديثو كي حى على الصلاة، حى على الفلاح راغلي دي هغه ملكه چي له اسمانه راغلي وه د هغې په اذان كي همدغه كلمې وي د حى على خير العمل الفاظ پكښي نه سته او په دغه باب كي هغه اذان اصل دئ هغه رسول الله ﷺ جاري كړى دئ او په هغه د صحابه وو او ټول امت عمل راغلئ دئ د سنت متوار څه خلاف او د اجماع خلاف يوه لاره غوره كول گمراهي او ضلالت دئ.

په حديث كي راځي ((من شذ شذ في النار)) **د ټوله دين د امامانو مسلک او طريقه همدغه ده چا پكښي اختلاف كړى نه دئ پر ته له روافضو خذلهم الله تعالى فقط.** (فتاوى دار العلوم ديوبند:۲/ ۱۱۸: الباب الثانی فی الاذان).

علامه كوثرى په مقدمات كوثري كي ذكر كوي:

ولفظ خير العمل فی الأذان یوازن الجهر بالبسملة، فیجریان فی مجری واحد حیث صح فیهما الموقوف دون المرفوع الصریح فی التحقیق، وقد روی محمد بن الحسن فی المؤطا عن مالک، عن نافع عن ابن عمر رضی الله عنهما اللفظ المذکور، کما یروی مثله اللیث عن نافع، وأخرج ابن أبی شیبة والحاکم والبیهقی نحو ذلک عن عدة من الصحابة والتابعین، ولاسیما

عن علي زين العابدين بن الحسين رضي الله عنه فالجمهور أخذوا بالمرفوع فيهما، ومن تمسك بالموقوف يعتبره في حكم المرفوع في المسألتين، وأما قول ابن تيمية رحمه الله في منهاجه بأن اللفظ المذكور بدعة الروافض وشعارهم، فمن مجاز فاته، ويأبى الله أن يكون ابن عمر رضي الله عنه وعلي بن الحسين رحمه الله يبتدعانه، أو أن يوصفا برفض، على أن الرفض كالنصب من أبغض الخلال إلى بيت النبوة. (مقدمات الامام الكوثري:٤١٢، ثالثا في الفقه العام والأحكام والاصول) (قلنا كون حي على خير العمل شعارًاللروافض لايخفى على الأمة فقول الشيخ الكوثري رحمه الله مما لانفهم). والله تعالى اعلم.

د اذان پر وخت بتې ګوتې مچول

سوال: د اذان پر وخت ګوتې مچول څنګه دي؟

الجواب: د اذان په وخت کي د انحضرت ﷺ د نوم مبارک په اوريدو سره د بتې ګوتې نوکان مچول او پر سترګو ايښودل او دا کار سنت ګڼل او دا فکر کول چي له حديث څخه ثابت دي او څوک چي يې نه کوي هغه ملامتول دا ټول غلط دي او په دين کي تحريف دئ دومره خبره درسته ده چي ځينو علماوو دا کار روا ګڼلی دئ مګر دا هم د سترګو د مريضی د علاج په توګه د عبادت او سنت مقصود او انحضرت ﷺ د تعظيم او عظمت له پاره نه دي.

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمايي:

وفي كتاب الفردوس ((من قبل ظفري إبهامه عند سماع (أشهد أن محمدا رسول الله) ...... وذكر ذلك الجراحي وأطال، ثم قال: ولم يصح في المرفوع من كل هذا شيء.

(شامي:١/ ٣٩٨، سعيد).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

د اذان پر وخت چي د بتی گوتي د مچولو اړوند کوم احادیث او روایات راغلي دي هغه د مسند الفردوس دیلمي په حواله سره په موضوعات کبیر او تذکرة الموضوعات او الفوائد المجموعه فی الاحادیث الموضوعه وغیره کي نقل سوی دي. د علامه سخاوي رحمه الله په حواله سره ملا علي قاري رحمه الله د ذکر سوو روایاتو اړوند نقل کوي چي ((لایصح))(موضوعات کبیر:ص/ ۷۵). یعنی دغه روایات صحیح نه دي.

او علامه محمد طاهر رحمه الله لیکي ((ولا یصح))(تذکرة الموضوعات:ص/ ۳٤). یعنی دغه روایت صحیح نه دئ.

او امام المحدثین علامه جلال الدین سیوطي رحمه الله لیکي:

الأحادیث التی رویت فی تقبیل الأنامل وجعلها علی العینین عند سماع اسمه ﷺ عن المؤذن فی کلمة الشهادة کلها موضوعات.

یعنی د مؤذن څخه چي کلمه شهادت کي د ده مبارک ﷺ نوم واورېدل سي نو گوتي مچول او بیا پر سترگو اېښودل په هکله چي کوم احادیث نقل کیږي هغه ټول موضوعي یعنی غلط او له ځانه جوړ سوی دي.(تیسر المقال وغیره).

په موضوعي حدیث عمل روا نه دئ.(فتاوی رحیمیه:۱/ ٦۰).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

په اذان کي د شهادتینو په وخت کي گوتي مچول او هغه سنت گڼل صحیح نه دي او څنگه چي په اوس وخت کي یې سنت گڼي او هغه کوي او پرېنښودونکی یې ملامتوي ځکه نو محققینو علماوو هغه پرې ایښي دي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۲/ ۹۰).

په کفایت المفتي کي راځي:

په اذان کي د شهادتینو په وخت کي گوتي مچول او پر سترگو یې اېښودل ثبوت نه لري. (کفایت المفتی:۳/ ۵۱). والله تعالیٰ اعلم.

د اذان په وخت کې یوازې د علاج له پاره ګوتې پر سترګو ایښودل

سوال: که کوم څوک د اذان په وخت کې ګوتې پر سترګو د علاج او تکلیف لیرې کولو له پاره کښیږدي او هغه سنت ونه ګڼي نو د هغه ګنجائش سته او که نه؟

الجواب: په کفایت المفتي کې راځي:

د ګوتو مچول کوم یقیني ثبوت نه لري ځکه نو د ثواب په نیت یې کول بې ثبوته خبره ده، البته ځیني کسان یې د سترګو د مریضۍ څخه د ساتلو له پاره یو عمل ګڼي، نو په دغه صورت کې به د نورو عملیاتو او تعویذاتو په شان یو مباح عمل وي مګر د هغه مطلب به دا وي چې پر پرېښودونکي به یې کومه ملامتیا نه کیږي څوک چې دغه عمل کوي هغه دې یې وکړي او څوک چې یې نه کوي هغه دې نه کوي، بل ځای داسې ذکر سوی دی ځینو بزرګانو دا عمل د سترګو د مریضۍ څخه د ځان ساتلو له پاره یو عمل ګڼلی دئ، نو دا شرعي خبره نه سوه که یې په دې فکر سره وکړئ چې د دغه عمل په کولو سره سترګې نه خوږیږي، نو ده ته اختیار سته.(كفايت المفتي:۳/ ۵۷).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

له ځینو سلفو څخه نقل سوي دئ چې دغه د سترګو د تکلیف له پاره یو مجرب علاج دئ هغه سنت هدی ګڼل او د عبادت په توګه یې کول بدعت دئ پرېښودل یې لازم دي، البته که یې څوک د سترګو د تکلیف د علاج په غرض دارنګه وکړي چې له هغه څخه نور خلک د سنت او ثواب فکر ونه کړي، نو درسته ده. (فتاوى محموديه:۳/ ۱۶۰: باب البدعات والرسوم).

د بتو ګوتو د مچولو اړوند د روایاتو تفصیل په المقاصد الحسنة کې (صـ ۳۸۴) کې کتل کېدای سي. والله تعالیٰ اعلم.

د اذان څخه وروسته په دعاء کې والدرجة الرفیعه ویلو حکم

سوال: داذان څخه وروسته په دعاء کي الدرجة الرفيعه دابن السنى په كتاب عمل اليوم والليلة په هندوستانی نسخه کي راغلی دي او له هغه پرته په نورو نسخو کي نه سته ، نو دغه لفظ ويل کيږي او که نه؟

الجواب: په ځينو نسخو کي دا اضافه ليکلي ده مثلاً په هندوستاني نسخه کي خو په نورو کي نه سته مثلاً دآرام باغ کراچي څخه ديوه مصري عالم له تحقيق سره چاپ سوی دئ، همدارنګه د دوکتور عبد الرحمن کوثربن عاشق الهی له تحقيق سره چاپ سوی دئ په هغه کي هم دا اضافه نه سته . (ص ۷۷ دار الارقم).

همدارنګه شيخ عبد الرحمن يې په پيل کي ليکي:

وكانت عندى نسخة مخطوطة حصلت بمساعى سيدى الوالد من مكتبة المولوى خدا الواقعة فى بيته (بهار) الهند، ونسختان طبعتا بدائرة المعارف العثمانيه فى حيدر آباد الدكن (الهند)، ونسخة طبعت بدار المعرفة بيروت، ونسخة نشرت من مكتبة التراث الإسلامى بجوار اداءرة الأزهر.

حضرت ډېري نسخي راغونډي کړي دي او بيا يې تحقيق کړی دئ له دې سره سره دا زياتونه ونه موندل سوه لهذا چي کوم شی ثابت وي هغه بايد ولوستل سي او چي ثابت نه وي هغه دي نه ويل کيږي، البته په اخر کي يې په ځينو رواياتو کي ((انک الاتخلف الميعاد))موجود دئ، نو د هغه ويل به درست وي.

په مواهب الجليل شرح مختصر الخليل کي راځي:

زاد بعضهم فى الحديث المذكور بعد قوله والفضيلة والدرجة الرفيعة، قال الحافظ السخاوى فى المقاصد الحسنة فى الأحاديث المشتهرة على الألسنة: لم أره فى شىء من الروايات، قال: وكان من زادها اغتربما وقع فى بعض نسخ الشفاء فى الحديث المشار إليه

لکن مع زیادتہا فی ہذہ النسخة علم علیہا کاتبہا بما یشیر إلی الشک فیہا، ولم أرہا فی سائر نسخ الشفاء بل عقد لہا فی الشفاء فصلا فی معان آخرو لم یذکر فیہ حدیثًا صریحًا وہو دلیل لغلطہا انتہی. قلت: یشیر إلی قولہ: فصل فی تفضیلہ فی الجنة بالوسیلة والدرجة الرفیعة والکوثر والفضیلة انتہی. وقال الدمیری من الشافعیة فی شرح المنہاج: وقع فی الشرح والروضة والمحرر بعد (الفضیلة) زیادة والدرجة الرفیعة ولا وجود لہا فی کتب الحدیث. (مواہب الجلیل:۲/ ۱۰٤).

ملا علي قاري رحمہ اللہ د مشکوة په شرح مرقات کي فرمايي:

وأما زیادة والدرجة الرفیعة المشتہرة علی الألسنة فقال السخاوی لم أرہ فی شیء من الروایات. (مرقات المفاتیح:۲/ ۱٦۳).

علامه شامي رحمہ اللہ فرمايي:

قال ابن حجر في شرح المنہاج: وزیادة (والدرجة الرفیعة) وختمہ بـ (أرحم الراحمین) لا أصل لہما. (الشامی:۱/ ۳۹۸، سعید).

په اعلاء السنن کي راځي:

وأما زیادہ یا أرحم الراحمین فلا وجود لہا فی کتب الحدیث، قلت: وکذلک زیادة وارزقنا شفاعتہ لم أرہا فی حدیث، وحکم مثل ہذہ الزیادة الغیر الثابتة قد مر قریبا، وفی المقاصد الحسنة: (ص ۱۰): حدیث الدرجة الرفیعة المدرج فیہا یقال بعد الأذان لم أرہ فی شیء من الروایات. (اعلاء السنن:۲/ ۱۲۸، ادارة القرآن کراچی).

په بذل المجهود کي راځي:

وأما زيادة والدرجة الرفيعة المشتهرة على الألسنة فقال السخاوى: لم أره فى شىء من الروايت وزاد البيهقى في روايت (إنک الاتخلف الميعاد) وأما زيادة يا أرحم الراحمين فلا وجود لها فى كتب الحديث). (بذل المجهود:٤/ ٩٤).

شيخ الباني په ارواء الغليل کي وايي:

تنبيه : وقع عند البعض زيادات فى متن هذا الحديث فوجب التنبيه عليها ... الرابعة عند ابن السنى والدرجة الرفيعه وهى مدرجة أيضا من بعض النساخ فقد علمت مما سبق أن الحديث عنده من طريق النسائى وليست عنده ولا عند غيره، وقد صرح الحافظ فى التلخصن: (ص ٧٨) ثم السخاوى فى المقاصد: (ص ٢١٢) انها ليست فى شىء من طرق الحديث. (ارواء الغليل:١/ ٢٦١، المكتب الاسلامى بيروت).

په کفايت المفتي کي راځي:

چي د ((والدرجة الرفيعه))او د ((وارزقنا شفاعته يوم القيامة))ثبوت نه سته ، البته په اخر کي د ((انک لاتحلف الميعاد))الفاظ د بيهقي په روايت کي راغلي دي. كذا فى الشامي، نو غير ثابت الفاظ بايد ونه ويل سي، مګر که يې څوک په دغه عقيده ووايي، چي دا الفاظ ثابت نه دي نو بيا څه باک نه لري.(كفايت المفتى:٣/ ٦٠). والله تعالى اعلم.

د اذان د ختم کېدو وروسته د جواب ورکولو حکم

سوال: که اذان ختم سو او اورېدونکی يو ځای ورسره جواب ونه وايه نو وروسته جواب ورکولای سي او که نه؟

الجواب: دا اذان د ختم کېدو وروسته که زيات وخت تېر سوی نه وي بيا هم جواب ورکول مستحب دي که زيات تېر سي بيا دي جواب نه ورکوي.

وګورئ په بحر کي راځي:

ولـم أرحكم ما إذا فرغ الـمؤذن ولـم يتابعه السامع هل يـجيب بعد فراغه، وينبغى أنه إن طال الفصل لايـجيب وإلا يـجيب. (البحر الرائق:۱/ ۲٦۰، باب الاذان).

په درمختار کي راځي:

ولو لـم يـجبه حتى فرغ لـم أره، وينبغى تداركه إن قصر الفصل وفى الشامية: (قوله لـم أره) البحث لـصاحب البحر، وصرح بـه ابـن حجـر رحمه الله فـى شرح الـمنهاج حيث قـال: فلوسكت حتى فرغ كل الأذان ثم أجاب قبل فاصل طويل كفى فى أصل سنة الإجابة كما هو ظاهر. والله اعلم.

(الدر المختار مع الشامی:۱/ ۳۹۸، سعيد کپمنی – وكذا فی حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۱۰۹، قديمی). والله تعالیٰ اعلم.

د جنب او حائضې له پاره د اذان د جواب ورکولو حکم

سوال: جنب او حائضه د اذان جواب ورکولای سي او که نه؟

الجواب: جنب بالاتفاق د اذان جواب ورکولای سي، البته د حائضې په هکله دوه قوله دي خو د اکثرو فقهاؤ په اند حائضه به د اذان جواب نه ورکوي.

په درمختار کي راځي:

ويـجيب وجوبا وقال الـحلواني ندباً .... ولوجنباً لاحائضاً ونفساء ... وفي الشامية: (قوله ولو جنباً) لأن إجابة الـمؤذن ليست بأذان بحر عن الـخلاصة. (قوله لا حائضًا ونفساء) لأنـهما ليسا من أهل الإجابة بالفعل فكذا بالقول إمداد: أي بخلاف الـجنب فإنه مـخاطب

بالصلاة ولأن حدثه أخف من الحيض والنفاس لإمكان إزالته سريعا. (الدر المختار مع الشامي: ١/ ٣٩٦).

په فتاوی حقانيه کي راځي:

علماء کرامو ليکلی دي چي حائضه او نفاسه ته د اذان جواب ورکول صحيح نه دئ. (فتاوی حقانيه: ٣/ ٦٨). **د زيات تفصيل له پاره وګورئ:** (الفتاوی الهنديه: ١/ ٣٨، والفقه الاسلامی وأدلته: ١/ ٥٥٤، و مراقی الفلاح: ص ١١٠) والله ﷻ اعلم.

د جنابت په حالت کي د اذان کولو حکم

سوال: د جنابت په حالت کي اذان کول څنګه دي؟

الجواب: د جنابت په حالت کي اذان کول مکروه دي او که يې په داسي حال کي اذان وکړ نو راګرځول يې واجب دي.

وګورئ په شامي کي راځي:

(قوله ويكره أذان جنب) لأنه يصير داعيا إلى ما لا يجيب إليه، وإقامته أولى بالكراهة، وصرح في الخانية بأنه تجب الطهارة فيه عن أغلظ الحدثين، وظاهره أن الكراهة تحريمية بحر. (قوله ويعاد أذان جنب) ندباً وقيل وجوباً وعلل الوجوب بأنه غير معتد به والندب بأنه معتد به إلا أنه ناقص، قال: وهو الأصح كما في التمرتاشي. (شامی: ١/ ٣٩٣، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وكره أذان جنب وإقامته باتفاق الروايت والأشبه أن يعاد الأذان ولا تعاد الإقامة. (الفتاوی الهنديه: ١/ ٥٤). والله ﷻ اعلم.

د حی علی الصلاة او حی علی الفلاح په وخت کي د ټول بدن د ګرځولو حکم

سوال: په اذان کي د حی علی الصلاة او حی علی الفلاح په وخت کي ټول بدن ګرځول ضروري دي يا يوازي سر ګرځول کافي دي؟

الجواب: یوازې سر دې وګرځوي سینه او پښې دې نه ګرځوي.

وګورئ په شامي کې لیکي:

(قوله ویلتفت) أي یحول وجهه لاصدره قهستاني ولا قدمیه نهر. (شامی:۱/ ۳۸۷، سعید).

په فتاوی هندیه کې راځي:

وإذا انتهی إلی الصلاة والفلاح حول وجهه یمینًا وشمالاً وقدماه مکانهما. (الفتاوی الهندیه:۱/ ۵٦). والله ﷻ اعلم.

په مساجدو کې د سټلائټ په ذریعه د ټیلیکاسټ کولو حکم

سوال: نن سبا په ځینو مملکتونو کې یوازې په یوه مسجد کې اذان کیږي او په نورو مسجدونو کې د سټلائټ په ذریعه ټیلیکاسټ کیږي ایا دغه اذان به د نورو مسجدونو له پاره کافي وي او که نه؟

الجواب: اذان یوازې د اعلان نوم نه دئ بلکې د اذان له پاره شرائط او آداب دي قبلې ته مخ ګرځول په غوږونو کې ګوتې نیول او داسې نور دغه شیان د سټلائټ په اذان کې نه موندل کیږي که د اذان مقصد یوازې اعلان او اطلاع وای نو بیا یوازې او په سفر کې چې کله ملګري یو ځای وي باید اذان نه کېدلای اذان د ځانګړو کلماتو د ویلو او د یوه مسلمان مؤذن په ژبې د اداء کولو نوم دئ لکه پلاستیکي لوبته چې د ښځې پر ځای نه دریږي د استیل د آلې اذان د اصلي مؤذن د اذان پر ځای نه دریږي.

په بحر الرائق کې راځي:

سن الأذان للصلوات الخمس والجمعة سنةمؤکدةقویةقریبةمن الواجب حتی أطلق بعضهم علیه الوجوب ولهذا قال محمدﷺ لو اجتمع أهل بلد علی ترکه قاتلناهم علیه وعند أبي یوسف یحبسون ویضربون وهو یدل علی تأکده لا علی وجوبه ..... واختار في فتح القدیر وجوبه ؛ لأن عدم الترك مرةً دلیل الوجوب ولا یظهر کونه علی الکفایة وإلا لم یأثم أهل بلدة بالاجتماع علی ترکه إذا قام به غیرهم ولم یضربوا ولم یحبسوا .... والظاهر کونه علی

الكفاية بمعنى أنه إذا فعل في بلد سقطت المقاتلة عن أهلها لا بمعنى أنه إذا أذن واحد في بلد سقط عن سائر الناس من غير أهل تلك البلدة إذ لم يحصل به إظهار أعلام الدين. (البحر الرائق: ۱/ ۲۵۵).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ويكره أداء المكتوبة بالجماعة في المسجد بغير أذان وإقامة .كذا في فتاوى قاضي خان ولا يكره تركهما لمن يصلي في المصر إذا وجد في المحلة .... وإذا لم يؤذن في تلك المحلة يكره له تركهما. (الفتاوى الهنديه: ۱/ ۵٤).

په اللجنة الدائمة کي راځي:

سؤال: هل من الواجب الأذان في جميع المساجد بمكبرات الصوت في حي واحد مع العلم أن أذان مسجد واحد يسمعه جميع المسلمين ؟ وهل يكفي الأذان في مسجد واحد من مساجد الحي؟

الجواب: الأذان فرض كفاية، فإذا أذن مؤذن في الحي وأسمع سكانه أجزأهم، ويشرع لأهل كل مسجد أن يؤذنوا لعموم الأدلة. (اللجنة الدائمة للبحوث العلمية والافتاء: ٦/ ۷۳).

په فتاوی محموديه کي راځي:

سوال: که دوه مسجدونه نژدې وي ديوه اذان په هغه بل کي اورېدل کيږي نو ايا په يوه مسجد کي يې کول کفايت کوي؟ که کافي نه وي، نو دوهم مسجد اوسېدونکی چي هلته اذان سوی نه وي ګنهګار به وي او که نه؟

الجواب: حامدا او مصليا: په دوارو مسجدونو کي بېل بېل اذان مسنون دئ يوازي په يوه اکتفا کول خلاف سنت دئ څوک چي داسي کوي هغه به د سنت پرېښودونکی وي. (فتاوی محموديه: ۵/ ۳۹۹، باب الاذان، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د اذان کولو حکم

سوال: ځینی کسان وایي چي په مسجد کي اذان کول مکروه دئ ځکه فقهاؤ مکروه لیکلي دئ. وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

وينبغى أن يؤذن على المأذنة أو خارج المسجد ولايؤذن فى المسجد كذا فى فتاوى قاضى خان. (االفتاوى الهنديه:۱/ ۵۵- وفى فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:۱/ ۷۸).

نن سبا په مسجد کي په اسپیکر کي اذان کیږي نو ایا په مسجد کي له محراب سره یا یو بل ځای اذان کول مکروه دئ او که نه؟

الجواب: په مسجد کي په اسپیکر کي اذان کول درست دي په دې کي څه کراهت نه ستنه او کومو فقهاؤ چي مکروه ګڼلی دئ د هغه علت یې یوازي دا ښودلی دئ چي دباندي آواز نه رسیږي او چي کله اذان هر ځای ته له اسپیکر څخه رسیږي، نو دا علت ونه موندل سو له نفس مسجد سره کراهت کومه اړه نه لري، مفتي اعظم عزيز الرحمن صاحب رحمه الله د دغې مسئلي ډېر ښه تحقيق کړی دئ، د مفتي صاحب د کلام په رڼا کي څو خبري وړاندي کوو د اذان معنی په لغت کي اعلام او خبرول وي او د شريعت په اصطلاح کي مخصوص اعلام ته اذان وايي.

په درمختار کي راځي ((هو لغة الاعلام وشرعا الاعلام المخصوص))(الدرالمختار:۱/ ۳۸۳).

د اذان مشروعيت د احاديثو له کتابونو څخه دومره ثابت دي چي لمونځ کونکو ته د اذان د وختونو خبر ورکول سي او په مسجد کي حاضر او په جماعت سره لمونځ اداء کړئ.

وهذا ما أخرجه مسلم عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه أنه قال كان المسلمون حين قدموا المدينة يجتمعون فيتحينون الصلوات وليس ينادى بها أحدفتكلموا يومًا فى ذلك فقال بعضهم .... إلى آخر الحديث. (مسلم شريف:۱/ ١٦٤).

وفى السنن الكبرى للبيهقى عن أنس رضي الله عنه قال: ذكروا أن يعلموا وقت الصلاة بشيء فيعر فونه فذكروا أن يضربوا ناقوسًا ..... الخ . (السنن الكبرى:۱/ ۳۹۰، وسنن أبى داؤد:۱/ ۷۱).

وفيه أيضًا عن بعض الأنصاراهتم النبی ﷺ للصلاة كيف يجمع الناس لها، فقيل له أنصب رأيةً .... الخ. (السنن الكبرى:١/ ٣٩٠ – وسنن أبي داؤد: ١/ ٧١).

که د اذان پر کلماتو غور وسي نو یوازي د الله ﷻ ذکر دئ او یا د ذکر الله لوري ته رابلل دي دغه کلمې له مسجد سره څه منافات نه لري او د مسجد له دباندي سره یې څه مناسبت نه ستره بلکې په ظاهره خو معامله د دې برعکس معلومیږي لکه چې د حضور ﷺ ارشاد دئ چې د مسجدونو بناء د لمانځه او د الله ﷻ د ذکر له پاره ده.

وذلک ما أخرجه مسلم عن أنس رضي الله عنه فی قصة أعرابی .... ثم إن رسول الله ﷺ قال له: إن هذه المساجد لا تصلح لشیء من هذا البول ولا القذر، إنما هی لذکر الله عز وجل والصلاة وقراءة القرآن. (مسلم شریف:١/ ١٣٨).

مګر څنګه چې له اذان څخه مقصود اعلام او اطلاع وي ځکه نو پر لوړ ځای اذان کول به ښه وي لکه څنګه چې د انحضرت ﷺ په زمانه کې پر لوړ ځای د اذان کولو اهتمام ؤ خو په مسجد کې یا له مسجد څخه دباندې څه التزام نه ؤ د حضور اقدس ﷺ په زمانه کې په مسجد کې او له مسجد څخه دباندې دواړه ځایونه اذان کول ثابت دي.

په فتاوی هندیه کې راځي:

وينبغی أن يؤذن على المأذنة أو خارج المسجد، ولايؤذن فی المسجد كذا فی فتاوی قاضی خان، والسنة أن يؤذن فی موضع عال يكون أسمع لجيرانه ويرفع صوته ولايجهد نفسه كذا فی البحر الرائق. (الفتاوى الهنديه:١/ ٥٥ – وكذا فی البحر الرائق:١/ ٢٥٥ – و ردالمحتار:١/ ٣٨٤).

په فتاوی شامي کې راځي:

قلت: والظاهر أن هذا في مؤذن الحي، أما من أذن لنفسه أو لجماعة حاضرين فالظاهر أنه لا يسن له المكان العالي لعدم الحاجة تأمل. (شامی:١/ ٣٨٤، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ويكره الأذان قاعدًا وإن أذن لنفسه قاعدًا فلا بأس به . (الفتاوى: الهنديه:١/ ٥٤).

له دغو عبارتونو څخه دا خبره څرګندیږي چي په کوم ځای کي چي اعلام او عامه اطلاع مقصود نه وي هلته پر لوړ ځای اذان کول ضروري نه دي.

په شامي کي راځي:

وقال ابن سعد بالسند إلى أم زيد بن ثابت كان بيتي أطول بيت حول المسجد فكان بلال يؤذن فوقه من أول ما أذن إلى أن بنى رسول الله مسجده فكان يؤذن بعد على ظهر المسجد وقد رفع له شيء فوق ظهره. (شامى:١/ ٣٨٧، سعيد).

والحديث أخرجه ابن سعد فى الطبقات الكبرى حيث قال: انا محمد بن عمر، ثنى محمد عن يحيى بن عبد الله بن عبد الرحمن بن سعد بن زراره قال: أخبرانى من سمع النوار أم زيد بن ثابت تقول: كان بيتى أطول بيت حول المسجد، فكان بلال يؤذن فوقه من أول ما أذن إلى أن بنى رسول الله ﷺ مسجده، فكان يؤذن بعد على ظهر المسجد وقد رفع له شىء فوق ظهره. الطبقات الكبرى لابن سعد:٨/ ٤٢٠ – ومن نساء بنى عدى بن النجار، النوارد دار صادر، بيروت).

د دغه روایت خلاصه دا ده چي د مسجد نبوي د تعمیر څخه وړاندي د ام زید پر سرای اذان کېدئ چي د مسجد سره متصل ؤ او د مسجد له جوړېدو وروسته د مسجد پر چت اذان کېدئ او پر چت د اذان کولو له پاره يې هغه څه لوړ جوړ کړ د اذان پيل د عبد الله بن زيد ﵁ د خوب څخه وسو لکه څنګه چي د صحاحو په اکثرو کتابونو کي دا مضمون د اوږدو احاديثو په ضمن کي موجود دئ.

مثلاً په ابو داؤد کي راځي:

فجاء رجلمن الأنصار فقال يا رسول الله إنى لما رجعت – لما رأيت من اهتمامك – رأيت رجلاً كأن عليه ثوبين أخضرين فقام على المسجد فأذن . (أبو داؤد:١/ ٧٤).

په دغه حدیث کي انصاري یو داسي څوک چي زرغوني جامي یې په تن وي پر مسجد اذان کونکی لیدلی دئ.

وفی سنن ابن ماجة بروایة عبد الله بن زید رضي الله عنه أن النبی ﷺ قال: له فاخرج مع بلال إلی المسجد فألقها علیه ، ولیناد بلال؛ فإنه أندی صوتًا منك قال : فخرجت مع بلال إلی المسجد، فجعلت ألقیها علیه وهو ینادي بها . (ابن ماجه:٥١).

د دغه روایت حاصل دا دئ چي بلال رضي الله عنه مسجد ته بوزه دا اذان الفاظ ورته وښیه لکه څنګه چي همداسي وسوه له ذکر سوو احادیثو څخه دا خبره ثابته ده چي دانحضرت ﷺ په زمانه کي اذان په مسجد کي او د مسجد پر چت کېدئ او ښکاره خبره ده چي د مسجد چت په ټولو احکامو کي د مسجد په شان دئ بلکي دا هم ثابته سوه چي تر ټولو لوړی اذان د حضور ﷺ په حکم سره په مسجد کي وسو غرض دا چي اذان د اطلاع له پاره دي ځکه نو لوړ ځای ورته مناسب دئ لکه چي د فقهاؤ ارشاد دئ ((یؤذن علی المسجد او خارج المسجد))د تردید په توګه یې او ذکر کړی دئ چي دا خبره ورڅخه معلومیږي چي که په میذنه کي وي نو خارج المسجد ضروري نه دئ او دا خبره هم واضح سوه چي میذ نه د مسجد جزء ده ځکه نو که معتکف میذنه او یا د مسجد چت ته وخیږي نو اعتکاف یې نه باطلیږي. (فتاوی دار العلوم دیوبند، عزیز الفتاوی: جلد اول: ۲۷۹، جلد دوم :۱۸۰).

قوله: ((اعتکاف نه باطیږي)) ذکره فی المبسوط: وصعود المعتکف علی المئذنة لایفسد اعتکافه. (المبسوط:٤/ ٢٠٤).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو صعد المئذنة لم یفسد اعتکافه بلاخلاف. (بدائع:٢/ ١١٥، سعید).

قوله: ((مئذنه د مسجد په حکم کي ده)) پر دغه ډېر جزئیات شاهد دي مثلاً په محیط کي ذکر سوي دي:

وإذا صلى في المئذنة مقتديًا بإمام في المسجد تجوز صلاته، وكذا لو صلى على سطح المسجد مقتديًا بإمام في المسجد تجوز صلاته . (المحيط:۲:۱۲۰۱۲، دار احياء التراث).

دزیات تفصیل له پاره ګورئ: (احسن الفتاوی:۲/ ۲۹٤- ۲۹٥، واعلاء السنن:۸/ ۸٦، وفتاوی دار العلوم دیوبند: مکمل و مدلل:۲/ ۱۰۰، وبذل المجهود:٦/ ۸٥). والله ﷻ اعلم.

په اذان او یا اقامت کي که یې کومه کلمه هېره سي او وروسته یې په یاد سي د هغې حکم

سوال: په اذان او یا اقامت کي که یې کومه کلمه هېره سي او وروسته یې په یاد سي نو راګرځول یې ضروري دي او که نه؟

الجواب: که یې فوراً ور په یاد سوه نو چي کومه کلمه پاته سوې ده له هغه څخه دي راوګرځوي، البته د سر راګرځول یې افضل دي او که یې وروسته ورپه یاد سو نو له شروع څخه دي راوګرځوي.

په درمختار کي راځي:

ولو قدم فيهما مؤخرًا أعاد ما قدم فقط. وفي الشامية: (قوله أعاد ما قدم فقط) كما لو قدم الفلاح على الصلاة يعيده فقط أي ولايستأنف الأذان من أوله. (الدرالمختار مع الشامي:۱/ ۳۸۹، سعيد).

وفي تقريرات الرافعي:

(قول الشارح أعاد ما قدم فقط) أي أجزأه ذلك لكن الاستئناف أفضل، حموي. (تقريرات الرافعي على هامش الشامي:۱/ ٤٦، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ويرتب بين كلمات الأذان والإقامة كما شرع، وإذا قدم في أذانه أو في إقامته بعض الكلمات على بعض نحو أن يقول : (أشهد أن محمدًا رسول الله) قبل قوله : (أشهد أن لا إله إلا الله)

فالأفضل في هذا أن ما سبق على أوانه لا يعتد به حتى يعيده في أوانه وموضعه . (الفتاوى الهنديه:۱/ ۵۶، الفصل الثانی فی کلمات الاذان والاقامة – وکذا فی بدائع الصنائع:۱/ ۱۴۹، سعید).

په فتاوی حقانیه کي راځي:

که یې کومه کلمه هېره سي یا تقدیم او تاخیر پېښ سي نو له ختم کېدو مخکي دي دهغه ازاله وکړئ وړاندي دي په ترتیب سره اذان شروع کړي البته که دغلطی احساس داذان وروسته وروته وسي او دخبرو کولو له امله یې تدارک ممکن نه وي نو دسره دي راوګرځوي. (فتاوی حقانیه:۳۴۹).

والله ﷻ اعلم.

که دوخت داخلېدل معلوم وي نو دفاسق داذان حکم

سوال: که دوخت داخلېدل معلوم وي نو دفاسق اذان به مکروه وي او که به بېله کراهته روا وي؟

الجواب: فاسق په مستقله توګه مؤذن ګرځول مکروه تحریمي دي دا داذان داهمیت دکمولو په معنی دئ، البته که کله کله اذان وکړي او دوخت داخلېدل معلوم وي نو څه باک نه لري.

په نورالایضاح کي راځي:

ویکره اقامة الفاسق واذانه. (نورالایضاح:ص ۶۰).

په درمختار کي راځي:

ویکره أذان جنب ... وفاسق. وفی الشامی: (قوله ویعاد أذان جنب) زاد القهستاني: والفاجر ...... وعلل الوجوب بأنه غیر معتد به، والندب بأنه معتد به إلا أنه ناقص قال وهو الأصح كما في التمرتاشي ...... وينبغي أن لا يصح أذان الفاسق بالنسبة إلى قبول خبره والاعتماد عليه أي لأنه لا يقبل قوله في الأمور الدينية فلم يوجد الإعلام كما ذكره الزيلعي وحاصله أنه يصح أذان الفاسق وإن لم يحصل به الإعلام أي الاعتماد على قبول قوله في دخول الوقت .... ثم الظاهر أن الإعادة إنما هی فی المؤذن الراتب، أما لوحضر جماعة

عالـمون بـدخول الوقـت وأذن لـهم فاسـق أو صـبی يعقـل لايكـره ولايعـاد أصـلاً لـحـصول

الـمقصود تأمل. (الدر المختار مع ردالمحتار:۱/ ۳۹۲-۳۹۳، سعيد).

په فتاوی هنديه کې راځي:

ويكره أذان الفاسق ولايعاد هكذا في الذخيرة. (الفتاوى الهندية:۱/ ٥٤).

په فتاوي رحيميه کې راځي:

د فاسق اذان او اقامت د ديندار کس په موجوديت کې مکروه دئ هغه ته د اذان او اقامت وظيفه سپارل روا نه دي مکروه تحريمي دئ.

په جوهره نيره کې راځي:

((ويكـره ان يكونـه الـمؤذن فاسـقا)) **يعنی فاسق مؤذن جوړول مکروه دئ.** (فتـاوی رحيمـه: ۳/ ۱۵).

په فتاوی محموديه کې راځي:

د ږيرې خريونکی اذان مکروه دئ. (فتاوی محموديه:۵/ ٤٣٨).

په احسن الفتاوی کې راځي:

د فاسق اذان او اقامت مکروه تحريمي دئ د هغه د اذان راګرځول مستحب دي اقامت دي يې نه راګرځوي په حواله د شامي. (احسن الفتاوی:۲/ ۲۸۷).والله ﷻ اعلم.

د کوچنی په غوږ کې د اذان کولو طريقه

سوال: کوم څوک چې د کوچنی په غوږ کې اذان کوي نو د هغه له پاره راسته او چپه طرفته کتل مستحب دئ او که نه؟

الجواب: د کوچنی په غوږ کې د اذان کولو په وخت کې راسته او چپه لوري ته کتل مستحب دئ.

په درمختار کې راځي:

ويلتفت فيه يمينًا ويسارًا فقط ...... بصلاة وفلاح ولو وحده أو لمولود لأنه سنة الأذان مطلقًا. وفي الشامية: وفي البحر عن السراج أنه من سنن الأذان ...... حتى قالوا: في الذي يؤذن للمولود ينبغي أن يحول. (الدر المختار مع الشامي: ۱/ ۳۸۳، سعيد - وهكذا في مجمع الانهر: ۱/ ۷۷ - وكذا في الطحطاوي على الدر: ۱/ ۱۸۵ - و درر الاحكام: ۱/ ۵۵ - والبحر الرائق: ۱/ ۲۵۸ - والبناية في شرح الهداية: ۱/ ۵٤۱).

په امداد الفتاوی کي راځي:

راسته او چپه لوري ته کتل څنګه چي په اذان کي مسنون دي، همدارنګه په اقامت کي او همدارنګه د کوچنی په غوږ کي په اذان کولو کي. (امداد الفتاوی: ۱/ ۱۰۸، او احسن الفتاوی: ۲/ ۲۷۸). والله تعالی اعلم.

د قضاء سوو لمنځونو له پاره د اذان او اقامت حکم

سوال: په تېرو سوو لمنځونو کي د لومړی لمانځه له پاره د اذان او اقامت حکم څه دئ؟ او د نورو لمنځونو له پاره يوازي اقامت کافي دئ او که نه؟ همدارنګه دا حکم په جماعت سره د لمانځه د اداء کونکو له پاره دئ او که د منفرد له پاره هم دئ؟

الجواب: د لومړی لمانځه له پاره اذان او اقامت دواړه سنت دي، البته د نورو لمنځونو له پاره اختيار دئ او دا حکم په جماعت سره د لمونځ کونکو او د منفرد د پاره يو ډول دئ خو که يې قضايي لمنځونه په مسجد کي اداء کول نو بيله اذانه او اقامته دي هغه اداء کړي.

په ترمذي شريف کي راځي:

عن أبي عبيدة بن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال عبد الله رضي الله عنه إن المشركين شغلوا رسول الله ﷺ عن أربع صلوات يوم الخندق، حتى ذهب من الليل ما شاء الله فأمر بلالا فأذن ثم أقام فصلى الظهر، ثم أقام فصلى العصر، ثم أقام فصلى المغرب، ثم أقام فصل العشاء. (رواه الترمذي: ۱/ ٤۳، باب ماجاء في الرجل تفوته الصلوات بايتهن يبدأ).

په البحر الرائق کې راځي:

ويؤذن للفائتة ويقيم؛ لأن الأذان سنة للصلاة لا للوقت فإذا فاتته صلاة تقضى بأذان وإقامة لحديث أبي داود وغيره [أنه صلى الله عليه وسلم أمر بلالًا ﷺ بالأذان والإقامة حين ناموا عن الصبح وصلوها بعد ارتفاع الشمس]. (البحر الرائق: ۱/ ۳٦۱، کوئته).

په فتاوی هنديه کې راځي:

وإن فاتته صلوات أذن للأولى وأقام وكان مخيرًا في الباقي إن شاء أذن وأقام وإن شاء اقتصر على الإقامة . كذا في الهداية وإن أذن وأقام لكل صلاة فحسن ليكون القضاء على سنن الأداء . كذا في الكافي وهكذا في شرح المبسوط للإمام السرخسي. (الفتاوى الهندية: ۱/ ٥٥، وكذا في الشامي: ۱/ ۳۹۰، سعيد).

په البحر الرائق کې راځي:

وذكر الشارح الضابط عندنا أن كل فرض أداء كان أو قضاء يؤذن له ويقام سواء أدى منفردًا أو بجماعة. (البحر الرائق: ۱/ ۲٦۲، کوئته).

په درمختار کې راځي:

ولا فيما يقضى من الفوائت في مسجد فيما لأن فيه تشويشًا وتغليطًا. وفي الشامي: أي يظهر أن لو كان الأذان لجماعة، أما إذا كان منفردًا ويؤذن بقدر ما يسمع نفسه فلا. (الدر المختار مع الشامي: ۱/ ۳۹۱، سعيد).

په البحر الرائق کې راځي:

وإذا كانوا قد صرحوا بأن الفائتة لا تقضى في المسجد لما فيه من إظهار التكاسل في إخراج الصلاة عن وقتها فالواجب الإخفاء فالأذان للفائتة في المسجد أولى بالمنع. (البحر الرائق: ۱/ ۲٦۲، کوئٹه). والله ﷻ اعلم.

د اذان په وخت کي سلام کول او که څوک سلام وکړي نو د جواب ورکولو حکم

سوال: د اذان په وخت کي په خپل منځ کي سلام کول درست دي او که نه؟همدارنګه که څوک سلام وکړي نو جواب ورکول ضروري دي او که نه؟

الجواب: د اذان په وخت کي به اورېدونکی د اذان جواب ورکوي لهذا په خپل منځ کي خبري کول درست نه دي او که څوک سلام وکړي، نو جواب ورکول هم ضروري نه دي.

په فتاوی شامي کي راځي:

وقال في المعراج: وفي التحفة وينبغي للسامع أن لا يتكلم ولا يشتغل بشيء في حالة الأذان والإقامة ولا يرد السلام أيضا لأن الكل يخل بالنظم، أقول: يظهر من هذا أن قوله لا يرد السلام ليس للوجوب. (شامی: ۱/ ۳۷۱، سعید- وکذا فی البحر الرائق: ۱/ ۲۵۹، کوئٹه).

په امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: د اذان اورېدونکی که د اذان جواب ورکوي او که ساکت وي د راتلونکی کس د سلام جواب ورکول واجب دي او که نه او څوک باید په دغه وخت کي سلام وکړي او که نه؟

الجواب: په داسي وخت کي باید سلام ونه کړي او که يې سلام اچولی وي نو کوم څوک چي د اذان جواب ورکوي پر هغه خو د سلام جواب ورکول واجب نه دي خو کوم څوک چي ساکت وي پر هغه هم جواب ورکول واجب نه دي. ((لان سماع الذکر کا لذکر کما فی الدر المختار))(امداد الفتاوی: ۱/ ۱۱۰). والله ﷻ اعلم.

که د اذان د جواب ورکولو وروسته هم وخت وي نو په هغه کي د سلام کولو حکم

سوال: که اذان دومره اوږد وي چي د جواب ورکولو وروسته هم وخت پاته کیږي ځکه دیوې کلمې په جواب ورکولو کي درې ثانیې وخت مصرفیږي او مؤذن یې (۱۵) څخه تر (۲۰) ثانیو پوري اداء کوي، نو په منځ کي کلام کولای سي او که نه؟

الجواب: اصلي شی د اذان جواب ورکول دي له همدې امله فقهاوو د اذان په وخت کي د سلام کولو څخه منع کړي ده ځکه په اجابت کي یې خلل راځي خو که په منځ کي دومره وقفه وي چي د جواب ورکولو وروسته هم وخت پاته کیږي، نو په دغه وقفه کي ذکر او یا کوم بل کلام کېدای سي.

په بخاري شریف کي راځي:

وعن رسول الله ﷺ قال: إذا سمعتم النداء فقولوا مثل ما يقول المؤذن. (رواه البخاري: ۱/ ۸٦).

په فتاوی رشیدیه کي راځي:

د دنیا خبري د مؤذن د سکوت په وخت کي هم صحت لري.

په عمدة الفقه کي راځي:

د کلماتو تر منځ په وقفه کي دغه کارونه یعني سلام او د سلام جواب ورکول د اذان له جواب سره منافات نه لري. (عمدة الفقه: ۲/ ٤۲). والله ﷻ اعلم.

د سهار په اذان کي د الصلاة خیر من النوم په جواب کي د صدقت او بررت ویلو حکم

سوال: د سهار په اذان کي د الصلاة خیر من النوم په جواب کي د صدقت و بررت ویل په کوم روایت کي راغلئ دي او که نه؟ باید وویل سي او که نه؟

الجواب: د سهار په اذان کي د الصلاة خیر من النوم په جواب کي صدقت وبررت ویل په کوم روایت کي راغلی نه دي او ځینو فقهاوو چي دیوه روایت لوري ته اشاره کړي ده د محدثینو په اند هغه کوم اصل نه لري، البته علامه شرنبلالی رحمه الله فرمایي: چي د ځینو سلفو څخه نقل سوي ده، لهذا په ویلو کي یې څه باک نه سته، همدارنګه د شوافعو او حنابله وو په اند یې هم ویل مستحسن دي، خو د مالکیه وو په اند مستحسن نه دئ د محدیثنو اقوال وګورئ:

قال ابن الملقن رحمه الله في تخريج أحاديث الرافعي: لم أقف على أصله في كتب، وقال ابن حجر رحمه الله: لاأصل له. (الجد الحثيث في بيان ماليس بحديث:۱/ ۱۲۳).

وقال القاري رحمه الله: لا أصل له. (كذا في كشف الخفاء و مزيل الالباس عما اشتهر من الأحاديث على ألسنة الناس: ۲/ ۲۱).

قال الألباني في إرواء الغليل في تخريج أحاديث منار لسبيل: ۱/ ۲۵۹: لا أصل لها.

د فقهاوو عبارات وګورئ:

په فتاوى شامي كي راځي:

وفي: الصلاة خير من النوم فيقول: صدقت وبررت، لورو دخبر فيه، ورد بأنه غير معروف وأجيب بأن من حفظ حجة على من لم يحفظ. (الشامي:۱/ ۳۹۷، سعيد).

وفي تقريرات الرافعي: قال الرحمتي: ويأتي في هذا ما تقدم في الحيعلتين بل أولى لأن حديث قولوا مثل ما يقول يشمله ولم يرد حديث آخرفي (صدقت وبررت) بل نقلوه عن بعض السلف رحمه الله سندي. (تقريرات الرافعي:۱/ ٤۷، سعيد).

علامه شرنبلالى رحمه الله په امداد الفتاح كي فرمايي:

(وقال: صدقت وبررت) مروي ذلک عن بعض السلف كذا في التجنيس والمزيد. (امداد الفتاح:ص، ۲۲۱، بيروت).

مذهب شافعيه:

قال النووي رحمه الله في شرح مسلم في باب الأذان: إذا ثوب المؤذن في صلاة الصبح فقال: الصلاة خير من النوم قال سامعه: صدقت وبررت، هذا تفصيل مذهبنا.

مذهب حنابله:

په كشاف القناع كي راځي:

ويقول المجيب عند التثويب: أي قول المؤذن في أذان الفجر: (الصلاة خير من النوم) صدقت وبررت. (كشاف القناع:۲/ ۱۷۹ - وكذا في فقه العبادات الحنبلي:۱/ ۱٤٦).

مذهب مالكيه:

په الشرح الكبير كي راځي:

ولا يحكى الصلاة خير من النوم ولايبدلها بقوله: صدقت وبررت. (الشرح الكبير:۱/ ۱۹۷- كذا في حاشية الدسوقي:۲/ ۲۲٦ - وحاشية الصاوي:۱/ ۴۳۱). والله ﷻ اعلم.

د اذان څخه وروسته لاس پورته كول او دعاء كول

سوال: د اذان څخه وروسته په دعاء كولو كي لاس پورته كيږي او كه نه؟

الجواب: د كومو دعاګانو له پاره چي خاص الفاظ راغلي دي او په خاصه توګه ورته د لاسونو پورته كول ثابت نه وي هغه دعاګاني دا ذكارو په حكم كي دي د هغو له پاره لاس نه پورته كول ښه دي لكه د اذان څخه وروسته دعاګاني او د خوراک څښاک او بيت الخلاء دعاګاني.

وګورئ په فيض الباري كي راځي:

(باب الدعاء عند النداء) والمسنون في هذا الدعاء ألا ترفع الأيدي، لأنه لم يثبت عن النبي ﷺ رفعها، والتشبث فيه بالعمومات بعدما ورد فيه خصوص فعله ﷺ لغو، فإنه لو لم يرد فيه خصوص عادته ﷺ لنفعنا التمسك بها، وأما إذا نقل إلينا خصوص الفعل، فهو الأسوة الحسنة لمن كان يرجو الله والدار الآخرة. (فيض الباري:۲/ ۱٦۷، باب الدعاء عند النداء).

په احسن الفتاوى كي راځي د دعا دوه قسمونه دي:

۱_ څانګړي الفاظ ورته ټاكل سوي نه وي مطلق كوم حاجت غوښتل.

۲_ ټاكلي الفاظ هغه كه د خاص وخت اړوند وي او كه مطلق وي، د رفع يدين احاديث د اول قسم سره اړه لري د دوهم قسم سره تعلق نه لري ((الاماو ردفيه النص))نو وروسته تر اوداسه د مسجد

څخه وتل او یا ننوتل کور ته په وتلو او ننوتلو بیت الخلاء ته د وتلو او یا ننوتلو او داسي نورو ماثوره دعاګانو کي هيڅ څوک د رفع یدین قائل نه دئ. (احسن الفتاوی: ۲/ ۲۹۸).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

په خاصه توګه پر دغه موقع رفع یدین ثابت نه دي. (فتاوی دار العلوم دیوبند: ۲/ ۱۱۰). **والله ﷻ اعلم.**

د اقامت جواب ورکول سنت دي او که نه او الفاظ يې څه دئ؟

سوال: د اقامت جواب ورکول سنت دي او که نه؟ او الفاظ يې څه دي؟

الجواب: د اقامت جواب ورکول مستحب دي او د ((قدقامت الصلاة)) په ځواب کي ((اقامها الله و ادامها)) باید وویل سي او له دې څخه زیات الفاظ په حدیث کي ثابت نه دي.

په ابو داؤد شریف کي راځي:

عن أبی أمامة أو بعض أصحاب النبی ﷺ أن بلالاً ؓ أخذ فی الإقامة فلما أن قال: قد قامت الصلاة، قال النبی ﷺ " أقامها الله واداء مها ". وقال فی سائر الإقامة کنحو حديث عمر ؓ فی الأذان. (رواه ابو داؤد: ۱/ ۷، باب مایقول اذا سمع الاقامة).

په البحر الرائق کي راځي:

وفی فتح القدير أن إجابة الإقامة مستحبة وفی غيره أنه يقول إذا سمع قد قامت الصلاة أقامها الله واداء مها .(البحر الرائق: ۱/ ۲۵۹، الماجديه کوئته).

په درمختار کي راځي:

ويجيب الإقامة ندبًا إجماعًا كالأذان ويقول عند قد قامت الصلاة: أقا مها الله واداء مها .

(الدر المختار مع الشامی: ۱/ ۴۰۰، سعید – وکذا فی الفتاوی الهندیه: ۱/ ۵۷). والله ﷻ اعلم.

د اقامت په وخت کي راسته او چپه لوري ته مخ گرځول

سوال: د اقامت په وخت کي راسته او چپه لوري ته مخ گرځول مستحب دي او که نه؟

الجواب: د اقامت په وخت کي په ((حی علی الصلاة)) کي راسته لوري ته او په ((حی علی الفلاح)) کي چپه لوري ته مخ گرځول مستحب دي.

په درمختار کي راځي:

ويلتفت فيه وكذا فيها مطلقًا يمينًا ويسارًا فقط وفي الشامي: (قوله وكذا فيها مطلقًا) أي في الأقامة سواء كان المحل متسعًا أو لا. (الدرالمختار مع الشامی: ۱/ ۳۸۷، سعید).

په البحر الرائق کي راځي:

رواه الدارقطني عن بلال ﷺ قال: أمرنا رسول الله ﷺ إذا أذنا أو أقمنا أن لا نزيل أقدامنا عن مواضعها وأطلق في الالتفات ولم يقيده بالأذان وقدمنا عن القنية أنه يحول في الإقامة.

(البحر الرائق: ۱/ ۲۵۸، الماجدية کوئتة).

په امداد الفتاوی کي راځي:

راسته او چپه لوري مخ گرځول لکه څنگه چي په اذان کي سنت دي همدارنگه په اقامت کي او همدغه ډول د کوچنی په غوږ کي د اذان کولو په وخت کي، همدارنگه وگورئ (کفایت المفتی: ۳/ ۴۶، فتاوی دار العلوم دیوبند: ۲/ ۸۹). والله ﷻ اعلم.

د تهجد له پاره د اذان کولو حکم

سوال: په حرمینو شریفینو کي د تهجد له پاره اذان کیږي په نورو مملکتونو کي ولي نه کیږي؟

الجواب: اذان یوازي د فرائضو سره خاص دئ البته د نبي علیه الصلاة السلام په زمانه کي د څه مصلحتونو له امله د تهجد له پاره اذان کېدئ د تهجد وغیره له پاره اذان مشروع نه دئ، په احادیثو کي یې یادونه سته هغه مصلحتونه دا چي مثلاً هغه کسان چي په تهجد کي مشغول وي څه ارام وکړئ او

ارام کونکي، څه نوافل اداء کړي، روژه نیونکی پیشلمي وخوري او داسي نور خو صحابه کرامو په هغه عمل کړی نه دئ، لهذا اوس منسوخ دئ.

په ترمذي شریف کي راځي:

عن سالم عن أبيه أن النبی ﷺ قال: إن بلالاً رضي الله عنه يؤذن بليل فكلوا واشربوا حتى تسمع تأذين ابن أم مكتوم. (رواه الترمذی:۱/ ۵۰، باب ماجاء فی الاذان بالليل).

په بخاري شریف کي راځي:

عن ابن مسعود رضي الله عنه عن النبی ﷺ قال: لا يمنعن أحدكم أو أحدًا منكم أذان بلال من سحوره، فإنه يؤذن، أو قال بليل ليرجع قائمكم ولينبه نائمكم. (رواه البخاری:۱/ ۸۷/ ۶۱۳، باب الاذان قبل لفجر).

په شرح معانی الاثار کي راځي:

عن إبراهيم رحمه الله قال: شيعنا علقمة رحمه الله إلى مكة فخرج بليل فسمع مؤذنًا يؤذن بليل فقال: " أما هذا فقد خالف سنة أصحاب رسول الله ﷺ لو كان نائمًا كان خيرًا له فإذا طلع الفجر أذن " فأخبر علقمة رحمه الله أن التأذين قبل الفجر خلافلسنة أصحاب رسول الله ﷺ.

(شرح معانی الاثار:۱/ ۱۰۶، باب التأذین للفجر).

په البحر الرائق کي راځي:

(قوله : ولا يؤذن قبل وقت ويعاد فيه) أي في الوقت إذا أذن قبله ؛ لأنه يراد الإعلام بالوقت فلا يجوز قبله بلا خلاف في غير الفجر وعبر بالكراهة في فتح القدير والظاهر أنها تحريمية، وأما فيه فجوزه أبو يوسف رحمه الله ومالك رحمه الله والشافعي رحمه الله لحديث الصحيحين أن

بلالًا یؤذن ..... وعند أبي حنیفة ومحمد رحمه الله لا یؤذن في الفجر قبله لما رواه البیهقي أنه علیه الصلاة والسلام قال: یا بلال لا تؤذن حتی یطلع الفجر قال في الإمام رجال إسناده ثقات.

(البحر الرائق:١/ ٢٦٢، الماجدیة کوئتة).

په درمختار کي راځي:

وهو سنة مؤکدة کالواجب فی لحوق الإثم للفرائض الخمس في وقتها ولو قضاء لا یسن لغیرها کعید .... وفی الشامیة: (قوله کعید) أي وتر و جنازة وکسوف واستسقاء وتراویح وسنن رواتب لأنها اتباع الفرائض. (للدر المختار مع الشامی:١/ ٣٨٥، سعید).

په بدائع الصنائع کي راځي:

لو أذن قبل دخول الوقت لا یجزئه ویعیده إذا دخل الوقت في الصلوات کلها في قول أبي حنیفة رحمه الله ومحمد رحمه الله. وقد قال أبو یوسف رحمه الله: أخیرًا لا بأس بأن یؤذن للفجر في النصف الأخیر من اللیل ، وهو قول الشافعي رحمه الله. واحتجا بما روی سالم بن عبد الله بن عمر عن أبیه رضي الله عنه أن بلالًا رضي الله عنه کان یؤذن بلیل ....ولأبي حنیفة رحمه الله ومحمد ما روی شداد مولی عیاض بن عامر أن النبي صلی الله علیه وسلم قال لبلال: لا تؤذن حتی یستبین لك الفجر هکذا، ومد یده عرضًا ؛ ولأن الأذان شرع للإعلام بدخول الوقت ، والإعلام بالدخول قبل الدخول کذب، وکذا هو من باب الخیانة في الأمانة ، والمؤذن مؤتمن علی لسان رسول الله صلی الله علیه وسلم، ولهذا لم یجز في سائر الصلوات ؛ ولأن الأذان قبل الفجر یؤدي إلی الضرر بالناس، لأن ذلك وقت نومهم خصوصًا في حق من تهجد في النصف الأول من اللیل ، فربما یلتبس الأمر علیهم ، وذلك

مکروه. وروي أن الحسن البصري رحمه الله كان إذا سمع من يؤذن قبل طلوع الفجر قال: علوجفراغلا يصلون إلا في الوقت، لو أدركهم عمر لأدبهم، وبلال رضي الله عنه ما كان يؤذن بليل لصلاة الفجر بل لمعان أخر، لما روي عن ابن مسعود رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: لا يمنعنكم من السحور أذان بلال فإنه يؤذن بليل ليوقظ نائمكم ويرد قائمكم ويتسحر صائمكم، فعليكم بأذان ابن أم مكتوم . وقد كانت الصحابة فرقتين : فرقة يتهجدون في النصف الأول من الليل ، وفرقة في النصف الأخير، وكان الفاصل أذان بلال رضي الله عنه، والدليل على أن أذان بلال رضي الله عنه كان لهذه المعاني لا لصلاة الفجر أن ابن أم مكتوم رضي الله عنه كان يعيده ثانيًا بعد طلوع الفجر. (بدائع الصنائع: ۱/ ۱۵۴، سعید کمپنی).

په احسن الفتاوی کي رائحي:

سوال: د تهجد د لمانځه له پاره اذان سنت دئ او که نه؟

الجواب: حضرت بلال رضي الله عنه به صبح صادق څخه څه مخکي اذان کاوه چي په تهجد کي مشغول کسان څه ارام وکړي او بيده کسان راپورته سي د سهار له پاره تياري وکړي مګر وروسته دا اذان منسوخ سو ځکه نو صحابه وو په هغه باندي عمل نه دئ کړي. (احسن الفتاوی: ۲/ ۲۹۱، او فتاوی حقانيه: ۳/ ۵۳). والله تعالی اعلم.

د ذکر کولو په منځ کي که اذان شروع سي نو د جواب ورکولو حکم

سوال: يو څوک ذکر کوي او اذان شروع سي نو خپل خاص تعداد پوره کړي او بيا د اذان جواب ورکړي او يا ذکر پرېښودل او جواب ورکول ښه دي؟

الجواب: ذکر هر وخت کولای سي د هغه له پاره کوم خاص وخت نه سته او د اذان جواب له زياتي وقفي وروسته نه سي ورکولای لهذا هغه شی چي فوتيږي بايد مخکي کړل سي، همدارنګه فقهاؤ ليکي چي د قرآن تلاوت دي ودروي او د اذان جواب دي ورکړي له دې امله لومړی جواب ورکول افضل دي او بيا دي مخصوص تعداد پوره کړي.

په درمختار کي راځي:

ويجيب وجوبا وقال الحلواني ندبًا والواجب الإجابة بالقدم من سمع الأذان ولو جنبًا .....

وفي الشامي: (فيقطع قراءه القرآن) الظاهر أن المراد المسارعة للإجابة وعدم القعود لأجل القراءه لاخلال القعود بسعي الواجب وإلا فلامانع من القراءة مشيًا، إلا أن يراد يقطعها ندبًا للإجابة باللسان أيضًا. (الدر المختار مع الشامي:١/ ٣٩٦، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولا ينبغي أن يتكلم السامع في خلال الأذان والإقامة ولا يشتغل بقراءة القرآن ولا بشيء من الأعمال سوى الإجابة ، ولو كان في القراءة ينبغي أن يقطع ويشتغل بالاستماع والإجابة . كذا في البدائع . (الفتاوى الهنديه:١/ ٥٧، اجابة المؤذن).

په حاشيه طحطاوي کي راځي:

وإذا سمع المسنون منه أمسک حتى عن التلاوة ليجيب المؤذن ولو في المسجد وهو الأفضل ..... هذا مبنى على ندب الإجابة باللسان، وقال في الدر فلايرد سلامًا، ولايشتغل بشيء سوى الإجابة، والتفريع يندب الإمساک عن التلاوة. (حاشية الطحطاوی على مراقی الفلاح: ص ٢٠٢، قديمی کتب خانه). والله ﷻ اعلم.

په اقامت کي د الله اکبر د راء اعراب باید څنګه وي؟

سوال: په اقامت کي د الله اکبر د راء اعراب باید څنګه وي؟

الجواب: په اقامت کي د الله اکبر د لفظ راء ساکنه وي یا به یې د بلي کلمې سره یو ځای کوي فتحه به ورکوي البته ضمه ويل خلاف سنت ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قلت والحاصل: أن التكبيرة الثانية في الأذان ساكنة الراء للوقف حقيقة ورفعها خطأ وأما، التكبيرة الأولى من كل تكبيرتين منه وجميع تكبيرات الإقامة فقيل محركة الراء بالفتحة على نية الوقف، وقيل بالضمة إعرابًا، وقيل ساكنة بلا حركة على ما هو ظاهر كلام الإمداد والزيلعي والبدائع وجماعة من الشافعية ..... ثم رأيت لسيدي عبد الغني رسالة في هذه المسألة سماها (تصديق من أخبر بفتح راء الله أكبر) أكثر فيها النقل وحاصلها أن السنة أن يسكن الراء من الله أكبر الأول أو يصلها بالله أكبر الثانية، فإن سكنها كفى، وإن وصلها نوى السكون فحرك الراء بالفتحة فإن ضمها خالف السنة لأن طلب الوقف على أكبر الأول صيره كالساكن أصالة فحرك بالفتح . (الشامی:۱/ ۳۸٦، مطلب فی الکلام علی حدیث (الاذان جزم)).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په اذان او اقامت کي دوه تکبيرونه يوه کلمه شمېرل کيږي په اذان کي له هر دوو تکبيرونو څخه لومړی تکبير او په اقامت کي په لومړنيو درو تکبيرونو کي پېښ ويل خلاف سنت دي هغه بايد ساکن ولوستل سي او يا دي هغه مفتوح کړي له دوهم تکبير سره دي يو ځای کړي. (احسن الفتاوی:۲/ ۲۹٦).

په فتاوی محموديه کي راځي:

بنه خبره دا ده چي داسي يې ووايي چي په دواړو تکبيرونو کي راء ساکنه سي پر هغه دي کوم حرکت نه وايي که لومړی راء ته حرکت ورکوي، نو زور دي ورکړي همدارنګه الله اکبر الله اکبر په پېښ سره ويل ردالمحتار خلاف سنت بللي دئ. په دوهم اکبر کي به راء په هر حال کي ساکنه وايي.

(فتاوی محموديه:۵/ ۴۰۹). والله ﷻ اعلم.

یو کس چي په دوو مسجدونو کي اذان کوي

سوال: یو کس په دوو مسجدونو کي اذان کولای سي او که نه؟

الجواب: یو مؤذن چي په دوو مسجدونو کي اذان کوي دا مکروه دي له سلفو څخه مروي نه دي، البته که یې په لومړی مسجد کي لمونځ کړي نه وي نو کراهت به یې کم وي۔

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

ویکره له أن یؤذن في مسجدین لأنه إذا صلی في المسجد الأول یکون متنفلا بالأذان في المسجد الثاني والتنفل بالأذان غیر مشروع، ولأن الأذان للمکتوبة وهو في المسجد الثاني یصلي النافلة، فلا ینبغي أن یدعو الناس إلی المکتوبة وهو لا یساعدهم فیها . (شامی: ۱/ ۴۰۰- وکذا بدائع الصنائع: ۱/ ۱۵۱، سعید کمپنی).

په طحطاوي کي راځي:

(قوله أن یؤذن فی مسجدین) الکراهیة مقیدة بما إذا صلی فی الأول کما فی البحر. (حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار: ۱/ ۱۸۹- وکذا فی تقریرات الرافعی: ۱/ ۴۷، سعید).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

یو مؤذن چي په دوو مسجدونو کي اذان کوي دا مکروه دئ لهذا د دوهم کس انتظام دي وکړل سي۔

ویکره أن یؤذن فی مسجدین لأنه یکون داعیًا إلی مالا یفعل. (شرح منیة المصلی: ۱/ ۳۶۱- فتاوی رحیمیه: ۳/ ۱۵).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

که یو مؤذن په دوو مسجدونو کې اذان کوي، نو دا ښه نه دئ مکروه دئ. (فتاوى دار العلوم دیوبند:۲/ ۹۹). والله ﷻ اعلم.

په لمانځه کې د تاخير له امله لمونځ ځنډول

سوال: ایا د اذان تعلق له اول وخت سره دئ چې څنګه چې وخت سي اذان دي وکړي یا له لمانځه سره دئ چې که لمونځ وځنډیدئ نو اذان دي هم وځنډ وي؟

الجواب: د اذان تعلق له لمانځه سره دئ نه د وخت سره لهذا که لمونځ وروسته اداء کیږي، نو اذان دي هم وځنډ وي او که لمونځ وختي اداء کوي، نو اذان دي هم په تلوار وکړي، خو د وخت د داخليدو وروسته دي اذان وکړي مخکې نه کیږي.

وګورئ په بخاري شريف کې راځي:

عن أبي ذر رضي الله عنه قال: كنا مع النبي ﷺ في سفر فأراد المؤذن أن يؤذن فقال له: أبرد ثم أراد أن يؤذن فقال له: أبرد ثم أراد أن يؤذن فقال له: أبرد، وفي رواية البخاري أيضا: أو قال: انتظر انتظر حتى ساوى الظل التلول فقال النبي ﷺ إن شدة الحر من فيح جهنم. (بخارى شريف:۱/ ۸۶، فيصل).

په فتاوى شامي کې راځي:

وحكم الأذان كالصلاة تعجيلا وتأخيرا. (شامى:۱/ ۳۸٤، سعيد).

په درمختار کې راځي:

وهو سنة للرجال في مكان عال مؤكدة هي كالواجب في لحوق الإثم للفرائض الخمس في وقتها ولو قضاء لأنه سنة للصلاة حتى يبرد به لا للوقت. (الدرالمختار:۱/ ۳۸٤ – وكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:۹٤، قديمى). والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿ صلوا كما رأيتموني أصلي ﴾. (رواه البخاری).

اول .... فصل

په بیان کي د لمانځه د شرائطو، ارکانو او واجباتو

که پر نجاست جامه وغوړ وي نو د لمانځه حکم څنګه دئ؟

سوال: که پر نجاست جامه وغوړ وي نو لمانځه حکم څنګه دئ؟

الجواب: که نجاست لوند وي او جامه دومره پنډه وي چي دوه لايه کېداى سي همدارنګه د نجاست لوند والى لوړ طرف ته نه راځي، نو لمونځ به يې له کراهت سره درست وي او که نه، نه به وي او که نجاست وچ وي، نو جامه بايد داسي وي چي نجاست ونه ليدل سي، نو لمونځ به درست وي که نه، نه به وي.

په حاشيه الطحطاوي کي راځي:

(قوله فألقى عليها البدًا) المراد أنه ألقى عليها ذا جرم غليظ يصلح للشق نصفين كحجر ولبن وخشب كما في البدائع، والخانية، ومنية المصلي، وقيد النجاسة بالرطبة لأنها إن كانت يابسة جازت على كل حال لأنها لا تلتزق بالثوب الملقى عليها بعد كونه يصلح ساترًا كذا في الخانية، وفي القهستاني: ينبغي أن تكون الصلاة أي على الملقى على النجاسة الرطبة تكره ككراهتها على نحو الإسطبل كما في الخانية. (حاشيه الطحطاوى على مراقى الفلاح:صـ ۲۰۸، قديمى).

په فتاوى هنديه کي راځي:

ولو كانت النجاسة رطبةً فألقى عليها ثوبًا وصلى إن كان ثوبًا يمكن أن يجعل من عرضه ثوبًا كالنهالي يجوز عند محمد وإن كان لا يمكن لا يجوز إن كانت يابسةً جازت إذا كان يصلح ساترًا .كذا في الخلاصة . (الفتاوى الهندية:١/ ٦٢ – وكذا فى البحر الرائق:١/ ٢٦٨، الماجدية كوئتة). والله ﷻ اعلم.

كه پر مصلي ناپاكه كوچنى كښېني نو د لمانځه حكم

سوال: له ناپاكه كوچنى پر لمونځ كونكى كښېنى نو لمونځ يې كيږي او كه نه؟

الجواب: لمونځ يې وسو .

وګورئ په البحر الرائق كي راځي:

فلو جلس الصبي المتنجس الثوب والبدن في حجر المصلي وهو يستمسك أو الحمام المتنجس على رأسه جازت صلاته ؛ لأنه الذي يستعمله فلم يكن حامل النجاسة. (البحر الرائق:١/ ٢٢٨، باب الانجاس، كوئتة).

په بل ځای كي يې وګورئ:

وفي الظهيرية الصبي إذا كان ثوبه نجسًا أو هو نجسفجلس على حجر المصلي وهو يستمسك أو الحمام النجس إذا وقع على رأس المصلي وهو يصلي كذلك جازت الصلاة وكذلك الجنب أو المحدث إذا حمله المصلي لأن الذي على المصلي مستعملله فلم يصر المصلي حاملًا للنجاسة . (البحر الرائق:١/ ٢٦٧، باب شروط الصلوة، كوئتة).

په عالمكيري كي راځي:

إذا وضع في حجر المصلي الصبي الغير المستمك وعليه نجاسةمانعةإن لم يمكث قدر ما أمكنه اداء ركن لا تفسد صلاته وإن مكث تفسد بخلاف ما لو استمسك وإن طال مكثه وكذا

الحمامة المتنجسة إذا جلست عليه . هكذا في الخلاصة وفتح القدير .(الفتاوى الهندية:۱/ ۶۳).

والله ﷻ اعلم.

که په لمانځه کې د پښو یا ځنګنو او یا د سجدې ځای ناپاک وي نو د لمانځه حکم یې

سوال: که په لمانځه کې د پښو یا ځنګنو یا سجدې ځای ناپاک وي نو لمونځ یې کیږي او که نه، او که پر هغه کومه باریکه او یا پنډه جامه وغوړوي نو حکم به یې څه وي؟

الجواب: که د پښو او یا سجدې ځای ناپاک وي نو لمونځ به درست نه وي او داصح قول مطابق که د ځنګنو په ځای کې نجاست وي نو هم یې لمونځ درست نه دئ، بیا که نجاست لوند وي او جامه دومره پنډه وي چې دوه لا یه کېدای سي، همدارنګه د نجاست لوندوالی لوړ طرفته نه ښکاره کېدئ نو لمونځ سره له کراهته درست دئ، او که نه وي نه دئ درست او که نجاست وچ وي، نو جامه بایډ داسي وي چې نجاست ونه لیدل سي، نو به لمونځ درست وي کنه نه به وي.

په مراقي الفلاح کي لیکي:

أنه يشترط طهارة موضع القدمين فتبطل الصلاة بنجس مانع تحت أحدهما أو بجمعه فيهما تقديرًا في الأصح ..... منها طهارة موضع اليدين والركبتين على الصحيح لافتراض السجود على سبعة أعظم واختاره الفقيه أبو الليث وأنكر ما قيل من عدم افتراض طهارة موضعها ولأن رواية جواز الصلاة مع نجاسة الكفين والركبتين شاذة منها طهارة موضع الجبهة على الأصح من الروايتين عن أبي حنيفة رحمه الله وهو قولهم رحمهم الله ليتحقق السجود عليها. (مراقي الفلاح: ص ۸۰، باب شروط الصلاة وار كانها، مكة المكرمة – وهكذا في الشامي:۱/ ۴۰۴، سعيد، والفتاوى الهندية:۱/ ۶۱).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولو كانت النجاسة رطبةً فألقى عليها ثوبًا وصلى إن كان ثوبًا يمكن أن يجعل من عرضه ثوبّان كالنهالي يجوز عند محمد رحمه الله وإن كان لا يمكن لا يجوز إن كانت يابسةً جازت إذا كان يصلح ساترًا .كذا في الخلاصة . (الفتاوى الهندية:۱/ ۶۲، كذا فى البحر الرائق:۱/ ۲۶۸، كوئتة —وكذا فى حاشية على مراقى الفلاح:ص ۲۰۸، قديمى). والله ﷻ اعلم.

د ګرېوان څخه د ستر ليدلو په صورت کي د لمانځه حکم

سوال: که چا په لمانځه کي د ګرېوان څخه خپل ستر وليدئ نو لمونځ يې وسو او که نه؟

الجواب: په دغه مسئله کي د فقهاوو دوه قوله دي د ځينو فقهاوو په اند لمونځ فاسديږي د ځينو په اند به فاسد نه وي خو مکروه تحريمي به وي خو په احتياط به د عمل کولو سره لمونځ فاسد ګڼل کيږي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

ثم لم يذكر في ظاهر الرواية أن القميص الواحد إذا كان محلول الجيب والزر هل تجوز الصلاة فيه ذكر ابن شجاع فيمن صلى مخلول الإزار وليس عليه إزارأنه إن كان بحيث لو نظر رأى عورة نفسه من زيقه لم تجز صلاته وإن كان بحيث لو نظر لم ير عورته جازت. وروي عن محمد رحمه الله في غير رواية الأصول إن كان بحال لو نظر إليه غيره يقع بصره على عورته من غير تكلف فسدت صلاته وإن كان بحال لو نظر إليه غيره لا يقع بصره على عورته إلا بتكلف فصلاته تامةفكأنه شرط ستر العورة في حق غيره لا في حق نفسه ، وعن داود الطائي أنه قال : إن كان الرجل خفيف اللحية لم يجز ؛ لأنه يقع بصره على عورته إذا نظر من غير تكلف

فيكون مكشوف العورة. في حق نفسه وستر العورة عن نفسه وعن غيره شرط الجواز ، وإن كان كث اللحية جاز ؛ لأنه لا يقع بصره على عورته إلا بتكلف فلا يكون مكشوف العورة . (بدائع الصنائع:۱/ ۲۱۹، سعيد).

په حاشية الطحطاوي کي راځي:

(قوله ولايضر نظرها من جيبه) لأنه يحل له مسها والنظر إليها ولكنه خلاف الأدب كما فى النهر واختار البرهان الحلبى أن تلك الصلاة مكروهة وإن لم تفسد ومقابل الصحيح ما عن بعض المشايخ من اشتراط ستر عوره عن نفسه وفرع عليه أنها لو كانت لحيته كثيفة وستر بها زيقه صحت وإلا فلا. (حاشية الطحطاوى على الدرالمختار:۱/ ۱٤۱ –وكذا فى الشامي:۱/ ٤۱۰، سعيد، وكذا فى الجوهرة النيرة:۱/ ٥٤ –وكذا فى درر الحكام فى شرح غرر الحكام:۱/ ٥۹ – وكذا فى تبيين الحقائق:۱/ ۹٥).

په فتح باب العنايه کي راځي:

وفى الخلاصة: لوصلى فى قميص واحد محلول الجيب: إن كان بحال يقع بصره على عورته لاتجوز صلاته وكذا لوكان بحال يقع بصر غيره عليه من غير تكلف، كذا ذكره هشام عن محمد رحمه الله وعن أبى حنيفة رحمه الله و أبى يوسف رحمه الله: ان عورة الشخص ليست بعورة فى حقه. قلت: وهذا ضعيف جدًا للإجماع على بطلان من صلى صلاة فى بيت وحده أو فى ظلمة من غير ستر عورة إذا لم يكن من عذر. (فتح باب العناية:۱/ ۲۰٥). والله تعالیٰ اعلم.

که ستر ښکاره سي نو د لمانځه حکم

سوال: په لمانځه کي د ستر له څومره برخي ښکاره کېدو څخه لمونځ فاسدیږي؟

الجواب: که په دغه پوهیدئ چې ستر مو ښکاره کیږي خو د غفلت له امله یې اهتمام ونه کړ او د اندام څلورمه یې ښکاره سوه نو لمونځ یې نه کیږي که څه هم د لږ وخت له پاره وي او که په غیر اختیاري توګه ښکاره سو نو که د یوه رکن یعنی درې ځله سبحان ربی الاعلی په اندازه یې یو اندام ښکاره وو نو لمونځ یې نه کیږي او که له دې څخه لږ اندازه وي او یا یې وخت لږ وه نو لمونځ یې کیږي، نو د اندام څلورمه برخه معتبره ده او که یو اندام څو ځایه ښکاره وي او د ټولو اندازه په مجموعي توګه د اندام څلورمه وي، نو مفسد دئ او که ډېر اندامونه ښکاره وي، نو به د ټولو مجموعه په دغو اندامونو کې د کوچنی اندام د څلورمي په اندازه وه نو مفسد دئ.

په درمختار کې راځي:

(ويمنع) حتى انعقادها (كشف ربع عضو) قدر اداء ركن بلا صنعه (من عورة غليظة أو خفيفة) على المعتمد .... وتجمع بالأجزاء لو في عضو واحد وإلا فبالقدر فإن بلغ ربع أدناها كأذن منع . وفي الشامي: (قوله ويمنع) .... أي صحة الصلاة حتى انعقادها والحاصل انه يمنع الصلاة في الابتداء ويرفعها في البقاء. (قوله قدر اداء ركن) أي بسنته منية، قال شارحها: وذلك قدر ثلاث تسبيحات .... واعتبر محمد رحمه الله أداء الركن حقيقة والأول المختار للاحتياط كما في شرح المنية واحترز عما إذا انكشف ربع عضو أقل من قدر اداء ركن فلا يفسد اتفاقًا لأن الانكشاف الكثير من الزمان القليل عفو كالانكشاف القليل في الزمن الكثير وعما إذا أدى مع الانكشاف ركنا فإنها تفسد اتفاقًا ..... (الدرالمختار مع الشامي: ١/ ٤٠٨، سعيد – وكذا في بدائع الصنائع: ١/ ١١٧، سعيد).

په تبیین الحقائق کې راځي:

وإن انكشفت العورة من مواضع متفرقة تجمع لأن محمدًا رحمه الله ذكر في الزيادات: امرأة صلت وانكشف شيء من شعرها وشيء من ظهرها وشيء من فرجها وشيء من فخذها ولو

جمع بلغ ربع أدنى عضو منها منع جواز الصلاة ..... قال الراجي عفو ربه ينبغي أن يعتبر بالأجزاء لأن الاعتبار بالأدنى يؤدي إلى أن القليل يمنع وإن لم يبلغ ربع المنكشف..... (تبيين الحقائق:١/ ٩٧- وكذا في البحر الرائق:١/ ٢٧١، كوئتة). والله ﷻ اعلم.

كه د مسجد د قبلې لوري لس درجې كوږ وي نو په هغه كې د لمانځه حكم

سوال: كه ديوه مسجد د قبلې لوري (١٠) درجې كوږ وي نو په هغه كې به لمونځ صحيح وي او كه نه؟

الجواب: كه مسجد له مكې مكرمې څخه دباندې وي نو په هغه كې لمونځ درست دئ ځكه تر پنځه څلويښت درجو پورې ګنجائش سته.

وګورئ په شامي كې راځي:

ولو أنه انتقل إلى جهة يمينه أو شماله بفراسخ كثيرة وفرضنا خطاً ماراً على الكعبة من المشرق إلى المغرب وكان الخط الخارج من جبين المصلي يصل على استقامة إلى هذا الخط المار على الكعبة فإنه بهذا الانتقال لا تزول المقابلة بالكلية، لأن وجه الإنسان مقوس، فمهما تأخر يمينًا أو يسارًا عن عين الكعبة يبقى شيء من جوانب وجهه مقابلًا لها، ولا شك أن هذا عند زيادة البعد، أما عند القرب فلا يعتبر كما مر، ...... والحاصل أن المراد بالتيامن والتياسر الانتقال عن عين الكعبة إلى جهة اليمين أو اليسار لا الانحراف، لكن وقع في كلامهم ما يدل على أن الانحراف لا يضر، ففي القهستاني: ولا بأس بالانحراف انحرافا لا تزول به المقابلة بالكلية، بأن يبقى شيء من سطح الوجه مسامتا للكعبة .... وفي منية المصلي عن أمالي الفتاوى: حد القبلة في بلادنا يعني سمرقند: ما بين المغربين مغرب الشتاء ومغرب الصيف، فإنه صلى إلى جهة خرجت من المغربين فسدت صلاته........ فعلم أن الانحراف

اليسير لا يضر، وهو الذي يبقى معه الوجه أو شيء من جوانبه مسامتًا لعين الكعبة أو لهوائها، بأن يخرج الخط من الوجه أو من بعض جوانبه ويمر على الكعبة أو هوائها مستقيمًا، ولا يلزم أن يكون الخط الخارج على استقامة خارجا من جهة المصلى بل منها أو من جوانبها كما دل عليه قول الدرر من جبين المصلي، فإن الجبين طرف الجبهة وهما جبينان، وعلى ما قررناه يحمل ما في الفتح والبحر عن الفتاوى من أن الانحراف المفسد أن يجاوز المشارق إلى المغارب، فهذا غاية ما ظهر لي في هذا المحل . والله تعالى أعلم. (شامی:۱/ ۴۲۹، باب شروط الصلوة، مبحث في استقبال القبلة، سعيد کمپنی).

حضرت مفتي محمد شفيع رحمه الله ليکي:

د دې مسئلې په هکله د احنافو مختار مذهب دا دئ چې کوم څوک چې د کعبې شريفې په وړاندې وي د هغه له پاره عين کعبې ته مخامخ کېدل فرض دي او چې څوک غائب وي د هغه پر ذمه د کعبې لورې ته مخ ګرځول فرض دي، نه عين کعبې ته بيا د قبلې د جهت معنی دا ده چې يو خط چې پر کعبه تېر سي جنوب او شمال ته ورسيږي او د لمونځ کونکی د تندي له منځ څخه يو مستقيم خط ووزي او له دغه لومړنی خط سره دا ډول تقاطع وکړي چې د دغه تقاطع پر موقع دوې قايمې زاويې جوړې کړي هغه قبله برابره ده او که لمونځ کونکی دومره کوږ سوی وي چې د ده د تندي له منځ څخه وتونکی خط تقاطع وکړي او قائمه زاويه پيدا نه کړي بلکې حاده يا منفرجه پيدا کړي خو د تندي له منځ پر ته که له اطرافو څخه له يوه طرفه وتونکی خط قائمه زاويه پيدا کړي، نو دغه انحراف قليل دئ او له دې سره لمونځ صحيح کيږي او که د تندي له هيڅ لورې څخه داسې خط ونه وزي چې پر ذکر سوي خط قائمه زاويه پيدا کړي نو دغه انحراف کثير دئ چې له دې سره لمونځ نه کيږي او د هيئت او رياضی علماوو د انحراف قليل او کثير تعيين دا ډول کړی دئ چې که پنځلس درجې کوږوالی وي نو لږ او که له دې څخه زيات وي نو کثير او کثير د لمانځه مفسد دئ. (فتاوی دار العلوم ديوبند، امداد المفتين، صحه اوله او دوهمه:ص:۷۷)

په احسن الفتاوی کي راځي:

له بیت الله څخه تر پنځه څلوېښتو درجو پوري انحراف مفسد نه دئ که له دې څخه زیات وي مفسد دئ. (احسن الفتاوی: ۲/ ۳۱۳، باب استقبل القبلة - وکفایت المفتی: ۳/ ۱۷۵). والله ﷻ اعلم.

په ریل ګاډي کي د لمانځه کولو په وخت کي قبلې ته د مخامخ کېدو او ولاړې حکم

سوال: په ریل ګاډي کي د لمانځه په وخت کي د ولاړې او قبلې ته د مخامخ کېدو حکم څه دئ؟

الجواب: که په ریل ګاډي کي د لمانځه کولو په وخت کي درېدل له مشقت څخه خالي نه وي او له ریل ګاډي څخه یې دباندي کول هم ممکن نه وي نو بیا یې په ناستی کولو کي هم ګنجائش سته او که نه زیات رش وي او نه هم زیات تکلیف وي، نو ولاړه ضروري ده او قبلې ته مخامخ کېدل خو په هر حال کي ضروري دي هم په پیل کي او هم په منځ کي هر ډول چي ریل ګاډي وګرځیږي، همدارنګه به لمونځ کونکی هم ګرځي، البته که دومره رش وي چي د رکوع او سجدې حرکت هم ممکن نه وي او پر دباندي اداء کېدو یې هم قدرت نه وي، نو د استقبال قبلې او ولاړې پرته به هم لمونځ درست وي.

په مراقي الفلاح کي راځي:

والواجب فيها وهي جارية قاعدًا بلا عذر به وهو يقدر على الخرج منها صحيحة عند الإمام الأعظم (أبي حنيفة) رحمه الله لكن بالركوع والسجود لا بالإيماء لأن الغالب فيها دوران الرأس، والغالب كالمتحقق لكن القيام فيها والخروج أفضل إن أمكنه لأنه أبعد عن شبهة الخلاف وأسكن لقلبه وقالا أي أبو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله لا تصح جالسًا إلا من عذر وهو الأظهر لحديث ابن عمر رضي الله عنه أن النبي ﷺ سئل عن الصلاة في السفينة فقال: صل فيها قائمًا إلا أن تكون تخاف الغرق. وقال: مثله لجعفر رحمه الله ولأن القيام ركن فلا يترك إلا بعذر محقق لا موهوم ودليل الإمام أقوى فيتبع .... (والعذر كدوران الرأس وعدم القدرة على الخروج ولا تجوز فيها بالإيماء لمن يقدر على الركوع والسجود ..... يتوجه المصلي

فيها إلى القبلة لقدرته على فرض الاستقبال عند افتتاح الصلاة وكلما استدارت السفينة عنها أي القبلة يتوجه المصلي إليها في خلال الصلاة.

وفی حاشية الطحطاوی:

فصل في الصلاة في السفينة: أن السفينة لها شبه بالدابة لأنها مركب البحر والدابة مركب البر ولذا سقط القيام كما هو في صلاة الدابة، ولها شبه بالأرض من حيث الجلوس عليها بقرار، ولذا لزم الركوع، والسجود، والإستقبال .... (قوله: ولو ترك الاستقبال لا تجزيه ..) هذا ما أورده الشيخ أكمل الدين بقوله: وينبغي أن يتوجه إلى القبلة كيفما دارت السفينة سواء كان عند الإفتتاح الصلاة، أو في خلال الصلاة لأن التوجه فرض عند القدرة، وهذا قادر. كذا في الشرح قال بعض الحذاق: المتبادر أن لزوم التوجه منوط بالقدرة عليه كما يشير إليه كلام المضمرات، والاسبيجابي إذ الاستقبال قد يسقط للعذر، ولو عند الإمكان كما في الخائف من عدوه عدم الإمكان أولى، والعلامة الأكمل لم يطلق لزوم الإستقبال، بل قيد بالقدرة، وعند عدم القدرة على الشيء كيف يتحقق لزومه، وإلى ما ذكرنا يشير كلام الدرر حيث قال: لأنه يمكنه الإستقبال من غير مشقة إذ مفهومه أنه عند عدم الإمكان، وعند المشقة لا يلزمه الاستقبال ومفاهيم الكتب حجة كما لا يخفى ...... (حاشية الطحطاوی مع المراقی:ص ۴۰۸ – ۴۱۰، فصل فی الصلاة فی السفينة، قديمی – وكذا فی الشامی:۲/ ۱۰۱، مطلب فی الصلاة فی السفينة، سعيد – وكذا فی المبسوط للامام السرخی:۲/ ۲، ادارة القرآن).

یہ فتاوی دار العلوم کی رائے ہے:

البته که هجوم دومره زیات وي چي د رکوع او سجدې حرکت ممکن نه وي او له ریل ګاډي څخه دباندې پر لمانځه کولو قدرت نه وي، نو بیله ولاړې او قبلې ته مخامخ کېدو دي لمونځ وکړي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۲/ ۱٤٦، فتاوی حقانیه:۳/ ۷۸). والله ﷻ اعلم.

د آس په ګاډي کې د لمانځه د اداء کولو په وخت کې قبلې ته د مخامخ کېدو او ولاړې حکم

سوال: که څوک د آس په ګاډي کې لمونځ کوي نو د هغې د رفتار په حالت کې لمونځ کولای سي او که راکښته کېدل ضروري دي او په ریل ګاډي کې د لمانځه د اداء کولو حکم څه دئ؟

الجواب: په ریل ګاډي کې او د آس په ګاډي کې لمونځ کول درست دي او که قبلې ته پر مخامخ کېدو او ولاړې قدرت ولري، نو دواړه ضروري دي که یې پرېږدي لمونځ یې نه کیږي.

په مراقي الفلاح کي راځي:

وقالا أي أبو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله لا تصح جالسًا إلا من عذر وهو الأظهر لحديث ابن عمر رضي الله عنه أن النبي ﷺ سئل عن الصلاة في السفينة فقال: صل فيها قائمًا إلا أن تكون تخاف الغرق وقال مثله لجعفر رحمه الله ولأن القيام ركن فلا يترك إلا بعذر محقق لا موهوم ...... و إذا كانت سائرة يتوجه المصلي فيها إلى القبلة لقدرته على فرض الاستقبال عند افتتاح الصلاة وكلما استدارت السفينة عنها أي القبلة يتوجه المصلي باستدارتها إليها أي القبلة في خلال الصلاة . (مراقی الفلاح علی نور الإیضاح: ۱۵۸، فصل فی الصلاة فی السفینة، مكة المكرمة).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

د ریل ګاډي کیفیت داسي دئ چي په هغه کي استقبال قبله کېدای سي او که په منځ کي انحراف راسي نو قبلې ته برابر والی هم کېدای سي څکه نو په ریل ګاډي کي د فرضي لمنځونو د پیل په وخت کي او هم د لمانځه په دوران کي قبلې ته مخامخ کېدل ضروري دي او که یې لمونځ د قبلې

لوري ته شروع کړ په منځ کي د ریل ګاډي رخ بدل سو نو دی دي هم د قبلې لوري ته وګرځي او د دې مثال د فقهي هغه جزئیه ده چي د کښتۍ اړوند فقهاوو لیکي ده:

والمربوطة بلجة البحر إن كان الريح يحركها شديدًا فكالسائرة وإلا فكالواقفة ويلزم استقبال القبلة عند الافتتاح وكلما دارت. (جديد فقهي مسائل: ۱/ ۱۲۷، نعيميه ديوبند).

په نظام الفتاوی کي راځي:

په ریل ګاډي کي هم د لمانځه کولو حکم دئ، البته که یې دا یقین وي چي د لمانځه وخت به پاته وي او په فلاني ځای کي دومره دریږي چي زه لمونځ وکړم نو تر هغه وخته دي یې وځنډوي او که شرعي مسافر وي نو لږ تر لږه فرض او وتر دي اداء کړي. (نظام الفتاوی: ۱/ ٦۷).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د اوبس په ګاډي کي فرض لمونځ هم روا دئ مګر قبلې ته مخامخ کېدل او ولاړه شرط دئ په ریل ګاډي او بس کي دي په ولاړي د قبلې لوري ته مخ کړي او لمونځ دي وکړئ. (احسن الفتاوی: ٤/ ۸۸، باب صلاة المسافر). والله تعالى اعلم.

په بس کي د لمانځه د کولو حکم

سوال: که بس چلونکی په لاره کي بس نه دروي نو په بس کي به په ناستي لمونځ کوي او که به لمونځ قضاء کړي؟

الجواب: په بس کي لمونځ کول درست دي او قبلې ته مخامخ کېدل او ولاړه ضروري ده که ممکن نه وي، نو لمونځ دي په ناستي وکړي په رکوع او سجده سره او که نه په اشاره دي اداء کړي او وروسته دي را وګرځوي.

وګورئ په مراقي الفلاح کي راځي:

وقالا أي أبو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله لا تصح جالسًا إلا من عذر وهو الأظهر لحديث ابن عمر رضي الله عنه أن النبي ﷺ سئل عن الصلاة في السفينة فقال: صل فيها قائمًا إلا أن

تکون تخاف الغرق وقال مثله لجعفر رحمہ اللہ ولأن القيام ركن فلا يترك إلا بعذر محقق لا موهوم ...... و إذا كانت سائرة يتوجه المصلي فيها إلى القبلة لقدرته على فرض الاستقبال عند افتتاح الصلاة وكلما استدارت السفينة عنها أي القبلة يتوجه المصلي باستدارتها إليها اي القبلة في خلال الصلاة . (مراقی الفلاح علی نور الإيضاح: ۱۵۸، فصل فی الصلاة فی اسفينة، مكة المكرمة- وفتح القدير: ۱/ ۲۷۰، دار الفكر- وشامی: ۲/ ٤۰، سعيد كمپنی – والبحر الرائق: ۲/ ٦٤).

په جديد فقهي مسائل كي راځي:

د بسونو جوړښت داسي دئ چي كه بس د قبلې لوري ته نه ځي نو د قبلې استقبال پكښي كېداى نه سي په داسي صورت كي كه بس ولاړ وي نو بايد را كښته سي او لمونځ اداء كړي او كه يې چلونكى پر درېدو قدرت ونه لري، نو د استقبال پرته هم لمونځ پكښي اداء كېداى سي. (جديد فقهى مسائل: ۱/ ۱۲۸).

په احسن الفتاوى كي راځي:

په زيل گاډي او بس كي دي په ولاړي د قبلې لوري ته لمونځ وكړي او كه استقبال قبله او ولاړه كېداى نه سي، نو په اشاره دي لمونځ وكړي او بيا دي يې راوگرځوي. (احسن الفتاوى: ٤/ ۸۸، او فتاوى محموديه: ۵/ ۵۲٤).

په البحرالرائق كي راځي:

أن العذر إن كان من قبل الله تعالى لا تجب الإعادة وإن كان من قبل العبد وجبت الإعادة .

(البحر الرائق: ۱/ ۱٤۲، كوئتة).

په شرح منية كي راځي:

والمقيد إذا صلى قاعدًا لعدم قدرته على القيام بسبب القيد يعيد إذا زال ذلك السبب. (شرح منية المصلى: ۲۷٦؛ سهيل). والله تعالىٰ اعلم.

په هوایي طیاره کي د لمانځه کولو په وخت کي قبلې ته د مخامخ کېدو او ولاړې حکم

سوال: په طیاره کي د لمانځه داداء کولو په وخت کي قبلې ته د مخامخ کېدو او ولاړې حکم څه دئ؟

الجواب: په هوایي طیاره کي د لمانځه داداء په وخت کي د قبلې استقبال او ولاړه ضروري ده البته که ځای نه وي د کوم عارض له مخي په ولاړه لمونځ ګران وي نو په ناستي دي په رکوع او سجده سره لمونځ وکړي، البته چي په سیټ کي ناست وي لمونځ کول درست نه دي، اکثره علماوو لیکلي دي چي په دغه صورت کي یې راګرځول احتیاط دئ.

په نظام الفتاوی کي راځي:

د شریعت اصل منشاء دا ده چي د سجدې کولو له پاره کوم داسي شی وي چي تندي وربانديوډربږي لکه څنګه چي په کښتۍ کي د لمانځه اداء کول درست دي حال دا چي د کښتۍ او د مځکي ترمنځ داوبو زیاته فاصله موجوده ده حاصل دا چي د مځکي په شان په طیاره کي هم د لمانځه اداء کول درست دي او د راګرځولو ضرورت یې نه سته لکه څنګه چي شیخ عبد الرحمن جرزي طیاري ته داوبو د کښتۍ حکم ورکړی دئ. موصوف فرمایي: ((ومثل السفینة القطر البخاریة والطائرات الجویة ونحوها))(الفقه علی المذهب الاربعة:۱/ ۲۰٦، نظام الفتاوی:۱/ ٦۹، کتاب الصلاة).

په مراقي الفلاح کي راځي:

والواجب فیها وهي جاریة قاعدًا بلا عذر به وهو یقدر علی الخرج منها صحیحة عند الإمام الأعظم (أبي حنیفة) رحمه الله لکن بالرکوع والسجود لا بالإیماء لأن الغالب في القیام دوران الرأس والغالب کالمتحقق لکن القیام فیها والخروج أفضل إن أمکنه لأنه أبعد عن شبهة الخلاف وأسکن لقلبه وقالا أي أبو یوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله لا تصح جالسًا إلا من عذر وهو الأظهر لحدیث ابن عمر رضي الله عنه أن النبي ﷺ سئل عن الصلاة في السفینة فقال: صل فیها قائمًا إلا أن تکون تخاف الغرق. وقال مثله لجعفر رضي الله عنه ولأن القیام رکن فلا یترك إلا

بعذر محقق لا موهوم ودليل الإمام أقوى فيتبع ...... (والعذر كدوران الرأس وعدم القدرة على الخروج ولا تجوز فيها بالإيماء لمن يقدر على الركوع والسجود)...... يتوجه المصلي فيها إلى القبلة لقدرته على فرض الاستقبال عند افتتاح الصلاة وكلما استدارت السفينة عنها أي القبلة يتوجه المصلي إليها في خلال الصلاة.

وفي حاشية الطحطاوی:

فصل في الصلاة في السفينة: أن السفينة لها شبه بالدابة لأنها مركب البحر والدابة مركب البر ولذا سقط القيام كما هو في صلاة الدابة، ولها شبه بالأرض من حيث الجلوس عليها بقرار، ولذا لزم الركوع، والسجود، والإستقبال .... (قوله: ولو ترك الاستقبال لا تجزيه ...) هذا ما أورده الشيخ أكمل الدين بقوله: وينبغي أن يتوجه إلى القبلة كيفما دارت السفينة سواء كان عند الإفتتاح الصلاة، أو في خلال الصلاة لأن التوجه فرض عند القدرة، وهذا قادر. كذا في الشرح قال بعض الحذاق: المتبادر أن لزوم التوجه منوط بالقدرة عليه كما يشير إليه كلام المضمرات، والاسبيجابي إذ الاستقبال قد يسقط للعذر، ولو عند الإمكان كما في الخائف من عدوه عدم الإمكان أولى، والعلامة الأكمل لم يطلق لزوم الإستقبال، بل قيد بالقدرة، وعند عدم القدرة على الشيء كيف يتحقق لزومه، وإلى ما ذكرنا يشير كلام الدرر حيث قال: لأنه يمكنه الإستقبال من غير مشقة إذ مفهومه أنه عند عدم الإمكان، وعند المشقة لا يلزمه الاستقبال ومفاهيم الكتب حجة كما لا يخفى ...... (حاشية الطحطاوی مع المراقی:ص ٤٠٨ – ٤١٠، فصل فی الصلاة فی السفينة، قديمی – وكذا فی الشامی:٢/ ١٠١، مطلب فی الصلاة فی السفينة، سعيد – وكذا فی المبسوط للامام السرخی:٢/ ٢، ادارة القرآن).

په احسن الفتاوی کي راځي:
د طياري حکم د کښتۍ په شان دئ يعني د عذر له امله لمونځ پکښې روا دئ. (احسن الفتاوی: ٤/ ٩٠).

په فتاوی محموديه کي راځي:
د ولاړي او د قبلې د استقبال د قدرت لرلو سره سره له دغو دواړو څخه ديوه په پرېښودلو سره لمونځ نه کيږي که په سفر کي وي او که پر کور وي په ريل کي وي او که په جهاز کي وي د ټولو حکم همدغه دئ. (فتاوی محموديه: ٧/ ٥٣٢، باب صلاة المسافر، جامعه فاروقيه).

همدارنګه ذکر سوي دي:
د مجبوري په حالت کي دي په اشاره سره لمونځ وکړي بيا چي کله منزل ته ورسيږي بيا دي را وګرځوي ځکه دلته خنډ د بنده ګانو له لوري دئ. (فتاوی محموديه: ٧/ ٣٢ باب صلاة المسافر، جامعه فاروقيه – واحسن الفتاوی: ٤/ ٨٨).

په نظام الفتاوی کي راځي:
د ټول بيان خلاصه دا ده چي په طياره کي لمونځ اداء کيږي که يې په جماعت سره اداء کولای سي خو ډېره ښه دي او که نه وي يوازي دي يې اداء کړي که د حرکت يا د کوم بل لامل په سبب ولاړه ګرانه وه نو په ناستي دي په رکوع او سجده سره اداء کړي او د قبلې لوری دي په قبله نما سره معلوم کړي که هغه نه وي فکر دي ووهي کوم لوری چي قبله وګڼي هغه ته دي مخ واړوي غرض دا چي څنګه کار چي د ريل ګاډي په روان حالت کي کوي هلته دي هم همداسي وکړي او لمونځ دي نه قضاء کوي. (نظام الفتاوی: ص ٤٨٠). والله ﷻ اعلم.

که يې د تکبير تحريمي وروسته نيت بدل سي نو د لمانځه حکم

سوال: يو چا د فرض لمانځه له پاره الله اکبر وواية له هغه وروسته يې د سنتو نيت وکړ نو دوهم ځل تکبير ويل ضروري دئ او که نه؟

الجواب: لومړنی تکبير کافي دئ د دوهم تکبير ويلو ضرورت نه سته، خو داسي کول مکروه دي ځکه چي د فرضو څخه د وتلو چي کومه طريقه مشروع ده د هغې پرېښودل لازميږي.

وگورئ په عالمګیري کي راځي:

(الفصل الأول في فرائض الصلاة) وهي ست (منها التحريمة) وهي شرط عندنا حتى أن من يحرم للفرائض كان له أن يؤدي التطوع هكذا في الهداية، ولكن يكره لترك التحلل عن الفرض بالوجه المشروع، وأما بناء الفرض على تحريمة فرض آخر فلا يجوز إجماعًا، وكذا بناء الفرض على تحريمة النفل كذا في السراج الوهاج. (الفتاوى الهندية: ١ / ٦٨، الباب الرابع في صفة الصلاة). والله تعالى اعلم.

د رکعتونو د تعداد د نیت حکم

سوال: که یې د دوو رکعتونو پر ځای د څلورو رکعتونو نیت وکړ او یوازي دوه رکعته یې اداء کړئ، نو لمونځ یې وسو او که نه؟

الجواب: که یې دوه رکعته د څلورو په نیت وکړل نو هم یې لمونځ صحیح کیږي ځکه د رکعتونو د تعداد نیت شرط نه دئ.

وگورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

ولایشترط نیة عدد الرکعات هکذا فی شرح الوقایة. والله اعلم. (الفتاوی الهندیة: ١ / ٦٦ – وکذا فی الشامی: ١ / ٣٩٠، سعید). والله تعالی اعلم.

په فارسي د تکبیر تحریمي د ویلو څخه د لمانځه حکم

سوال: که یې تکبیر تحریمه په فارسي ژبه ولوسته نو د لمانځه حکم څه دئ؟

الجواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله د مذهب مطابق که یې په فارسي تکبیر تحریمه ولوسته لمونځ یې صحیح کیږي، خو د صاحبینو په اند یې لمونځ درست نه دئ که څه هم د امام صاحب رحمه الله د مذهب موافق یې لمونځ درست دئ بیا هم له دې امله چي خلاف سنت دئ کوم څوک چي پر عربي ژبه قدرت لري د هغه له پاره په فارسي ژبه تکبیر تحریمه ویل مکروه تحریمي دئ.

وگورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو افتتح الصلاة بالفارسية بأن قال : خداى بزرگ تر أو خداى بزرگ - يصير شارعًا عند أبي حنيفة ، وعندهما لا يصير شارعًا إلا إذا كان لا يحسن العربية . (بدائع الصنائع:١/ ١٣١، سعيد كمپنى).

په درمختار كي راځي:

(كما صح لو شرع بغير عربية .... قلت وجعل العيني الشروع كالقراءة لا سلف له فيه) أي لم يقل به أحد قبله، وإنما المنقول أنه رجع إلى قولهما في اشتراط القراءة بالعربية إلا عند العجز، وأما مسئلة الشروع فالمذكور في عامة الكتب حكاية الخلاف فيها بلا ذكر رجوع أصلاً (قوله ولا مسند له يقويه) أي ليس له دليل يقوي مدعاه، لأن الإمام رجع إلى قولهما في اشتراط القراءة بالعربية، لأن المأمور به قراءة القرآن ...... أما الشروع بالفارسية فالدليل فيه للإمام أقوى وهو كون المطلوب في الشروع الذكر والتعظيم، وذلك حاصل بأي لفظ كان، وأي لسان كان نعم لفظ (الله أكبر) واجب للمواظبه عليه ولا فرض . (الدر المختار مع الشامى:١/ ٤٨٤، سعيد).

په فتاوى هنديه كي راځي:

ولو كبر بالفارسية جاز . هكذا في المتون سواء كان يحسن العربية أو لا إلا أنه إذا كان يحسنها يكره وعلى قول أبي يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله لا يجوز إذا كان يحسن العربية هكذا في المحيط . (الفتاوى الهندية:١/ ٦٩، الباب الرابع فى صفة الصلاة).

په حاشيه الطحطاوي كي راځي:

الصحيح أنه يصح الشروع عنده بغير العربية ولو كان قادرًا عليها مع الكراهة التحريمية للقادر لأن الشروع يتعلق بالذكر الخالص وهو يحصل بكل لسان . (حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح، ص ٢٨٠، قديمي).

اوجزء المسالک کي دي:

والثابت بالخبر اللفظ المخصوص فيجب العمل به حتى يكره لمن يحسنة تركه. والله اعلم. (أوجز المسالک:٢/ ٧٦، باب افتتاح الصلاة، دار العلم دمشق). والله ﷻ اعلم.

د تکبير تحريمې په وخت کي لاسونو ته د حرکت ورکولو حکم

سوال: ځينې کسان وايي چي په تکبير تحريمه کي د دنيا د شا لوري ته غورځولو ته اشاره ده، له همدې امله کله چي لاسونه غوړونو ته ورسيږي د شا طرفته دي حرکت ورکول سوي ايا دا خبره درسته ده؟

الجواب: دا چي په تکبير تحريمه کي دنيا د شا لوري ته غورځولو ته اشاره ده دا يوازي يوه لطيفه او نکته ده د دې له امله لاسونو ته د شا پر لوري حرکت ورکول درست نه دي بلکي د سنت څخه خلاف عمل دئ لمونځ بايد د سنت طريقې مطابق اداء سي.

په اوجزء المسالک کي راځي:

ثم اختلف العلماء في حكمة الرفع، فقيل: .... إشارة إلى طرح الدنيا والإقبال بكليته إلى الله تعالى. (أوجز المسالک:٢/ ٨٠، باب افتتاح الصلاة، دار العلم دمشق – هكذا في اماني الاحبار:٣/ ٣ – وكذا في تقرير أبي داؤد:٢/ ٢١٤).

په طحطاوي کي راځي:

فيحسن رفع اليدين للتحريمة حذاء الأذنين للرجل لأن رسول الله ﷺ كان إذا افتتح الصلاة كبر، ثم رفع يديه حتى يحاذي بإبهاميه أذنيه. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٢٥٦، قديمى كتب خانه).

په فتاوی شامي کي راځي:

واعتمد ابن الهمام التوفيق بأنه عند محاذاة اليدين للمنكبين من الرسغ تحصل المحاذاة للاذنين بالإبهامين. وهو صريح رواية أبي داؤد . (شامى:١/ ٤٨٢، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

إذا أراد الدخول في الصلاة كبر ورفع يديه حذاء أذنيه حتى يحاذي بإبهاميه شحمتي أذنيه وبرءوس الأصابع فروع أذنيه . كذا في التبيين، قال الفقيه أبو جعفر: يستقبل ببطون كفيه القبلة وينشر أصابعه ويرفعهما فإذا استقرتا في موضع محاذاة الإبهامين شحمتي الأذنين يكبر قال شمس الأئمة السرخسي: عليه عامة المشايخ .كذا في المحيط . (الفتاوى الهندية:١/ ٧٣). والله ﷻ اعلم.

په قومه او جلسه کي د اعتدال او اطمينان واجبه اندازه

سوال: ځينی کسان په قومه کي اوږده ولاړه د اطمينان او اعتدال مترادف کڼي او هغه واجب بولي ايا دغه صحيح ده؟

الجواب: په قومه کي اوږده ولاړه د اعتدال مترادف ګڼل او هغه واجب بلل درست نه دي ځکه د اعتدال واجب اندازه د يوه تسبيح په اندازه ده چي له هغه څخه اندامونه آرام سي له دې څخه زيات په واجب کي داخل نه دي، البته د اعتدال ښخي پرېښودل د سجده سهوې سبب ګرځي لهذا د واجب اندازي لحاظ ضروري دئ.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

و یجب الاطمئنان وهو التعدیل في الأرکان بتسکین الجوارح في الرکوع والسجود حتی تطمئن مفاصله في الصحیح لأنه شرع لتکمیل الرکن فکان واجبًا کقراءة الفاتحة لار کنًا ولا سنة کما قاله الجرجاني: لیس سنة مؤکدة وادناه مقدار تسبیحة واحدة وقال أبو یوسف رحمه الله هو فرض لقوله ﷺ لمن خفف الصلاة ویقال له المسيء صلاته: صل فإنک لم تصل، وسئل محمد رحمه الله عن ترک الطمانینة فقال: إني أخاف أن لاتجوز، وعن أبی حنیفة رحمه الله فیمن لم یتم رکوع وسجوده ولم یقم صلبه قال: أخشی أن لاتجوز صلاته. ومقتضی الدلیل وجوب الطمانینة فی الأربعة ووجوب نفس الرفع من الرکوع والجلوس بین السجدتین للمواظبة علی ذلک کله ولأمر فی حدیث المسیء صلاته وإلیه ذهب المحقق الکمال ابن الهمام رحمه الله وتبعه تلمیذه ابن أمیر الحاج وقال: إنه الصواب فلیتنبه له. (امداد الفتاح:ص ۲۷۶، فصل فی واجبات الصلاة، بیروت – وهکذا فی مراقی الفلاح:ص ۹۲، مکة المکرمة).

په طحطاوي کي راځي:

وهو التعدیل أي التتمیم والتکمیل وهو في اللغة التسویة قوله: حتی تطمئن مفاصله ویستقر کل عضو في محله بقدر تسبیحة کما في القهستاني هذا قول أبي حنیفة رحمه الله ومحمد رحمه الله علی تخریج الکرخي رحمه الله. (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۲۵۰، فصل فی واجبات الصلاة، قدیمی).

همدا ډول وګورئ: (شامی:۱/ ۴۶۴، سعید – والفتاوی الهندیة:۱/ ۸۱). والله ﷻ اعلم.

دوهم فصل

د لمانځه د سنتونو او د ادبونو بیان

د ولاړي په حالت کي له پښې سره پښه یو ځای کول

سوال: غیر مقلدین او د عربو مشائخ په لمانځه کي پښې ډېري سره لیري ږدي او دوی وایي چي په احادیثو کي دا حکم دئ چي پښې به له پښو سره یو ځای کوي ایا د دوی دغه عمل درست دئ او که زموږ طریقه درسته ده که زموږ طریقه درسته وي، نو دلائل یې څه دي؟

الجواب: غیر مقلدین چي کوم احادیث وړاندي کوي په هغه کي دوه الفاظ راځي:

۱ _ الصاق.

۲ _ الزاق.

د دغو دوو الفاظو دوې معناګاني دي:

۱ _ حقیقي یعنی په مکمله توګه یو ځای کول لکه ((به داء به وسخ به مرض "

۲ _ مجازي یو ځای کول له یو څه فاصلي سره لکه ((مررت بزید)) یعنی زه د زید سره نژدې تېر سوم او س به وګورو چي دلته حقیقي معنی مراد ده او که مجازي له څو دلائلو څخه معلومیږي چي دلته مجازي معنی مراد ده یعنی نژدې دریدل او چي په منځ کي زیاته فاصله نه وي چي په هغه کي دیو چا د دریدو ګنجائش وي او صفونه برابرول.

وګورئ په مشکوة کي راځي:

عن أبی هریرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: " إذا صلی أحدکم فلا یضع نعلیه عن یمینه ولا عن یساره فتکون عن یمین غیره إلا أن لا یکون عن یساره أحدولیضعهما بین رجلیه ".

وفی روایة أو لیصل فیهما. (رواه ابو داؤد وروی ابن ماجة معناه – مشکوة شریف:۱/ ۷۳).

وقال الشیخ ناصر الدین الألبانی عن هذا الحدیث (بإسنادین أحدهما حسن بالروایة الأولی والآخر صحیح بالرویة الأخری کما حققته فی صحیح السنن. ٦٦١، ٦٦٦. (تعلیق الالبانی علی مشکوة:۱/ ۷٦۹).

له دغه حديث څخه ثابتيږي چي د دوو لمونځ کونکو د پښو تر منځ بايد څه فاصله وي ځکه که چيري ((الزاق))پر خپله حقيقي معنى حمل سي نو بيا د ښپليو ايښودل امکان نه لري بيا خو به يې داسي ويلي واى چي راسته او چپه طرفته ښپلى مه ايږدئ ځکه ځاى يې نه وي.

٢ـ عن أبى مسعود الأنصارى رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ يمسح منا كبنا فى الصلاة ويقول استووا ولا تختلفوا فتختلف قلوبكم. (الحديث – رواه مسلم – مشكوة شريف:١/ ٩٨).

٣ـ ان رسول الله ﷺ قال: أقيموا االصوف وحاذوا بين المناكب وسدوا الخلل. (رواه أبو داؤد:١/ ٩٧).

٤ـ عن أبى القاسم الجدنى قال سمعت النعمان بن بشير رضي الله عنه يقول: أقبل رسول الله ﷺ على الناس بوجهه فقال: " أقيموا صفوفكم ". ثلاثًا " والله لتقيمن صفوفكم أو ليخالفن الله بين قلوبكم ". قال: فرأيت الرجل يلزق منكبه بمنكب صاحبه وركبته بركبة صاحبه وكعبه بكعب صاحبه. (رواه أبو داؤد:١/ ٩٧).

له پورتنيو احاديثو څخه معلوميږي چي په لمانځه کي د اوږو او ځنګنو برابرول هم ضروري دي او دا هغه وخت کېداى سي چي ((الزاق))پر خپله مجازي معنى حمل سي که نه د اوږو برابرول مشکل دي خاص بيا هغه وخت چي د مختلف قد او قامت کسان په لمانځه کي ولاړ وي، نو اوږي او ځنګنونه به څنګه سره يو ځاى کوي.

بله خبره دا ده چي په احاديثو کي لکه څنګه چي د اقامت صفوف او اعتدال صفوف بيان سته همدا ډول د بدن د استقامت حکم هم سته او د بدن استقامت يوازي هغه وخت کېداى سي چي کله ((الزاق))پر مجازي معنى حمل سي درېيمه خبره دا ده چي د ((الزاق الكعب بالكعب))حکم يوازي د ولاړي د حالت له پاره دئ او که د رکوع او سجدي له پاره هم دئ که د رکوع او سجدي له پاره هم دئ، نو غير مقلدين په هغه سره ولي عمل نه کوي له دې څخه هم دا خبره روښانه کيږي چي د ((

الزاق))څخه حقیقي معنی مراد نه ده دغور وړ خبره دا ده چي غیر مقلدین چي کله یوازي لمونځ کوي بیا هم پښې ازادي پرېدي حال دا چي د ((الزاق))حکم له جماعت سره خاص دئ او که د منفرد لـه پـاره هم وي بیا دي دوی صحیح مرفوع غیر متعارض حدیث وړاندي کړي، د کلام حاصل دا دئ چي د احنافو په اند د ولاړي په حالت کي به د پښو تر منځ د څلورو ګوتو فاصله موجوده وي.

وګورئ په شامي کي راځي:

وينبغى أن يكون بينهما (أي القدمين) مقدار أربع أصابع اليد لأنه أقرب إلى الخشوع.

(شامی:۱/ ٤٤٤، بحث القيام، سعيد).

او د شوافعو په اند د یوې لویشتی اندازه باید موجوده وي.

الشافية قدروا التفريج بينهما بقدر شبر ...... فيكره أن يقرن بينهما أو يوسع أكثر من ذلک كما يكره تقديم إحدهما على الأخرى. (الفقه على مذاهب الأربعة:۱/ ۲۵۹).

یعنی شوافعو د ولاړي په حالت کي د پښو تر منځ فاصله د یوې لویشې په اندازه ټاکلي ده او د دوی په اند پښې سره یو ځای کول یا له یوې لویشې څخه یې زیاتي خلاصول مکروه دي.

المـالكية قالوا: تفريج القدمين مندوب لاسنة، وقالوا: المندوب هو أن يكون بحالة متوسطة، بحيث لايضمهما ولايو سعهما كثيرًا، حتى يتفاحش عرفًا ووافقهما الحنابلة على هذا التقدير إلا أنه لافرق عند الحنابلة بين تسميته مندوبًا أو سنة. (الفقه على مذاهب الأربعة:۱/ ۲٦۰).

یعنی مالکیه وایي: چي پښې ازادي ایښودل مستحب دي سنت نه دي او مستحب دا دي چي په میانه حالت کي وي نه یې ډېري یو ځای کړي او نه داسي ازادي وي چي په عرف کي بدي وګڼل سي او حنابله په دغه مسئله کي له مالکیه ؤ سره دي له دې څخه معلومیږي چي څلور امامان هم د ((الزاق))مجازي معنی اخلي نه حقیقي معنی د حضرت ابن عمر ﷺ له عمل څخه هم د ((

الزاق))مجازي معنی اخیستل معلومیږي ځکه هغه به دولاړي په حالت کې پښې نه ډیري ازادي ایښودلي نه یه یې ډېري سره یو ځای کولي.

لکه چې حضرت شیخ زکریا رحمه الله لیکي:

وقال المؤفق يكره أن يلصق إحدى قدميه بالأخرى في حال قيامه لما روى الأثرم عن عيينة بن عبد الرحمن قال: كنت مع أبي في المسجد فرأى رجلاً يصلي قد صف بين قدميه والزق أحدهما بالأخرى فقال أبي: لقد أدركت في هذا المسجد ثمانية عشر رجلاً من أصحاب النبي ﷺ ما رأيت أحداً منهم فعل هذا قط وكان ابن عمر رضي الله عنه لايفرج بين قدميه ولايمس أحدهما الأخرى ولكن بين ذلك لايقارب ولايباعد. (حاشية لامع الدراري:۱/ ۲۸۰، سعيد).

حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي رحمه الله فرمايي:

ولايخفى أن في إلزاق الأقدام بالأقدام مع إلزاق المناكب بالمناكب والركب بالركب مشقة عظيمة لاسيما مع إبقاءها كذلك إلى آخر الصلاة كما هو مشاهد، والحرج مدفوع بالنص، فالمراد منه جعل بعضها في محازاة بعض .... قال الحافظ في الفتح تحت قول البخاري: باب إلزاق المنكب بالمنكب، والقدم بالقدم في الصف (المراد بذلك المبالغة في تعديل الصف وسدخلل). (۲/ ۱۷٦) وفي عون المعبود في شرح حديث ابن عمر رضي الله عنه مانصه: قوله: (وحاذوا بالمناكب) أي اجعلوا بعضها حذاء بعض بحيث يكون منكب كل واحد من المصلين موازياً لمنكب الآخر ومسامتاً له فتكون المناكب والأعناق والأقدام على سمت واحد. (۱/ ۲۵۱) قال الشيخ: ولو حمل الإلزاق على الحقيقة، فالمراد منه إحداثه وقت الإقامة تسوية الصف، فإن إحداث الإلزاق بين تلك الأعضاء طريق تحصيل هذه

التسوية ولا دلالة فى الحديث على إبقاءه فى الصلاة بعد الشروع فيها ...... ومن ادعى ذلک فليأت بحجة عليه. (اعلاء السنن:٤/ ٣٦٠، باب سنية تسوية الصف ورصها، ادارة القرآن).

د حضرت انس ﷛ قول هم پر دغه شاهد دئ چي دا کار په شروع کي وو وروسته ختم سو. وګورئ بخاري شريف کي راځي:

عن أنس ﷛، عن النبي ﷺ قال : أقيموا صفوفكم، فإني أراكم من وراء ظهري، وكان أحدنا يلزق منكبه بمنكب صاحبه وقدمه بقدمه. (رواه البخارى:١/ ١٠٠).

حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي ﷫، د حضرت انس ﷛ د قول مطلب بيانوي او ليکي، وګورئ په اعلاء السنن کي راځي:

قلت: وقول أنس ﷛: (كان أحدنا) قوله: (وقدرأيت أحدنا) يفيد أن الفعل المذكور كان فى زمن النبى ﷺ ولم يبق بعده كما صرح به قوله فى رواية معمر: (ولو فعلت ذلک بأحدهم اليوم لنفر كأنه بغل شموس) فلو كان ذلک سنة مقصودة من سنن الصلاة لم يتركه الصحابة ولم يتنفر منه أحد ...... فالصحيح ماقلنا: إن ذلک كان للمبالغة فى تسوية الصف حين الإقامة لابعدها فى داخل الصلاة. (اعلاء السنن:٤/ ٣٦٠، ١٣٢٥، باب سنية تسوية الصف ورصها، ادارة القرآن).

له دې څخه معلومه سوه چي پيل کي به صحابه وو د صف دبرابرېدلو په نيت پښې يو ځای ايښودلي خو کوم مقصود سنت نه وو او وروسته دا طريقه ختمه سو. والله ﷻ اعلم.

د لمانځه د شروع کولو څخه وړاندي په دعاء التوجه کي د ((وانا من المسلمين)) ويل

سوال: که څوک د لمانځه د شروع کولو څخه مخکي ((انی وجهت ...)) وايي په هغه کي به ((وانا اول المسلمين)) وايي کوم چي په ايات کي راغلی دي او که به ((وانا من المسلمين)) وايي؟

الجواب: باید ((وانا من المسلمین))ووایي، البته که د تلاوت په نیت ((وانا اول المسلمین))ووایي نو د صحیح قول مطابق به درست وي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

ثم اعلم ، أنه يقول في دعاء التوجه : " وأنا من المسلمين " ، ولو قال " وأنا أول المسلمين " اختلف المشايخ في فساد صلاته والأصح عدم الفساد وينبغي أن لا يكون فيه خلافلما ثبت في صحيح مسلم من الروايتين بكل منهما وتعليل الفساد بأنه كذبمردودبأنه إنما يكون كذبًا إذا كان مخبرًا عن نفسه لا تاليًا وإذا كان مخبرًا فالفساد عند الكل.(البحر الرائق:۱/ ۳۱۰، کوئتة).

په شرح منیة المصلی کي راځي:

ثم إذا قرأ وجهت وجهي يقول فيه " وأنا من المسلمين " ولايقول " وأنا أول المسلمين" تحرزًا عن الكذب ولوقاله قيل تفسد صلاته وقيل له، وهو الأصح لأنه تالٍ وحاكٍ لامخبر هكذا قالوا، فعلى هذا لوقصد به الإخبار تفسد صلاته قطعًا . (شرح منية المصلی:ص ۳۰۳- وکذا فی ردالمحتار:۱/ ٤۸۸، سعید – وکذا فی بدائع الصنائع:۱/ ۲۰۲، سعید- وشرح العنایة:۱/ ۲۸۸). والله ﷻ اعلم.

د نارینه وو له پاره تر نامه لاندي او د ښځو له پاره پر سینه د لاس نیولو ثبوت

سوال: د نارینه وو له پاره تر نامه لاندي او د ښځو له پاره پر سینه لاس نیول چیري ثابت دي؟

الجواب: د ښځو له پاره پر سینه لاس نیول ځکه افضل دي چي په دغه طریقه یې ستر ښه راځي او دا خبره اتفاقي ده او د نارینه وو له پاره د مختلفو روایاتو له امله تر نامه لاندي لاس نیول افضل دي.

وګورئ په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

عن عقلمة بن وائل بن حجر عن أبيه قال: رأيت رسول الله ﷺ: يضع يمينه على شماله في الصلاة تحت السرة. وفي رواية عن أبي معشر، عن إبراهيم، قال: يضع يمينه على شماله في الصلاة تحت السرة. وفي رواية عن الحجاج بن حسان، قال: سمعت أبا مجلز _ أو سألته _ قال: قلت: كيف أصنع؟ قال: يضع باطن كف يمينه على ظاهر كف شماله، ويجعلها أسفل من السرة. وفي رواية عن علي رضي الله عنه، قال: من سنة الصلاة وضع الأيدي على الأيدي تحت السرر. (مصنف ابن أبی شیبة:۱/ ۳۹۱، کتاب الصلاة وضع اليمين على الشمال، ادارة القرآن کراتشی)

په درمختار کي راځي:

وضع الرجل يمينه على يساره تحت سرته هو المختار، وتضع المرأة والخنثى الكف على الكف تحت ثديها. (قوله تحت ثديها) كذا في بعض نسخ المنية وفي بعضها على ثديها قال في الحلية وكان الأول أن يقول على صدرها. (الدر المختار مع درالمحتار:۱/ ۴۸۷، فصل فی بیان تألیف الصلاة، سعید).

په مراقي الفلاح کي راځي:

ويسن وضع المرأة يديها على صدرها من غير تحليق لأنه أسترلها. (مراقی الفلاح:ص ۹۵، فصل فی بیان سننها، مکة المکرمة – وکذا فی السعایة:۲/ ۱۵۶ – وامداد الفتاح:ص ۲۸۳، بیروت – والبحر الرائق:۱/ ۳۰۳)، والله تعالی اعلم.

د ثناء اړوند څو مسئلې

سوال: ثناء ويل څه حکم لري؟ او هغه څوک چې وروسته شريک سي هغه به يې کله وايي که چا په سهوه سره ثناء پرېښوده نو سجده سهوه به واجب وي او که نه؟ او که يې په قصده پرېښوده څه حکم يې دئ؟

الجواب: ثناء ويل سنت دي منفرد او امام به په هر حال کي ثناء وايي که په جهري لمانځه کي امام قرائت شروع کړ نو څوک چې وروسته ورسره شامل سي هغه دي ثناء نه وايي، همدارنګه د اصح قول مطابق د سري لمانځه حکم هم همدغه دئ. يو ضعيف روايت دا هم دئ چې په سري لمانځه کي دي وروسته شريک سوی کس ثناء وايي مسبوق چې کله خپل پاته سوی لمونځ پوره کوي، نو ثناء دي ووايي او که يې په هېره پرېږدي نو څه باک نه لري او سجده سهو هم واجب نه ده، البته په قصد يې پرېښودل ډېر بد دي د ملامتيا مستحق دئ او که يې عادت جوړ کړ نو ګنهګار به وي او که چيري سنت سپک وګڼي او هغه پرېږدي، نو د کفر ېېره ورباندي سته.

په ترمذي شريف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت: كان النبي ﷺ: إذا افتتح الصلاة قال: سبحانك اللّٰهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك. (رواه الترمذي:١/ ٥٧؛ باب مايقول عند افتتاح الصلاة، فيصل).

په مراقي الفلاح کي راځي:

و يسن الثناء لما روينا ولقوله ﷺ: إذا قمتم إلى الصلاة فارفعوا أيديكم و لا تخالف آذانكم ثم قولوا: سبحانك اللّٰهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك. (مراقی الفلاح:ص ٩٥، مكة المكرمة).

په حاشية الطحطاوي کي راځي:

(مستفتحا وهو أن يقول : سبحانك اللّهم ...... ويستفتح كل مصل سواء المقتدي وغيره ما لم يبدأ الإمام بالقراءة، ولو سرية على المعتمد وإن أدركه راكعاً تحرى إن أكثر رأيه أنه إن أتى به أدركه فی شیء منه أتى به وإلا لا، نهر. (حاشية الطحطاوی علی المراقی:ص ۲۸۱، قدیمی کتب خانه).

په حاشية الطحطاوی علی الدر المختار کي راځي:

(قوله إلا إذا شرح الإمام) أفاد بالا ستثناء أنه يأتي به الإمام والمنفرد والمقتدی قبل شروع الإمام فی القراءة (قوله سواء كان إمامة يجهر) لما كان قضبة المتن جواز الثناء فی المخافتة وإن بدأ الإمام بالقراءة وكان ذلک ضعيف حول الشارح عبارة المصنف إلى القول الصحيح حبلی (قوله وقيل فی المخافتة يثنی) وجه ضعف هذا القيل أنه إذا امتنع على المأموم قراءة القرآن التی هی فرض فی الصلاة عند قراءة الإمام القرآن سرًا أو جهراً فلان يمتنع عليه الثناء وهو نفل أولى بجامع التخليط والتغليط فی كل حلبی. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۲۱۸).

په خلاصة الفتاوی کي راځي:

المسبوق إذا أدرک الإمام فی القراءة فی الركعة التی يجهر فيها لايأتی بالثناء فإذا قام إلی قضاء ماسبق به يأتی بالثناء. (خلاصة الفتاوی:۱/ ۱۶۵، مسائل المسبوق، رشیدیه).

په درمختار کي راځي:

ترک السنة لايوجب فسادًا ولاسهوًا بل إساءةً لو عامدًا غير مستخف ...... وفی الشامی: (لا يوجب فسادًا ولا سهوًا) أي بخلاف ترك الفرض فإنه يوجب الفساد وترك الواجب فإنه يوجب سجود السهو (قوله لو عامدًا غير مستخف) فلو غير عامد فلا إساءة أيضًا بل تندب

إعادة الصلاة ...... ولو مستخفًا كفر، لما في النهر عن البزازية: لو لم ير السنة حقًا كفر لأ

استخفاف. (الدرالمختار مع الشامی:۱/ ٤٧٤). والله ﷻ اعلم.

د انتقال تکبیرات پر ټول انتقال د راګرځولو حکم

سوال: رکوع او سجدې ته د تلو په وخت کي او یا د راپورته کېدو په وخت کي چي کوم تکبیر

ویل کېږي هغه باید ژر ختم سي او که ټول انتقال ته شامل سي؟

الجواب: د انتقال تکبیرات ټول انتقال ته شاملول مستحب دي او له دې څخه خلاف کول خلاف

مستحب دي.

وګورئ علامه عینی رحمة الله علیه فرمايي:

قوله: ثم يكبر حين يركع ...... دليل على مقارنة التكبير لهذه الحركات وبسطه عليها فيبدأ

بالتكبير حين يشرع في الانتقال إلى الركوع ويمده حتى يصل إلى حد الراكعين ثم يشرع في

تسبيح الركوع ويبدأ بالتكبير حين يشرع في الهوى إلى السجود ويمده حتى يضع جبهته على

الأرض ثم يشرع في تسبيح السجود وفيه يبدأ في قوله سمع الله لمن حمده حتى يشرع في الرفع

من الركوع ويمده حتى ينتصب قائما . (عمدة القاری:٤/ ٥٤٢، دار الحديث ملتان).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وإذا فرغ من القراءة ينحط للركوع ويكبر مع الانحطاط لما روي عن علي رضي الله عنه وابن

مسعود رضي الله عنه وأبي موسى الأشعري رضي الله عنه وغيرهم أن النبي ﷺ كان يكبر عند كل خفض

ورفع.وروي أنه كان يكبر وهو يهوي والواو للحال ولأن الذكر سنة في كل ركن ليكون معظمًا

لله تعالى فيما هو من أركان الصلاة بالذكر كما هو معظمله بالفعل فيزداد معنى التعظيم

والانتقال من ركن إلى ركن بمعنى الركن لكونه وسيلةً إليه فكان الذكر فيه مسنونًا . (بدائع الصنائع: ۱/ ۲۰۷؛ سعيد).

په مرقات کي راځي:

قوله ثم يكبر حين يرفع رأسه أى من السجود قال ابن الهمام وفيه ترجيح مقارنة الانتقال بالتكبير كما هو فى الجامع الصغير. (مرقات المفاتيح: ۲/ ۲۶۰- وكذ فى الفتاوى الهندية: ۱/ ۷٤).

والله ﷻ اعلم.

د ترک رفع اليدين صحيح حديث

السؤال: ما هو تحقيق الحديث الذى ورد فيه " أن النبى ﷺ كان لايرفع يديه إذا أراد أن يركع أو يرفع رأسه من الركوع"؟

الجواب: أما الحديث: قال أبو عوانة يعقوب بن إسحاق: حدثنا عبد الله بن حدثنا عبد الله ـن أيوب المحرمي وسعدان بن نصر وشعيب بن عمرو في آخرين قالوا: حدثنا سفيان بن عيينة عن الزهري عن سالم عن أبيه قال: رأيت رسول الله ﷺ إذا افتتح الصلاة رفع يديه حتى يحاذي بهما وقال بعضهم: حذو منكبيه وإذا أرادأن يركع وبعد ما يرفع رأسه من الركوع لا يرفعهما وقال بعضهم: ولا يرفع بين السجدتين والمعنى واحد، حدثنا الربيع بن سليمان عن الشافعي عن ابن عيينة بنحوه: ولا يفعل ذلك بين السجدتين حدثني أبو داود قال: حدثنا علي قال حدثنا سفيان حدثنا الزهري أخبرني سالم عن أبيه قال رأيت رسول الله ﷺ بمثله، الصائغ بمكة قال حدثنا الحميدى قال حدثنا سفيان عن الزهرى قال أخبرنى سالم عن أبيه قال رأيت

رسول الله ﷺ مثله . (مسند أبي عوانة:۲/ ۹۹، باب رفع اليدين، المعارف العثمانية - ومستخرجه:۳/ ٤٤٦/ ۱۲۵۱).

الكلام على الحديث من حيث السند:

عبد الله بن أيوب: صدوق، مات سنة خمس وستين ومئتين. (سير أعلام النبلاء :۱۲/ ۳۵۹).

وله متابعان هنا أحدهما سعدان بن نصر وهو صدوق كما في لسان الميزان:۱/ ٤٨٠، وصرح عبد الله بن أيوب بالتحديث هنا. والباقي من رواة البخاري ومسلم فالحديث صحيح الإسناد.

وفي نسخة قديمة للحميدي:۲/ ۲۷۷/ ٦١٤، (دار الكتب العلمية) حدثنا الحميدي قال ثنا الزهري قال أخبرني سالم بن عبد الله عن أبيه قال رأيت رسول الله ﷺ إذا افتتح الصلاة رفع يديه حذو منكبيه وإذا أراد أن يركع وبعد ما يرفع رأسه من الركوع فلا يرفع ولا بين السجدتين، وهذا فيه سقط سفيان بين الحميدي والزهري، وهو مذكور في مسند أبي عوانة: حديث قال: حدثنا الصائغ بمكة قال حدثنا الحميدي قال حدثنا سفيان عن الزهري قال أخبرني سالم عن أبيه قال رأيت رسول الله ﷺ مثله. (مسند أبي عوانة:۲/ ۹۹، باب رفع اليدين، المعارف العثمانية - ومستخرجه:۳/ ٤٤٦/ ۱۲۵۱).

والتطبيق بين الرفع وتركه هو أن النبي كان يرفع أو لائم تركه كما كان أولا بين السجدتين ثم ترك وكما كان في كل خفض ورفع ثم ترك وبهذا أخذ مالك رحمه الله وأبو حنيفة رحمه الله وغيرهم كما هو مفصل في موضعه. والله تعالى اعلم.

د نارینه او ښځي د رکوع تر منځ فرق

سوال: په رکوع کي لاسونه پر ځنگنو نیولو کي د نارینه او ښځي تر منځ فرق سته او که نه؟

الجواب: په داوړو کي فرق دئ او هغه دا دئ چي نارینه به گوتي خلاصوي او پر لاسونو به زور کوي او ځنگنونه به ټینگ نیسي او ښځي به گوتی یو ځای کوي لاسونه به پر زنگنو نیسي او پر لاسونو به زور نه کوي.

په مراقي الفلاح کي راځي:

و یسن أخذ رکبتیه بیدیه حال الرکوع و یسن تفریج أصابعه لقوله ﷺ لأنس رضي الله عنه إذا رکعت فضع کفیك علی رکبتیك وفرج بین أصابعك وارفع یدیك عن جنبیك ...... والمرأة لا تفرجها لأن مبنی حالها علی الستر. وفی الطحطاوی: ولاتفرج أصابعها فی الرکوع، وتنحنی فی الرکوع قلیلًا بحیث تبلغ حد الرکوع، فلاتزید علی ذلک لأنه أسترلها وتلزم مرفقیها بجنبیها فیه. (مراقی الفلاح مع حاشیة الطحطاوی:ص ٢٦٦، ٢٥٩، قدیمی).

په فتاوی شامي کي راځي:

قال في المعراج وفي المجتبی: هذا کله في حق الرجل، أما المرأة فتنحني في الرکوع یسیرًا ولا تفرج ولکن تضم وتضع یدیها علی رکبتیها وضعًا وتحني رکبتیها ولا تجافي عضدیها لأن ذلك أستر لها. (شامی:١/ ٤٩٤، فصل اذا اراد الشروع فی الصلاة کبر، سعید کمپنی).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

د نارینه او ښځي په رکوع کي په څو خبرو کي فرق سته:

۱_ نارینه به په رکوع کي دومره کښته کیږي چي سر، ملا او ورونونه یې برابر سي او ښځه به لږ ټیټیږي یعنی یوازي دومره چي لاس یې تر زنگنونو پوري ورسیږئ ملا به نه سېده کوي.

۲ _ نارينه دي لاس پر زنګنونو کښيږدي او پر لاسونو دي زور وکړي، د زنګانه سترګي دي تينګي ونيسئ او ښځي دي ګوتي يو ځاى کړي لاس دي پر زنګانه کښيږدي پر لاسونو دي زور نه کوي پښي دي د نارينه په شان نه سېده کوي.

۳ _ نارينه دي خپل بازوګان له بغلونو څخه جلا کړي او ازاده رکوع دي وکړي او ښځه دي خپل بازوګان د بغلونو سره يو ځاى کړي او څومره چي کېداى سي په سره ټول حالت کي دي رکوع وکړي.

(فتاوی رحيميه: ٦/ ٤١٠، مسائل شتى). والله ﷻ اعلم.

سجدې ته د تلو په وخت کي پر زنګنو د لاس ايښودلو حکم

سوال: سجدې ته د تلو په وخت کي بايد پر زنګنو لاس کښېښودل سي او که نه؟

الجواب: په څرګنده راته کومه جزئيه پيدا سوي نه ده، البته د امت تعامل سته او په دې کي سهولت هم دئ له دې امله سجدې ته د تلو په وخت کي پر زنګنونو لاسونه ايښودل ښه معلوميږي البته د فقهي په کتابونو کي ذکر سوي دي چي سجدې ته د تلو په حالت کي دي لومړى زنګنونه کښيږدي بيا لاسونه او د استدلال په توګه يې حديث ((النهى عن البروک کبروک الابل)) پيش کړى دئ، دا حديث شريف په ترمذي کي موجود دئ او دا صورت هغه وخت په اسانى سره کېداى سي چي کله لاسونه پر زنګنو کښيږدي.

په فتاوی هنديه کي راځي:

إذا أراد السجود وضع أولًا ما كان أقرب إلى الأرض فيضع ركبتيه أولًا ثم يديه ثم أنفه ثم جبهته . (الفتاوى الهندية: ١/ ٧٥).

همدارنګه وګورئ:

ويكره وضع اليد قبل الركبتين إذا سجد. (الفتاوى الهندية: ١/ ١٠٧، الفصل الثانى فيمايكره فى الصلاة، بلوچستان).

په بهشتی زېور کي راځي:

بیا دي د تکبیر په ویلو سره دواړه لاسونه پر زنګنو کښیږدي او سجدې ته دي ولاړ سي. (بهشتی زیور: یوولسمه برخه: ص: ۸۸٤، د فرض لمانځه ځینې مسائل).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

صراحة مو دغه جزئیه په کوم کتاب کي لیدلي نه ده، معمول دا دئ چي لاسونه پر ورنونو ږدي او د ولاړي څخه سجدې ته ځي لکه څنګه چي د سجدې څخه د راپورته کېدو په وخت کي پر ورنونو لاسونه نیول کیږي او بیا راولاړیږي.

ویمکن أن یشم رائحة الاستدلال من حدیث (استعینوا بالرکب) الجامع الصغیر. (فتاوی محمودیه: ٥/ ٦١٨، نماز کی سنتون کا بیان، جامعه فاروقیه).

د الله اکبر په ویلو سره به دواړه لاسونه پر ځنګنو ږدي او سجدې ته به ځي. (رسول اکرم ﷺ کا طریقه نماز). والله ﷻ اعلم.

سجدې ته د تلو په وخت کي دي لومړی پزه ایږدي او که تندی؟

سوال: سجدې ته د تلو په وخت کي دي لومړی پزه پر مځکه کښیږدي او که تندی؟

الجواب: علماوو د سجدې په کیفیت لیکلي دئ چي کوم اندامونه چي مځکي ته ډېر نژدې وي هغه دي لومړی کښیږدي په دغه لحاظ دي لومړی پزه کښیږدي او بیا تندی او د پورته کېدو په وخت کي دي لومړی تندی پورته کړي او بیا پزه، همدارنګه په حدیث شریف کي هم لومړی پزه ذکر سوې ده او غالباً همدغه طرفته اشاره ده واو که څه هم د ترتیب له پاره نه راځي خو کله د تقدیم له پاره راځي یعنی کوم شی چي وړاندي ذکر سوی وي هغه به استحباباً مخکي وي لکه چي د الله ﷻ فرمان: ﴿إن الصفا والمروة من شعائر الله﴾ ((تقدیم فی الذکر تقدیم فی العمل والبداءة)) کي هم دغه دلالت موجود دئ.

عن أبي حميد الساعدي رضي الله عنه أن النبي ﷺ كان إذا سجد أمكن أنفه وجبهته الأرض...

(رواه الترمذي:۱/ ٦١، باب ماجاء في السجود على الجبهة والأنف —و ابن حبان:٥/ ١٨٩/ ١٨٧١ - والطحطاوي في شرح معاني الآثار:۱/ ۲۵۷، باب وضع اليدين في السجود).

په هدايه کي راځي:

وسجد على أنفه وجبته لأن النبي ﷺ واظب عليه. (هدايه:۱/ ۱۰۸، باب صفة الصلاة).

په فتح القدير کي راځي:

(قوله لأن النبي ﷺ واظب عليه) يفيده ما رواه أبو داود، والنسائي واللفظ لهما والترمذي كما تقدم، وما رواه أبو يعلى والطبراني "كان النبي ﷺ يضع أنفه على الأرض مع جبهته" وما في البخاري من حديث أبي حميد السابق فإن فيه " ثم سجد فأمكن أنفه وجبهته من الأرض". (فتح القدير:۱/ ۳۰۳، دار الفكر).

قال الشيخ محمد عوامة: لم أفر برواية البخاري لكنه في رواية أبي داؤد باب افتتاح الصلاة. (تعليق الشيخ محمد عوامة على نصب الراية:۱/ ۳۸۲، المكتبة المكية).

په شرح عنايه کي راځي:

(وسجد على أنفه وجبهته) تقديم الأنف على الجبهة باعتبار أن الأنف أقرب إلى الأرض فيضعه أولًا . (شرح العناية:۱/ ۳۰۳ على هامش فتح القدير، دار الفكر). والله تعالى اعلم.

د سجدې په حالت کي د ګوتو د ايښودلو کيفيت

سوال: د سجدې په حالت کي بايد ګوتي څنګه کښېښودل سي؟

الجواب: د سجدې په حالت کي بايد ګوتي يو ځای کښېښودل سي.

په صحيح ابن خزيمه کي راځي:

عن علقمة بن وائل عن أبيه : أن النبي ﷺ كان إذا سجد ضم أصابعه. (رواه ابن خزيمة فى صحيحه:۱/ ۳٤۷/ ٦٤۲، باب ضم أصابع اليدين فى السجود، المكتب الإسلامى).

په مراقى الفلاح كي راځي:

(موجهًا أصابع يديه) ويضمها كل الضم لا يندب إلا هنا لأن الرحمة تنزل عليه في السجود وبالضم ينال الأكثر . والله اعلم. (مراقى الفلاح:ص ۱۰۵، مكة المكرمة- وكذا فى الشامى:۱/ ٤۹۸ – والبحر الرائق:۱/ ۳۱۵). والله ﷻ اعلم.

د صف په منځ كي د سجدې په حالت كي د بازوګانو د خلاصولو حكم

سوال: د سجدې په حالت كي د بازوګانو خلاصول سنت دي نو ايا د صف په منځ كي به هم همداسي كوي؟

الجواب: د صف په منځ كي كه ځاى تنګ وي او د تكليف رسولو بيره وي نو بايد بازوګان خلاص ونه ساتل سي او كه د تكليف بيره نه وي او د صف په منځ كي پراخي وي، نو په خلاصولو كي يې څه باك نه سته .

وګورئ په درمختار كي راځي:

(ويظهر عضديه) في غير زحمة (ويباعد بطنه عن فخذيه) ليظهر كل عضو بنفسه، بخلاف الصفوف فإن المقصود اتحادهم حتى كأنهم جسد واحد . وفى الشامى: قوله (في غير زحمة) جعله قيدًا لإظهار العضدين فقط تبعًا للمجتبى، قال: في البحر أخذًا من الحلية وهذا أولى مما في الهداية والكافي والزيلعي من أنه إذا كان في الصف لا يجافي بطنه عن فخذيه لأن الإيذاء لا يحصل من مجرد المحاذاة، وإنما يحصل من إظهار العضدين. (الدر المختار مع الشامى:۱/ ۵۰۳، سعيد).

ستاسو په مسائل او د هغې په حل کې راځي:

په جماعت کې باید ښځکلي ډېرې پراخې نه سي چې له هغه ښځه نورو ته تکلیف وي. (آپ کے مسائل اور ان کا حل: ۲/ ۱۹۶). والله ﷻ اعلم.

د ښځو د سجدې کیفیت

سوال: ښځې باید د سجدې په حالت کې پښې یو ځای کښېږدي او که یې خلاصي کړي او څومره یې ازادي کښېږدي؟

الجواب: فقهاوو چې د ښځو د سجدې کوم کیفیت بیان کړي دئ د هغه تقاضا دا ده چې ښځکلي دې پر مځکه وغوړوي پښې دې پر ګوتو نه دروي بلکې دواړې دې راسته طرفته وباسي او ښه ټیټه سجده دې وکړي.

په درمختار کې راځي:

والمرأة تنخفض فلا تبدي عضديها وتلصق بطنها بفخذيها لأنه أستر. وفي الشامي: وذكر في البحر أنها لاتنصب أصابع القدمين كما ذكره في المجتبى. (الدر المختار مع الشامي: ١/ ٥٠٤، سعيد).

په امداد الفتاح کې راځي:

و يسن انخفاض المرأة ولزقها بطنها بفخذيها، لأنه عورة مستورة كما قدمناه وهذا أسترلها، وفي مراسيل أبي داؤد: أنه ﷺ مر على امرأتين تصليان فقال: إذا سجدتما فضما بعض اللحم إلى بعض فإن المرأة ليست في ذلك كالرجل ....ولا تفتح إبطيها في السجود ......ولاتنصب أصابع القدمين. (امداد الفتاح: ص ٢٩٧ – وكذا في تبيين الحقائق: ١/ ١١٨).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

د بطن د الصاق مسئله د جلسې اړوند نه ده بلکې د سجدې سره تعلق لري یعنی په سجده کې چې پښې ودرېږي په هغه سره الصاق بطن نه راځي بلکې راسته طرفته په ایستلو سره کېږي، نو د ښځې

له پاره په کار ده چي پښې ونه دروي بلکي راسته طرفته يې وباسي چي الصاق بطن راسي.. (فتاوی محموديه:۵/ ۶۲۶، فتاوی حقانيه:۳/ ۹۲). والله ﷻ اعلم.

په ناستي دلمانځه کولو په وخت کي د رکوع او سجدې حکم

سوال: که يې په ناستي رکوع او سجده کول نو پر څه طريقه به يې کوي؟

الجواب: په ناستي دلمانځه کولو په وخت کي د رکوع مکمله طريقه دا ده چي تندی يې د ځنګنو سره برابر سي (حتی يحاذی جبهته رکبتيه) او سجده دي د نورو سجدو په شان وکړي.

وګورئ په هدايه کي ليکي:

ويعتمد بيديه على الأرض لأن وائل بن حجر ﷺ وصف صلاة رسول الله ﷺ فسجد وأدعم على راحتيه ورفع عجيزته......(الهداية:۱/ ۱۰۸، باب صفة الصلاة، شركة علمية).

په البحر الرائق کي راځي:

(قوله: وجافى .بطنه عن فخذيه) أي باعده لحديث مسلم: كان إذا سجد جافى بين يديه حتى لو أن بهيمةً أرادت أن تمر بين يديه مرت ولحديث أبي داود في صفة صلاته عليه الصلاة والسلام: وإذا سجد فرج بين فخذيه غير حامل بطنه على شيء من فخذيه ...... والمجافاة أن يظهر كل عضو بنفسه فلا تعتمد الأعضاء بعضها على بعض ......(البحر الرائق:۱/ ۳۲۰، كوئتة).

په الطحطاوي کي راځي:

وإن ركع جالسًا ينبغى أن يحاذى بجبهته ركبتيه، أبو السعود . (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۲۰۳، سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

(ومنها الركوع) ...... وفي حاشية الفتال عن البرجندي: ولو كان يصلي قاعدًا ينبغي ان يحاذي جبهته قدام ركبتيه ليحصل الركوع. قلت: ولعله محمول على تمام الركوع وإلا فقد علمت حصوله بأصل طأطأة الرأس أي مع انحناء الظهر تأمل. (شامی:۱/ ٤٤٧، باب صفة الصلاة).

په طحطاوی علی مراقی الفلاح کي راځي:

فإن ركع جالسًا ينبغي أن تحاذي جبهته ركبتيه ليحصل الركوع. ولعل مراده إنحناء الظهر عملًا بالحقيقة لا أنه يبالغ فيه حتى يكون قريبًا من السجود. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۲۲۹، قدیمی).

په آپ کی مسائل کي راځي:

په ناستي د لمانځه کولو په وخت کي دي دومره کښته سي چي سرېي د ځنګنو سره برابر سي.

(آپ کی مسائل اور ان کا حل:۲/ ۱۹۵). والله ﷻ اعلم.

په قعده کښ د ناستي طريقه

سوال: د نارينه او ښځي په ناسته کي څه فرق دئ؟

الجواب: د نارينه د ناستي طريقه دا ده چي چپه پښه دي وغوړوي او راسته پښه دي ودروي او د خپلي ولاړي پښې ګوتي دي د قبلې لوري ته کړي، همدارنګه د غوړېدلي پښې ګوتي څومره چي کېداى سي د قبلې لوري ته دي کړي او دواړه لاسونه دي پر ورنونو کښېږدي او ګوتي دي پر خپل اصلي حالت پرېږدي.

وګورئ په مسلم شريف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت: كان رسول الله ﷺ يستفتح الصلاة بالتكبير ...... وكان يقول في كل ركعتين التحية وكان يفرش رجله اليسرى وينصب رجله اليمنى وكان ينهى عن عقبة الشيطان.

(رواه مسلم: ۱/ ۱۹۴، باب مایجمع صفة الصلاة).

په ترمذی شریف کي دي:

عن وائل بن حجر رضي الله عنه قال: قدمت المدينة قلت لأنظرن إلى صلاة رسول الله ﷺ فلما جلس يعني للتشهد افترش رجله اليسرى ووضع يده اليسرى يعني على فخذه اليسرى ونصب رجله اليمنى. (رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح: ۱/ ۶۵، باب كيف الجلوس في التشهد، فيصل).

په بخاري شریف کي د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ:

إنما سنة الصلاة أن تنصب رجلك اليمنى وتثني اليسرى. (رواه البخاری: ۱/ ۶۵، باب سنة الجلوس في التشهد).

په امداد الفتاح کي دي:

ويسن افترش رجله أي: رجل الرجل اليسرى، ونصب اليمنى وتوجه أصابعها نحو القبلة حالة التشهد في كل قعود في فرض ونفل لقول ابن عمر رضي الله عنه "من سنة الصلاة .... وفي حديث عائشة رضي الله عنها كان النبي ﷺ يفترش ..... (امداد الفتاح: ۲۹۹، و كذا في مراقي الفلاح: ص ۲۶۹ – والهداية: ۱/ ۱۱۱، باب صفة الصلاة، مكتبة شركة علمية). والله ﷻ اعلم.

د ښځي د ناستي طریقه

ښځه دي پر چپه ورانه کښېنی دواړي پښې دي راسته لوري ته وباسي په داسي توګه چي راسته ورون يې پر چپه ورانه راسي او راسته پنډۍ يې پر چپه پنډۍ راسي.

په هدایه کي راځي:

وإن كانت امرأة جلست على إليتها اليسرى وأخرجت رجليها من الجانب الأيمن لأنه أستر لها. (هدايه: ۱/ ۱۱۱).

په مراقي الفلاح كي راځي:

(و) يسن (تورك المرأة) بأن تجلس على إليتها وتضع الفخذ على الفخذ وتخرج رجلها من تحت وركها اليمنى لأنه أسترلها. والله اعلم. (مراقی الفلاح: ص ۹۹ – وکذا فی امداد الفتاح: ص ۲۹۹، بیروت). والله تعالیٰ اعلم.

په سجده كي د بجلكو ديو ځاى والى حكم

سوال: د فقهي په رڼا كي دا وښاياست چي ايا په سجده كي دي بجلكي يو ځاى كړل سي او كه نه؟

الجواب: له حنفى فقهاوو څخه يې د متقدمينو په كتابو كي يادونه نه سته البته ځينو متاخرينو فقهاوو يې يادونه كړي ده، د هغه مطلب د بجلكو يو ځاى والى نه دئ بلكي محاذات او برابر والى دئ او په ركوع كي يې هم همدغه معنى مراد ده.

علامه رافعى رحمه الله په التحرير المختار كي فرمايي:

چي شيخ ابو الحسن سندهي په خپل تعليق كي ذكر كوي چي دغه سنت ځينو متاخرينو ذكر كړى دئ او د صاحب مجتبى پيروي يې كړي ده كه نه د متقدمينو په كتابونو كي مثلاً هدايه او د هغې په شروحاتو وغيره كي يې يادونه نه سته ځكه نو د ځينو مشائخو گمان دا دئ چي دا د صاحب مجتبى له اوهامو څخه دي.

وګورئ په التحرير المختار كي راځي:

(قوله الشارح ويسن أن يلصق كعبيه) قال الشيخ أبو الحسن السندى الصغير فى تعليقته على الدر هذه السنة إنما ذكرها من ذكرها من المتأخرين تبعًا للمجتبى وليس لها ذكر فى كتب المتقدمة كا لهداية وشروحها وكان بعض مشايخنا يرى أنها من أوهام صاحب المجتبى ولم ترد فى السنة على ماوقفنا عليه وكأنهم توهموا ذلك مما ورد أن الصحابة كانوا يهتمون بسد الخلل فى الصفوف ...... قلت: ولعل الشيخ أبو الحسن لحظ إلى الآثار

الواردة فی أن التراوح بین القدمین فی الصلاة مطلقًا أفضل من إلصاقهما. (التحریر المختار علی در المحتار: ۱/ ۶۱، سعید کمپنی).

همدارنګه مولانا عبد الحی رحمه الله هم ددې تردید کوي. وګورئ په سعایه کي راځي:

ومنها إلصاق الکعبین ذکره جمع من المتأخرین، وجمهور الفقهاء لم یذکروه ولاأثر له فی الکتب المعتبرة کالهدایة وشروحها النهایة والعنایة والبنایة والکفایة وفتح القدیر وغیرها والکنز وشرحة للعینی وشرح النقایة لإلیاس زاده والبرجندی والشمنی وفتاوی قاضی خان والبزازیة ...... وقال خیر المتأخرین شیخ مشایخنا محمد عابد السندی المدنی فی طوالع الأنوار شرح الدر المختار قول: وإلصاق کعبیه أی حالة الرکوع قال الشیخ الرحمتی: مع بقاء تفریج ما بین القدمین، قلت: لعله أراد من الإلصاق المحاذاة وذلک بأن یحاذی کل من کعبیه لآخر فلا یتقدم أحدهما علی الآخر ...... قلت: لقد دارت هذه المسئلة فی سنة أربع وثمانین بعد الألف والمئتین بین علماء عصرنا فأجاب أکثرهم بأن إلصاق الکعبین فی الرکوع والسجود لیس بمسنون ولاأثر له فی الکتب المعتبرة والقول الفصیل أن یقال إن کان المراد بإلصاق الکعبین أن یلزق المصلی أحد کعبیه بالآخر ولایفرج بینهما کما هو ظاهر عبارة الدر المختار والنهر وغیرهما وسبق إلیه فهم المفتی أبی السعود أیضًا فلیس هو من السنن علی الأصح، کیف وقد ذکر المحققون من الفقهاء أن الأولی للمصلی أن یجعل بین قدمیه نحو أربعة أصابع لم یذکروا أنه یلزقهما فی حالة الرکوع والسجود، وقال العینی فی البنایة نقلًا عن الواقعات ینبغی أن یکون بین قدمی المصلی قدر أربع أصابع الید لأنه أقرب إلی الخشوع..... وإن کان المراد به محاذاة إحدی الکعبین بالآخر کما أبدع العلامة

السندی فهو أمر حق ولا بعد فی حمل الإلصاق علی المحاذاة فإنه جاء استعماله فی القرب.

ویؤید عدم سنیة إلزاق الکعبین بالمعنی الأول أی ترک التفریج بینهما أنه یلزم فیه تحریک إحدی الکعبین إلی الأخری وتحریک عضو من غیر ضرورة لیس بجائز عندهم.

(السعایة:۲/ ۱۸۰، سهیل اکیدیمی). (امداد الاحکام:۱/ ۴۷۷، مکتبه دار العلوم – واحسن الفتاوی:۳/ ۳۷-۴۹، وفتاوی دار العلوم دیوبند:۲/ ۲۰۳). والله ﷻ اعلم.

په سجده کي د پوندو د يو ځای والی په هکله د روايت تحقيق

سوال: په لمانځه کي د پوندو يو ځای کول د سجدې په حالت کي په ځينو احاديثو کي راغلی دي مثلاً صحيح ابن خزيمه، بيهقي، طحاوي او داسي نورو احاديثو کي موجود دي ((فوجد نه ساجدا راصا عقبيه)) د دغه حيثيت څه دئ؟

الجواب: دغه حديث په مختلفو طريقو سره په مختلفو کتابو کي ذکر سوي دي خو دغه الفاظ چي ((فوجدته ساجدا راصا عقبيه)) يوازي يحيى بن ايوب نقل کوي او د نورو ثقاتو مخالفت کوي، نو دغه زياتونه به شاذ وي، د حديث تحقيق وګورئ دغه حديث په لاندي کتابونو کي ذکر سوی دئ:

(۱) الإسناد الأول: ابن خزیمة: (۶۵۴)، ابن حبان: (۱۹۳۳)، شرح معانی الآثار (۱/ ۲۳۴)، الحاکم: (۱/ ۲۲۸)، البیهقی فی الکبیر: (۲/ ۱۱۶)، ابن عبد البر فی التمهید: (۲۳/ ۲۴۸)، وإسناده عند جمیعهم من طریق سعید بن أبی مریم عن یحیی بن أیوب عن عمارة بن غزیة عن أبی النضر عن عروة عن عائشة رضی الله عنها .

سعید بن أبی مریم	متفرد	

یحیی بن أیوب	علل الذهبی أحادیثه. رد أحمد روایته فی الوتر لیس بذلک القوی قال أبو حاتم: لایحتج به قال النسائی: لیس بالقوی وقال الدار قطنی: فی حدیثه اضطراب	المستدرک:۲/ ۲۰۱۱- المستدرک:۳/ ۹۷- الضعفاء للعقیلی:۲۱۱- تنقیح التحقیق:۲/ ۱۹۳ – میزان الاعتدال:٤/ ۳٦۳ –

ولفظه راصًا عقبیه عند الکل، ویحیی بن أیوب لیس بذلک القوی وخالف الأقوی هنا فشذت روایة/

(۲) الإسناد الثانی: رواه مسلم: (۱/ ۳٥۲)، وأحمد: (٦/ ۸٥، ۲۰۱)، و أبو داؤد: (۱/ ٥٤۷)، والنسائی: (۱/ ۱۰۲)، وابن عبد البر: (۲۳/ ۳٤۹) عن:

أبو بکر بن أبی شیبة	ثقة	میزان الإعتدال: ٤٥٤۹-
أبو اسامة	ثقة	لسان المزان
عبید الله بن عمر	حجة من العدول	بیان مشکل الآثار تحفة الاحوذی:۳/ ۲٤۰
محمد بن یحیی بن حبان	ثقة	التاریخ الکبیر-
الأعرج	ثقة	الإکمال-
أبو هریرة رضی الله عنه	الصحابی	

ولفظه عند الکل " فوقعت یدی علی بطن قدمیه".

(۳) الإسناد الثالث: رواه مالک: (۱/ ۲۱٤)، والترمذی: (٥/ ٤٨٩)، والطحاوی: (۳٤۱)، والبغوی: (٥/ ۱٦٦) عن:

یحیی بن سعید الأنصاری محمد بن إبراهیم التیمی عائشة رضی الله عنها	ثقة ثقة ام المؤمنین	ولفظه عند الکل "فوقعت یدی علی قدمیه"

الخلاصة: الحدیث أصله صحیح فی صحیح مسلم: (۱/ ۳٥۲)، وأحمد: (٦/ ٨٥، ۲۰۱)، وأبو داؤد: (۱/ ٥٤٧)، والنسائی: (۱/ ۱۰۲)، وابن عبد البر: (۲۳/ ۳٤۹)، ومالک: (۱/ ۲۱٤)، والترمذی: (٥/ ٤٨٩)، والطحاوی: (۳٤۱)، والبغوی: (٥/ ۱٦٦)، ولیس عندهم رص العقبین، فهذا شاذ کما ذکر الحاکم. (ملخص من رسالة "لاجدید فی أحکام الصلاة". والله تعالی اعلم.

په قومه او جلسه کي د ماثوره اذکارو د ويلو حکم

سوال: په قومه او جلسه کي د ماثوره اذکارو د ويلو حکم څه دئ؟ او که يې څوک ووايي نو سجده سهو به واجب وي او که نه؟

الجواب: په قومه او جلسه کي د اذکارو ويل فقهاوو جائز او يا مستحب ليکلي دي، لهذا بايد ووېل سي او چي کله مستحب وي نو سجده سهو به هم واجب نه وي.

وګورئ په ترمذي شريف کي راځي:

عن علي بن أبى طالب رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ إذا رفع رأسه من الركوع قال: " سمع الله لمن حمده ربنا ولک الحمد ملأ السموت والأرض وملأ مابينهما وملأ ماشئت من شيء بعد". (رواه الترمذى: ١/ ٦١).

وعن ابن عباس رضي الله عنهما أن النبى ﷺ كان يقول بين السجدتين: " اللّٰهم اغفرلى وارحمنى واجبرنى واهدنى وار زقني". (رواه الترمذى: ١/ ٦٣، باب مايقول بين السجدتين).

وقال العلامة الكشميرى رحمه الله فى شرح هذا الحديث: وقال القاضى ثناء الله البانى بتى رحمه الله باستحباب الدعاء خروجًا عن الخلاف ونعم ما قال القاضى المرحوم لاسيما فى هذا العصر فإن تحفظ الجلسة متعذر بدون تعيين الدعاء فيها. (العرف الشذى على السنن الترمذى: ١/ ٧٠).

په فتاوى شامي كي راځي:

أقول بل فيه إشارة إلى أنه غير مكروه إذ لو كان مكروها لنهى عنه كما ينهى عن القراءة في الركوع والسجود وعدم كونه مسنونا لا ينافي الجواز كالتسمية بين الفاتحة والسورة بل ينبغي أن يندب الدعاء بالمغفرة بين السجدتين خروجا من خلاف الإمام أحمد لإبطاله الصلاة بتركه عامدا ولم أر من صرح بذلك عندنا لكن صرحوا باستحباب مراعاة الخلاف والله أعلم. (شامى: ١/ ٥٠٥، سعيد).

همدارنګه په فتاوى شامي كي راځي:

(قوله وما ورد محمول على النفل) ...... وصرح به في الحلية في الوارد في القومة والجلسة وقال: على أنه إن ثبت في المكتوبة فليكن حالة الانفراد، أو الجماعة والمأمومون

محصورون لا يتثقلون بذلك كما نص عليه الشافعية، ولا ضرر في التزامه وإن لم يصرح به مشايخنا فإن القواعد الشرعية لا تنبو عنه كيف والصلاة والتسبيح والتكبير والقراءة كما ثبت في السنة . (شامی:۱/ ٥٠٦، سعید).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په قومه او جلسه کي د ماثوره دعاګانو ويل مستحب دي د فرائضو او نوافلو يې کوم فرق نه سته البته په جماعت کي يې د ضعيفانو د لحاظ له امله بايد ونه ويل سي. (احسن الفتاوی:۳/ ۲۸). والله تعالیٰ اعلم.

د احنافو په مذهب کي په تشهد کي د شهادت په ګوته د اشارې ثبوت

سوال: په التحياته کي د شهادت په ګوته سره د اشارې ثبوت د احنافو په مذهب کي سته؟

الجواب: د محققينو احنافو په اند په تشهد کي د شهادت په ګوته سره اشاره کول مستحب دي امام محمد رحمه الله په موطاء کي د اشارې د روايت د نقل کولو وروسته فرمايي: د حضور ﷺ طريقه موږ اختيار وو او همدغه د امام ابو حنيفه رحمه الله قول دئ.

وګورئ په موطاء امام محمد کي راځي:

كان رسول الله ﷺ إذا جلس في الصلاة وضع كفه اليمنى على فخذه اليمنى وقبض أصابعه كلها وأشار بأصبعه التي تلي الإبهام ووضع كفه اليسرى على فخذه اليسرى قال محمد رحمه الله : وبصنيع رسول الله ﷺ نأخذوهو قول أبي حنيفة رحمه الله. (مؤطا امام محمد:۱/ ۱۰۸/ ۱٤٤، باب العبث بالحصى فی الصلاة، قایمی کتب خانه).

په مراقی الفلاح کي راځي:

و تسن الإشارة في الصحيح لأنه ﷺ رفع أصبعه السبابة وقد أحناها شيئا . (رواه النسائی)

ومن قال: إنه لا يشير أصلًا فهو خلاف الرواية والدراية وتكون بالمسبحة أي السبابة من

اليمنى فقط يشير بها عند انتهائه إلى الشهادة في التشهد ...... يرفعها عند النفي أي نفي الألوهية عما سوى الله تعالى بقوله لا إله ويضعها عند الإثبات أي إثبات الألوهية لله وحده بقوله إلا الله ليكون الرفع إشارة إلى النفي والوضع إلى الإثبات . (مراقی الفلاح:ص ۹۹، فیصل فی سننها، مکة المکرمة).

یہ بدائع الصنائع کی رائے ہے:

وهل يشير بالمسبحة إذا انتهى إلى قوله : " أشهد أن لا إله إلا الله "؟ قال : بعض مشايخنا : لا يشير ؛ لأن فيه ترك سنة اليد وهي الوضع ، وقال بعضهم : يشير فإن محمدًا رحمه الله قال في كتاب " حدثنا عن النبي ﷺ أنه كان يشير بأصبعه فيفعل مثل ما فعل النبي ﷺ ويصنع ما صنعه وهو قول أبي حنيفة رحمه الله، وقولنا. (بدائع الصنائع:۱/ ۲۱۴، سعید).

یہ درمختار کی رائے ہے:

المعتمد ما صححه الشراح ولاسيما المتأخرون كا لكمال والحلبى والبهنسى والباقانى وشيخ الإسلام الجد وغيرهم أنه يشير لفعله ﷺ ونسبوه لحمد رحمه الله والإمام رحمه الله بل فى متن درر البحار وشرحه غرر الأذكار: المفتى به عندنا أنه يشير. وفى الشامى: (قوله ونسبوه لمحمد رحمه الله والإمام رحمه الله) وكذا نقلوه عن أبى يوسف رحمه الله فى الأمالى، فهو منقول عن أئمة الثلاثة...... وفى المحيط أنها سنة، يمكن التوفيق بأنها غير مأكدة ...... وفى القهستانى: وعن أصحابنا جميعًا أنه سنة. (الدر المختار مع الشامی:۱/ ۵۰۸، سعید).

ذكره فى النهاية وغيرها قال نجم الدين الزاهدى: لما اتفقت الروايات عن أصحابنا جميعًا فى كونها سنى وكذا عن الكوفيين والمدنيين وكثرت الأخبارو الآثار وكان العمل بها

أولى. (شرح منية المصلى:ص ۳۲۸، سهيل اكيدمى). د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتح القدير:۱/ ۳۱۳، باب صفة الصلاة دار الفكر- وشرح العناية:۱/ ۳۱۲ - والفتاوى التاتار خانية:۱/ ۵۲۰، كيفية الصلاة ادارة المعارف وتبيين الحقائق.۱/ ۱۲۱، امدادية - وفتاوى محموديه:۵/ ۵۳۵ - وفتاوى دار العلوم ديوبند مكمل ومدلل:۲/ ۱۸۸ - واحسن الفتاوى:۳/ ۳۰). والله ﷻ اعلم.

د اشاره بالسبابه ښه طريقه

سوال: په تشهد كي د اشاره بالسبابه ښه طريقه څه ده؟ او ګوته بايد كوم وخت پورته سي؟

الجواب: د اشاره بالسبابه ښه طريقه دا ده چي د راسته لاس د بټي ګوتي او د منځ له ګوتي څخه دي حلقه جوړه كړي پاتي دوې ګوتي دي بندي كړي او د شهادت ګوته دي پورته كړي او اشاره دي وكړي يعني پر لا اله دي ګوته پورته كړي او پر الا الله دي يې كښيږدي بيا دي يې تر اخيرى ناستي پوري دغه ډول حلقه جوړه كړي.

وګورئ په نسائي شريف كي راځي:

عن مالك وهو ابن نمير الخزاعى ﷺ عن أبيه قال: رأيت رسول الله ﷺ واضعًا يده اليمنى على فخذه اليمنى فى الصلاة ويشير بأصبعه. وفى رواية له: قال حدثنى مالك بن نمير الخزاعى ﷺ من أهل البصرة أن أباه حدثه أنه رأى رسول الله ﷺ قاعدًا فى الصلاة واضعًا ذراعه اليمنى على فخذه اليمنى رافعًا أصبعه السبابة قد أحناها شيئًا وهو يدعو. وفى رواية له: كان إذا جلس فى الصلاة وضع كفه اليمنى على فخذه وقبض يعنى أصابعه كلها وأشار بأصبعه التى تلى الإبهام ووضع كفه اليسرى على فخذه اليسرى. (روى الثلاثة النسائى:۱/ ۱۸۷، باب احناء الاشارة بالسبابة، قديمى كتب خانه).

په بدائع الصنائع كي راځي:

وذكر الفقيه أبو جعفر الهندواني: أنه يعقد الخنصر والبنصر و يحلق الوسطى مع الإبهام ويشير بالسبابة وقال: إن النبى ﷺ هكذا كان يفعل. (بدائع الصنائع:۱/ ۲۱٤، سعيد).

په شرح منية المصلى كي راځي:

المروى عن محمد رحمه الله فى كيفية الإشارة قال: يقبض خنصره والتى تليها ويحلق الوسطى والإبهام ويقيم المسبحة وكذا عن أبى يوسف رحمه الله فى الأمالى وهذا فرع تصحيح الإشارة. (شرح منية المصلى:ص ۳۲۸، سهيل).

په امداد الفتاح كي راځي:

يرفعها عند النفى ويضعها عند الإثبات. (امداد الفتاح: ص ۲۳۲، بيروت).

په مراقى الفلاح كي راځي:

يرفعها عند النفى أى نفى الألوهية عما سوى الله تعالى بقوله: "لا إله" ويضعها عند الإثبات أى إثبات الألوهية لله وحده بقوله: "إلا الله" ليكون الرفع إشارة إلى النفى والوضع إلى الإثبات. (مراقى الفلاح: ص ۹۹، فصل فى سننها، مكة المكرمة). **دزيات تفصل له پاره وګورئ:** (شامى:۱/ ۵۰۸ - وفتاوى محموديه:۵/ ۶۳۵، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

له اشارې څخه وروسته تر اخيره د ګوتي پورته کول

سوال: په تشهد کي د شهادت له ګوتي څخه وروسته بايد ګوته په پوره توګه کښېښودل سي او که به يې تر اخيره پورته کوي؟

الجواب: د محققينو په اند غوره دا ده چي ګوته دي تر اخيره پورته وساتي يعنى پوره دي نه ږدي لږ دي کښته کړئ چي له هغه څخه يې په پورته کېدو تعبير کړى وي او د فقهاوو د دغه قول مطلب هم همدغه دئ، همدارنګه د نسائي شريف له روايت سره برابر هم دي.

وګورئ په نسائي شريف کي راځي:

قال حدثني مالك بن نمير الخزاعي رضي الله عنه من أهل البصرة أن أباه حدثه أنه : رأى رسول الله ﷺ قاعدًا في الصلاة واضعًا ذراعه اليمنى على فخذه اليمنى رافعًا أصبعه السبابة قد أحناها شيئًا وهو يدعو. (رواه النسائي:۱/ ۱۸۷، باب احناء الاشارة بالسبابة، قديمى كتب خانه).

په مراقى الفلاح كي راځي:

يرفعها عند النفي أي نفي الألوهية عما سوى الله تعالى بقوله: "لا إله" ويضعها عند الإثبات أي إثبات الألوهية لله وحده بقوله: " إلا الله" ليكون الرفع إشارة إلى النفي والوضع إلى الإثبات. (مراقى الفلاح: ص.۹۹، فصل في سننها، مكة المكرمة).

په فتاوى رشيديه كي راځي:

په تشهد كي دي د شهادت گوته پورته كړي او تر سلام پوري دي هغه پورته وساتي. (فتاوى رشيديه:ص:۳۳۱).

په احسن الفتاوى كي راځي:

د اشارې څخه وروسته د كيفيت اړوند عبارتونه له فقهاوو څخه ((يضعها))**الفاظ دي له هغه څخه د گوتي پوره كښته كول مراد نه دي بلكي لږ كړول مراد دي.**

صرح به الملا على القارى رحمه الله لرواية أبى داؤد والنسائى رافعًا أصبعه السبابة وقد أحناها شيئًا أي أمالها. (تزيين العبارة بتحسين الإشارة لعلى القارى رحمه الله ص ۸).

په امداد الفتاوى كي د دې اړوند مفصل بحث دئ. (احسن الفتاوى: ۳/ ۳۱). والله سبحانه وتعالى اعلم.

د عذر په وخت كي د چپه لاس په گوته د اشارې كولو حكم

سوال: كه د كوم چا راسته لاس پرې سوى وي نو په تشهد كي دي په چپه لاس اشاره كوي او كه اشاره ورڅخه ساقط ده؟

الجواب: په دې صورت كي اشاره ساقطه ده ځكه په چپه لاس اشاره منع ده.

وګورئ په حاشية الطحطاوي کي راځي:

فرع: لا يشير بغير المسبحة حتى لو كانت مقطوعة أو عليلة لم يشر بغيرها من أصابع اليمنى ولا اليسرى كما في النووي على مسلم. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:۲۶۹، مبحث الإشارة بالسبابة – وشرح النووى على صحيح مسلم:۱/ ۲۱۹، باب صفة الجلوس فى الصلاة– والدر المختار:۱/ ۵۰۹، سعيد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

که د عذر له امله د راسته لاس ګوته نه سي پورته کولای، نو ګوته دي نه پورته کوي د چپه لاس د ګوتی د پورته کېدو حکم راغلی نه دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۲/ ۱۹۲، دار الاشاعت).

په خیر الفتاوی کي راځي:

که د کوم تکلیف له امله د شهادت په ګوته اشاره مشکله وه نو اشاره دي پرېږدي په کومه بله ګوته دي نه کوي، ځکه اشاره په همدغه ګوته مستحب ده. (خیر الفتاوی : ۲۶۰).والله ﷻ اعلم

د رکوع، سجدې او سلام په وخت کي به لمونځ کونکی کوم ځای ته ګوري؟

سوال: د رکوع، سجدې ا سلام په وخت کي به لمونځ کونکی کوم ځای ته ګوري؟

الجواب: د سجدې په حالت کي به پزي ته په رکوع کي به د پښو ښکاره لوري ته او راسته لوري ته د سلام ګرځولو په وخت کي راسته اوږي ته او چپه لوري ته د سلام ګرځولو په وخت کي چپه اوږي ته کتل د لمانځه له اداء بو ښخه دي او د فرائضو د تکمیل له پاره وسیله ده.

په درمختار کي راځي:

ولها اداء ب ...... (نظره إلى موضع سجوده حال قيامه وإلى ظهر قدميه حال ركوعه وإلى أرنبة أنفه حال سجوده وإلى حجره حال قعوده وإلى منكبه الأيمن والأيسر عند التسليمة الأولى والثانية لتحصيل الخشوع. (الدر المختار:۱/ ۴۷۷، سعيد).

په امداد الفتاح کي راځي:

ونظر المصلي إلى موضع سجوده قائمًا ظاهر القدم راكعًا لأنه أدعى إلى الخشوع ونظر إلى أرنبة أنفه ساجدًا لأن نصوب النظر إليها أقرب إلى الخشوع ...... ولئلا ينظر إلى مايشغله عما هو فيه من الشخوع استحضارًا لعظمة مولاه ...... ويكون ملا حظًا قوله ﷺ " اعبد الله كأنك تراه فإن لم تكن تره فإنه يراك "وإلى المنكبين مسلمًا فينظر إلى أيمنه في الأول، وإلى أيسره في الثاني، لأن المقصود الخشوع، وترك التكلف فإذا تركه صار ناظرًا إلى هذه المواضع قصد أو لم يقصد. (امداد الفتاح: ص ۳۰۶، بيروت – وكذا في البحر الرائق: ۱/ ۳۰۴، كوئتة – ومراقي الفلاح: ص ۱۰۲، مكة المكرمة – والطحطاوي: ص ۲۷۷، وبدائع الصنائع: ۱/ ۲۱۵، سعيد – والفتاوى الهندية: ۱/ ۷۲). والله ﷻ اعلم.

د لمانځه ختمه د وتلو سنت طريقه

سوال: د لمانځه ختمه د وتلو سنت طريقه څه ده؟ د سلام په لفظ کي دي وبرکاته هم ووايي او که دي يوازي السلام عليکم ووايي؟ د څلورو مذاهبو په رڼا کي يې جواب وليکې؟

الجواب: د ائمة ثلاثه وو پر دغه اتفاق دئ چي د لمانځه ختمه د وتلو سنت طريقه دا ده چي لومړی دي راسته لوري د السلام عليکم ورحمة الله لفظ ووايي بيا دي چپه لوري ته همدغه الفاظ وايي، نه دي له دغه ختمه کموالی کوي او نه زياتونه، همدغه متواتر عمل دئ. البته د امام مالک رحمه الله په اند يوازي السلام عليکم سنت دي د ورحمة الله زياتونه مسنون نه ده.

۱_ د احنافو مذهب:

وګورئ په مبسوط کي راځي:

(ثم يسلم تسليمتين إحداهما عن يمينه " السلام عليكم ورحمة الله " والأخرى عن يساره مثل ذلك) لقول النبي ﷺ " وتحليلها السلام ". (المبسوط للامام السرخسي: ۱/ ۳۰، مطلب في حكم التسليم، ادارة القرآن).

ویسلم عن یمینه ویقول " السلام علیکم ورحمة الله "ولایقول فی هذا السلام "وبرکاته" کذا ذکر فی المحیط فإن المروی فیه عن ابن مسعود رضي الله عنه أن النبی ﷺ کان یسلم عن یمینه "السلام علیکم ورحمة الله" حتی یری بیاض خذه الأیمن وعن یساره " السلام علیکم ورحمة الله" حتی یری بیاض خده الیسری رواه أصحاب السنن، وقال الترمذی رحمه الله حدیث حسن صحیح، ولایتوهم أن مراده هذا السلام الأول وأنه یقول فی السلام الثانی " وبرکاته " کما یفعله بعض الجهال لأن ذلک خلاف السنة کما فی هذا الحدیث الصحیح وخلاف عمل الأمة. (شرح منیة المصلی:۳۳٦ سهیل – وکذا فی الطحطاوی علی مراقی الفلاح: ص۲۷٤، قدیمی – وفی الفتاوی الهندیة:۱/ ۷٦).

۲_ مالکیه مذهب:

قال العلامة شمس الدین الدسوقی: وظاهر کلام المذهب أنها (ورحمة الله وبرکاته) غیر سنة وإن ثبت بها الحدیث لأنها لم یصحبها عمل أهل المدینة بل ذکر خاتمة المحققین محمد أمین: أن الأولی الاقتصار علی " السلام علیکم " وإن زیادة ورحمة الله وبرکاته خلاف الأولی. (حاشیة الدسوقی:۱/ ۳۷۹، وکذا فی مواهب الجلیل:۲/ ۲۱۹، – وفی شرح مختصر خلیل:۳/ ۳٤٤- وفی المدونة الکبری:۱/ ۲۲٦).

وقال الإمام مالک رحمه الله فی "السلام": یقول " السلام علیکم" بلا " ورحمة الله ".

(الاستذکار لابن عبد البر:٤/ ۲۸۹).

۳_ شافعي مذهب:

وگورئ کتاب الام کي راځي:

(قال الشافعي رحمه الله) : وبهذه الأحاديث كلها نأخذ فنأمر كل مصل أن يسلم تسليمتين إمامًا كان أو مأمومًا أو منفردًا ونأمر المصلي خلف الإمام إذا لم يسلم الإمام تسليمتين ان يسلم هو تسليمتين ويقول في كل واحدة منهما " السلام عليكم ورحمة الله ".

۴_ حنبلي مذهب:

په المغنی کي راځي:

مسئله: قال: (ثم يسلم عن يمينه فيقول: " السلام عليكم ورحمة الله" وعن يساره كذلک لما روى ابن مسعود رضي الله عنه قال: رأيت النبی ...... قال الترمذی رحمه الله حديث ابن مسعود رضي الله عنه حديث حسن صحيح. (المغنی لابن قدامه الحنبلی:۱/ ۵۸۸، وكذا فی الشرح الكبير:۱/ ۵۸۸، دار الكتب العلمية، لبنان). والله تعالیٰ اعلم.

د سجدې له اثارو څخه څه مراد دي؟

سوال: د سجدې له اثارو څخه څه مراد دي؟ د ځينو کسانو پر تندی نښان لګېدلی وي ايا دغه مراد دي او که بل شی دئ؟

الجواب: د سجدې د اثارو څو معناګاني دي:

۱_ د لمانځه په سبب په انسان کي تقوی او ښېګڼه پيدا کيږي چي له امله يې په دنيا کي د ده مخ روښانه وي.

۲_ د شپې د ويښتيا له امله د ورځي په مخ کي ژړوالی او د ويښتيا اثرات مراد دي.

۳_ د لمونځ کونکي مخ به د قيامت په ورځ منور وي.

۴_ د اوداسه اثرات د اوداسه پر اندامونو کيږي پر تندی نښانونه که په قصده کوم چا جوړ کړی وي خو بد دي او دغه د تقوی علامه بلل د مفسرينو په اند درسته نه ده.

وګورئ په تفسير ابن کثير کي راځي:

وقوله ﷻ: ﴿ سيماهم في وجوههم من أثر السجود ﴾: قال علي بن أبي طلحة، عن ابن عباس رضي الله عنهما: ﴿ سيماهم في وجوههم ﴾ يعني: السمت الحسن. وقال مجاهد وغير واحد: يعني: الخشوع والتواضع. وقال ابن أبي حاتم: حدثنا أبي، حدثنا علي بن محمد الطنافسي، حدثنا حسين الجعفي، عن زائدة، عن منصور عن مجاهد: ﴿ سيماهم في وجوههم من أثر السجود﴾ قال: الخشوع قلت: ما كنت أراه إلا هذا الأثر في الوجه، فقال: ربما كان بين عيني من هو أقسى قلبا من فرعون. وقال السدي: الصلاة تحسن وجوههم، وقال بعض السلف: "من كثرت صلاته بالليل حسن وجهه بالنهار " وقد أسنده ابن ماجه في سننه عن إسماعيل بن محمد الطلحي، عن ثابت بن موسى، عن شريك، عن الأعمش، عن أبي سفيان، عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: " من كثرت صلاته بالليل حسن وجهه بالنهار " والصحيح أنه موقوف. وقال بعضهم: إن للحسنة نورًا في القلب، وضياءً في الوجه، وسعةً في الرزق، ومحبةً في قلوب الناس. وقال أمير المؤمنين عثمان رضي الله عنه: ما أسر أحد سريرة إلا أبداها الله على صفحات وجهه، وفلتات لسانه، والغرض أن الشيء الكامن في النفس يظهر على صفحات الوجه، فالمؤمن إذا كانت سريرته صحيحة مع الله أصلح الله ظاهره للناس . (تفسر ابن كثير: ٤/ ٢١٥، سورة الفتح، مكتبة دار السلام).

په معارف القرآن کي راځي:

﴿ سيماهم في وجوههم من أثر السجود ﴾. (سورة الفتح: ايت ٢٩).

يعنی لمونځ يې د ژوندانه داسي وظيفه وګرځي چي د لمانځه او سجدې مخصوص اثاريې له مخونو ښکاره کيږي.

له اثارو څخه مراد هغه انوار دي چي د عبديت خشوع او خضوع څخه د هر عبادت کونکی پر مخ باندي ليدل کيږي پر تندی چي د سجدې له امله اثر وي هغه مراد نه دي خصوصاً د تهجد د لمانځه اثر ډېر زيات واضح وي.

لکه د ابن ماجه په روايت کي د حضرت جابر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ ارشاد دئ:

((من كثرت صلاته بالليل، حسن وجهه بالنهار."

يعنی څوک چي د شپې لمونځ زيات کوي د ورځي يې مخ ښائسته او منور ښکاري او حضرت حسن بصري رحمه الله فرمايي: چي له دغه څخه مراد د لمونځ کونکو د مخونو هغه نور دئ چي په قيامت کي ښکاره کيږي. (معارف القرآن:۱/ ۹۳).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (تفسير مظهری:۹/ ۳۶ – تفسير طبری:۱۱/ ۳۷۰ – تفسير قرطبی:۱۶/ ۲۹۳ – روح المعانی:۲۶/ ۱۲۵ – تفسير عثمانی:ص ٦٨٤). والله تعالی اعلم.

په لمانځه کي د اربړمی پر راتلو پر خوله د لاس نيولو حکم

سوال: که په لمانځه کي اربړمی ورته راسي نو پر خوله بايد لاس کښېښودل سي او که نه؟ او کوم لاس بايد کښېښودل سي؟

الجواب: په لمانځه کي بايد د امکان تر حده اربړمی دفع کړل سي که ممکنه نه وي نو د ولاړي په حالت کي دي د راسته لاس د شا برخه پر خوله کښيږدي او که د ولاړي پرته کوم بل رکن وي نو د چپه لاس شا دي پر خوله کښيږدي.

په البحر الرائق کي راځي:

(قوله وكظم فمه عند التثاؤب) أي إمساك فمه ، والمراد به سده لقوله ﷺ التثاؤب في الصلاة من الشيطان فإذا تثاءب أحدكم فليكظم ما استطاع ، وفي الظهيرية ، فإن لم يقدر غطاه بيده أو كمه للحديث. (البحر الرائق:۱/ ۳۰٤، کوئټة).

په درمختار کي راځي:

فإن لم يقدر غطاه بظهر يده اليسرى، وقيل باليمنى لو قائمًا ..... (الدرالمختار:۱/ ۵۱۵، سعيد).

وفی الطحطاوی على الدر:

(قوله بظهر يده اليمنى) هذا حكمه في الصلاة لقلة العمل أما خارجها فبظهر كفه اليسرى كما وردت به الآثار (قوله وقيل باليمنى لوقائمًا) لأن التغطية ينبغي أن تكون باليسير كما لامتخاط فإذا كان قاعدًا يسهل عليه ذلك ولم يلزم منه حركة اليدين بخلاف ما إذا كان قائمًا فإنه يلزم من التغطية باليسرى حركة اليمنى أيضًا لأنها تحتها حلبي. (حاشية الطحطاوی على الدر المختار:۱۲۱٤ – وكذا في الشامي:۱/ ۵۱۵، سعيد – وفي شرح منية المصلي:ص ۳۲۵، سهيل). والله ﷻ اعلم.

بېله خولۍ د لمانځه کولو حکم

سوال: ځینی کسان وايي چي په لمانځه کي خولۍ پر سر کول ضروري نه ده، ځکه ده مبارک خولۍ ستره وګرځول ایا دغه صحیح ده؟

الجواب: بېله خولۍ لمونځ کول مکروه دي او د خولۍ د ستره ګرځولو روایت ضعیف دئ له هغه څخه استدلال درست نه دئ، همدارنګه په مختلفو روایاتو کي د صحابه کرامو او د امت د اسلافو عمل هم په خولۍ سره د لمانځه کولو نقل سوی دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

(في باب مكروهات الصلاة): (وصلاته حاسرًا) أي كاشفًا (رأسه للتكاسل) وفي الشامي: (للتكاسل) أي لأجل الكسل بأن استثقل تغطيته ولم يرها أمرً مهمًا في الصلاة فتركها لذلك...... (الدر المختار مع الشامي:۱/ ٦٤١، مكروهات الصلاة، سعيد – وكذا في شرح منية المصلي:ص ۳٤۸، سهيل).

پہ فتاوی رحیمیہ کي راځي:

لڅ سر ګرځېدل نن سبا یو فیشن وګرځېدئ او هغه فاسقانو او فاجرانو اختیار کړی دئ او دا ډېر بد دئ.

علامه ابن جوزي رحمة الله عليه فرمايي:

((ولايخفى على عاقل ان كشف الرأس مستقبح وفيه اسقاط مروة وترك ادب)) پر عاقل دي پټه نه وي چي سر ښکاره کول قبیح دئ او مړانه له منځه وړل دي او د ادب او شریفانه تهذیب خلاف عمل دئ. (تلبیس ابلیس:ص:۳۷۳).

قطب رباني محبوب سبحاني عبد القادر جيلاني رحمة الله عليه فرمايي:

((ويكره كشف الرأس بين الناس)) د خلکو په منځ کي سر لڅول مکروه دي، د ستره جوړولو روایت ضعیف دئ.

وګورئ په مقالات الکوثری کي راځي:

وأما ما يروى من أنه ﷺ كان ربما نزع قلنسوته فجعلها سترة بين يديه وهو يصلى فضعيف كما فى شرح الشمائل وغيره فلايعرج عليه وليس له ذكر فى دواوين الحديث المعتبرة فلا يمكن أن يناهض العمل المتوارث والسنة المتوارثة فى تغطية الرأس .(مقالات الكوثرى:ص ۱۷۲، كشف الرؤوس، دار شمسى اللنشر). والله تعالى اعلم.

په خولي کي د لمانځه کولو ثبوت

وګورئ په بخاري شریف کي راځي:

عن الحسن رحمة الله عليه كان أقوام يسجدون على العمامة والقلنسوة. (بخارى شريف:١/ ٥٦، باب السجود على الثوب في شدة الحر).

عن إبراهيم النخعی رحمه الله قال: كانوا (الصحابة رضی الله تعالی عنهم) يصلون فی مساتقهم وبرانسهم. (مصنف عبد الرزاق: باب الرجل يسجد لايخرج يديه).

په زاد المعاد کي راځي:

كانت له عمامة تسمی السحاب كساها عليها رضي الله عنه وكان يلبسها ويلبس تحتها القلنسوة. (زاد المعاد: ۱/ ۱۳۵، فصل فی ملابسه، مؤسسة الرسالة).

په ترمذي کي دي:

عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه يقول سمعت رسول الله ﷺ يقول: الشهداء أربعة رجل مؤمن جيد الإيمان ...... هكذا ورفع رأسه حتى وقعت قلنسوته قال: فما أدري أقلنسوة عمر رضي الله عنه أراد أم قلنسوة النبي ﷺ. (رواه الترمذی: ۱/ ۲۹٤، مطبعه ديوبند).

په مجمع الزوائد کي راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ يلبس قلنسوة بيضاء. رواه الطبرانی وعنه كان رسول الله ﷺ يلبس كمة بيضاء. رواه الطبراني في الأوسط. (مجمع الزوائد: ٥/ ۱۲۱، دار الريان – وشعب الايمان: ٥/ ۱۷٥).

عن أبی هريرة رضي الله عنه قال: رأيت علی رسول الله ﷺ قلنسوة خماسية طويلة. (مسند أبی حنيفة رحمه الله: ۱/ ۱۳۷، باب العين، الكوثر).

عن أبی سليط رضي الله عنه أنه رأى علی رسول الله ﷺ قلنسوة اسماط لها آذان. (الآحاد والمثانی: ۳/ ۳۰۳، دار الراية).

عن أبی هريرة رضي الله عنه قال: رأيت رسول الله ﷺ وعليه قلنسوة بيضاء شامية. (اخلاق النبی ﷺ ص ۱۱۹).

فقد ثبت من هذه الأحاديث أن رسول الله ﷺ لبس قلنسوة في عامة الأحوال والأوقات وكذلك عدة أحاديث تدل على أن الصحابة رضي الله تعالى عنهم كانو ايلبسون القلنسوة في الصلاة كما مر.

یہ مقالات کوثری کی رائے:

والحاصل: أنه لم يثبت عن النبي ﷺ في كشف الرأس من غير عذر حتى نقتدى به ﷺ في كشف الرأس في الصلاة وقد سبق بيان عادة النصارى من كشف الرؤوس في صلاتهم بل هم يفعلون كذلك في كل موقف احترام يقفونه. (مقالات الكوثرى:ص ۱۷۳).

قال الشيخ رشيد رضاء في مقالة طبعت في مجلة " المنار": وتكره في أحوال ثلاثة:

الأول: لويتعود على كشف الرأس.

والثاني: يحسر عن رأسه حال كونه يصلي بالجماعة مع أناس يغطون رؤوسهم.

الثالث: يصر على كشف رأسه في المسجد بمحضر من يكره كشف الرأس ثم ينقده على ذلك فحينئذ تكره الصلاة.

والوجه في حالة الأولى للكراهة أنه يتعود على شيء لاثبوت له من النص بل فعله ذلك يخالف السنة المتوارثة المقبولة من القرون.

العلة في حالة الثانية أنه يخالف الإجماع وهو محضور في الإسلام.

وسبب الكراهة في الحالة الثالثة أن هذا الرجل يكون مسببًا للغيبة والجدال. (السنن والبدعات:ص ۵۰).

الـخلاصة: تکره الصلاة مکشوف الرأس. لأننا أثبتنا أن لبس القلنسوة کانت سنة مستمرة ولم یثبت أن النبی ﷺ صلی حاسر الرأس بلا ضرورة وکذلک هو معمول به من بدایة الإسلام إلی هذا العصر وکشف الرأس فی جمیع الأحوال مکروه. والله ﷻ اعلم.

دریيم ....فصل

د نارينه او ښځي د لمانځه د فرق بيان

د نارينه او ښځي د لمانځه فرق او د احاديثو او فقهي له کتابونو څخه يې ثبوت

سوال: د نارينه او ښځي د لمانځه فرق څه دئ؟ همدارنګه هغه احاديث چي پر دغه فرق دلالت کوي حيثيت يې څه دئ؟

لجواب: د نارينه او ښځي د جوړښت په لحاظ چي کوم فرق سته په شرعي احکامو او مسائلو کي ځای پر ځای د هغه لحاظ ساتل سوی دئ که د طهارت مسئلي وي او که د روژې او حج وي دا ټکښي ښکاره کيږي چي د ښځي احکام څه بيل دي همدارنګه د اسلام په تر ټولو مهم عبادت لمانځه کي هم د نارينه او ښځي تر منځ څه نا څه فرق موجود دئ، لامل يې يوازي دا دئ چي د دې د پردې لحاظ وساتل سي:

وګورئ د لمانځه اړوند څو خاصي مسئلي

ښځي به هم د نارينه وو په شان لمونځ کوي يوازي به په يو څو ځايونو کي د نارينه خلاف کوي چي تفصيل يې په لاندي ډول دئ:

١ _ ښځي که ديخ وغيره عذر وي او که نه په هر حال کي به په پړوني وغيره کي دننه لاسونه پورته کوي دباندي به يې نه راباسي.

٢ _ لاسونه به يوازي تر اوږو پوري پورته کوي.

٣ _ د تکبير تحريمه څخه وروسته به لاسونه تر تيو لاندي نيسئ.

٤ _ ښځي به راسته ورغوی د چپه ورغوی پر شا ږدي حلقه جوړل او چپه لاس بايد ونه نيول سي.

۵_ په رکوع کي باید زیات کښته نه سي بلکي یوازي دومره کښته سي چي لاسونه یې زنګنو ته ورسیږي.

۶_ په رکوع کي دي د دواړو لاسونو ګوتي نه غوړوي.

۷_ په رکوع کي دي پر لاسونو زور نه کوي.

۸_ په رکوع کي دي لاسونه پر زنګنو کښیږدي او هغه دي نه نیسي.

۹_ په رکوع کي دي زنګنونه کاږه وساتي.

۱۰_ په رکوع کي دي خپلي څنګلي له بغلونو سره یو ځای وساتي.

۱۱_ په سجده کي دي څنګلي پر مځکه وغوړوي.

۱۲_ په سجده کي دي د دواړو پښو ګوتي نه دروي بلکي دواړي پښې دي راسته طرف ته وباسي او ډیره ټیټه سجده دي کوي.

۱۳_ په سجده کي نس له ورنونو سره یو ځای کړي.

۱۴_ بازوګان دي له بغلونو سره یو ځای کړي.

۱۵_ په التحیات کي د ناستي په وخت کي د نارینه وو پر خلاف دواړي پښې راسته لوري ته وباسي او پر چپه ورانه دي کښېني.

۱۶_ په التحیات کي دي د لاسونو ګوتي سره ونښلوي.

۱۷_ چي کله په لمانځه کي څه پېښ سي مثلاً یو څوک یې تر مخ تیریږي نو لاس دي پر لاس ووهي د نارینه وو په شان دي سبحان الله نه وایي.

۱۸_ د نارینه وو امامت دي نه کوي.

۱۹_ په لمانځه کي یوازي د ښځو جماعت مکروه تحریمي دئ.

۲۰_ که ښځي جماعت کوي نو هغه ښځه چي امامه وي هغه دي په منځ کي ودریږي تر مخ دي نه دریږي.

۲۱_ د ښځو په جماعت کي حاضریدل مکروه دي.

۲۲_ د نارینه وو په جماعت کي دي ښځه د نارینه وو تر شا ودریږي.

۲۳_ پر ښځو جمعه فرض نه ده خو که یې وکړي نو د ماپښین لمونځ ورڅخه ساقطیږي.

۲۴_ په ښځي داخترونو لمنځونه واجب نه دي.
۲۵_ دایام تشریق په ورځو کي تر فرضي لمنځونو وروسته تکبیر په زوره ویل واجب نه دي.
۲٦_ د ښځو له پاره د سهار په لمانځه کي اسفار مستحب نه دئ.
۲۷_ د ښځي له پاره په هیڅ لمانځه کي په جهر سره د قرائت کولو اجازه نه سته.
۲۸_ ښځه دي اذان نه کوي.
۲۹_ ښځه دي په مسجد کي اعتکاف نه کوي.(عمدة الفقه:ص: ۱۱٤ حصه دوم کتاب الصلاة).

د فقهي د کتابونو عبارتونه وګورئ :

۱_ احناف مذهب:

په مراقي الفلاح کي راځي:

و رفع اليدين حذاء المنكبين للحرة على الصحيح لأن ذراعيها عورة ومبناه على الستر...... وتسن وضع المرأة يديها على صدرها من غير تحليق لأنه أسترلها...... والمرأة لاتفرجها (فى الركوع) لأن مبنى حالها على الستر ...... ويسن انخفاض المرأة ولزقها بطنها بفخذيها لأنه ﷺ مر على امرأتين تصليان فقال: " إذا سجدتما فضما بعض اللحم إلى بعض فإن المرأة ليست فى ذلک كالرجل " لأنها عورة مستورة ...... ويسن تورک المرأة بأن تجلس على اليتها وتضع الفخذ على الفخذ وتخرج رجلها من تحت وركها اليمنى لأنه أسترلها. (مراقى الفلاح:ص ٩٤-٩٩، فصل فى سننها).

په حاشية الطحطاوي کي راځي:

(ويسن وضع المرأة يديها) المرأة تخالف الرجل في مسائل منها هذه ومنها أنها لا تخرج كفيها من كميها عند التكبير وترفع يديها حذاء منكبيها، ولا تفرج أصابعها في الركوع، وتنحني في الركوع قليلًا بحيث تبلغ حد الركوع، فلا تزيد على ذلك وتجلس متوركة في كل

قعود بأن تجلس على أليتها اليسرى وتخرج كلتا رجليها من الجانب الأيمن وتضع فخذيها على بعضهما، وتجعل الساق الأيمن على الساق الأيسر كما في مجمع الأنهر ولا تؤم الرجال، وتكره جماعتهن ويقف الإمام وسطهن ولا تجهر في موضع الجهر، ولا يستحب في حقها الأسفار بالفجر، والتتبع ينفي الحصر. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ۲۵۹، فصل في بيان سننها، قديمى – والبحر الرائق:۱/ ۳۲۱- والشامى:۱/ ۵۰۴، سعيد – وفتاوى بينات:۲/ ۳۱۶، كتاب الصلاة، مكتبة بينات).

۲_ مالکیہ مذہب:

ومفهوم رجل أن المرأة يندب كونها منضمةً في ركوعها وسجودها. (قوله يندب كونها منضمةً) أي بحيث تلصق بطنها بفخذيها ومرفقيها بركبتيها. (حاشية الدسوقى:۱/ ۳۹۳، دار الفكر).

۳_ شافعیہ مذہب:

ونووی پہ شرح المہذب کي راځي:

وإن كانت امرأة ضمت بعضها إلى بعض لأن ذلك أستر لها. (شرح المهذب:۳/ ۴۲۹، دار الفكر).

په کتاب الام کي راځي:

(قال الشافعي رحمه الله): وقد أدب الله تعالى النساء بالاستتار وأدبهن بذلك رسوله ﷺ وأحب للمرأة في السجود أن تضم بعضها إلى بعض وتلصق بطنها بفخذيها وتسجد كأستر ما يكون لها وهكذا أحب لها في الركوع والجلوس وجميع الصلاة أن تكون فيها كأستر ما

يكون لها وأحب أن تكفت جلبابها وتجافيه راكعةً وساجدةً عليها لئلا تصفها ثيابها. (كتاب الام: ۱/ ۱۳۸، باب التجافی فی السجود، دار الفکر).

۴_ حنابلي مذهب:

وګورئ په المغنی کي راځي:

مسألة: قال: (والرجل والمرأة في ذلك سواء، إلا أن المرأة تجمع نفسها في الركوع والسجود وتجلس متربعةً أو تسدل رجليها فتجعلهما في جانب يمينها . الأصل أن يثبت في حق المرأة من أحكام الصلاة ما يثبت للرجال ؛ لأن الخطاب يشملها ، غير أنها خالفته في ترك التجافي ، لأنها عورة، فاستحب لها جمع نفسها ، ليكون أستر لها ، فإنه لا يؤمن أن يبدو منها شيءحال التجافي . وكذلك في الافتراش ، قال أحمد رحمه الله: والسدل أعجب إلي . واختاره الخلال .قال علي رضي الله عنه: إذا صلت المرأة فلتحتفز ولتضم فخذيها . وعن ابن عمر رضي الله عنهما ، أنه كان يأمر النساء أن يتربعن في الصلاة . (المغنی لابن قدامة الحنبلی:۱/ ۵۹۹، دار الکتب العلمیة).

د احاديثو څخه يې د فرق ثبوت:

څو احاديث وګورئ چي په هغو کي د نارينه او ښځي فرق ښودل سوی دئ او د هغه بنياديې دا ګرځولی دئ چي دا ښځه ده او بايد مستوره وي.

حدثنا سليمان بن داود، حدثنا ابن وهب، أخبرنا حيوة بن شريح، عن سالم بن غيلان عن يزيد بن أبی حبيب، : أن رسول الله ﷺ مر على امرأتين تصليان فقال :" إذا سجدتما فضما بعض اللحم إلى الأرض ، فإن المرأة ليست فی ذلك كالرجل ". (رواہ أبو داؤد فی مراسیله: ص ۱۱۷/ ۸۷، مؤسسة الرسالة).

وقال شعيب الأرناؤوط في تعليقه على المراسيل: رجاله ثقات. (تعليق شعيب الأرناؤوط: ص ۱۱۸، مؤسسة الرسالة).

- بیهقی د سنن کبری څخه څو روايتونه وګورئ چې ځيني يې ضعيف دي:

عن الحارث قال: قال علي رضي الله عنه إذا سجدت المرأة فلتضم فخذيها.

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه صاحب رسول الله ﷺ عن رسول الله ﷺ أنه قال: "خير صفوف الرجال الأول، وخير صفوف النساء الصف المؤخر". وكان يأمر الرجال أن يتجافوا في سجودهم، ويأمر النساء ينخفضن في سجودهن، وكان يأمر الرجال أن يفرشوا اليسرى وينصبوا اليمنى في التشهد، ويأمر النساء أن يتربعن. **(دا حديث ضعيف دئ).**

عن مجاهد رحمه الله عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: "إذا جلست المرأة في الصلاة وضعت فخذها على فخذها الأخرى، وإذا سجدت ألصقت بطنها في فخذيها كأستر ما يكون لها. **(دا حديث هم ضعيف دئ).** (بيهقي سنن كبرى: ۲/ ۲۲۲، باب ما يستحب للمرأة من ترك التجافي في الركوع والسجود، دار المعرفة).

د مصنف ابن ابی شيبه څخه څو آثار مذكور دي. وګورئ:

عن ابن عباس رضي الله عنهما أنه سئل عن صلاة المرأة؟ فقال: تجتمع وتحتفز.

وعن إبراهيم رحمه الله قال: إذا سجدت المرأة فلتضم فخذيها ولتضع بطنها عليها.

وعن مجاهد رحمه الله: أنه كان يكره أن يضع الرجل بطنه على فخذيه إذا سجد كما تضع المرأة.

وعن إبراهيم رحمة الله عليه قال: إذا سجدتْ المرأة فلتلزق بطنها بفخذيها ولا ترفع عجيزتها ولا تجا فی كما يجا فی الرجل. (مصنف ابن ابی شيبة:۲/ ۵۰٤، المرأة كيف تكون فی سجودها).

همدا ډول وګورئ:

عن خالد بن الجلاج رحمة الله عليه قال: كن النساء يؤمرن أن يتربعن إذا جلسن فی الصلاة ولايجلس جلوس الرجال على أوراكهن، يتقی ذلک على المرأة مخافة أن منها شیء.

عن نافع: أن صفية رضی الله عنها كانت تصلی وهی متربعة. (مصنف ابن ابی شيبة:۲/ ۵۰۵، فی المرأة كيف تجلس في الصلاة).

همدا ډول وګورئ:

عن عبد ربه بن زيتون رحمة الله عليه قال: رأيت أم الدرداء رضی الله عنها ترفع يديها حذو منكبيها حين نفتتح الصلاة.

وعن عطاء رحمة الله عليه سئل عن المراة: كيف ترفع يديها فی الصلاة؟ قال: حذوثديها.

وعن حمار رحمة الله عليه: أنه كان يقول فی المرأة إذا استفتحت الصلاة: ترفع يديها إلى ثديها. (مصنف ابن أبی شيبة:۲/ ٤۲، فی المرأة اذا افتتحت الصلاة إلى اين ترفع يديها، المجلس العلمی). والله تعالى اعلم.

د سلفي حضراتو استدلال او د هغه جواب

سوال: سلفيان د نارينه او ښځي د لمانځه ترمنځ د فرق قائل نه دي او په استدلال کي دغه حديث وړاندي کوي ((وصلوا كما رأيتموني أصلي)) د دغه جواب به څه وي؟

الجواب: د پورتني حديث جواب دا دئ چي دلته دوه احتماله دي:

۱ _ ياخو په دغه حديث کي د نارينه او ښځي دواړو د لمنځونو بيان دئ.

۲ _ يا يوازي د نارينه د لمانځه بيان دئ.

او دغه دوهمه معنى متعينه ده د هغو احاديثو او اثارو له امله چي د نارينه او ښځي د لمانځه پر فرق دلالت كوي چي مخكي ذكر سوه همدارنګه د نارينه او ښځي د لمانځه تر منځ په ډېرو شيانو كي فرق سته حتى په شرائطو كي يې هم فرق سته چي له هغو څخه سلفيان هم انكار كولاى نه سي.

وګورئ:

۱_ د نارينه او ښځي په ستر كي فرق سته او د ستر پټول د لمانځه له شرائطو څخه دي.

په حديث شريف كي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله ﷺ " لاتقبل صلاة الحائض إلا بخمار " رواه الترمذى وقال: حديث عائشة رضي الله عنها حديث حسن، والعمل عليه عند أهل العلم أن المرأة إذا أدركت فصلت وشيء من شعرها مكشوف لا تجوز صلاتها (ترمذى شريف:۱/ ۸٦؛ باب ماجاء لاتقبل صلاة حائض إلابخمار – ورواه ابو داؤد:۱/ ۹٤، باب المرأة تصلى بغير خمار).

همدارنګه د نارينه وو له پاره لنګ تر بجلكو كښته كول مكروه تحريمى دئ او د ښځو له پاره ضروري ده چي د پښو پورتنۍ برخه يې پټه وي.

وګورئ په ابو داؤد شريف كي راځي:

عن أم سلمة رضي الله عنها أنها سألت النبى ﷺ أتصلى المرأة فى درع وخمار ليس عليها إزارقال: " إذا كان الدرع سابغًا يغطى ظهور قدميها ". (رواه ابو داؤد:۱/ ۹٤، باب فى كم تصلى المرأة).

۲_ د نارينه وو له پاره لمونځ په جماعت سره په مسجد كي سنت مؤكد دئ، نژدې واجب ته دئ او د ښځو له پاره په كور كي لمونځ كول افضل دئ بلكي په اوس وخت كي خو په كور كي لمونځ كول ضروري دئ.

وعن أم سلمة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: صلاة المرأة في بيتها خير من صلاتها في حجرتها، وصلاتها في حجرتها خير من صلاتها في دارها، وصلاتها في دارها خير من صلاتها

خــارج . رواه الطــبراني في الأوســط ورجالــه رجــال الــصحيح خــلا بــن الــمهاجر. (مجمــع الزوائد:۲/ ۳٤، باب خروج النساي الى المساجد).

وعن ابن مسعود ﵁ قال: صلاة المرأة في بيتها أفضل من صلاتــها في حجرتــها وصلاتــها في حجرتـها أفضل من صلاتـها في دارها، وصلاتـها في دارها أفـضل مـن صلاتـها فيمـا سـواها. ثـم قـال: إن الـمرأة إذا خرجـت استـشرفها الـشيطان. رواه الطـبراني في الكبـير ورجالـه رجـال الصحيح. (مجمع الزوائد:۲/ ۳٤، باب خروج النساء الى المساجد، دار الفكر).

۳ـ دجمعې لمونځ دنارينه وو له پاره دئ نه دښځو له پاره.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن طارق بن شهاب عن النبى ﷺ قال: " الـجمعة حق واجبعلى كـل مـسلم فى جمـاعة إلا أربعةً عبدمـملوكأو امرأةأ...... قال أبو داود: طارق بن شهاب قد رأى النبى ﷺ ولـم يـسمع منه شيئًا. (رواه ابو داؤد:۱/ ۱۵۳، باب الجمعة للمملوک والمرأة، سعيد).

وفـى التعليق الـمحمود على سنن أبى داؤد: وقـال البيهقـى ﵀: فـى الـمعرفة هـذا هـو الـمحفوظ مرسل وهو مرسل جيد وقد أسنده عبيد الله بن محمد العجلى فقال: عن طارق عـن موسٰى. (التعليق المحمود على سنن ابى داؤد:۱/ ۱۵۳).

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

۴ـ ښځه نه اذان کولای سي او نه اقامت:

((قال ابن عمر ﵄ ليس على النساء اذان))(مصنف ابن ابى شيبه:۳/ ۱۲۷).

۵ـ دخبر ورکولو له پاره دي نارينه تسبيح ولولي او ښځه دي تسبيح نه وايي بلکي لاس دي پر لاس ووهي.

په بخاري شريف کې راځي:

((عن أبي هريرة ، رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال : التصفيق للنساء والتسبيح للرجال". (رواه البخاري:١/ ١٦٠/ ١١٨٩، باب التصفيق للنساء).

٦ _ نبي کريم ﷺ د ماښام ماخستن او سهار په لمنځونو کې په زوره قرائت وايه نو ايا د اعتراض کونکو ښځې هم جهر کوي؟ که يې کوي نو ايا له صحابياتو څخه جهر ثابت دئ؟ والله ﷻ اعلم.

د ولاړې په حالت کې د ښځو د قدمونو تر منځ د فاصلې ساتلو حکم

سوال: د ولاړې په حالت کې به ښځې دواړې پښې يو ځای ږدي او که به د څلورو ګوتو په اندازه فاصله ساتي؟

الجواب: د ښځو له پاره هم دا مناسب ده چې د دواړو پښو تر منځ د څلورو ګوتو فاصله وساتي لکه څنګه چې د فقهې په کتابونو کې ذکر سوی دي او د ښځې او نارينه تر منځ يې په دغه مسئله کې فرق نه دئ کړئ.

وګورئ په مراقي الفلاح کې دي:

(ويسن تفريج القدمين في القيام قدر أربع أصابع) لأنه أقرب إلى الخشوع. وفي الطحطاوي: نص عليه في كتاب الأثر عن الإمام ولم يحك فيه خلافًا. (مراقی الفلاح مع الطحطاوی:ص ٢٦٢، فصل فی بیان سننها، قدیمی – وکذا فی الشامی:١/ ٤٤٤، بحث القیام، سعید– والفتاوى الهندية:١/ ٧٣، الفصل الثالث فی کیفیة الصلاة).

په امداد الاحکام کې راځي:

قال في الدر المختار: وينبغي أن يكون بينهما مقدار أربع أصابع اليد لأنه أقرب إلى الخشوع هكذا روی عن أبي النصر الدبوسي أنه كان يفعله كذا في الكبرى......

له دې څخه معلومه سوه چې د ولاړې په حالت کې د دواړو پښو تر منځ د څلورو ګوتو فاصله مناسب ده او له همدغه حکم څخه يې يو ځای ښځې نه دي مستثنی کړي، نو د دوی له پاره هم همدغه مناسبه

ده، البته د نارینه او ښځې د رکوع او سجدې هیئت مختلف دئ. (امداد الاحکام: ۱/ ٤٦٦).و الله ﷻ اعلم.

د تحریمې په وخت کې د ښځې له پاره د لاس پورته کېدو سنت طریقه

سوال: ښځې به د لمانځه د شروع په وخت کې لاسونه تر کومه ځایه پورته کوي؟

الجواب: د ښځې له پاره سنت طریقه دا ده چې د لمانځه په شروع کې لاسونه تر اوږو پورې پورته کړي.

وګورئ په حدیث شریف کې راځي:

وعن وائل بن حجر ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: يا بن حجر إذا صليت فاجعل يديك حذاء أذنيك،والمرأة تجعل يديها حذاء ثدييها. رواه الطبراني في حديث طويل في مناقب وائل من طريق ميمونة بنت حجر عن عمتها أم يحيى بنت عبد الجبار ولم أعرفها وبقية رجاله ثقات. (مجمع الزوائد:۲/ ۱۰۳، دار الفكر – وكذا في اعلاء السنن:۲/ ۱۸۳، إدارة القرآن).

په مصنف ابن ابی شیبه کې راځي:

عن عبد ربه بن زيتون قال: رأيت أم الدرداء ﷺ ترفع كفيها حذو منكبيها حين تفتتح الصلاة. (مصنف ابن أبی شيبة:۲/ ٤۲۱، المجلس العلمی).

په جزء رفع اليدين للبخاري کې دي:

عن عبد ربه بن سليمان بن عمير قال: رأيت أم الدرداء ﷺ ترفع يديها في الصلاة حذو منكبيها. (جزء رفع اليدين للبخاری:ص).

په بدائع الصنائع کې راځي:

وروى محمد بن مقاتل الرازي عن أصحابنا أنها ترفع يديها حذو منكبيها. (بدائع الصنائع:۱/ ۱۹۹، سعيد- وكذا في البحر الرائق:۱/ ۳۰۵، كوئتة).

په هدايه كې راځي:

(والمرأة ترفع يديها حذاء منكبيها) هو الصحيح لأنه أسترلها. (هداية:۱/ ۱۰۰).والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالى

﴿ادعوني أستجب لكم ﴾

وعن أبى أمامة رضي الله عنه قال ﴿قيل يا رسول الله أى الدعاء أسمع قال " جوف الليل الآخر ودبر الصلوات المكتوبات" ﴾

څلورم .... باب

د لمانځه څخه وروسته د دعاء او ذكر بيان

د فرض لمانځه څخه وروسته په لاس پورته كولو سره د دعاء حكم

سوال: د فرضي لمانځه څخه وروسته د اجتماعي جهري دعاء حكم څه دئ؟

الجواب: د فرائضو وروسته د اجتماعي يا انفرادي دعاء كولو ثبوت په احاديثو او د فقهي په كتابونو كې سته، لهذا د فرض لمنځونو وروسته دعاء كول اولى او افضل دي، البته د اجتماعي جهري دعاء څخه بايد ځان وساتل سي چې د مسبوق كسانو په لمانځه كې خلل رانه سي او د دعاء كولو طريقه دا ده چې خپل دواړه لاسونه دې پورته كړي دعاء دې وكړئ او چې كله له دعاء څخه فارغ سي لاس دې پر مخ تېر كړئ. (اعدل قول دا دئ چې تر كومو لمنځونو وروسته چې سنتونه دي تر هغو لمنځونو وروسته دې امام په لنډه توګه دعاء وكړئ او په سنتو دې مشغول سي ډېر وخت دې نه تېر وي).

د الله تعالى فرمان دئ:

﴿ ادعوا ربكم تضرعًا وخفيةً﴾. (سورة الاعراف الاية:۵۵).

ژباړه: بولئ تاسې رب خپل په زاري عذر او په پټه سره.

قال الله تعالی:

﴿ ادعوني أستجب لكم﴾. (سورة المؤمن الآية: ٦٠).

ژباړه: تاسي وبولی ما زه قبلوم تاسي ته (دعاء ستاسي). (معارف القرآن:۷/ ٦۰۹).

وقال تعالی:

﴿ أجيب دعوة الداع إذا دعان﴾. (سورة البقرة الآية:۱۸٦).

ژباړه: زه د دعاء غوښتونکي دعاء قبلوم کله چي زما څخه دعاء وغواړي. (معارف القرآن:۱/ ٤٥۰).

د اجتماعي دعاء طرفته د سنن ابن ماجه په دغه حديث کي اشاره ده:

عن ثوبان ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: لا يؤم عبدفيخص نفسه بدعوة دونهم، فإن فعل فقد خانهم. (ابن ماجه شريف:ص ٦٦، باب لايخص الإمام نفسه بالدعاء، قديمی).

يعنی يو څوک دي د امامت کولو وروسته خپل ځان په دعاء سره نه خاصوي، که يې داسي وکړل نو هغه له مقتديانو سره خيانت وکړ له دې څخه د لمانځه دننه دعاء مراد نه ده ځکه په هغه کي د مفرد الفاظ دي بلکي د اجتماعي لوري ته اشاره ده. والله ﷻ اعلم.

د فرائضو وروسته د دعاء کولو ثبوت له احاديثو څخه

په بخاري شريف کي راځي:

كتب المغيرة ﷺ إلى معاوية بن أبى سفيان ﷺ أن رسول الله ﷺ كان يقول في دبر كل صلاة إذا سلم: " لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير اللّهم لا مانع لما أعطيت، ولا معطي لما منعت، ولا ينفع ذا الجد منك الجد ". (رواه البخاری:۲/ ۹۳۷/ ٦۰۸٥، باب الدعاء بعد الصلاة، فيصل).

په ترمذی شريف کي راځي:

عن أبي أمامة رضي الله عنه قال : قيل يا رسول الله ﷺ أي الدعاء أسمع ؟ قال: " جوف الليل الآخر ودبر الصلوات المكتوبات ". (رواه الترمذی: وقال: هذا حديث حسن: ۲/ ۱۸۷، باب ماجاء فی جامع الدعوات، فيصل).

په بخاري شريف کي راځي:

كان سعد رضي الله عنه يعلم بنيه هؤلاء الكلمات كما يعلم المعلم الغلمان الكتابة ويقول: إن رسول الله ﷺ كان يتعوذ منهن دبر الصلاة " اللّٰهم إني أعوذ بك من الجبن وأعوذ بك أن أرد إلى أرذل العمر وأعوذ بك من فتنة الدنيا وأعوذ بك من عذاب القبر " فحدثت به مصعبًا فصدقه. (رواه البخاری:۱/ ۳۹۶/ ۲۷۳۸، كتاب الجهاد، فيصل).

په مسلم شريف کي راځي:

عن ثوبان رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ إذا انصرف من صلاته استغفر ثلاثًا وقال: " اللّٰهم أنت السلام ومنك السلام تباركت يا ذا الجلال والإكرام ". قال الوليد فقلت للأوزاعی كيف الاستغفار قال: تقول أستغفر الله، أستغفر الله، أستغفر الله. (رواه مسلم:۱/ ۲۱۸، باب استحباب الذكر بعد الصلاة، فيصل).

په ابوداؤد شريف کي راځي:

عن أبی الزبير قال: سمعت عبد الله بن الزبير رضي الله عنه على المنبر يقول كان النبی ﷺ إذا انصرف من الصلاة يقول " لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير لا إله إلا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون أهل النعمة والفضل والثناء الحسن لا إله إلا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون ".

وفی روایة له: عن زید بن أرقم رضی الله عنه قال: سمعت نبی الله ﷺ یقول دبر صلاته: " اللّهم ربنا ورب کل شیء أنا شهیدأنك أنت الرب وحدك لا شریك لك ....

وفی روایة له: عن علی بن أبی طالب رضی الله عنه قال: کان النبی ﷺ إذا سلم من الصلاة قال: " اللّهم اغفر لی ما قدمت وما أخرت وما أسررت وما أعلنت وما أسرفت وما أنت أعلم به منی أنت المقدم وأنت المؤخر لا إله إلا أنت ". (روی الثلاثة أبو داؤد:۱/ ۲۱۱، باب مایقول الرجل اذا سلم، سعید).

پہ عمل الیوم واللیلة کي راځي:

أم سلمة رضی الله عنها، تقول کان رسول الله ﷺ إذا أصبح قال : " اللّهم إني أسألك علمًا نافعًا وعملًا متقبلًا ورزقًا طیبًا.

وعن مسلم بن عن أبي بکرة قال: کان أبی یقول فی دبر الصلاة : " اللّهم إني أعوذ بك من الکفر والفقر وعذاب القبر " وکنت أقولهن فقال لی أبی: أی بنی عمن أخذت هذا؟ قلت: عنک، قال: إن رسول الله ﷺ کان یقولهن فی دبر الصلاة.

عن أبي أمامة رضی الله عنه قال : ما دنوت من رسول الله ﷺ في دبر مکتوبة ولا تطوع إلا سمعته یقول : " اللّهم اغفر لي ذنوبي وخطایاي کلها ، اللّهم انعشني واجبرني ، واهدني لصالح الأعمال والأخلاق ، إنه لا یهدي لصالحها ولا یصرف سیئها إلا أنت ".

عن أنس بن مالک رضی الله عنه قال: کان مقامی بین کتفی النبی ﷺ حتی قبض فکان یقول إذا انصرف من الصلاة " اللّهم اجعل خیر عمری آخره وخیر عملی خو اتمه واجعل خیر أیامی یوم ألقاک ".

عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ يدعو بهذه الدعوات كلما سلم " اللّٰهم لاتخزني يوم القيامة ولا تخزني يوم البأس فإن من تخزه يوم البأس فقد أخزيته"

(عمل اليوم والليلة لابن السني:ص۳۱-۳٦، باب مايقول في دبر صلاة الصبح).

په دعاء کي دلاس پورته کولو ثبوت:

په بخاري شريف کي راځي:

عن يحيى بن سعيد وشريك سمعا أنسًا رضي الله عنه، عن النبي ﷺ أنه رفع يديه حتى رأيت بياض إبطيه. (رواه البخاري:۲/ ۸۳۹/ ٦۰۹٦، باب رفع الأيدي في الدعاء، فيصل).

په ترمذي شريف کي راځي:

عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال : كان رسول الله ﷺ إذا رفع يديه في الدعاء لم يحطهما حتى يمسح بهما وجهه. (رواه الترمذي:۲/۱۷٦، باب ماجاء في رفع الأيدي عند الدعاء، فيصل).

په ابو داؤد شريف کي راځي:

عن سلمان رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: " إن ربكم تبارك وتعالى حيي كريم يستحيي من عبده إذا رفع يديه إليه أن يردهما صفرًا ".

وفي رواية له: عن السائب بن يزيد عن أبيه أن النبي ﷺ كان إذا دعا فرفع يديه مسح وجهه بيديه.

وفي رواية له: عن ابن عباس رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: .... سلوا الله ببطون أكفكم ولاتسئلوه بظهورها فإذا فرغتم فامسحوا بها وجوهكم.

وفي رواية له: عن ابن عباس رضي الله عنه قال: المسئلة أن ترفع يديك حذو منكبيك أو نحوهما.

(روى الأحاديث الأربعة أبو داؤد:۱/ ۲۰۹، باب الدعاء، سعيد).

په عمل اليوم والليلة کي راځي:

عن أنس بن مالک ﷛ عن النبی ﷺ أنه قال: مامن عبد بسط كفيه فی دبر كل صلاة ثم يقول: " اللّٰهم إلهی وإله إبراهيم وإسحاق ويعقوب .... إلا كان حقًا على الله عزوجل أن لايرد يديه خائبتين. (عمل اليوم والليلة: ص ۳۸/ ۱۳۸، باب مايقول فی دبر صلاة الصبح، دائرة المعارف).

په مجمع الزوائد کي راځي:

وعن سلمان ﷛ قال: قال رسول الله ﷺ: " ما رفع قوم أكفهم إلى الله عز وجل يسألونه شيئاً إلا كان حقاً على الله أن يضع في أيديهم الذي سألوا ". (رواه الطبرانی ورجاله رجال الصحيح - مجمع الزوائد: ۱۰/ ۱۶۹، باب ماجاء فی الإشارة فی الدعاء ورفع اليدين، دار الفكر).

قال الشيخ أحمد الصديق الغماری فی رسالته " المنح المطلوبة" : نص الحافظ السيوطی رحمه الله فی شرحه على "تقريب النواوی" المسمی " بتدريب الراوی" على أن أحاديث رفع اليدين فی الدعاء تواترت عن رسول الله ﷺ تواترًا معنويًا، فقال فی مبحث المتواتر ما نصه: " ومنه ما تواتر معناه، كأحاديث رفع اليدين فی الدعاء، فقد روی عنه ﷺ نحومئة حديث فيه رفع يديه فی الدعاء. وقد جمعتها فی جزء لكنها فی قضايا مختلفة، فكل قضية منها لم تتواتر، والقدر المشترك فيها وهو الرفع عند الدعاء تواتر باعتبار المجموع".

(المنح المطلوبة فی استحباب رفع اليدين فی الدعاء بعد الصلوات المكتوبة: وفی مندرجة فی ثلاث رسائل فی استحباب الدعاء ....: ص ۵۳، حلب).

د لمانځه څخه وروسته په لاس پورته کولو سره د دعاء غوښتلو ثبوت:

په ترمذي شريف کي راځي:

عن الفضل بن عباس رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ الصلاة مثنى مثنى تشهد في كل ركعتين وتخشع وتضرع وتمسكن وتقنع يديك يقول ترفعهما إلى ربك مستقبلًا ببطونهما وجهك وتقول يا رب يا رب ومن لم يفعل ذلك فهو كذا وكذا. قال أبو عيسى: وقال: غير ابن المبارك في هذا الحديث من لم يفعل ذلك فهي خداج. (رواه الترمذي: ۱/ ۸۷، باب ماجاء في التخشع في الصلاة، فيصل).

په عمل اليوم والليلة كي راځي:

عن أنس بن مالک رضي الله عنه عن النبی ﷺ أنه قال: ما من عبد بسط كفيه فی دبر كل صلاة ثم يقول " اللّٰهم إلهی وإله إبراهيم وإسحاق ويعقوب .... إلا كان حقًا على الله عزوجل أن لايرد يديه خائبتين. (عمل اليوم والليلة:ص ۳۸/ ۱۳۸، باب مايقول فی دبر صلاة الصبح، دائرة المعارف).

په مجمع الزوائد كي راځي:

وعن محمد بن يحيٰى قال: رأيت عبد الله بن الزبير رضي الله عنه ورأى رجلًا رافعًا يديه يدعو قبل أن يفرغ من صلاته فلما فرغ منها قال: إن رسول الله ﷺ لم يكن يرفع يديه حتى يفرغ من صلاته. (رواه الطبرانی وترجم له فقال محمد بن أبی يحيی الأسلمی عن عبد الله بن الزبير رضي الله عنه ورجال ثقات – مجمع الزوائد: ۱۰/ ۱۶۹، باب ماجاء فی الإشارة فی الدعاء ورفع اليدين، دارالفكر).

په معجم صغير كي راځي:

قال أنس رضي الله عنه: فلقد رأيت رسول الله ﷺ كلما صلى الغداة رفع يديه يدعو عليهم.....

(المعجم الصغير للطبرانی: ۲/ ۱۹۵، دار الفكر).

په تفسير ابن ابی حاتم كي دي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ رفع يده بعد ماسلم وهو مستقبل القبلة فقال: " اللّٰهم خلص الوليد بن الوليد ...... (اخرجه ابن ابی حاتم فی تفسیره: ۲۰/ ۳۶۸/ ۵۹۰۷، تحت قوله تعالی: ﴿لایستطیعون حیلة﴾ (سورة النساء: الاية:۹۸). والله ﷻ اعلم.

د دعاء په اخر کي د سبحان ربک پر ځای د ربنا ویلو حکم

سوال: ډېر کسان د لمانځه څخه وروسته د دعاء په اخر کي ((سبحان ربک رب العزة)) **پر ځای** ((سبحان ربنا رب العزة)) **وايي ايا په دغو الفاظو دعاء ختم کول درست دي؟ که درست وي نو د ربنا د بدلولو حکم څه دئ؟**

الجواب: په مبارکو احاديثو او نصوصو کي پورتنيو کلمو ((سبحان ربک رب العزة عمايصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العلمين)) **د ويلو ډېر فضيلت راغلی دئ همدا رنګه د مبارکو احاديثو څخه دا هم معلوميږي چي هر کار مثلاً د لمانځه، دعاء مجلس وغيره ختم چي په دغو کلماتو سره وي نو د هغه فضيلت ډېر زيات وي، البته د** ((ربک)) **لفظ په** ((ربنا)) **سره بدلول په دعاء کي که څه هم روا دي خو د منصوص لحاظ ساتل ډېر زيات غوره او افضل دئ او په هغه کي د رسول الله ﷺ د سنت اتباع هم ده چي ده مبارک ﷺ به** ((ربک)) **وايه لکه څنګه چي په رواياتو کي ذکر سوی دي.**

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن عبد الله بن زيد بن أرقم عن أبيه رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: من قال في دبر صلاة " سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلامعلى المرسلين والحمد لله رب العالمين " ثلاث مرات فقدا كتال بالجريب الأوفى من الأجر. (رواه الطبرانی فی معجمه الكبير: ۵/ ۲۱۱، مكتبة العلوم والحكم).

په عمل اليوم والليلة کي راځي:

عن أبي سعيد الخدري ﷺ، أن النبي ﷺ كان إذا فرغ من صلاته قال: لا أدري قبل أن يسلم أو بعد أن يسلم يقول : " سبحان ربك رب العزة عما يصفون ، وسلام على المرسلين ، والحمد لله رب العالمين ".

مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

عن أبي سعيد الخدري ﷺ قال : سمعت رسول الله ﷺ غير مرة ولا مرتين يقول في آخر صلاته أو حين ينصرف " سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلامعلى المرسلين والحمد لله رب العالمين ". (مصنف ابن أبي شيبة:١/ ٢٦٩).

په تفسير ماوردي کي راځي:

روى الشعبي قال : قال رسول الله ﷺ : " من سره أن يكتال بالمكيال الأوفى من الأجر يوم القيامة فليقل آخر مجلسه حين يريد أن يقوم : " سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلامعلى المرسلين والحمد لله رب العالمين". (تفسير ماوريدى:٥/ ٧٤- وتفسير ابن ابى حاتم:١٠/ ٣٢٣٤/ ١٨٣٢٢).

په مصنف عبد الرزاق کي راځي:

قال علي ﷺ من سره أن يكتال بالمكيال الأوفى فليقل عند فراغه من صلاته " سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين ". (مصنف عبد الرزاق:٢/ ٢٣٦/ ٣١٩٦).

په طبرانی کي راځي:

كذا نعرف انصراف رسول الله ﷺ بقوله: " سبحان ربک رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العٰلمين" . (المعجم الكبير: ١١/ ١١٥).

په حلية الاولياء كي راځي:

عن على رضي الله عنه قال: من أحب أن يكتال بالمكيال الأولى فليقرأ آخر مجلسه أو حين يقوم " سبحان ربک رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العٰلمين" . (حلية الاولياء: ٧/ ١٢٣، دار الكتاب العربي).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (احكام القرآن للقرطبي: ١٥/ ١٤١، سورة الصافات – والدر المنثور: ٧/ ١٤١، دار الفكر – و روح المعاني: ٢٣/ ١٥٩، دار التراث).

دغه الفاظ په د حكايت په توګه وايي يعني موږ د الله ﷻ خبره نقل كوو هغه ((سبحان ربک ...)) فرمايلي دي او د هغه د فرمان مطابق موږ د هغه پاكي بيانوو لكه په حديث كي چي ((وأنا أول المسلمين وأنا من المسلمين)) **دواړه ويلاى سي، د حديث د الفاظو څخه اقتباس روا دئ.**

په مختصر المعاني كي راځي:

وأما الاقتباس فهو أن يضمن الكلام نظمًا كان أو نثرًا شيئًا من القرآن أو الحديث لاعلى أنه منه ...... ولابأس بتغيير يسير فى اللفظ المقتبس للوزن وغيره. (مختصر المعاني: ١/ ٤٥٦).

په فتاوى فريديه كي راځي:

سوال: څه فرمايي علماء د دين او مفتيان د شريعت د لاندي آيت په هكله: ﴿ فاطر السماوات والأرض أنت وليي في الدنيا والآخرة توفني مسلمًا وألحقني بالصالحين ﴾ **كه په دغه آيت كي كوم څوک د دعا په ځاى كي د جمع صيغى وو وايي يعنى** ((توفنا مسلما والحقنا بالصالحين)) **نو**

ایا دا به کومه گناه وي ځینی کسان وایي چي د جمعې صیغه ویل کفریه کلمات گرځي نو د شریعت حکم ولیکي، مهرباني به مو وي؟

الجواب: دا د اقتباس یو قسم دئ چي په اجماع سره جائز دئ.

قال فی خزانة الأدب ثم اعلم أنه یجوز أن یغیر لفظ المقتبس منه بزیادة ونقصان أو تقدیم أو تأخیر أو إبدال الظاهر من المضمر أو غیر ذلک. (هکذا فی هوامش عقود الدرر:ص ٤٥٠)۔

فقط (فتاوی فریدیه:۱/ ۲٤۰، مایتعلق بالقران والتفسیر). والله تعالیٰ اعلم.

په رمضان المبارک کي د تراویحو څخه وروسته د وترو مخکي د دعاء کولو حکم

سوال: د رمضان په میاشت کي زموږ په مسجد کي له وترو څخه وروسته اجتماعي دعاء کیږي او ځینی کسان په نوافلو مشغوله کیږي، نو ایا د دوی انتظار کول صحیح دي؟

الجواب: زموږ د اکابرینو طریقه دا ده چي د تراویحو څخه وروسته او د وترو څخه مخکي به یې دعا کول او بل دا چي د قرآن کریم د ختم څخه وروسته دعاء قبلیږي لهذا که تاسو د وترو څخه وروسته د دعاء کولو پر ځای د تراویحو څخه وروسته دعاء وکړئ نو ډېره به ښه وي په دغه کي به د ټولو دوستانو خوشحالي هم وي او د انتظار ضرورت او مشقت به هم نه پیښیږي خو بیا هم که څوک په دعاء کي شریک نه سي نو پر هغه بد ویل او له هغه سره اختلاف کول په کار نه دي له هغه څخه باید ځان وساتل سي.

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د تراویحو له ختم څخه وروسته دعاء غوښتل درست دي او مستحب کار دئ او د سلفو او خلفو معمول دي بیا د وترو څخه وروسته دعاء ضروري نه ده یو ځل کافي ده یعنی د تراویحو له ختم څخه وروسته کافي ده. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٤/ ۲٥۳).

همدارنگه ذکر سوي دي صحیح دا ده چي د قرآن کریم له ختم څخه وروسته او همېشه د تراویحو څخه وروسته دعاء مسنون او مستحب ده او په حدیث کي راځي چي دغه وخت د دعاء د قبلېدلو دئ

ځکه نو زمونږ د اکابرو او مشائخو معمول دا دئ چي دعاء تر تراويحو او تر ختم وروسته کوي. (دار العلوم دیوبند: ٤/ ۲۷۱). والله ﷻ اعلم.

د فرض لمنځونو وروسته او د سنتو څخه مخکي د مسئلي د بیانولو حکم

سوال: په ځینو مساجدو کي د فرض لمنځونو وروسته د سنتو څخه مخکي په لنډه توګه یوه مسئله یا یو حدیث بیانیږي ځیني کسان پر هغه اعتراض کوي چي دغه په سنتو کي د ځنډ لامل ګرځي او بدعت دئ لهذا د دغه حکم څه دئ؟

الجواب: د فرض لمنځونو وروسته د سنتو څخه وړاندي د مسئلي په بیانولو یا حدیث بیانولو کي څه حرج نه سته دغه ته بدعت ویل درست نه دي له احادیثو څخه ثابته ده چي نبي کریم ﷺ د فرض لمنځونو څخه وروسته اذکار، دعاګاني وغیره ویل چي یادونه یې مخکي سوي ده، همدارنګه تر فرض لمانځه وروسته نصیحت کول هم ثابت دي.

وګورئ په بخاري شریف کي راځي:

باب يستقبل الإمام الناس إذا سلم: عن سمرة بن جندب ﷺ، قال : كان النبي ﷺ إذا صلى صلاةً ، أقبل علينا بوجهه.

عن زيد بن خالد الجهني ﷺ أنه قال صلى رسول الله ﷺ صلاة الصبح بالحديبية على إثر سماء كانت من الليلة فلما انصرف أقبل على الناس ، فقال : هل تدرون ماذا قال ربكم قالوا الله ورسوله أعلم قال: أصبح من عبادي مؤمنبي وكافربالكوكب ، مطرنا بفضل الله ورحمته فذلك مؤمنبي وكافربالكوكب ، وأما من قال: مطرنا بنوء كذا وكذا فذلك كافربي ومؤمنبالكوكب. (رواهما البخاري: ١/ ١١٧/ ٨٣٧، ٨٣٨، فيصل).

علامه عینی رحمة الله علیه د دې شرح کوي او فرمایي:

والحكمة في استقبال المأمومين أن يعلمهم ما كانوا يحتاجون إليه، كذا قيل قلت: فعلى هذا كان ينبغي أن يفعل هذا من كان حاله مثل حال النبي ﷺ من قصد التعليم والموعظة.

(عمدة القاری:٤/ ٦١٨، دار الحدیث، ملتان – وهکذا فی فتح الباری:٢/ ٣٣٤، دار نشر الكتب الإسلامية). والله ﷻ اعلم.

د حضرت عائشې رضي الله عنها د روایت مطلب

سوال: په حدیث شریف کي راځي چي ((كان النبي ﷺ لا يقعد بعد السلام إلا مقدار ما يقول: اللهم أنت السلام...)) د دغه روایت جواب څه دئ؟ ځکه له دغه څخه معلومیږي چي زیات وخت باید نه کښېني؟

الجواب: علماء له دې څخه څو جوابونه ورکړی دي چي خلاصه يې په لاندي ډول ده:

۱_ دغه روایت له هغو ډېرو صحیحو روایاتو مخالف دئ چي ډېر ځله له انحضرت ﷺ څخه د دې پر خلاف منقول ده.

۲_ دغه حدیث ضعیف دئ په سند کي يې پر درو روایانو کلام دئ.

۱_ ابو خالد الاحمر.

۲_ ابو معاویه الضریر.

۳_ عاصم بن سلیمان الاحول.

۳_ په دغه حدیث شریف کي د ((لا يقعد)) لفظ دئ ((لم يقرء)) نه دئ نو کېدای سي چي دومره اندازه به يې په ناستي ویل او پاته اذکار به يې د ولاړي په حالت کي پوره کول.

۴_ په دغه حدیث کي حقیقي مساوات مراد نه دي بلکي یوه اندازه ده لهذا په دغه اندازه به نور اذکار ویل هم روا وي.

۵_ دا هم ممکنه ده چي د قبلې لوري ته دومره وخت کښېناستی بیا به د مقتدیانو لوري ته متوجه کېدئ او نور اذکار به يې پوره کول.

وګورئ په التحفة المرغوبه کي:

إن قيل: ورد فى حديث مسلم عن عائشة ﷺ .... فما الجواب عنه؟

قلت: لنا أجوبة أربعة:

الجواب الأول: إن هذا الحديث سنده ضعيف، لأن مداره على ثلاثة رجال:

الأول: أبو خالد الأحمر: ...... اتفق أهل العلم بالنقل أن أبا خالد لم يكن حافظًا وأنه روى أحاديث عن الأعمش وغيره لم يتابع عليها، وقال ابن معين: أبو خالد صدوق لكنه ليس بحجة، وقال أبو هشام الرفاعي: هو فى الأصل صدوق لكنه إنما أتى من سوء حفظه فيغلط ويخطىء.

والثاني: أبو معاوية الضرير، .... قال: عبد الله بن أحمد سمعت أبى يقول: أبو معاوية الضرير فى غير حديثه عن الأعمش مضطرب، لايحفظها حفظًا جيدًا، وقال ابن معين: كان يروى عن عبد الله بن عمر مناكير، وقال أبو داؤد: كان أبو معاوية حرجئًا وقال مرة: كان رئيس المرجئة بالكوفة،......

قلت: ومعلوم أن هذا الحديث لمر يروه أبو معاوية عن الأعمش، بل عن عاصم الأحول فيكون مضطربًا.

الثالث: عاصم بن سليمان الأحول .... عن يحيى بن سعيد القطان: لم يكن بالحافظ وقال إدريس: أنا لا أروى عنه شيئًا، وتركه وهيب لأنه أنكر بعض سيرته.

لجواب: الثاني: إن لفظه أنه يم يقعد، وليس أنه لم يقرأ، فجاز أن يكون يقعد هذه القدر ثم يأتي بالأذكار قائمًا.

الجواب الثالث: إن هذا الحديث معارض لجميع الأحاديث الواردة في الذكر والدعاء بعد المكتوبة، المتقدم ذكرها ...... فترجح تلك الأحاديث لكون كثير منها مخرجة في "الصحيحين" وما في "الصحيحين" أصح مما في "صحيح مسلم".

الجواب الرابع: إن قولها: "إلامقدارما يقول: اللّٰهم أنت السلام" ليس المراد به السماواة التحقيقية بل التقريبية .... (مختصر التحفة المرغوبة في أفضلية الدعاء بعد المكتوبة للشيخ محمد هاشم السندی: ص ٤٤، المطبوعات الاسلاميه بحلب).

یہ شرح منیۃ المصلی کی رائے ہے:

وقول عائشة رضي الله عنها مقدار ما يقول ...... يفيد أن ليس المراد أنه كان يقول ذلك بعينه بل كان يقعد زمانًا يسع ذلك المقدار ونحوه من القول تقريبًا فلاينا في ما في الصحيحين عن المغيرة رضي الله عنه أنه ﷺ كان يقول في دبر صلاة مكتوبة: "لا إله إلا الله وحده لاشريك له ...." لأن المقدار المذكور من حيث التقريب دون التحديد قد يسع كل واحد من نحو هذه الأذكار لعدم التفاوت الكثير بينهما وكون التقدير بالتقريب في التخمين دون التحديد والتحقيق. والله اعلم. (شرح منية المصلی:ص ۳۴۲، سهيل اكيدیمی).

دزیات تفصیل لہ پارہ وگوریٔ: ("النفائس المرغوبة في حكم الدعاء بعد المكتوبة" ۱۲، فصل سوم، از مفتی کفایت اللہ صاحب کراچی). واللہ تعالیٰ اعلم.

د فرض لمانځه څخه وروسته بايد امام كوم لوري ته مخ وګرځوي؟

سوال: د فرض لمانځه څخه وروسته امام بايد كوم لوري ته مخ وګرځوي او ولاړ سي؟

الجواب: امام ته اختيار دئ كوم طرفته چي غواړي مخ دي وګرځوي مګر راسته لوری ښه دئ ځكه رسول الله ﷺ هر د خير په كار كي راسته لوری خوښاوي. مګر كله كله يې ږبښودل هم مناسب دي چي خلك يې واجب ونه ګڼي.

وګورئ په مشكوة شريف كي راځي:

عن أنس رضي الله عنه قال النبي ﷺ كان ينصرف عن يمينه. (رواه مسلم).

وعن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: لا يجعل أحدكم للشيطان شيئًا من صلاته يرى أن حقا عليه أن لا ينصرف إلا عن يمينه لقد رأيت النبي ﷺ كثيرًا ينصرف عن يساره. (متفق عليه).

وعن البراء رضي الله عنه قال: كنا إذا صلينا خلف رسول الله ﷺ أحببنا أن نكون عن يمينه يقبل علينا بوجهه قال فسمعته يقول: " رب قنى عذابك يوم تبعث أو تجمع عبادك ". (رواه مسلم

– مشكوة شريف: ۱/ ۸۷، باب الدعاء في التشهد، قديمي كتب خانه).

په ترمذی شريف كي راځي:

عن قبيصة بن هلب عن أبيه رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ يؤمنا فينصرف على جانبيه جميعًا على يمينه وعلى شماله ...... قال أبو عيسى: حديث هلب حديث حسن والعمل عليه عند أهل العلم أنه ينصرف على أي جانبيه شاء إن شاء عن يمينه وإن شاء عن يساره وقد صح الأمران عن النبي ﷺ. (ترمذی شريف: ۱/ ٦٦، باب ماجاء في الانصراف عن يمينه وعن يساره، فيصل).

په درمختار كي راځي:

وخيره في المنية: بين تحويله يمينًا وشمالًا وأمامًا وخلفًا وذهابه لبيته، واستقباله الناس بوجهه ولو دون عشرة. وفي الشامي: لكن التخيير في المنية هو أنه إن كان في صلاة لا تطوع بعدها، فإن شاء انحرف عن يمينه أو يساره أو ذهب إلى حوائجه أو استقبل الناس بوجهه، وإن كان بعدها تطوع وقام يصليه يتقدم أو يتأخر أو ينحرف يمينا أو شمالا أو يذهب إلى بيته فيتطوع ثمة ...... بل في شرح المنية أن انحرافه عن يمينه أولى، وأيده بحديث في صحيح مسلم...... وذكر النووي أنه عند استواء الجهتين في الحاجة وعدمها، فاليمين أفضل لعموم الأحاديث المصرحة بفضل اليمين في باب المكارم ونحوها كما في الحلية. (الدر المختار مع ردالمحتار: ۱/ ۵۳۱، سعید). واللہ ﷻ اعلم.

د لمانځه څخه وروسته د دعاء له پاره د مقتدیانو لوري ته د مخ ګرځولو حکم

سوال: فرضي لمنځونو پر دوه قسمه دي ځینی یې هغه دي چي وروسته یې سنتونه سته او تر ځینو وروسته نه سته له دغو دواړو څخه وروسته امام باید د مقتدیانو لوري ته مخ وګرځوي او که د قبلې لوري ته مخ وګرځوي؟

الجواب: په پوښتل سوی صورت کي دي امام د ټولو لمنځونو څخه وروسته د مقتدیانو لوري ته مخ وګرځوي.

په بخاري شریف کي راځي:

باب يستقبل الإمام الناس إذا سلم:...... عن سمرة بن جندب رضي الله عنه، قال: كان النبي ﷺ إذا صلى صلاةً، أقبل علينا بوجهه. (رواه البخاری: ۱/ ۱۸۱، فیصل کتب خانه).

قال العلامة العينى رحمه الله فى شرح هذا الحديث:

والحكمة في استقبال المأمومين أن يعلمهم ما كانوا يحتاجون إليه، كذا قيل قلت: فعلى هذا كان ينبغي أن يفعل هذا من كان حاله مثل حال النبي ﷺ من قصد التعليم والموعظة، وقيل: الحكمة فيه تعريف الداخل بأن الصلاة انقضت إذ الو استمر الإمام على حاله لأوهم أنه في التشهد مثلا. (عمدة القارى:٤/ ٦١٨، دار الحديث، ملتان).

وقال فى موضع آخر فى شرح هذا الحديث:

وفيه استحباب إقبال الإمام بعد سلامه على أصحابه. (عمدة القارى:٦/ ٢٩٩، دار الحديث ملتان).

په فيض الباري كي راځي:

اعلم أن الإمام إن أراد الانصراف إلى بيته، سلم وانصرف. وإن أراد القعود، فالسنة له أن يستقبل القوم، وبه جزم المصنف رحمه الله، وصرح به الجوزجاني في "مبسوطه". (فيض الباري:٢/ ٣١٦).

حضرت مولانا سرفراز خان صاحب په خزائن السنن كي فرمايي:
د لمانځه څخه د سلام ګرځولو وروسته دي امام مخامخ د مقتديانو طرفته كښېني.

قال فى البحرّ الرائق: إن كان إمامًا وكانت صلاةً يتنفل بعدها فإنه يقوم ويتحول عن مكانه إما يمنةً أو يسرةً أو خلفه والجلوس مستقبلًا بدعة، وإن كان لا يتنفل بعدها يقعد مكانه، وإن شاء انحرف يمينًا أو شمالًا، وإن شاء استقبلهم بوجهه إلا أن يكون بحذائه مصل سواء كان في الصف الأول أو في الأخير والاستقبال إلى المصلي مكروه. (البحر الرائق:١/ ٣٣٥، كوئتة).

او د كومو دعاګانو يادونه چي په حديث كي راځي امام دي د مقتديانو طرف ته كښېني او هغه دي ووايي:

المتانة فى مرمة الخزانة: (ص ١٧٩) كي دي: وقد ثبت أنه ﷺ كان إذا صلى أقبل على أصحابه بوجهه فيحمل ما ورد من الدعاء بعد السلام على أنه كان يقوله بعد أن يقبل على أصحابه بوجهه الشريف فقد كان عليه الصلاة والسلام يسرع الاستقبال إلى المأمومين فكان ينصرف عن يمينه ويساره. (خزائن السنن:١٣٤-١٣٥).

په ترمذی شریف کي راځي:

ولا يؤم قومًا فيخص نفسه بدعوة دونهم فإن فعل فقد خانهم. (رواه الترمذی: ١/ ٨٢).

له دغه روايت ځخه هم اشارتاً معلوميږي چي د مقتديانو طرفته دي مخه کړي او په دعاء کي تول شامل کړي. والله ﷻ اعلم.

د فرض لمانځه ځخه وروسته د ((اللّٰهم انت السلام...)) پرته د دعاء حکم

سوال: که د فرضي لمانځه ځخه وروسته کښېني د ((اللّٰهم انت السلام الخ)) **ځخه پرته کومه بله دعاء ولولي مثلا د** ((اللّٰهم انى اعوذبک من عذاب جهنم)) **نو د هغه حکم څه دئ؟**

الجواب: له احاديثو ځخه معلوميږي چي انحضرت ﷺ به د فرضي لمانځه ځخه وروسته په لنډه توګه دعاء کول په هغه کي به يې کله ((اللّٰهم انت السلام)) **او که بله دعا ويل، لهذا** ((اللّٰهم انى اعوذبک من عذاب جهنم)) **هم ويلای سي، همدارنګه له دې ځخه پرته هم نوري دعاګاني ويل روا دي او د ماثور اتباع ښه ده، ځينو شارحينو دا تاويل کړی دئ، چي د** ((اللّٰهم انت السلام)) **په اندازه به يې مخ د قبلې لوري ته کاوه وروسته به يې د لمونځ کونکو لوري ته مخ ګرځاوه.**

په معارف السنن کي راځي:

وحديث عائشة رضي الله عنها لم يقعد إلا مقدار ما يقول: " اللّٰهم أنت السلام " نص صريح فى المراد وما يتخايل أنه لم يخالفه لم يقوقوته أو لم تلزم دلالته على ما يخالفه فوجب اتباع

هذا النص، ثم إن ذلک تقريب، فقد يزيد قليلا وقد ينقص قليلا، وقد يدرج وقد يرتل ثم إنه لم يثبت مواظبته على ذكر خاص، فكان يقول تارةً هذا وتارةً ذلک .... (معارف السنن:۳/ ۱۱۹، بيان الأذكار بعد السلام، سعيد كمپنى).

په بخاري شريف کي راځي:

عن المغيرة بن شعبة ﷺ أن النبي ﷺ كان يقول في دبر كل صلاة مكتوبة: " لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قديراللّٰهم لا مانع لما أعطيت ، ولا معطي لما منعت ، ولا ينفع ذا الجد منك الجد " . (بخارى شريف:۱/ ۱۱٦، باب الذكر بعد الصلاة).

په ترمذی شريف کي راځي:

عن عائشة ﷺ قالت: كان رسول الله ﷺ إذا سلم لايقعد إلا مقدار ما يقول اللّٰهم أنت اسلام ...... الخ، وفى رواية عن النبي ﷺ أنه يقول بعد التسليم: " لا إله إلا الله وحده ......للّٰهم لا مانع لا أعطيت ......" وروي أنه كان يقول: " سبحان ربك رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين ". (ترمذى شريف:۱/ ٦٦، باب مايقول إذا سلم). والله ﷻ اعلم.

له فرائضو وروسته په سنتونو کي مشغوله کېدل ښه دي؟

سوال: له کومو فرائضو څخه وروسته چي سنتونه دي ځيني امامان تر هغه وروسته اوږدي اوږدي جهري دعاګاني کوي د هغه حکم څه دئ؟

الجواب: له کومو فرائضو وروسته چي سنتونه دي له هغو فرائضو وروسته بايد په لنډه دعاء کفايت وسي او په سنتونو او نوافلو کي مشغول سي، لهذا کوم امامان چي اوږدي دعاګاني کوي دوی بايد

داسي ونه كړي چي د سنتو او فرضو تر منځ زياته فاصله رانه سي او د مسبوقينو په لمانځه كي خلل نه وي.

وګورئ محدث العصر علامه حضرت بنوري رحمة الله عليه په معارف السنن كي فرمايي:

قال الشيخ فى فتح القدير فى " باب النفل:١/ ٣١٣-٣١٤" ما ملخصه : أن المسنون عدم الفصل بين الفريضة والسنن إلا قدرما يقول: " اللّٰهم أنت السلام كما فى حديث عائشة رضي الله عنها عند مسلم والترمذى وهو الذى ذكره فى شرح الحاكم الشهيد وذكره البقالى...... وما ثبت عنه أنه ﷺ أنه كان يقول: "لا إله إلا الله وحده لاشريک له الخ " وأنه أرشد فقراء المهاجرين إلى التسبيحات وأخواتها ثلاثاً وثلاثين وغير ذلک دبر الصلاة فلا يقتضى وصلها بالفريضة بل يصح كونها دبرالصلاة إذا كان عقيب السنة من غير اشتغال بما هو ليس من توابع الصلاة ...... وما ذكره الحلوانى من أنه لابأس بأن يقرأ الأوراد بين الفريضة والسنة فمفاده أيضا أن الأولى أن لايقرأها ...... انتهى ملخصا ...... وتحقيق الشيخ ابن الهمام هذا يطمئن إليه القلب أكثرمما يطمئن إلى ما أفاده الشاه ولى الله رحمة الله عليه فى " حجة الله البالغة" فى أذكار الصلاة من الجزء الثانى من ذكره أذكارًا كثيرةً ثم قال: الأولى أن يأتى بها قبل الرواتب الخ........ (معارف السنن:٣/ ١١٨-١١٩، باب ما يقول إذا سلم، سعيد كمپنى).

په درمختار كي راځي:

ويكره تأخير السنة إلا بقدر اللّٰهم أنت السلام الخ قال الحلواني: لا بأس بالفصل بالأوراد واختاره الكمال. قال الحلبي إن أريد بالكراهة التنزيهية ارتفع الخلاف قلت: وفي حفظي حمله على القليل، وفى الشامى: قوله لابأس بالفصل الوارد أى القليلة التى بمقدار اللّٰهم أنت

السلام. (الدر المختار مع الشامي:١/ ٥٣١، سعيد - وحاشية الطحطاوى على مراقي الفلاح: ٣١١، قديمى - وفتاوى محمودية:٥/ ٦٨٠، جامعة فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

د فرائضو او سنتونو تر منځ د مسنونه اذكارو د ويلو گنجائش سته؟

سوال: ايا په اكابرينو كي يو چا د فرائضو وروسته د سنتونو څخه مخكي د تسبيحات فاطمي او اذكار مسنونه ويلو ته ترجيح وركړي ده او كه نه؟

الجواب: زموږ په بزرگانو كي حضرت شاه ولى الله محدث دهلوى، حضرت مولانا شبير احمد عثماني، شيخ محمد هاشم تتوي سندي او حضرت شيخ عبد الفتاح ابو غده رحمهم الله تعالى دغو حضراتو له فرائضو وروسته د سنتونو څخه وړاندي د اذكار مسنونه ويلو ته ترجيح وركړي ده.

وگورئ حضرت شاه ولى الله په حجة الله البالغه كي فرمايي:

والأدعية كلها بمنزلة أحرف القرآن، من قرأ منها شيئًا فاز بالثواب الموعود، والأولى أن يأتى بهذه الأذكار قبل الرواتب، فإنها جاء فى بعض الأذكار ما يدل على ذلك نصًا، كقوله: من قال قبل أن ينصرف ويثنى رجليه من صلاة المغرب والصبح: " لا إله إلا الله ..... الخ، وكقول الراوى: كان إذا سلم من صلاته يقول بصوته الأعلى: لا إله إلا الله ..... الخ، قال ابن عباس ﵄: كنت أعرف انقضاء صلاة رسول الله ﷺ بالتكبير، وفى بعضها مايدل ظاهراً كقوله: دبر كل صلاة، وأما قول عائشة ﵂ كان إذا سلم لم يقعد إلا مقدار مايقول: " اللّٰهم أنت السلام .....الخ، فيحتمل وجوهًا:

منها: أنه كان لايقعد بهيئة الصلاة إلا هذا القدر، ولكنه يتيامن ويتياسر، أو يقبل على القوم بوجهه، فيأتى بالأذكار، لئلايظن الظان أن الأذكار من الصلاة.

ومنها: أنه كان حينًا بعد حين يترک الأذكار غير هذه الكلمات، يعلمهم أنها ليست فريضة، وإنما مقتضى هذا كان وجود هذا الفصل كثيراً، لامرة ولامرتين، ولا المواظبة، والأصل في الرواتب أن يأتي بها في بيته، والسر في ذلک كله أن يقع الفصل بين الفرض والنوافل بما ليس من جنسها، وأن يكون فصلًا معتداً به يدرک بادي الرأي، وهو قول عمر رضي الله عنه لمن أراد أن يشفع بعد المكتوبة: اجلس فإنه لم يهلک أهل الكتاب إلا أنه لم يكن بين صلواتهم فصل، فقال النبي ﷺ: " أصاب الله بک يا ابن الخطاب" وقوله ﷺ: " اجعلوها في بيوتكم".

(حجة الله البالغة:۲/ ۵۱-۵۲، مكتبة حجاز ديوبند).

شيخ الاسلام حضرت مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله په فتح الملهم کي د شاه ولي الله د ذکر سوی عبارت د ذکر کولو څخه وروسته فرمايي:

قلت: فالإتيان بشيء من الأذكار والأدعية المأثورة بعد الفرائض متصلًا بها هو الراجح في نظري، فإنه يفيد فصلًا زمانيًا بين الفريضة والنافلة، كما أن التحول من موضع الفريضة يفيد فصلًا مكانيًا. والله اعلم. (فتح الملهم:٤/ ٢٤٨، باب استحباب الذكر بعد الصلاة).

شيخ محمد هاشم تتوی سندی په مختصر التحفة المرغوبة کي فرمايي:

قد علمت مما ذكرنا في الباب الأول أن أصل الدعاء بعد المكتوبة سنة مستحبة، بقي الكلام في أن الدعاء بعد المكتوبة قبل السنة هل هو مكروه أم لا؟

فنقول: الأحاديث التي قدمناها في الباب الأول كلها تدل بظاهرها أن دعاء النبي ﷺ كان بعد السلام مباشرة، قبل أن يصلي السنن الرواتب، كما هو المتبادر من قول رواة تلک

الأحاديث: (إذا سلم)، (إذا انصرف)، و (إذا) هذه المتبادرة، (دبر كل صلاة مكتوبة)، ونحو ذلک من الألفاظ.

وكثير من تلک الأحاديث يصرح رواتها من الصحابة بأنهم سمعوا النبی ﷺ يدعو بتلک الدعوات كتوبة، ومعلوم أن النبی ﷺ كان من هديه أداء السنن الرواتب والنوافل فی البيت، دون المسجد، فلو لا أن النبی ﷺ أتى بتلک الدعوات بعد المكتوبة مباشرة، قبل أن ينصرف إلى بيته لما سمعوها من النبی ﷺ كماهو ظاهر.

وأما أن النبی ﷺ كان يصلی السنن والنوافل فی البيت فتدل عليه أحاديث: ذكر منها أربعة. (مختصر التحفة المرغوبة للشيخ محمد هاشم التتوی السندی:ص ٤١-٤٦، الباب الثانی فی أن الدعاء بعد المكتوبة قبل السنة جائز بلا كراهة بل هو أفضل من أن يكون بعد السنة، مندرجة فی "ثلاث رسائل فی استحباب الدعاء ورفع اليدين فيه بعد الصلوات المكتوبة" حلب). والله ﷻ اعلم.

د لمانځه څخه وروسته پر تندی لاس ایښودل او دعاء ویلو ثبوت

سوال: د لمانځه څخه وروسته پر تندی لاس نیول او دعاء ویل ثابت دي او که نه؟

الجواب: د لمانځه څخه وروسته پر تندی لاس نیول او دغه دعاء ویل چي ((بسم الله الذی لا اله الاهو الرحمن الرحیم، اللّٰهم اذهب عنی الهم والحزن)) **د نبي کریم ﷺ څخه ثابته ده او باید وویل سي که څه هم حدیث ضعیف دئ.**

وګورئ په حلية الاولياء کي راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ إذا سلم من صلاته مسح جبهته بيده اليمنى وقال: "بسم الله الذي لا إله إلا هو الرحمٰن الرحيم اللّٰهم اذهب عن الهم والحزن"

غريب من حديث معاوية تفرد به عنه زيد العمى وهو أوب الحوارى زيد بن الحوارى بصري فيه لين. (حلية الاولياء:٢/ ٣٠١، فى ترجمة معاوية بن قرة، دار الفكر).

(عمل اليوم والليلة:ص ٣١، باب ما يقول فى دبر صلاة الصبح – ومجمع الزوائد: ١٠/ ١١٠،باب الدعاء فى الصلاة وبعدها، وقال الهيثمى: رواه الطبرانى فى الأوسط والبزار بنحوه بأسانيد وفيه زيد العمي وقد وثقه غير واحد وضعفه الجمهور، وبقية رجال أحد إسنادى الطبرانى ثقات، وفى بعضهم خلاف،دار الفكر – والدعاء للطبرانى:١/ ٢١٠ – ومعجم الأوسط للطبرانى:٣/ ٢٤٣/ ٢٥٢٠، مكتبة المعارف الرياض). **(د دې روايت تحقيق په ((ابواب الحديث)) کې تېر سوی دئ).**

په فتاوی دار العوم ديوبند کې دي:

د فرائضو څخه وروسته پر سر لاس ايښودل او دغه دعاء ويل په حصن حصين کې راغلي دي او حديث يې هم په هکله منقول دئ. (فتاوی دار العلوم ديوبند:٢/ ٢١١، مدلل ومكمل، دار الاشاعت- وفتاوی حقانيه:٣/ ١٠٢، باب سنن الصلاة، دار العلوم حقانيه). الله ﷻ اعلم.



قال الله تعالٰی

﴿ ورتل القرآن ترتيلًا ﴾

﴿ وقال رسول الله ﷺ: زينوا القرآن باصواتكم ﴾

پنځم .... باب

د قرائت او تجويد او قاري د خطاء وتلو بيان

که يې د قرائت په منځ کي سجده تلاوت وکړل او بيا يې وروسته تلاوت وايه نو د استعاذي حکم

سوال: که کوم څوک د تلاوت په منځ کي د تلاوت سجده وکړي او بيا وغواړي چي تلاوت جاري وساتي نو اعوذ بالله به وايي او که نه؟

الجواب: که د تلاوت په منځ کي د قرائت اړوند په کوم کار مشغول سي نو بيا د اعوذ بالله ويلو ضرورت نه سته او که يې د قرائت سره اړه نه لرل نو دوهم ځل اعوذ بالله ويل سنت دي او په ظاهره سجده تلاوت د قرائت سره اړه لري ځکه له تلاوت څخه واجب سوي ده لهذا دوهم ځل استعاذه ويل سنت نه ده.

وګورئ د منية المصلي په شرح کي راځي:

((والتعوذ يستحب مرة واحدة مالم يفصل بعمل دنيوى))(شرح منية المصلى،ص:٤٩٥).

په معارف القرآن کي راځي:

د قرآن کريم تلاوت که په لمانځه کي وي او که د لمانځه دباندي وي په دواړو صورتونو کي د تلاوت څخه مخکي اعوذ بالله ويل سنت دي مګر که يې يو ځل وويل نو وروسته چي يې څومره وايي همهغه يو ځل اعوذ بالله ويل کافي دي، البته که يې تلاوت په منځ کي پرېښود په کوم دنيايي

کار مشغول سو او بیا یې دوهم ځل شروع کړنو بیا به دوهم ځل تعوذ او بسم الله وایي. (معارف القرآن:۵/ ۳۸۹).

په الاتقان کي راځي:

قال: وإذا قطع القراءة إعراضًا أو بكلام أجنبي ولو رد السلام استأنف(الاستعاذه) ولو يتعلق بالقراءة فلا. (الاتقان فی علاوم القرآن:۱/ ۲۹۳، اداء ب التلاوة، بيروت).

په النشر کي راځي:

إذا قطع القارى القراءة لعارض من سوال أو كلام يتعلق بالقراءة لم يعد الاستعاذة وذلك بخلاف ما إذا كان الكلام أجنبيًا ولورد السلام فإنه يستأنف الاستعاذة وكذا لو كان القطع إعراضًا عن القراءة كما تقدم، والله اعلم. (النشر فى اقراءات العشر:۱/ ۲۵۹). والله ﷻ اعلم.

الرحمن الرحيم د رب العلمين سره د يو ځای ويلو حکم

سوال: په سورة فاتحه کي ((الرحمن الرحيم))د((رب العلمين)) سره يو ځای کول ښه دي او که پر هر آيت وقف کول په کار دي؟

الجواب: دا مسئله اختلافي ده د ځينو په اند پر هر آيت وقف کول ښه دي په هغه کي د نبي کريم ﷺ د طريقي اتباع ده او د جهمورو په اند وصل افضل دئ.

وګورئ په ترمذي شريف کي راځي:

عن أم سلمة رضي الله عنها قالت: كان رسول الله ﷺ يقطع قراءته يقرأ: ﴿الحمد لله رب العالمين﴾ ثم يقف ﴿الرحمن الرحيم﴾ ثم يقف....... (رواه الترمذی:۲/ ۱۲۰، ابواب القراءات، فيصل).

فی عرف الشذی: ویدل حدیث الباب علی الوقف علی کل آیة ، ویقال: لهذه الأوقاف أوقاف النبي ﷺ، والوقف علی هذه الأوقاف : مستحب ، وذکر الجزري رحمة الله علیه أن الوقف مستحب . (العرف الشذی علی سنن الترمذی:۲/ ۱۲۰).

په مسلم شريف کي راځي:

عن أبی هریرة رضي الله عنه عن النبی ﷺ: ..... " قال الله تعالى: قسمت الصلاة بینی وبین عبدی نصفین ولعبدی ما سأل فإذا قال العبد ﴿ الحمد لله رب العالمین ﴾. قال الله تعالى: حمدنی عبدی وإذا قال ﴿ الرحمن الرحیم ﴾. قال الله تعالى: أثنی علی عبدی. (رواه مسلم:۱/ ۱۷۰، باب وجوب قراءة الفاتحه فی کل رکعة، فیصل).

په جمع الوسائل کي راځي:

(ثم یقول ﴿ الرحمن الرحیم ﴾ ثم یقف) والحاصل أنه کان یقف علی رءوس الآي : تعلیمًا للأمة ، ولو فیه قطع الصفة عن الموصوف ، ومن ثمه قال البیهقي: والحلیمي ، وغیرهما یسن أن یقف علی رءوس الآي : وإن تعلقت بما بعدها للاتباع فقدح بعضهم في الحدیث بأن محل الوقف یوم الدین غفلةً عن القواعد المقررة في کتب القراء إذ أجمعوا علی أن الوقف علی الفواصل وقفحسن، ولو تعلقت بما بعدها ، وإنما الخلاف في أن الأفضل هل الوصل أو الوقف فالجمهور کالسجاوندي وغیره علی الأول ، والجزري علی الثاني ، وکذا صاحب القاموس حیث قال : صح أنه ﷺ وقف علی رأس کل آیة ، وإن کان متعلقًا بما بعده ، وقول بعض القراء الوقف علی ما ینفصل فیه الکلام أولی غفلةً عن السنة ، وأناتباعه ﷺ هو الأولی، والأعدل عدم العدول عما ورد في خصوص الوقف متابعةً . (جمع الوسائل فی شرح

الشمائل:۲/ ۱۱۲، باب ماجاء فی قراءة رسول الله ﷺ، ادارة تالیفات اشرفیه – وکذا فی المرقات:۵/ ۱۱، مکتبة امدادیه).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په سورة فاتحه کي پر هر آیت وقف کول افضل دي. (احسن الفتاوی:۳/ ۸۲، باب القراءة). والله ﷻ اعلم.

که د آیت معنی پوره نه وي له هغه سره سره وقف کول

سوال: چي کله د آیت معنی پوره نه وي، نو پر هغه د وقف کولو حکم څه دئ؟ مثلاً پر والعصر وقف کول وغیره؟

الجواب: ملا علي القاري رحمه الله په جمع الوسائل فی شرح الشمائل کي د ام سلمي رضي الله عنها تر حدیث لاندي لیکي دي چي د آیت په اخر کي د ځینو په اند وقف کول ښه دي ځکه په هغه کي د رسول الله ﷺ اتباع ده، البته د جمهورو په اند وصل ښه دئ.

وګورئ په جمع الوسائل فی شرح الشمائل کي راځي:

(ثم يقول ﴿ الرحمن الرحيم ﴾ ثم يقف) والحاصل أنه كان يقف على رءوس الآي : تعليمًا للأمة ، ولو فيه قطع الصفة عن الموصوف ، ومن ثمه قال البيهقي: والحليمي ، وغيرهما يسن أن يقف على رءوس الآي : وإن تعلقت بما بعدها للاتباع فقدح بعضهم في الحديث بأن محل الوقف يوم الدين غفلةٌ عن القواعد المقررة في كتب القراء إذ أجمعوا على أن الوقف على الفواصل وقفحسن، ولو تعلقت بما بعدها ، وإنما الخلاف في أن الأفضل هل الوصل أو الوقف فالجمهور كالسجاوندي وغيره على الأول ، والجزري على الثاني ، وكذا صاحب القاموس حيث قال : صح أنه ﷺ وقف على رأس كل آية ، وإن كان متعلقًا بما بعده ، وقول بعض القراء الوقف على ما ينفصل فيه الكلام أولى غفلةٌ عن السنة ، وأناتباعه ﷺ هو

الأولى، والأعدل عدم العدول عما ورد في خصوص الوقف متابعةً . (جمع الوسائل فی شرح الشمائل: ۲/ ۱۱۲، باب ماجاء فی قراءة رسول الله ﷺ، ادارة تالیفات اشرفیه – وکذا فی المرقات: ۵/ ۱۱، مکتبة امدادیه). والله ﷻ اعلم.

د جمعې په لمانځه کې مستحب قرائت

سوال: د جمعې په لمانځه کې د کومو سورتونو ويل مستحب دي؟

الجواب: د جمعې په لمانځه کې په لومړی رکعت کې سوره اعلی او په دوهم رکعت کې سورة غاشية يا په لومړی کې سورة جمعه او په دوهم کې سورة منافقون همدارنګه په لومړی رکعت کې سورة جمعه او په دوهم کې سورة غاشيه ويل په احاديثو کې راغلي دي او مستحب دي خو کله يې پرېښودل هم مناسب دي، البته زيات وخت د مستحب رعايت کول ښه دي.

وګورئ په مسلم شريف کې راځي:

عن ابن أبی رافع قال استخلف مروان أبا هريرة ﷺ على المدينة وخرج إلى مكة فصلى لنا أبو هريرة ﷺ يوم الجمعة فقرأ بعد سورة الجمعة فی الركعة الآخرة إذا جاءك المنافقون، قال: فأدركت أبا هريرة ﷺ حين انصرف فقلت له إنك قرأت بسورتين كان على بن أبى طالب يقرأ بهما بالكوفة. فقال أبو هريرة ﷺ: إنی سمعت رسول الله ﷺ يقرأ بهما يوم الجمعة.

عن النعمان بن بشير ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يقرأ فی العيدين وفی الجمعة بسبح اسم ربک الأعلى وهل أتاک حديث الغاشية. وعن عبيد الله بن عبد الله قال: كتب الضحاک بن قيس إلى النعمان بن بشير ﷺ يسأله أی شیء قرأ رسول الله ﷺ يوم الجمعة سوى سورة الجمعة فقال كان يقرأ هل أتاك حديث الغاشية. (صحيح مسلم شريف: ۱/ ۲۸۷ – ۲۸۸، فيصل – وكذا فی جامع الترمذی: ۱/ ۱۱۷، باب ماجاء فی القراءة فی صلاة الجمعة، فيصل – وسنن أبی

داؤ:۱/ ۱۵۹، باب مایقرأ فی الجمعة، فیصل — وسنن النسائی:۱/ ۲۰۹، کتاب الجمعة قدیمی — وسنن ابن ماجه: ص ۷۸، قدیمی — والسنن الکبری للبیهقی:۳/ ۲۰۰، باب القراءة فی صلاة الجمعة، دار المعرفة ومصنف ابن ابی شیبة:٤/ ۱۳٦، مایقرأ به فی صلاة الجمعة، المجلس العلمی).

د بخاري په شرحه عمدة القاري کي راځي:

قلت: أكثر العلماء على أن: كان لا يقتضي المداومة، والدليل على ذلك ما رواه مسلم من حديث النعمان بن بشير ﷺ قال: الخ ..... قلت: الكوفيون مذهبهم كراهة قراءة شيء من القرآن مؤقتة لشيء من الصلوات أن يقرأ سورة السجدة وهل أتى في الفجر كل جمعة. وقال الطحاوي رحمه الله معناه إذ رآه حتمًا واجبًا لا يجزىء غيره أو رأى القراءة بغيرها مكروهة، أما لو قرأها في تلك الصلاة تبركًا أو تأسيًا بالنبي ﷺ أو لأجل التيسير فلا كراهة وفي المحيط: بشرط أن يقرأ غير ذلك أحيانًا لئلا يظن الجاهل أنه لا يجوز غيره. (عمدة القاری شرح صحیح البخاری:٥/ ۳٦، باب مایقرأ فی صلاة الفجر یوم الجمعة، دار الحدیث).

په درمختار کي راځي:

ويكره التعيين كالسجدة و هل أتى لفجر كل جمعة، بل يندب قراءتهما أحيانًا ..... وفي الشامي: وعلله في الهداية بقوله لما فيه من هجر الباقي وإيهام التفضيل (قوله بل يندب قراءتها أحيانًا) وفي فتح القدير: لأن مقتضى الدليل عدم المداومة لا المداومة على العدم كما يفعله حنفية العصر، فيستحب أن يقرأ ذلك أحيانًا تبركًا بالمأثور، فإن لزوم الإيهام ينتفي بالترك أحيانًا . (شامی:۱/ ٥٤٤، فصل فی القراءة، سعید).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (بدائع الصنائع:۱/ ۲٦۹، فصل فی مقدار القراءة، سعید — واوجز المسالک:۲/ ٤۸۹، کتاب الجمعة، دار القلم). والله ﷻ اعلم.

د جمعې په سهار کې پر سورة سجده او سورة دهر د همېشه والي حکم

سوال: ايا د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کې يوازې سورة سجده او سورة دهر ثابت دي له دې څخه پرته ثابت نه دي او پر دغه همېشه توب کول څنګه دي؟

الجواب: د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کې د سورة سجده او سورة دهر ويل مستحب دي او د حديث څخه ثابت دي، البته همېشه توب ثابت نه دي له دې څخه پرته نور سورتونه ويل هم ثابت دي، بلکې علامه شامي رحمه الله ليکلي دي چې پر مستحب باندې همېشه توب مکروه دئ، لهذا کله کله يې پرېښودل هم مناسب دي، همدارنګه په نورو رواياتو کې هم مذکور دي چې د هر هغه سورة ويل هم ثابت دي چې په هغه کې د سجدې آيت وي.

په بخاري شريف کې راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: كان النبي ﷺ يقرأ في الجمعة في صلاة الفجر [الم تنزيل] السجدة، و [هل أتى على الإنسان].

(رواه البخاري: ١/ ١٢٢/ ٨٨١، باب مايقرأ فى صلاة الفجر يوم الجمعة ومسلم عنه رضي الله عنه: ١/ ٢٨٨، باب فى قراءة الم تنزيل وهل أتى فى صلاة الفجر يوم الجمعة – والترمذى عن ابن عباس رضي الله عنه: وقال حديث ابن عباس رضي الله عنه حديث حسن صحيح، ١/ ١١٧، باب ماجاء فى مايقرأ فى صلاة الصبح يوم جمعة – وأبو داؤد عن ابن عباس رضي الله عنه: ١/ ١٥٤، باب مايقرأ فى صلاة الصبح يوم الجمة – والنسائى عن ابى هريرة رضي الله عنه وابن عباس رضي الله عنه: ١/ ١٥١، القراءة فى الصبح يوم الجمعة – وابن ماجه عن ابن عباس رضي الله عنه وابى هريرة رضي الله عنه وابن مسعود رضي الله عنه وسعد رضي الله عنه: ص ٥٩، باب القراءة فى صلاة الفجر يوم الجمعة – وأحمد فى مسنده عن ابن عباس رضي الله عنه: ٧/ ٤٠٩/ ٣٣٨٣ – وابن أبى شيبة: ٤/ ١٣٤/ ٥٤٩٠، المجلس العلمى).

په عرف الشذى کې راځي:

السور المأثورة في الصلوات مستحبة اعتيادها عندنا كما في البحر والحلية ، ويدعها مرةً أو مرتين كيلا يفسد عقائد من خلفه من عدم صحة هذه الصلاة بدون هذه السور . (العرف الشذي على هامش الترمذي:١/ ١١٦).

د بخاري په شرحه په عمدة القاری کي راځي:

قلت: أكثر العلماء على أن: كان لا يقتضي المداومة، والدليل على ذلك ما رواه مسلم من حديث النعمان بن بشير رضي الله عنه قال: الخ ..... قلت: الكوفيون مذهبهم كراهة قراءة شيء من القرآن مؤقتة لشيء من الصلوات أن يقرأ سورة السجدة وهل أتى في الفجر كل جمعة. وقال الطحاوي رحمه الله معناه إذ رآه حتمًا واجبًا لا يجزيء غيره أو رأى القراءة بغيرها مكروهة، أما لو قرأها في تلك الصلاة تبركًا أو تأسيًا بالنبي ﷺ أو لأجل التيسير فلا كراهة وفي المحيط: بشرط إن يقرأ غير ذلك أحيانًا لئلا يظن الجاهل أنه لا يجوز غيره. (عمدة القارى شرح صحيح البخارى:٥/ ٣٦، باب مايقرأ فى صلاة الفجر يوم الجمعة، دار الحديث).

په درمختار کي راځي:

ويكره التعيين كالسجدة و هل أتى لفجر كل جمعة، بل يندب قراءتهما أحيانًا ..... وفي الشامي: وعلله في الهداية بقوله لما فيه من هجر الباقي وإيهام التفضيل (قوله بل يندب قراءتها أحيانًا) وفي فتح القدير: لأن مقتضى الدليل عدم المداومة لا المداومة على العدم كما يفعله حنفية العصر، فيستحب أن يقرأ ذلك أحيانًا تبركًا بالمأثور، فإن لزوم الإيهام ينتفي بالترك أحيانًا . (شامى:١/ ٥٤٤، فصل فى القراءة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په ځينو رواياتو کي د همېشه توب يادونه سته د هغه جواب

سوال: له ځینو روایاتو څخه معلومیږي چې ده مبارک ﷺ به د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کې همېشه سورة سجده او سورة دهر لوستېه.

وګورئ ابن حجر رحمه الله په بلوغ المرام کې دغه حدیث نقل کوي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه: كان رسول الله ﷺ يقرأ في صلاة الفجر يوم الجمعة: [الم تنزيل] و [[هل أتى على الإنسان]] وللطبراني من حديث ابن مسعود: "يديم ذلك". (بلوغ المرام:٨٦/ ٢٨٨، باب صفة الصلاة – ومجمع الزوائد:٢/ ١٦٨، دار الفكر).

حال دا چې فقهاوو ورته مستحب وايي او داسې وايي چې کله کله دې پرېښودل سي د فقهاوو اصلي دلیل په دې هکله څه دئ او د دغه روایت جواب څه دئ؟

الجواب: همېشه توب ثابت نه دئ او د هغه دلیل دا دئ چې د جمعې په سهار د نورو سورتونو د ویلو ثبوت هم سته، مثلاً په ځینو کې راځي چې سورة روم به یې وایه او په ځینو د سورة تبارک یادونه سته.

وګورئ مصنف عبد الرزاق کې دي:

عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: " كان النبي ﷺ يقرأ في صلاة الجمعة ﴿ بسورة الجمعة و سبح اسم ربك الأعلى ﴾ وفي صلاة الصبح يوم الجمعة ﴿الم تنزيل و تبارك الذي بيده الملك﴾" .

(مصنف عبد الرزاق:٣/ ١٨١/ ٥٢٣٨، باب القراءة يوم الجمعة، المجلس العلمى).

په مصنف عبد الرزاق کې راځي:

عن عبد الملك بن عمير أن النبي ﷺ قرأ في الفجر يوم الجمعة بسورة الروم. (مصنف عبد الرزاق:٢/ ١١٧/ ٢٧٣٠، باب القرائة فى صلاة الصبح).

له همدې امله فقهاوو مستحب لیکلي دي که نه دوام خو د وجوب او یا سنت موکده کېدلو علامه ده او د مستحب درجه له دواړو وروسته ده.

د روایت جواب: په دې هکله دوه روایتونه موندل کیږي:

۱_ کان یقرأ فی کل جمعة.

۲_ یدیم ذالک.

دلومړی روایت جواب دا دئ چي په هغه کي يو راوي ډېر ضعيف دئ او په بل روايت کي له دوام څخه کثرت مراد دئ يعنی اکثره به يې د جمعې په لمانځه کي د دغو سورتونه تلاوت ده مبارک ﷺ کاوه.

وګورئ په مجمع الزوائد کي راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنه قال: کان رسول الله ﷺ يقرأ في کل جمعة في صلاة الغداة، الـم تنزيل الکتاب و هل أتى على الإنسان. قلت: هو في الصحيح خلا قوله: في کل جمعة، رواه الطبراني في الکبير وفيه حماد بن شعيب وهو ضعيف جداً. (مجمع الزوائد:۲/ ۱۶۸، باب ما يقرأ فيهما، دار الفکر).

د سنت مؤکده او واجب تعريف:

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قال في البحر: والذي ظهر للعبد الضعيف أن السنة ما واظب عليه النبي لکن إن کانت لا مع الترك فهي دليل السنة المؤکدة، وإن کانت مع الترك أحيانًا فهي دليل غير المؤکدة، وإن اقترنت بالإنکار على من لم يفعله فهي دليل الوجوب فافهم هذا فإن به يحصل التوفيق.

(شامی:۱/ ۱۰۵ – مطلب فی السنة وتعريفها، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د جمعې په سهار کي د داسي سورت ويل چي په هغه کي د سجدې آيت وي

په مصنف ابن ابی شيبه کي راځي:

عن إبراهيم رحمه الله، قال: کان يستحب أن يقرأ يوم الجمعة بسورة فيها سجدة. وعن سعيد بن جبير رحمه الله، قال: ما صليت خلف ابن عباس رضي الله عنه يوم الجمعة الغداة، إلا قرأ سورةً فيها

سجدة. عن ابن عون ، قال : كانوا يقرؤون يوم الجمعة بسورة فيها سجدة، فسألت محمدًا ، فقال : لا أعلم به بأسًا. (مصنف ابن ابی شیبة:٤/ ۱۳۳، باب من كان يستحب ان يقرأ فى الفجر يوم الجمعة بسورة فيها سجده). والله ﷻ اعلم.

د سهار په لمانځه کي د مختلفو سورتونو د ويلو ثبوت

سوال: د سهار په لمانځه کي د مختلفو سورتونو ويل ثابت دي او که نه؟

الجواب: د سهار په لمانځه کي د مختلفو سورتونو ويل له رواياتو څخه ثابت دي مثلاً سورة ق، سورة الذاريات، سورة تکوير، سورة فتح، سورة مؤمنين، سورة انبياء، سورة کهف، سورة يوسف، سورة بقره، سوة ال عمران، سورة بنی اسرائيل، سورة روم، سورة يونس، سورة هود وغيره، د نبي کريم ﷺ او صحابه کرامو څخه ثابت دي، لهذا د سهار په لمانځه کي بايد له قرآن کريم څخه مختلف سورتونه وويل سي، همدارنګه فقهاوو طوال مفصل (يعنی له سورة حجرات څخه تر سورة بروج) پوري ويل هم مستحب بللي دي.

په نسائي شريف کي راځي:

عن سعيد بن يسار أن بن عباس ﷺ أخبره : أن رسول الله ﷺ كان يقرأ في ركعتي الفجر في الأولى منهما الآية التي في البقرة ﴿ قولوا آمنا بالله وما أنزل إلينا الخ﴾ وفى آخرى ﴿ آمنا بالله واشهد بأنا مسلمون ﴾ وعن رجل من أصحاب النبى ﷺ عن النبى ﷺ أنه صلى صلاة الصبح فقرأ الروم ...... وعن أم هشام بنت حارثة ابن النعمان قالت: ما أخذت ق والقرآن المجيد إلامن وراء رسول الله ﷺ كان يصلى بها فى الصبح. وعن زياد بن علاقة قال: سمعت عمى يقول: صليت مع رسول الله ﷺ الصبح فقرأ فى إحدى الركعتين ﴿ والنخل باسقات لها طلع نضيد﴾ وعن عمرو بن حريث ﷺ قال: سمعت النبى ﷺ يقرأ فى الفجر ﴿ إذا الشمس كورت﴾ . (نسائی شریف:۱/ ۱۵، قدیمی).

په ترمذی شریف کي راځي:

روی عن النبی ﷺ أنه قرأ فی الصبح بالواقعة. (ترمذی شریف: ١/ ٦٧، باب ماجاء فی القراءة فی الصبح).

په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

عن أنس رضي الله عنه؛ أن أبا بكر رضي الله عنه قرأ في صلاة الصبح بالبقرة. و عن الأحنف، قال: صليت خلف عمر رضي الله عنه الغداة، فقرأ بيونس، وهود، ونحوهما. عن زيد بن وهب قال: أن عمر رضي الله عنه قرأ في الفجر با لكهف. وعن عبد الله بن عامر بن ربيعة، قال: سمعت عمر رضي الله عنه يقرأ في الفجر بسورة يوسف. عن أبي عمرو الشيباني، قال: صلى بنا عبد الله الفجر فقرأ بسورتين، الآخرة منهما بنو إسرائيل. وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: صليت خلف على رضي الله عنه صلاة الغداة، فقرأ بيونس وهود. وعن عمرو بن ميمون؛ أن معاذ بن جبل رضي الله عنه صلى الصبح باليمن فقرأ بالنساء. وعن عبيدة رضي الله عنه؛ أنه كان يقرأ في الفجر [الرحمن]، ونحوها. عن توبة العنبري؛ أنه سمع أبا سوار القاضي، قال: صليت خلف ابن الزبير رضي الله عنه الصبح فسمعته يقرأ: ﴿ألم تر كيف فعل ربك بعاد. إرم ذات العماد﴾. وعن الوليد بن جميع، قال: صليت خلف إبراهيم رحمه الله، فكان يقرأ في الصبح بـ: ﴿يس﴾ وأشباهها. (مصنف ابن ابی شیبة: ٣/ ٢١٨، باب مایقرأ فی صلاة الفجر، المجلس العلمی).

د سهار په لمانځه کي د طوال مفصل د ويلو ثبوت:

په ترمذی شریف کي راځي:

وروي عن عمر رضي الله عنه أنه كتب إلى أبي موسى رضي الله عنه أن اقرأ في الصبح بطوال المفصل.

(ترمذی شریف: ١/ ٦٧، باب ماجاء فی القراءة فی الفجر).

په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

وعن الضحاك بن عثمان، قال: رأيت عمر بن عبد العزيز رحمه الله قرأ في الفجر بسورتين من طوال المفصل. (مصنف ابن ابی شیبة:۳/ ۲۲۲، باب مایقرأ فی صلاة الفجر، المجلس العلمی).

په مصنف عبد الرزاق کي راځي:

عن الحسن رحمه الله وغيره قال: كتب عمر رضي الله عنه إلى أبي موسى رضي الله عنه أن اقرأ في المغرب بقصار المفصل وفي العشاء بوسط المفصل وفي الصبح بطوال المفصل. (مصنف عبد الرزاق:۲/ ۱۰٤، باب مایقرأ فی الصلاة).

همدارنګه د فقهي کتابونه وګورئ: (هداية:۱/ ۱۲۰، فصل فی القراءة – وبدائع الصنائع:۱/ ۲۰۵، بیان مقدار المستحب من القراءة، سعید – والفتاوی الهندیة:۱/ ۷۷، الفصل الرابع فی القراءة). والله ﷻ اعلم.

د سورة فاتحې څخه وروسته يوازي د ﴿ فإذا فرغت فانصب الخ﴾ ويل

سوال: يو چا په لمانځه کي د سورة فاتحې څخه وروسته يوازي دومره وويل: ﴿ فإذا فرغت فانصب (۷) وإلى ربك فارغب﴾، نو ايا لمونځ يې اداء سو او كه نه؟

الجواب: د سورة فاتحې څخه وروسته لږ تر لږه قرائت چي په هغه سره واجب اداء سي درې کوچنی آياتونه يا يو غټ آيت وي كه يې له دروآياتونو څخه لږ ووايه نو لږ تر لږه بايد دېرش حروف وي لکه په پوښتل سوي صورت کي يې يوازي دوه آياتونه لوستی دي چي د حروفو مجموعه يې (۲٦) ده، لهذا د واجب اندازه نه ده اداء سوي د لمانځه راګرځول ورباندي واجب دي.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

ويجب ضم سورة قصيرة أو ثلاث آيات قصار لقوله ﷺ " لا صلاة لمن لم يقرأ بالحمد لله " وسورة في فريضة أو غيرها". (أخرجه الترمذی فی أبواب الصلاة باب ماجاء فی تحريم الصلاة

وتحليلها:۳/ ۳/ ۲۳۸) – (امداد الفتاح مع الحاشية: ص ۲۷۵، فصل في واجبات الصلاة وكذا في حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح: ص ۲٤۸، فصل في بيان واجبات الصلاة، وكذا في الفتاوى الهندية:۱/ ۷۱، الفصل الثاني في واجبات الصلاة).

په درمختار کي راځي:

وضم أقصر سورة كالكوثر أو ما قام مقامها وهو ثلاثة آيات قصار نحو ﴿ ثم نظر، ثم عبس وبسر ثم أدبر واستكبر﴾ وكذا لو كانت الآية أو الآيتان تعدل ثلاثا قصارا ذكره الحلبي. وفي الشامي: (قوله تعدل ثلاثًا قصارًا) أي مثل ثم نظر ...... وهي ثلاثون حرفًا فلو قرأ آية طويلة قدر ثلاثين حرفًا يكون قد أتى بقدر ثلاث آيات .... (الدر المختار مع الشامي:۱/ ٤٥۸).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

یو سورت دي ووایي یا دي درې کوچنی آیاتونه ووایي چي د درو آیاتونو مجموع دېرش حروف کیږي لکه ﴿ ثم نظر (۲۱) ثم عبس وبسر (۲۲) ثم أدبر واستكبر﴾، اویا دي یو لوی آیت ولولي که دومره اندازه ووایي چي دېرشو حروفو ته ورسیږي بیا هم کفایت کوي. (فتاوی محمودیه:۷/ ۳۰ باب القراءة).

همدارنګه وګورئ: (فتاوی رحیمیه:۵/ ۳۱۰، او فتاوی حقانیه:۳/ ۱۷۲، باب القراءة). والله ﷻ اعلم.

په فارسي ژبه د قرائت کولو حکم

سوال: که یې په فارسي ژبه څه قرائت ووایه نو ایا لمونځ یې وسو او که نه؟

الجواب: که یې په فارسي سره دومره ووایه چي په هغه لمونځ صحیح کیږي نو لمونځ یې نه فاسدیږي، البته قاضیخان وغیره ذکر کړي دي چي د صاحبینو په اند یې لمونځ فاسدیږي.

ابن همام په دواړو اقوالو کي تطبیق داسي کړی دئ چي که یې د قصې او یا امر او نهی ایات ولوست نو لمونځ یې فاسدیږي او که یې د ذکر تسبیح ایات ولوست نو لمونځ یې نه فاسدیږي.

وګورئ په شامي کي راځي:

اختار هذا التفصيل في الفتح توفيقًا بين القولين وهما ما قاله في الهداية من أنه لا خلاف في عدم الفساد إذا قرأ معه بالعربية ما تجوز به الصلاة، وما قاله النجم النسفي وقاضيخان من أنها تفسد عندهما فقال في الفتح: والوجه إذا كان المقروء من مكان القصص والأمر والنهي أن تفسد بمجرد قراءته لأنه حينئذ متكلم بكلام غير قرآن، بخلاف ما إذا كان ذكرًا أو تنزيها فإنها تفسد إذا اقتصر على ذلك بسبب إخلاء الصلاة عن القراءة. وتبعه في البحر وقواه في النهر فلذا جزم به الشارح . (شامي:١/ ٤٨٥، سعيد).

په امداد الفتاح کي راځي:

وتأويل ماروى عن علمائنا أنه: تفسد صلاته إذا قرأ هذا، أولم يقرأ شيئًا، مما في مصحف العامة، ولو قرأ على طريق التفسير تفسد بالإجماع، لأنه غير مقطوع به، ولا يمكن رعايته، كذا في الدراية عن المبسوط وغيره، قلت: ولعله فيما إذا اقتصر عليه، أما لوقرأ معه قدر المفروض صحت إذا لم يكن فيما قاله من التفسير ما يقتضى الفساد من الألفاظ. انتهى.

(امداد الفتاح:ص ٣١٢، فصل فى كيفية ترتيب افعال الصلاة – وكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ٦٩، الباب الرابع فى صفة الصلاة). والله ﷻ اعلم.

په سورة العصر کي د ﴿ إلا الذين آمنوا وعملوا الصالحات فلهم أجر غير ممنون﴾، ويلو سره د لمانځه حکم

سوال: په سورة العصر کي د ﴿ إلا الذين آمنوا وعملوا الصالحات وتواصوا بالحق﴾، **پر ځای ﴿فلهم أجر غير ممنون﴾، ولوست نو د لمانځه حکم یې څه دئ؟ همدارنګه مقتدی به څه کوي فتحه به ورکوي او که به پټه خوله وي؟**

الجواب: څنګه چي د آیت کریمه معنی درسته ده لهذا لمونځ یې صحیح سو، البته د مقتدی له پاره ښه دا ده چي په داسي حالت کي فتحه ورکړي چي د قرآن کریم تصحیح وسي په حدیث شریف کي یې تائید سته یو ځل د ده مبارک ﷺ څخه په لمانځه کي سهواً یو ایت پاته سو وروسته یې حضرت ابی بن کعب ته وفرمایل: چي تا ولي را یاد نه کړ معلومه سوه چي فتحه ورکول ښه دي.

وګورئ په ابو داؤد شریف کي راځي:

عن يحيى الكاهلى عن المسور بن يزيد المالكى أن رسول الله ﷺ قال يحيى وربما قال شهدت رسول الله ﷺ يقرأ في الصلاة فترك شيئًا لم يقرأه فقال له رجليا رسول الله تركت آية كذا وكذا. فقال رسول الله ﷺ " هلا أذكرتنيها "، وفى رواية له عن عبد الله بن عمر ﷺ أن النبى ﷺ صلى صلوة فقرأ فيها فلبس عليه فلما انصرف قال لأبى أصليت معنا؟ قال: نعم، قال: فما منعک. (ابو داؤد شریف:۱/ ۱۳۱، باب الفتح على الامام فى الصلاة سعيد).

په درمختار کي راځي:

بخلاف فتحه على إمامه فإنه لايفسد مطلقًا لفاتح وآخذ بكل حال ...... وفى الشامية: قوله بكل حال: سواء قرأ الإمام قدرما تجوزبه الصلاة أم لا، انتقل إلى آية أخرى أم لا، تكرر الفتح أم لا، هو الأصح، نهر. (الدر المختار مع ردالمحتار:۱/ ۶۲۲، سعيد وفى الفتاوى الهندية:۱/ ۹۹ الباب السابع فيما يفسد الصلاة ومايكره فيها).

په حاشیة الطحطاوي کي راځي:

وضع حرف موضع حرف آخر فإن كانت الكلمة لا تخرج عن لفظ القرآن ولم يتغير به المعنى المراد لا تفسد. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ۳۴۰، تكميل فى زلة القارى، قديمى – وكذا فى شرح منية المصلى:ص ۴۷۶، فصل فى بيان احاكم زلة القارى، سهيل اكيدمى – وكذا فى الفتاوى الهندية:۱/ ۸۰، الفصل الخامس فى زلة القارى). والله ﷻ اعلم.

په لمانځه کې د ﴿إن الإنسان لربه لكنود﴾، پر ځای د لکبیر ویلو حکم

سوال: یو امام په لمانځه کې د ﴿إن الإنسان لربه لكنود﴾، پر ځای ﴿إن الإنسان لربه لمكبير﴾، ولوست نو لمونځ يې وسو او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کې يې لمونځ درست او صحیح دئ ځکه د کنود معنی ده نافرمانه او په کبیر کې د کبر معنی موندل کیږي او دا هم یو قسم نافرماني ده.

وګورئ په فتاوی هندیه کې راځي:

(ومنها) ذكر كلمة مكان كلمة على وجه البدل إن كانت الكلمة التي قرأها مكان كلمة يقرب معناها وهي في القرآن لا تفسد صلاته نحو إن قرأ مكان العليم الحكيم وإن لم تكن تلك الكلمة في القرآن لكن يقرب معناها عن أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله لا تفسد .

(الفتاوى الهندية: ١/ ٨٠، الفصل الخامس فى زلة القارى).

په حاشیة الطحطاوي کې راځي:

وضع حرف موضع حرف آخر فإن كانت الكلمة لا تخرج عن لفظ القرآن ولم يتغير به المعنى المراد لا تفسد. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٣٤٠، تكميل فى زلة القارى، قديمى – وكذا فى شرح منية المصلى:ص ٤٧٦، فصل فى بيان احكام زلة القارى، سهيل اكيدمى). والله سبحانه وتعالى اعلم.

په فرضو او يا نفلو کې سورت مکرر ویل

سوال: که یو څوک په فرضو او یا نفلو کې سورة مکرر ولوست نو حکم يې څه دئ؟

الجواب: په فرضو کې بېله ضرورته د سورة تکرار مکروه دئ او په نفلو کې څه باک نه لري.

وګورئ په امداد الفتاح کې راځي:

و يكره تكرار السورة في ركعة واحدة من الفرض ذكره قاضي خان، وكذا تكرارها في الركعتين من الفرض إذا كان لغير ضرورة بأن كان يقدر على قراءة سورة أخرى، أما اذا لم يقدر فلايكره لوجوب ضم سورة إلى الفاتحة فى الثانية أيضًا وهذا إذا وقع عن قصد أما إذا كان لاعن قصد كما إذا قرأ ﴿ قل أعوذ برب الناس ﴾ فى الأولى فإنه لايكره أن يكررها فى الثانية، ..... ولايكره تكرار السورة فى ركعة أو فى ركعتين من النفل، لأن باب التطوع أوسع وقد ورد " أنه ﷺ قام إلى الصباح بآية واحدة يكررها في تهجده" (أخرجه ابن ماجه فى كتاب إقامة يرددها، والآية: ﴿ إن تعذبهم فإنهم عبادك وإن تغفرلهم فإنك أنت العزيز الحكيم ﴾، ورواه النسائى فى الافتتاح، باب ترديد الآية (١٠٠٩) فدلّ على جواز التكرار فى التطوع كذا فى شرح المنية وقد ثبت عن جماعة من السلف أنهم كانوا يحيون ليلتهم بآية العذاب، أو آية الرحمة، أو آية الرجاء، أو آية الخوف. وإن كان ذلك فى الفرائض فهو مكروه إن لم ينقل عن أحد من السلف أنه فعل مثل ذلك كذا فى التجنيس والمزيد. (امداد الفتاح مع الحاشية: ص ٣٨١، فصل فيما يكره فى الصلة – وكذا فى الدر المختار مع الشامى:١/ ٥٤٦، سعيد وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:١/ ٢٣٨).

په فتاوی حقانيه کي راځي:

په نوافلو کي د سورة تکرار جائز خو اولی نه دئ البته په فرائضو کي د سورة تکرار مکروه تنزيهی دئ، له هغه څخه په لمانځه کي فساد نه راځي. (فتاوی حقانيه:٣/ ١٦٦). والله ﷻ اعلم.

د فرضو په دوو اخيرنيو رکعتونو کي د قرائت حکم

سوال: د فرضو په اخرنی رکعتونو کي قرائت فرض دئ او که واجب؟ د خلکو په منځ کي اختلاف دئ؟

الجواب: د فرضو په اخيرنيو دوو ركعتونو كي قرائت نه فرض دئ او نه واجب بلكي د سورة فاتحې لوستل سنت او مستحب دي، خوځيني د نورو مذاهبو خاوندان دا گمان كوي چي احناف په اخيرنيو دوو ركعتونو كي سورة فاتحه نه وايي، دا صحيح نه ده، احناف سورة فاتحه همېشه لولي خو هغه مستحب يا سنت گڼي فرض او واجب يې نه بولي.

په هدايه كي راځي:

ويقرأ في الركعتين الأخريين بفاتحة الكتاب وحدها لحديث أبي قتادة ﷺ أن النبي ﷺ قرأ في الأخريين بفاتحة الكتاب، وهذا بيان الأفضل هو الصحيح لأن القراءة فرض الركعتين.

(هدايه:١/ ١١١، باب صفة الصلاة).

وتسن قراءة الفاتحة فيما بعد الأوليين يشمل الثلاثى والرباعى قوله الصحيح هو ظاهر الرواية كما فى الحلبى ...... ولذا قال القهستانى: ولعل المذكور بيان السنة أو الأدب وإلا فالفرض على رواية الأصول مطلق القيام كما مر. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ٢٧٠، فصل في بيان سننها، قديمى).

همدا رنگه وگورئ: (شرح البناية على الهداية للعلامة العينى:١/ ٦٧٦، صفة الصلاة، فيصل اباد – وبدائع الصنائع: ١/ ٢٩٥، بيروت – واحسن الفتاوى:٣/ ٧١). والله ﷻ اعلم.

په لمانځه كي د خلاف ترتيب قرائت ويلو حكم

سوال: كه يې په لومړي ركعت كي ﴿ قل أعوذ برب الفلق﴾، ولوست او په دوهم ركعت كي يې په هېره ﴿ قل هو الله أحد﴾، شروع كړ اوس به هغه پوره كوي او كه به هغه پرېږدي ﴿ قل أعوذ برب الناس﴾، به وايي؟

الجواب: په دوهم رکعت کې په ﴿قل هو الله احد﴾، پوره کوي ځکه د شروع کولو وروسته يې پرېښودل مکروه دي، همدارنګه که يې په هيره داسې د ترتيب خلاف قرائت وکړ نو څه باک نه لري. البته په قصده د ترتيب خلاف قرائت کول مکروه دي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

ويكره الفصل بسورة قصيرة وأن يقرأ منكوسًا إلا إذا ختم فيقرأ من البقرة، وفي القنية: قرأ في الأولى الكافرون وفي الثانية ألم تر أو تبت ثم ذكر يتم ...... أفاد أن التنكيس أو الفصل بالقصيرة إنما يكره إذا كان عن قصد فلو سهوًا فلا كما في شرح المنية، وإذا انتفت الكراهة فإعراضه عن التي شرع فيها لا ينبغي، وفي الخلاصة: افتتح سورة وقصده سورة أخرى فلما قرأ آية أو آيتين أراد أن يترك تلك السورة ويفتتح التي أرادها يكره، وفي الفتح: ولو كان أي المقروء حرفًا واحدًا. (الدر المختار مع الشامي:١/ ٥٤٦، سعيد – وكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ٨٩، الفصل الرابع فى القراءة).

په امداد الفتاح کې راځي:

وكذا لايكره لو أراد أن يقرأ غير التى قرأها الأولى فافتتحها فلما قرأ منها آية أو آيتين تذكر فأراد أن يتركها ويفتح السورة التى أردها يكره ذلك لقوله ﷺ " إذا افتتحت سورة فاقرأها على نحوها " كذا فى التجنيس والمزيد، ووجه الكراهة عدم وروده ...... ويكره قراءة سورة فوق التى قرأها لما فيه من قلب التلاوة، وقال عبد الله بن مسعود رضي الله عنه " من قرأ القرآن منكوسًا فهو منكوس " كذا فى التجنيس.(امداد الفتاح:ص ٣٨١، فصل فيما يكره فى الصلاة).

په عمدة الفقه کې راځي:

قرآن مجید چپه ویل یعنی په یوه رکعت کي یو سورة مثلاً سورة الاخلاص ولوست او په دوهم رکعت کي یې یا په همدغه رکعت کي یې له دې څخه مخکي سورة یعنی تبت یدا ولوست نو مکروه دي که په لمانځه کي دننه وي او که دباندي وي ځکه د سورتونو ترتیب له واجباتو څخه دي خو که یې په هېره داسي وکړل نو مکروه نه دي. (عمدة الفقه: ۲/ ۱۱۹). والله ﷻ اعلم.

په لمانځه کي د تکرار حکم

سوال: که یو څوک د سورة فاتحې یو آیت مکرر ولوست نو حکم یې څه دئ؟ همدارنګه د نورو سورتونو د یوه آیت د مکرر ویلو حکم څه دئ؟

الجواب: د سورة فاتحې او د نورو سورتونو د کوم آیت تکرار که په نوافلو کي وي نو څه باک نه لري، البته که په فرائضو کي وي نو بېله عذره مکروه دي.

په طحطاوي على مراقي الفلاح کي راځي:

ولا يكره تكرار السورة في الركعه أو في ركعتين من النفل، لأن باب النفل أوسع وقد ورد " أنه ﷺ قام بآية واحدة يكررها في تهجده" (أخرجه ابن ماجه في كتاب اقامة اصلاة باب: ماجاء في القرآءة في صلاة الليل من حديث سيدنا ابى ذر رضی الله عنه قال: قال النبى ﷺ بآية حتى اصبح يرددها، والآية: ﴿ان تعذبهم عبادك وان تغفرلهم فانك انت العزيز الحكم﴾" ورواه النسائى فى الافتتاح، باب ترديد الآية (۱۰۰۹). فدل على جواز التكرار فى التطوع كذا فى شرح المنية وقد ثبت عن جماعة من السلف أنهم كانوا يحيون ليلتهم بآية العذاب، أو آية الرحمة، أو آية الرجاء، أو آية الخوف. وإن كان ذلك فى الفراض فهو مكروه إن لم ينقل عن أحد من السلف أنه فعل مثل ذلك كذا فى التجنيس والمزيد. (امداد الفتاح مع الحاشية: ص ۳۸۱، فصل فيما يكره فى الصلاة - وكذا فى مراقى الفلاح: ص ۱۲۸، فصل فى المكروهات، مكة المكرمة).

په فتاوي هنديه کي راځي:

وإذا كرر آيةً واحدةً مرارًا فإن كان في التطوع الذي يصلي وحده فذلك غير مكروه وإن كان في الصلاة المفروضة فهو مكروهفي حالة الاختيار وأما في حالة العذر والنسيان فلا بأس. هكذا في المحيط . (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۰۷، الفصل الثانی فیما یکره فی الصلاة).

په فتاوی محموديه کي راځي:

سوال: په يوه ركعت كي ديوه آيت او يا سورة مكرر ويل؟

جواب: لمونځ يې اداء کيږي خو په فرضي لمانځه کي په قصده داسي کول مكروه دي په نفلو کي مکروه نه دي. (فتاوی محمودیه:۷/ ۹۵). والله ﷻ اعلم.

د دوو سورتونو تر منځ د فصل اندازه

سوال: د دوو سورتونو تر منځ د څومره سورتونو د پرېښودلو ګنجائش سته؟

الجواب: د دوو سورتونو تر منځ يو کوچنی سورة په قصده پرېښودل مکروه دي په سهوه مکروه نه دئ، همدارنګه که يې په منځ کي دومره غټ سورة وي چي د هغه له لوستلو څخه دوهم رکعت له لومړی رکعت څخه د قرائت په (۷) مقدار کي زياتيږي نو د هغه په پرېښودلو کي څه حرج نه سته همدارنګه په منځ کي يې دوه کوچنی سورتونه پرېښودل هم څه باک نه لري.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

و يكره فصله بسورة بين سورتين قرأهما في ركعتين وقال بعضهم: لا يكره إذا كانت السورة طويلة كما لو كان بينهما سورتان قصيرتان وذلک لمافيه من شبهة التفضيل والهجر. (امداد الفتاح:ص ۳۸۲، فصل فیما یکره فی الصلاة، دار احیاء التراث).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله ويكره الفصل بسورة قصيرة) أما بسورة طويلة بحيث يلزم منه إطالة الركعة الثانية إطالة كثيرة فلا يكره، شرح المنية كما إذا كانت سورتان قصيرتان. (شامی:۱/ ۵٤٦، فصل فی

القراءة، سعید – وکذا فی الطحطاوی علی مراقی الفلاح: ص ۳۵۲، فصل فی مکروهات الصلاة، قدیمی – وکذا فی الفتاوی الهندیة: ۱/ ۷۸، الفصل الرابع فی القراءة). والله ﷻ اعلم.

د ﴿ ووجدك ضالاً فهدى﴾، پر ځای یې ﴿ فأغنى﴾، ولوست نو د لمانځه حکم یې څه دئ؟

سوال: د ﴿ ووجدك ضالاً فهدى﴾، پر ځای یې ﴿ فأغنى﴾، ولوست نو د لمانځه حکم یې څه دئ؟

الجواب: په دغه صورت کي له دې امله چي معنی یې فاسده نه ده لمونځ یې نه فاسدیږي ځکه ﴿فأغنى﴾، مطلب دا دئ چي الله تعالی په هدایت سره سر لوړی او غنی کړئ لهذا په معنی کي یې کومه خرابي نه ستـه.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

ومنها ذكر كلمة مكان كلمة على وجه البدل إن كانت الكلمة التي قرأها مكان كلمة يقرب معناها وهي في القرآن لا تفسد صلاته نحو إن قرأ مكان العليم الحكيم وإن لم تكن تلك الكلمة في القرآن لكن يقرب معناها عن أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله لا تفسد. (الفتاوی الهندیة: ۱/ ۸۰، الفصل الخامس فی زلة القاری – وکذا فی المحیط البرهانی: ۲/ ٦٦).

په حاشیة الطحطاوي کي راځي:

المسألة الثالثة: وضع حرف موضع حرف آخر فإن كانت الكلمة لا تخرج عن لفظ القرآن ولم يتغير به المعنى المراد لا تفسد كما قرأ ...... والأرض وما دحاها مكان طحاها. (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح: ص ۳٤۰، تکمیل فی زلة القاری، قدیمی – وکذا فی شرح منیة المصلی: ص ٤۷٦، فصل فی بیان احاکم زلة القاری، سهیل اکیدمی). والله ﷻ اعلم.

د ﴿ أجرًا عظيمًا﴾ په ويلو سره د لمانځه حکم

سوال: يو حافظ صاحب د سهار په لمانځه کي په دوهم رکعت کي د سورة احزاب په (۵۷) آيت کي د ﴿ عذابًا مهينًا﴾، پر ځای ﴿ أجرًا عظيمًا﴾، ولوست نو حکم يې څه دئ لمونځ يې فاسد دئ او که نه؟

الجواب: فقهاوو دا تصريح کړي ده چي په قرائت کي له فاحشي غلطي څخه لمونځ فاسديږي مثلاً اهل جنت جهمني وګرځوي يا اهل جهنم جنتي وګرځوي، نو لمونځ يې فاسديږي لهذا په ذکر سوي صورت کي هم د فاحشي غلطي له امله لمونځ فاسديږي.

په شرح منية المصلى کي راځي:

ولو قرأ "إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات أولئک أصحاب الجحيم" أو "أولئک هم شر البرية" أو قرأ "والذين كفروا وكذبو بآياتنا أو لئک أصحاب الجنة هم فيها خالدون" وما أشبه ذلک مما فيه تغيير حكم الله تعالى على أحد الفريقين بضده ...... ووصل قال: عامة المشايخ: تفسد صلاته لأنه أخبر بخلاف ما أخبر الله تعالى به ولو اعتقده يكون كفرًا. (شرح منية المصلى: ص۴۸۷، فصل فى بيان احكام زلة القارى، سهيل اكيدمى).

په فتاوى هنديه کي راځي:

وإن تغير المعنى نحو أن يقرأ "إن الأبرار لفي جحيم وإن الفجار لفي نعيم" فأكثر المشايخ على أنها تفسد وهو الصحيح . هكذا في الظهيرية . (الفتاوى الهندية:۱/ ۸۰، الفصل الخامس فى زلة القارى – وكذا فى الشامى:۱/ ۶۳۱، مسائل زلة القارى، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (امداد الفتاوى: ۱/ ۲۹۳، باب مايفسد الصلاة، دار العلوم كراچى). والله ﷻ اعلم.

" الضاد مشتبه الصوت بالظاء أو الدال "

د ضاد حرف له دال سره زیات تعلق نه لري او د ظا سره په اکثرو صفاتو کي مشابه دئ، خو حقیقت یې له ظا څخه هم بېل دئ نو کوم کسان چي یې خالص ظا وایي او کوم څوک چي یې خالص دال ووایي دواړه د حرف د بدلولو مرتکب ګرځي او کوم څوک چي یې د ضاد د اداء کولو په نیت سره ولولي او د هغه اواز د ډک دال په شان جوړ سي او یا د ظا مشابه سي د دغو دواړو لمونځ صحیح دي او د ظاء مشابهت لرونکی به ((اقرب الی الصحة))وي خالص د دال په اواز سره یې اداء کول غلط دي د ضاد اواز د اصلي حقیقت په لحاظ د ظاء سره مشابه دئ د دال سره مشابه نه دئ د ضاد مخرج: الضاد من اصل حافة اللسان ومایلیها من الاضراس))یعنی د ضاد مخرج د ژبي پوره اړخ او د راسته او یا چپه طرف غاښونه دي.

د ظا مخرج: د ژبي څوکه او دوه پورتني غاښونه دي، د دال مخرج: د دال مخرج د ژبي څوکه او د دواړو پورتنیو غاښونو (ثنا یا علیا) بیخ دئ د درو حروفو صفات.

د ((ض)) د صفت په اړه یې د تجوید په کتابونو کي لیکلي دي:

الرخاوة والجهر والاستعلاء والإطباق والتفخيم والاستطالة والإصمات من صفات الضاد المعجمة والتفشی عند البعض أيضًا كذا فی جهد المقل.

همدا رنګه د تجوید په ځینو کتابونو کي یې د ((ض)) په صفاتو کي سکون هم شمېرل سوی دئ.

د ((ظا)) د صفت اړوند علامه محمد مرعشی لیکي: الإصمات والجهر والرخاوة والاستعلاء والإطباق والتفخيم من صفات الظا المعجمة، كذا فی جهد المقل وشرحه وفی منهاج النشر السكون أيضًا.

په دغه کتاب کي د دال د صفاتو اړوند داسي لیکل سوي دي:

القلقلة والشدة والإصمات والانفتاح والتوفيق والا ستفال من صفات الدال المهملة.

علامه محمد بن محمد جزري رحمة الله عليه ليكي:

والناس يتفاوتون في النطق بالضاد فمنهم من يجعله ظاء لأن الضاد يشارك الظاء في صفاتها كلها ويزيد على الظاء بالاستطالة ولو لا الاستطالة واختلاف المخرجين لكانت ظاء وهم أكثر الشاميين وبعض أهل الشرق.

مشهور تاريخ ليكونكى ابن خلكان په خپل تاريخ كي دابن عربي تر حالاتو لاندي ليكي:

وكان (أي ابن العربي) يقول جائز في كلام العرب أن يعاقبوا بين الضاد والظاء فلا يخطئ من يجعل هذه في موضع هذه وينشد:

إلى الله أشكو من خليل أوده ثلاث خلال كلها لي غائض بالضاد ويقول هكذا سمعته من فصحاء العرب.

په فتاوى قاضي خان كي راځي:

لو قرأ الضالين بالظاء أو الذال لاتفسد صلاته ولو قرأ بالدالين تفسد صلاته.

خلاصه: د ضاد او ظاء حروف په اتو صفاتو كي سره متحد دي او حال دا چي د ضاد او دال په حرف كي څه مناسبت او مشابهت نه سته بلكي تر منځ يې تبائن موجود دئ فكر وكړي په ضاد كي رخاوت دئ او په دال كي شدت ضاد ساكن دئ دال قلقله دي ضاد مطبقه دئ دال منفتحه ضاد مستعليه دئ دال مستفله په ضاد كي تفخيم دئ په دال كي ترقيق ضاد مستطيله دئ دال آنى په ضاد كي تفشى ده په دال كي عدم تفشى همدارنګه د اهل عرب له كلام او د علماء تجويد له كلام او فقهاى عظامو له فتاوى څخه ثابتيږي چي ضاد مشتبه الصوت بالظاء ويلاى سي، همدارنګه وګورئ. (ملخص از فتاوي ثنائيه،۲ ۱۰ مولانا ابو الوفاء ثناء الله امر تسري غير مقلد). و الله تعالى اعلم.

که یې په قرائت کې داسې غلطي کړې وه چې لمونځ یې فاسدا وه خو په منځ کې یې تام وقف کړی وه نو د لمانځه حکم

سوال: یو چا د ماخستن په لمانځه کې د سورة البلد آیت ﴿ وتواصوا بالصبر وتواصوا بالمرحمة﴾ وروسته وقف وکړ بیا یې ﴿ أولئک أصحاب المشأمة﴾ ولوست نو لمونځ یې فاسد سو او که نه؟

الجواب: په ظاهره دایت کریمه معنی بد لیږي باید لمونځ فاسد سي خو فقهاوو دا تفصیل کړی دئ چې که یې په منځ کې تام وقف وکړ یعنی ساه یې بنده کړه بیا یې دوهم آیت ولوست نو لمونځ یې نه فاسدیږي، لهذا په یاد صورت کې هم لمونځ نه فاسدیږي.

وګورئ په شرح کې د منیة المصلی راځي:

ولو قرأ "إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات" ووقف وقرأ بعد الوقف التام "أولئک أصحاب الجحيم" " أولئک هم شر البرية" أو قرأ " والذين كفروا وكذبو بآياتنا أو لئک أصحاب الجنة هم فيها خالدون" وما أشبه ذلک مما فيه تغيير حكم الله على أحد الفريقين بضده لاتفسد لصيرورة الكلام الثانى مبتدأ به غير متصل بالأول فلم يتعين الحكم بالضد .

(شرح منية المصلي: ص٤٨٧، فصل فی بیان احکام زلة القاری، سهیل اکیدمی لاهور).

په فتح القدیر کې راځي:

ولو بنى بعض آية على أخرى إن لم يغير نحو [إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات فله جزاءً الحسنى] مكان [كانت لهم جنات الفردوس نزلًا] لا تفسد ، وإن غير فإن وقف وقفًا تاما بينهما فكذلك لو كان قرأ [إن الذين آمنوا وعملوا الصالحات] ووقف ثم قال [أولئك هم شر البرية] . وإن وصل تفسد عند عامة المشايخ وهو الصحيح ، وحينئذ هذا مقيدلما

ذكر في بعض المواضع من أنه إذا شهد بالجنة لمن شهد الله له بالنار أو بالقلب تفسد ، والله سبحانه وتعالى أعلم . (فتح القدير:١/ ٣٢٤، فصل فی القراءة، دار الفكر).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله كما لو بدل الخ) هذا على أربعة أوجه، لأن الكلمة التي أتى بها، إما أن تغير المعنى أو لا، وعلى كل فإما أن تكون في القرآن أو لا، فإن غيرت أفسدت لكن اتفاقاً في نحو فلعنة الله على الموحدين وعلى الصحيح في مثال الشارح لوجوده في القرآن، وقيد الفساد في الفتح وغيره بما إذا لم يقف وقفًا تامًا، أما لو وقف ثم قال: لفي جنات فلا تفسد . (شامی:١/ ٦٣٤، مسائل زلة القاری، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د غلط ويلو څخه وروسته يې فوراً تصحيح كول

سوال: يو چا په لمانځه کي غلط قرائت وکړ بيا يې هغه وخت دستی تصحيح وکړل نو لمونځ يې وسو او که نه؟

الجواب: که يې غلط ولوست او بيا يې تصحيح وكړل نو لمونځ يې اداء كيږي.

وګورئ په طحطاوي کي راځي:

وفي المضمرات: قرأ في الصلاة بخطأ فاحش ثم أعاد وقرأ صحيحًا فصلاته جائزة.

(حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:١/ ٢٦٧، باب مایفسد الصلاة).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ذكر في الفوائد لو قرأ في الصلاة بخطأ فاحش ثم رجع وقرأ صحيحًا قال عندي صلاته جائزة. (الفتاوی هندية:١/ ٨٢، فی زلة القاری).

(امداد الفتاوی: ۱/ ۱٦۸، باب القراءة، دار العلوم کراچی – وامداد المفتین: جلد دوم ص ۳۵۷ – وفتاوی حقانیه: ۳/ ۱۷۷، باب القراءة – وفتاوی رحیمیه: ٤/ ۳۰۹، باب صفة القراءة، مکتبه رحیمیه) والله ﷻ اعلم.

په لومړۍ رکعت کې غلطي کول او په دوهم رکعت کې یې اصلاح کول

سوال: که امام په لومړی رکعت کې فاحشه غلطی وکړل بیا په دوهم رکعت کې مقتدی فتحه ورکړل او امام تصحیح وکړل نو لمونځ یې وسو او که نه؟ همدارنګه که په دریم او یا څلورم رکعت کې تصحیح وکړي نو حکم یې څه دئ؟

الجواب: د فاحشی غلطي له تصحیح کولو څخه لمونځ درست ګرځي، که څه هم په دوهم یا دریم یا څلورم رکعت کې یې تصحیح وکړي ځکه ټول لمونځ د یوه مجلس په شان دئ که یې په لومړی رکعت کې قرائت ونه کړ نو په دوهم کې یې کولای سي، همدارنګه که په لومړی رکعت کې یې واجب پرېښود نو په سجده سهو یې تلافی کیږي، همدارنګه که په لمانځه کې کومه سجده ورڅخه پاته سي نو په اخرنی رکعت کې کېدای سي، لهذا د قرائت تصحیح هم په نورو رکعتونو کې کېدای سي.

وګورئ په طحطاوي کې راځي:

وفی المضمرات: قرأ فی الصلاة بخطأ فاحش ثم أعاد وقرأ صحیحًا فصلاته جائزة.

(حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار: ۱/ ۲٦۷، باب مایفسد الصلاة).

په فتاوی هندیه کې راځي:

ذکر في الفوائد لو قرأ في الصلاة بخطأ فاحش ثم رجع وقرأ صحیحًا قال عندي صلاته جائزة. (الفتاوی هندیة: ۱/ ۸۲، فی زلة القاری).

په امداد الفتاح کې راځي:

روی أن عمر رضی الله عنه ترک القراءة فی رکعة من المغرب فقضاها فی الثالثة. (امداد الفتاح:ص ۲۷۶، فصل فی واجبات الصلاة).

په درمختار کي راځي:

ولو تذکر فی رکوعه أو سجوده أنه ترک سجدة صلبية أو تلاوية فسجدها أعادهما ندبًا ...... وفی الشامية: (قوله فسجدها) أفاد أن سجودها عقب التذکر غير واجب لما فی البحر عن الفتح: له أن يقضی السجدة المتروکة عقب التذکر، وله أن يؤخرها إلى آخر الصلاة فيقضيها هناک. (الدر المختار مع الشامی:۱/ ۶۱۲، باب الاستخلاف).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

المصلی إذا نسی سجدة التلاوة فی موضعها ثم ذکرها فی الرکوع أو فی السجود أو فی القعود فإنه يخرلها ساجدًا ثم يعود إلى ماکان فيه فيعيده استحسانًا وإن لم يعد جازت صلاته وإن أخرها إلى آخر صلاته أجزأه لأن الصلاة واحدة. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية:۱/ ۱۲۷، فصل فيما يوجب السهو ومالا يوجب السهو). والله تعالیٰ اعلم.

که یو چا د ﴿ رب ابن لي عندك بيتًا في الجنة ﴾ پر ځای ﴿ رب ابن لي عندكِ بيتًا في الجنة ﴾ ولوست يعنی کاف ته يې د زور پر ځای زېر ورکړ نو حکم يې څه دئ؟

سوال: که يو چا د ﴿ رب ابن لي عندك بيتًا في الجنة ﴾ پر ځای ﴿ رب ابن لي عندكِ بيتًا في الجنة ﴾ ولوست يعنی کاف ته يې د زور پر ځای زېر ورکړ نو حکم يې څه دئ؟

الجواب: په دغه مسئله کي د متقدمينو او متاخرينو اختلاف دئ د متقدمينو په انديښ لمونځ فاسديږي او د متاخرينو په انديښ لمونځ نه فاسديږي.

قاضي خان فرمايي: چي د متاخرينو په اند ګنجائش او وسعت دئ او د متقدمينو په قول سره په عمل کولو کي احتياط دئ، خصوصا په عباداتو کي په احتياط عمل کول ښه دي لهذا په ذکر سوي صورت کي يې اعاده ښه ده.

په فتاوی شامي کي راځي:

والقاعدة عند المتقدمين أن ما غير المعنى تغيرًا يكون اعتقاده كفرًا يفسد في جميع ذلك ...... وأما المتأخرون كابن مقاتل وابن سلام ...... فاتفقوا على أن الخطأ في الإعراب لا يفسد مطلقا ولو اعتقاده كفرًا لأن أكثر الناس لا يميزون بين وجوه الإعراب، قال قاضيخان وما قاله المتأخرون أوسع وما قاله المتقدمون أحوط. (شامی:۱/ ۶۳۱، فی زلة القاری، سعید — وکذا فی شرح منیة المصلی:ص ۴۷۶، فی بیان احکام زلة القاری، سهیل — والفتاوی الهندیة:۱/ ۸۱، الفصل الخامس فی زلة القاری — وفتاوی قاضیخانه علی هامش الهندیة:۱/ ۱۴۰، فصل فی قراءة القرآن خطأ).

والله ﷻ اعلم.

که يې په سورة دهر کي ﴿يدخل من يشاء في رحمته﴾ کي د رحمته پر ځای رحمتي وواېه نو د لمانځه حکم به يې څه وي؟

سوال: که يې په سورة دهر کي ﴿يدخل من يشاء في رحمته﴾ کي د رحمته پر ځای رحمتي وواېه نو د لمانځه حکم به يې څه وي؟

الجواب: لمونځ يې درست دئ د علم بلاغت مشهوره قاعده ده چي هغه ته التفات وايي يعنی د غائب څخه وروسته مخاطب يا متکلم يا بالعکس راوړل په يدخل کي د الله ﷻ ذکر د غائب په ضمير سره وسو او په رحمتی کي په متکلم سره وسو لکه څنګه چي په الحمد لله رب العلمين کي د غائب په صيغه سره او په اياک نعبد کي په مخاطب سره دئ.

وګورئ په تفسير بيضاوي کي راځي:

ومن عادة العرب التفنن في الكلام والعدول من أسلوب إلى آخر تطريةً لـه وتنشيطًا للسامع، فيعدل من الخطاب إلى الغيبة، ومن الغيبة إلى التكلم وبالعكس، كقوله تبارک تعالى ﴿ حتى إذا كنتم في الفلك وجرين بهم ﴾ وقوله وتبارک وتعالى ﴿ الذي أرسل الرياح فتثير سحابًا فسقناه ﴾ وقول امرىء القيس:

تطـــاول ليــــلک با لإثمد .... ونام الخلى ولم ترقد

وبات وباتت له ليلة .... كليلة ذى العائر الأرمد

وذلــک من نبأ جاء نى .... وخبرته عن أبى الاسود

(تفسير البيظاوى:۱/ ۷، تحت الآية: اياک نعبدو اياک نستعين). والله تعالى اعلم.

د ﴿لا يسمعون فيها لغوًا ولا كذابًا﴾ پر ځای کي يې ﴿ لايسمعون فيها لغوًا الاكذابًا﴾

ولوست نو د لمانځه حکم يې څه دئ؟

سوال: د ﴿لا يسمعون فيها لغوًا ولا كذابًا﴾ پر ځای کي يې ﴿ لايسمعون فيها لغوًا الاكذابًا﴾ **ولوست نو د لمانځه حکم يې څه دئ؟**

الجواب: **په پورتنۍ صورت کي د معنی د فساد له امله لمونځ ونه سو لهذا لمونځ دي راوګرځوي. وګورئ په طحطاوي کي راځي:**

فالأصل فيها عند الإمام رحمه الله ومحمد رحمه الله تغير المعني تغيرًا فاحشًا، وعدمه للفساد، وعدمه مطلقًا سواء كان اللفظ موجودًا فى القرآن أو لم يكن .(طحطاوى على مراقى الفلاح:ص ۳۳۹، تكميل فى زلة القارى، قديمى).

په شرح منية المصلی کي راځي:

إن الخطأ في القرآن...... أو الحروف بوضع حرف مكان أخر أو زيادته أو نقصه أو تقديمه أو تأخيره أو في الكلمات أو في الجمل كذلك .... فإن الأصل فيه أنه إن لم يكن مثله في القرآن والمعنى بعيد من معنى لفظ القرآن متغير تغيرًا فاحشًا قويًا بحيث لامناسبة بين المعنيين أصلًا تفسد صلاته....... (شرح منية المصلی:ص ٤٧٥، في بيان احكام زلة القاری، سهيل).

په فتاوی عالمګيري کي راځي:

ومنها ذكر كلمة مكان كلمة على وجه البدل ...... ولا تتقاربان في المعنى تفسد صلاته بلا خلاف إذا لم تكن تلك الكلمة تسبيحًا ولا تحميدًا ولا ذكرًا. (الفتاوی الهندية:١/ ٨٠، الفصل الخامس في زلة القاری – وكذا في الشامي:١/ ٦٣٤، في زلة القاری، سعيد). والله ﷻ اعلم.

﴿ يا أيها الذين آمنوا لا تلهكم أموالكم ولا أولادكم ﴾ د ويلو حكم

سوال: يو امام په جهري لمانځه کي دغه آيت کريمه چي ﴿ يا أيها الذين آمنوا لا تلهكم أموالكم ولا أولادكم ﴾ پر ځای اولادكم په فتحه سره د دال ولوست نو د لمانځه حكم يې څه دئ؟

الجواب: په پورتنی صورت کي يې لمونځ درست دئ ځکه معنی يې نه فاسديږي او تاويل يې هم کېدای سي چي ﴿ لا تلهكم أموالكم مع أولادكم ﴾ چي دا مفعول معه سي لکه سرت وزيدا ای مع زيد.

په عالمګيري کي راځي:

ومنها حذف حرف ...... وإن لم يكن على وجه الإيجاز والترخيم فإن كان لا يغير المعنى لا تفسد ...... (الفتاوی الهندية:١/ ٧٩، الفصل الخامس في زلة القاری).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

أما الخطأ فی الإعراب إذا لم یغیر المعنی لاتفسد الصلاة عند الکل ...... لأن الخطا فی الإعراب مما لایمکن الحتراز عنه فیعذر. (فتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة: ۱/ ۱۳۹ –وکذا فی شرح منیة المصلی:ص ٤٧٦، سهیل).

په طحطاوي کي راځي:

وفي النهر وأحسن من لخص من کلامهم في زلة القارىء الکمال في زاد الفقیه فقال إن کان الخطأ في الإعراب ولم یتغیر به المعنی ککسر قواما مکان فتحها وفتح باء نعبد مکان ضمها لا تفسد. (طحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۳٤۰، قدیمی). والله ﷻ اعلم.

که په یوه اوږده آیت کي څه برخه پاته سي نو د لمانځه حکم یې څه دئ؟

سوال: یو امام صاحب یوه اوږدآیت ﴿ محمد رسول الله ﴾ الخ ولوست بیا یې له هغه څخه څه برخه هیره سو مثلاً ﴿ وعد الله الذین آمنوا ﴾ څخه وروسته یې ﴿ وعملوا الصالحات منهم مغفرةً وأجرًا عظیمًا﴾ هیر سو نو لمونځ یې وسو او که نه؟

الجواب: په ذکر سوي صورت کي یې لمونځ درست دئ ځکه که یې د یوه اوږده آیت څخه دومره برخه ولوسته چي د درو کوچنیو آیاتونو په اندازه وه نو د لمانځه د صحت له پاره کافي ده او د درو کوچنیو آیاتونو اندازه د ځینو کسانو د وینا مطابق (۱۰) کلمې او یا دیرش حروف دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولو قرأ آیة طویلة في الرکعتین فالأصح الصحة اتفاقا لأنه یزید علی ثلاث آیات قصار قاله الحلبي...... وفی الشامی: (قوله لأنه یزید علی ثلاث آیات) تعلیل للمذهبین لأن نصف الآیة الطویلة إذا کان یزید علی ثلاث آیات قصار یصح علی قولهما فعلی قول أبي حنیفة رحمه الله المکتفي بالآیة أولی. قال في البحر: وعلم من تعلیلهم أن کون المقروء في کل رکعة للنصف

لیس بشرط بل أن یکون البعض یبلغ ما یعد بقراءته قارئا عرفا...... وفي التاتارخانیة والمعراج وغیرهما: لو قرأ آیة طویلة کآیة الکرسي أو المداینة البعض في رکعة والبعض في رکعة اختلفوا فیه علی قول أبي حنیفة رحمه الله ...... وعامتهم علی أنه یجوز لأن بعض هذه الآیات یزید علی ثلاث قصار أو یعدلها فلا تکون قراءته أقل من ثلاث آیات......، وقدرها من حیث الکلمات عشر، ومن حیث الحروف ثلاثون ...... (الدرالمختار مع الشامی:۱/ ۵۳۷، فصل فی القراءة، سعید).

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

إذا قرأ آیةً طویلةً في الرکعتین نحو آیة الکرسي وآیة المداینة البعض في رکعة والبعض في أخری عامتهم علی أنه یجوز کذا في المحیط وهو الأصح کذا في الکافي ومنیة المصلي. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۶۹، الباب الرابع فی صفة الصلاة، الفصل الأول فی فرائض الصلاة). والله ﷻ اعلم.

آمین که د څنګ نفر واوري نو په جهر کي شامل نه دئ

سوال: که یو چا آمین په دي ډول ولوست چي د څنګ کس واورېدئ نو دغه په جهر کي شامل دئ او که نه؟

الجواب: که آمین د څنګ نفر واوري نو په جهر کي شامل نه دئ د کرار والی په حکم کي دئ له هغه څخه لمونځ صحیح دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وأدنی المخافة إسماع نفسة ومن بقربه، فلو سمع رجل أو رجلان فلیس بجهر والجهر أن یسمع الکل...... ولذا قال في الخلاصة والخانیة عن الجامع الصغیر: إن الإمام إذا قرأ في صلاة المخافتة بحیث سمع رجل أو رجلان لا یکون جهرًا، والجهر أن یسمع الکل أي کل

الصف الأول لا كل المصلين، بدليل ما في القهستاني عن المسعودية أن جهر الإمام إسماع الصف الأول . (الدر المختار مع ردالمحتار: ۱/ ٥٣٤، فصل في القراءة، سعيد).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

که يې يو او يا دوه کسان واوري نو په لمانځه کې کومه خرابي نه راځي بلکې دا په کرار ويل دي که د امام آواز لومړی صف په عمومي توګه واوري نو دا جهر دئ. (فتاوی محمودیه: ۷/ ۳۹: الفصل الثانی فی کیفیة الجهر والسر). والله ﷻ اعلم.

په صلاة کسوف او خسوف کې د قرآئت سري او جهري حکم

سوال: په صلاة کسوف او خسوف کې به قرآئت جهرا ويل کيږي او که سرا؟

الجواب: صلاة الكسوف په جماعت سره اداء کيږي او قرآئت يې کرار ويل کيږي او صلاة الخسوف به يوازي يوازي کوي او قرآئت به يې هم سرا وايي.

وګورئ په مراقي الفلاح کې راځي:

سن ركعتان كهيئة النفل للكسوف بإمام الجمعة...... ولا جهر في القراءة فيهما عنده خلافاً لهما. (مراقی الفلاح: ص ۳۰۲، باب صلاة الكسوف، مكة المكرمة).

په درمختار کې راځي:

يصلي بالناس عند الكسوف ركعتين ولا جهر ...... وفي الشامي: (قوله ولا جهر وقال أبو يوسف رحمه الله: يجهر و عن محمد رحمه الله روايتان جوهرة. (شامی: ۲/ ۱۸۲، باب الكسوف، سعيد).

په فتاوی عالمګيري کې راځي:

وأجمعوا أنها تؤدى بجماعة ولا يجهر بالقراءة في صلاة الجماعة في كسوف الشمس في قول أبي حنيفة رحمه الله كذا في المحيط والصحيح قوله كذا في المضمرات ...... ويصلون في

خسوف القمر وحدانًا ، هكذا في محيط السرخسي. (الفتاوى الهندية: ١/ ١٥٣، الباب الثامن عشر في صلاة الكسوف). والله ﷻ اعلم.

د خلاف ترتيب قرآن ويلو سره د لمانځه حکم

سوال: يو امام په لومړی رکعت کي سورة کافرون ولوست او په دوهم رکعت کي يې سورة کوثر ولوست نو د لمانځه حکم يې څه دئ؟ او په لمانځه کي په خلاف ترتيب قرآئت ويلو سره سجده سهو واجبيږي او که نه؟

الجواب: که په هيره سره خلاف ترتيب قرآئت وکړئ نو څه باک نه سته لمونځ يې صحيح سو خو که يې سورة شروع کړ بيا يې پرېښودل مکروه دي، همدارنګه په لمانځه کي په خلاف ترتيب قرآئت سره سجده سهونه واجبيږي، البته په قصده سره داسي کول مکروه دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ويكره الفصل بسورة قصيرة وأن يقرأ منكوسا إلا إذا ختم فيقرأ من البقرة، وفي القنية: قرأ في الأولى الكافرون وفي الثانية ألم تر أو تبت ثم ذكر يتم ......وفي الشامية: أفاد أن التنكيس أو الفصل بالقصيرة إنما يكره إذا كان عن قصد فلو سهوًا فلا كما في شرح المنية، وإذا انتفت الكراهة فإعراضه عن التي شرع فيها لا ينبغي، وفي الخلاصة افتتح سورة وقصده سورة أخرى فلما قرأ آية أو آيتين أراد أن يترك تلك السورة ويفتتح التي أرادها يكره، وفي الفتح ولو كان أي المقروء حرفًا واحدًا. (الدر المختار مع الشامي: ١/ ٥٤٦، سعيد – وكذا في الفتاوى الهندية: ١/ ٨٩، الفصل الرابع في القراءة).

په امداد الفتاح کي راځي:

وكذا لايكره لو أراد أن يقرأ غير التي قرأها في الأولى فافتتحها فلما قرأ منها آية أو آيتين تذكر فأراد أن يتركها ويفتح السورة التي أرادها يكره ذلك لقوله ﷺ " إذا افتتحت سورة فاقر

أما على نحوها'' كذا فى التجنيس والمزيد، ووجه الكراهة عدم وروده، ...... ويكره قراءة سورة فرق التى قرأها لما فيه من قلب التلاوة، وقال عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ''من قرأ القرآن منكوسًا فهو منكوس'' كذا فى التجنيس. (امداد الفتاح:ص ۳۸۱، فصل فيما يكره فى لاصلاة).

په عمدة الفقه کي راځي:

قرآن کريم چپه ويل يعني په يوه رکعت کي يې د مثال په توګه سورة الاخلاص ولوست او په دوهم رکعت کي يا په دغه رکعت کي يې له هغه څخه لوړ سورة يعني تبت يدا ولوسته نو مکروه به وي که په لمانځه کي دننه وي او که دباندي وي ځکه د سورتونو ترتيب له واجباتو څخه دي خو که يې په هېره داسي وکړل مکروه نه دي. (عمدة الفقه:۲/ ۱۱۹). **همدا ډول وګورئ:** (احسن الفتاوى:۳/ ٤٤٣، مسائل زلة القارى – وامداد الفتاوى:۱/ ۱۷۰). والله تعالى اعلم.

د فرض لمانځه په يوه رکعت کي د دوو سورتونو د جمع کولو حکم

سوال: **د فرضو په يوه رکعت کي د دوو سورتونو د جمع کولو حکم څه دئ؟**

الجواب: **په احاديثو کي مختلف رواياتو راغلي دي چي تر منځ يې فقهاوو داسي تطبيق کړی دئ چي دوه سورتونه په يوه رکعت کي جمع کول روا دي خو خلاف اولی دي خصوصا د امام له پاره بنه دا ده چي پر مسنون قرآئت اکتفاء وکړئ او لمونځ دي نه اوږدوي.**

په مصنف ابن ابى شيبه کي راځي:

حدثنا أبو أسامة ، قال : حدثنا عبيد الله بن عمر ، عن نافع ، عن ابن عمر رضي الله عنه؛ أنه كان يقرن بين السورتين في ركعة من الصلاة المكتوبة.

حدثنا ابن مهدي ، عن سفيان ، عن وقاء ، قال : رأيت سعيد بن جبير يجمع بين سورتين في كل ركعة في الفريضة.

حدثنا وكيع، قال : حدثنا الأعمش ، عن إبراهيم ، عن علقمة ؛ أنه كان يقرأ في الفجر في الركعة الأولى بحم الدخان ، و الحشر ويقرأ في الثانية بآخر البقرة وآخر آل عمران ، وبالسورة القصيرة. (مصنف ابن ابی شیبة:۳/ ۲۵۵ -۲۵٦، فی الرجل یقرن السور فی الرکعة، من رخص فیه، المجلس العلمی).

په مصنف عبد الرزاق کي راځي:

حدثنا عبد الرزاق عن محمد بن مسلم عن إبراهيم بن ميسرة عن بن طاؤوس قال: كان أبي يجمع بين ﴿ سبح اسم ربك الأعلى﴾ و ﴿ الليل إذا يغشى ﴾ في ركعة وبين ﴿ والضحى ﴾ و ﴿ ألم نشرح ﴾ في ركعة في المكتوبة. (مصنف عبد الرزاق:۲/ ۱٤۹).

په مؤطا امام مالک رحمه الله کي راځي:

أخبرنا مالك عن نافع :أن عبد الله بن عمر رضي الله عنه أنه كان إذا صلى وحده يقرأ في الأربع جميعًا في كل ركعة بأم القرآن وسورة من القرآن قال: وكان يقرأ أحيانًا بالسورتين والثلاث في الركعة الواحدة من صلاة الفريضة. (مؤطا امام مالک:٦۳).

تر دې روایت لاندې محشي مولانا اشفاق الرحمن کاندهلوی رحمه الله فرمايي:

وكان ابن عمر رضي الله عنه أحيانًا أی فی بعض الأوقات يقرأ بالسورتين والثلث فی الركعة الواحدة من صلاة الفريضة، قال الزرقانی: وبجواز ذلک قالت الأيمة الأربعة لرواية ابن مسعود رضي الله عنه :لقد عرفت النظائر التی كان النبی صلى الله عليه وسلم يقرن بينهن، الحديث. قال العينی فی حديث ابن مسعود رضي الله عنه فی النظائر: فيه جواز الجمع بين السورتين فی ركعة واحدة وإليه ذهب النخعی رحمه الله والثوری رحمه الله وأبو حنيفة رحمه الله ومالک رحمه الله والشافعی رحمه الله

وأحمد رحمہ اللہ فی روایة...... وفی المغنی: لابأس بالجمع بین السور فی صلاة النافلة الخ ......وأما الفریضة فالمستحب أن یقتصر علی سورة مع الفاتحة من غیر زیادة علیها لأن النبی ﷺ هکذا کان یصلی أکثر صلاته وأمر معاذاً رضی اللہ عنہ أن یقرأ فی صلاته کذلک وإن جمع بین السورتین ففیه روایتان: أحدهما یکره والثانیة لایکره لأن حدیث ابن مسعود رضی اللہ عنہ مطلق فی الصلاة فیحتمل الفرض وقد روی الخلال بسنده عن ابن عمر أنه کان یقرأ فی المکتوبة بالسورتین فی رکعة. (حاشیة مؤطا امام مالک رحمہ اللہ:۱۰۶۳، رقم ۵، ارام باغ کراچی).

په اعلاء السنن کي راځي:

عن نافع قال: ربما أمنا ابن عمر رضی اللہ عنہ بالسورتین والثلاث فی الفریضة. (اعلاء السنن:٤/ ۱۳۳).

له ځینو روایاتو څخه معلومیږي چي دوه سورتونه په یوه رکعت کي جمع کول ښه نه دي.

وګورئ په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

حدثنا عبید الله بن موسی، عن عیسی، عن الشعبي، عن زید بن خالد الجهني، قال: ما أحب أني قرنت سورتین في رکعة ولو أن لي حمر النعم. (مصنف ابن أبی شیبة:۳/ ۲٤، المجلس العلمی).

په شرح معاني الآثار کي راځي:

عن أبي العالیة قال: أخبرنی من سمع النبی ﷺ یقول: "لکل سورة رکعة"

حدثنا أبو بکرة، قال: ثنا أبو داود، قال: ثنا شعبة، عن یعلی بن عطاء، قال: سمعت ابن لبیبة، قال: قال رجل لابن عمر رضی اللہ عنہ: إني قرأت المفصل في رکعة أو قال: في لیلة، فقال ابن

عمر رضي الله عنه: إن الله لو شاء لأنزله جملةً واحدةً ولكن فصله لتعطى كل سورة حظها من الركوع والسجود. (شرح معانى الاثار: ١/ ٢٤٠، باب جمع السور فى ركعة، فيصل).

په مصنف ابن ابى شيبه کي راځي:

حدثنا وكيع، عن إسرائيل، عن إبراهيم بن عبد الأعلى، عن سويد بن غفلة؛ أنه كان يقرن السورتين في ركعة.

حدثنا عبيد الله بن موسى، عن عثمان بن الأسود، عن عكرمة بن خالد، قال: كان أبو بكر بن عبد الرحمن بن الحارث بن هشام لا يجمع بين سورتين في ركعة، ولا يجاوز سورةً إذا ختمها. (مصنف ابن بى شيبة: ٣/ ٢٥٨).

د فقهاووو دغه عبارات وګورئ.

په فتاوى شامي کي راځي:

فى شرح المنية: الأولى أن لايفعل فى الفرض ولو فعل لايكره إلاأن يترك بينهما سورة أو أكثر. (ردالمحتار: ١/ ٥١، سعيد).

په فتاوى تاتار خانيه کي راځي:

وإذا جمع بين السورتين فى ركعة رأيت فى موضع أنه لابأس به وذكر شيخ الإسلام أنه لاينبغى له أن يفعل هكذا على ماهو ظاهر الرواية. (الفتاوى التاتار خانية: ١/ ٤٥٢).

په احسن الفتاوى کي راځي:

د فرض لمانځه په يوه رکعت کي دوه سورتونه جمع کول خلاف اولى دي. (احسن الفتاوى: ٣/ ٧٦).

پہ فتاوی محمودیه کي راځي:

په فرائضو کي نامناسبه او په نوافلو کي څه باک نه سته. (فتاوی محمودیه:۷/ ۹۰).

د امام له پاره پر قرآئت مسنونه اکتفاء کول افضل او ښه دي.

وګورئ په مسلم شریف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي ﷺ قال " إذا أم أحدكم الناس فليخفف فإن فيهم الصغير والكبير والضعيف والمريض، فإذا صلى وحده فليصل كيف شاء ". (مسلم شريف:۱/ ۱۸۸).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولا يزيد على القراءة المستحبة ولا يثقل على القوم ولكن يخفف بعد أن يكون على التمام والاستحباب. كذا في المضمرات ناقلًا عن الطحاوي. (الفتاوى الهندية:۱/ ۷۸).

په عمدة الفقه کي راځي:

پر قرآئت مسنونه او مستحبه دي زیاتونه نه کوي او لمونځ دي پر جماعت نه درنوي خو د پوره سنت او مستحب قرآئت اداء کولو وروسته دي د تخفیف لحاظ وساتي. (عمدة الفقه: کتاب الصلاة حصه دوم:ص:۱۱٦).

خو ښکله چي د صحابه وو څخه جمع کول ثابت دي ځکه نو کله کله یې په جمع کولو کي هم څه باک نه سته او امام بخاري رحمه الله د هغه له پاره باب راوړی دئ.

وګورئ حضرت شیخ رحمه الله په الابواب والتراجم کي په باب الجمع بين السورتين فى ركعة لاندي لیکي: "باب الجمع بين السورتين فى ركعة"

تر دي وروسته فرمایي:

قال العلامة العيني رحمه الله فى حديث أنس رضي الله عنه: جواز الجمع بين السورتين فى ركعة واحدة وإليه ذهب أبو حنيفة رحمه الله ومالك رحمه الله والشافعي رحمه الله وأحمد رحمه الله فى

روایة...... وقال ابن عابدين رحمه الله عن أبي حنيفة رحمه الله أنه قال: لا أحب أن يقرأ سورتين بعد الفاتحة في المكتوبات ولو فعل لايكره وفي النوافل لابأس به. (الأبواب والتراجم: ص ۹۳، باب الجمع بين السورتين في ركعة، سعيد).

همدارنګه له مرفوع روايت څخه ثابت دئ، وګورئ په ترمذي شريف کي راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه...... كان النبي ﷺ يقرن بين كل سورتين في كل ركعة. (رواه الترمذي: ۱/ ۱۳۱، باب ماذكر في قراءة سورتين في ركعة).

په معارف السنن کي راځي:

يجوز قراءة السورتين في ركعة واحدة من غير كراهة، كما في "شرح معاني الآثار" للطحاوي (۱/ ۲۰۶) (باب جمع السور في ركعة) وذكر أن هذا مذهب أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله و محمد رحمه الله. وذكر في "البحر": إن الجمع بين السورتين بينهما سور أو سورة واحدة مكروه ثم إن جواز الجمع بين سورتين في ركعة واحدة حكاه العيني رحمه الله في "العمدة" (۳- ۱۰۲) عن الأئمة الأربعة وعن كثير من الصحابة والتابعين. (معارف السنن: ۵/ ۱۳۸، سعيد). والله تعالى اعلم.

په مسئله کي د فاتحه خلف الامام د شوافعو له پاره د فکر ور خبره

سوال: اکثره شوافع ليدل سوي دي چي په جهري لمنځونو کي د امام له فاتحې څخه وروسته يا له ده سره فاتحه لولي نو ايا شوافع حضرات به په جهري لمنځونو کي د امام تر شا فاتحه لولي او که نه؟

الجواب: د دغې مسئلي ښه تحقيق حضرت مولانا سرفراز خان صاحب په احسن الكلام في ترک القرآئت خلف الامام کي کړی دئ د هغه تحرير په رڼا کي د لنډ ترميم او زياتوني سره د شوافعو په خدمت کي دا تحقيق وړاندي کوو.

امام شافعي د کتاب الام په کتاب الصلاة کي د امام او منفرد له پاره د سورة فاتحې ضروري ګڼل بیان کړي دي.

حیث قال: فواجبعلی من صلی منفردًا أو إمامًا أن یقرأ بأم القرآن في کل رکعة لا یجزیه غیرها وأحب أن یقرأ معها شیئا آیةً أو أکثر وسأذکر المأموم إن شاء الله تعالی. (کتاب الأم:۱/ ۲۱۰، باب القراءة بعد التعوذ).

وقال في موضع آخر: والعمد في ترك أم القرآن والخطأ سواءفي أن لا تجزئ رکعةإلا بها أو بشيء معها إلا ما یذکر من المأموم، إن شاء الله تعالی. (کتاب الأم:۱/ ۲۱۰، باب من لایحسن القراءة دار الکتب العلمیة).

په ذکر سوي عبارت کي چي امام شافعي رحمه الله د مقتدي د حکم په هکله کومه وعده کړي وه هغه وعده امام شافعي رحمه الله د کتاب الحدود څخه وروسته په محل غیر مظان کي پوره کړي وه.

حیث قال: ونحن نقول کل صلاة صلیت خلف الإمام والإمام یقرأ قراءةً لا یسمع فیها قرأ فیها. (کتاب الأم:۷/ ۲۵۶، اختلاف علی ابن مسعود رضي الله عنه، ۲۱۰، دار الکتب العلمیة، بیروت لبنان).

څنګه چي دا وعده يې بې محله پوره کړي ده ځکه نو ډېرو اکابرينو ليکلي دي چي په کتاب الام کي يې دا وعده نه ده موندلي لکه چي حضرت شيخ زکريا رحمه الله ليکي:

ثم لم أجد ذکر المأموم فیما تتبعت. (أوجز المسالک:۲/ ۱۶۸).

همدارنګه شيخ بنوري رحمه الله فرمايي:

والنسخة المطبوعة لم نجد فیها حکم المأموم. (معارف السنن:۳/ ۱۸۶، سعید)

اشکال: امام مزنی رحمه الله له امام شافعي رحمه الله څخه په مختصر المزني کي په جهري لمونځونو کي د فاتحې وجوب نقل کړی دئ او همدغه يې جدید قول ګڼلی دئ.

قال المزنی رحمه الله: قد روی أصحابنا علی الشافعی أنه قال: یقرأ من خلفه وإن جهر بأم القران. (مختصر المزنی:۲۶، باب صفة الصلاة وما یجوز منها، دار الکتب العلمیة).

الجواب: د دغه اشکال جواب دا دئ چې کتاب الام د ربیع بن سلیمان په روایت سره دئ او د امام مزنی رحمه الله په مقابل کي هغه زیات قابل اعتماد او ثقه دئ لکه چې امام خلیلی فرمایي:

ثقة متفق علیه والمزنی مع جلالته استعان علی ما فاته عن الشافعی بکتاب الربیع وقال مسلمة: کان من کبار أصحاب الشافعی. (تهذیب التهذیب:۳/ ۲۲۱، بیروت).

امام ابو الحسن رحمه الله فرمایي:

البویطی کان یقول: الربیع أثبت فی الشافعی منی. (تهذیب التهذیب:۳/ ۲۲۱، بیروت).

مولی احمد بن مصطفی المعروف بطاش کبری زاده لیکي:

الربیع بن سلیمان الثقة الثبت فیما یرویه حتی رجحوا روایته عند تعارض المزنی مع علو قدر المزنی علمًا ودینًا وجلالةً. (أحسن الکلام:۸۲، بحواله مفتاح السعادة:۲/ ۱۶۲).

خلاصه دا ده چې د امام ابو یعلی رحمه الله او محدثینو د فیصلي له امله د امام ربیع بن سلیمان روایت ته د تاریخي او څرګندو حوالو له امله ترجیح حاصله ده، لهذا شافعی مقتدی ته په جهري لمنځونو کي له امام سره او یا وروسته فاتحه ویل په کار نه ده او همدغه مسلک د نورو درو امامانو هم دئ. والله تعالی اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿ اجعلوا أئمتكم خياركم فإنهم وفدكم، فيما بينكم وبين ربكم﴾

شپږم .... باب

لومړی فصل

د امام اړوند احکام

د امام درېدل له مقتديانو سره

سوال: امام كه له نورو مقتديانو سره په يوه صف كي ولاړ وو حكم يې څه دئ؟

الجواب: بېله عذره د امام درېدل د مقتديانو په صف كي مكروه تحريمي دي او كه عذر وي مثلاً ځاى كافي نه وي او په غولي كي ځاى نه وي يا خو ځاى وي مگر د باران او يا سختې گرمي له امله لمونځ نه سي كولاى، نو بېله كراهته روا دي خو ددې خبري فكر به كوي چي مقتدى به له امام څخه نه وړاندي كېږي كه نه د مقتدى لمونځ فاسدېږي.

وگورئ په طحطاوى على مراقى الفلاح كي راځي:

وفى السيد وإن كثر القوم كره قيام الإمام وسطهم تحريمًا لترك الواجب، وتمامه فيه. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ۳۰٦، فصل فى بيان الاحق بالإمامة، قديمى).

په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما بيان مقام الإمام والمأموم فنقول : إذا كان سوى الإمام ثلاثة يتقدمهم الإمام لفعل رسول الله ﷺ وعمل الأمة بذلك . وروي عن أنس بن مالك رضي الله عنه أنه قال : إن جدتي مليكة دعت رسول الله ﷺ إلى طعام فقال رسول الله ﷺ : " قوموا لأصلي بكم ، فأقامني واليتيم من ورائه ، وأمي أم سليم من ورائنا " ؛ ولأن الإمام ينبغي أن يكون بحال يمتاز بها عن غيره ولا

يشتبه على الداخل ليمكنه الاقتداء به ، ولا يتحقق ذلك إلا بالتقدم ولو قام في وسطهم أو في ميمنة الصف أو في ميسرته جاز وقد أساء ، أما الجواز فلأن الجواز يتعلق بالأركان وقد وجدت. وأما الإساءة فتركه السنة المتواترة. (بدائع الصنائع:۱/ ۱۵۸، سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

(والزائد يقف خلفه فلو توسط اثنين كره تنزيهًا وتحريمًا لو أكثر أفاد أن تقدم الإمام أمام الصف واجب كما أفاده في الهداية والفتح. (شامي:۱/ ٥٦۷، سعيد).

په امداد الفتاح کي راځي:

وتقدم الإمام بعقبه عن عقب المأموم شرط لصحة اقتداءه. (امداد الفتاح:ص ۳۳۳، بيروت).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

که يو مقتدی وي د امام پر برابر دي ودرېږي که مقتديان دوه وي نو د امام پر برابر درېدل مکروه تنزيهي دي او که له دوه زيات وي نو د امام پر برابر درېدل مکروه تحريمي دي، البته کي چيري شاته په مسجد کي ځای نه وي او يا ځای وي خو د باران يا سخت لمر له امله درېدل مشکل وي نو بيا کراهت نه ستهٔ. (فتاوی رحيميه:۳/ ٤٥).

همدارنګه وګورئ احسن الفتاوی:۳/ ۲۹۸، باب الامامة او فتاوی محموديه:٦/ ٤۹۳ او عمدة الفقه:۲/ ۲۰٦). والله ﷻ اعلم.

که د امام قميص او يا پرتوګ له بجلکو کښته وي

سوال: که د لمانځه په حالت کي د امام قميص او يا پرتوګ له بجلکو ښخه لاندي وي نو د لمانځه حکم يې څه دئ؟

الجواب: د بجلکو ښخه لاندي قميص او يا پرتوګ ځړول د لمانځه ښخه دباندي هم مکروه دي او د لمانځه په دوران کي به يې کراهت نور هم سخت وي لهذا لمونځ به مکروه تحريمي وي او که امام همېشه دغه رويه غوره کړي نو فاسق دئ، امامت يې مکروه تحريمي دئ.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن أبي هريرة ، ﷺ، عن النبي ﷺ قال : ما أسفل من الكعبين من الإزار ففي النار. (رواه البخاری:۲/ ۸٦۱/ ۵۵۵۹، باب ما أسفل من الكعبين ففی النار).

په طحطاوي کي راځي:

(ولذا كره إمامة الفاسق) والمراد الفاسق بالجارحة لا بالعقيدة، والفسق لغة خروج عن الاستقامة وهو معنى قولهم خروج الشيء عن الشيء على وجه الفساد وشرعاً خروج عن طاعة الله تعالى بارتكاب كبيرة قال القهستاني أي أو إصرار على صغيرة ..... (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۳۰۳، قدیمی – والفتاوی الهندية:۱/ ۸۵ – والشامي:۱/ ۵٦۰، سعيد – امداد الفتاح:ص ۳٤۲، بیروت).

په بيهقي کي راځي:

عن جابر بن عبد الله ﷺ قال : سمعت رسول الله ﷺ على منبره يقول :" يا أيها الناس توبوا إلى الله عز وجل قبل أن تموتوا ، وبادروا بالأعمال الصالحة ، وصلوا الذی بينكم وبين ربكم بكثرة ذكركم له ...... ألا ولا يؤمن فاجرمؤمنًا إلا أن يقهره بسلطان يخاف سيفه وسوطه". (رواه البيهقی فی سننه الكبری:۳/ ۱۷۱، كتاب الجمعة، دار الفكر – وابن ماجه:۱/ ۷۵، باب فی فرض الجمعة).

په بيهقی کي راځي:

عن ابن عمر ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ :" اجعلوا أئمتكم خياركم فإنهم وفدكم فيما بينكم وبين ربكم ". (رواه البيهقی فی سننه الكبری:۳/ ۹۰، باب اجعلوا ائمتكم خياركم).

په طبرانی کبير کي راځي:

عن مرثد بن أبي مرثد الغنوي رحمه الله وکان بدريا قال: قال رسول الله ﷺ إن سركم أن تقبل صلاتكم، فليؤمكم خياركم فإنهم، وفدكم فيما بينكم وبين ربكم. (المعجم الكبير للطبراني:۱۵/ ۲٦۰/ ۱۷۱٦۵، ما اسند ابن ابی مرثد ص).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

د فاسق امامت مکروه تحریمي دئ فاسق هغه دئ چي د کبائرو مرتکب او یا د صغائرو عادي وي.

(فتاوی رحیمیه:۱/ ۱٦۳)

په فتاوی دار العلوم کي راځي:

امام باید داسي ونه کړي ځکه لوړی خو د بجلکو څخه لاندي د پرتاګه ځړول د لمانځه د پاندي هم ممنوع دي دا کار د فسق لامل دئ او د فاسق تر شا لمونځ مکروه دئ او فاسق امام ګرځول بیله تویي مکروه دي او دوهم دا چي په لمانځه کي هم د داسي حرکت تکرارول په کار نه دي په دې کي هم کراهت دئ او په ځینو صورتونو کي د لمانځه د فساد بیره ده، په هر حال امام مذکور باید له داسي کار څخه منع سي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۳/ ۱۱۷، باب الامامت).

همدارنګه وګورئ: (احسن الفتاوی:۳/ ۲۹٦، فتاوی محمودیه:٦/ ۹۵، فتاوی رحیمیه:۱/ ۱۷۵).

والله تعالیٰ اعلم.

د ږیري وهونکي د امامت حکم

سوال: **د ږیره وهونکی د امامت حکم څه دئ؟**

الجواب: **هغه څوک چي له قبضې څخه ږیره کمه وي هغه فاسق او فاجر دئ امامت یې مکروه تحریمي دئ، لهذا باید دینداره او متقي کس امام جوړ سي.**

په فتح القدیر کي راځي:

وأما الأخذ منها وهي دون ذلک أي بقدر المسنون وهو القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد. (فتح القدير:۲/ ۳٤۸، کتاب الصوم، باب مایوجب القضاء والكفارة).

په طحطاوي على مراقی الفلاح کي راځي:

أو تطويل اللحية إذا كانت بقدر المسنون، وهو القبضة، والأخذ من اللحية وهو دون ذلك كما يفعله بعض المغاربة، ومخنثة الرجال لم يبحه أحد، وأخذ كلها فعل يهود الهند، ومجوس الأعاجم. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ۶۸۱، كتاب الصوم، فصل فيما يكره للصائم، قديمى – وهكذا فى الشامى:۲/ ۴۱۸، كتاب الصوم، مطلب فى الاخذ اللحية، سعيد).

لو قدموا فاسقًا يأثمون بناءً على أن كراهة تقديمه كراهة تحريم لعدم اعتنائه بأمور دينه وتسهله فى الإتيان بلوازمه فلا يبعد منه الإخلال ببعض شروط الصلاة وفعل ما ينا فيها بل هو الغالب بالنظر ألى فسقه. (شرح منية المصلى:ص ۵۱۳، فصل فى الامامة، سهيل – وكذا فى الفتاوى الهندية:۱/ ۸۵، الباب الخامس فى الامامة، الفصل الثالث فى بيان من يصلح امامًا لغيره).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

یوه قبضه ږیره پرېښودل ضروري ده.

د مشکوة شارح حضرت شاه عبد الحق محدث دهلوی رحمه الله فرمايي:

وگذا شتن آن بقدر قبضه واجب است یعنی یوه قبضه پرېښودل يې واجب دي سنت يې ځکه ګڼي چي ديني طريقه او د ټولو انبياء عليهم السلام سنت يعنى د هغو طريقه او د رسول الله ﷺ په سنتو ثابته ده. (اشعة اللمعات:۱/ ۲۸۸).

دا مطلب نه دئ چي درجه يې هم د سنت ده چي پر پرېښودلو يې ګناه وي بلکي د هغه پرېښودل او پر پرېښودلو يې دوام کول ګناه کبيره ده، له دې امله دغه امام فاسق دئ او د فاسق امامت مکروه دئ.

(فتاوی رحیمیه:۱/ ۱۷۵).

همدارنګه وګورئ: (احسن الفتتاوی:۳/ ۲۶۰، باب الامامة والجماعة او فتاوی محمودیه:۶/ ۱۲۴).

والله ﷻ اعلم.

په څلورو مذاهبو کي د ږيري شرعي حيثيت او د هغه پر پريکونکی د فسق حکم

د احنافو مذهب

په فتاوى بزازيه کي دي:

لايحل للرجل أن يقطع اللحية. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية، كتاب الاستحسان:۳/ ۳۷۹).

په فتح القدير کي راځي:

وأما الأخذ منها وهي دون ذلك كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد.

(فتح القدير: كتاب الصوم، باب مايوجب القضاء والكفارة:۲/ ۳٤، دار الفكر).

د مالکي مذهب:

وحلق اللحية لا يجوز وكذلك الشارب وهو مثلة وبدعة ويؤدب من حلق لحيته أو شاربه.

(مواهب الجليل لشرح مختصر خليل، كتاب الطهارة، فصل في فرائض الوضوء:۱/ ۳۱۳).

په حاشية العدوي کي راځي:

فإن قلت: وما حكم القص عند عدم الطول أو الطول قليل؟ قلت: صرح بعض الشراح بأنه يحرم القص ان لم تكن طالت كالحلق. (حاشية العدوى باب في بيان الفطرة:۲/ ۵۸۱).

د شافعه مذهب:

په حواشی الشرواني کي راځي:

قال الشيخان يكره حلق اللحية واعترضه ابن الرفعة في حاشية الكافية بأن الشافعي رحمة الله عليه نص في الام على التحريم قال الزركشي وكذا الحليمي في شعب الايمان وأستاذه القفال الشاشي في محاسن الشريعة وقال الاذرعي الصواب تحريم حلقها جملة لغير علة بها كما يفعله القلندرية. (حواشی الشروانی علی تحفة المحتاج شرح المنهاج، فصل فی العقيقة:۹/ ٤۳٦).

پہ فتح الباري کې راځي:

ثم حكى الطبري اختلافًا فيما يؤخذ من اللحية هل له حد أم لا؟ فأسند عن جماعة الاقتصار على أخذ الذي يزيد منها على قدر الكف، وعن الحسن البصري أنه يؤخذ من طولها وعرضها ما لم يفحش وعن عطاء رحمه الله نحوه. (فتح الباري:۱۰/ ۳۵۰، باب تقليم الأظفار، دار النشر للكتب الإسلامية).

پہ شرح مهذب کې راځي:

سبق في الحديث أن اعفاء اللحية من الفطرة فالاعفاء بالمد: قال الخطابي وغيره هو توفيرها وتركها بلا قص، كره لنا قصها كفعل الاعاجم، قال وكان من زى كسرى قص اللحى وتوفير الشوارب. (المجموع شرح المهذب، مسائل مستحبة من خصال الفطرة:۱/ ۲۹۰، دار الفكر).

د حنابله ؤ مذهب:

وإعفاء اللحية بأن لا يأخذ منها شيئًا قال في المذهب ما لم يستهجن طولها ويحرم حلقها ذكره الشيخ تقي الدين ولا يكره أخذ ما زاد على القبضة. (كشاف القناع عن متن الإقناع، كتاب الطهارة، ويسن الإمتشاط....:۱/ ۷۵).

پہ بخاري شريف کې راځي:

حدثنا محمد بن منهال ، حدثنا يزيد بن زريع ، حدثنا عمر بن محمد بن زيد ، عن نافع ، عن ابن عمر رضي الله عنه، عن النبي ﷺ قال : خالفوا المشركين وفروا اللحى وأحفوا الشوارب ، وكان ابن عمر رضي الله عنه إذا حج ، أو اعتمر قبض على لحيته فما فضل أخذه. (صحيح البخارى، كتاب اللباس، باب تقليم الأظفار:۲/ ۸۷۵، ياسر).

علامه عيني رحمه الله د دې حديث تشريح کوي فرمايي:

" قوله خالفوا المشركين " أراد بهم المجوس، يدل عليه رواية مسلم : خالفوا المجوس لأنهم كانوا يقصّرون لحاهم ومنهم من كان يحلقها . (عمدة القارى:۱۵/ ۹۰).

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کي فرمايي :

" قوله خالفوا المشركين " في حديث أبي هريرة رضي الله عنه عند مسلم خالفوا المجوس، وهو المراد في حديث ابن عمر رضي الله عنه فإنهم كانوا يقصون لحاهم ومنهم من كان يحلقها. (فتح الباري:۱۰/ ۴۹، دار نشر الكتب الإسلامية).

علامه نووي رحمه الله په شرح دمسلم کي فرمايي:

إعفاء اللحية فمعناه توفيرها وهو معنى أوفوا اللحى في الرواية الأخرى ، وكان من عادة الفرس قص اللحية فنهى الشرع عن ذلك. (شرح الصحيح لمسلم للنووى:۱/ ۱۲۹، كتاب الطهارة، باب خصال الفطرة، فيصل).

په مشکوة شريف کي راځي:

ابن عمر رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم " من تشبه بقوم فهو منهم ". (مشكاة المصابيح:۳۷۵، كتاب اللباس، الفصل الثانى، قديمى).

په مرقات کي راځي :

أي من شبه نفسه بالكفار مثلًا من اللباس وغيره ، أو بالفساق أو الفجار أو بأهل التصوف والصلحاء الأبرار فهو منهم أي في الإثم والخير قال الطيبى هذا عام فى الخلق والخلق والشعار ولما كان الشعار أظهر فى الشبه ذكر فى هذا الباب، قلت بل الشعار هو المراد بالتشبه لاغير فان الخلق الصورى لايتصور فيه التشبه والخلق المعنوى لايقال فيه التشبه بل

هو التخلق. (مرقاة المفاتيح على مشكاة المصابيح: ۸/ ۲۵۵، كتاب اللباس، الفصل الثاني، مسئلة التشبه. امداديه).

د پورتنی حدیث او فقهي عبارتونو په رڼا کي دا خبره څرګندیږي چي د څلورو امامانو په اند د ږیري خریل حرام دي او وهل يې د ځينو په اند حرام او د ځينو په اند مکروه دي بيا نو پر مکروه کار دوام کونکی به فاسق وي ځکه پر صغيره له صرار کولو څخه هغه د کبيرۍ په حکم کي کيږي لکه څنګه چي د علامه شامي رحمه الله د عبارت څخه معلوميږي. ((لأن الصغيرة تأخذ حكم الكبيرة بالإصرار))(ردالمحتار: ۵/ ۴۷۳). **او د څلورو امامانو په اند د فاسق امامت مکروه تحريمي دئ.**

وګورئ په الفقه على المذاهب الاربعه کي راځي:

تكره إمامة الفاسق إلا إذا كان إمامًا لمثله باتفاق الحنفية والشافعية، أما الحنابلة قالوا: إمامة الفاسق ولو لمثله، غير صحيحة إلا في صلاة الجمعة والعيد إذا تعذرت صلاتهما خلف غيره، فتجوز إمامته للضرورة، والمالكية قالوا: إمامة الفاسق مكروهة ولو لمثله. (الفقه على المذاهب الاربعة، ۱/ ۳۴۷، مبحث مكروهات الصلاة).

خلاصه: د څلورو امامانو په اتفاق د ږیري خرونکی او یا له قبضې څخه د کمونکی امامت مکروه تحريمي دئ. والله تعالی اعلم.

د امام د قرآئت د ختم کولو څخه مخکي د رکوع له پاره لاسونه ایله کول

سوال: يو امام صاحب رکوع ته له تللو مخکي څپل لاسونه ایله کوي حال دا چي قرآئت يې لا تر اوسه شروع وي، نو د داسي کولو حکم به څه وي؟

الجواب: په مسنون ذکر کي لاس نیول هم مسنون دي لهذا د قرآئت په دوران کي لاس پرېښودل له وخت څخه مخکي وي او خلاف سنت دي، امام صاحب بايد داسي ونه کړي د سنت مطابق دي د لمانځه کولو اهتمام وکړي.

په امداد الفتاح کي راځي:

و یسن وضع الرجل یده الیمنی علی الیسری تحت سرته. لحدیث علي ﷺ أن من السنة وضع الیمنی علی الشمال تحت السرة. (امداد الفتاح: ص ۲۸۲، بیروت).

په هدایه کي راځي:

الاعتماد سنة القیام عند أبي حنیفة رحمه الله وأبي یوسف رحمه الله حتی لا یرسل حالة الثناء والأصل أن کل قیام فیه ذکر مسنون یعتمد فیه ومالا فلا هو الصحیح، فیعتمد في حالة القنوت وصلاة الجنازة ویرسل في القومة وبین تکبیرات الأعیاد. (هدایه:۱/ ۱۰۲، باب صفة الصلاة).

په شرح العنایه کي راځي:

وعن محمد رحمه الله أنه سنة القراءة ...... والصحیح ما قاله شمس الأئمة الحلواني وهو الذي أشار إلیه فی الکتاب أن کل قیام ...... (شرح العنایة علی هامش فتح القدیر:۱/ ۲۸۷، باب صفة الصلاة، دار الفکر).

همدارنګه وګورئ: (البحر الرائق:۱/ ۳۰۸، کوئټه – وکذا فی الشامی:۱/ ٤٨٧، سعید). والله ﷻ اعلم.

امام چي محراب پرېږدي او د مسجد په منځ کي درېږي

سوال: امام که محراب پرېږدي او د مسجد په منځ کي ودرېږي امامت وکړي نو حکم يې څه دئ؟

الجواب: د نبي کریم ﷺ په محراب کي درېدل له ځینو روایاتو څخه ثابت دي او د سلف صالحینو او امت له تعامل څخه هم همداسي نقل سوي دي لهذا بېله ضرورته محراب پرېښودل ښه نه دي، البته په محراب کي درېدل ضروري هم نه دي، فقهاء چي کله دا بحث کوي چي امام به په محراب کي په پوره توګه ولاړ نه وي نو د هغه مطلب دا دئ چي محراب مطلوب دئ خو د محراب په ننس کي درېدل ښه نه دي، مګر د ګرمی او یا د نورو عذرونو څخه درست دي.

وګورئ په بیهقي کي راځي:

عن سعيد بن عبد الجبار بن وائل عن أبيه عن أمه عن وائل بن حجر ﷺ قال : حضرت رسول الله ﷺ إذا أو حين تهض إلى المسجد فدخل المحراب ثم رفع يديه بالتكبير......

(رواه البيهقى فى سننه الكبرى:۲/ ۳۰، دار المعرفة).

په طبرانی کي راځي:

عن سهيل بن سعد ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يصلى إلى خشبة فلما بنى له المحراب تقدم إليه. (رواه الطبرانى فى الكبير:٦/ ١٢٦).

په فتاوی شامي کي راځي:

ويقف وسطًا قال في المعراج : وفي مبسوط بكر : السنة أن يقوم في المحرابُ ليعتدل الطرفان ، ولو قام في أحد جانبي الصف يكره ، ...... تنبيهفهم من قوله أو إلى سارية كراهة قيام الإمام في غير المحراب ، ويؤيده قوله قبله السنة أن يقوم في المحراب ، وكذا قوله في موضع آخر : السنة أن يقوم الإمام إزاء وسط الصف ، ألا ترى أن المحاريب ما نصبت إلا وسط المساجد وهي قد عينت لمقام الإمام . والظاهر أن هذا في الإمام الراتب لجماعة كثيرة لئلا يلزم عدم قيامه في الوسط ، فلو لم يلزم ذلك لا يكره. (شامى:١/ ٥٦٨، باب الامامة، سعيد).

په بل ځای کي راځي:

ومقتضاه أن الإمام لو ترك المحراب وقام في غيره يكره ولو كان قيامه وسط الصف لأنه خلاف عمل الأمة. (شامى:١/ ٦٤٦، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وينبغي للإمام أن يقف بإزاء الوسط فإن وقف في ميمنة الوسط أو في ميسرته فقد أساء لمخالفة السنة . (الفتاوى الهندية:١/ ٨٩).

همدا ډول وګورئ: (امداد الفتاوی:۱/ ۲۸۳ – وفتاوی محمودیه:۶/ ۵۰۸ – واحسن الفتاوی:۳/ ۲۹۳ – وفتاوی حقانیه:۳/ ۱٤۲). والله ﷻ اعلم.

د امام له پاره په محراب کي دننه د دريدلو حکم

سوال: د امام له پاره په محراب کي دننه د دريدلو حکم څه دئ؟

الجواب: د امام له پاره په محراب کي دننه دريدل مکروه دي خو که امام د محراب څخه دباندي ودريږي او سجده په محراب کي کوي نو دا درسته ده، همدارنګه که د امام سره دوه دري کسان ولاړ وي بيا هم څه باک نه سته ، همدارنګه د تنګی يا کوم بل سبب څخه امام دننه ودريږي بيا هم څه باک نه سته .

وګورئ په درمختار کي راځي:

ويكره قيام الإمام فی المحراب لاسجوده فيه ...... وفی الشامی: وحاصله أنه صرح محمد رحمه الله في الجامع الصغير بالكراهة ولم يفصل، فاختلف المشايخ في سببها فقيل كونه يصير ممتازاً عنهم في المكان لأن المحراب في معنى بيت آخر وذلك صنيع أهل الكتاب واقتصر عليه في الهداية واختاره الإمام السرخسي وقال: إنه الأوجه، وقيل: اشتباه حاله على من في يمينه ويساره، فعلى الأول يكره مطلقًا وعلى الثاني لا يكره عند عدم الاشتباه، وأيد الثاني في الفتح بأن امتياز الإمام في المكان مطلوب، وتقدمه واجب وغايته اتفاق الملتين في ذلك وارتضاه في الحلية وأيده، لكن نازعه في البحر بأن مقتضى ظاهر الرواية الكراهة مطلقًا، وبأن امتياز الإمام المطلوب حاصل بتقدمه بلا وقوف في مكان آخر ...... وهذا كله عند عدم العذر كجمعة وعيد فلو قاموا على الرفوف والإمام على الأرض أو فی المحراب الضيق المكان لم يكره لو كان معه بعض القوم فی الأصح، وبه جرت العادة فی جوامع المسلمين.(الدر المختار

مع الشامی: ۱/ ۶۴۵، سعید - وکذا فی الطحطاوی علی الدر المختار: ۱/ ۲۷۲ - والفتاوی الهندیة: ۱/ ۱۰۸، الفصل الثانی فیما یکره فی الصلاة).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

دامام له پاره په محراب کي درېدل مکروه دي يعنی کراهت تنزيهي دئ د ځاى دلږ والى او ياد لمونځ کونکو دډېر والى په وخت کي په محراب کي درېدل مکروه نه دي. (فتاوی محمودیه: ۶/ ۵۰۴، باب تسوية الصفوف).

همدارنګه وګورئ: (احسن الفتاوی: ۳/ ۳۱۰، باب الامامة او امداد الاحکام: ۱/ ۵۱۱، کتاب الصلاة).

والله تعالیٰ اعلم.

دامام له پاره د ربنا ولک الحمد ويلو حکم

سوال: دامام له پاره د سمع الله لمن حمده څخه وروسته د ربنا ولک الحمد ويل مستحب دي او که نه؟

الجواب: د متاخرينو د وينا مطابق امام ته هم د سمع الله لمن حمده وروسته ربنا ولک الحمد ويل افضل او مستحب دي او يوازي پر تسميع اکتفاء کول هم بيله کراهته روا او درست دي.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

ثم رفع رأسه، واطمأن قائلا : " سمع الله لمن حمده، ربنا لك الحمد " لو إمامًا أی لو كان إمامًا هذا قولهما وهو رواية عن الإمام ......ووجه قولها وهو رواية عن الإمام واختارها في الحاوي القدسي وفی الدراية عن الظهيرية كان الفضلي والطحاوي، وجماعة من المتأخرين يميلون إلى قولهما وهو قول أهل المدينة فاختاروا قولهما الموافق لتلك الرواية عن الإمام فاتبعناها، فقلنا: إن الإمام يجمع بينهما قول أبی هريرة رضي الله عنه كان رسول الله ﷺ حين يفرغ من صلاة الفجر من القراءة يكبر ويرفع رأسه من الركوع ويقول " سمع الله لمن

حمده، ربنا ولک الحمد" أنج الوليدبن الوليد" . الحديث (اخرجه البخاری فی الادب باب تسمية الوليد: (٦٢٠٠) ومسلم فی المسجد ومواضع الصلاة، والنسائی، وابن ماجة) " أنا أشبهكم صلاة برسول الله ﷺ وكان إذا قال: " سمع الله لمن حمده" قال: " ربنالک الحمد" وقول عائشة رضي الله عنها خسفت الشمس فی حياة رسول الله ﷺ وصلى بالناس، فلما رفع رأسه من الركوع قال: " سمع الله لمن حمده، ربنالک الحمد" رواه الطحاوی: (اخرجه مسلم فی الكسوف – وابو داؤد فی باب صلاة الكسوف والنسائی فی الكسوف) ولأنه داع إلى الحمد فلايتأ خرعنه بنفسه تحرزًا عن دخوله تحت قوله تعالى ﴿ أتأمرون الناس بالبرو تنسون أنفسكم﴾ البقرة:٤٤، وقوله تعالى: ﴿لم تقولون مالا تفعلون﴾. (الصنف:٢ – امداد الفتاح:ص ٣١٨، فصل فی كيفية تركيب الصلاة).

په شرح دمنية المصلى کي راځي:

أما الإمام فيأتى بعد التسميع بالتحميد أيضًا على قولهما .... وفي المحيط: قال شمس الأئمة الحلوانی: كان شيخنا القاضی الإمام يحكی عن أستاذه أنه كان يميل إلى قولهما وكان يجمع بين التسيمع والتحميد حين كان إمامًا والطحاوی كان يختار قولهما أيضًا وهكذه نقل عن جماعة من المتأخرين أنهم اختاروا قولهما وهو قول أهل المدينة انتهى.

(شرح منية المصلى:ص ٣١٨، سيهل – وكذا فی الشامی:١/ ٤٩٧، سعيد).

په فتاوی حقانيه کي راځي:

دا مسئله اختلافي ده او توسع پکښې سته که يې ووايي په لمانځه کي څه زيات والی نه راځي د ډېرو علماوو همدغه مسلک دئ او که يې نه ووايي په لمانځه کي څه کمی نه راځي، البته ويل يې ښه دي. (فتاوی حقانيه:٣/ ١٢٦ او احسن الفتاوی: ٣/ ٣١٢). والله ﷻ اعلم.

د هغه امام حکم چې ټلویژون ګوري

سوال: ایا په داسې عالم یا حافظ پسې تراویح یا فرائض کولای سي چې ټلویژون او فلمونه په پابندۍ سره ګوري؟

الجواب: داسې کس چې ټلویژون او فلمونه ګوري فاسق او فاجر دئ او په فاسق او فاجر پسې لمونځ مکروه تحریمي دئ لهذا داسې کس باید امام نه سي.

وګورئ په بیهقي کې راځي:

عن جابر بن عبد الله ﷺ قال : سمعت رسول الله ﷺ على منبره يقول :" يا أيها الناس توبوا إلى الله عز وجل قبل أن تموتوا ، وبادروا بالأعمال الصالحة ، وصلوا الذى بينكم وبين ربكم بكثرة ذكركم له ...... ولا يؤمن فاجرمؤمنًا إلا أن يقهره بسلطان يخاف سيفه وسوطه ". (رواه البيهقى فى سننه الكبرى:۳/ ۱۷۱، كتاب الجمعة، دار الفكر – وابن ماجه:۱/ ۷۵، باب فى فرض الجمعة).

همدارنګه په بیهقي کې راځي:

عن ابن عمر ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ :" اجعلوا أئمتكم خياركم فإنهم وفدكم فيما بينكم وبين ربكم ".(رواه البيهقى فى سننه الكبرى:۳/ ۹۰، باب اجعلوا ائمتكم خياركم).

په طبراني کبیر کې راځي:

عن مرثد بن أبى مرثد الغنوى ﷺ وكان بدريًا قال: قال رسول الله ﷺ إن سركم أن تقبل صلاتكم، فليؤمكم خياركم، فإنهم وفدكم فيما بينكم وبين ربكم. (المعجم الكبير للطبرانى:۱۵/ ۲۶۰/ ۱۷۱۶۵، ما سائد ابن ابى مرثد ص).

په طحطاوي کې راځي:

(ولذا كره إمامة الفاسق) والمراد الفاسق بالجارحة لا بالعقيدة، والفسق لغة خروج عن الاستقامة وهو معنى قولهم خروج الشيء عن الشيء على وجه الفساد وشرعًا خروج عن طاعة الله تعالى بارتكاب كبيرة، قال القهستاني: أي أو إصرار على صغيرة ...... (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۳۰۳، قدیمی – والفتاوی الهندية:۱/ ۸۵ – والشامی:۱/ ۵۶۰، سعید – امداد الفتاح:ص ۳۴۲، بیروت).

په شرح منية المصلي کي راځي:

لو قدموا فاسقًا يأثمون بناء على أن كراهة تقديمه كراهة تحريم لعدم اعتنائه بأمور دينه وتسهله فی الإتيان بلوازمه فلا يبعد منه الإخلال ببعض شروط الصلاة وفعل ما ينا فيها بل هو الغالب بالنظر إلى فسقه. (شرح منية المصلی:ص ۵۱۳، فصل فی الامامة، سهیل – وکذا فی الفتاوی الهندية:۱/ ۸۵، الباب الخامس فی الامامة الفصل الثالث فی بیان من یصلح امامًا لغیره).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

د فاسق امام امامت مکروه تحریمي دئ فاسق هغه دئ چي د کبائرو مرتکب او یا د صغائرو عادت لري. (فتاوی رحیمیه:۱/ ۱۶۳).

په احسن الفتاوی کي راځي:

تلویزون کتل ناروا دي او په داسي امام پسي اقتداء مکروه تحریمي ده خو لمونځ يې کيږي راګرځول يې ضروري نه دي. (احسن الفتاوی:۳/ ۲۸۸، باب الامامة او فتاوی محمودیه:۶/ ۲۱۱، باب الامامة). والله ﷻ اعلم.

امام ته د قد قامت الصلاة په وخت کي د شروع کولو حکم

سوال: په ځینو متنونو کي دا مسئله لیکل سوي ده چي امام به د قد قامت الصلاة په وخت کي په لمانځه شروع کوي: " ويشرع الإمام والقوم معه عند "قد قامت الصلاة" فی قول أبی حنيفة

رحمۃ اللہ علیہ ومحمد رحمۃ اللہ علیہ وعند الفراغ من الإقامة فی قول أبی یوسف رحمۃ اللہ علیہ" نقایة. په دغه مسئله کي کوم قول مختار دئ؟

الجواب: په دغه مسئله کي مختار قول دامام ابو یوسف دئ یعنی چي کله اقامت ختم سي بیا به امام شروع کوي امام ته د قد قامت الصلاة په وخت کي د شروع کولو حق سته البته د اقامت کونکي د لحاظ ساتلو له امله ښه دا ده چي کله اقامت ختم سي بیا دي شروع وکړئ.

وګورئ په شرح نقایه کي راځي:

والجمهور على قول أبي يوسف رحمۃ اللہ علیہ ليدرك المؤذن أول صلاة الإمام وعليه عمل أهل الحرمين. (شرح النقاية:۱/ ۱۳۸، باب الاذان، سعيد).

په طحطاوي کي راځي:

وقال أبو يوسف رحمۃ اللہ علیہ يشرع إذا فرغ من الإقامة أي بدون فصل وبه قالت الأئمة الثلاثة وهو أعدل المذاهب شرح المجمع وهو الأصح قهستاني عن الخلاصة، وهو الحق نهر. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۲۷۸، فصل فی اداء بها، قديمی).

په ردمختار کي راځي:

وشروع الإمام في الصلاة مذ قيل " قد قامت الصلاة " ولو أخر حتى أتمها لا بأس به إجماعًا وهو قول الثاني (أبي يوسف رحمۃ اللہ علیہ) والثلاثة، وهو أعدل المذاهب كما في شرح المجمع لمصنفه، وفي القهستاني معزيًا للخلاصة أنه الأصح . (شامی:۱/ ۴۷۹، صفة الصلاة، سعيد).

په طحطحاوي علی الدرالمختار کي راځي:

(قوله أنه الأصح) أی فالأخذ به أولى لأنه لايقع اشتباه على المصلين. (طحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۲۱۵، باب صفة الصلاة). والله تعالیٰ اعلم.

د امام له پاره د تسبیحاتو اندازه او په ناسته کي د دعاء ثبوت

سوال: امام باید په رکوع او سجده کي څو ځله تسبیحات ولولي او په جلسه کي به څه وايي؟

الجواب: د امام له پاره په رکوع او سجده کي پنځه ځله تسبیحات ویل افضل دي پر دري ځله کفایت کول هم درست دي په جلسه کي دعاء ویل ښه دي که مقتدیانو ته گرانه نه وي او که نه پرېښودل یې ښه دي.

هغه دعاء چي په حدیث کي ثابته ده هغه دا ده: " اللّٰهم اغفرلی وارحمنی واجبرنی واهدنی وارزقنی " یا دي په لنډه توگه داسي ووايي: "اللّٰهم اغفرلی".

وگورئ په فتاوی شامي کي راځي:

ونقل في الحلية عن عبد الله بن المبارك رحمه الله وإسحاق رحمه الله وإبراهيم رحمه الله والثوري رحمه الله أنه يستحب للإمام أن يسبح خمس تسبيحات ليدرك من خلفه الثلاث. (شامی:۱/ ٤۹٥، سعيد).

په خلاصه الفتاوی کي راځي:

ولو زاد على الثلاث فذلک أفضل بعد أن يختم على وتر خمس أو سبع أو تسع ولكن إن كان إمامًا لايطول وقال سفيان الثوری رحمه الله ينبغي أن يقول خمسًا حتى يتمكن القوم أن يقولوا ثلاثًا. (خلاصة الفتاوى:۱/ ٥٤، الفصل الثاني سنن الصلاة وآدابها، رشيديه).

همدا رنگه وگورئ: (شرح منية المصلي:ص ۲۸۲، سهيل – وفتح القدير:۱/ ۲۹۸ – واحسن الفتاوی:۳/ ۲۹٥).

په ناسته کي د دعاء ویلو ثبوت:

په ترمذی شریف کي راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنهما: أن النبي ﷺ كان يقول بين السجدتين: "اللّٰهم اغفر لي وارحمني واجبرني واهدني وارزقني". (رواه الترمذي: ١/ ٦٣، باب مايقول بين السجدتين).

مولانا انور شاه کشمیري رحمه الله د دې حدیث په شرح کې فرمايي:

وقال القاضي ثناء الله البانی بتی رحمه الله باستحباب الدعاء خروجاً عن الخلاف، ونعم ما قال القاضي المرحوم لا سيما في هذا العصر، فإن تحفظ الجلسة متعذر بدون تعيين الدعاء فيها. (العرف الشذى على سنن الترمذى: ١/ ٧٠).

علامه شامي رحمه الله فرمايي:

بل ينبغي أن يندب الدعاء بالمغفرة بين السجدتين خروجًا من خلاف الإمام أحمد رحمه الله لإبطاله الصلاة بتركه عامدًا ولم أر من صرح بذلك عندنا، لكن صرحوا باستحباب مراعاة الخلاف...... ولاضرر فى التزامه وإن لم يصرح به مشايخنا فإن القوعاد الشريعة لاتنبوعنه، كيف والصلاة هي التسبيح والتكبير والقراءة كما ثبت فى السنة. (شامى: ١/ ٥٠٥-٥٠٦، سعيد).

البته امام دې له داسې اوږدو دعاګانو ځنې ځان وساتي چې د مقتدیانو له پاره د تکلیف باعث جوړیږي. والله تعالیٰ اعلم.

په جهري لمانځه کې د امام د جهر کولو حکم

سوال: یو څوک د ماخستن لمونځ یوازې اداء کوي بل کس راغی او په ده پسې یې اقتداء وکړه امام په لمانځه کې جهر ونه کړ نو لمونځ وسو او که نه؟ ایا امام ته په جهري لمانځه کې جهر کول ضروري دي؟

الجواب: امام که دامامت نیت وکړ نو جهر کول ضروري دي خو که یې دامامت نیت ونه کړ نو جهر ضروري نه دي لهذا لمونځ یې وسو دامام له پاره په جهري لمانځه کي جهر کول واجب او ضروري دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ويجهر الإمام وجوبًا بحسب الجماعة، فإن زاد عليه أساء، ولو ائتم به بعد الفاتحة أو بعضها سرًا أعادها جهرًا بحر، لكن في آخر شرح المنية: ائتم به بعد الفاتحة، يجهر بالسورة إن قصد الإمامة وإلا فلا يلزمه الجهر. وفى الشامى: (قوله إن قصد الإمامة) عزاه في القنية إلى فتاوى الكرماني. ووجه أن الإمام منفرد حق نفسه، ولذا لايحنث فى لايؤم أحدًا ما لم ينو الإمامة، ولايحل ثواب الجماعة إلا بالنية. (الدر المختار مع الشامى:۱/ ۵۳۲، فصل فى القراءة، سعيد).

په امداد الفتاح کي راځي:

ويجب جهر الإمام بقراءة ركعتى الفجر وقراءة أولیى العشائين للمواظبة عليه. (امداد الفتاح:ص ۲۷۸، فصل فى واجبات الصلاة).

په بهشتي ګوهر کي راځي:

که یو چا دماخستن او یا سهار او یا ماښام لمونځ په کرار آواز اداء کاوه په دې وخت کي یو بل چا وروسي اقتداء وکړه نو د دغه له پاره دوه صورتونه دي:

۱_ یو دا چي دا کس په زړه کي قصد وکړئ چي زه امام جوړیږم چي لمونځ مو په جماعت سره سي.

**۲_ دوهم صورت دا چي قصد ونه کړي بلکي دا فکر یې وي چي که څه هم دی زما تر شا ولاړ دئ خو زه امام نه یم بلکي یوازي لمونځ کوم نو په لومړني صورت کي خو پر همدغه ځای پر ده په لوړ آواز قرآئت واجبیږي نو که یې سورة فاتحه یا کوم بل سورة په کرار آواز سره ویلي وي نو ده ته په کار

ده چي له همدغه ځای ځخه پاته په لوړ اواز ولولي ځکه امام ته د سهار، ماښام او ماخستن په وخت کي په لوړ آواز قرآئت ویل واجب دي په دوهم صورت کي په لوړ آواز قرآئت واجب نه دئ او د دغه مقتدي لمونځ هم درست دئ ځکه د مقتدي د لمانځه د صحت له پاره د امام د امامت نیت ضروري نه دئ. (بهشتی گوهر ۱۱ برخه،ص:۵۸). والله ﷻ اعلم.

په داسي امام پسي د لمانځه کولو حکم چي د بریلویت عقیده ولري

سوال: که یو ځوک داسي ځای ته ورسي چي امام یې د بریلویت عقیدهٔ لري، نو جماعت به پرېږدي او که به په جماعت کي شراکت کوي؟ که پر لمانځه کولو مجبور سي نو ځه به کوي؟

الجواب: د بریلویانو عقائد ډېر مختلف دي که د دوی په عقائدو کي رسول الله ﷺ عالم الغیب گنی یا حاضر او ناظر یې گنی یا یې مختار کل گنی او یا یې متصرف فی الامور گنی او یا مشکل کشا او حاجت روا یې بولي یا یې د الله تعالی عکس بولي دا ټولي عقیدې کفر ته رسونکی دي، لهذا که د چا دغه یاد عقائد وي نو په هغه پسي لمونځ صحیح او درست نه دئ که پر کولو یې مجبور وي نو راگرځول یې لازم دي، همدارنگه که د فتنې وغیره ډېره وي نو تشبه بالمصلین دي وکړئ او بیا دي اعاده وکړئ دا صورت زیات مناسب دئ.

په درمختار کي راځي:

ومبتدع أی صاحب بدعة وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول الله ﷺ ...... لایکفربها ...... وإن أنکر بعض ما علم من الدین ضروره کفر بها..... فلا یصح الاقتداء به أصلًا، فلیحفظ . (الدر المختار:۱/ ۵۶۰، باب الامامة، سعید)

په البحر الرائق کي راځي:

وأطلق المصنف في المبتدع فشمل کل مبتدع هو من أهل قبلتنا وقیده في المحیط والخلاصة والمجتبی وغیرها بأن لا تکون بدعته تکفره ، فإن کانت تکفره فالصلاة خلفه لا تجوز وعبارة الخلاصة هکذا. (البحر الرائق:۱/ ۳۴۹، باب الامامة، الماجدیة).

په تبيين الحقائق كي راځي:

(والمبتدع) أي صاحب الهوى قال المرغيناني تجوز الصلاة خلف صاحب الهوًى وبدعة ولا تجوز خلف الرافضي والجهمي والقدري والمشبه ومن يقول بخلق القرآن ، حاصله إن كان هوى لا يكفر به صاحبه يجوز مع الكراهة ، وإلا فلا. (تبيين الحقائق:١/ ١٣٤، باب الامامة، امداديه).

په امداد الفتاح كي راځي:

والمراد المبتدع الذى لاتكفره بدعته فإن كفر بها لاتصح إمامته كما قدمناه فإذا تبين له ذلک لزمه إعادة ما صلاه خلفه. (امداد الفتاح:ص:٣٤٣، ٣٣١، بيان من تكره امامتهم)

په عمدة الفقه كي راځي:

په داسي بدعتي پسي چي بدعت يې د كفر تر بريده رسېدلى وي د چا لمونځ درست نه دئ. (عمدة الفقه حصه دوهم كتاب الصلاة: ص:١٨٤).

په فتاوى رشيديه كي راځي:

كوم څوک چي د رسول الله ﷺ له پاره علم غيب چي د الله ﷻ خاصه ده ثابتوي په هغه پسي لمونځ درست نه دئ. (فتاوى رشيديه: ٣٣٧).

په فتاوى دار العلوم كي راځي:

كه يو څوک رسول الله ﷺ په غيبو خبر گڼي نو دا عقيده باطله او غلطه ده په هغه پسي بايد لمونځ ونه سي په دې كي بايد پوره احتياط وكړل سي او كه يې وكړ نو بايد هغه را وگرځوي. (فتاوى دار العلوم ديوبند:٣/ ١٧٠، باب الامامة).

په فتاوى محموديه كي راځي:

د چا چي كفري عقيده وي د هغه امام جوړول روا نه دي او په هغه پسي اقتداء كول روا نه ده او هيڅكله ور پسي لمونځ درست نه دئ. (فتاوى محموديه:٦/ ٢٦٠).

په فتاوی عثماني کي راځي:

هغه څوک چي رسول الله ﷺ عالم الغیب او یا حاضر او ناظر ګڼي په هغه پسي لمونځ درست نه دئ. (فتاوی عثمانی:۱/ ٤٢٧).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

چي کله د امام عقائد کفر ته رسېدلي وي نو د هغه امامت روا نه دئ او په هغه پسي لمونځ صحیح نه دئ او د داسي بد عقیده امام په اقتداء کي چي څوک جماعت کوي په شریعت کي اعتبار نه لري هغه به کالعدم وي لهذا که تر دغه وروسته اهل حق خپل جماعت وکړئ نو دغه به د جماعت ثانیه په حکم کي نه وي. (فتاوی رحیمیه:٤/ ٣٦٠، باب الامامة).

د التشبه بالمصلین شواهد

یعنی که یې د مجبوریت له امله لمونځ کاوه نو د لمونځ کونکو مشابهت دي وکړي او وروسته دي بیرته خپل لمونځ وکړي په شریعت کي د دغه له پاره مثالونه موجود دي وګورئ: که اوبه او خاوره نه وي نو حکم د تشبه دئ او بیا یې راګرځول ضروري دي همدارنګه هغه مریض چي پر اوداسه او تیمم قدرت نه لري.

په درمختار کي راځي:

والمحصور فاقد الماء والتراب الطهورين بأن حبس في مكان نجس ولا يمكنه إخراج تراب مطهر وكذا العاجز عنهما لمرض يؤخرها عنده، وقالا: يتشبه بالمصلين وجوبًا فيركع ويسجد ...... ثم يعيد الصلاة كالصوم وبه يفتى وإليه صح رجوعه أي الإمام كما في الفيض.

(الدر المختار:١/ ٢٥٢، سعيد).

په مرقات کي راځي:

وفی شرح الشمنی والمجوس الذی لایجد طهورًا لایصلی عندهما وعند أبی یوسف رحمه الله یصلی بالإیماء ثم یعیدوهو روایة عن محمد رحمه الله تشبهًا بالمصلین قضاء لحق الوقت. (المرقاة شرح المشکاة:۱/ ۳۳٤).

په الفقه الاسلامي کي راځي:

حکم فاقد الطهورین: الحنفیة: المفتی به عندهم ما قاله الصاحبان وهو أن فاقد الطهورین یتشبه بالمصلین وجوبًا .... (الفقه الاسلامی وادلته:۱/ ٤٥٢، دار الفکر).

په الفقه علی مذاهب الاربعه کي راځي:

الحنفیة قالوا: من فقد الطهورین الماء والصعید الطاهر ...... فإنه یصلی عند دخول وقت الصلاة صلاة صوریة بأن یسجد ...... بدون قراءة أو تسبیح وهذه الصلاة الصوریة لاتسقط الفرض عنه بل تبقی ذمته مشغولة. (الفقه علی مذاهب الاربعة:۱/ ۱٦٦).

همدارنګه که د چا اودس مات سو او د جماعت څخه وتل ورته مشکل وي یا شرمیږي نو په پاته لمانځه کي تشبه بالمصلي وکړئ.

وګورئ په فتاوی اللکنوي کي راځي:

الاستفسار: رجل یصلی مع قوم وأحدث، فاستحیی من أن یظهر ذلک، فکتم وصلی کذلک مع الحدث هل یحکم بکفره؟

الاستبشار: لایکفر، لأنه غیر مستهزیء ومن ابتلی بذلک بضرورة أو لحیاء، ینبغی أن لایقصد بذلک الصلاة، بل یقوم ولایقرأ شیئًا، وإذا انحنی لایرید الرکوع، ولایسبح، ولایفعل شیئًا من أعمال الصلاة، لئلا یقع فی اداء الصلاة مع الحدث. کذا فی " خزانة الروایات".

(فتاوی اللکنوی:ص ۱۷۱، کتاب الصلوات، دار ابن حزم).

فقهاوو د حائضې په هکله فرمايلي دي، که په رمضان کي پاکه سي نو تشبه بالصائم دي وکړي او که مسافر افطار وکړئ او بيا مقيم سي نو پاته ورځ دي تشبه بالصائم وکړي.

وګورئ په شامي کي راځي:

(قوله كالصوم) أي في مثل الحائض إذا طهرت في رمضان، فإنها تمسك تشبهًا بالصائم لحرمة الشهر ثم تقضي، وكذا المسافر إذا أفطر فأقام. (شامی:۱/ ۲۵۳، مطلب فاقد الطههورين، سعيد).

همدارنګه ګونګی چي پر قرآئت تلبيه وغيره قادر نه وي نو تشبيه بالقاري يعنی شونډان دي بنور وي.

وګورئ په فتاوی اللكنوي کي راځي:

الاستفسار: الأمی والأخرس إذا لم يقدر علی اداء فرض القراءة هل يجب عليه تحريک الشفتين؟

الاستبشار: قيل: يجب تحريک الشفة واللسان کتلبية الحج وقيل لايجب. (فتاوی اللکنوی:ص ۳۳۸، ما يتعلق بالاعذار المسقطة لارکان الصلاة، دار ابن حزم – وکذا فی الشامی:۱/ ۴۸۳، قراءة فی الصلاة، سعيد – ولباب المناسک: ص ۱۱۳، فصل وشرط التلبية، بيروت). والله ﷻ اعلم.

د لمانځه د فساد خبر ورکولو د امام پر ذمه دي؟

سوال: که د امام لمونځ د وينو د تلو له امله فاسد سو او امام ته له لمانځه څخه وروسته معلومه سو، نو پر امام خبر ورکول لازم دي او که نه؟

الجواب: که له کومه سببه لمونځ صحيح نه سو نو د امام پر ذمه مقتديانو ته اطلاع ورکول لازم دي بيا که امام عادل وي نو پر مقتديانو يې راګرځول واجب دي که نه مستحب دي خو که مقتديان متعين نه وي او يا خبر ورکول مشکل وي نو اطلاع ورکول لازم نه دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وإذا ظهر حدث إمامه وكذا كل مفسد في رأي مقتد بطلت فيلزم إعادتها لتضمنه صلاة المؤتم صحةً وفساداء كما يلزم الإمام إخبار القوم إذا أمهم وهو محدث أو جنب أو فاقد شرط أوركن، وهل عليهم إعادتها، إن عدلا نعم، وإلا ندبت ...... بالقدر الممكن بلسانه أو بكتاب أو رسول على الأصح لومعينين أي معلومين وقال ح: وإن تعين بعضهم لزمه إخباره وإلا أي وإن لم يكونوا معينين كلهم بعضهم لايلزمه. (الدر المختار مع الشامي:۱/ ۵۹۱-۵۹۲، سعید).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

سوال: که امام د جنابت په حالت کي لمونځ ورکړ نو حکم یې څه دئ؟

الجواب: په پورتنی صورت کي دامام او مقتدیانو لمونځ نه دئ سوی دوهم ځل یې اداء کول ضروري دي امام ته په کار ده چي مقتدیانو ته یوازي یوازي خبر ورکړي یا دي دلمانځه په وخت کي اعلان وکړي چي په فلانی ورځ چي د سهار په لمانځه کي څوک حاضر وه هغه دي خپل لمنځونه راوګرځوي کومو مقتدیانو ته چي خبر ونه رسیږي هغه معذور دي. (فتاوی رحیمیه:٤/ ٣٦٤).

په امداد الاحکام کي راځي:

سوال: که امام سهوا بې اودسه لمونځ ورکړ نو د ده له پاره څه کول په کار دي؟

الجواب: پر امام لازمه ده چي د کومو کسانو په هکله چي ورته معلومه وي چي هغه په لمانځه کي شریک وه هغو ټولو ته چي څنګه ممکنه وي خبر ورکړی او که امام عادل وي نو د ده په خبر ورکولو سره پر دوی راګرځول ضروري دي او که امام عادل نه وي نو راګرځول مستحب دي. (امداد الاحکام: ۱/ ۵۲۵). والله ﷻ اعلم.

د ښځي د امامت حکم

سوال: ایا ښځه د نارینه وو امامت کولای سي او که نه؟

الجواب: ښځه د نارینه وو امامت نه سي کولای دلائل یې وګورئ:

۱_ قال الله تعالی ﴿ الرجال قوامون علی النساء الخ﴾. (سورة النساء: الآية: ۳٤).

علامه آلوسی رحمه الله په تفسیر روح المعاني کې فرمايي:

أي شأنهم القيام عليهن قيام الولاة على الرعية بالأمر والنهي ونحو ذلك ..... ولذ خصوا بالرسالة والنبوة على الأشهر، وبالإمامة الكبرى والصغرى، وإقامة الشعائر كالأذان والإقامة والخطبة والجمعة .... (روح المعانی: ۵/ ۲۳، القاهرة).

علامه نسفي رحمه الله فرمايي:

يقومون عليهن آمرين ناهين كما يقوم الولاة على الرعايا وسموا قوامًا لذلك ...... يعنى إنما كانوا مسيطرين عليهن لسبب تفضيل الله بعضهم وهم الرجال على بعض وهم النساء بالعقل والعزم والحزم والرأی والقوة والغزوو كمال الصوم والصلاة والنبوة والخلافة والإمامة والأذان والخطبة والجماعة والجمعة....... (تفسير النسفی: ۱/ ۲۲۳، دار الفكر).

۲_ حديث شريف کې دي:

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال: خطبنا رسول الله ﷺ فقال: " يآ ايها الناس توبوا إلى الله قبل أن تموتوا...... ألا لاتؤمن امرأة رجلًا....". (رواه ابن ماجه: ۱/ ۷۵، باب فی فرض الجمعة– والبيهقی فی سننه الكبرى: ۳/ ۱۷۱، كتاب الجمعة، دار المعرفة – والطبرانی فی الاوسط: ۲/ ۱۵۲/ ۱۲۸۳، الرياض).

دغه حديث اوږد دئ مطلب دا دئ چې خبردار کومه ښځه دي د نارينه امامت نه کوي.

۳_ په مسلم شريف کې راځي:

عن أبی هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: " خير صفوف الرجال أولها وشرها آخرها وخير صفوف النساء آخرها وشرها أولها ". (رواه مسلم: ۱/ ۱۸۲، باب تسوية الصفوف، فيصل).

په مصنف عبد الرزاق کي راځي:

عن إبراهيم رحمه الله عن أبي معمر رحمه الله عن بن مسعود رحمه الله قال " كان الرجال والنساء في بني إسرائيل يصلون جميعاً، فكانت المرأة لها الخليل، تلبس القالبين تطول بهما لخليلها، فألقي عليهن الحيض" فكان بن مسعود رضي الله عنه يقول: " أخروهن حيث أخرهن الله " إسناده صحيح. (مصنف عبد الرزاق:٣/ ١٤٩/ ٥١١٥، باب شهود النساء الجماعة، المجلس العلمي - اعلاء السنن:٢/ ٢٢٤ -- نصب الراية:٢/ ٣٦).

له دغه حديث شريف څخه معلومه سوه چي د ښځو مقام د نارينه وو شا ته دئ.

خبر تيا _ د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دغه روايت که څه هم موقوف دئ، خو د مرفوع په حکم کي دئ.

۴ _ په ابن ماجه شريف کي راځي:

عن أنس رضي الله عنه، قال : صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم بامرأة من أهله وبي ، فأقامني عن يمينه ، وصلت المرأة خلفنا. (رواه ابن ماجه:١/ ٦٩، باب الاثنان جماعة).

په مصنف ابن ابی شيبه کي راځي:

عن أنس رضي الله عنه؛ أن النبي صلى الله عليه وسلم صلى بهم وامرأة من أهله ، فجعل أنسًا عن يمينه والمرأة خلفه. عن ثابت رحمه الله، قال : صليت مع أنس رضي الله عنه فقمت عن يمينه ، وقامت أم ولده خلفنا. عن هشام رحمه الله ، قال : جئت إلى عروة رضي الله عنه وهو يصلي وخلفه امرأة، فأقامني عن يمينه والمرأة خلفه. (مصنف ابن ابی شيبة:٣/ ٥٦٨، اذا كان الامام ورجل وامرأة، كيف يصنعون، المجلس العلمی).

خلاصه: حضرت انس رضي الله عنه فرمايي: چي انحضرت صلى الله عليه وسلم ما ته او د ده د اهل يوې ښځي ته لمونځ راکړ زه يې راسته طرفته ودرولم او ښځه يې تر شا ودرول معلومه سوه چي د ښځي همدغه مقام دئ.

۵_ په بخاري شريف كي راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: صليت أنا ويتيمفي بيتنا خلف النبي ﷺ وأمي أم سليم خلفنا.

(رواه البخاري:۱/ ۱۰۱/ ۷۱۸، باب المرأة وحدها تكون صفًا).

يعنى حضرت انس رضي الله عنه روايت كوي چي انحضرت ﷺ زمونږ كور ته تشريف راوړ او دوه ركعته لمونځ يې اداء كړ زه او يتيم د حضور ﷺ شا ته او زما مور زمونږ شا ته ودريده معلومه سوه چي د ښځو صف هم بايد شا ته وي چيري چي امامت به كوي.

٦_ همدارنګه انحضرت ﷺ په ټول عمر كي په كومه ښځه پسي لمونځ نه دئ كړي او نه صحابه وو كړي دئ.

٧_ همدارنګه د ښځو له پاره افضل لمونځ دا دئ چي د كور په يوه كونج كي يې وكړي نه په مسجد كي او نه د امامت كولو.

وګورئ په ابو داؤد شريف كي راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه عن النبى ﷺ قال: " صلاة المرأة فى بيتها أفضل من صلاتها فى حجرتها وصلاتها فى مخدعها أفضل من صلاتها فى بيتها ". وفى هامشه: مخدعها هو البيت الصغير الذى يكون فى داخل البيت، وقال السندى: هو البيت الذى يخبأ فيه خير المتاع وهو الخزانة داخل البيت- (أبو داؤد شريف مع الحاشية:۱/ ۸٤، باب التشديد فى خروج النساء الى المسجد):

٨_ كه په لمانځه كي كوم شى پيښ سي نو ښځو ته د تصفيق حكم وركول سوى دئ نه د تسبيح ځكه آواز يې د فتنې لامل ګرځي او په امامت كي خويې زياته فتنه ده لهذا په درجه اولى به منع وي.

وګورئ په بخاري شريف كي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ قال: والتصفيق للنساء التسبيح للرجال. (رواه البخارى:۱/ ۱٦۰، باب التصفيق للنساء، فيصل).

د ښځي د امامت په هكله ځيني كسان د ابو داؤد شريف له روايت څخه استدلال كوي چي په هغه كي دام ورقه د امامت ذكر دئ.

وګورئ په ابو داؤد شریف کي راځي:

أم ورقة بنت عبد الله بن الحارث رضي الله عنها .... وكان رسول الله ﷺ يزورها في بيتها وجعل لها مؤذنًا يؤذن لها وأمرها أن تؤم أهل دارها. (رواه ابو داؤد:۱/ ۸۷، با إمامة النساء).

د پورتني حديث جواب

۱_ دا حديث ضعيف دئ، د دغه حديث له راويانو څخه. (۱) وليد بن جميع، (۲) عبدالرحمن بن خلاد، (۳) د وليد بن جميع انا دا ټول مجروح او مجهول راويان دي.

وګورئ په اعلاء السنن کي راځي:

قال المنذري في مختصره: الوليد بن جميع فيه مقال، وقال ابن القطان في كتابه: الوليد ابن جميع وعبد الرحمن بن خلاد لايعرف حالهما. (اعلاء السنن:٤/ ٢٤٥، ادارة القران – وفتح القدير:١/ ٣٥٤، باب الامامة، دار الفكر).

قال الحافظ ابن حجر رحمه الله في التقريب: الوليد بن جميع صدوق يهم ورمي بالتشيع. (تقريب التهذيب:ص ۳۷۰).

وقال أيضاً: عبد الرحمن بن خلاد مجهول الحال. (تقريب التهذيب:ص ۲۰۱).

حضرت مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله هم په ((بذل المجهول)) کي پر دغو راويانو کلام کړی دئ او هغه يې ضعيف ګڼلي دي وګورئ:

وأما ما استدل به بعض العلماء على جواز إمامة المرأة للنساء والرجال فغير صحيح. (بذل المجهود:٤/ ٢١٠).

بالفرض که دغه روايت ثابت هم سي بيا هم پکښي د نارينه وو د امامت يادونه نه سته بلکي ام ورقی به د ښځو امامت کړی وي، د ښځو امامت که څه هم ښه نه دئ خو د ځينو احوالو او ضرورتونو له امله د برداشت وړ دئ.

تنبيه: د ام ورقه دغه روايت البانی صاحب حسن بللی دئ دا د ده وهم دئ.

وګورئ: (حاشية صحيح ابن خزيمه:۲/ ۸۰۲/ ۱۶۷۶).

د ښځي د امامت پر نه روا والي د فقهي د کتابونو عبارتونه وګورئ:

د احنافو مذهب:

په حاشيه الطحطاوی کي راځي:

المراة تخالف الرجل فی مسائل منها ...... ولا تؤم الرجال. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۲۵۹، فصل فی بيان سننها، قديمی – وهكذا فی الشامی:۱/ ۵۰۴، سعيد والبحر الرائق:۱/ ۳۲۱، الماجدية).

همدارنګه په فتاوی شامي کي راځي:

إذا استخلفها الإمام وخلفه رجال ونساء فتفسد صلاة الكل أما الرجال والإمام فلعدم صحة اقتداء الرجال بالمرأة. (شامی:۱/ ۵۶۵، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

وفسد اقتداء رجل بامرأة ونقل فی المجتبی الإجماع عليه. (البحر الرائق:۱/ ۳۵۹، كوئتة)

د مالکيه وو مذهب:

په المدونه کي راځي:

وقال مالك رحمة الله عليه: لاتؤم المرأة. (المدونة:۱/ ۸۵، كتاب الصلاة فی الصلاة خلف السكران....).

په الثمر الدانی کي راځي:

ولاتؤم المرأة فی فريضة ولانافلة لا رجالًا ولانساء .... قوله ولاتؤم المرأة ..... وكما لاتؤم المرأة لايؤم الخنثی المشكل فإن ائتم بهما أحد أعاد أبدًا علی المذهب سواء كان من جنسهما أولا، ..... فاعلم أن الذكورة المحققة شرط فی صحة الإمامة. (الثمر الدانی:ص ۱۰۰، باب الامامة، دار الفكر).

د شافعيه وو مذهب:

په کتاب الام کي راځي:

قال الشافعي رحمه الله: وإذا صلت المرأة برجال ونساء وصبيان ذكور فصلاة النساء مجزئة وصلاة الرجال والصبيان الذكور غير مجزئة لأن الله جل جلاله جعل الرجال قوامين على النساء وقصرهن عن أن يكن أولياء وغير ذلك ولا يجوز أن تكون امرأة إمام رجل في صلاة بحال أبدًا. ......۔ (كتاب الام:۱/ ۱۹۱، باب صفة الائمة، امامة المرأة للرجال – وروضة الطالبين:۱/ ۳۵۱، باب صفة الائمة، المكتب الاسلامى).

د حنابله وو مذهب:

په المغنی کي راځي:

وأما المرأة فلا يصح أن يأتم بها الرجل بحال، في فرض ولا نافلة، في قول عامة الفقهاء ...... ولنا قول النبي ﷺ: [لا تؤمن امرأة رجلًا] ، ولأنها لا تؤذن للرجال، فلم يجز أن تؤمهم، كالمجنون، وحديث أم ورقة ...... ولو قدر ثبوت ذلك لأم ورقة، لكان خاصا بها، بدليل أنه لا يشرع لغيرها من النساء أذان ولا إقامة، فتختص بالإمامة لاختصاصها بالأذان والإقامة. (المغنى:۲/ ۳۳، احكام امامة المشرک والمرأة والخنثى، دار الكتب العلمية). والله ﷻ اعلم.

دوهم فصل

د جماعت احکام

د تبلیغ د خدمت ګارانو له پاره د اجتماع په ځای کي جماعت کول

سوال: د راتلونکی مسئلي په هکله شرعي حکم څه دئ؟

د اجتماع د تیاري له پاره تقریباً د (٦) څخه تر (٧) هفتو مخکي کار شروع کیږي ډېر کسان د مختلفو علاقو څخه راځي په عامه توګه مونږ د اجتماع په ځای کي لمنځونه کوو که بل مسجد نژدې وي او که نه د هغه له پاره څو وجوهات دي چي په لاندي توګه دي.

۱_ په دغه کي سهولت زیات دئ او د وخت بچت هم دئ.

۲_ تر هر لمانځه وروسته مذاکره، ترغیبي او تعلیمي بیانونه کیږي مشوره هم کیږي د ضرورت مطابق د سهار د لمانځه وروسته د یس ختم دعاء او نور معمولات کیږي اکثره د لمنځونو وروسته ضروري غوښتني د ټولنی په وړاندي ذکر کیږي.

۳_ د ماښام په وخت کي ډېر خلک راځي حتی چي ځیني وختونه د (۴۰۰) څخه تر (۷۰۰) پوري رسیږي لهذا لمونځ، خوراک، چښاک او اوسېدو انتظام یې کیږي.

۴_ د سامانونو حفاظت هم مقصد دئ له دې امله د جمعې لمونځ هم همهلته کوي چي هر وخت د حفاظت له پاره یو جماعت موجود وي اوس راته وېل سوي دي چي د جمعې لمونځ د اجتماع په ځای کي مسنون نه دئ چي کله مسجد نژدې وي او په مسجد کي ځای هم وي او د ساتونکو څخه پرته د ټولو له پاره پنځه وخته مسجد ته تلل ضروري دي ایا دغه صحیح ده؟

الجواب: په پورتنی صورت کي ښه او د فضیلت خبره خو دا ده چي د جماعت لمونځ په مسجد کي وکړل سي خو که د څه عذر له امله خپل جماعت وسي نو د جماعت فضیلت حاصلیږي څنګه چي تبلیغیان د اجتماع په ځای کي په کار کي مصروف وي او هلته ډېر خلک راځي او د ټولو له پاره مسجد ته تلل مشکل وي، همدارنګه څه کسان د سامان د حفاظت له پاره پاته کیږي ځکه نو خپل جماعت کولای سي.

علامه ابن عابدین شامي رحمه الله فرمایي:

واختلف العلماء في إقامتها في البيت والأصح أنها كإقامتها في المسجد إلا في الأفضلية.

(شامي: ١/ ٥٥٤، سعيد).

يعنی علماوو په کور کي د جماعت په هکله اختلاف کړی دئ اصح قول دا دئ چي د کور جماعت د مسجد د جماعت په شان دئ، البته افضل او ښه دا ده چي په مسجد کي يې وکړئ.

په درمحتار کي ليکي:

والجماعة سنة مؤكدة للرجال ..... وأقلها اثنان مع الإمام ولو مميزًا أو ملكًا أو جنيًا فى المسجد أو غيره.

فلو صلى فى بيته بزوجته أو جاريته أو ولده فقد أتى بفضيلة الجماعة. (طحطاوى على الدر المختار: ١/ ٢٤٠).

يعنی په جماعت کي به لږ تر لږه دوه کسان له امام سره وي که څه هم هوښيار کوچنی يا ملائکه او يا جن وي که په مسجد کي وي او که له مسجد څخه دباندي وي نو که څوک له ښځي او کوچنياتو سره يا د مينځي سره جماعت وکړي نو هغه د جماعت فضيلت تر لاسه کړ.

علامه شامي په منحة الخالق کي ليکي:

اختلف العلماء فى إقامتها فى البيت والأصح أنها كإقامتها فى المسجد إلا فى الأفضلية وهو ظاهر مذهب الشافعى رحمه الله قلت: ويظهر أن ما سيأتى عن الحلوانى مبنى على ما مرمنه من وجوب الإجابة بالقدم وتقدم أن الظاهر خلافة فلذا صححوا خلاف ما قاله هنا. (منحة الخالق حاشية البحر الرائق: ١/ ٣٤٥، كوئتة).

يعنی پر کور د جماعت کولو په هکله علماوو اختلاف کړی دئ او صحيح دا ده چي د مسجد په شان دئ مګر د مسجد دا ورباندي افضل دئ او همدغه د امام شافعي رحمه الله مذهب هم دئ او شمس الائمه حلواني له مسجد څخه دباندي جماعت بدعت ګڼلي دئ دا قول د ده پر هغه رايي بنا دئ چي مسجد ته تلل واجب دي او دا له ظاهره خلاف ده.

خو بیا هم تبلیغي حضرات باید کوښښ وکړي چي ځیني ملګري یې مسجد ته ځان ورسوي ځو دا جتماع په ځای کي هم جماعت او جمعه روا ده، همدارنګه دا هم معلومه سوه چي مسجد یو کیلو متر لیري هم وي.

فقهاء لیکي: چي که اوبه یو میل لیري وي نو اوبو ته تلل هم ساقطیږي او تیمم کولای سي لهذا په دغه صورت کي مسجد ته تلل هم زیات ضروري نه دي. والله ﷻ اعلم.

د محلي په مسجد کي د جماعت د فوتېدو له امله بل مسجد ته د تللو حکم

سوال: که یو چا له امام سره د محلي په مسجد کي یوازي دوه رکعت لمونځ نیولای سو خو که لیري تللی وای هلته یې ټول لمونځ نیولای سو نو دده له پاره لیري تلل په کار دي او که دی په خپل مسجد کي دوه رکعته ورسره ونیسي؟

الجواب: په جماعت سره لمونځ کول واجب دي: کما فی الدر: والجماعة سنة مؤكد للرجال، قال الزاهدي: أرادوا بالتأكيد الوجوب وقيل واجبة وعليه العامة أي عامة مشائخنا. (الدر المختار: ١/ ٥٥٢، سعيد)

همدارنګه د خپلي محلي په مسجد کي په جماعت سره لمونځ افضل دئ او ددې محلي حق دئ: كما في الشامي: قوله وسجد حيه أفضل من الجامع..... لو لم يكن لمسجد منزله مؤذن فانه يذهب إليه ويؤذن فيه ويصلي ولو كان وحده لأن له حقًا عليه فيؤديه. (الشامي: ١/ ٦٥٩، سعيد).

او که په جماعت سره لمونځ د خپلي محلي په مسجد کي پاته سي نو په بل مسجد کي یې تلاښ ضروري نه دئ: كما في بدائع الصنائع: إذا فاتته الجماعة لا يجب عليه الطلب في مسجد آخر. (بدائع الصنائع: ١/ ١٥٦، سعيد).

له پورتنیو عبارتونو څخه معلومه سوه چي که یې د خپلي محلي په مسجد کي د لمانځه مونللو امید وو که څه هم څو رکعتونه ورڅخه تېر سوی وي بیا هم ښه دا دي چي د خپلي محلي په مسجد

کي دي لمونځ اداء کړي، البته که ټول جماعت تېر سوی وي او په بل مسجد کي په جماعت سره د لمانځه کولو امید وي نو ده ته اختیار دئ که وغواړي یوازي دي لمونځ وکړئ او که یې خوښه وي په بل مسجد کي دي په جماعت سره لمونځ اداء کړي.

کما فی بدائع الصنائع: إذا فاتته الجماعة فی مسجد حیه فإن أتی مسجدًا آخر یرجو إدراک الجماعة فیه فحسن وإن صلی فی مسجد حیه فحسن. (بدائع الصنائع: ۱/ ۱۵۶، سعید).

خلاصه دا چي که د محلي له مسجد څخه پرته نور مسجدونو نژدې وي او په هغه کي جماعت موندل یقیني وي نو بیا دي بل مسجد ته ولاړ سي چي د جماعت او مسجد دواړو ثواب ورته ورسیږي او د بل مسجد د لمانځه ځای به د قیامت په ورځ د ده له پاره شاهدي ورکوي.

په احادیثو کي د جماعت فضیلت راغلی دئ تر خپل مسجد پوري ځانګړی نه دئ. والله اعلم.

د نجاست له کڅوړي سره په مسجد کي په جماعت سره د لمانځه حکم

سوال: یو څوک مریض وي د هغه په نس پوري یوه کڅوړه منبلیدلي ده چي فضله مواد ورته د پیپ په ذریعه راځي د داسي کس له پاره مسجد ته راتلل او د خلکو سره د لمانځه کولو حکم څه دئ؟

ایا دغه مسجد ته د نجاست د راوړلو حکم لري؟ او د بدبویې کولو او یا نه کولو څخه په مسئله کي فرق راځي او که نه؟

الجواب: په عامو حالاتو کي بدبویه شی یا نجاست مسجد ته راوړل مکروه تحریمي دي په خاصه توګه چي د مسجد د ککړتیا بېره وي خو کوم څوک چي معذور دئ لکه چي په ذکر سوي صورت کي دغه کڅوړه د ده د نس او معدې په حکم کي ده لهذا که بدبویې نه وي او پټه سوی وي او د خلکو له پاره د نفرت لامل نه وي، نو مسجد ته یې راتلل روا او درست دي.

د نبي کریم ﷺ په زمانه کي د مستحاضي ښځي په مسجد کي اعتکاف کول ثابت دي که څه هم نجاست به ورسره وو خو هغه به پټ وو او بدبویې وغیره به هم نه وه او ده مبارک ﷺ وربانـدي انکار کړی نه دئ.

وګورئ په بخاري شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها، قالت: اعتكفت مع رسول الله ﷺ امرأة من أزواجه مستحاضة فكانت ترى الحمرة والصفرة فربما وضعنا الطست تحتها وهي تصلي. (رواه البخاري: ۱/ ۲۷۳/ ۱۹۹۱، باب اعتكاف المستحاضة، فيصل).

د دغه حديث په شرح کي علامه عيني رحمه الله فرمايي، چي که جامي يا مسجد نه ککړي دغ نو روا دي، همدارنګه هغه څوک چي مستحاضي په حکم کي وي يعنی معذور وغيره د دوی له پاره هم مسجد ته د ننو تلو او اعتکاف کولو اجازه سته.

وګورئ په عمدة القاري کي راځي:

ومما يستنبط منه جواز اعتكاف المستحاضة وجواز صلاتها لأن حالها حال الطاهرات وأنها تضع الطست لئلا يصيب ثوبها أو المسجد وأن دم الاستحاضة رقيق ليس كدم الحيض ويلحق بالمستحاضة ما في معناها كمن به سلس البول والمذي والودي ومن به جرح يسيل في جواز الاعتكاف. (عمدة القارئ: ۳/ ۱۳۰، كتاب الحيض، باب الاعتكاف للمستحاضة، دار الحديث، ملتان). والله تعالی اعلم.

يوازي د ښځو جماعت

سوال: ايا ښځي يوازي په جماعت سره لمونځ کولای سي؟

الجواب: د ښځو له پاره انفرادي لمونځ افضل دئ په جماعت سره يې کول مکروه دي خو نن سبا د ضرورت له امله مثلاً حافظه قرآن ياد وي نو که د کور ځو ښځي او يا حافظاني سره جمع سي او په جماعت سره لمونځ وکړي نو بيله کراهته به روا وي، البته که د فتني وغيره بېره وي نو مکروه دئ د کراهت د قول دلائل وګورئ.

په شامي کي راځي:

ذكر الزيلعي أنها تخالف الرجل في عشر، وقد زدت أكثر من ضعفها:...... وتكره جماعتهن. (شامي: ۱/ ۵۰۴، سعيد).

یہ طحطاوی علی مراقی الفلاح کی رائے:

المرأة تخالف الرجل فی مسائل منها ..... وتکره جماعتهن. (طحطاوی علی مراقی الفلاح:۲۵۹، فی بیان سننها، قدیمی).

یہ البحر الرائق کی رائے:

إن المراة تخالف الرجل في عشر خصال ...... وتكر جماعتهن. (البحر الرائق:۱/ ۳۲۱، کوئٹة).

یہ درمختار کی رائے:

ویکره تحریما جماعة النساء ولو التراویح. (شامی:۱/ ۵٦۵، باب الامامة).

یہ عالمگیری کی رائے:

ویکره إمامة المرأة للنساء فی الصلوات كلها من الفرائض والنوافل إلا فی صلاة الجنازة وکذا فی النهاية. (الفتاوی الهندية:۱/ ۸۵).

یہ شرح عنایہ کی رائے:

(ويكره للنساء أن يصلين جماعةً ؛ لأنهن في ذلك لا يخلون عن ارتكاب محرم) أي مكروه ؛ لأن إمامتهن إما أن تتقدم على القوم أو تقف وسطهن ، وفي الأول زيادة الكشف وهي مكروهة، وفي الثاني ترك الإمام مقامه وهو مكروه، والجماعة سنةوترك ما هو سنةأولى من ارتكاب مكروه .وفي أن الأفضل لكل من النساء والعراة أن يصلي وحده . (شرح عنایة علی الهداية:۱/ ۳۵۲، باب الامامة علی هامش فتح القدير – وکذا فی فتح القدير:۱/ ۳۵۲، باب الامامة).

یہ البحر الرائق کی رائے:

وكره جماعة النساء، لأنها لا تخلو عن ارتكاب محرم وهو قيام الإمام وسط الصف فيكره كالعراة كذا في الهداية وهو يدل على أنها كراهة تحريم ؛ لأن التقدم واجبعلى الإمام للمواظبة من النبي ﷺ عليه وترك الواجب موجبلكراهة التحريم المقتضية للإثم . (البحر الرائق: ١/ ٣٥١، باب الامامة، كوئتة).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

که ښځه حافظه وي د قرآن کريم د نه اورولو له امله يې د هېرېدو بېره وي بيا هم دا اجازه ورته نه سته چي تراويح په جماعت سره وکړي يوازي دي يې کوي د ښځو له پاره جماعت مکروه تحريمی دئ که څه هم تراويح وي.

په مالابدمنه کي راځي:

يوازي د ښځو جماعت د امام ابو حنيفه رحمه الله په اند مکروه دئ او د نورو امامانو په اند روا دئ.

(فتاوی رحيميه: ٤/ ٣٩٨).

بل ځای ليکي:

د ښځو له پاره په کار ده چي ښځه لمنځونه او د تراويحو لمونځ او وتر يوازي يوازي وکړئ د دوی له پاره جماعت کول مکروه تحريمی دئ. په حواله د شامي. (فتاوی رحيميه: ١/ ٣٤٧).

په عمدة الفقه کي راځي:

په لمانځه کي يوازي د ښځو جماعت کول مکروه تحريمی دئ. (عمدة الفقه: ٢/ ١١٥).

د هغو کسانو دلائل چي بېله کراهته يې روا ګڼي:

حضرت ام سلمه رضي الله عنها او حضرت عائشي رضي الله عنها به د ښځو امامت کاوه.

وګورئ په مصنف ابن ابی شيبه کي راځي:

١ ــ حدثنا سفيان بن عيينة ، عن عمار الدهني ، عن امرأة من قومه اسمها حجيرة ، قالت: أمتنا أم سلمة قائمةً وسط النساء.

٢- حدثنا علي بن مسهر ، عن سعيد ، عن قتادة ، عن أم الحسن : أنها رأت أم سلمة ﵂ زوج النبي ﷺ تؤم النساء: تقوم معهن في صفهن.

٣- حدثنا علي بن هاشم ، عن ابن أبي ليلى ، عن عطاء ، عن عائشة ﵂؛ أنها كانت تؤم النساء ، تقوم معهن في الصف.

٤ - حدثنا هشيم، قال : أخبرنا يونس ، عن الحسن ومغيرة ، عن إبراهيم وحصين، عن الشعبي ، قال : تؤم المرأة النساء في صلاة رمضان ، تقوم معهن في صفهن.

٥- حدثنا ابن نمير ، عن حريث ، عن حميد بن عبد الرحمن ، أنه قال : لا بأس أن تؤم المرأة النساء ، تقوم معهن في الصف. (مصنف ابن أبی شیبة:٣/ ٥٧، ٥٦٩، المجلس العلمی).

همدارنگه محقق ابن همام هم بیله کراهته د جواز طرفته اشاره کړي ده:

ولكن يبقى الكلام بعد هذا في تعيين الناسخ ، إذ لا بد في ادعاء النسخ منه ، ولم يتحقق في النسخ إلا ما ذكر بعضهم من إمكان كونه ما في أبي داود وصحيح ابن خزيمة [صلاة المرأة في بيتها أفضل من صلاتها في حجرتها ، وصلاتها في مخدعها أفضل من صلاتها في بيتها] يعني الخزانة التي تكون في البيت . وروى ابن خزيمة عنه ﷺ [إن أحب صلاة المرأة إلى الله في أشد مكان في بيتها ظلمةً] وفي حديث له ولابن حبان: و أقرب ما تكون من وجه ربها وهي في قعر بيتها، ومعلومأن المخدع لا يسع الجماعة ، وكذا قعر بيتها وأشده ظلمةً . ولا يخفى ما فيه ، وبتقدير التسليم فإنما يفيد نسخ السنية ، وهو لا يستلزم ثبوت كراهة التحريم في الفعل بل التنزيه ومرجعها إلى خلاف الأولى ، ولا علينا أن نذهب إلى ذلك فإن المقصود اتباع الحق حيث كان. (فتح القدير: ١/ ٣٥٤، دار الفكر).

حضرت مولانا عبد الحی لکهنوي رحمه الله په مجموعه الفتاوی کي بېله کراهته جواز لیکلی دي.
وګورئ د اکثرو احنافو په اند د ښځو جماعت مکروه دئ مګر پر کراهت يې کوم د اعتبار وړ دلیل
نه موندل کیږي او کوم دلائل چي فقهاوو پر کراهت وېلي دي هغه مخدوش دئ لکه څنګه چي د فتح
القدیر او بنایي له کتلو څخه همدغه معلومیږي او د اخبارو او اثارو څخه د دغه جماعت مشروعیت
ثابتیږي چي په هغه کي یوازي ښځي وي.

امام محمد بن حسن رحمه الله په کتاب الاثار کي لیکي:

أخبرنا أبو حنيفة نا حماد عن ابراهيم عن عائشة رضي الله عنها أنها كانت تؤم النساء في شهر رمضان فتقوم وسطهن.

مونږ ته امام ابو حنیفه خبر راکوي هغه له حماد هغه له ابراهیم هغه له حضرت عائشې څخه روایت
کوي چي دې به د رمضان په میاشت کي د ښځو امامت کاوه او په منځ کي به دریده او ابن حجر
عسقلاني رحمه الله په تخریج کي د احادیثو د شرح رافعی لیکي:

أخرج ابن أبي شيبة رحمه الله ثم الحاكم من طريق أبي ليلى عن عطاء عن عائشة رضي الله عنها أنها كانت تؤم النساء فتقوم معهن في الصف وأخرج الشافعي وابن أبي شيبة وعبد الرزاق عن ام سلمة رضي الله عنها أنها أمت النساء فقامت وسطهن.

ابن ابی شیبه رحمه الله او حاکم رحمه الله د حضرت عائشې په سند روایت کړی دئ چي دې به د ښځو
امامت کاوه او له هغو سره به په صف کي دریده.

او شافعی رحمه الله او ابن ابی شیبه او عبد الرزاق رحمه الله د حضرت عائشې څخه روایت کوي چي
هغې د ښځو امامت وکړ او په منځ کي ودریده او په مستدرک حاکم کي روایت دئ چي:

(إن عائشة رضي الله عنها كانت تؤذن، وتقيم ، وتؤم النساء فتقوم وسطهن).

حضرت عائشې به اذان کاوه او اقامت به يې کاوه او د ښځو امامت به يې کاوه او په منځ کي به دریده
او همدغه علامه عینی رحمه الله په بنایه کي بیان کړی ده له دغو روایتونو څخه معلومیږي چي د ښځو
امام به په منځ دریږي او دا هم معلومه سوه چي کله چي ښځه امامت کولای سي نو د هغې له پاره

قرائت او تکبیر بالجهر هم مشروع دئ ځکه له هغه پرته یې اقتداء نه صحیح کیږي او د ښځو اواز که څه هم د ځینو په اند ستر دئ خو هغه د نارینه وو له پاره نه د ښځو په حق کي او د دغه بحث پوره تحقیق لکه څنګه چي په کار دي ما په خپله رساله تحفة النبلاء فیما یتعلق بجماعة النساء کي کړی دئ چي څوک یې غواړي مطالعه دي کړي. (مجموعة الفتاوی ۲۶۸).

همدارنګه وګورئ (البنایه فی شرح الهدایة :۱/ ۲۵، باب الامامة). والله تعالیٰ اعلم.

د ښځو له پاره مسجد ته د تللو حکم

سوال: د قرآن او حدیث په رڼا کي ښځي د لمانځه له پاره مسجد ته تللای سي او که نه؟

الجواب: د قرآن او سنت په رڼا کي دا معلومیږي چي د ښځو له پاره په کور کي بلکي د کور په کنج کي ورته لمونځ کول افضل دئ مساجدو ته تلل خصوصاً د فتنو په زمانه کي او په داسي حال کي چي فحاشی زیاته ده د پرده ناکو ښځو له پاره تلل ښه نه دي او شریعت مطهره نه ده خوښه کړي.

دلائل وګورئ:

۱_ په قرآن کریم کي الله تعالی د ازواج مطهرات چي د ټول امت میندی دي په اړه یې فرمایي ﴿وقرن في بیوتکن﴾.

یعنی په کور کي اوسیږي لهذا د نورو ښځو له پاره به څنګه مناسب وي چي مسجد ته د لمانځه له پاره ولاړي سي چي کله هلته د نارینه وو اختلاط هم وي، همدارنګه په احادیثو کي د نبي کریم ﷺ تعلیمات د ښځو په هکله هم همدغه ږي چي د کور په کنج کي دي لمونځ وکړي، دغه د شریعت منشاء وه او ده مبارک ﷺ یې په کور کي لمونځ خوښ کړی دئ په همدغه کي د ده د سنتو اقتداء ده او د سنتو په اتباع کي کامیابي ده لکه چي د حضرت ام حمید رضي الله عنها وغیره د ده مبارک ﷺ په تعلیم عمل وکړ او ټول عمر یې په کور کي لمونځ وکړ.

۲_ وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

۱_ أم سلمة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: صلاة المرأة في بيتها خير من صلاتها في حجرتها وصلاتها في حجرتها خير من صلاتها في دارها وصلاتها في دارها خير من صلاتها

خارج. (رواه الطبرانی فی الأوسط ورجاله رجال الصحیح خلا زید بن مهاجر. (مجمع الزوائد:۲/ ۳٤، باب خروج النساء الی المساجد، دار الفکر).

۲_ عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: صلاة المرأة فی بیتها أفضل من صلاتها فی دارها وصلاتها فی دارها أفضل من صلاتها فیما سواها ثم قال: إن المرأة إذا خرجت استشرفها الشیطان. (رواه الطبرانی فی الکبیر و رجاله رجال الصحیح. (مجمع الزوائد:۲/ ۳٤، باب خروج النساء الی المساجد، دار الفکر).

۳_ په ابو داؤد شریف کې راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال " صلاة المرأة فی بیتها أفضل من صلاتها فی حجرتها وصلاتها فی مخدعها أفضل من صلاتها فی بیتها ". مخدعها هو البیت الصغیر الذی یکون فی داخل البیت، وقال السندی: هو البیت الذی یخبأ فیه خیر المتاع وهو الخزانة داخل البیت). (رواه أبو داؤد:۱/ ۸٤، باب التشدید فی ذلک).

٤ – عن أم حمید رضی الله عنها امرأة أبی حمید الساعدي رضی الله عنه: عن النبی صلی الله علیه وسلم أنه قال لها: قد علمت أنك تحبين الصلاة معي و صلاتك في بيتك خير من صلاتك في حجرتك و صلاتك في حجرتك خير من صلاتك في دارك و صلاتك في دارك خير من صلاتك في مسجد قومك وصلاتك في مسجد قومك خير من صلاتك في مسجدي فأمرت فبني لها مسجد في أقصى شيء من بيتها و أظلمه، فكانت تصلي فيه حتى لقيت الله عز و جل. إسناده حسن. (صحیح ابن خزیمة:۲/ ۸۱۵/ ۱٦۸۹، المکتب السلامی- ورواه الامام أحمد – وابن حبان، کذا فی کنز العمال:۷/ ٦۷٦).

۵_ صحیح ابن خزیمه کې راځي:

عن أم سلمه رضي الله عنها زوج النبى ﷺ قال: خير مساجد النساء قعربيوتهن . إسناد حسن. (صحيح ابن خزيمة:٢/ ٨١٣/ ١٦٨٤، المكتب الاسلامى).

٦- عن عبد الله رضي الله عنه عن النبى ﷺ قال: إن المرأة عورة، فإذا خرجت استشر فها الشيطان وأقرب ما تكون من وجه ربها وهى فى قعربيتها . إسناده صحيح. (صحيح ابن خزيمة:٢/ ٨١٣/ ١٦٨٥، المكتب الاسلامى).

٧_ عن عبد الله رضي الله عنه عن النبى ﷺ قال: " إن أحب صلاة تصليها المرأة إلى الله فى أشد مكان فى بيتها ظلمة. قال الهثيمي: رواه الطبرانى فى الكبير ورجاله موثوقون وإسناده حسن.

(صحيح ابن خزيمة:٢/ ٨١٦/ ١٦٩١، باب اختيار صلاة المرأة فى أشد مكان من بيتها ظلمة، المكتب السلامى).

د حضرت عائشي منشاء هم همدغه وه چي د فتني او فساد له امله دي ښځي په كور كي لمونځ وكړي لكه څنګه چي فرمايي: چي كه چيري رسول الله ﷺ ليدلي واى چي نن سبا ښځو څنګه نوى كارونه شروع كړى دي نو خامخا به يې منع كړى واى.

وګورئ په حديث شريف كي راځي:

عن عمرة قالت: سمعت عائشة رضي الله عنها تقول : لو راي رسول الله ﷺ ما أحدث النساء بعده لمنعهن المسجد كما منعته نساء بني إسرائيل، فقلت ما هذه؟ أو منعت نساء بنى إسرائيل؟ قالت: نعم . (صحيح ابن خزيمة:٢/ ٨١٨١/ ١٦٩٨، المكتب الاسلامي –ورواه البخارى:١/ ١٢٠- والمسلم:١/ ١٨٣).

علامه ابو بكر بن اسحاق بن خزيمه رحمه الله ځانګړى باب راوړي دئ چي د هغه عنوان دا دئ چي په مسجد نبوي كي كه څه هم د لمانځه ډېر فضيلت دئ خو د ښځو له پاره په كور كي لمونځ افضل دئ او د فضيلت په حديث كي نارينه مراد دي ښځي مراد نه دي. وګورئ

باب اختيار صلاة المرأة في حجرتها على صلاتها في دارها و صلاتها في مسجد قومها على صلاتها في مسجد النبي ﷺ و إن كانت صلاة في مسجد النبي ﷺ تعدل ألف صلاة في غيرها من المساجد، و الدليل على أن قول النبي ﷺ صلاة في مسجدي هذا أفضل من ألف صلاة فيما سواه من المساجد أراد به صلاة الرجال دون صلاة النساء:

أخبرنا أبو طاهر ...... عن عبد الله بن سويد الأنصاري عن عمته امرأة ابن حميد الساعدي أنها جاءت النبي ﷺ فقالت: يا رسول الله إني أحب الصلاة معك فقال ...... الخ كما مر.

(رواه ابن خزيمة: ۲/ ۸۱۵/ ۱۶۷۹، وإسناده حسن، المكتب الاسلامى).

په يوه حديث کي راځي چي د ښځو له پاره د جماعت پر ځای په يوازي لمانځه کي (۲۵) درجي زيات ثواب ورکول کيږي وګوره.

صلاة المرأة تفضل على صلاتها في الجمع خمسًا وعشرين درجةً. (الفردوس بمأثور الخطاب: ۲/ ۳۸۹/ ۳۸۲۶، عن ابن عمر، دار الكتب العلمية).

يو اشکال او د هغه جواب:

که څوک اشکال وکړي چي په نبوي زمانه کي خو ښځي مسجد ته تلي بيا يې په اوس وخت کي د راګرځولو سبب څه دئ؟

الجواب: يقيناً په نبوي دور کي به ښځي مسجدونو ته د لمانځه وغيره له پاره تلي خو په اوس وخت کي د څو لاملونو له مخي منع کيږي:

۱ _ په نبوي دور کي پر رسول الله ﷺ د وحی د نزول سلسله جاري وه نبوي مسجد د دين د تعليم مرکز وو او د اسلام احکام په کراره کراره نازليدل او څنګه چي به احکام نازليدل ده مبارک ﷺ به په مسجد کي بيانول او صحابه وو به عملي کول لکه څنګه چي نارينه مکلف دي همدا ډول ښځي هم مکلفي دي لهذا دوی ضرورت درلود چي احکام زده کړي له دې امله به يې په لمانځه کي ګډون کاوه چي کوم نوي احکام نازليږي هغه له ده مبارک ﷺ څخه واوري او عمل ورباندي وکړي او د امت تر

نورو راتلونکو ښځو یې ورسوي لکه څنګه چي همداسي وسوه چي د صحابیات او ازواج مطهراتو په ذریعه د دین یوه لویه برخه امت ته ورسېده چي احادیث ویونکو او درسونکو ته ښکاره ده لهذا دغه عظیم مقصد یې په وړاندي وو په اوس وخت کي تعلیم او تبلیغ په هر هر کور کي کیږي او وسائل هم ډېر زیات منځ ته راغلي دي اوس د ښځو له پاره مسجد ته د تلو او تکلیف کښلو ضرورت نه سته.

۲_ نبوي زمانه د خیر القرون زمانه وه د شر څخه بیغمي وه د فتنې او فساد دروازې تړلي وي هغه وخت مسجد ته تلل په امن وه د کومي خطري بېره نه وه لهذا نبوي دور پر اوس وخت قیاسول به څنګه درست وي؟

په داسي حال کي چي هره ورځ نوي نوي فتنې سر راپورته کوي د عریاني او فحاشي سیلاب خپې وهي د شر د خپرېدو وسائل زیات دي د خیر امیدونه لږ دي د فاسقانو او فاجرانو غلبه زیاته ده، همدارنګه د ښځو فیشن ورځ تر بلي ترقي کوي په داسي وخت کي د مسجد له پاره د کور وتل به د فتنې څخه خالي نه وي له همدې امله حضرت عائشې ﷺ وفرمایل: چي که رسول الله ﷺ د اوس وخت ښځي لیدلي وای چي څه څه یې ایجاد کړي دي نو خامخا به یې منع کړي وای.؛

د حضرت عائشې ﷺ زمانه هم نبوي دور ته نژدې وه که د اوس زمانې حال زموږ مور حضرت عائشې ﷺ ته معلوم سي نو د یوې ثانیي له پاره د وتلو اجازه به هم خوښ نه لري، که موږ دا ووایو چي د جاهلیت زمانه بیا راګرځېدونکې ده نو بې ځایه به نه وي.

۳_ په نبوي زمانه کي به صحابیات مساجدو ته تلي هغوی به په ډېر اهتمام سره تلي او پر هر ځای به یې لارښونه کېده مثلاً:

۱_ د پردې ډېر لحاظ به کېدئ په روایت کي راځي چي په غټو څادرونو کي به داسي پچل سوی وي چي پوازي به یې یوه سترګه د لاري لیدلو له پاره ښکاره وه، نور ټول بدن به یې په پنډ پړوني کي تغښتې وو او د اوسنی زمانې د ښځي پرده یو زینت وي.

۲_ د سینګار په حالت کي د تللو اجازه ورته نه وه په خیرن حالت کي به تللي.

وګورئ په صحیح ابن خزیمه کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: وليخرجن إذا خرجن تفلات، إسناده حسن.

(صحيح ابن خزيمة: ۲/ ۸۱۱/ ۱۶۷۹، باب الأمر بخروج النساء الى المساجد تفلات، المكتب الاسلامي).

دخوشبويې لګولو په حالت کې تلل ممنوع وه.

وګورئ په صحيح ابن خزيمه کې راځي.

عن زينب امرأة عبد الله بن مسعود رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: " إذا شهدت أحد كن المسجد فلاتمس طيبا" . (۲/ ۸۱۱/ ۱۷۸۰).

وعن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: " أيما امرأة استعطرت فمرت على قوم ليجدوا ريحها فهي زانية، وكل عين زانية" . إسناده حسن. (۲/ ۸۱۲/ ۱۶۸۱).

په دغه روايت کې راځي چې که ښځې عطر ووهل او دباندې ووتل او کوم پردې نارينه ته يې خوشبويې ورسېده نو هغه ښځه زنا کاره ده څومره سخت وعيد دئ.

په يو بل روايت کې راځي کله چې ښځه عطر ولګوي او مسجد ته ځي نو لمونځ يې نه سته وګورئ:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : مرت بأبي هريرة رضي الله عنه امرأةوريحها تعصف ، فقال لها : إلى أين تريدين يا أمة الجبار ؟ قالت : إلى المسجد، قال : تطيبت ؟ قالت : نعم قال : فارجعي فاغتسلي ، فإني سمعت رسول الله ﷺ يقول : " لا يقبل الله من امرأة صلاةً خرجت إلى المسجد وريحها تعصف حتى ترجع فتغتسل". إسناده حسن. (صحيح ابن خزيمة: ۲/ ۸۱۲/ ۱۶۸۲، المكتب الاسلامي).

۴_ له اختلاط څخه منع سوي ده نارينه وو ته حکم وه چې د لمانځه څخه وروسته څه انتظار وکړي چې ښځې راووزي له هغه څخه وروسته دې نارينه وزي چې په لاره کې اختلاط نه وي.

په حديث شريف کې راځي:

كان رسول الله ﷺ إذا سلم يمكث في مكانه يسيرًا. قال ابن شهاب: فنرى ، والله أعلم ، لكي ينفذ من ينصرف من النساء. (رواه البخاري:۱/ ۱۱۷/ ۸۱۴).

۳_ د فقهاوو عبارتونه او د اکابرينو فتواوي:

په طحطاوي على مراقي الفلاح كي راځي:

ولا يحضرن الجماعات لما فيه من الفتنة والمخالفة لقوله ﷺ: " صلاة المرأة فى بيتها أفضل فى صلاتها فى حجهرتها وصلاتها فى مخدعها أفضل من صلاتها فى بيتها " فالأفضل لها ماكان أسترلها لافرق بين الفرائض وغيرها كالتراويح إلا صلاة الجنازة...... قوله (والمخالفة) أى مخالفة الأمر لأن الله تعالى أمرهن بالقرار فى البيوت فقال تعالى ﴿وقرن فى بيوتكن ﴾الاحزاب:۳۳- وقال ﷺ: " بيوتهن خيرلهن لوكن يعلمن". (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:۱/ ۳۰۴، فصل فى بيان الاحق بالامامة، قديمى كتب خانه).

په امداد الفتاح كي راځي:

ولايحضرن الجماعات مطلقًا فى كل الأوقات والعجوز كالشابة فى المنع من حضور الجمع والأعياد وغيرها، لأنها ممنوعة عن البروز ولذلک كانت صلاتها فى جوف بيتها أفضل من صلاتها فى صحن دارها . (امداد الفتاح:۳۴۵، بيان من تكره امامتهم، بيروت).

په طحطاوي على الدر المختار كي راځي:

أما فى زماننا فالمفتى به منع الكل فى الكل حتى فى الوعظ ونحوه (قوله لفساد الزمان) ولذا قالت عائشة رضي الله عنها للنساء حين شكون إليها من عمر رضي الله عنه لنهية لهن عن الخروج إلى المساجد: لو علم النبى ﷺ ما علم عمر رضي الله عنه ما أذن لكن فى الخروج قهستانى. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۲۴۵، باب الامامة، كوئتة).

په عالمګیري کي راځي:

والفتوی اليوم علی الكراهة فی كل الصلوات لظهور الفساد، كذا فی الكافی، وهو المختار كذا فی التبيين. (فتاوی عالمگیری: ۱/ ۸۹، الباب الخامس فی الإمامة، الفصل الخامس فی بيان مقام الاماموالماموم).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله على المذهب المفتى به) أي مذهب المتأخرين، قال في البحر : وقد يقال هذه الفتوى التي اعتمدها المتأخرون مخالفةلمذهب الإمام وصاحبيه ، فإنهم نقلوا أن الشابة تمنع مطلقًا اتفاقًا، وأما العجوز فلها حضور الجماعة عند الإمام إلا في الظهر والعصر والجمعة أي وعندهما مطلقًا ، فالإفتاء بمنع العجائز في الكل مخالفللكل ، فالاعتماد على مذهب الإمام . قال في النهر : وفيه نظر، بل هو مأخوذمن قول الإمام وذلك أنه إنما منعها لقيام الحامل وهو فرط الشهوة بناءً على أن الفسقة لا ينتشرون في المغرب لأنهم بالطعام مشغولون وفي الفجر والعشاء نائمون ؛ فإذا فرض انتشارهم في هذه الأوقات لغلبة فسقهم كما في زماننا بل تحريهم إياها كان المنع فيها أظهر من الظهر . (شامی: ۱/ ۵٦٦، باب الامامة، سعید کمپنی).

په تقریرات الرافعي کي راځي:

(قول الشارح: واستثنى الكمال بحثا العجائز) لكن من أطلق قال لكل ساقطة لاقطة، وإذا كانت الفساق تتبع البهائم والموتى فی القبور فلان تتبع العجائز المتفانية أولی، فكل من تكلم علی حسب حاله وما يشاهد فی أهل عصره ومن اتسع إطلاعه منع الكل وهو الصواب

ويشهد له حديث عائشة رضي الله عنها حيث قالت: " لو رأى رسول الله ﷺ ما أحدث النساء لنعهن المساجد" ولم يفصل. رحمتی. (التحرير المختار: ١/ ٧٢، باب الامامة، سعيد كمپنى).

په فتح القدير کي راځي:

لا يقال: هذا حينئذ نسخ بالتعليل. لأنا نقول المنع يثبت حينئذ بالعمومات المانعة من التفتين، أو هو من باب الإطلاق بشرط فيزول بزواله كانتهاء الحكم بانتهاء علته، وقد قالت عائشة رضي الله عنها في الصحيح: " لو أن رسول الله ﷺ رأى ما أحدث النساء بعده لمنعهن"...... بل عمم المتأخرون المنع العجائز والشواب في الصلوات كلها لغلبة الفساد في سائر الأوقات. (فتح القدير: ١/ ٣٦٥، باب الامامة، دار الفكر).

د هدايې په شرح عنايه کي راځي:

والفتوىٰ اليوم على كراهة حضورهن في الصلوات كلها لظهور الفساد . (عنايه على هامش فتح القدير: ١/ ٣٦٦، دار الفكر).

په جوهره نيره کي راځي:

والفتوى اليوم على الكراهة في الصلوات كلها لظهور الفسق في هذا الزمان. (الجوهرة النيرة: ص ٧٢، باب صفة الصلاة، مكتبة امداديه ملتان).

په الاختيار التعليل المختار کي راځي:

والمختار في زماننا أن لايجوز شيء من ذلک لفساد الزمان والتظاهر بالفواحش. (الاختيار لتعليل المختار: ٥٩، دار لدعوة استنبول).

په مجمع الانهر کي راځي:

الأحكام قد تختلف باختلاف الزمان، ألا يرى أن النساء كن تخرجن إلى الجماعات في زمانه عليه الصلاة والسلام وزمان أبي بكر الصديق رضي الله عنه حتى منعهن عمر رضي الله عنه واستقر الأمر عليه وكان ذلك هو الصواب كما في التبيين. (مجمع الانهر فى شرح ملتقى الابحر:۲/ ۳۸٤، باب الاجرة الفاسدة تحت كتاب الاجارة، احياء التراث العربى).

په بدائع الصنائع کي راځي:

أما النساء فلأن خروجهن إلى الجماعات فتنة . (بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع:۱/ ۱٥٥، فصل فى بيان من تجب عليه الجماعة، سعيد).

په مبسوط کي راځي:

إن العجوز إذا كان لا يشتهيها شاب يشتهيها شيخ مثلها وربما يحمل فرط السبق الشاب على أن يشتهيها ...... كما فى زماننا فلهذه العلة منعت فى الصلوات كلها. (المبسوط للسرخسى:۲/ ٤۱، باب صلاة العيدين، ادارة القران كراچى).

علامه عيني رحمه الله هم د فتنې او فساد له امله منع کړي ده. وګورئ د صحيح البخاري په شرح عمدة القاري کي راځي:

قال أصحابنا: لأن في خروجهن خوف الفتنة وهو سبب للحرام وما يفضي إلى الحرام فهو حرام، فعلى هذا قولهم: يكره مرادهم يحرم، لا سيما في هذا الزمان لشيوع الفساد في أهله. (عمدة القارى:٤/ ٦٤٦، باب خروج النساء الى المساجد).

په بل ځای کي فرمايي:

قلت لو شاهدت عائشة رضي الله عنها عنهما ما أحدث نساء هذا الزمان من أنواع البدع والمنكرات لكانت أشد إنكارًا، ولا سيما نساء مصر فإن فيهن بدعًا لا توصف ومنكرات لا تمنع، منها

ثيابهن من أنواع الحرير المنسوجة أطرافها من الذهب والمرصعة باللآلىء وأنواع الجواهر، وما على رءوسهن من الأقراص المذهبة المرصعة باللآلىء والجواهر الثمينة، والمناديل الحرير المنسوج بالذهب والفضة الممدودة، وقمصانهن من أنواع الحرير الواسعة الأكمام جدًا، السابلة أذيالها على الأرض مقدار أذرع كثيرة بحيث يمكن أن يجعل من قميص واحد ثلاثة قمصان وأكثر. ومنها: مشيهن في الأسواق في ثياب فاخرة وهن متبخترات متعطرات مائلات متبخترات متزاحمات مع الرجال مكشوفات الوجوه في غالب الأوقات . ومنها: ركوبهن على الحمير الغرة وأكمامهن سابلة من الجانبين في أزر رفيعة جدًا. ومنها غلبتهن على الرجال وقهرهن إياهم وحكمهن عليهم بأمور شديدة، ومنهن نساء يبعن المنكرات بالإجهار، ويخالطن الرجال فيها، ومنهن قوادات يفسدن الرجال والنساء ويمشين بينهن بما لم يرض به الشرع، ومنهن: صنف بغايا قاعدات متوصلات للفساد، ومنهن صنف دائرات على أرجلهن يصطدن الرجال..... مغنيات يغنين بأنواع الملاهي بالأجرة للرجال والنساء، ومنهن: صنف خطابات يخطبن للرجال نساء الها أزواج بفتن يوقعنها بينهم، وغير ذلک من الأصناف الكثيرة الخارجة عن قواعد الشرعية،فانظر إلى ما قالت الصديقة ﷺ من قولها: لو أدرک رسول الله ﷺ ما أحدث النساء، وليس بين هذا القول وبين وفاة النبى ﷺ إلامدة يسيرة، على أن نساء ذلک الزمان ما أحدثن جزأ من ألف جزء مما أحدثت نساء هذا الزمان.

(عمدة القارى: ٤/ ٦٤٩/ ٨٦٩، باب انتظار الناس قيام الامام العالم تحت ابواب صفة الصلاة، دار الحديث ملتان).

حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرماتے ہیں: وکورئ پہ فتح الباري کي راځي:

ووجه كون صلاتها في الإخفاء أفضل تحقق الأمن فيه من الفتنة ويتأكد ذلك بعد وجود ما أحدث النساء من التبرج والزينة ومن ثم قالت عائشة رضي الله عنها ما قالت . (فتح الباري:۲/ ۳۵۰/ ۸۶۹، باب انتظار الناس قيام الامام، دار نشر الكتب الاسلامية لاهور).

د اکابرینو د فتوی شخه هم د ښځو له پاره مسجد ته له تلو څخه ممانعت معلومیږي:

په فتح الملهم کي راځي:

وبالنظر إلى التعليل المذكور منعت غير المتزينة أيضا أي الشابة لغلبة الفساق ليلا وإن كان النص يتجه لأن الفساق في زماننا أكثر انتشارا وتعرضهم بالليل وعلى هذا ينبغي على قول أبي حنيفة رحمه الله تفريع منع العجائز ليلا أيضًا، بخلاف الصبح فإن الغالب نومهم في وقته، بل عمم المتأخرون المنع للعجائزو الشواب في الصلوات كلها فإن كلها لغلبة الفساد في سائر الأوقات. (فتح الملهم:۳/ ۵۲۶، باب خروج النساء الى المساجد).

په نفع المفتي والسائل کي راځي:

الفتوى في زماننا على أنهن لايخرجن، وإن كن عجائز إلى الجماعات، لافي الليل ولافي النهار، لغلبة الفتنة والفساد وقرب يوم المعاد.

قال مفتي الثقلين: الفتوى اليوم على الكراهة في كل الصلوات، ومتى كره حضورهن المساجد للصلاة فلأن يكره حضورهن في مجلس الوعظ أولى، انتهى.

وفي النهاية: الجملة في هذه المسئلة أن النساء كان يباح لهن الخروج إلى الصلاة ثم منعن بعد ذلك لما صارخروجهن سببًا للفتنة.

وفى الكفاية: والفتوى اليوم على الكراهة ق الصلوات كلها لظهور الفساد، فمتى كره حضور هن المسجد لأن يكره مجالس العلم خصوصا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية العلماء أولى، كذا فى مبسوط فخر الإسلام، انتهى. وقال بحر العلوم مولانا عبد الحى فى "رسائل الأركان" بعد تطويل الكلام فى إفتاء منعهن عن الخروج إلى المساجد: وإنما أطنبنا الكلام لما كان يزعم البعض أنهم أبطلوا النص بالتعليل، وقالوا: إن الحاكم هو الله تعالى، وكان عالمًا بما أحدثته النساء، فلا يظهر لقول أم المؤمنين رضي الله عنها وجه. وليس الأمر كما زعموا، وكون الحاكم هو الله تعالى مسلم، وعلمه بما أحدثته النساء كان متحققًا أيضًا، لكنا نقول: إن حكم الله تعالى على لسان رسوله ﷺ بعدم المنع عن خروجهن للمساجد كان مؤقتًا إلى عدم احتمال الفتنة، فانتفى بانتفائه، ومقصود أم المؤمنين رضي الله عنها لو كانت النساء أحدثن فى الزمان الشريف ما أحدثنه الآن لما حكم رسول الله ﷺ بالخروج، لانتفاء ما أناط الله الحكم به، انتهى.

وقال الزيلعى فى " تبيين الحقائق فى شرح كنز الدقائق" ولاينكر تغيير الأحكام بتغيير الزمان، كغلق المساجد يجوز فى زماننا، انتهى. (فتاوى اللكنوى:ص ۳۱۴-۳۱۷، مايتعلق بالجماعة، بيروت).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

په دې زمانه كي بلكي ډېر له وړاندي ښځه دښځو له پاره په جماعت كي د شركت له پاره مسجد او عيدګاه ته تلل ممنوع او مكروه دي، د صحابه كرامو په زمانه كي دا منع سوى وي كما ورد فى الحديث. (فتاوى دار العلوم ديوبند:۳/ ۴۹، باب الجماعة).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د فتنې او فساد د زیاتوالی له امله ممنوع دي حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: چي د ښځو دغه حالت که رسول الله ﷺ لیدلی وای نو مسجد ته له تلو څخه به يې منع کړي وای.

ځینو اکابرو صحابه وو په تدبیرونو سره خپلي ښځي د مسجد له تلو څخه منع کړی دي. (فتاوی محمودیه۶/ ٤٧٤، باب الجماعة).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د ښځو له پاره په جماعت کي شریکېدل مکروه تحریمی دي. (احسن الفتاوی:۳/ ۲۸۳).

په عمدة الفقه کي راځي:

د ښځو له پاره جماعت ته حاضرېدل مکروه دي. (عمدة الفقه:۲/ ۱۱۵، کتاب الصلوة).

په فتاوی بینات کي راځي:

حضرت عمر رضي الله عنه چي کله په خپل دور کي د ښځو داخله مسجد ته بنده کړه او ښځي يې مسجد ته له راتلو څخه منع کړی نو ټولو صحابه وو دغه خوښه کړه او چا وربانديي انکار کړی نه دئ، البته ځینو ښځو حضرت رضي الله عنها ته شکایت وکړ نو حضرت عائشې رضي الله عنها د فاروقي فیصلی سره موافقت وکړ او وي فرمایل: چي که حضور ﷺ دغه شیان لیدلی وای چي نن ورځ په ښځو کي سته نو انحضرت ﷺ دوی له راتلو څخه منع کولي. (فتاوی بینات:۲/ ۳۲۷).

په درس ترمذي کي راځي:

امام طحاوی رحمه الله فرمايي: چي د ښځو د تلو حکم د اسلام په پیل کي د اسلام د دښمنانو په نظر کي د مسلمانانو د ډېر والی د ښکاره کېدو له پاره وو او هغه علت اوس پاته نه دئ.

علامه عینی رحمه الله فرمايي: چي د دغه علت له امله اجازه هم په هغو حالاتو کي وه چي کله د امن وخت وو اوس چي ځنګه دواړه علتونه ختم سوی دي لهذا بايد اجازه ورنه کول سي لکه چي د متاخرينو علماوو فتوی پر همدغه ده چي په اوس وخت کي يې د مسجدونو طرفته وتل درست نه دي. (درس ترمذي:۲/ ۳۲۱).

په آپ کی مسائل اور ان کا حل کي راځي:

د انحضرت ﷺ بابرکته زمانه څنګه چي له شر او فساد څخه خالي وه او دلته ښځو ضرورت درلود چي د انحضرت ﷺ څخه احکام زده کړی ځکه نو ښځو ته د مساجدو د حاضری اجازه وه او په هغه کي دا قیدونه وه چي په پرده کي به ځي په سینګار سره به نه ځي، له هغه سره سره ښځو ته دا ترغیب ورکول کېدئ چي لمونځ دي په خپلو کورونو کي وکړي خو کله چي د هغو قیدونو او شرطونو لحاظ چي رسول الله ﷺ ورباندي ایښي وه ښځو پرېښود، نو اجازه هم پاته نه سوه پر همدغه بنسټ د امت فقهاوو چي په حقیقت کي د امت حکیمان دي د ښځو حاضرې مسجد ته مکروه ګڼلي ده. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۲۰۳/۲). والله ﷻ اعلم.

په حرمینو کي د ښځو په جماعت سره د لمانځه کول

سوال: نن سبا ښځي په حرمینو شریفینو کي لمونځ په جماعت کوي د هغه حکم څه دئ؟

الجواب: افضله او ښه خو دا ده چي ښځي حرمینو ته د لمانځه له پاره رانه سي، البته که کوم عذر وي مثلاً ټیره وي نو راتلای سي، همدارنګه د طواف او د روضي مبارکي له پاره یې راتګ درست دئ او که د لمانځه وخت سي نو هلته د لمانځه کولو ګنجائش سته په عامو حالاتو کي یې په کوټه کي لمونځ کول غوره دي، له احادیثو څخه یې هم فضیلت معلومېږي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن أم حميد رضي الله عنها امرأة أبي حميد الساعدي رضي الله عنه: عن النبي ﷺ أنه قال لها: قد علمت أنك تحبين الصلاة معي و صلاتك في بيتك خير من صلاتك في حجرتك و صلاتك في حجرتك خير من صلاتك في دارك و صلاتك في دارك خير من صلاتك في مسجد قومك وصلاتك في مسجد قومك خير من صلاتك في مسجدي فأمرت فبني لها مسجد في أقصى شيء من بيتها و أظلمه، فكانت تصلي فيه حتى لقيت الله عز و جل. إسناده حسن. (صحيح ابن خزيمة:۲/ ۸۱۵/ ۱٦۸۹، المكتب السلامي – ورواه الامام أحمد – وابن حبان، كذا في كنز العمال:۷/ ٦۷٦).

علامه ابو بکر محمد بن اسحاق بن خزيمه رحمه الله باب راوړی دئ چې د هغه عنوان دا دئ چې په مسجد نبوي کې که څه هم د لمانځه فضيلت ډېر دئ خو د ښځو له پاره په کور کې لمونځ کول ښه دي او د فضيلت په احاديثو کې نارینه مراد دي ښځې مراد نه دي. وګورئ:

باب اختيار صلاة المرأة في حجرتها على صلاتها في دارها و صلاتها في مسجد قومها على صلاتها في مسجد النبي ﷺ و إن كانت صلاة في مسجد النبي ﷺ تعدل ألف صلاة في غيرها من المساجد، و الدليل على أن قول النبي ﷺ صلاة في مسجدي هذا أفضل من ألف صلاة فيما سواه من المساجد أراد به صلاة الرجال دون صلاة النساء:

أخبرنا أبو طاهر ...... عن عبد الله بن سويد الأنصاری عن عمته امرأة ابن حميد الساعدی أنها جاءت النبی ﷺ فقالت: يا رسول الله إنی أحب الصلاة معک فقال ...... الخ كمامر.

(رواه ابن خزيمة: ۲/ ۸۱۵/ ۱٦۷۹، وإسناده حسن، المكتب الاسلامی).

په احسن الفتاوی کې راځي:

په مکه مکرمه کې ښځو ته په کور کې پر لمانځه کولو هغه ثواب ورکول کيږي چې نارینه وُ ته په مسجد حرام کې ورکول کيږي، همدارنګه ليکي: چې مسجد نبوي کې پر څلوېښتو لمنځونو پر اداء کولو د جهنم، عذاب او نفاق څخه د خلاصون زېرې يوازې د نارينه وو له پاره د جماعت له لمانځه سره خاص دئ د ښځو له پاره د مسجد نبوي پر ځای په کور کې لمونځ کول افضل دي. (احسن الفتاوی: ۳/ ۳٤). والله تعالیٰ اعلم.

دریيم........... فصل
د جماعت ثانیه احکام
د مسجد په حدودو کي د دوهم جماعت کولو حکم

سوال: د مسجد په حدودو کي د دوهم جماعت د کولو حکم څه دئ؟

الجواب: داسي مسجد چي د هغه له پاره امام او مؤذن مقرر وي په حدودود کي يې دوهم جماعت د لومړی جماعت پر هيئت او طريقه مکروه تحريمی دئ او که يې هيئت بدل کړ يعنی بيله اذانه او محرابه او يا د محراب له برابري څخه ليري وي بيا له کراهت تنزيهي سره روا دئ ښه دا ده چي که له مسجد سره حجره وي يا مدرسه وغيره وي هلته دي دوهم جماعت وسي، همدارنګه بايد په اول جماعت کي د شراکت اهتمام وکړل سي د دوهم جماعت عادت جوړول ښه نه دي له دې څخه د اول جماعت مرتبه او عظمت له زړونو څخه وزي، البته که د لاري مسجد وي او يا داسي وي چي د هغه له پاره امام او مؤذن ټاکلی نه وي نو په هغه کي دوهم جماعت بيله کراهته روا دئ.

په درمختار کي راځي:

ويكره تكرار الجماعة بأذان وإقامة في مسجد محلة لا في مسجد طريق أو مسجد لا إمام له ولا مؤذن ...... وفى الشامية: (قوله ويكره) أي تحريما لقول الكافي لا يجوز، والمجمع لا يباح. وشرح الجامع الصغير إنه بدعة كما في رسالة السندي (قوله بأذان وإقامة) عبارته في الخزائن: جمع مماً هنا ونصبها يكره تكرار الجماعة في مسجد محلة بأذان وإقامة إلا إذا صلى بهما فيه أو لاغير أهله أو أهله لكن بمخافتة الأذان، ولو كرر أهله بدونهما أو كان مسجد طريق جاز إجماعًا، كما في مسجد ليس له إمام ولامؤذن ويصلي الناس فيه فوجًا فوجًا...... (شامی:١/ ٥٥٢، باب الامامة، سعيد).

په عالمګيري کي راځي:

المسجد إذا كان له إمام معلوم وجماعة معلومة في محله فصلى أهله فيه بالجماعة لا يباح تكرارها فيه بأذان ثان، أما إذا صلوا بغير أذان يباح إجماعًا وكذا في مسجد قارعة الطريق كذا في شرح المجمع للمصنف. (فتاوى هندية:١/ ٨٢، الفصل الاول فى الجماعة).

په شرح منية المصلى كي راځي:

وإذا لم يكن للمسجد إمام ومؤذن راتب فلا يكره تكرار الجماعة فيه بأذان وإقامة عندنا وعن أبي حنيفه رحمه الله لو كانت الجماعة الثانية أكثر من ثلاثة يكره التكرار وإلا فلا، وعن أبي يوسف رحمه الله إذا لم تكن على الهيئة الأولى لايكره وإلا يكره وهو الصحيح وبالعدول عن المحراب تختلف الهيئة كذا في فتاوى البزازي. (شرح منية المصلى:٦١٤، فصل فى أحكام المسجد الثالث فى مسائل متفرقة تتعلق بالمسجد، سهيل اكيدمى لاهور). **د زيات تفصيل له پاره وګورئ:** (البحر الرائق:١/ ٣٤٦، باب الامامة – منحة الخالق حاشية البحر الرائق:١/ ٣٤٦، باب الامامة، الماجدية كوئتة).

په فتاوی محموديه كي راځي:

كه د مسجد امام او مقتديانو اذان او جماعت پر ټاكلي وخت كړى وي نو اوس په مسجد كي دوهم ځل جماعت كول مكروه دئ.

د حضرت امام ابو يوسف رحمه الله په اند په يوه روايت كي مكروه نه دئ مګر له ظاهر الروايت څخه معلوميږي چي مطلقاً مكروه دئ، البته كه يې هيئت بدل سي مكروه تنزيهى به وي كه نه مكروه تحريمى به وي. (فتاوى محموديه:٦/ ٤٣٥)، (فتاوى حقانيه:٣/ ١٢٦، باب الجماعة).

د تفصيل له پاره وګورئ: (احسن الفتاوى:٣/ ٣٢٢، په مسجد كي د جماعت ثانيه حكم، فتاوى رحيميه:٣/ ٢٧، كفايت المفتى:٣/ ١٣٤). والله تعالى اعلم.

د مسجد په غولي كي د دوهم جماعت حكم

سوال: که د محلي مسجد ته څه کسان د جماعت څخه وروسته راورسیږي اوس دوی د مسجد په صحن کي لمونځ کوي نو ایا لمونځ دي په جماعت وکړئ او که یې بېل بېل وکړئ؟

الجواب: د محلي په مسجد کي دوهم جماعت کول صحیح نه دي بلکي مکروه تحریمی دي او که هیئت بدل کړي نو کراهت تنزیهی سره روا دئ د دې سبب دا دئ چي که د جماعت د تکرار عامه اجازه ورکړل سي نو د لومړی جماعت اهمیت به پاته نه سي، لهذا بېل بېل لمونځ کول به افضل وي هو د مسجد په غولي کي چي له مسجد څخه خارج دئ په جماعت کولو کي څه مشکل نه سته، خو عادت به یې نه جوړوي.

وګورئ شمس الائمه سرخسي رحمه الله فرمایي:

قال وإذا دخل القوم مسجدًا قد صلى فيه أهله كرهت لهم أن يصلوا جماعةً بأذان وإقامة ولكنهم يصلون وحدانًا بغير أذان ولا إقامة لحديث الحسن رحمه الله قال: كانت الصحابة إذا فاتتهم الجماعة فمنهم من اتبع الجماعات ومنهم من صلى في مسجده بغير أذان ولا إقامة، وفي الحديث أن النبي ﷺ خرج ليصلح بين الأنصار فاستخلف عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه فرجع بعد ما صلى فدخل رسول الله ﷺ بيته وجمع أهله فصلى بهم بأذان وإقامة فلو كان يجوز إعادة الجماعة في المسجد لما ترك الصلاة في المسجد والصلاة فيه أفضل، وهذا عندنا. (المبسوط للسرخسی:۱/ ۱۳۵، باب الاذان).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (شامی:۱/ ۵۵۲، باب الامامة، والفتاوی الهندیة:۱/ ۸۳، الفصل الاول فی الجماعة، ومنحة الخالق حاشیة البحر الرائق:۱/ ۳۴۶، باب الامامة الماجدیة، کوئټة).

په امداد الاحکام کي راځي:

د محلي مسجد چي د هغه له پاره امام او مؤذن ټاکلي وي دوهم جماعت پکښي مکروه دئ مګر د هیئت په بدلولو سره د امام ابو یوسف رحمه الله د قول مطابق ګنجائش سته خو زموږ مشائخو د عوامو د

انتظام له پاره پر دغه قول فتوی نه ده ورکړي بلکې د محلي په مسجد کې چې چیرې امام او مؤذن ټاکلي وي مطلقاً یې وکراهت فتوی ورکړي ده. (امداد الاحکام: ۱/ ٤٩٧).

په اسلامي فقه کې راځي:

په کوم مسجد کې چې امام او مؤذن ټاکلي وي او هلته پنځه وخته لمونځ په جماعت سره کیږي که جماعت تېر سي او بیا وروسته دوه درې لمونځ کونکی راسي نو دوی باید دوهم ځل جماعت ونه کړي بلکې بېل بېل دي لمونځ وکړي، البته که له هغه ځایه چې هلته جماعت سوی څه لیرې سي دوهم ځل یې په جماعت سره لمونځ وکړ نو څه باک نه سته. (اسلامی فقه: ۱/ ٢٤٥).

په کفایت المفتي کې راځي:

که دوهم جماعت د اول جماعت پر طریقه وي او په داسې مسجد کې وي چې په هغه کې یو ټاکلي جماعت کیږي نو مکروه تحریمي دئ او که د هیئت په تبدیلی سره وي نو مکروه تنزیهی دئ او د لاباس لفظ یاد جواز لفظ له مکروه تنزیهی سره منافات نه لري.

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

یوازې دي بېله اذانه او اقامته لمونځ اداء کړي ځکه په مسجد کې جماعت ثانیه مکروه دئ. په حواله د مبسوط. (فتاوی رحیمیه: ۳/ ۲۷).

همدارنګه وګورئ: (فتاوی محمودیه: ٦/ ٤٣٧، باب الجماعة او فتاوی حقانیه: ۳/ ١٢٦). والله اعلم.

هغه مسجد چې امام پکښې متعین وي خو مقتدیان یې متعین نه وي په هغه کې د دوهم جماعت حکم

سوال: په لاره کې یوه مسجد دئ د هغه له پاره ټاکلي محله او مقتدیان نه سته خو امام یې متعین دئ نو په داسې مسجد کې جماعت ثانیه کېدای سي او که نه؟

الجواب: څنګه چې امام متعین دئ لهذا دغه د محلي د مسجد په حکم کې دئ دوهم جماعت پکښې مکروه دئ، البته د مسجد سره په نژدې حجره یا دباندې باید جماعت وکړل سي که یې امام هم متعین نه وي بیا روا دئ.

شمس الائمه سرخسي رحمه الله فرمایي:

قال وإذا دخل القوم مسجدًا قد صلى فيه أهله كرهت لـهم أن يصلوا جماعةً بأذان وإقامة ولكنهم يصلون وحدانًا بغير أذان ولا إقامة لحديث الحسن رحمه الله قال: كانت الصحابة إذا فاتتهم الجماعة فمنهم من اتبع الجماعات ومنهم من صلى في مسجده بغير أذان ولا إقامة، وفي الحديث أن النبي ﷺ خرج ليصلح بين الأنصار فاستخلف عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه فرجع بعد ما صلى فدخل رسول الله ﷺ بيته وجمع أهله فصلى بهم بأذان وإقامة فلو كان يجوز إعادة الجماعة في المسجد لما ترك الصلاة في المسجد والصلاة فيه أفضل ، و وهذا عندنا . (المبسوط للسرخسي:١/ ١٣٥، باب الاذان).

په فتاوى شامي كي راځي:

قوله إلا فى مسجد على طريق هو ماليس له إمام ومؤذن راتب. (شامى:١/ ٣٩٥، سعيد).

دالبحر الرائق په حاشيه كي علامه شامي فرمايي:

أقول: ومفاد هذه النقول كراهة التكرار مطلقًا أى ولوبدون أذان وإقامة، وإن معنى قول قاضيخان: المار يصلى بغير أذان وإقامة أنه يصلي منفردًا لابالجماعة بدليل التعليل و الاستدلال بالمروى عن الصحابة ويؤيده قوله فى الظهيرية، وظاهر الرواية أنهم يصلون وحدانًا، وتمامه فيه. (منحة الخالق حاشية البحر الرائق:١/ ٣٤٦، باب الامامة، كوئتة).

المسجد إذا كان له إمام معلوم وجماعة معلومة فى محلة فصلى أهله فيه بالجماعة لايباح تكرارها فيه بأذان ثان، أما إذا صلوا بغير أذان يباح إجماعًا وكذا فى مسجد قارعة الطريق كذا فى شرح المجمع للمصنف. (فتاوى هندية:١/ ٨٣، الفصل الاول فى الجماعة).

په فتاوی دار العلوم کي راځي:

د مسجد قارعة الطريق څخه مراد دا دئ چي په هغه کي امام او مؤذن ټاکلي نه وي چي په کوم مسجد کي امام او مؤذن ټاکلي نه وي په هغه کي دوهم جماعت روا دئ مکروه نه دئ او د محلي په مسجد کي دوهم جماعت مکروه دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۳/ ٦٤، او فتاوی حقانیه:۳/ ١٢٦).

والله ﷻ اعلم.

په دوهم جماعت کي د اذان او اقامت حکم

سوال: که يې دوهم جماعت کاوه نو د هغه له پاره اذان او اقامت سته او که نه؟

الجواب: که يې له مسجد څخه دباندي په صحراء کي جماعت ثانيه کاوه نو له اذان او اقامت سره دي وکړي او که په محله او يا کلي کي وي نو يوازي دي پر اقامت اکتفاء وکړي خو په مسجد کي يې له اذان او اقامت سره کول مکروه دي.

په فتاوی عالمګيري کي راځي:

ولا يكره تركهما لمن يصلي في المصر إذا وجد في المحلة ...... وإذا لم يؤذن في تلك المحلة يكره له تركهما ولو ترك الأذان وحده لا يكره كذا في المحيط ولو ترك الإقامة يكره كذا في التمرتاشي، ويكره للمسافر تركهما وإن كان وحده هكذا في المبسوط، ولو صلى في بيته في قرية إن كان في القرية مسجدفيه أذانوإقامةفحكمه حكم من صلى في بيته في المصر وإن لم يكن فيها مسجدفحكمه حكم المسافر. كذا في الشمني شرح النقاية، وإن كان في كرم أو ضيعة يكتفى بأذان القرية أو البلدة إن كان قريبًا وإلا فلا، وحد القريب أن يبلغ الأذان إليه منها كذا في مختار الفتاوى. (الفتاوى الهندية:١/ ٥٤، الباب الثانى الاذان، سعيد).

په درمختار کي راځي:

وكره تركهما معًا للمسافر...... بخلاف مصل ولوبجماعة فى بيته بمصر أو قرية لها مسجد فلا يكره تركهما إذ أذان الحى يكفيه. وفى الشامى قوله فى بيته أى فيما يتعلق بالبلد من الدارو الكرم وغيرهما قهستانى. وفى التفاريق وإن كان فى كرم أو ضيعة يكتفى بأذان القرية أو البلدة إن كان قريبًا وإلا فلا وحد القرب أن يبلغ الأذان إليه منها ...... والظاهر أنه لايشترط سماعه بالفعل تأمل .(الدر المختار مع الشامى:١/ ٣٩٥، باب الاذان، سعيد).

ويكره تكرار الجماعة بأذان وإقامة فى مسجد محلة. (الدر المختار:١/ ٥٥٢، باب الامامة، سعيد– وكذا فى بدائع الصنائع:١/ ٣٥، سعيد).

په فتاوى حقانيه كي راځي:

كه دوهم جماعت په يوه داسي مسجد كي وي چيري چي قوم خپل لمونځ له اذان او اقامت سره كړی وي نو د رخصت د شرائطو په لحاظ ساتلو سره دوهم ځل د جماعت له پاره اذان او اقامت مكروه دئ البته له مسجد څخه دباندي يا د لاري په داسي مسجد كي چيري چي قوم او امام دواړه نه وي نو هلته د دوهم جماعت له پاره اذان او اقامت سنت دئ. (فتاوى حقانيه:٣/ ٥٧، باب الاذان). والله اعلم.

څلورم فصل

د صفونو د برابرولو احكام

د نارينه وو او كوچنيانو د صف تر منځ د خالي ځاى د پرېښودلو حكم

سوال: په ځينو مسجدونو كي دوه يا درې صفونه پرېږدي او بيا كوچنيان دروي چي د لويانو له پاره په مخكي صف كي ځاى پاته سي ايا دغه طريقه صحيح ده؟ او يا دي كوچنيان له غټان سره يو ځاى ودرېږي وروسته چي كوم كسان راځي هغه دي له دوى سره او يا د دوى تر شا ودرېږي؟

الجواب: په عامه توگه چي د غټانو څومره صفونه كيږي د دومره صفونو شا ته دي د كوچنيانو صف ودروي له دې څخه وروسته كه بالغان راسي او مخته ځاى نه وي نو تر شا دي ودرېږي.

په امداد الفتاح كي راځي:

وإذا اجتمع الرجال وغيرهم يصف الرجال الإمام لقوله ﷺ ليلني منكم أولو الأحلام والنهى ...... ثم يصف الصبيان لقول أبي مالك الأشعري ﷺ أن النبي ﷺ صلى وأقام الرجال يلونه وأقام الصبيان خلف ذلك وأقام النساء خلف ذلك وإن لم يكن جمع من الصبيان يقوم الصبي بين الرجال. (ذكره الزيلعي في نصب الراية:۲/ ۳٦ – واخرجه بنحوه الطبراني في معجمه الكبير:۳٤١٦ – وذكره الهيثمي في مجمع الزوائد:۱/ ۱۲۹). (امداد الفتاح مع الحاشية:ص ۳٤۹، ترتيب صفوف الصلاة – وكذا في الفتاوى الهندية:۱/ ۸۹، الفصل الخامس في بيان مقام الامام والماموم – والشامي:۱/ ۵۷۱، باب الامامة، سعيد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کې راځي:

که د هلکانو مخته په جماعت کې ځای وي خو هلته دې ورسي او په جماعت کې دې د بالغانو سره شامل سي او که دا ممکن نه وي نو د کوچنیانو په جماعت کې دې ودریږي بیا یې هم لمونځ صحیح دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۳/ ۳۳۹).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

چې کله په مخکې صف کې ځای وي هغه دې ډک کړي او که د هلکانو د صف مخ ته تېر بېږي باک نه کوي. (فتاوی رحیمیه:۱/ ۱۹٤).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

کله چې د کوچنیانو صف غټ وي او یو بالغ وغواړي چې د بالغانو په صف کې ودریږي نو د کوچنیانو د صف مخ ته دې تېر سي د کوچنیانو په صف کې دې نه دریږي. (فتاوی محمودیه:٦/ ٤۹۰، باب تسوية الصفوف). والله ﷻ اعلم.

کم سنه کوچنیانو د بالغانو په صف کې د درولو حکم

سوال: یو څوک خپل نابالغ کوچنی په جماعت کې په لومړی صف کې دروي ایا دغه درسته ده؟ همدارنګه د شریعت له نظره د نابالغه کوچنیانو له پاره په صف کې کوم ځای دئ سره له دلیله یې جواب ولیکئ؟

الجواب: که د مسجد لومړی صف په عامه توګه له بالغانو څخه ډکیدئ نو بیا کم عمره کوچنیان په لومړی صف کې درول خلاف سنت او مکروه دي، البته که په عامه توګه لومړی صف له بالغانو څخه نه ډکیدئ نو یوازې دي نه دریږي له لویانو سره دي ودریږي خو که کوچنیان زیات وي نو د کوچنیانو صف باید د نارینه وو له صف څخه شا ته وي، په شریعت کې یې همدغه ځای دئ.

وګورئ په البحر الرائق کې راځي:

ویقتضي أیضًا أن الصبي الواحد لا یکون منفردًا عن صف الرجال بل یدخل في صفهم وأن محل هذا الترتیب إنما هو عند حضور جمع من الرجال وجمع من الصبیان فحینئذ تؤخر الصبیان. (البحر الرائق: ۱/ ۳۵۳، باب الامامة، کوئتة – وکذا في الشامي: ۱/ ۵۷۱، باب الامامة، سعید – وبدائع الصنائع: ۱/ ۱۵۹، سعید).

په امداد الفتاح کې راځي:

وإذا اجتمع الرجال وغیرهم یصف الرجال الإمام لقوله ﷺ " لیلنی منکم أولو الأحلام والنهی " (اخرجه مسلم، والترمذی، وابو داؤد، وابن حبان، والبیهقی، وابن خزیمة، وعبد الرزاق) ثم یصف الصبیان لقول أبي مالك الأشعري رضي الله عنه أن النبي ﷺ " صلی وأقام الرجال یلونه وأقام الصبیان خلف ذلك وأقام النساء خلف ذلك وإن لم یکن جمع من الصبیان یقوم الصبي بین الرجال. (ذکره الزیلعی فی نصب الرایة: ۲/ ۳٦ – واخرجه بنحوه الطبرانی فی معجمه الکبیر: ۳۴۱٦ –

وذکره الهیثمی فی مجمع الزوائد:۱/ ۱۲۹). (امداد الفتاح مع الحاشية:ص ۳۴۹، ترتیب صفوف الصلاة

بیروت).

په امداد المفتیین کي راځي:

له حدیث شریف او د فقهی د کتابونو له عامو مشهورو عبارتونو څخه معلومیږي چي نابالغه کوچنیان د نارینه وو په صف کي درول خلاف سنت دي د چا سره چي کوچنیان ولاړ وي د هغه له پاره په کار ده چي هغوی تر شا کړي که نه لمونځ به يې مکروه وي.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

د صفونو ترتیب دا دئ چي د نابالغه کوچنیانو صف دي د بالغانو تر صف وشا ته وي که نابالغ کوچنی یوازي یو وي نو هغه دي د بالغانو په صف کي ودریږي. (فتاوی محمودیه:۶/ ۴۸۹، باب تسوية

الصفوف او فتاوی رحیمیه:۱/ ۱۹۰). والله ﷻ اعلم.

کوچنیان د غټانو د صف پر څنګ د درولو حکم

سوال: د کوچنیانو صف باید د غټانو شا ته وي خو که یوازي یو کوچنی وي نو ایا هغه د غټانو د صف پر څنګ درولای سي؟

الجواب: اصل خو دا ده چي کوچنیانو به دلویانو د صفونو تر شا وي خو که زیات شرارت کوي نو یو یو او یا دوه دوه د صفونو څنګ ته درولای سي ځینو فقهاوو اجازه ورکړي ده، لهذا که چیري یو وي نو هغه د نارینه وو د صف څنګه ته درول په طریق اولی روا دي.

په درمختار کي راځي:

(ثم الصبيان) ظاهره تعددهم فلو واحدًا دخل الصف، وفی الشامی: (قوله: فلو واحدًا

دخل الصف) ذکره فی البحر بحثًا. (الدر المختار مع ردالمحتار:۱/ ۵۷۱، باب الامامة، سعيد).

په تقریرات رافعی کي راځي:

(قوله ذكره فى البحر بحثًا) قال الرحمتي: ربما يتعين فى زماننا إدخال الصبيان فى صفوف الرجال لأن المعهود منهم إذا اجتمع صبيان فأكثر تبطل صلاتهم بعضهم ببعض وربما تعدى ضررهم إلى إفساد صلاة الرجال انتهى، سندى. (التقريرات الرافعى:۷۳، سعيد).

همدارنګه په حديث شريف کي راځي:

((ليلنى منكم أولو الأحلام والنهى)) (صحيح مسلم).

له دې څخه معلوميږي چي امام ته نژدې دي بالغ او پوهان خلک ودريږي نو يو کوچنی دي يوه طرفته ودريږي په منځ کي دي امام ته نژدې نه دريږي.

په امداد الفتاح کي راځي:

ثم يصف الصبيان لقول أبي مالك الأشعري رضي الله عنه أن النبي ﷺ " صلى وأقام الرجال يلونه وأقام الصبيان خلف ذلك وأقام النساء خلف ذلك وإن لم يكن جمع من الصبيان يقوم الصبي بين الرجال. (ذكره الزيلعى فى نصب الراية:۲/ ۳٦ – واخرجه بنحوه الطبرانى فى معجمه الكبير:۳٤٦ – وذكره الهيثمى فى مجمع الزوائد:۱/ ۱۲۹). (امداد الفتاح مع الحاشية:ص ۳٤۹، ترتيب صفوف الصلاة، بيروت). والله ﷻ اعلم.

د نارينه وو په صف کي د ښځي دريدل

سوال: ښځه د نارينه وو په صف کي لمونځ کولای سي او که نه؟

الجواب: په لمانځه کي د ښځي مقام د نارينه ترشا دي لهذا ښځه د نارينه سره په صف کي لمونځ نه سي کولای.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه أن جدته مليكة دعت رسول الله ﷺ لطعام صنعته له فأكل منه ثم قال قوموا فلأصل لكم قال أنس رضي الله عنه فقمت إلى حصير لنا قد اسود من طول ما لبس فنضحته

بماء فقام رسول الله ﷺ وصففت واليتيم وراءه والعجوز من ورائنا فصلى لنا رسول الله ﷺ ركعتين ثم انصرف. (رواه البخاري:۱/ ۵۵- والترمذي:۱/ ۵۵).

په دوهم حديث کي راځي:

فكان ابن مسعود رضي الله عنه يقول: أخروهن من حيث أخرهن الله. (مصنف عبد الرزاق:۳/ ۱۴۹/ ۵۱۱۵، باب شهود النساء الجماعة).

البته که په کور کي ښځه د خاوند پر برابر ودريږي هر يو خپل ځانته لمونځ کوي نو دا روا دي خو د اجنبي کس سره دربدل يا د جماعت په لمانځه ديوه امام په اقتداء کي د برابر دريدو اجازه نه سته، انحضرت ﷺ فرمايي: چي د نارينه وو په صفونو کي ښه صف لومړی صف او بد صف اخرنی صف دئ او د ښځو په صفونو کي لومړی صف بد او اخيرنی صف ښه دئ.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

"خير صفوف الرجال أولها وشرها آخرها وخير صفوف النساء آخرها وشرها أولها".

(رواه مسلم:۱/ ۱۸۲، باب تسوية الصفوف واقامتها – والبيهقي في سننه الكبرى:۳/ ۹۰، باب الايأتم رجل بامرأة).

بيا خو حضرت عائشي رضي الله عنها د فتني له امله فرمايلي دي چي که رسول الله ﷺ د ښځو شر کتلی وای نو د بني اسرائيلو د ښځو په شان به يې ورته په مسجد که د جماعت د لمانځه څخه منع کړی وای يعنی دا تصور هم نه سته چي ښځه دي د نارينه سره په جماعت کي ودريږي. والله تعالى اعلم.

که کومه انجلۍ هلک جوړه سي نو د نارينه وو په صف کي يې د دريدو حکم

سوال: يوې انجلۍ د خپل ځان څخه هلک جوړ کړ نو ايا دا اوس د نارينه وو په صف کي دربدای سي او که نه؟ حال دا چي ږيره يې هم راغلې ده؟

الجواب: فقهاوو د خنثى په هکله وضاحت کړی دئ چي که د نارينه علامي يې ښکاره سي نو د نارينه په حکم کي دئ او د نارينه وو سره يې دربدل په صف کي درست دي، لهذا کومي انجلۍ چي خپل ځان هلک وګرځاوه او د هلک علامي ورباندي څرګندي سوې نو د نارينه وو په صف کي يې د

درېدلو گنجائش سته او د ټولو لمونځ صحيح دئ. البته داسي کار ډېر بد دئ او په تغيير لخلق الله کي داخل دئ او حرام دئ له دې څخه بايد منع وسي او د الله ﷻ د غضبه دي وېرېږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

فإن بال من الذكر فغلام ...... هذا قبل البلوغ فإن بلغ وخرجت لحيته أووصل إلى امرأة أو احتلم كما يحتلم الرجل فرجل. (الدر مختار:٦/ ٧٢٧، كتاب الخنثى، سعيد).

علامه شامي رحمه الله د خنثى شکل په هکله فرمايي: چي که هغه د نارينه وو په صف کي لمونځ وکړئ نو لمونځ يې صحيح دئ لهذا په چا کي چي د نارينه وو علامي غالبي وي نو د هغه لمونځ به د نارينه وو په صف کي په درجه اولى صحيح وي. وګورئ:

وإن قام في صف الرجال فصلاته تامة. (الشامي:٦/ ٧٢٨، كتاب الخنثى، سعيد – وكذا في الطحطاوي على الدر المختار:٤/ ٣٥٠ – والفتاوى الهندية:٦/ ٤٣٧ – والهداية:٤/ ٧٠١ – وكنز الدقائق:٤٨٩ – والبحر الرائق:٨/ ٤٧٢).

حضرت مولانا خالد سيف الله رحمه الله فرمايي:

اسلامي نظريه دا ده چي جسم د الله ﷻ امانت او د هغه د تخليق مظهر دئ چي په هغه کي د کوم شرعي او فطري ضرورت پرته کوم بدلون درست نه دئ له همدې امله رسول الله ﷺ په مصنوعي توګه د وروېښتانو اېښودل د ښائست له پاره د غاښونو تر منځ جلا والى راوستل ناروا او د لعنت وړ او د الله ﷻ په خلقت کي تغير ګڼلى دئ ځکه نو ښکاره ده چي يوازې د زينت او فيشن په غرض دا ډول اپرېشن او په جسم کي تغير راوستل قطعاً درست نه دي لکه نن سبا چي د پزې او تيو وغيره په اړه کيږي. (جديد فقهى مسائل:٢/ ١٧١). والله تعالى اعلم.

د دوه ستنو تر منځ د صف جوړولو حکم

سوال: د دوو ستنو تر منځ د صف جوړولو حکم څه دئ؟

الجواب: بېله ضرورته چي مسجد پراخ وي نو د دوو ستنو تر منځ صف جوړول مکروه دئ په احاديثو کي نهى راغلى دي، البته که تنګى او ضرورت وي نو بيا روا ده لکه څنګه چي شمس الائمه

سرخسي ذکر کړي دي چې د دوو ستنو تر منځ صف بېله کراهته روا دئ همدارنګه د دې قول مطلب دا کېدای سي چې کراهت تحریمی نه دئ.

په ترمذي شریف کي راځي:

عن عبد الحميد بن محمود قال : صلينا خلف أمير من الأمراء فاضطرنا الناس فصلينا بين الساريتين فلما صلينا قال أنس بن مالك ﷺ: كنا نتقي هذا على عهد رسول الله ﷺ ...... قال أبو عيسى: حديث أنس حديث حسن صحيح وقد كره قوم من أهل العلم أن يصف بين السواري..... وقد رخص قوم من أهل العلم في ذلك. (رواه الترمذي:۱/ ۵۳، باب ماجاء في كراهية الصنف بين السواري، فيصل).

په ابن ماجه کي راځي:

عن معاوية بن قرة ، عن أبيه ، قال : كنا ننهى أن نصف بين السواري على عهد رسول الله ﷺ ونطرد عنها طردًا. (رواه ابن ماجة: ۷۰، باب الصلاة بين السواري في الصف).

شیخ عبد الغنی دهلوی د دې حدیث په شرح کي فرمايي:

لعل سبب النهي أنه موجب للفرقة والجماعة سبب الجمعية وهذا إذا كان المكان واسعًا، وأما إذا ضاق المكان وازدحم الناس فلا بد من الصفوف بين السواري. (انجاح الحاجة حاشية سنن ابن ماجة: ۷۰).

علامه عيني رحمه الله فرمايي:

إذا كان منفردًا لا بأس في الصلاة بين الساريتين، إذا لم يكن في جماعة لأن ذلك يقطع الصفوف، وتسوية الصفوف في الجماعة مطلوبة. (عمدة القاري:۳/ ۵۸۰، باب الصلاة بين السواري).

شمس الائمه سرخسي رحمه الله فرمايي:

والاصطفاف بين الأسطوانتين غير مكروه لأنه صف في حق كل فريق وإن لم يكن طويلًا وتخلل الأسطوانة بين الصف كتخلل متاع موضوع أو كفرجة بين رجلين وذلك لا يمنع صحة الاقتداء ولا يوجب الكراهة. (المبسوط للسرخسي: ٢/ ٣٥، باب صلاة الجمعة).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په مبسوط کي د سرخسی راځي: چي که ستن په منځ کي وي نو له هغه څخه خو نه اقتداء ممنوع ده نه کراهت لازمیږي والا صطفاف بین الاسطو انتین غیر مکروه که مسجد فراخ وي نو ښه دا دي چي په دغه ځای کي له صف جوړولو څخه ځان وژغورل سي چیري چي په منځ کي ستني راځي ځکه ځینو علماوو مکروه ګڼلی دي لکه څنګه چي په ترمذي شریف کي راځي. (فتاوی محمودیه: ٦/ ۵۱۲ او امداد الاحکام: ١/ ۵٢٣). والله تعالی اعلم.

پنځم فصل

د محاذات بیان

د محاذات د مسئلي وضاحت

د محاذات تعریف

په لمانځه کي چي کله ښځه د نارینه په وړاندي ودریږي او یا د نارینه پر برابري دا رنګه ودریږي چي د ښځي پښي د لمانځه په دوران کي په یو حالت کي د نارینه که کوم اندام سره برابري سي نو په دغه سره نارینه لمونځ فاسدیږي د پښي د برابر والی څخه د پنډیو او بجلکو برابر والی مراد دئ د صحیح قول مطابق همدغه معتبر دئ نو که د ښځي بجلکه او پنډئ د نارینه د بجلکي او پنډي سره برابر سي نو د محاذات د ثابیدو له امله د نارینه لمونځ فاسدیږي که څه هم د ښځي د پښو د نارینه د پښو څخه و کوچنیوالی په سبب څه برخه د نارینه له پښي سره برابره نه سي بلکي تر شا پاته سي او که د ښځي پښي د نارینه له پښو څخه دومره شا ته وي چي د دواړو بجلکي او پنډي ښځي برابري نه وي بلکي د

ښځي بجلکي او پنډيي د نارينه له بجلکو او پنډيو څخه شا ته وي نو د اصح قول پر بنا به لمونځ فاسد نه وي، همدارنګه د ښځو څخه پرته د يوه بل اندام له برابر والي څخه لمونځ فاسديږي.

د محاذات شرطونه

۱_ ښځه به د شهوت حد ته رسيدلي وي او د جماع قابله به وي که څه هم بالغه نه وي.

۲_ مطلق لمونځ به وي يعنی د رکوع او سجدې لمونځ به وي.

۳_ په تحريمه کي به دواړه مشترک وي ديوه امام په اقتداء کي به وي يا به ښځي د دغه محاذي نارينه اقتداء کړی وي.

۴_ نارينه به مکلف وي يعنی عاقل او بالغ به وي.

۵_ ښځه به هم عاقله وي. په امداد الاحکام کي راځي:

دليوني ښځي محاذات مفسد نه دي. (په حواله شامی: ۱/ ۵٦۱).

٦_ امام به د ښځو د امامت نيت کړی وي.

۷_ په يوه کامل رکن کي به محاذات موجود وي.

۸_ د دواړو ترمنځ کوم شی حائل نه وي.

۹_ هغه ښځه چي د لمانځه د شروع وروسته په لمانځه کي شامله سوي ده نارينه به ورته د شا ته کيدو اشاره کړی نه وي.

۱۰_ د دواړو مکان به يو وي.

د محاذات له ذکر سوو شرائطو سره مرتبيدونکی څو صورتونه په لاندي ډول دي:

۱_ که ښځه د امام څخه مخکي او يا ورسره برابره سي له دې څخه د امام او د دغي ښځي او ټولو مقتديانو لمونځ فاسديږي.

۲_ ښځه که د امام او مقتديانو د صف په منځ کي او يا د مقتديانو د صفونو په منځ کي ودريږي نو په دغه صورت کي يوه ښځه يوازي د شا د صف د محاذي کس لمونځ فاسد وي او که دوې ښځي وي نو يوازي د شا د صف د هغو دوو کسانو لمونځ فاسد وي چي د دوی پر محاذات ولاړ دي او که درې ښځي وي نو شا ته د ټولو صفونو د درو هغه کسانو لمونځ فاسد وي چي د دوی پر محاذات ولاړ وي او

که له درو څخه زياتي ښځي وي نو دا د پوره صف په حکم کي دي، نو د شا د ټولو صفونو د ټولو کسانو لمونځ فاسد وي، که يوه او يا دوې ښځي مخکي وي که د دوی او د نارينه وو ترمنځ ستره ديوه لاس په اندازه حائل وي نو د فساد مانع ګرځي او که له دې څخه کمه وي نو د فساد مانع نه دئ او که درې او يا زياتي ښځي ترمخ وي نو په دې صورت کي ستره اعتبار نه لري او د لمانځه د فساد حکم به پاته وي.

۳_ که ښځه د نارينه وو په صف کي ولاړه وي نو يوه ښځه به د درو کسانو لمونځ فاسد وي يو د راسته لوري او بل د چپه لوري يو د شا د لومړی صف د هغه کس چي د دې پر برابر ولاړ وي او دوې ښځي د څلورو کسانو يعنی يو راسته او بل چپه او دوه کسان شا ته چي په لومړی صف کي د دوی پر برابر وي او که درې ښځي وي يو د راسته طرف او بل د چپه طرف او د شا د هر صف د درو کسانو چي د دوی پر محاذات وي لمونځ يې ورفاسد وي او که له درو څخه زياتي ښځي وي يو د راسته او بل د چپه طرف د يوه يوه کس او د شا ته د ټولو صفونو د ټولو کسانو لمونځ فاسد وي.

۴_ که په يوه صف کي يوه طرفته نارينه او يوه طرفته ښځي وي او په منځ کي يې حائل نه وي نو يوازي د هغه يوه تن لمونځ به فاسد وي چي د ښځي سره متصل محاذي وي او د پاته کسانو لمونځ به درست وي ځکه دغه کس به د پاته کسانو او ښځو ترمنځ د ستري په شان وي.

۵_ که د انسان له قد څخه لوړه تنګاچه يا بالاخانه وغيره وي او پر هغه سربيره نارينه وي او لاندي يې پر برابري ښځي وي يا د دې بر عکس وي نو دومره لوړ والی به د لمانځه له فساد څخه مانع وي او د نارينه وو لمونځ به فاسد نه وي که له دې څخه لوړ والی کم وي نو د فساد مانع به نه وي. (عمدة الفقه حصه دوهم:۲۰۹-۲۱۵).

د احاديثو او د فقهي له کتابونو څخه دلائل وګورئ:

په بخاري شريف کي راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه أن جدته مليكة دعت رسول الله ﷺ لطعام صنعته له فأكل منه ثم قال قوموا فلأصل لكم ...... فقام رسول الله ﷺ وصففت واليتيم وراءه والعجوز من ورائنا

فصلى لنا رسول الله ﷺ ركعتين ثم انصرف. (رواه البخاری:۱/ ۵۵/ ۳۷۸، باب الصلاة على الحصير – وكذا فی مسند أحمد: ۱۲٦٧٤ – والسنن الكبرى:۳/ ۹٦– والنسائی:۱/ ۲۸۵ – وموطا مالک رقم:۳٦۳، ومسلم رقم:۱۵۳۱ – وأبو داود رقم:٦۱۲ – والترمذی رقم:۲۳٤).

پہ مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

حدثنا ابن مهدي ، عن سفيان ، عن الأعمش ، عن إبراهيم ؛ أنه كان يكره أن يصلي بصلاة الإمام إذا كان بينهما طريق، أو نهر أو نساء. (مصنف ابن أبی شيبة:٤/ ۳۲۸- وهكذا فی مصنف عبد الرزاق:۳/ ۸۲).

پہ مصنف عبد الرزاق کي راځي:

فكان بن مسعود ﷺ يقول أخروهن حيث أخرهن الله. (مصنف عبد الرزاق:۳/ ۱٤۹/ ۵۱۱۵، باب شهود النساء الجماعة، المجلس العلمی – وصحيح ابن خزيمة:۲/ ۸۱۹/ ۱۷۰۰– والمعجم الكبير للطبرانی:رقم: ۹۳۷۲).

پہ امداد الفتاح کي راځي:

(وأن يفصل بين الإمام والمأموم صف من النساء) لما روى عن عمر ﷺ موقوفًا ومرفوعًا لقول للنبي ﷺ: " من كان بينه وبين الإمام نهر أو طريق أو صف من النساء فلا صلاة. (امداد الفتاح:۳۳٤، شروط صحة الاقتداء – وكذا فی تبيين الحقائق:۱/ ۱۳۹، باب الامامة، امدادية).

پہ امداد الفتاح کي راځي:

ومحاذاة المشتهاة ولو فی الماضی كالعجوز الشوهاء فی اداء ركن على ما قاله محمد رحمه الله أو مقداره على قول أبی يوسف رحمه الله والمراد أن تحاذى رجلا بساقها وكعبها في

الأصح، ولو كانت محرمًا له أو زوجة ولا معتبر بالسن في الصغيرة إنما العبرة بالضخامة والعبالة لتكون صالحة للجماع فتحاذية وفى صلاة مطلقة هى ذات الركوع والسجود ...... مشتركة تحريمة المستلزم للاشتراك تادية والاشتراك يتحقق باتحاد فرضها وارتباط صلاتهما بابتناء تحريمتهما على تحريمة الإمام أو يكون هو إمامًا لها فى مكان متحد حتى لوكان أحدهما على مكان والآخر على الأرض والد كان قدر قامة الرجل لاتفسد صلاته الاختلاف المكان بلا حائل بينهما مثل مؤخرة الرحل فى الطول وغلظ الأصبع فإن كان لاتضر المحاذاة لأن أدنى الأحوال القعود فقدر الحائل بقدره، والفرجة تقوم مقام الحائل وأدناها قدرما يقوم به المصلى ولم يشر إليها لتتأخر فان أشار إليها فلم تتأخرهى فسدت صلاتها دون صلاته لاتيانه بما فى وسعه، وتقدمه عنها بالمشى مكروه فاذا ترك الإشارة فسدت بالمحاذاة صلاته، والتاسع من شروط المحاذاة المفسدة أن يكون الامام قد نوى إمامتها لأنه شرط لصحة اقتدائها كما قدمناه فاذا لم ينوها لاتفسد محاذاتها، وفي الجمعة والعدين قال أكثرهم: لايصح أيضًا اقتداؤها ما لم ينو إمامتها بالخصوص. (امداد الفتاح:٣٦٤، باب ما يفسد الصلاة – وكذا فى شرح منية المصلى:٥٢١، فصل فى الامامة، سهيل اكيدمى – وفى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:٣٢٩، باب ما يفسد الصلاة، قديمى – وفى الشامى:١/ ٥٧٢، باب الامامة، سعيد – وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:١/ ٢٤٧، باب الامامة، العربية كوئٹة – وهكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ٨٩، الفصل الخامس فى بيان مقام الامام والمأموم – والبحر الرائق:١/ ٣٥٤– ٣٥٨، باب الامامة، الماجدية، كوئٹة – وتبيين الحقائق:١/ ١٣٧، باب الامامة). والله ﷻ اعلم.

كه په بالاخانه كي ښځي د امام تر شا لمونځ كوي نو د محاذات حكم به يې څه وي؟

سوال: كه د مسجد په دوهم منزل كې دېرې ښځې د امام تر شا لمونځ كوي او د ښځو تر شا نارينه پر مخكه لمونځ كوي نو د نارينه وو لمونځ سته او كه نه؟

الجواب: د ښځو صف كه په دوهم منزل كې وي او نارينه لاندې وي او ښځې د نارينه وو پر صف وړاندې نه وي نو لمونځ يې اداء كيږي او كه مخكې وي بيا نو د فقهاوو لږ اختلاف سته خو څنګه چې يې په متونو كې د حايل په صورت كې د نارينه وو لمونځ فاسد نه دئ ښللى لهذا په دغه صورت كې به هم د نارينه وو لمونځ صحيح وي.

وګورئ د منية المصلى په شرح كې راځي:

السابع اتحاد المكان حتى لو كان احدهما على دكان علو قامة والآخر على الأرض لاتفسد صلاته. (شرح منية المصلى:۵۲۲، فصل فى الامامة، سهيل اكيدمى — وامداد الفتاح:۳۶۴، بيروت — وفتح القدير:۱/ ۳۶۴، باب الامامة — والفتاوى الهندية:۱/ ۸۹، الفصل الخامس فى بيان مقام الامام والمأموم — والشامى:۱/ ۵۷۶، باب الامامة).

په التحرير المختار كې راځي:

(قوله فهذا صريح فى أن الحائل غير معتبر) هو صريح فى أن الصف الأول من الرجال لايعد حائلا ولايمكن أن يقال غيره من الحوائل مثله لنقل أهل المذهب أن الحائل يمنع الفساد كعبادة مفتاح السعادة وما نقله طحطاوى عن أبى السعود فى أول مسئلة المحاذاة بقوله ولو كان ورائهن حائط خلفه صفوف لاتفسد صلائهم على الأصح وحينئذ يفيد اطلاق ما فى الخانية وغير هما بما فى مفتاح السعادة. (التحرير المختار:۱/ ۸۶ على هامش الشامى).

ملا علي قاري رحمه الله په شرح نقايه كې نقل كوي او فرمايي:

والحاصل أن لايصح رفعه لكنه ثبت عن ابن مسعود وقفه رواه الطبرانى ...... والحديث مع كونه موقوفًا لادلالة له فيه إلا على الاستحباب فأخروهن عن الرجال كتأخر الأطفال وفق

ما ثبت فى الأحاديث المرفوعة وعلى تسليم أن الأمر للوجوب بناء على أنه فى حكم المرفوع فلا دلالة فيه على ابطال الصلاة حال المحاذاة.(شرح النقاية:۱/ ۲۰٤، سعيد). والله تعالىٰ اعلم.

په حرم شريف كي د ښځو د محاذات د مسئلي حل

سوال: په حرم شريف كي د ښځو د محاذات مسئله مشكله ده ايا په دغه كي څه گنجائش سته ايا د بل چا د مذهب په فتوى د عمل كولو گنجائش سته او كه نه؟ فقهاوو دغه مسئله بيان كړي ده او كه نه؟

الجواب: د محاذات مسئله يوازي د احنافو مذهب مطابق ده كه نه د نورو درو امامانو په اند محاذات څه شى نه دئ بيا د احنافو دليل په دغه مسئله كي يوازي د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قول دئ چي ((اخروهن من حيث اخرهن الله)).

ملا علي قاري رحمه الله په شرح نقايه كي فرمايي:

چي مرفوعا دغه حديث صحيح نه دئ خو د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه موقوفا صحيح دئ خو بيا هم يوازي استحباب ور څخه ثابتيږي چي د ښځو له پاره تر شا لمونځ كول مستحب دي لكه د هلكانو له پاره چي تر شا لمونځ مستحب دئ كه دا ومنو چي امر د وجوب له پاره دئ او موقوف د مرفوع په حكم كي دئ بيا هم د محاذات په حالت كي د لمانځه پر فساد كوم دليل نه سته.

خلاصه دا ده چي د لمانځه د فساد له پاره مضبوط دليل په كار دي چي دلته موجود نه دئ لهذا لمونځ يې بايد فساد نه سي خو د ملا علي القاري رحمه الله عبارت د متونو شروحو او فتاواوو څخه مختلف دئ، لهذا متونو شروحو او فتاواوو ته بايد اعتبار وركول سي يعني محاذات مفسد دئ خو په حرم شريف كي د محاذات څخه ځان ساتل مشكل دي بلكي نامكن دي لهذا د ضرورت له امله كه د ملا علي قاري رحمه الله پر دغه عبارت فتوى وركول سي نو مناسبه به وي ځكه علامه شامي وغيره دا خبره څرگنده كړي ده چي كه مفتي د ضرورت په حالت كي د اسانۍ له پاره پر غير مشهور قول فتوى وركړي نو درسته ده او گنجائش سته د دې پر خلاف كه مورډ دا وواېو چي په حرم كي هم لمونځ فاسد وي نو په دغه كي تنگي او حرج زيات دي ځينو علماوو دا جواب كړى دئ چي څنگه چي د

حرم امامان د ښځو د امامت نیت نه کوي، لهذا د ښځو لمونځ نه ستنه او محاذات راغلی نه دي مګر لومړی خبره خو دا ده چي د امامانو د مذهب مطابق د ښځو د بېل نیت ضرورت نه ستنه ، دوهمه خبره دا ده چي امامانو خپله دا ویلي دي چي موږ د ښځو د امامت نیت کوو لکه څنګه چي حضرت مولانا علاء الدین صاحب فرمایي: چي ما په خپله د شیخ سبیل څخه پوښتنه وکړه نو هغو وویل چي موږ د ښځو نیت هم کوو لهذا دغه وینا چي د ښځو نیت نه کوي نو محاذات نه راځي دا خبره راته نه معلومیږي.

خلاصه دا چي په حرم شریف کي د محاذات د مسئلي حل دغه کېدای سي چي د ملا علي قاري رحمه الله پر عبارت فتوی ورکول سي، د علامه شامي رحمه الله د وینا مطابق چي د ضرورت په وخت کي دي د اسانی اړخ په نظر کي ونیول سي.

د ملا علي قاري عبارت وګورئ:

وأما قول صاحب الهداية لقوله ﷺ أخروهن من حيث أخرهن الله فغير معروف رفعه وأغرب منه أنه جعله من المشاهيرو هذا خلاف ما عليه الجماهير، والحاصل أن لا يصح رفعه لكنه ثبت عن ابن مسعود رضي الله عنه ووقفه رواه الطبراني ...... والحديث مع كونه موقوفًا لا دلالة له فيه إلا على الاستحباب فأخروهن عن الرجال كتأخر الأطفال وفق ما ثبت في الأحاديث المرفوعة وعلى تسليم أن الأمر للوجوب بناء على أنه في حكم المرفوع فلا دلالة فيه على إبطال الصلاة حال المحاذاة. (شرح النقاية:١/ ٢٠٤، ترتيب الصفوف، سعيد).

وګورئ د علامه شامي رحمه الله قول چي د ضرورت په ځای کي پر غیر مشهور روایت فتوی ورکول کیږي:

وفي المعراج عن فخر الأئمة: لو أفتى مفت بشيء من هذه الأقوال في مواضع الضرورة طلبًا للتيسير كان حسنًا. (شامی:١/ ٢٨٩، باب الحيض، مطلب لو أفتى مفت الخ، سعيد – ورسم المفتی:٤٤).

همدارنګه د شریعت له قواعدو او مزاج سره هم برابر دي یعنی حرج او تنګی باید لیري سي د اسانی لوری اختیار کړل سي:

قال الله تعالی: ﴿ وما جعل علیکم في الدین من حرج ﴾ و ﴿ یرید الله بکم الیسر ولا یرید بکم العسر ﴾.

عن أبي بردة قال بعث النبي ﷺ جده أبا موسی ومعاذ إلی الیمن فقال: " یسرا ولاتعسرا وبشرا ولاتنفرا وتطاوعا ولاتختلفا" . (مشکاة:۲/ ۳۲۳، باب ما علی الولاة من التیسیر).

په شرح مجله کي راځي:

المشقة تجلب التیسیر. المادة ۱۷: (شرح المجلة:۲۷- ۲۸).

إن الصعوبة تصیر سببًا للتسهیل ویلزم التوسیع فی وقت المضایقة ..... اعلم أن أصل الشرع مبناه علی الیسر والتسهیل، قال الله تعالی: ﴿ یرید الله بکم الیسر ولا یرید بکم العسر ﴾ و ﴿ وما جعل علیکم في الدین من حرج ﴾ وقال ﷺ " أحب الدین إلی الله الحنفیة السمحة"

.المادة۱۷ : (شرح المجلة:۱/ ۴۸، رشیدیه، محمد خالد الاتاسی).

زموږ استاد او د پاکستان مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي ولي حسن رحمه الله به هم په حرم کي د محاذات سره سره د لمانځه د صحت فتوی ورکول. والله تعالی اعلم.

د دغه حدیث چي (اخروهن من حیث اخرهن الله) تحقیق

سوال: د احادیثو په کتابونو کي مشهوره ده چي دغه حدیث له ابن مسعود رضي الله عنه څخه موقوفا مروي دئ حال دا چي په مشکوة شریف کي د رزین په حواله دغه حدیث مرفوعا مروی دئ بیا یې علماء کرام ولي موقوف ګڼی او مرفوع یې نه بولي؟

الجواب: ذكر البغوي في مشكاة المصابيح في الرقاق عن حذيفة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول في خطبته الخمر جماع الاثم ...... وسمعته يقول: "أخروا النساء حيث أخرهن الله" . رواه رزين. (مشكاة المصابيح:۹/ ۲۸٦).

قال الألباني رحمه الله: لا أصل له مرفوعًا. (مشكاة:۳/ ۱۳۰/ ۵۲۱۵).

وفي المرقاة: (رواه رزين) وفي التمييز لابن الربيع حديث " أخروا النساء حيث أخرهن الله" يعني النساء قال شيخنا في مصنف عبد الرزاق رحمه الله: وذكر أحاديث بمعناه من طريق الطبراني ثم قال: ولانطيل بها ...... فالحديث مشهور عند المحدثين لكن بالمعنى اللغوى لا بالمعنى الاصطلاحي. (مرقاة المفاتيح:۹/ ۲۸٦).

وفي مصنف عبد الرزاق: عبد الرزاق عن الثوري عن الأعمش عن إبراهيم عن أبي معمر عن بن مسعود رضي الله عنه قال: كان الرجال ...... فكان بن مسعود رضي الله عنه يقول: " أخروا النساء حيث أخرهن-الله". (مصنف عبد الرزاق:۳/ ۱٤۹).

وفي المقاصد الحسنة: حديث: " أخروا النساء حيث أخرهن" قال الزركشي عزوه الى الصحيحين غلط وكذا في من عزاه لدلائل النبوة للبيهقي مرفوعًا والمسند رزين، ولكنه في مصنف عبد الرزاق ومن طريق الطبراني من قول ابن مسعود رضي الله عنه في حديث أوله: كان في بني إسرائيل الرجل والمرأة يصلون جميعا. (المقاصد الحسنة:۱/ ۱۵- وكذا في كشف الخفاء:۱/ ٦۷).

قال الزيعلى رحمه الله في نصب الراية: الحديث:٦۹: قال النبي ﷺ: "أخروهن من حيث أخرهن الله" ، قلت : حديثغريبمرفوعًا، وهو في "مصنف عبد الرزاق" موقوفعلى ابن مسعود،

فقال: أخبرنا سفيان الثوري عن الأعمش عن إبراهيم عن أبي معمر عن ابن مسعود ﷺ، قال: كان الرجال. والنساء في بني إسرائيل يصلون جميعًا، فكانت المرأة تلبس القالبين. فتقوم عليها، فتواعد خليلها، فألقي عليهن الحيض، فكان ابن مسعود ﷺ، يقول: " أخروهن من حيث أخرهن الله" ......انتهى.

ومن طريق عبد الرزاق، رواه الطبراني في "معجمه"، قال السروجي في "الغاية": كان شيخنا الصدر سليمان يرويه: " الخمر أم الخبائث، والنساء حبائل الشيطان، وأخروهن من حيث أخرهن الله"، ويعزوه إلى "مسند رزين"، وقد ذكر هذا الجاهل أنه في "دلائل النبوة للبيهقي"....... وقد تتبعته فلم أجده فيه، لا مرفوعًا. ولا موقوفًا، والذي فيه مرفوعًا: الخمر جماع الإثم، والنساء حبالة الشيطان، والشباب شعبةمن الجنون، ليس فيه: أخروهن من حيث أخرهن الله أصلًا. (نصب الراية فی تخريج أحاديث الهداية:۲/ ۳٦، جدة).

خلاصه دا چي په عامه توګه د دغه حديث له پاره د مصنف عبد الرزاق حواله ورکول کيږي او هلته موقوفا ذکر دئ مرفوعا نه دئ.

۲_ مؤلف د مشکوة د رزين حواله ورکړې ده مګر علامه سخاوي رحمه الله فرمايي: چي د دغه حديث نسبت رزين ته کول درست نه دي. (مقاصد حسنه).

۳_ علامه زيعلي رحمه الله فرمايي: ؛

چي شيخ صدر سليمان رحمه الله فرمايي چي د دغه حديث څلور اجزاء دي لومړی دري اجزاء يې هلته سته مګر څلورم جزء چي زموږ د مسئلي سره اړه لري يعنی ((اخروهن من حيث اخرهن الله)) دا هلته موجود نه دئ. والله تعالیٰ اعلم.

شپږم فصل

د اقتداء احکام

که په مخکنۍ کوټه کې ښځې وي او د شا په کوټه کې نارینه وي نو د اقتداء حکم

سوال: د امام تر شا په کوټه کې ښځې وي او تر هغه شا ته کوټه کې نارینه وي نو اقتداء به يې درسته وي او که نه؟

الجواب: که ښځې د مخ په کوټه کې وي او نارینه د شا په کوټه کې وي نو د نارینه وو د اقتداء په صحت او نه صحت کې د فقهاوو اختلاف دئ احتیاط په دغه کې دئ چې اقتداء يې درسته نه ده لکه څنګه چې علامه شامي رحمه الله همدغه مختاره بللی ده او همدارنګه په دې کې ضرورت هم نه ښته ځکه نارینه په مخکنۍ کوټه او ښځې د شا په کوټه کې درېدای سي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

ويمنع من الاقتداء صف من النساء بلا حائل ...... وفي الشامي: (قوله صف من النساء) المراد به ما زاد على ثلاث نسوة فإنه يمنع اقتداء جميع من خلف ...... ولو كان صف من النساء بين الرجال والإمام لا يصح اقتداء الرجال بالإمام ويجعل حائلا ...... وفي المعراج عن المبسوط: فإن كان صف تام من النساء ووراءهن صفوف الرجال فسدت تلك الصفوف كلها استحسانًا، والقياس أن لاتفسد إلا صلاة صف واحد، ولكن استحسن لحديث عمر رضي الله عنه مرفوعًا وموقوفًا عليه " من كان بينه وبين الإمام نهر أو طريق أو صف من النساء فلا صلاة له ا " فهذا صريح في أن الحائل غير معتبر في صف النساء وإلا فسدت صلاة الصف الأول من الرجال فقط لكونه صار حائلا بين من خلفه وبين صف النساء كما هو القياس، فظهر أن ما ذكره الشارح من اعتبار الحائل أو الارتفاع إنما هو فيما دون الصف التام من النساء كالواحدة والثنتين، أما الصف فهو خارج عن القياس ابتاعًا للأثر هذا ما ظهر فتدبر، والله أعلم . (شامی: ٤/٥٨٤، باب الامامة، سعيد).

په فتاوى هنديه كي راځي:

إذا كان صف تام من النساء خلف الإمام ووراءهن صفوفمن الرجال فسدت صلاة تلك الصفوف كلها استحسانًا كذا في المحيط . (الفتاوى الهندية: ۱/ ۸۷، الفصل الرابع في بيان ما يمنع صحة الاقتداء وما لا يمنع). والله ﷻ اعلم.

د امام تر شا په دوهمه كوټه كي د اقتداء حكم

سوال: كه امام په يوه كوټه كي وي او له ده سره خو مقتديان دي او د ځاى د تنگى له امله ځينى مقتديان په دوهمه كوټه كي په امام پسي اقتداء كوي نو دغه به درسته وي او كه نه؟

الجواب: كه دواړي كوټي يو ځاى وي او په منځ كي يې غټه لاره او يا دوو صفونو په اندازه خالي ځاى نه وي نو د دوهمي كوټي والا اقتداء صحيح ده او كه نه وه صحيح نه ده.

وگورئ په شامي كي ليكي:

وأما ما صححه في الظهيرية في مسألة السطح فالظاهر أنه بناء على ما إذا كان السطح متصلًا بالمسجد فحينئذ يصح الاقتداء ويكون ما في الخانية مبنيًا على عدم الاتصال المذكور بدليل أنه في الخانية علل للمنع بكثرة التخلل واختلاف المكان: أي لكون صحن الدار فاصلًا بين السطح والمسجد فيفي أنه لو لا ذلك لصح الاقتداء ويؤيده ما في البدائع حيث قال: لو كان على سطح بجنب المسجد متصل به ليس بينهما طريق فاقتدى به صح اقتداؤه عندنا، لأنه إذا كان متصلًا به صار تبعًا لسطح المسجد وسطح المسجد له حكم المسجد فهو كاقتدائه في جوف المسجد إذا كان لا يشتبه عليه حال الإمام .... وقد جزم صاحب الهداية في مختارات النوازل بأن العبرة للاشتباه ثم قال بعده وإن قام على سطح داره واقتدى بالإمام إن لم يكن بينهما حائل ولا شارع يصح، فيتعين حمل ما في الظهيرية على ما إذا لم يكن حائل

كما قلنا، فيصح الاتحاد المكان وأما ما نقله الشرنبلالي عن البرهان فليس فيه تصحيح الاقتداء مع اختلاف المكان، لأنه بتخلل الحائط لا يختلف المكان كما قدمناه عن قاضيخان، وفي التاتارخانية: وإن صلى على سطح بيته المتصل بالمسجد ذكر شمس الأئمة الحلواني رحمه الله أنه يجوز. (شامی:۱/ ۵۸۷، سعيد وهكذا فى الطحطاوی على مراقی الفلاح:۲۹۳، قديمی).

په امداد الفتاح کي راځي:

والمانع من الاقتداء في الصلاة فاصل يسع فيه صفين على المفتى به كما فى التجنيس والمزيد...... و يشترط أن لايفصل بينهما حائط كبير يشتبه معه العلم بانتقالات الإمام، فإن لم يشتبه العلم بانتقالات العلم لسماع أو رؤية ولو لم يكن الوصول إليه صح الاقتداء به في الصحيح وهو اختيار شمس الأئمة الحلواني رحمه الله لما روى أن النبي ﷺ كان يصلي في حجرة عائشة رضي الله عنها والناس في المسجد يصلون بصلاته. (أخرجه البيهقى فى سننه:۳/ ۱۰۹) وعلى هذا الاقتداء في الأماكن المتصلة بالمسجد الحرام وأبوابها من خارجه صحيح إذا لم يشتبه حال الإمام عليهم بسماع أو رؤية ولم يتخلل إلا الجدار....... (امداد الفتاح:۳۳۵، شروط صحة الاقتداء، بيروت).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

اقتداء په بل مکان کي ورپسي درسته ده. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۳/ ۳۶۷، مدلل ومکمل، دار الاشاعت). **د زیات تفصیل له پاره وګورئ:** (احسن الفتاوی:۳/ ۳۰۶، فصل مانع اقتداء). والله ﷻ اعلم.

د مسجد سره متصل مکان پر چت او یا غولي کي د اقتداء حکم

سوال: که دیوه مسجد سره کوم متصل مکان وي یوازي یې په منځ کي دېوال حائل وي او د امام تکبیرات هم اوري نو ایا د دغه مکان پر چت یا په غولي کي اقتداء کول درست ده؟

الجواب: د مسجد سره نښتي مکان له چت څخه او یا غولي څخه اقتداء درسته ده چي کله صفونه متصل وي او په منځ کي خالي ځای او یا غټه لاره نه وي.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

والمانع من الاقتداء في الصلاة فاصل يسع فيه صفين على المفتى به كما فى التجنيس والمزيد...... و يشترط أن لايفصل بينهما حائط كبير يشتبه معه العلم بانتقالات الإمام، فإن لم يشتبه العلم بانتقالات العلم لسماع أو رؤية ولو لم يمكن الوصول إليه صح الاقتداء به في الصحيح وهو اختيار شمس الأئمة الحلواني رحمة الله عليه لما روى أن النبي ﷺ كان يصلي في حجرة عائشة رضي الله عنها والناس في المسجد يصلون بصلاته.(أخرجه البيهقى فى سننه:۳/ ۱۰۹) وعلى هذا الاقتداء في الأماكن المتصلة بالمسجد الحرام وأبوابها من خارجه صحيح إذا لم يشتبه حال الإمام عليهم بسماع أو رؤية ولم يتخلل إلا الجدار....... (امداد الفتاح:۳۳۵، شروط صحة الاقتداء – وكذا فى الشامى:۱/ ۵۸۷، سعيد – وهكذا فى الطحطاوى على مراقى الفلاح:۲۹۳، قديمى).

په درمختار کي راځي:

ويمنع من الاقتداء ...... طريق أى نافذ أبو السعود عن شيخه. قلت: ويفهم ذلک من التعبير عنه فى عدة كتب بالطريق العام، وفى التتار خانية: الطريق فى مسجد الرباط والخان لايمنع، لأنه ليس بطريق عام .... (الدر المختار مع الشامى:۱/ ۵۸٤، سعيد).

په عمدة الفقه کي راځي:

د کوم مکان چت چي له مسجد سره ښخي مښتي وي دا دول چي په منځ کي يې لار نه وي نو له هغه چته څخه اقتداء درسته ده که په منځ کي لار وي نو اقتداء درسته نه ده مګر هلته چي په لار کي هم صفونه ودريږي او د مسجد له صفونو سره متصل سي نو د دغه مکان له چت څخه اقتداء درسته ده. (عمدة الفقه:۲/ ۱۹۷). والله ﷻ اعلم.

د مکان له چت څخه د اقتداء کولو حکم چي کله مکان له مسجد سره متصل وي

سوال: که مکان له مسجد سره متصل وي نو د هغه پر چت دريدل او په امام پسي اقتداء روا ده او که نه؟

الجواب: کوم مکان چي له مسجد سره متصل وي او په منځ کي يې خالي ځای هم نه وي او د امام په تکبيراتو خبر هم وي نو اقتداء يې جائز او درسته ده خو په اقتداء نه کولو کي احتياط دئ ځکه اتحاد د مکان نه سته.

وګورئ په مراقي الفلاح شرح نور الايضاح کي راځي:

الاقتداء في الأماكن المتصلة بالمسجد الحرام وأبوابها من خارجه صحيح إذا لم يشتبه حال الإمام عليهم بسماع أو رؤية ولم يتخلل إلا الجدار كما ذكره شمس الأئمة رحمه الله فيمن صلى على سطح بيته المتصل بالمسجد أو في منزله بجنب المسجد وبينه وبين المسجد حائط مقتديا بإمام في المسجد وهو يسمع التكبير من الإمام أو من المكبر تجوز صلاته كذا في التجنيس والمزيد. (مراقی الفلاح شرح نور الايضاح:۱۰۹، باب الامامة، مكة المكرمة).

په طحطاوي کي راځي:

وفي حاشية الدرر للمؤلف: الصحيح إعتبار الإشتباه فقط، وقواه في الدر بالنقل عن المعتبرات خلافًا لما في الدرر، والبحر وغيرهما من إشتراط عدم إختلاف المكان، فلو

إقتدى من بمنزله بمن في المسجد وإن إنفصل عنه صح إن لم يوجد مانع من نحو طريق ولم، يشتبه حال الإمام. (طحطاوى على مراقى الفلاح: ۲۹۳، باب الامامةف قديمى).

همداسي وګورئ: (شامى: ۱/ ۵۸۷ – او فتاوى دار العلوم ديوبند: ۳/ ۳۶۷ – وامداد الاحكام: ۱/ ۵۲۷). والله ﷻ اعلم.

كه د مقتدى لمونځ دامام له لمانځه څخه مختلف وي نو د اقتداء حكم

سوال: كه امام د يكشنبې د سهار لمونځ كوي او مقتدى د دوشنبې د سهار لمونځ كوي نو اقتداء يې روا ده او كه نه؟

الجواب: كه د مقتدى فرض د امام له فرضو مختلف وي نو اقتداء يې درسته نه ده.

وګورئ په مختصر القدوري كې راځي:

ولا من يصلي فرضًا خلف من يصلي فرضًا آخر. (مختصر القدورى: ص ۴۲، باب الجماعة، سعيد).

په الجوهرة النيرة كې راځي

لأن الاقتداء شركة وموافقةفلا بد من الاتحاد وسواءتغاير الفرضان اسمًا أو صفةً كمصلي ظهر أمس خلف من يصلي ظهر اليوم فإنه لايجوز. (الجوهرة النيرة: ۷۳).

په نورالايضاح كې راځي:

وألا يكون الإمام مصليًا فرضًا غير فرضه. وقال المحشى رحمه الله: قوله غير فرضه: مثل أن يصلي المأموم صلاة الظهر من يوم السبت والإمام من صلاة الظهر يوم الأحد. (نورالايضاح مع الحاشية: ۷۶، باب الامامة، مجيديه).

همدا ډول وګورئ: (مراقى الفلاح: ۱۰۸ باب الامامة، مكة المكرمة – امداد الفتاح: ۳۳۴، باب الامامة شروط صحة الاقتداء، بيروت). والله ﷻ اعلم.

د اقتداء المعذور بالمعذور حکم

سوال: که چيري امام ته د خروج ريح عذر وي او مقتدی د سلس البول عذر ولري نو اقتداء به يې درسته وي او که نه؟

الجواب: د عذر د اختلاف په وخت کي اقتداء صحيح نه ده لهذا په دغه ذکر سوی صورت کي د يوه اقتداء په هغه بل پسي درسته نه ده، لکه چي د علامه شامي او علامه طحطاوي له عباراتو څخه معلوميږي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وإن اختلف لم يجز كما في الزيلعي والفتح وغيرهما، وفي السراج ما نصه: ويصلي من به سلس البول خلف مثله وأما إذا صلى خلف من به سلس البول وانفلات ريح لا يجوز لأن الإمام صاحب عذرين والمؤتم صاحب عذر واحد ومثله في الجوهرة ...... لكن اعترض في النهر ذلك بأنه يقتضي جواز اقتداء ذي سلس بذي انفلات وليس بالواقع لاختلاف عذرهما، وهو مبني على أن المراد بالاتحاد اتحاد العين، وهو ظاهر ما في شرح المنية الكبير وكذا صرح في الحلية بأنه لا يصح اقتداء ذي سلس بذي جرح لا يرقأ أو بالعكس، وقال: كما هو المذهب فإنه يجوز اقتداء معذور بمثله إذا اتحد عذرهما لا إن اختلف . (شامی:۱/ ۵۷۸، سعید).

په حاشية الطحطاوی کي راځي:

(قوله لأن مع الإمام حدثًا ونجاسةً) قال في النهر: مقتضى هذا التعليل أن يجوز اقتداء من به سلس البول بمن به انفلات ريح وليس بالواقع لاختلاف عذرهما فالأولى أي يعلل بمحض اختلاف عذرهما لابكون الإمام صاحب عذرين والمقتدى صاحب عذر واحد فتدبر.

(حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۲۴۹، باب الامامة – وکذا فی شرح منية المصلی:۵۱۶، سهيل اکيدمی – وکذا فی الفتاوی الهندية:۱/ ۸۴، الفصل الثالث فی بيان من يعلم امامه لغيره). والله تعالى اعلم.

هغه کس چي دوه عذره لري په هغه پسي د يوه عذر لرونکی اقتداء

سوال: که امام ته د خروج ريح او سلس البول دوه عذرونه وي او مقتدی يوازي د خروج ريح عذر ولري نو اقتداء يې روا ده او که نه؟

الجواب: په ياد صورت کي اقتداء روا نه ده ځکه د امام حال له مقتدی څخه ادنی دئ.

وګورئ په شامي کي راځي:

وأما إذا صلى خلف من به السلس وانفلات ريح لايجوز لأن الإمام صاحب عذرين والمؤتم صاحب عذر واحد...... (شامی:۱/ ۵۷۸، باب الامامة، سعيد).

په الجوهرة النيرة کي راځي:

ولايجوز أن يصلى خلف من به سلس البول وانفلات ريح لأن الإمام صاحب عذرين والمأموم صاحب عذر واحد. (الجوهرة النيرة:۸۲، امدادية ملتان).

په امداد الفتاح کي راځي:

ولايكون أدنى حالاً من المأموم كان يكون ...... معذورًا والمقتدى خاليًا عنه. (امداد الفتاح:۳۳۳، شروط صحة الاقتداء، بيروت). والله تعالى اعلم.

هغه کسانّ چي د جماعت اعاده کوي په هغه پسي د نور راتلونکو کسانو د اقتداء حکم

سوال: د يو چا لمونځ د واجب د پرېښودلو له امله فاسد سو ځکه سجده سهو يې ونه کړه اوس يې راګرځوي نو درې کسان نور راغله چي تر اوسه يې لمونځ نه وو کړي په دوی پسي اقتداء کولای سي او که نه؟

الجواب: په دغه مسئله كي د فقهاوو دواړه اقوال مروى دي چي ايا په لومړى لمانځه سره يې فرض اداء سوه او كه په دوهم سره د اساني له پاره د نوي اقتداء صحيح ده، خو احتياط په دغه كي دئ چي اقتداء ونه كړي.

په مداد الفتاح كي راځي:

وإن كان تركه للشيء من الواجبات عمدًا أثم ولا يسجد للسهو لأنه شرع تخفيفًا لمن سها وهذا المعتمد وجب عليه إعادة الصلاة تغليظًا عليه لجبر نقصا نها إذ لا يتمكن من جبره إلا بإعادتها فتكون مكملة وسقط الفرض بالأولى وقيل: تكون الثانية فرضًا فهي المسقطة. (امداد الفتاح: ۵۵۱، باب سجود السهود، دار احياء التراث).

په فتاوى شامي كي راځي:

قوله والمختار أنه أي الفعل الثاني جابر للأول بمنزلة الجبر بسجود السهو وبالأول يخرج عن العهدة وإن كان على وجه الكراهة على الأصح، كذا في شرح الأكمل على أصول البزدوي، ومقابله ما نقلوه عن أبي اليسر من أن الفرض هو الثاني واختار ابن الهمام رحمه الله الأول قال: لأن الفرض لا يتكرر، وجعله الثاني يقتضي عدم سقوطه بالأول ...... لأن كون الفرض هو الثاني دون الأول يلزم منه عدم سقوطه بالأول وليس كذلك، لأن عدم سقوطه بالأول إنما يكون بترك فرض لا بترك واجب وحيث استكمل الأول....... (شامى: ۱/ ۴۵۷، واجبات الصلاة – وايضًا: شامى: ۲/ ۶۳– ۶۵، باب قضاء الفوائت، سعيد).

په امداد الفتاوى كي راځي:

فى ردالمحتار باب الجنائز فإذا أعادها (الولى) وقعت فرضا مكملًا للفرض الأول من نظير إعادة الصلاة المؤداة بكراهة فإن كلًا منهما فرضا كما حققناه في محله، **له دي څخه ثابته**

سوه چي د نوی راتلونکي فرض په شراکت سره اداء کيږي. (امداد الفتاوی:۱/ ۳٦٤، باب السهو فی الصلاة).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په صلاة معاده کي د شرکت کونکي د لمانځه د صحت قول ارجح او اوسع دئ او د نه صحت قول يې احوط دئ د غټ جماعت په حالت کي د نورو راتلونکو مقتديانو له پاره دا معلومول سخت دي چي ايا اول جماعت دئ که معاده دئ لهذا په دغه صورت کي د عدم صحت قول تنګی او حرج راولي، البته که کوم مقتدی ته دوی خبر ورسيږي نو د هغه له پاره عمل بالاحوط اولی دئ. (احسن الفتاوی:۳/ ۳۵۲، باب الامامة والجماعة).

په کفايت المفتي کي راځي:

په دغه لمانځه کي نور داسي کسان چي په لومړی جماعت کي شريکان نه وه شراکت نه سي کولای که شريکان سي نو د دوی فرض نه اداء کيږي. (کفايت المفتی:۳/ ۱۳۸).

د حضرت مفتي کفايت الله صاحب قول پر احتياط بنا دئ لکه څنګه چي مخکي ذکر سوه. والله تعالی اعلم.

د سهار په لمانځه کي چي کله شافعي په حنفي پسي اقتداء وکړي

سوال: که د سهار په لمانځه کي شافعي په حنفي پسي اقتداء وکړه او امام قنوت ونه وايه نو د شافعي مقتدی لمونځ وسو او که نه؟

الجواب: د سهار په لمانځه کي د شافعي مقتدی لمونځ په حنفي امام پسي درست دئ، البته شافعي ته په کار ده چي قنوت دي ولولي او بيا دي په سجده کي له امام سره شريک سي او که يې ونه وايه نو سجده سهوه دي وکړي، خو که يې سجده سهو ونه کړه بيا يې هم د يوه قول مطابق لمونځ درست دئ.

وګورئ په شرح المهذب کي راځي:

وصلي شافعي الصبح خلف حنفى ومكث الامام بعد الركوع قليلًا وامكن الـمأموم القنوت قنت والا تابعه وترك القنوت ويسجد للسهو علي الاصح وهو اعتبار اعتقاد الـمأموم ولو اعتبرنا اعتقاد الامام لـم يسجد. (شرح المهذب الامام النووى:٤/ ٢٩٠، صفة الأئمة، دار الفكر).

په شرح الوجيز كي راځي:

فلو صلى الشافعي الصبح خلف حنفي، ومكث الحنفي بعد الركوع قليلًا وأمكنه أن يقنت فيه فعل وإلا تابعه ويسجد للسهو؟ إن اعتبرنا اعتقاد الـمأموم: نَعم، فإن اعتبرنـا اعتقـاد الإمام فلا . (شرح الوجيز:٢/ ١٥٦، الفصل الثاني فى صفات الأئمة، دار الكتب العلمية بيروت – وكذا فى روضة الطالبين – وعمدة المفتيين:١/ ٣٤٨، باب صفة الأئمة، المكتب الاسلامى – وكذا فى أسنى المطالب:٢/ ٢٥، باب صفة الأئمة فى الصلاة، دار الكتب العلمية). والله ﷻ اعلم.

د امام څخه مخکي د تکبير تحريمه د ويونکي د اقتداء حکم

سوال: که چا د امام څخه مخکي د الله اکبر لفظ ووايه نو لمونځ يې درست دئ او که نه؟

الجواب: که مقتدى د امام له تکبير تحريمى څخه مخکي فارغ سي نو د ده اقتداء صحيح نه ده لهذا په مخکنى صورت کي به هم د دغه کس اقتداء صحيح نه وي.

وګورئ په شرح منية المصلي کي راځي:

ولو افتتح أى كبر مع الإمام وفرغ من قوله " الله " قبل فراغ الإمام من قوله " الله " لايصير شارعًا فى الصلاة فى أظهر الروايات كذا فى الفتاوى ...... ولو قال " الله " مع قول الإمام "الله" أو بعده ولكن فرغ من قوله " أكبر " قبل فراغ الإمام من قوله " أكبر " فالأصح أنه لايجوز شروعه أيضًا لأنه إنما يصير شارعًا بالكل أى بمجموع " الله أكبر " لابقوله " الله " فقط فيقع الكل فرضًا وإذا كان كذلك يكون قد أوقع فرض التكبير قبل الإمام وكل فرض

أو قعه قبل الإمام فهو غير معتد به فكان كأنه لـم يكبر فلا يصح شروعه. (شرح مينة المصلي: ٢٦٠، فرائض الصلاة الأول تكبيرة الافتتاح، سهيل).

په امداد الفتاح کې راځي:

فإن غلب على أنه كبر قبل الإمام لايجزئه. (امداد الفتاح: ٢٨٢، فصل فى سننها، بيروت).

په درمختار کې راځي:

ولا يصير شارعًا بالمبتدأ فقط كـ "الله" ولا بـ "أكبر" فقط هو المختار فلو قال "الله" مع الإمام و "أكبر" قبله أو أدرك الإمام راكعًا فقال لله قائمًا و"أكبر" راكعًا لـم يصح في الأصح، كما لو فرغ من "الله" قبل الإمام، وفي الشامي: (قوله في الأصح) أي بناء على ظاهر الرواية، وأفاد أنه كما لايصح اقتداءه لايصير شارعًا فى صلاة نفسه أيضًا وهو الأصح كما فى النهر عن السراج. (الدر المختار مع ردالمحتار: ١/ ٤٨٠، فصل فى بيان تالف الصلاة، سعيد – وكذا فى الفتاوى الهندية: ١/ ١٦٨، الباب الرابع فى صفة الصلاة الفصل الأول فى فرائض الصلاة – وكذا فى نفع المفتي والسائل: ٢٧٣، ما يتعلق بالقعود والركوع والسجود والقيام، دار ابن حزم).

په احسن الفتاوی کې راځي:

که مقتدی د امام د تکبیر تحریمی له ختم کېدو څخه مخکې ختم کړ نو د ده لمونځ ونه سو ځکه لمونځ د تکبیر تحریمی څخه وروسته شروع کېږي، لهذا د ده اقتداء صحیح نه ده. (احسن الفتاوی: ٣/ ٣٠٥، باب الامامة). والله ﷻ اعلم.

که د ماپښين په لمانځه کي مقيم حنفي په مسافر شافعي پسي اقتداء وکړه او شافعي اتمام وکړئ نو د لمانځه حکم يې څه دئ؟

سوال: که د ماپښين په لمانځه کي مقيم حنفي په مسافر شافعي پسي اقتداء وکړه او شافعي اتمام وکړئ نو د لمانځه حکم يې څه دئ؟

الجواب: په دغه مسئله کي زموږ د اکابرينو اختلاف دئ مثلاً حضرت مفتي محمد شفيع صاحب په امداد المفتين کي ليکي، چي د حنفي مقتدی لمونځ درست نه دئ خو د ځينو نورو په اند يې لمونځ درست دئ لهذا په دغه صورت کي به د حنفي مقتدی لمونځ درست وي.

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به په سفر کي د حضرت عثمان رضي الله عنه په اقتداء کي اتمام کاوه حال دا چي د ده په اند قصر ضروري وو.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن إبراهيم قال : سمعت عبد الرحمن بن يزيد يقول: صلى بنا عثمان رضي الله عنه، بمنًى أربع ركعات فقيل ذلك لعبد الله بن مسعود رضي الله عنه، فاسترجع ثم قال: صليت مع رسول الله ﷺ بمنًى ركعتين وصليت مع أبي بكر رضي الله عنه ، بمنًى ركعتين وصليت مع عمر بن الخطاب رضي الله عنه، بمنًى ركعتين فليت حظي من أربع ركعات ركعتان متقبلتان. (رواه البخاری:۱/ ۱٤۷/ ۱۰۷۳، باب الصلاة بمنی).

حضرت مولانا يوسف بنوری رحمه الله په معارف السنن کي ليکي:

قال شيخنا (مولانا أنور شاه الكشميری رحمه الله): والحق أنه لاعبرة لرأی المأموم بل للإمام حيث توارثت عن السلف والقدماء كلهم الاقتداء خلف أئمة مخالفين لهم فی الفروع. فالصحابة رضی الله تعالى عنهم والتابعون رحمه الله تعالى وكذا أئمة المتبوعين كانوا يصلون خلف إمام واحد مع أنهم مجتهدون أصحاب المذاهب والآراء فی الفروع مع

كثرة الخـتلاف والتباين فى آرائهم وأقوالـهم، ولـم ينقل عن أحد منهم نكير أو خلاف فى ذلك نعم هـم إذا صـلوا منفـر ديـن كـانوا يتبعـون مـذاهبهم إن كـانوا أهـل مـذهب أو يتبعـون أهـل المذاهب إن كانوا مقلدين لـهم. (معارف السنن:١/ ١٦٠، سعيد).

حضرت شاه صاحب رحمه الله هم په فيض الباري كي فرمايي چي اقتداء يې روا ده او لمونځ يې صحيح دئ. ګورئ:

قلت: هذه المسألة مجتهدفيها، والاقتداء في جنس هذه المسائل يـجوز مـن واحـد لآخر، كما في "الدر المختار" عند تعديد الواجبات، فصرح في ضمنه: أن المتابعة تصح عندنا في الاجتهاديات كلها. وأوضحه الشافعي رحمه الله، ونقله الحافظ ابن تيمية رحمه الله عن الأئمة الأربعة. قلت: فهذا بابعندنا وسيع...... وقد قدمنا الكلام فيه مبسوطًا. ويدل عليه أن الخليفة هارون الرشيد افتصد مرةً فقام إلى الصلاة ولم يتوضأ، فاقتدى به أبو يوسف رحمه الله وما ذلك إلا ليكون الاقتداء جائزًا، ولو لا ذلك لما كان أبو يوسف رحمه الله ليقتدي به فإنه أورع من ذلك .... (فيض البارى على صحيح البخارى:٢/ ٣٩٦، باب الصلاة، بمنى المكتبة العزيزية).

په عمدة القاري كي راځي:

ويؤيده ما روى أبو داود أن ابن مسعود رضي الله عنه صلى أربعًا فقيل له: عبت على عثمان رضي الله عنه ثم صليت أربعًا ؟ فقال: الخلاف شر، ورواية البيهقي إني لأكره الخلاف. (عمدة القارى:٥/ ٣٨٠/ ١٠٨٤، باب الصلاة بمنى، دار الحديث ملتان).

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه له دغه فرمان څخه معلومه سوه چي په اجتهادي مسائلو كي د اختلاف څخه د ځان ساتلو له امله دامام د اعتقاد مطابق اقتداء درسته ده او لمونځ هم صحيح دئ.

همدارنګه شامي هم يو قول نقل کړی دئ چي دامام رای اعتبار لري: وقال الهندواني وجماعة: لايجوزو رجحه في النهاية بأنه أقيس، لأن الإمام ليس بمصل في زعمه وهو الأصل فلايصح الاقتداء به. (شامی:۲/ ۸، باب الوترو النوافل، سعيد).

همدارنګه د فقهاوو له عبارتونو څخه معلوميږي چي که د مقتدی په اند امام کوم داسي عمل کوي چي د مقتدی په مذهب کي د واجب پرېښودل وي نو د مقتدی اقتداء به صحيح وي لکه چي مسافر امام څلور رکعته لمونځ وکړئ نو د مقتدی په مذهب کي پرېښودل د واجب وسوه.

مفسد عمل يې کړی نه دئ څکه نو د مقتدی لمونځ کيږي يعنی نفل يې له فرضو سره يو ځای کړل داقتداء بالمخالف د سوال په جواب کي په امداد الفتاوی کي ذکر سوی دي اول امر:

په دغه مسئله کي د مختلفو اقوالو له جملي څخه زما په اند هغه تفصيل احوط دئ چي په درمختار کي يې د بحر څخه نقل کړی دئ ((بقوله ان تيقن المراعات لم يكره او عدمهالم يصح وان شک کره)) او چي د هغه ترجيح ردالمحتار له حلبی څخه نقل کړي ده ((بقوله هذا هو المعتمد لان المحققين جنحوا اليه وقواعد المذهب شاهدة عليه الخ)). البته د دغه تفصيل دريم جزء زه مؤول او مقيد ګنم تاويل دا چي مراد له کراهت څخه خلاف الاولی دئ تقييد دا چي د خپل مذهب امام بيله دي چي اعراض عن الجماعة او کوم ممنوع کار پېښ سي موندل کيږي: ومبنى التأويل ما نقله في ردالمحتار عن حاشية الرملي على الأشباه: الذي يميل إليه خاطري القول بعدم الكراهة إذا لم يتحقق منه مفسد. ووجه التقييد ظاهر همدارنګه د مراعات محل يوازي فرائض دي: كما في ردالمحتار أي المراعات في الفرائض من شروط وأركان في تلك الصلاة وإن لم يراع في الواجبات والسنن كما هو ظاهر سياق كلام البحر وظاهر كلام شرح المنية أيضا حيث قال: وأما الاقتداء بالمخالف في الفروع كالشافعي فيجوز مالم يعلم منه

ما يفسد الصلاة على اعتقاد المقتدى عليه الإجماع إنما اختلف في الكراهة. قلت: في التمثيل بالشافعي الذي الأصل فيه عدم التعصب .... (امداد الفتاوى:۱/ ۲۵۱)

لهذا دمقتدي لمونځ به په امام پسي هغه وخت صحيح وي چي كله دمقتدي په اند امام دلمانځه دمفسداتو ارتكاب نه كوئ او كه دمقتدي په اند امام دلمانځه دمفسداتو ارتكاب كوي نو اقتداء به يې روا نه وي. والله ﷻ اعلم.

په مسافر امام پسي په پاته لمانځه كي د قرائت حكم

سوال: كه مقيم په مسافر پسي دوه ركعته لمونځ وكړي بيا د پاته دوو ركعتونو له پاره ولاړ سو نو اوس به په دغو دوو ركعتونو كي قرائت كوي او كه نه؟

الجواب: په ځينو كتابونو كي دا ليكلي دي چي قرائت به نه كوي، البته په ځينو كي ليكي چي دى دمنفرد په شان دئ لهذا په قرائت كولو كي څه باک نه سته بلكي قرائت بايد مستحب وي.

وګورئ په بدائع الصنائع كي راځي:

ولا قراءة على المقتدي في بقية صلاته إذا كان مدركًا أي: لا يجب عليه؛ لأنه شفعأخيرفي حقه، ومن مشايخنا من قال: ذكر في الأصل ما يدل على وجوب القراءة فإنه قال: إذا سها يلزمه سجود السهو. (بدائع الصنائع:۱/ ۲۷۷، صلاة المسافر، سعيد).

په شرح النقايه كي راځي:

إذا سلم المسافر أتم المقيم منفردًا لأنه التزم الموافقة في الركعتين فصار كالمسبوق في التزام بعض الصلاة مع الإمام وأداء باقيها منفردًا فيقرأ وقيل: لايقرأ لأنه لاحق أدرک أول الصلاة. (شرح النقاية:۱/ ۲۸٤، صلاة المسافر).

په طحطاوى على الدر كي راځي:

(قوله في الأصح) وقال الحلواني: يقرأ، قهستاني. (طحطاوى على الدر:۱/ ۳۳۵).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية:۱/ ۱۶۹ – والفتاوی الهندية:۱/ ۱۴۳ – والشامی:۲/ ۱۲۹ سعيد – والبحر الرائق:۲/ ۱۳۵ – والهداية مع الفتح:۲/ ۴۰) والله ﷻ اعلم.

په جناتو پسي د اقتداء حکم

سوال: که يو چا په جناتو پسي اقتداء وکړه نو لمونځ يې کيږي او که نه؟

الجواب: که جنات په انساني شکل کي وي نو په دوی پسي اقتداء درسته ده او لمونځ صحيح دئ او که نه، صحيح نه دئ.

وګورئ علامه بدر الدين شبلی الحنفی په خپل کتاب اکام المرجان فی احکام الجان کي ليکي:

نقل ابن أبی الصير فی الحرانی الحنبلی فی قواعده عن شيخه أبی البقاء العسکری الحنبلی أنه سئل عن الجنی هل تصح الصلاة خلفه؟ فقال نعم لانهم مکلفون والنبی ﷺ مرسل إليهم . والله اعلم . (اکام المرجان فی غرائب الأخبار وأحکام الجان:ص ۶۲، الباب السادس والعشرون فی بيان هل تصح الصلاة خلف الجنی، آرام باغ کراجی).

په انساني شکل کېدل له دې امله ضروري دي چي له هغه پرته يې حرکات او سکنات نه معلوميږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وتصح إمامة الجنی أشباه ...... وفی الشامی: (قوله وتصح إمامة الجنی) لأنه ملکف ...... (قوله أشباه)...... إنما يستلزم أحکامها إذا کانوا علی صورة ظاهرة ولهذا لو جامع جني امرأة ووجدت لذة لا يلزمها الاغتسال کما في الخانية إلا إذا أنزلت کما في الفتح أو جاءها علی صورة آدمي کما في الحلية وکذا يقال في إمامة الجني. والله أعلم. (الدر المختار: مع الشامی:۱/ ۵۵۴، باب الامامة، سعيد).

همدارنګه د جناتو د ذبحې په هکله علامه شامي رحمه الله د انساني شکل قید لګولي دئ.
وګورئ په فتاوی شامي کي لیکي:

(قوله وجنی) لما في الملتقط " نهی رسول الله عن ذبائح الجن " أشباه، والظاهر أن ذلك محله ما لم يتصور بصورة الآدمي ويذبح وإلا فتحل نظرا إلى ظاهر الصورة ويحرر.

(شامی:٦/ ٢٩٨، کتاب الذبائح، سعید – وکذا فی الطحطاوی:٤/ ١٥٢، کتاب الذبائح، العربیة کوئتة).

همداسي وګورئ: (الاشباه والنظائر للعلامة ابن نجیم الحنفی :٢/ ٩٦، أحکام الجان، ادارة القرآن کراچی – وکذا فی الأشباه والنظائر للسیوطی :٢/ ٦٦، القول فی أحکام الجان، الثالث: هل تنعقد الجماعة بالجن، دار الکتب العلمیة – وکذا فی مجموعة الرسائل اللکنوی: تدویر الفلک فی حصول الجماعة بالجن والملک، الفصل الأول فی حصول الجماعة بالجن:١/ ٣٧٢، ادارة القرآن کراچی – وفتاوی اللکنوی:ص ٣٢٥، بیروت). والله ﷻ اعلم.

اووم فصل

د مسبوق اولاحق احکام

د امام د سلام ګرځولو په وخت کي که مسبوق تحریمه وویل نو د اقتداء حکم یې

سوال: یو کس د امام د سلام ګرځولو په وخت کي په لمانځه کي شامل سو یا له دې مخکي خو په قعده کي له ناستي مخکي امام سلام وګرځاوه نو د دغه کس اقتداء صحیح سوه او که نه؟ او که صحیح نه ده نو له سره به نیت کوي او که به مخکي لمونځ جاري ساتي؟

الجواب: که مسبوق مقتدی د امام له سلام څخه مخکي تحریمه وویل نو اقتداء به یې صحیح وي او که امام یوه لوړي ته سلام وګرځاوه له هغه څخه وروسته یې تحریمه ولوسته نو اوس یې تحریمه صحت نه لري اوس به په نوي تحریمه بیل لمونځ وکړي.

په شامي کي راځي:

(قوله وتنقضي قدوة بالأول) أي بالسلام الأول، قال في التجنيس: الإمام إذا فرغ من صلاته فلما قال: السلام جاء رجل واقتدى به قبل أن يقول عليكم لا يصير داخلًا في صلاته.

(شامی:۱/ ٤٦٨، واجبات الصلاة، سعيد – وكذا في حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:۲٥۱، فصل فى بيان واجبات الصلاة، قديمى).

په درمختار کي راځي:

إذا فسد الاقتداء بأى وجه كان لايمنع شروعه فى صلاة نفسه لأنه قصد المشاركة وهي غير صلاة الانفراد على الصحيح، محيط، وادعى فى البحر أنه المذهب. (الدر المختار:۱/ ٥۸۲، باب الامامة، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

الاقتداء عبارة عن المتابعة والشركة فيقتضي المساواة . (بدائع الصنائع:۱/ ۱۲۸، سعيد).

په کفايت المفتی کي راځي:

چي كله مسبوق د امام له سلام څخه مخكي د امام په لمانځه كي د شراكت په نيت تكبير تحريمه اداء کړي نو دی د امام په لمانځه كي داخل سو د اقتداء د صحت له پاره د اقتداء په نيت تحريمه ويل كافي دي، د اقتداء صحت يوازي د اقتداء په نيت په تكبير تحريمه ويلو سره كيږي نو كه د مقتدى له ناستي څخه مخكي امام سلام وګرځاوه نو مقتدى دي په دغه تحريمه د مسبوق په شان لمونځ اداء کړي. (کفايت المفتى:۳/ ٤۳۸، كتاب الصلاة).

په فتاوی محموديه کي راځي:

د سلام تر لفظ وروسته اقتداء، دغه اقتداء صحيح نه ده. (فتاوى محموديه:٦/ ٥٤۷، باب المسبوق واللاحق).

په فتاوی رحيميه کي راځي:

که یې د امام له سلام ګرځولو څخه مخکې تکبیر تحریمه وویل نو په جماعت کې شاملېدونکی شمېرل کېږي د تکبیر تحریمی راګرځولو که امام السلام ووایه او علیکم یې نه وي ویلي او یو چا اقتداء وکړل دغه اقتداء معتبره نه ده، دوهم ځل دي تکبیر تحریمه ووایي او لمونځ دي شروع کړي.

په حواله د شامي: (فتاوی رحیمیه:۱/ ۲۰۵، زیات تفصیل:۵/ ۱۳۵).

همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی:۳/ ۲۷۰، باب الامامة والجماعة – وفتاوی دار العلوم دیوبند:۳/ ۶۹، باب الاجماعة، مدلل ومکمل، دار الاشاعت – وامداد الاحکام:۱/ ۵۴۹، فصل فی المسبوق واللاحق، مکتبه دار العلوم کراچی). والله ﷻ اعلم.

مسبوق که په هېره له امام سره سلام وګرځاوه

سوال: مسبوق که له امام سره په هېره سلام وګرځاوه نو سجده سهو واجبیږي او که نه؟

الجواب: مسبوق که له امام سره سلام وګرځاوه یا یې د امام له سلام څخه مخکې سلام وګرځاوه نو سجده سهو واجب نه ده او که یې د امام له سلام څخه وروسته سلام وګرځاوه نو سجده سهو واجب ده او په عامه توګه د امام څخه وروسته سلام ګرځوي نو سجده سهو به واجب وي.

په درمختار کې راځي:

ولو سلم ساهيًا إن بعد إمامه لزمه السهو وإلا لا ...... وفى الشامى: (قوله وإلا لا) أي وإن سلم معه أو قبله لا يلزمه لأنه مقتد في هاتين الحالتين، وفي شرح المنية عن المحيط: إن سلم في الأولى مقارنًا لسلامه فلا سهو عليه لأنه مقتد به، وبعده يلزم لأنه منفرد ثم قال: فعلى هذا يراد بالمعية حقيقتها وهو نادر الوقوع، قلت يشير إلى أن الغالب لزوم السجود لأن الغالب عدم المعية وهذا مما يغفل عنه كثير من الناس فليتنبه له. (الدر المختار مع الشامى:۱/ ۵۵۹، سعيد – وكذا فى الطحطاوى:۱/ ۲۵۵).

په بدائع الصنائع کې راځي:

ولا يسلم إذا سلم الإمام ؛ لأن هذا السلام للخروج عن الصلاة وقد بقي عليه أركان الصلاة، فإذا سلم مع الإمام فإن كان ذاكرًا لما عليه من القضاء فسدت صلاته ؛ لأنه سلام عمد . وإن لم يكن ذاكرًا له لا تفسد ؛ لأنه سلام سهو فلم يخرجه عن الصلاة وهل يلزمه سجود السهو لأجل سلامه ينظر إن سلم قبل تسليم الإمام أو سلما معًا لا يلزمه ؛ لأن سهوه سهو المقتدي ، وسهو المقتدي متعطل، وإن سلم بعد تسليم الإمام لزمه ، لأن سهوه سهو المنفرد فيقضي ما فاته ثم يسجد للسهو في آخر صلاته . (بدائع الصنائع :١/ ١٧٦، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د امام په پنځم رکعت کې د مسبوق د اقتداء حکم

سوال: که امام په غلطی سره پنځم رکعت ته ولاړ سو او یو چا ورپسې اقتداء وکړه نو درسته ده او که نه؟ همدارنګه که امام واپس سو او کښیناستې نو حکم یې څه دئ، او که واپس نه سو او شپږم رکعت یې هم یو ځای کړ نو حکم یې څه دئ؟

الجواب: په پنځم رکعت کې د مسبوق مقتدی اقتداء هغه وخت درسته ده چې کله امام د پنځم رکعت له سجدې څخه مخکې واپس سي او که امام شپږم رکعت ورسره یو ځای کړ نو د مسبوق اقتداء درسته نه ده ځکه په دغه صورت کې به اقتداء المفترض خلف المتنفل وي او دغه اقتداء روا نه وي په اکثره کتابونو کې دا تفصیل دي چې که یې د څلورم رکعت ناسته کړې نه وه نو که بیرته راوګرځي هم یې اقتداء صحیح نه ده، خو په قاضي خان کې دا تفصیل نه سته .

وګورئ په قاضي خان کې راځي:

إذا صلى الإمام الظهر أربع ركعات وقعد على الرابعة وقام إلى الخامسة ساهيًا وجاء إنسان واقتدى به في صلاة الظهر قال الشيخ الإمام أبو بكر بن الفضل رحمه الله: يصح اقتداء الرجل لأن الإمام ما لم يقيد الخامسة بالسجدة يكون في تحريمة تلك الصلاة. (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:١/ ١٠٢، فصل في المسبوق)

په البحر الرائق کي راځي:

وفي السراج الوهاج إذا قعد في الرابعة قدر التشهد وقام إلى الخامسة ساهيًا واقتدى به رجل لا يصح اقتداؤه ولو عاد إلى القعدة لأنه لما قام إلى الخامسة فقد شرع في النفل فكان اقتداء المفترض بالمتنفل ولو لم يقعد التشهد صح الاقتداء لأنه لم يخرج من الفرض قبل أن يقيدها بسجدة. (البحر الرائق:٢/ ١٠٥، باب سجود السهو، الماجدية كوئتة – وكذا في الشامي:٢/ ٨٨، باب سجود السهو، سعيد – وكذا في حاشية الطحطاوي على الدر:١/ ٣١٤، باب سجود السهو).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

امام که پر څلورم رکعت د تشهد په اندازه کښیناستی او بیا سهوا ولاړ سو او د پنځم رکعت سجده یې هم وکړه نو شپږم رکعت دي ورسره یو ځای کړي او سجده سهو دي وکړي نو د ده فرض پوره سوه که یو څوک په پنځم او یا شپږم رکعت کي په دغه امام پسي اقتداء وکړي نو د مقتدي لمونځ نه سته ځکه د امام دوه رکعته نفل دي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٤/ ٤١٠، مسائل سجده سهو). والله تعالی اعلم.

مسبوق به د پاته سوی لمانځه له پاره کله دریږي؟

سوال: مسبوق به د امام د اول سلام وروسته ولاړیږي او که د دوهم سلام څخه وروسته؟

الجواب: مسبوق به د پاته سوی لمانځه له پاره هغه وخت ولاړیږي چي کله د ده یقین سي چي امام له لمانځه څخه فارغ سوی دئ او پر ذمه یې څه پاته نه دي او په عامه توګه دغه د دوهم سلام په وخت کي وي.

وګورئ د تبیین الحقائق په حاشیه کي راځي:

ثم إذا سلم الإمام لا يعجل بالقيام وينظر هل يشتغل الإمام بقضاء ما نسيه فإذا تيقن فراغه يقوم إلى قضاء ما سبق ولا يسلم مع الإمام، وفيه حكاية وهي أن أبا يوسف رحمه الله كان على مائدة الرشيد فقال لزفر رحمه الله ما تقول يا أبا هذيل متى يقوم المسبوق إلى قضاء ما سبق به فقال زفر: بعد سلام الإمام فقال له أبو يوسف رحمه الله أخطأت فقال زفر رحمه الله بعدما يسلم

تسليمةً فقال أخطأت فقال زفر رحمه الله قبل سلام الإمام فقال: أخطأت ، ثم قال أبو يوسف رحمه الله إنما يقوم بعد تيقنه أن الإمام فرغ من صلاته فقال زفر أحسنت أيد الله القاضي . (حاشية الشلبي على تبيين الحقائق: ١/ ١٢٤، فصل في بيان الشروع في الصلاة، امداديه).

وفي المحيط وغيره: ينبغي للمسبوق أن يمكث ساعة بعد فراغ الإمام ثم يقوم لجواز دن يكون على الإمام سهوًا ليتابعه فيه انتهى. (امداد الفتاح: ٥١٤، باب سجود السهو –وكذا في مراقي الفلاح على حاشية الطحطاوي: ٤٦٤، باب سجود السهو، قديمي كتب خانه – وهكذا في البحر الرائق: ٢/ ١٠٠، باب سجود السهو، الماجدية).

په احسن الفتاوی کي راځي:

مسبوق دي د امام له دواړو لورو سلام ګرځولو څخه وروسته هم په دومره څنډو درېږي چي دا معلومه سي چي د امام پر ذمه سجده سهو نه سته. قال في الهندية: و.ينبغي للمسبوق أن يمكث ساعة بعد سلام الإمام لجواز أن يكون على الإمام سهو، عالمگيری. (احسن الفتاوی: ٣/ ٣٧٧، باب المسبوق واللاحق). والله تعالیٰ اعلم.

مسبوق که له امام سره په سجدهٔ سهو کي په قصده سلام وګرځاوه؟

سوال: که مسبوق له امام سره په سجده سهوه کي په قصده سلام وګرځاوه نو د لمانځه حکم يې څه دئ؟

الجواب: د مسبوق لمونځ فاسديږي خو که يې سلام په قصده وګرځاوه کنه نه به فاسديږي.

وګورئ په شامي کي راځي:

(قوله والمسبوق يسجد مع إمامه) قيد بالسجود لأنه لا يتابعه في السلام بل يسجد معه ويتشهد فإذا سلم الإمام قام إلى القضاء فإن سلم فإن كان عامدًا فسدت وإلا لا . (شامي: ٢/ ٨٢، باب سجود السهو، سعيد).

په فتاوی هندیه کې راځي:

ومنها أن يتابع الإمام فی السهو ولايتابعه فی التسليم والتكبير و التلبية فإن تابعه فی التسليم والتكبير فسدت. (الفتاوی الهندية:۱/ ۹۲).

په البحر الرائق کې راځي:

ثم المسبوق إنما يتابع الإمام فی السجود لافی السلام فيسجد معه ...... فإن سلم فإن كان عامدًا فسدت وإلا فلا. (البحر الرائق:۲/ ۱۰۰، باب سجود السهو، الماجدية).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

مسبوق خو به له امام سره سجده سهو کوي خو د سجده سهوې له پاره په سلام کې د امام اتباع روا نه ده که په قصده له امام سره سلام وګرځوي نو د مسبوق لمونځ فاسدېږي او که يې په سهو وګرځوئ نه فاسدېږي. (فتاوی محمودیه:۶/ ۵۵۶، باب المسبوق واللاحق). والله ﷻ اعلم.

د مسبوق د اقتداء حکم

سوال: د امام د سلام څخه وروسته مسبوق پاته لمونځ کاوه يو څوک راغی او په ده پسې يې اقتداء وکړه نو دغه اقتداء صحيح ده او که نه؟

الجواب: مسبوق واجب الانفراد وي امام نه جوړيږي لهذا په ياد صورت کې دغه اقتداء صحيح نه ده.

وګورئ د منية المصلی په شرح کې راځي:

فمن جملة أحكام المسبوق ماذكروا من جملتها أنه فيما يقضی كالمنفرد إلا فی أربع مسائل إحداهما لايجوز اقتداءه ولا الاقتداء به لأنه بان من حيث التحريمة. (شرح منية المصلی:۴۳۷، سهيل اكيدمی – والفتاوی الهندية:۱/ ۹۲ – والشامی:۱/ ۵۹۷، سعيد – وفتاوی قاضی خان علی هامش الهندية:۱/ ۱۰۱). والله ﷻ اعلم.

مسبوق چې بل مسبوق ته ګوري او خپل لمونځ پوره کوي؟

سوال: اکثره وخت دیوه مسبوق شخه تېر سوی رکعتونه هېر سي او بل مسبوق ته ګوري او خپل رکعتونه پوره کوي نو ایا داسي به یې لمونځ صحیح وي او که نه؟

الجواب: بل مسبوق ته کتل او لمونځ کول درست دي خو اقتداء ورپسي درسته نه ده.

وګورئ په فتح القدیر کي راځي:

أما لونسى أحد المسبوقين المتساوين كمية ما عليه فقضى ملاحظًا للآخر بلا اقتداء به صح. (فتح القدير: ١/ ٣٩٠، باب الحدث في الصلاة، دار الفكر – وكذا في البحر الرائق: ١/ ٣٧٨، باب الحدث في الصلاة، كوئتة).

إذا قضى المسبوقان ملاحظًا أحدهما الآخر ليعلم عدد ما عليه من فعله، فلا بأس به. (حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح: ٢٩٢، باب الامامة، قديمي – وكذا في الدر المختار مع الشامي: ١/ ٥٩٧، باب الامامة، سعيد – وكذا في الفتاوى الهندية: ١/ ٩٢، الفصل السابع).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (فتاوی رحیمیه: ١/ ١٣٧، مکتبه رحیمیه، وفتاوی محمودیه: ٦/ ٥٦٤، باب المسبوق واللاحق، جامعه فاروقیه). والله ﷻ اعلم.

مسبوق چې په تېرو سوو رکعتونو کي جهر کوي

سوال: ایا د مسبوق له پاره روا ده چي د سهار په لمانځه کي په تېر سوی رکعت کي جهر وکړي؟

الجواب: مسبوق په تېر سوی رکعت کي د منفرد په حکم کي دئ او منفرد ته په جهري لمانځه کي اختیار وي نو مسبوق ته به هم اختیار وي چي جهري لمانځه تېر سوی رکعت په جهر سره اداء کوي په دې شرط چي د نورو کسانو لمانځه ته خلل نه وي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قوله (كمن سبق ركعة من الجمعة) أي أنه إذا قام ليقضيها لايلزمه المخافتة بل له أن يجهر فيها ليوافق القضاء الاداء. (شامي: ١/ ٥٣٤، فصل في القراءة، سعيد).

په طحطاوي علی مراقی الفلاح کي راځي:

والمسبوق وهو من سبقه الإمام بكلها أو بعضها وحكمه أنه يقضي أول صلاته في حق القراءة وآخرها في حق القعدة وهو منفرد فيما يقضيه. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:۳۰۹، فصل فيما يفعله المقتدی).

په طحطاوی علی الدر کي راځي:

(قوله كمن سبق بركعة من الجمعة) والمغرب والعشاء والفجر كذلك لأن المسبوق منفرد فی الأقوال. (طحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۲۳۴، فصل يجهر الامام – وكذا فی امداد الفتاح: فصل فی واجبات الصلاة – وفی الفتاوی الهندية:۱/ ۷۲، واجبات الصلاة).

په درمختار کي راځي:

والمسبوق من سبقه الإمام بها أو ببعضها وهو منفرد حتی يثنی ويتعوذ ويقرأ. (الدر المختار:۱/ ۵۹۶، سيعد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

که د سهار په لمانځه کي مسبوق پاته سوی رکعتونه په جهري قرائت پوره کړل نو دا به درسته وي څه مشکل پکښي نه سته . (فتاوی دار العلوم دیوبند:۳/ ۳۸۹). والله ﷻ اعلم.

مسبوق به د ماښام د لمانځه تېر سوي دوه رکعتونه څنګه پوره کوي؟

سوال: که د ماښام په لمانځه کي د چا څخه دوه رکعته تېر سوه نو د اداء کولو په وخت کي د دوو رکعتونو تر منځ به ناسته کوي او که نه او که یې ونه کړه نو سجده سهو لازمیږي او که نه؟

الجواب: د ماښام د پاته سوو دوو رکعتونو د اداء کولو طریقه دا ده چي په دواړو کي قرائت هم وکړي او د دواړو تر منځ ناسته هم وکړي خو که یې ناسته ونه کړه نو هم استحساناً روا ده او لمونځ صحیح دئ نه سجده سهو لازم ده او نه یې راګرځول لازم دي.

په مجمع الزوائد کي راځي:

وعن ابن مسعود ﷺ أن جندباً ومسروقًا أدركا ركعة يعني: من صلاة المغرب فقرأ جندب ولم يقرأ مسروق خلف الإمام فلما سلم الإمام قاما يقضيان فجلس مسروق في الثانية والثالثة، وقام جندب في الثانية ولم يجلس فلما انصرف تذاكرا ذلك فأتيا ابن مسعود ﷺ فقال: كل قد أصاب. أو قال: كل قد أحسن، واصنع كما يصنع مسروق. رواه الطبراني في الكبير بأسانيد بعضها ساقط منه رجل وفي هذه الطريق جابر الجعفي والأكثر على تضعيفه. (مجمع الزوائد:۲/ ۸٦، باب فيما يدرک مع الامام وما فاته، دار الفكر).

په شرح منية المصلی کي راځي:

لو أدرک مع الإمام ركعة من المغرب فإنه يقرأ في الركعتين الفاتحة والسورة ويقعد في أو ليهما لأنها ثنائية ولولم يقعد جاز استحسانًا لاقياسًا ولم يلزمه سجود السهولو سهواً لكونها أولى من وجه. (شرح منية المصلی:٤٦٨، فصل في سجود السهود، سهيل).

په حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح کي راځي:

والمسبوق هو من سبقه الإمام بكلها أو بعضها وحكمه أنه يقضي أول صلاته في حق القراءة وآخرها في حق القعدة وهو منفرد فيما يقضيه. والله اعلم. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:۳۰۹، فصل فيما يفعل المقتدی – وكذا في الشامی:۱/ ۵۹۷، باب الإمامة، سعيد).

مسبوق مقیم به په مسافر پسي لمونځ څنګه کوي؟

سوال: مسبوق مقیم چي په مسافر امام پسي په اخری ناسته کي شریک سي نو لمونځ به څنګه پوره کوي؟

الجواب: په دغه مسئله کي زموږ د اکابرینو اختلاف دئ ځیني حضرات فرمایي چي دی د مسافر امام د فراغت څخه وروسته لاحق او مسبوق دي نو لومړی دوه رکعتونه دي بیله قرائته اداء کړي ځکه دی لاحق دئ او دریم رکعت دي په قرائت سره اداء کړي همدغه جواب مفتي عزیز الرحمن

صاحب لیکلي دئ او پر هغه د شیخ الهند رحمه الله او مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله او حضرت مولانا شاه کشمیري رحمه الله دستخط سته دغه حضرات د شامي له دغه عبارت څخه استدلال کوي:

ومقيم ائتم بمسافر قوله ومقيم أي فهو لاحق بالنظر للأخيرتين وقد يكون مسبوقاً أيضا كما إذا فات أول صلاة إمامه المسافر. (شامي: ۱/ ۵۹٤، أحكام المسبوق واللاحق).

د حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپور راي دا ده چي دا کس یوازي مسبوق دئ لاحق نه دئ لهذا د فارغه کېدو وروسته دي په لومړی رکعت کي فاتحه او سورت ولولي او د اخرینو دوو رکعتونو په منځ کي دي ناسته نه کوي حضرت په دې هکله مفصله فتوی لیکلي ده چي د هغه تفصیلات او دلائل په فتاوی خلیلیه ص ۹۹ – ۱۱۳ کي کتل کېدای سي.

د دلائلو څخه یې یو څو په لاندي توګه دي:

په فتاوی هندیه کي راځي:

وإن كان الإمام مسافرًا والقوم مقيمين ومسافرين صلى الإمام بالطائفة الأولى ركعةً ثم انصرفوا بإزاء العدو وجاءت الطائفة الثانية وصلى بهم ركعةً فمن كان مسافرًا خلف الإمام بقي إلى تمام صلاته ركعةً ومن كان مقيمًا بقي إلى تمام صلاته ثلاث ركعات ثم ينصرفون بإزاء العدو وترجع الطائفة الأولى إلى مكان الإمام فمن كان مسافرًا يصلي ركعةً بغير قراءة؛ لأنه مدرك أول الصلاة ومن كان مقيمًا يصلي ثلاث ركعات بغير قراءة في ظاهر الرواية فإذا أتمت الطائفة الأولى صلاتهم ينصرفون بإزاء العدو وتجيء الطائفة الثانية إلى مكان صلاتهم. فمن كان مسافرًا يصلي ركعةً بقراءة؛ لأنه مسبوق ومن كان مقيمًا يصلي ثلاث ركعات الأولى بفاتحة الكتاب وسورة؛ لأنه كان مسبوقًا فيها وفي الأخريين بفاتحة الكتاب على الروايات كلها. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۵۵، الباب العشرون في صلاة الخوف، بلوچستان).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله والمقيم) ذكر في البحر أن المقيم المقتدي بالمسافر كالمسبوق في أنه يتابع الإمام في سجود السهو ثم يشتغل بالإتمام، وأما إذا قام إلى إتمام صلاته وسها فذكر الكرخي: أنه كاللاحق فلا سجود عليه بدليل أنه لا يقرأ، وذكر في الأصل: أنه يلزمه السجود وصححه في البدائع لأنه إنما اقتدى بالإمام بقدر صلاة الإمام فإذا انقضت صار منفردًا وإنما لا يقرأ فيما يتم لأن القراءة فرض في الأولين وقد قرأ الإمام فيهما. (شامى:۲/ ۸۳، باب سجود السهو-وفي الشامي أيضا:۱/ ۵۹٤، أحكام المسبوق).

محققينو علماوو د حضرت سهارنپوري فتوى اختيار كړى ده.

خلاصه دا ده چي په پورتنى صورت كي چي مقيم مقتدى له مسافر امام سره په تشهد كي شريک سوى دئ نو دى يوازي د مسبوق په حكم كي دئ لهذا دغه مقتدى به د اقتداء څخه بېل سي او منفرد به سي او س نو ده ته په كار ده چي په لومړنيو دوو ركعتو كي سورة فاتحه له سورت سره اداء كړي او په اخرنيو دوو ركعتونو كي يوازي فاتحه ولولي او پر دوه ركعته دي كښېني.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ(فتاوى خليليه:۱/ ۹۹- ۱۱۳، فصل فى حكم المسبوق واللاحق احسن الفتاوى:۳/ ۳۸٦- ۳۹۷، باب المسبوق). والله ﷻ اعلم.

په مسافر امام پسي به مسبوق مقيم لمونځ څنګه كوي؟

سوال: كه مسبوق متقدى په مسافر امام پسي د ماپښين په لمانځه كي په دوهم ركعت كي شريک سو نو پاته لمونځ به څنګه پوره كوي؟

الجواب: دغه مسئله د علماوو په منځ كي اختلافي ده البته د محققينو په اند به مقيم مقتدى منفرد وګرځي لهذا دري واړه ركعتونه به د مسبوق په شان اداء كوي لومړى ركعت به له قرائت فاتحه او سورة سره اداء كوي او ناسته به كوي او اخرنى دوه ركعتونه به يوازي له فاتحې سره اداء كړي او د دواړو تر منځ به نه كښېني.

په درمختار كي راځي:

والمسبوق من سبقه الإمام بها أو ببعضها وهو منفرد حتى يثني ويتعوذ ويقرأ وإن قرأ مع الإمام لعدم الاعتداد بها لكراهتها مفتاح السعادة . فيما يقضيه أي بعد متابعته لإمامه، ويقضي أول صلاته في حق قراءة وآخرها في حق تشهد، وفي الشامي قوله يقضي أول صلاته في حق قراءة. (الدر المختار مع الشامي:۱/ ۵۹٦، باب الامامة، سعيد).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (الفتاوى الهندية، باب صلاة الخوف – وفتاوى خليليه:۱/ ۱۹۹-۱۱۳ – واحسن الفتاوى:۳/ ۳۸٦) والله ﷻ اعلم.

دلاحق د لمانځه طریقه

سوال: ديو چا په دوهم رکعت کي اودس مات سو کله چي اوداسه ته ولاړی نو دوه رکعتونه ورڅخه تېر سوه اوس به د امام له سلام څخه وروسته لمونځ څنګه اداء کوي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي به له اوداسه څخه وروسته پاته سوی لمونځ بيله قرائته اداء کوي يعنی هغه چي دبې اودسۍ له امله ورڅخه پاته سوی دئ بيا که امام په لمانځه کي وي نو له ده سره دي شريک سي که نه يوازي دي خپل لمونځ پوره کړي.

په درمختار کي راځي:

واللاحق من فاتته الركعات كلها أو بعضها لكن بعد اقتدائه بعذر ......وحكمه كمؤتم فلايأتي بقراءة ...... ويبدأ بقضاء مافاته عكس المسبوق ثم يتابع إمامه إن أمكنه أدراكه وإلا تابعه .

وفي الشامي: ففي شرح المنية وحكمه أن يقضي ما فاته أولا ثم يتابع الإمام إن لم يكن قد فرغ. وفي النتف: إذا توضأ ورجع يبدأ بما سبقه الإمام به ثم إن أدرك الإمام في شيء من الصلاة يصليه معه . وفي البحر: وحكمه أنه يبدأ بقضاء ما فاته بالعذر ثم يتابع الإمام إن لم يفرغ وهذا واجب لا شرط، حتى لو عكس يصح، فلو نام في الثالثة واستيقظ في الرابعة فإنه يأتي بالثالثة بلا

قراءة، فإذا فرغ منها صلى مع الإمام الرابعة وإن فرغ منهـا الإمـام صـلاها وحـده بـلا قـراءة أيضـا فلو تابع الإمام ثم قضى الثالثة بعد سلام الإمام صح وأثم، ومثله في الشرنبلالية وشرح الـملتقى للباقاني. وهذا العمل مـمـا أغفـل التنبيه عليـه جـميع مـحـشي هـذا الكتـاب، والـحمد لله ملهم الـصواب. (الـدر المختـار مـع ردالمحتـار: ١/ ٥٩٥، أحكـام المسبوق واللاحـق، سـعيد – وكـذا فـي الفتاوى الهندية: ١/ ٩٢، الفصل السابع فى المسبوق واللاحق).

په احسن الفتاوی کي راځي:

لاحق دي لومړی لاحق دي لومړی پاته سوی رکعتونه اداء کړي له دې ځخه وروسته که امام په لمانځه کي وو نو له هغه سره دي شریک سي که نه یوازي دي اداء کړي. (احسن الفتاوی: ۳/ ۳۸۰، باب المسبوق واللاحق، فتاوی حقانیه: ۳/ ۱۹۳، المسبوق واللاحق). والله ﷻ اعلم.

اتم .... فصل

د حدث او استخلاف مسائل

د اول سلام ځخه وروسته که امام بې اودسه سو نو د استخلاف حکم

سوال: که یو چا ته له یوه سلام ګرځولو وروسته بې اودسي پېښه سوه نو د ده لمونځ پوره سو او که نه او یا دی اودس وکړي او دوهم سلام دي وګرځوئ او که امام وي، حکم یې څه دئ خلیفه دي ودروي او که نه؟

الجواب: دوهم سلام د اصح قول مطابق واجب دئ لهذا دغه کس دي اودس وکړئ او بیا دي راسي او دوهم سلام دي وګرځوي او که امام وي خلیفه دي ودروي.

په درمختار کي راځي:

ولفظ السلام مرتين فالثاني واجب على الأصح. (الدر المختار: ١/ ٤٦٨، واجبات الصلاة).

په طحطاوی کي راځي:

ویجب لفظ السلام مرتین وهو الأصح . (طحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۲۵۱، واجبات – وکذا فی بدائع الصنائع:۱/ ۹۴، سعید).

په درمختار کي راځي:

سبق الإمام حدیث ...... ولو بعد التشهد لیأتي بالسلام استخلف. وفی الشامی: قوله لیأتي بالسلام: قال ابن الکمال: صرح بذلك في الهدایة وهذا صریح في أنه لا خلاف للإمامین هنا إذ لا خلاف لهما في وجوب التسلیم، قوله استخلف أشار إلی أن الاستخلاف حق الإمام. (الدر المختار مع الشامی:۱/ ۶۰۰، باب الاستخلاف، سعید).

وفی تقریرات الرافعی:

قوله وقد یجاب الخ: یبعد هذا الجواب تعلیل ابن ملک للوجوب بقوله صیانة الخ فإنه یدل علی التعمیم. (التحریر المختار للرافعی علی الشامی:۱/ ۷۸، باب الاستخلاف، سعید).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی قاضی خان:۱/ ۱۱۵، فصل فی الاستخلاف). والله ﷻ اعلم.

که د امام له استخلاف پرته کوم مقتدی په خپله خلیفه وګرځي

سوال: که د کوم امام اودس مات سو او ولاړ ئ بیا په خپله یو کس له دوهم او یا دریم صف څخه راغلی او لمونځ یې پوره کړی نو لمونځ وسو او که نه؟

الجواب: که مقتدي د امام د مسجد څخه د وتلو مخکي د امام ځای ته راغلی او لمونځ یې پوره کړ نو لمونځ یې صحیح دئ که څه هم عمل کثیر وو خو د لمانځه د اصلاح له پاره وو ځکه نو مفسد نه دئ، البته دا ضروري ده چي استد بار قبله لازم نه سي که نه لمونځ یې فاسدیږي.

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وإن تقدم رجل من غیر تقدیم أحد وقام مقام الأول قبل أن یخرج الإمام من المسجد جاز، ولو خرج الإمام من المسجد قبل أن یصل هذا لرجل إلی المحراب ویقوم مقامه فسدت صلاة

الرجل والقوم ولا تفسد صلاة الإمام الأول. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية:۱/ ۱۱۵، فصل في الاستخلاف).

په فتاوی شامي کي راځي:

وإن قدم القوم واحد أو تقدم بنفسه لعدم استخلاف الإمام جاز إن قام مقام الأول قبل أن يخرج من المسجد ولو خرج فسدت صلاة الكل دون الإمام. (شامی:۱/ ۶۰۱، باب الاستخلاف، سعيد – والفتاوی التاتار خانية:۱/ ۵۸۴، ادارة القرآن).

په فتاوی شامي کي راځي:

ويفسد كل عمل كثير ليس من أعمالها ولا لإصلاحها (قوله ولا لأصلاحها) خرج به الوضوء والمشي لسبق الحدث فإنهما لايفسدانها. (شامی:۱/ ۶۲۴، سعيد). والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ : ﴿ إن هذه الصلاة لايصلح فيها شئ من كلام الناس إنماهى التسبيح والتكبير وقراءة القرآن ﴾ . (مشكاة).

فيما يفسد الصلاة وما يكره فيها

دلمانځه دمفسداتو بيان

لومړى فصل

له قرآن كريم څخه د تلاوت كولو حكم

سوال: ايا كه څوک قرآن كريم ته ګوري او لمونځ كوي دا روا دي او كه نه كه روا وي نو دكوم امام په نزد روا دي؟

الجواب: داحنافو په اند دلمانځه په حالت كي قرائت من المصحف لمونځ فاسدوي كه فرضي يا نفلي وي او يا تراويح وي.

وګورئ په حاشية الطحطاوي كي راځي:

(قوله وقراءة ما لا يحفظه) أي مطلقا سواء كان قليلا أو كثيرا وهو ظاهر الرواية عن الإمام ...... ولأبي حنيفة رحمه الله في فسادها وجهان: أحدهما أن حمل المصحف، والنظر فيه، وتقليب الأوراق عمل كثير والثاني أنه تلقن من المصحف فصار كما لو تلقن من غيره وهو مناف للصلاة وهذا يوجب التسوية بين المحمول وغيره فتفسد بكل حال، وهو الصحيح كذا في الكافي، ولو لم يكن قادرًا إلا على القراءة من المحصف لا يجوز له ذلك ويصلي بغير قراءة لأنه أمي ولا فرق بين الإمام والمنفرد. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:٣٣٦، باب ما يفسد الصلاة، قديمى – وكذا فى تبيين الحقائق:١ / ١٥٨، باب ما يفسد الصلاة، امدادية).

په درمختار کي راځي:

وقراءته من مصحف أى ما فيه قرآن مطلق لأنه تعلم ...... وفى الشامى: (قوله أي ما فيه قرآن) عممه ليشمل المحراب، فإنه إذا قرأ ما فيه فسدت في الصحيح بحر قوله (مطلقا) أي قليلًا أو كثيرًا، إمامًا أو منفردًا أميًا لا يمكنه القراءة إلا منه أو لا (قوله لأنه تعلم) ذكروا لأبي حنيفة رحمه الله في علة الفساد وجهين...... (الدر المختار مع ردالمحتار:١/ ٦٢٤، باب ما يفسد الصلاة، سعيد – وكذا فى البحر الرائق:٢/ ١٠، باب مايفسد الصلاة، الماجديه كوئتة – والفتاوى الهندية:١/ ١٠١، الباب السابع فيما يفسد الصلاة، بلوچستان – والفقه الاسلامي وأدلته :٢/ ٨، دار الفكر).

همدا سي وګوري: (فتاوى دار العلوم ديوبند:٤/ ٦٨، باب مفسدات نماز مدلل ومكمل، دار الاشاعت – وفتاوى حقانيه:٣/ ٢١٩، باب مفسدات الصلاة، دار العلوم حقانيه – واحسن الفتاوى:٣/ ٤٤٥، مسائل زلة القارى). والله تعالى اعلم.

د نورو امامانو مذاهب

د امام شافعي رحمه الله په اند قرائت من المصحف مطلقا روا دئ او د مالكيه وو په اند يوازي په نوافلو کي ګنجائش سته او د حنابله وو په اند که امام حافظ وي خو مکروه دئ او په فرائضو کي على الاطلاق مکروه دئ.

وګورئ په شرح المهذب کي راځي:

لو قرأ القرآن من المصحف لم تبطل صلاته سواء كان يحفظه أم لا بل يجب عليه ذلك إذا لم يحفظ الفاتحة كما سبق ولو قلب أوراقه أحيانا في صلاته لم تبطل. (شرح المهذب للامام النووى:٤/ ٩٥، فرع الو قرأ القران من المصحف، دار الفكر).

په مواهب الجليل کي راځي:

فأجاز مالک أن یؤم الإمام فی المصحف فی قیام رمضان وکره ذلک فی صلاة الفرض.
(مواهب الجلیل:۲/ ۳۸۲- وکذا فی التاج والإکلیل:۲/ ۳۸۲- ومنح الجلیل:۱/ ۳۴۵).

یہ حاشیة الدسوقي کي رائے:

وکره نظر بمصحف فی فرض وفی أثناء نفل لافی أوله لأنه یغتفر فی النفل مالا یغتفر فی الفرض. (حاشیة الدسوقی:۱/ ۴۹۶ – وکذا فی المدونة – والذخیرة).

یہ المغنی کي رائے:

لا بأس أن یصلي بالناس القیام وهو ینظر في المصحف قیل له : في الفریضة ؟ قال : لا ، لم أسمع فیه شیئًا .وقال القاضي : یکره في الفرض ، ولا بأس به في التطوع إذا لم یحفظ ، فإن کان حافظًا کره أیضًا . قال وقد سئل أحمد عن الإمامة في المصحف في رمضان ؟ فقال : إذا اضطر إلی ذلك نقله علي بن سعید ، وصالح، وابن منصور .(المغنی:۱/ ۶۱۲، دار الکتب العلمیة، بیروت).

یہ الشرح الکبیر کي رائے:

(یوجوز له النظر فی المصحف) یجوز له النظر فی المصحف في صلاة التطوع قال أحمد: لا بأس أن یصلي بالناس القیام وهو یقرأ في المصحف قیل له الفریضة؟ قال لم أسمع فیها بشيء وسئل، الزهري عن رجل یقرأ في رمضان في المصحف فقال: کان خیارنا یقرءون في المصاحف، روي عن عطاء ویحیی الانصاري، ورویت کراهته عن سعید بن المسیب والحسن ومجاهد وابراهیم لانه یشغل عن الخشوع في الصلاة، وقال القاضي: لا بأس به في التطوع إذا لم یحفظ، فان کان حافظا کره لان أحمد سئل عن الامامة في المصحف في رمضان قال إن اضطر إلی ذلك. (الشرح الکبیر علی هامش المغنی:۱/ ۶۳۷، دار الکتب العلمیة بیروت).

په الفقه الاسلامي وادلته کي راځي:

وأجاز الحنابلة القراءة في أثناء الصلاة في المصحف، ويكره ذلك لمن يحفظ؛ لأنه يشغل عن الخشوع والنظر إلى موضع السجود لغير حاجة، كما يكره في الفرض على الإطلاق؛ لأن العادة أنه لا يحتاج إلى ذلك فيها. (الفقه الاسلامی وأدلته:۲/ ۱۱، مفسدات الصلاة عند الفقهاء، دار الفكر).

که یې ټلیفون په عمل کثیر سره بند کړ نو د لمانځه حکم

سوال: که د سیلولر فون د بندولو له پاره د عمل کثیر ضرورت پیښ سي نو لمونځ یې فاسدیږي او که نه؟

الجواب: عمل کثیر لمونځ فاسد وي لهذا په پورتنی صورت کي که د سیلولر فون د بندولو له پاره عمل کثیر راغلی نو لمونځ یې فاسدیږي.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

العمل الكثير لا القليل، واختلفوا فى الفاصل بينهما على خمسه أقول: منها أن لايشك الناظر إليه أنه ليس في الصلاة، وإن اشتبه على الناظر فهو قليل على الأصح .

والثانی: أن ما يقام باليدين عادة كثير وإن فعله بيد واحدة كالتعمم ولبس القميص وشد السر اويل وما يقام بيد واحدة قليل.

والثالث: الحركات الثلاث المتواليات كثير.

والرابع: أن الكثير ما يكون مقصودًا للفاعل.

والخامس: أن إلى رأي المبتلي به هو المصلی ......وقال الزيعلی: وهذا أقرب الأقوال إلى رأي أبی حنيفة رحمه الله. (امداد الفتاح:۳۵۹، فصل مايفسد الصلاة، بيروت – وكذا فی الطحطاوی على مراقی الفلاح:۳۲۳، باب ما يفسد الصلاة، قديمی – وكذا فی الشامی:۱/ ۶۲۴، باب ما يفسد الصلاة).

همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی:۳/ ۴۱۸، باب مفسدات الصلاة). والله ﷻ اعلم.

ترچونکی ته په یرحمک الله ویلو سره د لمانځه حکم

سوال: که یو چا په لمانځه کي وترچل ده الحمد لله وویل بل چا یې په جواب کي یرحمک الله وویل نو د دواړو لمونځ فاسد سو او که نه؟

الجواب: ترچونکي چي الحمد الله وویل لمونځ یې نه فاسدیږي البته په قصده یې باید ونه وایي او د ده په جواب کي چي یرحمک الله ووایي د هغه لمونځ فاسدیږي.

په حاشیه الطحطاوي کي راځي:

خطاب عاطس أی خطاب المصلي العاطس، وإنما قيد بالخطاب من المصلي لأنه لو قاله العاطس لنفسه لا تفسد لأنه بمنزلة قوله يرحمني الله وبه لا تفسد ظهيرية، ولو قال "الحمدلله" فمن العاطس نفسه لا تفسد وكذا من غيره....... (حاشية الطحطاوی على مراقی الفلاح:۳۲۵، باب ما يفسد الصلاة).

په امداد الفتاح کي راځي:

وتشميت عاطس بـ "يرحمك الله" عند أبی حنيفة رحمة الله عليه، وقال أبو يوسف رحمة الله عليه لاتفسد لأنه دعاء بالمغفرة والرحمة كما لو قال العاطس: الحمد لله على أصح الروايتين ...... وجه قول أبی حنيفة رحمة الله عليه ما رويناه من قوله ﷺ " إن هذه الصلاة لايصلح فيها شیء من كلام الناس الحديث. قال لقائله أي: لتشميت معاوية بن الحكم رضي الله عنه، ولأنه يجری فی مخاطبات الناس فكان من كلامهم. (امداد الفتاح:۳۶۲، فصل ما يفسد الصلاة، بيروت).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د یرحمک الله ویونکي لمونځ فاسدیږي. (احسن الفتاوی:۳/ ۴۴۱). والله ﷻ اعلم.

شافعی امام اخیره ناسته پرېښودل او پر پنځم رکعت يې سجده سهو وکړل نو دحنفي مقتدي د لمانځه حکم

سوال: يو حنفي د شافعي امام په اقتداء کي لمونځ کاوه شافعي امام پر څلورم رکعت نه کښېناستی او پر پنځم رکعت يې سجده سهو وکړه نو د حنفي مقتدي لمونځ وسو او که نه؟

الجواب: په پورتني صورت کي شافعي امام داسي عمل وکړ چي د حنفي په اند د لمانځه له مفسداتو څخه دئ لهذا د حنفي مقتدي لمونځ فاسد دوهم ځل فرض کول ضروري دي.

په شامي کي راځي:

وظاهر كلام شرح المنية أيضا حيث قال: وأما الاقتداء بالمخالف في الفروع كالشافعي فيجوزما لم يعلم منه ما يفسد الصلاة على اعتقاد المقتدى عليه الاجماع.

(شامی:۱/ ۵٦۳، في الاقتداء بالشافعي، سعيد).

په تحرير المختار کي راځي:

وإذا علم المقتدي منه ما يزعم به فساد صلاته كالفصد وغيره لا يجزيه ثم قال فحاصله أن صاحب الهداية جوز الاقتداء بالشافعي بشرط أن لايعلم المقتدى منه ما يمنع صحة صلاته في رأي المقتدي. (تقريرات الرفعي على هامش الشامي:۱/ ۷۱، سعيد).

(قوله وكذا كل مفسد) ولو ظهر أن بإمامه ما يمنع صحة الصلاة أعادها وما لو أخل بركن أو شرط كظهور أنه توضأ بماء مستعمل أو خرج منه بعد وضوئه دم أو قيح أو قيء فإن الوضوء صحيح عند الإمام مالک في جميعها باطل عندنا (قوله بطلت) فيلزم إعادتها. (طحطاوی على الدر المختار:۱/ ۲۵۳، باب الامامة).

په نور الايضاح کي راځي:

وإن سها عن القعود الأخير عاد ما لم يسجد وسجد لتأخيره فرض القعود فإن لم يعد حتى سجد سجد للزائد على الفرض صار فرضه نفلًا ...... ولا يسجد للسهو لترك القعود فی هذا الضم فی الأصح لأن النقصان بالفساد لاينجبر بالسجود. (نور الايضاح: مع مراقی الفلاح: ١٨٠، باب سجود السهو، مكة المكرمة – وكذا فی الدر المختار مع الشامی: ٢/ ٨٥، باب سجود السهو). والله ﷻ اعلم.

که مقتديي ښځي امام ته فتحه ورکړه؟

سوال: که په امام پسې ښځه ولاړه وه نو هغې امام ته فتحه ورکړه نو امام به هغه اخلي او که نه؟

الجواب: چې کله ښځه مقتديه وي او امام په لمانځه کي غلطي وکړي نو ښځه بايد تصفيق وکړي يعنى لاس دي پر لاس ووهى که يې فتحه ورکړه نو امام يې بايد وانه خلى او که يې فتحه واخيستل نو په لمانځه کي يې کوم فساد نه راځي ځکه د اصح قول مطابق د ښځي اواز ستر نه دي.

په امداد الفتاح کي راځي:

وتدفعه المرأة بالإشارة أو التصفيق بظهر أصابع يدها اليمنى على صفحة كف اليسرى لأن لهن التصفيق ولا ترفع صوتها بالقراءة والتسبيح لأنه فتنة فلا يطلب منهن التسبيح للدرء. (امداد الفتاح: ٤٠١، بيروت).

په البحر الرائق کي راځي:

وفي شرح المنية الأشبه أن صوتها ليس بعورة، وإنما يؤدي إلى الفتنة كما علل به صاحب الهداية وغيره في مسألة التلبية ولعلهن إنما منعن من رفع الصوت بالتسبيح في الصلاة لهذا المعنى، ولا يلزم من حرمة رفع صوتها بحضرة الأجانب أن يكون عورةً كما قدمناه. (البحر الرائق: ١/ ٢٧٠، باب شروط الصلاة).

په فتاوى شامي کي راځي:

(قوله وصوتها) يعني أنه ليس بعورة (قوله) على الراجح عبارة البحر عن الحلية أنه الأشبه وفي النهر وهو الذي ينبغي اعتماده. (فتاوی شامي: ۱/ ۴۰۶، مطلب في ستر العورة).

په معارف القرآن کي حضرت مفتي محمد شفيع صاحب فرمايي:

له دغه آيت او حديث څخه دومره ثابته سوه چي د ښځي اواز په ستر کي داخل نه دئ خو پر هغه هم دومره احتياطي پابندي سته او په ټولو عباداتو او احکامو کي يې لحاظ ساتل سوی دئ چي د ښځو کلام به جهري نه وي چي نارينه يې واوري که امام کومه غلطي وکړي نو مقتديان دي په ژبه فتحه ور کړي مګر ښځو ته دا ښودل سوي ده چي د خپل لاس پر شا دي بل لاس ووهي چي امام خبر سي په ژبه دي څه نه وايي. (معارف القرآن: ۷/ ۱۳۲). والله ﷻ اعلم.

د سلام په جواب کي دغه الفاظ چي (اللّٰهم اجعل السلام على من سلم علی) د ويلو څخه د لمانځه حکم

سوال: که يو چا لمونځ کونکی ته سلام وکړ د هغه په جواب کي مصلی دغه الفاظ وويل (اللّٰهم اجعل السلام على من سلم علی) نو د لمانځه حکم يې څه دئ؟

الجواب: څنګه چي دغه دعائيه جمله د جواب په ځای کي ويل سوي ده او په عرف کي د نورو په ذريعه سلام رسول کيږي لهذا احتياطاً لمونځ فاسديږي.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن عبد الله ؓ، قال: "كنا نسلم على النبي ﷺ وهو في الصلاة فيرد علينا فلما رجعنا من عند النجاشي سلمنا عليه فلم يرد علينا وقال إن في الصلاة شغلاً". (بخاری شريف: ۱/ ۱/ ۱۱۹۹، باب ماينهى من الكلام في الصلاة).

په امداد الفتاح کي راځي:

وكل شيء قصد به الجواب كـ " يا يحيى خذ الكتاب " ويفسدها جواب مستفهم عن ند الله سبحانه، أى قال قائل: هل مع الله إله آخر؟ فأجاب المصلى :بـ " لا إله إلا الله" فسدت صلاته عندهما خلاف لأبى يوسف رحمه الله ولهما أنه أخرجه مخرج الجواب وهو صالح له لأنه يستعمل فى موضعه عرفًا فيجعل جوابًا لأن الكلام يبنى على قصد المتكلم فإن من رأى رجلًا اسمه يحيى وبين يديه كتاب وقال: يا يحيى خذ الكتاب بقوة وأردا خطا به لم يشكل على أحد أنه متكلم لا قارئ. (امداد الفتاح:۳٦۲، باب ما يفسد الصلاة – وكذا فى حاشية الطحطاوى:۳۲٦، باب ما يفسد الصلاة، قديمى).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله تفسد إن قصد جوابه) ذكر في البحر أنه لو قال مثل ما قال المؤذن، إن أراد جوابه تفسد وهكذا لو لم تكن له نية لأن الظاهر أنه أراد به الإجابة، وكذلك إذا سمع اسم النبي ﷺ فصلى عليه فهذا إجابة. (شامى:۱/ ٦۲۱، باب مايفسد الصلاة، سعيد).

په تبيين الحقائق کي راځي:

ولو سمع اسم النبي ﷺ فصلى عليه تفسد . ولو سمع الأذان فأجاب وأراد به الجواب أو لم يكن له نيةتفسد لأن الظاهر أنه أراد به الجواب .

(تبيين الحقائق:۱/ ۱۵۷، باب ما يفسد الصلاة، امداديه ملتان). **همدا ډول وګورئ:**(فتاوى محموديه:٦/ ٦۳۱). والله تعالیٰ اعلم.

د استغفر الله العظیم ویلو څخه د لمانځه د فساد حکم

سوال: یو چا که په لمانځه کي د امام تر شا او یا یوازي استغفر الله العظیم ولوست د ده لمونځ وسوا و که نه؟ د خطاء او قصد تر منځ یې فرق ستهاو که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي که یې استغفر الله العظیم د جواب په قصد ووایه یا یې دیو چا د خبرولو له پاره نو لمونځ یې فاسدیږي که په قصده سره وي او که په خطاء سره وي او که یې د وسوسو د لیري کولو له پاره ووایه یا یې د ذکر له پاره وواېه نو په دواړو صورتو کي یې لمونځ نه فاسدیږي که څه هم په قصده وي.

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

أخبر بما يسوءه فاسترجع أو بما يسره فحمد الله وأراد به جوابه تفسد صلاته، وإذا أخبر بما يعجبه فقال: سبحان الله أو لا إله إلا الله أو الله أكبر إن لم يرد به الجواب لا تفسد صلاته عند الكل وإن أراد به الجواب فسدت عند أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۹۹ – وكذا في الشامي: ۱/ ۲٦۰، سعيد).

په طحطاوی علی الدر کي راځي:

ولو تعوذ لدفع الوسوسة لاتفسد مطلقًا. إذ لافرق بينها وبين الحوقلة. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۱/ ۲٦۲، فصل ما يفسد الصلاة). والله تعالی اعلم.

په خوله کي کوم شی اینبودل او لمونځ کول

سوال: که یو چا د لمانځه په حالت کي په خوله کي څه شی کښېښودئ چي لږ یا ډېر خوږ والی یې هم ستونی ته رسېدئ نو لمونځ یې کیږي او که نه؟

الجواب: په ذکر سوی صورت کي یې لمونځ فاسدیږي همدارنګه په خوله کي د څه شی د اینبودلو څو صورتونه دي:

۱_ که خوږ شی وي او خوږ والی یې نس ته رسیږي نو لمونځ فاسد وي.

۲_ که یې خوږ والی ختم سو او دی یې ژویي نو هم یې لمونځ فاسدیږي.

۳_ كه يې په خوله كې كوچنى شى وي چې د قرائت مانع نه وي نو لمونځ نه فاسد وي خو لمونځ به يې مكروه وي.

۴_ كه غټ شى وي چې له قرائت څخه مانع وي نو لمونځ يې فاسد دئ.

وګورئ په فتاوى شامي كې راځي:

(قوله أما المضغ فمفسد) أي إن كثر وتقديره بالثلاث المتواليات كما في غيره كذ في شرح المنية، وفي البحر عن المحيط وغيره: ولو مضغ العلك كثيرً أفسدت، وكذا لو كان في فيه إهليلجة فلاكها، فإن دخل في حلقه منها شيء يسير من غير أن يلوكها لا تفسد، وإن كثر ذلك فسدت (قوله كسكر) أفاد أن المفسد إما المضغ الكثير أو وصول عين المأكول إلى الجوف بخلاف الطعم، قال في البحر عن الخلاصة: ولو أكل شيئاً من الحلاوة وابتلع عينها فدخل في الصلاة فوجد حلاوتها في فيه وابتلعها لا تفسد صلاته، ولو أدخل الفانيد أو السكر في فيه ولم يمضغه لكن يصلي والحلاوة تصل إلى جوفه تفسد صلاته. (شامى:١/ ٦٢٣، باب ما يفسد الصلاة – وكذا فى الطحطاوى على مراقى الفلاح:٣٢٤، قديمى).

په فتاوى هنديه كې راځي:

ولو أدخل الفانيد أو السكر في فمه ولم يمضغه لكن يصلي والحلاوة تصل إلى جوفه تفسد صلاته كذا في الخلاصة وهو المختار . كذا في الظهيرية، ولو مضغ العلك كثيرًا فسدت .كذا في محيط السرخسي، إذا لاك الفوفلة فلم ينفصل منها شيءإن كثر ذلك فسدت من أجل أنه عملكثيروإن انفصل عنها شيءودخل حلقه فسدت ولو قل ، وأما إذا لم يلكها ودخل ريقه لم تفسد . (الفتاوى الهندية:١/ ١٠٢، الباب السابع فيما يفسد الصلاة).

په درمختار كې راځي:

وأخذ درهم ونحوه في فيه لـم يمنعه من القراءة فلو منعه تفسد. وفي الشامي: (قوله لـم يمنعه من القراءة) قـال في الـحلية: الأولى أن يقـول بحيـث يمنعـه مـن سـنة القـراءة كمـا ذكـره في الـخلاصة، حتى لو كان لا يـخل بـها لا يكره كما في البـدائع، ثـم قـول قاضيخان: ولا بأس ان يصلي وفي فيه دراهم أو دنانير لا تـمنعه عن القراءة يشير إلى أن الكراهة تنزيهية (قوله فلـو منعه) بـأن سـكت أو تلفـظ بألفـاظ لا تكـون قرآنـا، شرح الـمنية. (الـدر المختـار مـع الـشامي:١/ ٦٤١، مكروهات الصلاة، سعيد)

ووضع شيء في فمه يمنع القراءة الـمسنونة. (نور الايضاح:٩١، فصل في المكروهات).

په الفتاوی تاتار خانيه کي راځي:

ولو يصلي وفي فيه دراهم أو دنانير لايمنعه عن القـراءة، وإن منعـه لـم تـجز صـلاته، وفي موضع آخر: إن منعه عن اداء الحروف أفسد الـصلاة، وإن لـم يمنعـه عـن عـين القـراءة وإنمـا منعه عن سنة القراءة لاتفسد صلاته ولكـن يكـره لـه، وإن لـم يمنعـه شـيئًا فـلا بـأس بـه. (التاتار خانيه:١/ ٥٦٥، الفصل الرابع في بيان ما يكره للمصلي، ادارة القران).والله ﷻ اعلم.

که يې د بولو بوتل په جيب کي وو د لمانځه حکم يې

سوال: که د چا په جيب کي داسي هکۍ وي چي هغه خرابه سوی وي او وينه گرځېدلی وي او يا يې د بولو څخه ډک بوتل په جيب کي وي نو لمونځ يې سته او که نه؟

الجواب: نجاست او ناپاکی چي تر څو په خپل محل کي وي نو لمونځ نه فاسدوي خو که په خپل محل کي نه وي نو مفسد دئ، لهذا په پورتنی صورت کي که يې د بولو بوتل په جيب کي وو لمونځ يې وکړ نو لمونځ يې فاسدېږي خو که يې خرابه هکۍ په جيب کي وي لمونځ يې وکړ نو لمونځ يې کيږي ځکه نجاست په خپل محل کي دئ.

په فتاوی شامي کي راځي:

كمـا لو صلى حاملًا بيضةً مذرة صار محها دمًا جاز لأنه في معدنـه ، والـشيء مـا دام في معدنـه لا يعطى له حكم النجاسة ، بخلاف ما لـو حـمل قـارورةً مـضمومةً فيهـا بـولفلا تـجوز صـلاته لأنه في غير معدنه كمـا في البحر عن الـمحيط. (شامی:۱/ ۴۰۳، شروط الصلاة، سعيد).

په البحرالرائق کي راځي:

ونجاسـة باطنـه في معدنـه فـلا يظهـر حكمهـا كنجاسـة بـاطن الـمـصلي ولـو صـلى وفي كمـه قارورةمـضمومةفيها بولـلـم تـجز صـلاته لأنـه في غـير معدنـه ومكانـه ولـو صـلى وفي كمـه بيضةمذرةقد صار مـحها دمًا جازت لأنه في معدنـه والـشيء مـا دام في معدنـه لا يعطي لـه حكـم النجاسة الكل في الـمحيط . (البحر الرائق: ۱/ ۲۶۷، باب شروط الصلاة، كوئتة).

په فتاوی هنديه کي راځي:

إذا صلى وفي كمـه بيـضةمذرةقد حـال مـحها دمًا جـازت صـلاته وكـذا البيـضة التـي فيهـا فرخميـت. كـذا في فتـاوى قـاضي خـان، في النـصاب رجلصلى وفي كمه قارورةفيهـا بـوللا تـجوز الصلاة سواءكانت مـمتلئةً أو لـم تكن ؛ لأن هذا ليس في مظانه ومعدنه بخلاف البيضة الـمذرة ؛ لأنه في معدنه ومظانه وعليه الفتوى . كذا في الـمضمرات . (الفتاوى الهندية: ۱/ ۶۲، الفصل الثانی وطهارة ما يستر به العورة). والله ﷻ اعلم.

كه د ښځي څه ورېښتان ښكاره وي نو د لمانځه حكم يې

سوال: كه ښځي په داسي حال كي لمونځ وكړ چي يو څه ورېښتان يې ښكاره وه نو لمونځ يې كيږي او كه نه؟

الجواب: كه يې د څلورمی برخي په اندازه ورېښتان ښكاره وي نو لمونځ يې فاسديږي خو كه د څلورمی څخه لږ ښكاره وي نو لمونځ يې نه فاسديږي.

په حاشيه الطحطاوي كي راځي:

ویفسدها اداء رکن ...... وهو قدر ثلاث تسبیحات أما لو حصل الانکشاف المانع أقل من ذلک أو الانکشاف الیسیر فی الزمن الکثیر فإنه غیر مفسد (قوله مع کشف عورة) مراده به مایعم کشف ربع عضو منها فإنه مانع. (حاشیة الطحطاوی علی الدر:١/ ٢٦٦، باب ما یفسد الصلاة – وکذا فی الشامی:١/ ٤٠٨، سعید).

په فتاوی شامي کي راځي:

وللحرة ...... جمیع بدنها حتی شعرها النازل فی الأصح (قوله النازل) أی عن الرأس بأن جاوزا لأذن، وقید به إذا لاخلاف فیما علی الرأس. (شامی:١/ ٤٠٥، سعید – وکذا فی الفتاوی الهندیة:١/ ٥٨، الفصل الاول فی الطهارة وستر العورة).

په فتاوی للکنوي کي راځي:

الساق من المرأة وشعرها النازل وبطنها وفخذها کل ذلک عضو علی حدة ...... فلو انکشف منها الربع فی الصلاة لم یجزو إلا یجوز عندهما، وعند أبی یوسف رحمه الله والأکثر ما فوق النصف، وفی النصف عنه روایتان کذا فی الهدایة...... لاتفسد الصلاة بانکشاف القلیل من العورة، وإن طال إلی أداء رکن ...... (فتاوی اللکنوی:٢٤٥-٢٤٨، التشریح الثانی فی ستر العورة، دار ابن حزم).

په احسن الفتاوی کي راځي:

قاعده دا ده که په سهو سره د اندام څلورمه د درې ځله سبحان الله ویلو تر وخته ښکاره وه نو لمونځ فاسدیږي او که په قصده او یا سهوېږي د اندام د څلورمې څخه کمه برخه ښکاره سوه که د درې ځله تسبیح څخه کمه او یا زیاته وي په هر حال لمونځ نه فاسدوي. (احسن الفتاوی:٣/ ٤٠٢، باب مفسدات الصلاة او امداد الفتاح:١/ ٢٨٩). والله تعالیٰ اعلم.

كه ښځه او نارينه په لمانځه كي يو بل مچ كړي نو د لمانځه د فساد حكم يې

سوال: د فقهې په عامو كتابونو كي دا مسئله ليكلې ده چي كه چيري نارينه په لمانځه كي وي او ښځه يې مچ كړي نو د نارينه لمونځ نه فاسديږي او كه ښځه پر لمانځه وي او نارينه يې مچ كړي نو د ښځي لمونځ فاسديږي كه دا مسئله صحيح وي نو د دواړو د فرق وجه څه ده؟

الجواب: په دغه مسئله كي محقق ابن همام رحمه الله فرمايي:

(والله اعلم بوجه الفرق) يعنى د دواړو تر منځ فرق يې الله ﷻ ته معلوم دئ.

علامه عبدالحى لكهنوى رحمه الله فرمايي:

چي د قياس تقاضا خو دا وه چي د دواړو لمونځ دي فاسد نه سي خو د ښځي لمونځ له دې امله فاسديږي چي د نارينه مچه اخيستل د دې له پاره د جماع په حكم كي ده ځكه ښځه خو دوړاندي څخه تياره ده پر خلاف د ښځي د مچي اخيستلو دوهمه وجه يې دا ذكر كړي ده چي په عامه توګه د ښځي شهوت د نارينه په نسبت زيات وي نو كله يې نارينه مچ كړي نو د ښځي شهوت به هم وي ځكه يې نو لمونځ فاسديږي، مګر دا چي د نارينه مچه اخيستل دي لمونځ فاسد كړي دا وجه بنده ته نه معلوميږي لكه چي محقق ابن همام رحمه الله فرمايي:

زما په اند د شرح زاهدي قول ښه دئ چي د دواړو له مچولو څخه لمونځ نه فاسديږي همدارنګه دا چي پر ښځه شهوت غالب وي دا خبره عقلاً نقلاً قياس او تجربه هر لحاظ سره درسته نه ده او دا چي مچول د جماع په معنى دي دا هم د احنافو له اصولو څخه خلاف ده ځكه احناف مچه اخيستل د اوداسه ماتونكى نه ګڼي معلوم سو چي مچول د جماع په معنى نه ده.

وګورئ په فتاوى لكهنوى كي ليكي:

قلت: لعل وجه الفرق هو أن القياس أن لاتفسد في الصورتين لأن فعل غير لايفسد صلاة المصلى.

أما ترى إلى أنه لو أخذ رجل ثياب المصلى أو وضع اليد على بدنه لايفسد لكن إنما يفسد بسبب كونه فى معنى الجماع، وهو فعل الرجل فلما قبل المصلية كأنه وجد الجماع فتفسد صلاتها، بخلاف ما لو قبلته ولم توجد الشهوة من قبله.

ووجه آخر أن الشهوة على النساء غالبة فلما قبلها فكأنها وجدت الشهوة من جانبها أيضًا فتفسد صلاتها بهذا السبب، بخلاف ما لو قبلته ولم توجد الشهوة فيه. والله أعلم. (فتاوى اللكهنوى: ٢٨٦، ما يتعلق بها يفسد الصلاة ومايكره فيها، دار ابن حزم).

په فتح القدير کي راځي:

ولو مس المصلية بشهوة أو قبلها ولو بغير شهوة تفسد، ولو قبلت المصلي ولم يشتهها لم تفسد. كذا في الخلاصة، والله أعلم بوجه الفرق. (فتح القدير: ١/ ٤٠٤، باب ما يفسد الصلاة ومايكره فيها، دار الفكر).

هغه کسان چي په نه فساد يې قائل دي د هغو اقوال وګورئ:

په الجوهرة النيرة کي راځي:

وإن قبلت المصلى امرأته ولم يقبلها هو لاتفسد صلاته ...... وكذا لو كانت هى تصلى فقبلها لاتفسد صلاته. (الجوهرة النيرة: ٧٧، مكتبة امدايه).

په البحر الرائق کي راځي:

وأما قولهم كما في الخانية والخلاصة لو كانت المرأة هي المصلية دونه فقبلها فسدت بشهوة أو بغير شهوة ولو كان هو المصلي فقبلته ولم يشتهها فصلاته تامةفمشكلإذ ليس من المصلي فعلفي الصورتين فمقتضاه عدم الفساد فيهما في شرح الزاهدي ولو قبل المصلية لا

تفسد صلاتها. (البحر الرائق: ۲/ ۱۲، باب ما یفسد الصلاة، الماجدیة – وکذا فی الشامی: ۱/ ۶۲۹، مطلب فی المشی فی الصلاة، سعید).

په طحطاوي کي راځي:

ورده فی الفتح حیث قال والله أعلم بوجه الفرق وذلک لأنه لاصنع للمصلی فی الوجهین فمقتضاه عدم الفساد فیهما ...... والذی فی شرح الزاهدی التسویة فی عدم الفساد بالتقبیل.

(حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار: ۱/ ۲۶۶، مایفسد الصلاة). والله ﷻ اعلم.

په لمانځه کي په غیر عربی او کلام الناس سره مشابه دعاء کولو حکم

سوال: یوه ښځه چي کله لمونځ کوي نو په سجده او یا ناسته کي په انګریزي داسي دعاء کوي اې الله زما د خاوند او کوچنیانو حفاظت وکړي د دغه ښځي لمونځ فاسد دئ او که نه؟

الجواب: په لمانځه کي په غیر عربی دعاء کول مکروه تحریمی ده بیا نو هغه دعاء چي د خلکو د دعاء سره مشابه وي هغه لمونځ فاسد وي لهذا په دغه صورت کي د ښځي لمونځ فاسد دئ باید راوي ګرځوي.

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

إذا قرأ القرآن فی الصلاة بالفارسیة عند أبی حنیفة رحمه الله علیه یجوز وإن کان یحسن العربیة لایجوز وتفسد صلاته کذا ذکر شمس الأئمة الحلوانی رحمه الله علیه وعلی هذا الخلاف جمیع أذکار الصلاة من التشهد والقنوت والدعاء وتسبیحات الرکوع والسجود فإن قال بالفارسیة "یا رب بیا مر زمرا" (اې الله ما ته بخښنه وکړي) إذا کان یحسن العربیة تفسد صلاته وکذا کل ما لیس بعربیة کالترکیة والزنجیه والحبشیة والنبطیة. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة: ۱/ ۸۶، باب افتتاح الصلاة، بلوچستان).

په امداد الفتاح کي راځي:

و يفسدها الدعاء بما يشبه كلامنا نحو : اللّٰهم ألبسني ثوب كذا أو أطعمني كذا أو ارزقني امرأة ...... وذكر في البحر عن المرغيناني ضابطا فقال الحاصل أنه إذا دعا في الصلاة بما جاء في القرآن أو في المأثور لا تفسد صلاته وإن لم يكن في القرآن أو المأثور فإن استحال طلبه من العباد لا يفسد وإلا أفسد . (امداد الفتاح:۳۵۸، ما يفسد الصلاة).

په فتاوی شامي کي راځي:

لكن المنقول عندنا الكراهة ؛ فقد قال في غرر الأفكار شرح درر البحار في هذا المحل : وكره الدعاء بالعجمية ، لأن عمر ﷺ نهى عن رطانة الأعاجم .... وقدم أول الفصل أن الإمام رجع إلى قولهما بعدم جواز الصلاة بالقراءة بالفارسية إلا عند العجز وأما صحة الشروع بالفارسية وكذا جميع أذكار الصلاة فهي على الخلاف ؛ فعنده تصح الصلاة بها مطلقًا خلافًا لهما كما حققه الشارح هناك ...... ولا يبعد أن يكون الدعاء بالفارسية مكروهًا تحريمًا في الصلاة. (شامی:۱/ ۵۲۱، الدعاء بغير العربية، سيعد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په لمانځه کي په غير عربی ژبه دعاء کولو په هکله دري اقوال دي حرام، مکروه تحريمی، مکروه تنزيهي د کراهيت تحريمی قول راجح او اوسط دئ لهذا د لمانځه راګرځول واجب دي. (احسن الفتاوی:۳/ ۴۳۲). والله ﷻ اعلم.

په لاوډ اسپيکر کي جهري لمونځ کول

سوال: ځينی کسان په لاوډ اسپيکر کي جهري لمونځ ناروا او يا مشکوک ګرځوئ ايا د اسپيکر استعمال درست دئ او که نه او په دغه کي چي د تعليم من الغير شبه راځي د هغه حقيقت څه دئ؟

الجواب: په جديد فقهی مسائل کي راځي:

د اسپيکر په ذريعه لمونځ درست دئ او که نه؟

په پیل کي په دغه مسئله کي دِ علماوو اختلاف وو د ځینې کسانو رایې دا وه چي د اسپیکر اواز په خپله د امام اواز نه دئ بلکي د هغه ازانکه ده په دې ډول به د مقتدیانو نقل او حرکت د امام پر ځای پر یوه بل اواز بناوي او د اخبره روا نه ده چي مقتدیان دي د امام پر ځای د کوم بل چا پر اواز نقل او حرکت وکړي، د دې په مقابل کي د څه کسانو خیال دا وو چي د دې سره سره د اسپیکر استعمال صحیح دئ او په شریعت کي یې نظیر موجود دئ چي د لمانځه څخه د دباندي کس په ښودنه یې نقل او حرکت کړی دئ لکه څنګه چي یو وخت د بیت المقدس پر ځای کعبه قبله وګرځېده او د مدینې په اطرافو کي په ځینو مساجدو کي خلکو د بیت المقدس په طرف لمونځ کاوه، د قبلې د بدلون خبره د یو صحابي په ذریعه ورکول سو نو ټولو خپل رخ بدل کړ ښکاره خبره ده چي دغه نقل او حرکت د یو داسي چا په اواز سره وسو چي د لمانځه څخه دباندي وو اوس دا خبره تحقیق ته رسېدلې ده چي د اسپیکر اواز د امام نقل نه دئ بلکي بعینه د هغه اواز دئ چي د ده د ژبې څخه وزي دارنګه اوس د اسپیکر څخه د لمانځه او امامت پر جواز د علماوو اتفاق راغلی دئ.

ځینې علماء یې په استعمال کي یو ډول کراهت ګڼي او په یو ناچاره ضرورت کي یې استعمال درست ګڼي دلیل یې دا دئ چي فقهاوو بېله ضرورته د امام اواز ته تقویه ورکونکي مکبرین درول مکروه ګڼلي دئ لهذا همدغه حکم به د اسپیکر هم وي مګر دغه استدلال د فکر وړ دئ د مکبرینو اواز په خپله د امام اواز نه دي حال دا چي د اسپیکر اواز بعینه د امام اواز دئ او دا خبره ثابته سوي ده ځکه نو دوارو ته یوه درجه نه ورکول کېږي، البته دا ضرور ده چي اسپیکر د ضرورت په اندازه دا ډول استعمال سي چي اواز یې په مناسبو حدودو کي او په مسجد کي پاته سي او له مسجد څخه دباندي چي کوم کسان په خپلو کارونو کي مصروف دي هغو ته ور ونه رسېږي ځکه بیا به د قرآن کریم لوري ته بې توجهي راسي چي له دې څخه د قرآن کریم د اهانت ببره ده. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۱۳۴).

همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی: ۴/ ۶۴ / فتاوي حقانیه: ۳/ ۲۲۰ – امداد الفتاوی: ۱/ ۶۰۵- ۶۰۸، – کفایت المفتی: ۷/ ۲۰۶).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (آلات جدیده کی شرعی احکام: ص ۳۵، ۶۵). والله ﷻ اعلم.

په اسپیکر کي د لمانځه کولو زیات تحقیق

سوال: ځینی کسان په لاوډ اسپیکر کي جهري لمونځ ناروا او یا مشکوک ګرځوئ ایا د اسپیکر استعمال درست دئ او که نه او په دغه کي چي د تعلیم من الغیر شبه راځي د هغه حقیقت څه دئ؟

الجواب: په اسپیکر سره لمونځ کول بېله شکه روا دئ هغه مشکوک ګڼل درست نه دئ دلائل یې په لاندي ډول دئ:

بوب الإمام البخاري رحمه الله " في العمل في الصلاة" باب إذا قيل للمصلى تقدم وانتظر فانتظر فلابأس به. (بخاري شريف:١/ ١٦٢).

که لمونځ کونکی د کوم داسي چا خبره قبوله کړه چي د لمانځه څخه دباندي وو نو لمونځ یې نه فاسدېږي د خارج الصلاة خبره قبلول د دې مسئلي اهمیت په اسپیکر کي د لمانځه کولو په مسئله کي ښکاره کیږي،.

د ځینو علماوو وینا ده چي په اسپیکر کي لمونځ نه کیږي او یا مشکوک وي وجه یې دا ده چي مقتدی ته رسېدونکی اواز په حقیقت کي د امام اواز نه دئ بلکې اسپیکر د امام اواز جذب کوي مقتدی ته یې رسوي مقتدی د هغه په اتباع کي انتقالات کوي نو ګویا که د خارج الصلاة په اتباع کي انتقالات ومونډل سوه لهذا لمونځ یې درست نه دئ.

د اکثره مفتیانو او علماء کرامو په اند په اسپیکر کي لمونځ کیږي د لمانځه د صحت دلائل یې په لاندي ډول دي:

۱_ د سائنس محققین علماء وایي، چي مقتدی ته رسېدونکی اواز د امام اواز دئ د اسپیکر نه دئ لهذا د خارج الصلاة د اواز په اتباع کي انتقالات نه دي نو لمونځ به هم فاسد نه وي.

۲_ بالفرض که دا د امام اواز نه وي د اسپیکر اواز وي بیا هم نه فاسدیږي ځکه اسپیکر غیر عاقل دئ او د خارج الصلاة اتباع هغه وخت مفسد ده چي کله عاقل وي د غیر عاقل اتباع مفسده نه ده د دې مثال د صوت الصدي دئ په مخکي زمانه کي به امام په ګنبده کي لمونځ ورکاوه د امام اواز په ګنبده کي ازانګه کاوه او مقتدیانو ته به رسېدئ او پر همدغه اواز به مقتدیانو انتقال کاوه نو په دغه کي هم د خارج الصلاة اتباع راځئ مګر لمونځ ورباندي نه فاسدیږي.

حضرت مفتي اعظم پاکستان مفتي محمد شفيع صاحب په اسپيکر کي د لمانځه په هکله عدم فساد راجح ګرځوي او ليکي:

خلاصه دا ده چي د سائنس له تحقيقاتو څخه که نظر قطع کړو دغه اواز د امام اصلی اواز و نه مثل سي بلکي د اذانګه په شان وي بيا هم په خپله په مقيس عليه کي د لمانځه د فساد حکم له فقهاوو څخه ثابت نه دئ بلکي که د امام اواز مقتدی ته د اذانګه په ذريعه ورسيږي او مقتدی ورباندي نقل او حرکت وکړئ په هغه کي هم د فساد کومه وجه نه سته بيا نو پر دغه مکبر الصوت قياسول به څنګه د لمانځه د فساد سبب وګرځي. (آلات جديده: صـ ٦٥).

فقيه العصر مفتي رشيد احمد لدهيانوي په دغه مسئله کي عدم فساد راجح ګڼلی دئ د تفصيل له پاره وګورئ: (احسن الفتاوی:٣/ ٣٤٠، رساله امام الکلام فی تبليغ صوت الإمام).

که بالفرض دا ومنل سي چي د خارج الصلاة اتباع مفسده ده که عاقل وي او که غير عاقل وي نو دا به هغه وخت مفسده وي چي د هغه له اتباع څخه د الله د امر امتثال مقصود نه وي که د الله د امر امتثال مقصد وي نو مفسده نه ده او په دغه مسئله کي د امام انتقالات تر مقتديانو پوري رسول مقصود دي لهذا لمونځ به يې فاسد نه وي که مصلی د خارج الصلاة تلقين قبول کړي نو لمونځ يې نه فاسديږي د دې له پاره شواهد په لاندي ډول وګورئ:

١ـ د قبلي د بدليدو پر موقع يوه صحابی خبر ورکړ او ټولو لمونځ کونکو هغه خبر قبول کړ او د لمانځه په دوران کي يې و بيت الله لوري ته مخ کړ.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

أخرج البخاری عن البراء ﷺ فی قصة تحويل القبلة وكان يعجبه أن تكون قبلته قبل البيت، وأنه صلى أول صلاة صلاها صلاة العصر وصلى معه قومفخرج رجلمـمن صلى معه فمر على أهل مسجد وهم راكعون ، فقال : أشهد بالله لقد صليت مع رسول الله ﷺ قبل البيت. (صحيح البخاری:١/ ١٠، ١١).

۲_ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي، موږ د حضور ﷺ د لمانځه ختم کېدل د تکبير په ذريعه محسوسول.

أخرج مسلم عن ابن عباس رضي الله عنهما قال كنا نعرف انقضاء صلاة رسول الله ﷺ بالتكبير.

(صحيح مسلم:۱/ ۲۱۷، الذكر بعد الصلاة).

وروي عنه البخاري أيضا: كنت أعرف انقضاء صلاة رسول الله ﷺ بالتكبير. (صحيح البخاري:۱/ ۱۱۹).

۳_ حضور ﷺ د فتح مکي پر موقع امامت وکړ له دوو رکعتونو څخه وروسته يې اعلان وکړ چي خپل لمونځ پوره کړي موږ مسافريو او مقيمانو د لمانځه په وخت کي اعلان واوريدي او لمونځ يې پوره کړ. وګورئ.

أخرج البيهقي في سننه الكبرى: قال عليه الصلاة والسلام لأهل مكة حين أمهم بها: "أتموا صلاتكم فإنا قوم سفر". (السنن الكبرى للبيهقي:۳/ ۱۳۶ - وأبو داؤد:۱/ ۱۷۳).

همدا ډول فقهاؤ هم دا مسئله بيان کړي ده:

قال في الدر: وندب للإمام ...... أن يقول بعد التسليمتن في الأصح: أتموا صلاتكم فإني مسافر لدفع توهم أنه سها. (الدر المختار:۲/ ۱۳۰، سعيد).

۴_ د مقتدي په وينا امام قرائت اوږده وي چي په آمين کي شريک سي په دغه کي يې هم د خارج الصلاة اثر قبول کړ.

وذكر البخاري في باب جهر الإمام بالتأمين: وكان أبو هريرة رضي الله عنه ينادي الإمام لاتفتني بآمين...... (بخاري شريف:۱/ ۱۰۷).

وقال العيني في شرح البخاري:

وروى البيهقي من حديث أبي رافع أن أبا هريرة رضي الله عنه كان يؤذن لمروان بن الحكم فاشترط ان لا يسبقه بالضالين حتى يعلم أنه قد دخل الصف فكان إذا قال مروان ولا الضالين قال أبو هريرة رضي الله عنه آمين يمد بها صوته وقال: إذا وافق تأمين أهل الأرض تأمين أهل السماء غفر لهم. (عمدة القاري:٤/ ٤٩٨، دار الحديث، ملتان).

۵_ دلمانځه دخسوف په وخت کي حضرت عائشي رضي الله عنها حضرت اسماء رضي الله عنها ته په لمانځه کي په اشاره جواب ورکړ. وګورئ:

روى البخاري رحمه الله في أبواب الوضوء والخسوف من حديث عن أسماء بنت أبي بكر رضي الله عنهما قالت: أتيت عائشة رضي الله عنها زوج النبي صلى الله عليه وسلم حين خسفت الشمس فإذا الناس قيام يصلون فإذا هي قائمة تصلي فقلت للناس؟ فأشارت بيدها إلى السماء وقالت سبحان الله فقلت آية؟ فأشارت أي نعم. (صحيح البخاري:١/ ٣٠، ١٤٤).

٦_ يو ځل عبد الرحمن بن عوف امامت ورکړ چي کله ده مبارک صلى الله عليه وسلم تشريف راوړ نو هغه د غوښته چي تر شا سي ده مبارک صلى الله عليه وسلم په اشاره سره منع کړ او لمونځ يې پوره کړ. وګورئ:

أخرج مسلم برواية المغيرة بن شعبة رضي الله عنه فانتهينا إلى القوم وقد قاموا فى الصلاة يصلى بهم عبد الرحمن بن عوف وقد ركع بهم ركعةً فلما أحس بالنبى صلى الله عليه وسلم ذهب يتأخر فأومأ إليه فصلى بهم فلما سلم قام النبى صلى الله عليه وسلم وقمت فركعنا الركعة التى سبقتنا. (مسلم شريف:١/ ١٣٤).

٧_ صحابه وو د حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه په اقتداء کي لمونځ وکړ او حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه د حضور صلى الله عليه وسلم په اقتداء کاوه نو صحابه وو د غير امام اقتداء وکړه بيا يې لمونځ فاسد نه سو همدارنګه کوم کسان چي د مکبر په اواز انتقالات کوي هغه ټول د غير امام په تکبير انتقالات کوي.

وګورئ:

بوب الإمام البخاری رحمہ اللہ باب الرجل یأتم بالإمام ویأتم الناس بالمأموم. ویذکر فیه حدیث عائشة رضی اللہ عنہا الطویل وفیه:

فکان أبو بکر یصلي قائمًا، وکان رسول الله صلی الله ﷺ یصلي قاعدًا یقتدي أبو بکر رضی اللہ عنہ بصلاة رسول الله ﷺ والناس مقتدون بصلاة أبي بکر رضی اللہ عنہ. (صحیح البخاری:۱/ ۹۹).

۸_ کله به نبي کریم ﷺ د کوچني اواز واورېدئ لمونځ به یې مختصر کړي. وګورئ:

وفی الصحیح الإمام البخاری رحمہ اللہ عن أنس رضی اللہ عنہ أن النبي ﷺ قال: إني لأدخل في الصلاة وأنا أرید إطالتها فأسمع بکاء الصبي فأتجوز في صلاتي مما أعلم من شدة وجد أمه من بکائه. (صحیح البخاری:۱/ ۹۸).

وذکر ابن أبی شیبة عن ابن سابط: دن رسول الله قرأ فی الرکعة الأولی بسورة نحوا من ستین آیة فسمع بکاء الصبی قال: فقرأ فی الثانیة بثلاث آیات. (مصنف ابن أبی شیبة:۳/ ۴۷۱۴/ ۵۰۴، المجلس العلمی – ومصنف عبد الرزاق:۲/ ۳۶۵، ادارة القرآن).

قال الشیخ محمد عوامة: الحدیث مرسل ورجاله ثقات.

۹_ یو ځل دیوې ښځې په پوښتنه نبي کریم ﷺ په اشاره سره جواب وفرمایه. وګورئ:

أخرج مسلم بسنده عن کریب مولی ابن عباس رضی اللہ عنہ أن عبد الله بن عباس رضی اللہ عنہ وعبد الرحمن بن أزهر والمسور بن مخرمة أرسلوه إلی عائشة رضی اللہ عنہا زوج النبی ﷺ فقالوا اقرأ علیها السلام منا جمیعًا وسلها عن الرکعتین بعد العصر وقل إنا أخبرنا أنك تصلینهما وقد بلغنا أن رسول الله ﷺ نهی عنهما، قال ابن عباس رضی اللہ عنہ وکنت أصرف مع عمر بن الخطاب رضی اللہ عنہ الناس عنها. قال وبلغتها ما أرسلونی به فقالت: سل أم سلمة رضی اللہ عنہا. فخرجت إلیهم

فأخبرتهم بقولها فردونی إلی أم سلمة رضی الله عنها بمثل ما أرسلونی به إلی عائشة رضی الله عنها. فقالت أم سلمة رضی الله عنها سمعت رسول الله ﷺ ینهی عنهما ثم رأیته یصلیهما أما حین صلاهما فإنه صلی العصر ثم دخل وعندی نسوة من بنی حرام من الأنصار فصلاهما فأرسلت إلیه الجاریة فقلت: قومی بجنبه فقولی له: تقول أم سلمة رضی الله عنها یا رسول الله إنی أسمعك تنهی عن هاتین الرکعتین وأراك تصلیهما فإن أشار بیده فاستأخری عنه، قالت: ففعلت الجاریة فأشار بیده فاستأخرت عنه فلما انصرف قال: "یا بنت أبی أمیة سألت عن الرکعتین بعد العصر إنه أتانی ناس من عبد القیس بالإسلام من قومهم فشغلونی عن الرکعتین اللتین بعد الظهر فهما هاتان".

(مسلم شریف: ۱/ ۲۷۷).

همدا ډول د فقهاوو په کلام کې راځي چې که لمونځ کونکی په اشاره سره جواب ورکړیا یې د خارج الصلاة خبره قبوله کړه نو لمونځ یې نه فاسدیږي وګورئ څو مثالونه یې په لاندې ډول دي:

۱_ که لمونځ کونکی په اشاره سره د سلام جواب ورکړ نو لمونځ یې نه فاسیږي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

قال فی الدر: ورد السلام ولو سهوًا بلسانه لا بیده بل یکره.

وقال الشامی رحمه الله لا بیده أی لا یفسدها رد السلام بیده. (شامی مع الدر المختار: ۱/ ۶۱۶).

۲_ که د لمونځ کونکی څخه پوښتنه وسوه چې دا پیسې کوټه دي او که سمې دي ده په اشاره جواب ورکړ نو لمونځ یې نه فاسدیږي.

وګورئ د منیة المصلی په شرح کې راځي:

ولورد المصلی السلام بیده أو طلب منه شیء فأومأ برأسه أو عینیه أو حاجبه أی قال نعم أو لا لاتفسد بذلک وکذا لو أراه إنسان درهمًا وقال أجید هو؟ فأومأ بنعم أو لا لعدم العمل الکثیر. (شرح منیة المصلی:٤٤٥، سهیل اکیدمی).

۳_ که د لمونځ کونکی څخه د رکعتونو د تعداد په هکله پوښتنه وسي او دی په ګوتو جواب ورکړي نو لمونځ یې نه فاسدیږي.

وفی شرح المنیة:

وروی عن أبی بکر أنه أجاب فیمن أی فی مسئلة من قال له أی للمصلی کم صلیتم؟ فأشار المصلی بیده أی بإصبعین منها إلی أنهم صلوا رکعتین وبثلاث إلی أنهم صلوا ثلاثاً ونحو ذلک، لاتفسد صلاته. (شرح منیة المصلی:٤٤، سهیل).

۴_ که کوم څوک د شا په صف کي یوازي وي او ده د مخ له صف څخه یو څوک راکش کړ او د مخ صف والا د ده په لاربښوونه پر شا سو نو د راجح قول مطابق یې لمونځ نه فاسدیږي.

۵_ که یو چا لمونځ کاوه او یو بل څوک راغی لمونځ کونکی ته یې وویل چي مخته سه د دغه په لاربښونه لمونځ کونکی مخته ولاړي نو لمونځ یې نه فاسدیږي.

۶_ که څوک په صف کي داخل سو او لمونځ کونکی ورته ځای ورکړئ نو علامه شامي په دغه صورت کي هم دا خبره راجح ګڼلی ده چي لمونځ یې نه فاسدیږي که لمونځ کونکي د ده په وینا دا کار کړي وي او یا یې بیله د ده د وینا کړی وي په هر صورت کي یې لمونځ نه فاسدیږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولو وجد فرجة في الأول لا الثاني له خرق الثاني لتقصیرهم، وفي الحدیث " من سد فرجة غفر له" وصح " خیارکم ألینکم مناکب في لصلاة " وبهذا یعلم جهل من یستمسك عند

دخول داخل بجنبه في الصف ويظن أنه رياء كما بسط في البحر، لكن نقل المصنف وغيره عن القنية وغيرها ما يخالفه ثم نقل تصحيح عدم الفساد في مسألة من جذب من الصف فتأخر.

قال ابن عابدين رحمه الله:

كما بسط في البحر أي نقلًا عن فتح القدير قال ويظن أن فسحه له رياء بسبب أن يتحرك لأجله بل ذاك إعانة على إدراك الفضيلة وإقامة لسد الفرجات المأمور بها فى الصف والأحاديث فى هذا شهرة كثيرة.

(لكن نقل المصنف وغيره الخ) استدراك على ما استنبطه في البحر والفتح من الحديث بأنه مخالف للمنقول في المسألة، وعبارة المصنف في المنح بعد أن ذكر: لو جذبه آخر فتأخر الأصح لا تفسد صلاته، وفي القنية: قيل لمصل منفرد تقدم فتقدم بأمره أو دخل رجل فرجة الصف فتقدم المصلي حتى وسع المكان عليه فسدت صلاته وينبغي أن يمكث ساعة ثم يتقدم برأي نفسه، وعلله في شرح القدوري بأنه امتثال لغير أمر الله تعالى أقول: ما تقدم من تصحيح صلاة من تأخر ربما يفيد تصحيح عدم الفساد في مسئلة القنية، لأنه مع تأخره بجذبه لا تفسد صلاته ولم يفصل بين كون ذلك بأمره أم لا...... هذا وقد ذكر الشرنبلالي في شرح الوهبانية ما مر عن القنية وشروح القدوري ثم رده بأن امتثاله إنما هو لأمر رسول الله ﷺ فلا يضر.

(شامى:١/ ٥٧١).

وفى مفسدات الصلاة من الدر:

أودخل فرجة الصف فوسع له فسدت ...... وقال ابن عابدين: المعتمد فيه عدم الفساد.

(شامى:١/ ٦٢٢).

۷_ که امام د راتلونکی کس د لحاظ له پاره رکوع اوږده کړه که په دغه نیت وي چې دی به په رکوع کې شامل سي نو دغه به د اعانت علی الطاعة له امله روا وي او په دغه سره لمونځ نه فاسدیږي، حال دا چې امام د خارج الصلاة لحاظ کړي وي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

وکره تحريما إطالة الركوع والقراءة لإدراک الجائی أی إن عرفه وإلا فلا بأس به ولو أراد التقرب إلى الله تعالى لم يكره اتفاقًا.

قال الشامي رحمه الله: ولو أراد التقرب إلى الله تعالى أي خاصة من غير أن يتخالج قلبه بشيء سوى التقرب حتى ولا الإعانة على إدراك الركعة ...... أقول: قصد الإعانة على إدراك الركعة مطلوب فقد شرعت إطالة الركعة الأولى في الفجر اتفاقاً وكذا في غيره على الخلاف إعانة للناس على إدراكها...... (شامی:۱/ ۴۹۵).

د پورتینو احادیثو او فقهی عبارتونو په رڼا کې دا خبره واضح کیږي چې که لمونځ کونکی د خارج الصلاة ښوونه قبوله کړي نو لمونځ یې نه فاسدیږي لهذا اسپیکر خارج الصلاة دئ چې د امام اواز مقتدیانو ته د رسولو ذریعه ده نو په هغه سره په لمانځه کولو کې څه حرج نه سته او نه د فساد کومه وجه سته همدارنګه په پخوا اوختو کې اسپیکر په منځ کې خرابیدئ خو نن سبا اسپیکر ډېر ښه وي اکثره نه خرابیږي. والله ﷻ اعلم.

دوهم فصل

د لمانځه د مکروهاتو بیان

که د ټلیفون زنګ راسي نو په لږ عمل سره یې بندول

سوال: که په لمانځه کې ټلیفون زنګ ووهي نو په لږ عمل سره یې بندولای سي او که نه؟

الجواب: د لمانځه په وخت کې که زنګ راسي نو په لږ عمل یې بندول روا دي یعنې یو لاس دې په جیب کې واچوي او هغه دې بند کړي لمونځ یې نه فاسدیږي، البته لمونځ به یې مکروه وي د لمونځ

ځکه چې له پاره ضروري ده چې د لمانځه د شروع کولو څخه مخکې یې خاموش کړي یا یې بند کړي او دغه ته باید خاصه توجه وکړي او که یې یو وخت هېر سي او په لمانځه کې زنګ واسي نو فوراً یې باید په لږ عمل سره بند کړي ځکه د زنګ اواز د نورو لمونځ کونکو له پاره د سختی ناخوښي لامل ګرځي او په خپله د خپل لمانځه له پاره هم د خلل باعث دئ.

په حدیث شریف کې راځي چې یو ځل نبي کریم ﷺ لمونځ ورکاوه چې د یوه کوچنی دژړا اواز یې واورېدئ نو ده مبارک ﷺ لمونځ مختصر کړ چې مور یې پرېشانه نه سي معلومه سوه چې څنګه چې کوچنی ژاړي او د هغه خاموشول مشکل وي نو ده مبارک ﷺ یې خیال وکړ همدا ډول چې ټلیفون کله اواز شروع کړي نو د هغه بندول به په درجه اولی درست وي ځکه ټلیفون هم د کوچنی په شان دئ ژر نه خاموشه کیږي او د لمونځ کونکو د تشویش لامل ګرځي.

وګورئ په بخاري شریف کې راځي:

عن أبي قتادة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ قال: إني لأقوم في الصلاة أريد أن أطول فيها فأسمع بكاء الصبي فأتجوز في صلاتي كراهية أن أشق على أمه. وفي رواية: قال أنس رضي الله عنه: فيخفف مخافة أن تفتن أمه. وفي رواية: فأتجوز في صلاتي مما أعلم من شدة وجد أمه من بكائه. وفي رواية: كراهية أن أشق على أمه. (بخاری شریف: ۱/ ۹۸، باب أخف الصلاة عند بكاء الصبي).

وګورئ په امداد الفتاح کې راځي:

والثاني: أن ما يقام باليدين عادة كثير...... ويقام بيد واحدة قليل...... وفي مكروهات الصلوة .... ويكره العمل القليل. (امداد الفتاح: ۳۵۹-۳۸۳، بیروت).

په فتاوی هندیه کې راځي:

العمل الكثير يفسد الصلاة والقليل لا، كذا في محيط السرخسي وكل ما يقام بيد واحد فهو يسير ما لم يتكرر كذا في فتاوى قاضي خان أنه لو نظر إليه ناظر من بعيد إن كان لا يشك أنه في غير الصلاة فهو كثير مفسد وإن شك فليس بمفسد وهذا هو الأصح. كما في التبيين وهو

أحسن . كذا في محيط السرخسي وهو اختيار العامة كذا في فتاوى قاضي خان والخلاصة و إن تقلد سيفًا أو نزعه لا تفسد صلاته. (الفتاوى الهندية:١/ ١٠١، الباب السابع فيما يفسد الصلاة وما يكره فيها).

په ندايي شاهي کي ليکي:

په لمانځه کي د موبائل بندول ضروري دي د لمانځه د پيل څخه مخکي دي د موبائل زنګ بند کړي او د هغه له پاره دي د فکر کولو عادت جوړ کړي خو که يې اتفاقاً زنګ بندول هېر سوه او د لمانځه په وخت کي يې اواز وکړ نو د عمل قليل په ذريعه دي په يوه لاس سره بند کړي.

(ماهنامه،ص:١٤، نداى شاهى مراد آباد دسمبر ٢٠٠٦). والله ﷻ اعلم.

که کوټ يوازي پر اوږو واچوي نو د لمانځه حکم

سوال: **که لمونځ کونکی کوټ پر اوږو واچوي او لستوڼي يې په لاس نه کړي نو په لمانځه کي يې نقصان او خرابي راځي او که نه؟**

الجواب: **په لمانځه کي دا ډول کوټ پر اوږو اچول او لاس په لستوڼي کي نه داخلول سدل يعنی د جامي د ځړولو په حکم کي دي لهذا په دغه صورت کي يې لمونځ مکروه دئ.**

وګورئ په هدايه کي راځي:

ولا يسدل ثوبه لأنه عليه الصلاة والسلام نهى عن السدل وهو أن يجعل ثوبه على رأسه وكتفيه ثم يرسل أطرافه من جوانبه. وفى فتح القدير: (قوله لأنه عليه الصلاة والسلام نهى عن السدل) عن أبى هريرة رضي الله عنه أنه ﷺ " نهى عن السدل فى الصلاة وأن يغطى الرجل فاه" (أخرجه أبو داؤد والحاكم وصححه) (قوله وهو أن يضع الخ) ويصدق أيضًا على لبس القباء من غير ادخال اليدين كميه. وقد صرح بالكراهة فيه. (فتح القدير مع الهداية:١/ ٤١٢، فصل ويكره المصلى، دار الفكر – وكذا فى البحر الرائق:١/ ٢٤، كوئتة).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ومن السدل أن يجعل القباء على كتفيه ولـم يدخل يديه في الكمين، قالوا: ومن صلى في قباء ينبغي أن يدخل يديه في كميه ويشده بالـمنطقة مخافة السدل .كذا في فتاوى قاضي خان . (فتاوى هندية: ١/ ١٠٦).

په حاشيه الطحطاوي كي راځي:

والصحيح الذي عليه قاضيخان، والجمهور أنه يكره لأنه إذا لـم يدخل يديه في كميه صدق عليه اسم السدل لأنه إرخاء للثوب بدون لبس معتاد . (حاشية الطحاوى على مراقى الفلاح: ٣٥٠، فصل فى المكروهات قديمى – وكذا فى امداد الفتاح: ٣٧٩). والله تعالىٰ اعلم.

په لمانځه كي پټو يا دسمال پر سر اچول او طرفونه يې ايله كول

سوال: كه لمونځ كونكى د خپل پټو يا دسمال دواړه سرونه ايله كړي او يا يو وځړوي په لمانځه كي يې څه نقصان راځي او كه نه؟

الجواب: د پټو يو طرف كه پر اوږه واچوي نو په لمانځه كي نقصان نه راځي، البته كه يې دواړه طرفونه وځړوي نو لمونځ به مكروه وي.

وګورئ په امداد الفتاح كي راځي:

و يكره سدله ...... السدل وهو أن يجعل الثوب على رأسه وكتفيه ويرسل جوانبه من غير أن يضمها ...... وفى الظهيرية هو أنه يضع ثوبه على كتفيه ويرسل طرفيه انتهى. وفى مجمع الروايات: لوكان تحت الرداء قميص أو ثوب اختلفوا فى كراهة السدل والصحيح أنه يكره انتهى. وفى البحر عن فتح القدير أن السدل يصدق على أن يكون الـمنديل مرسلًا من كتفيه كما يعتاده كثير فينبغى لـمن على عنقه منديل أن يضعه عند الصلاة، ولا فرق بين أن يكون الثوب محفوظًا عن الوقوع أو لاانتهى، وذلك لقول أبي هريرة رضي الله عنه أنه عليه الصلاة و السلام " نهى عن السدل وأن يغطي الرجل فاه" (اخرجه أبو داؤد فى الصلاة باب ماجاء فى السدل فى

الصلاة:٦٤٣ – والترمذی فی الصلاۃ باب ماجاء فی کراهة السدل فی الصلاة من زيادة أن يغطی لرجل فاه:٣٧٨- والبيهقی فی الصلاة باب كراهية السدل فی الصلاة:٢/ ٢٤٢ – وابن حبان فی صحيحه فی الصلاة:٢٢٨٩ – والحاكم فی المستدرک:١/ ٢٥٣، وقال: حديث صحيح علی شرط الشيخين ولم يخرجاه فيه، ووافقه الذهبی) وفی المحيط لأنه تشبه بفعل اليهود حال عبادة النيران. انتهی. (امداد الفتاح:٣٧٩، فصل فی المكروهات، بيروت).

په درمختار کي راځي:

وكره سدل (تحريما للنهی) ثوبه أی إرساله بلا لبس معتاد ...... كشد ومنديل يرسله من كتفيه، فلومن أحدهما لم يكره كحالة عذر...... وفی الشامی: (قوله كشد) هو شیء يعتاد وضعه علی الكتفين كما فی البحر وذلک نحو الشال..... وفی تقريرات الرافعی...... (قوله الشارح فلو من أحدهما لم يكره) أی أحد كتفيه ولف الباقی علی عنقه، سندی تأمل وبه يعلم عدم المخالفة لما فی البحر . (الدر المختار مع الشامی مع حاشية تحير المختار:١/ ٦٣٩/ ٨٤، مكروهات الصلاة).

په الجوهرة النيرة کي راځي:

(قوله ولا يسدل ثوبه) وهو أن يلقيه من رأسه إلی قدميه أو يضع الرداء علی كتفيه ولم يعطفه علی بعضه. (الجوهرة النيرة:٧٥، امدادية ملتان).

حضرت مفتي رشيد احمد صاحب دعربو معتاد سدل بېله کراهته جائز بللی دئ. (احسن الفتاوی:٣/ ٤٠٨).

مگر دا خبره راته نه معلومیږي څکه عرب دسمال ځروي او په هغه سره بازی کوي چي کراهت يې نور هم تېنګيږي څکه نو زموږ په اند دعربو په شان له دسمال ځرولو ځخه ځان ساتل په کار دي.

والله ﷻ اعلم .

د لستوڼو د راپورته کولو په حالت کې د لمانځه کولو حکم

سوال: لستوڼي راپورته کول او لمونځ کول یعنی څنګلی په لمانځه کې ښکاره کول څنګه دي؟

الجواب: بېله کومة سببه لستوڼي پورته کول لمونځ مکروه کوي که یې داوداسه او یا بل کوم کار له پاره لستوڼي راپورته کړي وي نو هغه دي کښته کړي بیا دي لمونځ شروع کړي که د رکعت نیولو په شوق ژر په لمانځه کې داخل سو نو ښه دا دي چې په کراره کراره دي کښته کړي چې عمل کثیر ورڅخه لازم نه سي.

په امداد الفتاح کې راځي:

ویکره تشمیر کمیه عنها لقوله ﷺ " أمرت أن أسجد على سبعة أعظم وأن لا أكف شعرا ولا ثوبا "(متفق علیه). وهو یتضمن کراهة تشمیر الکمین ولما فیه من الجفاء المنافی للخشوع لما فیه من التهاون والتکاسل وقلة الأدب.(امداد الفتاح:۳۷۷، فصل فی المکروهات، بیروت).

په فتاوی شامي کې راځي:

(قوله کمشمر کم أو ذیل) أي کما لو دخل في الصلاة وهو مشمر کمه أو ذیله ، وأشار بذلك إلی أن الکراهة لا تختص بالکف وهو في الصلاة کما أفاده في شرح المنیة ، لکن قال في القنیة : واختلف فیمن صلی وقد شمر کمیه لعمل کان یعمله قبل الصلاة أو هیئته ذلك ومثله ما لو شمر للوضوء ثم عجل لإدراك الرکعة مع الإمام، وإذا دخل في الصلاة کذلك وقلنا بالکراهة فهل الأفضل إرخاء کمیه فیها بعمل قلیل أو ترکهما ؟ لم أره : والأظهر الأول بدلیل قوله الآتي ولو سقطت قلنسوته فإعادتها أفضل تأمل .

هذا ، وقید الکراهة في الخلاصة والمنیة بأن یکون رافعًا کمیه إلی المرفقین، وظاهره أنه لا یکره إلی ما دونهما، قال في البحر : والظاهر الإطلاق لصدق کف الثوب علی الکل ونحوه في

الحلية ، وكذا قال في شرح المنية الكبير : إن التقييد بالمرفقين اتفاقي، قال : وهذا لو شمرهما خارج الصلاة ثم شرع فيها كذلك ، أما لو شمر وهو فيها تفسد لأنه عملكثير. (شامی:۱/ ۶۴۰، مکروهات الصلاة، سعید – وکذا فی البحر الرائق:۲/ ۲۴، مکروهات الصلاة، الماجدیة کوئتة، – وحاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح:۳۴۹، فصل فی المکروهات، قدیمی).

همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی:۳/ ۴۰۶، باب مفسدات الصلاة ومکروهات- فتاوی رحیمیه:۳/ ۴۱، کتاب الصلاة، مکتبة رحیمیه – وفتاوی محمودیه:۶/ ۶۵۲، الفصل الثانی فیما یکره فی الصلاة، جامه فاروقیه – کفایت المفتی:۳/ ۴۲۸). والله ﷻ اعلم.

رکوع او سجدې ته د تللو په حالت کې د پرتاګه د راپورته کولو څخه د لمانځه حکم

سوال: که سجدې ته د تللو په حالت کې لمونځ کونکی خپل پرتوګ یا قمیص راپورته کړي نو په لمانځه کې څه خلل راځي او که نه؟

الجواب: رکوع او سجدې ته د تللو په حالت کې په دواړو لاسو د جامې د پورته کېدلو څخه لمونځ مکروه کېږي خو فاسدېږي نه، البته په لمانځه کې دا ډول حرکت کول او هغه عادت جوړول ناخوښه او مکروه عمل دئ او لیري نه ده چې عمل کثیر ته په رسېدلو سره دې د لمانځه د فساد لامل هم وګرځي، لهذا له دې څخه باید ځان وساتل سي.

په امداد الفتاح کې راځي:

ويكره وكف ثوبه أي: رفعه بين يديه أو من خلفه إذا أراد السجود، انتهى وقيل: أن يجمع ثوبه ويشده في وسطه وكذا فی شرح الإرشاد انتهى: لما قدمناه من لقوله ﷺ " أمرت أن أسجد على سبعة أعظم وأن لا أكف شعرًا ولا ثوبًا " متفق عليه، و لما فيه من الجبر المنافى لوضع الصلا وهو الخشوع والخضوع كذا فى البرهان. (امداد الفتاح:۳۷۹، فصل فی المکروهات- بیروت).

په فتاوی شامی کې راځي:

وكره كفه أي رفعه أي سواء كان من بين يديه أو من خلفه عند الانحطاط للسجود.

(شامي:١/ ٦٤٠، مكروهات الصلاة، سعيد).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

سوال: ځينى كسان د قومي څخه سجدې ته د تللو په حالت كي پرتوګ پورته كوي په لمانځه كي دغه روا ده او كه نه؟

الجواب: بيله ضرورته داسي كار بنه نه دئ او لمونځ يې اداء كيږي. (فتاوى دار العلوم:٤/ ٩٣).

په كفايت المفتي كي راځي:

دا فعل مكروه دئ خو مفسد نه دئ غالباً به مكروه تحريمي وي. (كفايت المفتي:٣/ ٤٢٨ او فتاوى محموديه:٦/ ٦٠٢). والله ﷻ اعلم.

د مسجد په اوږدو قميصونو كي د لمانځه كولو حكم

سوال: نن سبا په مسجدونو كي اوږده قميصونو اينښودل كيږي او هغه عوام چي د كار څخه لمانځه ته راځي هغه يې اغوندي او لمونځ پكښي كوي د كار په جامو كي لمونځ كول مناسب نه ګڼي نو په دا ډول لمانځه كولو كي به څه كراهت وي او كه نه؟ ځينى كسان وايي چي څنګه چي په دغو جامو كي عامو مجلسونه ته نه ځي لهذا لمونځ بايد پكښي مكروه وي ايا دغه درسته ده؟

الجواب: په ظاهره په داسي جامو كي لمونځ كول مكروه نه دي ځكه د دوى له جامو څخه بدن بنه پټوي بيا په دغو جامو كي په لمانځه كي يو قسم عاجزي پيدا كيږي چي كله چي د الله ﷻ دربار ته راغلو نو په يو خاص لباس لمونځ اداء سو نه په هغه موډي جامو كي بيا فقهاء پر دغه خبره متفق دي چي د لمانځه له پاره لستوڼي راپورته كول مكروه دي او له ځينو فتاواوو څخه دا هم معلوميږي چي په داسي جامو كي چي لستوڼي نه لري هم لمونځ مكروه دئ لكه په فتاوى محموديه، فتاوى رحيميه وغيره كي لهذا له دغو جامو څخه لمونځ نه مكروه كيږي او د ځينو كسانو فكر دا دئ چي عامو مجلسونو ته نه پكښي ځي ځكه نو بايد مكروه وي، نو له هغو څخه هغه جامې مراد دي چي د كار له پاره يې اغوندي چي هغه زړي وي په اغوستلو سره يې په مجلس كي شرميږي، مثلاً زموږ په عرف كي يې اكثره په دوكانونو كي كار كونكى كسان اغوندي نو په دغو جامو كي به لمونځ مكروه وي.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

وتكره الصلاة في ثياب البذلة ثوب لايصان ولايحفظ عن الدنس ونحوه ابتذال الثوب وغيره امتهانه وقيل: ما يلبس فى البيت ولايذهب به إلى الكبراء وكذا ثياب المهنة كحكمة فى أوزانها وفى الخدمة والعمل فيحترز عنها تكميلًا لرعاية مقام الوقوف بين يدى الله سبحانه وتعالى بما أمكن من تجميل الظاهر والباطن وفى قوله تعالى ﴿ خذوا زينتكم عند كل مسجد﴾ (سورة الأعراف:٣١) إشارة إليه وإن كان المراد به ستر العورة على ماذكره أهل التفسير كما تقدم وقال فى التجنيس تكره فى ثياب البذله لما روى أن عمر رضي الله عنه راى رجلًا فعل ذلک فقال: أرأيت لو كنت أرسلتک إلى بعض الناس أكنت تمر فى ثيابک هذه؟ فقال: لا، فقال عمر رضي الله عنه: " الله أحق أن تتزين له" . أخرجه البيهقى فى سننه من حديث ابن عمر فى الصلاة باب ما يستحب أن يصلى فيه من الثياب:٢/ ٢٣٦، انتهى. (امداد الفتاح شرح نور لايظاح:٣٨٧، فصل فى المكروهات، بيروت).

په فتاوی شامي کي راځي:

والظاهر أن الكراهة تنزيهية . (شامى:١/ ٦٤١، مكروهات الصلاة – وكذا فى الطحطاوى على مراقى الفلاح:٣٥٩، فصل فى مكروهات الصلاة، قديمى).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

سوال: په داسي کميس کي چي لستوڼي یې نیم وي لمونځ څنګه دئ؟

جواب: حامدا و مصليا: د حضرت نبي كريم ﷺ څخه د داسي قميص اغوستل منقول نه دي چي لستوڼي یې نیم وي دا ډول قمیص خلاف سنت دئ نو لمونځ پکښي کول هم خلاف سنت دئ (مکروه دئ). (فتاوی محمودیه:٦/ ٦٥٤، فصل ثانی مکروهات نماز).

البته قمیص دي پوره واغوندي. والله ﷻ اعلم.

که په لمانځه کي اربړمئ ورسي او د هاه هاه اواز يې د خولي څخه وزي

سوال: که په لمانځه کي اربړمی ورسي نو راسته لاس به پر خوله بږدي او که چپه؟ همدارنګه چي کوم کسان د هاه هاه اواز کوي دا به مکروه تحریمی وي او که مکروه تنزیهی وي؟

الجواب: په لمانځه کي اربړمی کنبل شیطانی عمل دئ دا مکان تر حده بايد ځان ورڅخه وساتل سي څو که بيله اختياره ورسي نو د ولاړي په حالت کي دي راسته لاس پر خوله کښيږدي چي زيات عمل رانه سي او په نورو حالتونو کي دي چپه لاس استعمال کړي او د هاه هاه آواز که اختياري وي نو مکروه تحريمی دئ او که بيله اختياره وي نو معاف دئ لکه د ترچلو په وخت کي چي څه حروف وزي، البته له کراهت څخه خالي نه دي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله والتثاؤب)قلت: ولهذا السبب كان من الشيطان كما في حديث الصحيحين أنه ﷺ قال: " لتثاؤب من الشيطان فإذا تثاءب أحدكم فليكظم ما ستطاع " وفي رواية لمسلم "فليمسك بيده على فيه، فإن الشيطان يدخله " وألحق باليد الكم، وهذا إذا لم يمكنه كظمه: أي رده وحبسه فقد صرح في الخلاصة بأنه إن أمكنه عند التثاؤب أن يأخذ شفته بسنه فلم يفعل وغطى فاه بيده أو بثوبه يكره ...... ثم في المجتبى: يغطي فاه بيمينه وقيل بيمينه في القيام وفي غيره بيساره.

قلت: ووجه القيل أظهر لأنه لدفع الشيطان كما مر، فهو كإزالة الخبث وهي باليسار أولى لكن في حالة القيام لما كان يلزم من دفعه باليسار كثرة العمل بتحريك اليدين كانت اليمنى أولى ...... ولم أر من تعرض للكراهة هنا هل هي تحريمية أو تنزيهية ...... وأما التثاؤب نفسه فإن نشأ من طبيعته بلا صنعه فلا بأس، وإن تعمده ينبغي أن يكره تحريماً لأنه عبث، وقد مر أن العبث مكروه تحريمًا في الصلاة. (شامی:۱/ ٦٤٥، مکروهات، سعيد).

د هدايې په شرحه بنايه کي راځي:

وإن كأن التنحنح بعذر بأن يكون له سعال فهو عفو يعنى لا يفسد وإن حصل به حروف لأنه جاء من قبل من له الحق فجعل عفوًا كالعطاس والجشاء فإنه لا يفسد وكذا التثاؤب إذا ظهر له حروف مهجاة كذا فى فتاوى العتابى. (البناية فى شرح الهداية:۱/ ۷۷۸، باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها، فيصل اباد).

په درمختار کي راځي:

والأنين والتأوه والتأفيف والبكاء بصوت يحصل به حروف لوجع أو مصيبة قيد للأربعة إلا لمريض لا يملك نفسه عن أنين وتأوه لأنه حينئذ كعطاس وسعال وجشاء وتثاؤب وإن حصل حروف للضرورة . وفي الشامي: (قوله وإن حصل حروف) أي لهذه المذكورات كلها كما في المعراج، لكن ينبغي تقييده بما إذا لم يتكلف إخراج حروف زائدة على ما تقتضيه طبيعة العاطس ونحوه كما لو قال في تثاوبه هاه هاه مكررًا لها فإنه منهي عنه بالحديث تأمل. (الدر المختار مع الشامي:۱/ ٦۱۹، باب ما يفسد الصلاة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

تصویر لرونکی سکي په جیب کي ایښودل

سوال: که يې فلزي سکي چي تصوير ورباندي جوړ وو په جيب کي وساتلي نو لمونځ يې کيږي او که نه؟

الجواب: د تصوير لرونکو سکو څخه په لمانځه کي نقصان نه راځي، البته بايد په احتياط يې کښيږدي چي د سجدې پر ځاى ونه لويږي.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

إلا أن تكون الصورة صغيرة بحيث لا تبدو للقائم إذا نظرها إلا بتأمل كالتي على الدينار لأنها لا تعبد عادة، وقال في التجنيس والمزيد: إذا صلى ومعه دراهم عليها تماثيل ملك لابأس به، لأن هذا يصغر عن البصر انتهى. (امداد الفتاح:٣٩٢، فصل في المكروهات، بيروت).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله لا المستتر بكيس أو صرة) بأن صلى ومعه صرة أو كيس فيه دنانير أو دراهم فيها صور صغار فلا تكره لاستتارها بحر، ومقتضاه أنها لو كانت مكشوفةً تكره الصلاة مع أن الصغيرة لا تكره الصلاة معها . (قوله لا تتبين) هذا أضبط مما في القهستاني حيث قال بحيث لا تبدو للناظر إلا بتبصر بليغ كما في الكرماني ، أو لا تبدو له من بعيد كما في المحيط ثم قال : لكن في الخزانة : إن كانت الصورة مقدار طير يكره ، وإن كانت أصغر فلا . (شامي:١/ ٦٤٨، مكروهات الصلاة، سعيد).

په تبيين الحقائق کي راځي:

قال رحمه الله (إلا أن تكون صغيرةً) لأنها لا تعبد إذا كانت صغيرةً بحيث لا تبدو للناظر والكراهة باعتبار العبادة فإذا لم يعبد مثلها لا يكره. (تبيين الحقائق:١/ ١٦٦، باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها، امداديه).

په فتاوی محموديه کي راځي:

پر پیسو خو اول تصویر کوچنی وي چي د هغه کوم عزت نه کیږي دوهم په جیب او یا کومه به جامه کي د لمانځه پر وخت پټ پاته وي ښکاره نه وي. (فتاوی محموديه:٦/ ٦٧٤).

په آپ کی مسائل اور ان کا حل کي راځي:

که یې نوټونه په جیب کي وي او پر هغو تصویرونه وي نو لمونځ یې صحیح دئ. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۲/ ۳۱۲). والله ﷻ اعلم.

په غیر عربي دعاء کولو سره د لمانځه حکم

سوال: که چا په ناسته کي په اردو ژبه دا دعاء ولوسته یا الله ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړئ نو د لمانځه حکم یې څه دئ؟

الجواب: په لمانځه کي په غیر عربي دعاء کول د راجح قول مطابق مکروه تحریمی دئ خو یو قول د کراهت تنزیهی هم سته لهذا که یې دغه لمونځ نه راوګرځاوه نو د ځینو علماوو د قول مطابق څه باک نه لري.

په شامي کي لیکي:

لكن المنقول عندنا الكراهة ؛ فقد قال في غرر الأفكار شرح درر البحار في هذا المحل: وكره الدعاء بالعجمية ، لأن عمر رضي الله عنه " نهى عن رطانة الأعاجم " ...... ولا يبعد أن يكون الدعاء بالفارسية مكروهًا تحريمًا في الصلاة . (شامی:۱/ ۵۲۱، الدعاي بغير العربية، سعيد).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وعلى هذا الخلاف جميع أذكار الصلاة من التشهد والقنوت والدعاء وتسبيحات الركوع والسجود فإن قال با الفارسية "يار رب بيا مز زمرا" (**اې الله ما ته بخښنه وکړي**) إذا كان يحسن العربية تفسد صلاته وكذا كل ماليس بعربية كالتركية والزنجيه والحبشية والنبطية. (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية:۱/ ۸۶، باب افتتاح الصلاة، بلوچستان).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په لمانځه کي په غیر عربی دعاء کولو په هکله دري قوله دي حرام، مکروه تحریمی، مکروه تنزیهی، د کراهت تحریمی قول راجح او اوسط دئ، لهذا د لمانځه راګرځول واجب دي.

(احسن الفتاوی:۳/ ۴۳۲، باب مفسدات الصلوۃ ومکروهات – وفتاوی محمودیه:۶/ ۶۲۷، جامعه فاروقیه – وفتاوی حقانیه:۳/ ۲۰۹، باب مکروهات الصلوۃ). والله ﷻ اعلم.

د لمانځه په حالت کي په خوله کي د نخود د داني په اندازه یو شی ایښودل

سوال: د یو چا په خوله کي د نخود د دانی په اندازه یو شی پاته سو د لمانځه څخه وروسته ورته معلوم سو نو لمونځ یې صحیح دئ او که نه؟

الجواب: که د نخود د داني په اندازه کوم شی پاته سي لمونځ یې نه فاسدیږي، البته مکروه به وي.

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

ولا یصلی وفی فیه دراهم أو دنانیر لایمنعه عن القراءة، وإن منعه لم یجز صلاته، وفی موضع آخر: إن منعه عن اداء الحروف أفسد الصلاة، وإن لم یمنعه عن عین القراءة وإنما منعه عن سنة القراءة لاتفسد صلاته ولکن یکره له، وإن لم یمنعه شیئًا فلا بأس به. (التاتار خانیة:۱/ ۵۶۵، الفصل الرابع فی بیان مایکره للمصلی، ادارة القران).

په فتح القدیر کي راځي:

وذکر شیخ الإسلام أکل بعض اللقمة وبقي في فیه بعضها فدخل في الصلاة فابتلعه لا تفسد ما لم تکن ملء الفم. (فتح القدیر:۱/ ۴۱۲، دار الفکر).

په فتاوی هندیه کي راځي:

رجلاًکل أو شرب قبل الشروع في الصلاة وبقي في فمه فضل طعام أو شراب فأکل أو شرب ما بقي فیه لا تفسد صلاته وعلیه الفتوی. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۱۰۲).

په البحرالرائق کي راځي:

ثم إذا كان ابتلاع ما بين أسنانه غير مفسد بشرطه على الخلاف فهو مكروهكما صرح به في منية المصلي لأنه ليس من أعمال الصلاة ولا ضرورة فيه فكان مكروهًا وإن كان قليلًا. (البحر الرائق:۲/ ۱۵، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها، الماجدية). والله ﷻ اعلم.

په سجده کي د درو تسبيحاتو په اندازه د دواړو پښو د پورته کېدو څخه دلمانځه حکم

سوال: که يو څوک په سجده کي د درو تسبيحاتو په اندازه دواړي پښي پورته کړي او بيا يې کښېښودلي نو لمونځ يې وسو او که نه؟

الجواب: په سجده کي د دواړو پښو يو څه حصه که څه هم ديوې ګوتي اندازه وي ايښودل فرض دي او دا ضروري ده له دې پرته لمونځ نه کيږي څنګه چي په پورتني صورت کي يې د پورته کېدو وروسته ايښي دي لهذا سجده يې اداء سوه خو د سنت طريقې خلاف ده له دې امله به يې لمونځ مکروه وي.

په امداالفتاح کي راځي:

و يفترض السجود لقوله تعالى ﴿ واسجدوا ﴾ (الحج:۷۷) ولأمر النبي ﷺ به ولإجماع على فرضيته، والسجدة إنما تتحقق بوضع الجبهة لا الأنف، مع وضع إحدى القدمين وإحدى الركبتين وشيء من أطراف أصابع إحدى القدمين من الأرض فإن لم يوجد وضع هذه الأعضاء لاتتحقق السجود ...... ووضع شيء من أصابع الرجلين نحو القبلة حالة السجود على الأرض، ولايكفى لصحة السجود وضع ظاهر القدم لأنه ليس محله لقوله ﷺ "أمرت أن أسجد على سبعة أعظم من الجبهة واليدين والركبتين وأطراف القدمين " متفق عليه، وقوله ﷺ " إذا سجد العبد معه سبعة آراب: وجهه وكفاه وركبتاه وقدماه" وهو اختيار الفقيه أبي الليث كما في البرهان. (امداد الفتاح:۲۵۷، أحكام السجود، بيروت).

په حاشية الطحطاوى على مراقي الفلاح كي راځي:

قوله (وشيء من أطراف أصابع إحدى القدمين) يصدق ذلك بإصبع واحدة قال في الخلاصة: وأما وضع القدم على الأرض في الصلاة حال السجدة ففرض فلو وضع إحداهما دون الأخرى تجوز صلاته...... ويكفي وضع إصبع واحدة وفي الفتح عن الوجيز وضع القدمين فرض فإن وضع إحداهما دون الأخرى جاز، ويكره ...... وفي البحر ونص صاحب الهداية في التجنيس على أنه لو لم يوجه الأصابع نحو القبلة يكون مكروها. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ۲۳۰، باب شروط الصلاة، قديمى).

په مراقی الفلاح کي راځي:

و يكره تحويل أصابع يديه أو رجليه عن القبلة في السجود لقوله ﷺ " فلوجه من أعضائه إلى القبلة ما استطاع" . (مراقى الفلاح:۱۲۸، فصل فى المكروهات).

همدا ډول وګورئ: (شامى:۱/ ٤٩٩، سعيد – وفتح القدير:۱/ ۳۰۵، دار الفكر – والبحر الرائق:۱/ ۳۱۸، كوئتة – والفتاوى الهندية:۱/ ۷۰).

له دواړو پښو څخه يو څه برخه ديوې تسبيح په اندازه پر مځکه ايښودل واجب دي او ديوه قول مطابق فرض دي درېيم قول يې دسنت والى دئ لومړى قول راجح دئ نو که يې په ټوله سجده کي يې ديو ځل تسبيح ويلو په اندازه د دواړو پښو يوه برخه پر مځکه کښېښوده نو واجب يې اداء کېړي که يې دومره هم کښېنښوده نو د واجب د پرېښودلو له امله يې د لمانځه راګرځول واجب دي ښکاره دي وي چي که يې د پښي شا يا يوازي يوه پښه بيله عذره پر مځکه کښېښودل نو واجب خو يې اداء کېړي مګر مکروه دي ځکه دواړي پښي پر مځکه ايښودل او ګوتي د قبلې لوري ته متوجه کول مؤکد سنت دي. (احسن الفتاوى:۳/ ۳۹۸، باب مفسدات الصلاة، او فتاوى حقانيه:۳/ ۸۱). والله ﷻ اعلم.

د سروز ږغیدلو په ځای کي د لمانځه د اداء کولو حکم

سوال: د سروز ږغولو په ځایونو کي مثلاً بازار وغیره کي لمونځ اداء کیږي او که نه؟

الجواب: که د لمانځه ځای بیل وي او هلته د سروز اواز نه راځي نو په لمانځه کولو کي څه باک نه سته، البته هلته چي د سروز اواز راځي او په لمانځه کي یې خلل لویږي له کراهت څخه خالي نه دئ.

په حدیث شریف کي راځي چي انحضرت ﷺ په خرابو او بې کاره ځایونو کي د لمانځه کولو څخه منع کړي ده، نو چیري چي د سروز اواز وي هغه هم په همدغه حکم کي دئ لهذا لمونځ به مکروه وي.

وګورئ په بیهقي کي راځي:

نهی النبی ﷺ عن الصلاة فی المقبرة والمجزرة والمزبلة والحمام. (رواه البیهقی:۲/ ۳۲۹)

په امداد الفتاح کي راځي:

و تکره الصلاة في الطريق لأن فيه منع الناس عن المرور شغله بما ليس له لأنها حق العامة للمرور في الحمام وفي المخرج أي الكنيف و في المقبرة وفى أمثالها لما رواه ابن ماجة، والترمذی عن ابن عمر رضي الله عنهما "أن رسول الله ﷺ نهى أن يصلى في سبعة مواطن في المزبلة والمجزرة والمقبرة وقارعة الطريق وفي الحمام ومعاطن الإبل وفوق ظهر بيت الله ...... والمغتسل مكان الاغتسال والعلة كونها موضع النجاسة وألحق بها المغتسل، لأنه مصب النجاسة والأوساخ والنهى عن الصلاة فى الحمام لمعنين أحدهما: أنه مصب الغسالات فعلى هذا الايكره فى سائره فإذا غسل منه موضعًا ليس فيه تمثال لاتكره فيه، والثاني: أن الحمام بيت الشياطين، وفى الفتاوى: لابأس بالصلاة فى المقبرة إذا كان فيها موضع أعد للصلاة وليس فيه قبر...... وتكره بحضرة كل مايشغل البال كزينة وبحضرة مايخل

بالخشوع كلهو ولعب كما ذكرنا. (امداد الفتاح:۳۸۶، فصل فی المکروهات، بیروت – وبدائع الصنائع:۱/ ۳۰۱، سعید– والشامی:۱/ ٤۱۰، سعید).

له دې عبارت څخه معلومیږي چې چیرې چې د زینت داسي سامان وي چې زړه له متوجه څخه راګرځوي په خشوع کې خلل اچوي نو هلته لمونځ مکروه دئ او که یې د لمانځه له پاره کوم خاص ځای تیار کړ چې هلته د سروز وغیره اواز نه وي نو په لمانځه کې به څه کراهت هم نه وي. والله ﷻ اعلم.

دریم .... فصل

د ستر احکام د امام ستره د ټولو مقتدیانو له پاره کافي دئ

سوال: د یو جماعت لار داسي ده چې د لومړي صف تر منځ ډیر کسان تیریږي خو د امام ومخ ته دېوال سته نو دغه د امام ستره دئ د مقتدیانو ستره نه دئ نو ایا دغه د امام ستره د مقتدیانو له پاره هم کفایت کوي او که نه؟

الجواب: د امام ستره د ټولو مقتدیانو له پاره کافي دئ لهذا د کومي بلي ستري ضرورت نه سته، البته د جماعت د لمانځه وروسته چې لمونځ کونکي سنت اداء کوي نو د ده په وړاندي تیریدل منع دي، همدا ډول که مسبوق د امام د لمانځه څخه وروسته پاته سوی لمونځ اداء کوي نو د ده له پاره هم د ستري ضرورت نه سته.

په امداد الفتاح کي راځي:

وسترة الإمام سترة لمن خلفه، لأن النبي ﷺ صلى بالأبطح عنزة ركزت له ولم يكن للقوم سترة . ذكره الهيثمي في مجمع الزوائد:۲/ ۸٤، وأخرجه البخاری فی باب الصلاة إلی العنزة ومسلم فی باب سترة المصلی – (امداد الفتاح: ٤۰۰، فصل فی اتخاذ السترة).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله للكل أي للمقتدين به كلهم وعليه فلو مر مار في قبلة الصف في المسجد الصغير لم يكره إذا كان للإمام سترة، وظاهر الاكتفاء بها ولو بعد فراغ إمامه، وإلا فما فائدته؟ وقد يقال:

فائدته التنبيه على أنه كالمدرك لا يطلب منه نصب سترة قبل الدخول في الصلاة وإن كان يلزم أن يصير منفردًا بلا سترة بعد سلام إمامه، لأن العبرة لوقت الشروع وهو وقته كان مستترًا بسترة إمامه تأمل. (شامي:١/ ٦٣٨، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها، سعيد).

په هدايه كي راځي:

وسترة الإمام سترة للقوم لأنه عليه الصلاة والسلام صلى ببطحاء مكة إلى عنزة ولم يكن للقوم سترة. (هدايه:١/ ١٣٩، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها).

په عمدة الفقه كي راځي:

د امام ستره د ټولو مقتديانو له پاره كافي دئ نو كه د امام په وړاندي ستره وي نو كه ينو څوك د مقتديانو د صف تر مخ تيرېږي نو پر ده كومه ګناه نه سته او همدغه حكم د مسبوق له پاره هم دئ ځكه د لمانځه د شروع كولو وخت ته اعتبار دئ او هغه وخت د امام ستره د ده له پاره كافي وه بس اوس به هم هغه كافي وي. (عمدة الفقه:٢/ ٢٧٦، د سترى مسائل). والله ﷻ اعلم.

د لاس استعمالول د سترى په توګه

سوال: يو چا خپل لاس د لمونځ كونكي مخ ته د ستري په توګه ونيوئ په دې صورت كي د لمونځ كونكي مخته تيرېدل روا دي او كه نه؟

الجواب: د سترى مطلب دا دئ چي د مصلى په وړاندي د يوه ذراع په اندازه اوږد او د ګوتي په اندازه پنډ شى وي نو په وړاندي يې تيرېدل روا دي، كومه ګناه به نه وي نو كه يې ټول لاس د ستري په توګه استعمال كړنو دا به په طريقه اولى روا وي.

وګورئ په امداد الفتاح كي راځي:

(أن يغرز سترة) لما روينا، ولقوله صلى الله عليه و سلم " ليستتر أحدكم ولو بسهم "أخرجه الحاكم فى المستدرك:١/ ٢٥٢، و أحمد فى مسنده:٣/ ٤٠٤. (وأن تكون طول ذراع فصاعدًا) الحديث مسلم " عن عائشة رضي الله عنها سئل رسول الله ﷺ عن سترة المصلى فقال: مثل مؤخرة

الرحل" أخرجه مسلم فی الصلوة، باب سترة المصلی والنسائی فی القبلة باب سترة المصلی. وفسرها عطاء بأنها ذراع فما فوقها كما أخرجه أبو داؤد وقال ﷺ" أذا وضع أحدكم بين يديه مثل مؤخرة الرجل فليصل ولا يبال بمرورمار" أخرجه مسلم فی الصلاة باب سترة المصلی. وتكون السترة فی غلظ الأصبع وذلک أدناه لأن ما دون ذلک ربما لايبدو للناظر فلا يحصل به المقصود، وروی الحاكم مرفوعًا: " استروا فی صلاتكم ولو بسهم" أخرجه الحاكم فی المستدرک:١/ ٢٥٢، وقال: على شرط مسلم ووافقه في التلخيص وأحمد فی مسنده:٣/ ٤٠٤. وقال ابن مسعود رضي الله عنه: "يجزئ من السترة السهم وهو يصلح بيانًا للطول والغلظ جميعا، ذكره شمس الأئمة السرخسی رحمه الله. (امداد الفتاح:٣٩٨، فصل فی اخاذ السترة)

په عمدة الفقه کي راځي:

د درختي او حيوان او انسان وغيره ستره هم کېدای سي او د دوی په وړاندي په تيرېدو کي څه باک نه ستته. (عمدة الفقه: دوهمه برخه، کتاب الصلاة:٢٧٦). والله تعالی اعلم.

دسمال او يا لکړه اېښودل

سوال: د لمونځ کونکي په وړاندي د تيرېدو له پاره خپل دسمال څړول او يا لکړه درول او بيا تيرېدل څنګه دي؟

الجواب: په ظاهره خو يې جواز معلومېږي د دې له پاره دوهم صورت دا دئ چي لکړه دې ودروي او تير دې سي او له لوېدو مخکي دي هغه ونيسي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

فإن كان معه شيء يضعه بين يديه ثم يمر ويأخذه ......أقول: وإذا كان معه عصا لا تقف على الأرض بنفسها فأمسكها بيده ومر من خلفها هل يكفي ذلك؟ لم أره. (شامی:١/ ٦٣٦، باب مايفسد الصلاة وما يكره فيها، سعيد).

په عمدة الفقه کي راځي: •

که له تیرېدونکي څخه داسي لکړه وي چي نه دریږي نو دلمونځ کونکي په وړاندي یې نیول او دلمونځ کونکي په وړاندي به تیرېدل روا وي او که نه؟ د دې وضاحت مونه دئ موندلي (فتاوی شامي) په ظاهره روا معلومیږي او د دې یو صورت دا هم دئ چي هغه دي ودروي دهغې د نږدې څخه مخکي دي ژر تیر سي او بیا دي هغه ونیسي. (عمدة الفقه، دوهم برخه، کتاب الصلاة: ۲۷۶).

په احسن الفتاوی کي راځي:

سوال: یو چا د لمونځ کونکي مخته د تیرېدو له پاره خپل دسمال وځړاوه او یا یې خپله لکړه ودرول د هغې شا ته تیریږي ایا دغه روا دي؟

الجواب: علامه شامي رحمه الله فرمایي چي په دې هکله کوم څرګنده مسئله نه ده راته پیدا سوي په ظاهره یې له روا والی څخه کوم مانع نه سته، لهذا د ضرورت په وخت کي یې ګنجائش سته. (احسن الفتاوی: ۳/ ۴۱۰، باب مفسدات الصلاة). والله تعالیٰ اعلم.

د ستري پر ځای د تار یا رسی ایښودلو حکم

سوال: که لکړه وغیره نه وي نو تار یا رسی مخته ایښودل به د ستری قائم مقام وي او که نه؟

الجواب: د ستری له پاره ضروري ده چي دیوې ګوتي په اندازه پنډ شی وي او په عامه توګه تار او یا رسی دومره پنډه نه وي بیا د ستری درولو حکم دئ یوازي ایښودل یې د اکثره حضراتو په اند کافي نه دي لهذا په پورتني صورت کي به کفایت نه کوي مګر د عذر په وخت کي څنګه چي د خط کښولو ګنجائش سته نو بیا به رسی یا تار ایښودل په طریق اولی درست وي خو د هغه مطلب به دا وي چي د مصلي فکر راغونډ سي او توجه یې خپره نه سي خو تیرېدونکی به بیا هم ګناه کار وي ځکه د تیرېدونکي له پاره به دغه کافي نه وي.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

وتكون السترة في غلظ الأصبع وذلك أدناه لأن ما دون ذلك ربما لايبدو للناظر فلا يحصل به المقصود ...... وإن لم يجد ما ينصبه منع جماعة من المتقدمين الخط وأجازه

المتأخرون بما روي في السنن عن النبي ﷺ أنه قال " إن لم يكن معه عصا فليخط خطًا " (هو جزء من حديث أخرجه ابن ماجة في اقامة الصلاة باب ما يستر المصلي و أبو داؤد في الصلاة باب الخط إذا لم يجد عصا). هو مطعون فيه كذا في شرح الكنز للديرى وفي التجنيس لايعتبر الخط هو المختار أى ليس بمسنون ليقام به سنة السترة، إذ لايحصل به المقصود لعدم ظهوره من بعيد وهو رواية والثانية أنه أى: الخط سنة، عن محمد أنه يخط لحديث أبي داؤد: "فإن لم يكن معه عصا فليخط خطا" انتهى.

قال في شرح المنية: ويجوز العمل بمثله في الفضائل وكذا قال الكمال ابن الهمام والسنة أولى بالاتباع مع أنه يظهر في الجملة، إذ المقصود جمع الخاطر بربط الخيال به كيلا ينتشر، انتهى. وأيضًا إن سلم أنه غير مفيد فلا ضرر فيه من العمل بالحديث الذي يجوز العمل به في مثله، انتهى. وإن وجد ما يغرزه ولكن تعذر الغرز لصلابة الأرض، اختلف الأئمة فيه أيضًا فمنهم من منعه، قال القدوري: قال أبو حنيفة رحمه الله إذا خط المصلي بين يديه في الصحراء أو طرح سوطًا لم يعتد به من المسنون حتى ينصب شيئًا كمؤخرة الرحل، ولأن المقصود هو الحيلولة بينه وبين المار لايحصل به فيكون وجوده كعدمه كذا في شرح الديرى وهو المختار كما قال في التجنيس إذا تعذر غرز السترة لايعتبر الإلقاء هو المختار ومن اعتبر الإلقاء قال: يلقى بين يديه طولاً ليجعل كأنه غرز ثم سقط هذا اختاره الفقيه أبو جعفر رحمه الله انتهى. قال هشام: حججت مع أبى يوسف رحمه الله وكان يطرح بين يديه السوط كذا في التقريب. (امداد الفتاح:۳۹۹، فصل فى اتخاذ السترة، بيروت). والله ﷻ اعلم.

د مدرسې ميز د سترى پر ځاى دريږي

سوال: د سترى اندازه څومره ده او ايا د دې مدرسې كوچني ميز چي اندازه يې په اوږد والى يو ذراع ده په اوږد والى د سترى پر ځاى دريږي او كه نه؟

الجواب: ستره اينبودل مستحسن دي په البحر الرائق كي يې بيله سترى لمونځ مكروه ليكلي دئ د هغه اندازه يې يو ذراع ليكلي ده تقريباً يو نيم فټ او د مدرسې دغه كوچني ميزونه په اوږدوالى سره د سترى كار كولاى سي ځكه د سترى مقصد دا وي چي تيرېدونكي خبر سي چي فلاني كس لمونځ كوي او دغه امتياز حاصل دئ.

په درمختار كي راځي:

سترة بقدر ذراع طولا وغلظ أصبع لتبدو للناظر بقربه دون ثلاثة أذرع على حذاء أحد حاجبيه لا بين عينيه والأيمن أفضل ولا يكفي الوضع ولا الخط وقيل يكفي فيخط طولًا وقيل كالمحراب ويدفعه هو رخصة فتركه أفضل بدائع. (الدر المختار:١/ ٦٣٧، سعيد).

په فتاوى شامي كي راځي:

والظاهر أن المراد به ذراع اليد كما صرح به الشافعية وهو شبران (قوله وغلظ أصبع) كذا في الهداية لكن جعل في البدائع بيان الغلظ قولًا ضعيفًا وأنه لا اعتبار بالعرض وظاهره أنه المذهب بحر، ويؤيده ما رواه الحاكم وقال على شرط مسلم أنه قال: يجزي من السترة قدر مؤخرة الرحل تنبيه: لم يذكروا ما إذا لم يكن معه سترة ومعه ثوب أو كتاب مثلا هل يكفي وضعه بين يديه والظاهر نعم كما يؤخذ من تعليل ابن الهمام المار آنفا وكذا لو بسط ثوبه وصلى عليه ثم المفهوم من كلامهم أنه عند إمكان الغرز لا يكفي الوضع وعند إمكان الوضع لا يكفي الخط. (شامى:١/ ٦٣٧، سعيد).

په المبسوط للسرخي كي راځي:

وإنما قال : بقدر ذراع طولًا ولم يذكر العرض ، وكان ينبغي أن تكون في غلظ أصبع لقول ابن مسعود ﷺ، يجزئ من السترة السهم ، فإن المقصود أن يبدو للناظر فيمتنع من المرور بين يديه ، وما دون هذا لا يبدو للناظر من بعد. (مبسوط:۱/ ۱۹۰).

په حاشيه الطحطاوی على مراقي الفلاح کي راځي:

وقيل ما يقع به الامتياز كذا في الشرح. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:۱/ ۲٤٤). والله ﷻ اعلم.

د سترى په توګه د داسي شی استعمال چي منځ يې خالي وي

سوال: ايا د سترى له پاره به داسي شی کافي وي چي منځ يې خالي وي لکه ميزه وغير؟

الجواب: د داسي شی استعمال د سترى په توګه درست دئ.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن عائشة ﷺ، قالت : أعدلتمونا بالكلب والحمار؟ لقد رأيتني مضطجعةً على السرير فيجيء النبي ﷺ فيتوسط السرير فيصلي فأكره أن أسنحه فأنسل من قبل رجلي السرير حتى أنسل من لحافي. (بخارى:۱/ ۷۲، باب الصلاة الى السرير).

په عمدة القاري کي راځي:

فيتوسط السرير أى يجعل نفسه في وسط السرير. (عمدة القارى:۱/ ۵۸۵).

د هدايې په شرحه بنايه کي راځي:

وقال: كل موضع مرتفع يعتبر سترة كالسطح والسرير . (البناية فى شرح هدايه:۱/ ۷۸۸). والله ﷻ اعلم.

د لمونځ کونکي مخ ته په تیرېدو کي د کوچني او لوی مسجد تر منځ فرق

سوال: ایا د فقهاوو په اندا داسي روایت سته چي په هغه کي د مسجد صغیر او کبیر او صحراء کي د لمونځ کونکي د تیرېدو ممانعت یوازي د سجدې د ځای تر حده وي؟

الجواب: د فقهاوو له اقوالو څخه معلومیږي چي څوک چي په صحراء او یا غټ مسجد کي لمونځ کوي نو د لمونځ کونکي په وړاندي د تیرېدو ممانعت یوازي د سجدې تر حده دئ او د سجدې د ځای اړوند اصح قول دا دئ چي د لمونځ کونکي نظر به پر تیرېدونکي نه لګیږي او په کوچني مسجد کي د لمونځ کونکي مخته تیرېدل مکروه تحریمي دي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

الا أن المار آثم لقوله عليه السلام: " لو علم المار بين يدى المصلى ماذا عليه من الوزر لوقف أربعين" وإنما يأثم إذا مرفى موضع سجوده على ما قيل. (هداية: ١/ ١٣٨).

په بنایه کي راځي:

قوله على ما قيل: وهو اختيار شمس الأئمة السرخسي رحمة الله عليه وشيخ الإسلام رحمة الله عليه وقاضيخان رحمة الله عليه، وقال فخر الإسلام رحمة الله عليه إذا صلى راميًا بصره إلى موضع سجوده ولايقع عليه بصره لايكره، ومنهم من قال مقدار صفين أو ثلاثة، ومنهم من قدره بثلاثة أذرع ومنهم من قدر بخمسة أذرع ومنهم من قدر بأربعين ذراعاً، وقال التمرتاشي رحمة الله عليه: والأصح إن كان بحال لوصلى صلاة خاشع بصره ولايقع على المار فلا يكره نحو أن يكون منتهى بصره فى قيامه إلى موضع سجوده وفى ركوعه إلى صدور قدميه وفى سجوده إلى أرنبة أنفه وفى قعوده إلى حجره وفى السلام إلى منكبه وهذا كله إذا كان فى الصحراء وفى الجامع الذى له حكم الصحراء وأما فى المسجد فالحد هو المسجد إلا أن يكون بينه وبين المار أسطوانة وغيرها...... (البناية فى شرح الهداية: ١/ ٧٨٨).

په عمدة الفقه كي وايي:

چي د لمونځ كونكي د سجدې په ځاى كي ديو چا تيرېدل مكروه تحريمي او سخته گناه ده كه څه هم لمونځ نه وربانديي فاسديږي اصحه دا ده چي په ميدان كي او په غټ مسجد كي چي د ميدان په حكم كي وي د لمونځ كونكي له پښو څخه د سجدې تر ځايه تيرېدل مكروه تحريمي دي او تيرېدونكى گناه كار دئ له هغه څخه وروسته نه دئ او ځينو مشائخو ويلي دي كه كوم لمونځ كونكي د ولاړې په حالت كي د سجدې ځاى ته كتل نو تر كومه ځايه چي دده نظر رسيږي هلته تيرېدل مكروه تحريمي دي او له هغه څخه وروسته تيرېدل مكروه نه دي همدغه صحيح ده او دغه د سجدې د ځاى د وضاحت دئ ځكه د سجدې د ځاى اطلاق تقريبا پر همدغه كيږي ځكه نو همدغه راجح ده. (عمدة الفقه: حصه دوهم كتاب الصلاة:صـ ۲۷٤، د سترى مسائل).

د مسجد كبير تعريف:

په درمختار كي راځي:

ويمنع من الاقتداء طريق تجرى فيه عجلة أو نهر تجرى فيه السفن أو خلاء في الصحراء أو في مسجد كبير جدًا كمسجد القدس ..... قال الشامي: ثم رأيت في حاشية المدني عن جواهر الفتاوى أن قاضيخان سئل عن ذلك فقال: اختلفوا فيه فقدره بعضهم بستين ذراعًا وبعضهم قال: إن كانت أربعين ذراعًا فهي كبيرة وإلا فصغيرة هذا هو المختار. (الشامي: ۱/ ۵۸۵، سعيد).

په عمدة الفقه كي وايي:

او كوچني مسجدونه چي د مختار قول موافق له څلوېښت شرعي گزونو څخه يې اندازه كمه وي كه د لمونځ كونكي په وړاندي ستره يا كوم بل حائل نه وي نو د قبلي تر دېواله پوري د لمونځ كونكي مخته تيرېدل مكروه تحريمي دي او گناه ده ځكه دغه دمكان واحد په حكم كي دئ. (عمدة الفقه: حصه دوهم، كتاب الصلاة: صـ ۲۷٤). والله تعالى اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿ الوتر حق أو اجب فمن لـم يوتر فليس منا ﴾

اتم .... باب

لومړی فصل

د وترو د لمانځه بيان

ببله رمضانه وتر په جماعت سره اداء كول

سوال: د رمضان المبارک څخه پرته د وترو جماعت كېداى سي او كه نه؟

الجواب: د وترو جماعت د رمضان المبارک سره خاص دئ د رمضان المبارک څخه پرته كه كله نا كله وسي نو روا دئ ځكه د حضرت عمر رضي الله عنه څخه ثابت دي او صحابه وو وربانديي اعتراض كړي نه دئ، البته اكثره وختونه يې كول بدعت او مكروه دي لامل يې دا دئ چي د انحضرت ﷺ او صحابهٔ كرامو څخه همېشه توب ثابت نه دئ.

په مراقي الفلاح كي راځي:

ويـوتر بجمـاعة استحبابًا في رمـضان فقـط عليـه إجمـاع الـمسلمين لأنـه نقـل مـن وجـه والـجماعة في النفل في غير التراويح مكروهة فالاحتياط تركها في الـوتر خارج رمـضان، وعـن شمس الأئمة رحمه الله أن هذا فيما كان على سبيل التداعي أو اقتدى واحد بواحد أو اثنان بواحد لا يكـره، وإذا اقتـدى ثلاثـة بواحـد اختلـف فيـه وإذا اقتـدى أربعـة بواحـد كـره اتفاقـاً. (مراقى الفلاح:١٤٥، باب الوترو أحكامها، مكة المكرمة).

په طحطاوى كي راځي:

(قوله فالاحتياط تركها في الوتر خارج رمضان) وما في النوازل عن المغني الإقتداء في الوتر خارج رمضان جائز فلا ينا فى الكراهة لأن معناه صحيح.(طحطاوى على مراقى لفلاح:٣٨٦، باب الوتر، قديمى).

په درمختار کي راځي:

ولا يصلى الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان أى يكره ذلک على سبيل التداعى. وفى الشامى: (قوله أي يكره ذلك) أشار إلى ما قالوا من أن المراد من قول القدوري في مختصرة لا يجوز، الكراهة لا عدم أصل الجواز، لكن في الخلاصة عن القدوري أنه لا يكره، وأيده في الحلية بما أخرجه الطحاوي عن المسور بن مخرمة، قال دفنا أبا بكر ﷺ ليلًا فقال عمر ﷺ إني لم أوتر، فقام وصفنا وراءه فصلى بنا ثلاث ركعات لم يسلم إلا في آخرهن، ثم قال: ويمكن أن يقال: الظاهر أن الجماعة فيه غير مستحبة ثم إن كان ذلك أحيانا كما فعل عمر ﷺ كان مباحًا غير مكروه، وإن كان على سبيل المواظبة كان بدعة مكروهة لأنه خلاف المتوارث. (الدر المختار مع الشامى:٢/ ٤٨، باب الوتر،ى سعيد).

همدا ډول وګورئ: (فتاوى حقانيه:٣/ ٢٣٨، باب الوتر – واحسن الفتاوى:٣/ ٤٥٥، باب الوتر والنوافل). والله ﷻ اعلم.

د وترو مخته کول د ماخوستن پر لمانځه

سوال: يو چا وتر د ماخستن د لمانځه څخه مخکي وکړل يعني چي کله مسجد ته ورغلی نو د وترو جماعت کېدئ دی په هغه کي شامل سو وروسته يې د ماخستن لمونځ وکړ نو ايا د وترو لمونځ يې اداء سو او که نه؟

الجواب: څنګه چي د ماخستن او د وترو وخت يو دئ لهذا که يې په هيره مخته کړي نو لمونځ يې کيږي او راګرځول يې واجب نه دي، البته که يې په قصده داسي وکړل نو راګرځول به يې واجب وي

ځکه د دواړو تر منځ ترتیب واجب دئ یعنی د ماخستن لمونځ به مخکښي کوي او په هیره سره ترتیب ساقطیږي.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما بيان وقته (الوتر) فالكلام فيه في موضعين : أحدهما في بيان أصل الوقت .... أما أصل الوقت فوقت العشاء عند أبي حنيفة رحمه الله أنه شرع مرتبًا عليه حتى لا يجوز أداؤه قبل صلاة العشاء مع أنه وقته لعدم شرطه وهو الترتيب إلا إذا كان ناسيًا وهذا بناءً على ما ذكرنا أن الوتر واجبعند أبي حنيفة رحمه الله ويبنى على هذا الأصل أن من صلى العشاء على غير وضوء وهو لا يعلم ثم توضأ فأوتر ثم تذكر أعاد صلاة العشاء بالاتفاق ولا يعيد الوتر في قول أبي حنيفة رحمه الله، لأن الوتر كان أصلًا بنفسه في حق الوقت لا تبعًا للعشاء إلا أن وقته بعد فعل العشاء إلا أن تقديم أحدهما على الآخر واجبحالة التذكر فعند النسيان يسقط . (بدائع الصنائع:١/ ٢٧٢، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

قوله : ولا يقدم على العشاء للترتيب ولأنهما فرضان عند الإمام وإن كان أحدهما اعتقادًا والآخر عملًا فأفاد أنه عند التذكر حتى لو قدم الوتر ناسيًا فإنه يجوز . (البحر الرائق:١/ ٢٤٦، كتاب الصلاة).

په طحطاوی على مراقي الفلاح کي راځي:

لو صلى الوتر ناسيًا للعشاء أو صلاهما فظهر فساد العشاء دون الوتر أجزأه عند الإمام لسقوط الترتيب بمثل هذا العذر. (طحطاوی على مراقی الفلاح:١٧٨، كتاب الصلاة، قديمی).

همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی:٣/ ٤٥٧، باب الوتر). والله ﷻ اعلم.

د رمضان په میاشت کې په وترو کې پنځلس ورځې شافعي امام درول او پنځلس ورځې حنفي امام درول

سوال: د یوه مسجد لمونځ کونکي ځیني احناف دي او ځیني شوافع دي په رمضان المبارک کې ټول په یوه امام پسې تراویح کوي خو د وترو له پاره جلا جماعت کیږي نو دوی وایي چې که موږ وتر هم په یوه امام پسې ټول اداء کړو او څو ورځې حنفي امام لمونځ راکړي او څو ورځې شافعي امام وي نو ایا دغه به درسته وي او ټول لمونځ کونکي ورباندې راضي دي حکم یې بیان کړی؟

الجواب: په پورتنۍ صورت کې په یوه امام پسې وتر کول درست دي، البته چې کله یې شافعي امام کوي نو درې رکعتونه دي په یوه سلام وکړي، علامه نووي رحمه الله همدغه افضله ګڼلې ده، البته که شافعي امام پر دوو رکعتونو سلام وګرځوئ نو حنفي مقتدی دي سلام نه ګرځوي بلکې د مسبوق په حکم کې به دې یو رکعت له دعاء قنوت سره پوره کړي لمونځ به یې صحیح وي، بیا به یې د اداء کولو ضرورت نه وي.

په البحر الرائق کې راځي:

وجوزه أبو بكر الرازي ويصلي معه بنية الوتر لأن إمامه لم يخرج بسلامه عنده وهو مجتهدفيه . (البحر الرائق:٢/ ٩٣، باب الوتر، الماجدية).

په فتح القدیر کې راځي:

وقول أبي بكر الرازي إن اقتداء الحنفي بمن يسلم على رأس الركعتين في الوتر يجوز، و إذا سلم إمامه على رأس الركعتين قام المقتدى فأتم منفردًا وكان شيخنا سراج الدين يعقتد قول الرازي. (فتح القدير:١/ ٤٣٧، باب صلاة الوتر، دار الفكر وكذا فى منظومة ابن وهبان:١/ ٦٢ شعر:٦٧، الوقف المدنى ديوبند – وكذا فى البناية شرح الهداية:١/ ٨٣٥، باب صلاة الوتر، فيصل آباد پاكستان).

حضرت شاه صاحب کشمیري رحمه الله فرمایي:

لو اقتدى خلف الشافعي وسلم الشافعي على الركعة الثانية هو مذهبهم ثم أتم الوتر صح وتر الحنفي عند أبي بكر الرازي وابن وهبان: ولو حنفي قام خلف مسلم ... لشفع ولم يتبع ونم فموتر. (العرف الشذى على سنن الترمذى:۱/ ۱۰٤، باب ماجاء فى فصل الوتر، فيصل).

په فتاوی حقانیه کې راځي:

همدا ډول که وتر بالتسلمتين يعنى له دوو رکعتونو وروسته سلام وګرځوي وتر پوره کړي نو د امام ابو بكر الجصاص او متاخرينو فقهاوو په اند به يې اقتداء درسته وي او همدغه ترجيح د حالاتو تقاضا هم ده. په حواله د بنايه شرح هدايه. (فتاوی حقانیه:۳/ ۲٤۲، باب الوتر).

په فتاوی هندیه کې راځي:

ولو صلى الوتر بمن يقنت في الوتر بعد الركوع في القومة والمقتدي لا يرى ذلك تابعه فيه هكذا في فتاوى قاضي خان. (فتاوى هندية:۱/ ۱۱۱ – والدر المختار:۲/ ۷، باب الوتر، سعيد).

په شرح المهذب کې راځي:

وإذا أراد الاتيان بثلاث ركعات ففى الافضل اوجه ...... والثاني ان وصلها بتسليمة واحدة أفضل قاله الشيخ أبو زيد المروزى للخروج من الخلاف فان ابا حنيفة رحمه الله لا يصحح المفصولة والثالث ان كان منفردًا فالفصل أفضل وان كان امامًا فالوصل حتى تصح صلاته لكل المقتدين ...... والمذهب ان السنة أن يقنت في الركعة الآخرة من صلاة الوتر في النصف الاخير من شهر رمضان هذا هو المشهور في المذهب ونص عليه الشافعي رحمه الله وبه قال جمهور الأصحاب. (شرح المهذب:٤/ ۱۳ - ۱۵، دار الفكر).

يصح: الاقتداء بالحنفى ونحوه إلا أن يتحقق إخلاله بما نشترطه ونوجبه وهذه الأوجه جارية فى صلاة الشافعى خلف حنفى وغيره. (شرح المهذب:۱/ ۲۰۳، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

د حنفي امام په اقتداء کي د شافعي وتر درې رکعته په یوه سلام اداء کول

سوال: که یو شافعي د حنفي په اقتداء کي د وترو لمونځ اداء کړي یعني درې رکعته په یوه سلام سره نو د شافعي مقتدي وتر به صحیح وي او که نه؟

الجواب: د شافعي مقتدي وتر په حنفي پسي صحیح او درست دي ځکه د شوافعو په اند وتر یو رکعت درې رکعته، پنځه رکعته اووه رکعته، نهه رکعته تر یوولس رکعتو پوري اداء کولای سي او درې رکعته په یوه سلام سره امام نووي رحمه الله په شرح المهذب کي ښه ګڼلي دي د دې له پاره چي د اختلاف څخه ځان وژغورل سي لهذا په پورتنی صورت کي به لمونځ درست وي.

په شرح الهذاب کي راځي:

وإذا أراد الاتيان بثلاث ركعات ففي الافضل اوجه ...... والثاني ان وصلها بتسليمة واحدة أفضل قاله الشيخ أبو زيد المروزى للخروج من الخلاف فان ابا حنيفة رحمه الله لا يصحح المفصولة والثالث ان كان منفردًا فالفصل أفضل وان كان امامًا فالوصل حتى تصح صلاته لكل المقتدين ...... والمذهب ان السنة أن يقنت في الركعة الآخرة من صلاة الوتر في النصف الاخير من شهر رمضان هذا هو المشهور في المذهب ونص عليه الشافعي رحمه الله وبه قال جمهور الأصحاب. (شرح المهذب:٤/ ١٣ - ١٥، دار الفكر).

په اعانة الطالبين کي راځي:

وأقله ركعة وأدنى الكمال أي أن الكمال في الوتر له مراتب، وأدناها ثلاث ثم خمس ثم سبع ثم تسع فكل مرتبة أعلى من التي قبلها وأدنى من التي بعدها وأكثره أحدى عشر ركعة. (اعانة الطالبين:١/ ٢٤٩).

په شرح المهذب کي راځي:

ويجوز أن يجمعها بتسليمة لما روت عائشة رضي الله عنها أن النبي ﷺ كان لا يسلم في ركعتي الوتر. (شرح المهذب:٤/ ١١، باب الوتر، دار الفكر). والله تعالى اعلم.

د شافعي امام په اقتداء کي د حنفي وتر په دوه سلامه

سوال: که کوم حنفي ديو شافعي په اقتداء کي د وترو لمونځ په دوه سلامه وکړي نو ايا دغه به صحيح وي؟

الجواب: که شافعي امام دری رکعته په يوه سلام سره اداء کړي نو د حنفي وتر صحيح دي که يې په دوه سلامه اداء کړي نو حنفي مقتدی دي ولاړ سي او خپل وتر دي پوره کړي نو دحنفي وتر صحيح دي دوهم ځل يې د اداء کولو ضرورت نه سته.

په البحر الرائق کي راځي:

وجوزه أبو بكر الرازي ويصلي معه بنية الوتر لأن إمامه لم يخرج بسلامه عنده وهو مجتهدفيه. (البحر الرائق:٢/ ٩٣، باب الوتر، الماجدية).

په فتح القدير کي راځي:

وقول أبي بكر الرازي إن اقتداء الحنفي بمن يسلم على رأس الركعتين في الوتر يجوز، و إذا سلم إمامه على رأس الركعتين قام المقتدى فأتم منفردًا وكان شيخنا سراج الدين يعقتد قول الرازي. (فتح القدير:١/ ٤٣٧، باب صلاة الوتر، دار الفكر وكذا فی منظومة ابن وهبان:١/ ٦٢ شعر:٦٧، الوقف المدنی ديوبند – وكذا فی البناية شرح الهداية:١/ ٨٣٥، باب صلاة الوتر، فيصل آباد پاکستان).

حضرت شاه صاحب کشميري رحمه الله فرمايي:

لو اقتدى خلف الشافعي وسلم الشافعي على الركعة الثانية هو مذهبهم ثم أتم الوتر صح وتر الحنفي عند أبي بكر الرازي وابن وهبان : ولو حنفي قام خلف مسلم ... لشفع ولم يتبع وتم فموتر. (العرف الشذی علی سنن الترمذی:١/ ١٠٤، باب ماجاء فی فصل الوتر، فيصل).

په فتاوی حقانیه کې راځي:

همدا ډول که د وتر بالتسلمتین یعنی له دوو رکعتونو وروسته سلام وګرځوئ او وتر پوره کړي نو د امام ابوبکر الجصاص رحمه الله او متاخرینو فقهاوو په اندېې اقتداء درسته ده او همدغه د حالاتو تقاضا ده. په حواله بنایه شرح هدایه. (فتاوی حقانیه:۳/ ۲٤۲، باب الوتر).

په فتاوی هندیه کې راځي:

ولو صلى الوتر بمن يقنت في الوتر بعد الركوع في القومة والمقتدي لا يرى ذلك تابعه فيه هكذا في فتاوى قاضي خان . (فتاوى هندية:۱/ ۱۱۱ – والدر المختار:۲/ ۷، باب الوتر، سعيد). والله تعالى اعلم.

د وترو په درېیم رکعت کې د سورت له نه ویلو څخه د وترو د لمانځه حکم

سوال: یو ځا د بې علمي له امله د وترو لمونځ د ماښام پر لمانځه قیاساوه او په درېیم رکعت کې یې سورت نه وایه کله چې اوس ورته مسئله معلومه سوه نو د مخکینو وترو قضاء وربانديې سته او که نه؟

الجواب: د وترو په درېیم رکعت کې سورت ویل واجب دي او د مسئلې نه معلومتیا کوم عذر نه دئ لهذا په دې صورت کې به مخکینو وترو قضاء راوړي.

وګورئ په امداد الفتاح کې راځي:

دليل الفريضة لما كان قاصرًا لكونه من أخبار الآحاد ظهر أثر المقصود فيما هو من باب الاحتياط وهو لزوم القراءة في كل ركعة كالسنن لمشابهة بها من حيث الثبوت فيفسد بترك القراءة في ركعة منه احتياطًا من المستصفى عن الإيضاح والبرهان والتبيين والفتح وغيرها.

(امداد الفتاح:٤١٣، باب الوتر، بيروت).

په حاشیة الطحطاوي على الدرر کې راځي:

وفی الحاوی تذکر أنه ترک القراءة فی کل رکعة واحدة من صلاة یوم ولیلة قضی الفجر والوترو وجهه أن ترک القراءة فی رکعة واحدة لایبطلها فی سائر الصلوات إلا الفجر والوتر.

(طحطاوی علی الدر:۱/ ۳۰٤، باب قضاء الفوائت).

په البحر الرائق کي راځي:

(قوله وقرأ في كل ركعة منه فاتحة الكتاب وسورةً) بيانلـمخالفته للفرائض، فيقرأ في كل ركعة منه حتمًا ونقل في الهداية أنه بالإجماع وفي التجنيس لو ترك القراءة في الركعة الثالثة منه لم يجز في قولهم جميعًا . (البحر الرائق:۲/ ٤۳، باب الوتر، الماجدية). والله ﷻ اعلم.

که یې وتر له تراویحو څخه مخکې اداء کړل

سوال: که یو چا وتر له لمانځه څخه مخکې اداء کړل نو اوس د وترو را ګرځول واجب دي او که نه؟

الجواب: د وترو اداء کول له تراویحو څخه مخکې هم روا دي، البته له تراویحو څخه وروسته افضل دي لهذا په پورتنی صورت کې د وترو لمونځ اداء سوی دئ د راګرځولو ضرورت یې نه سته.

وګورئ په مراقي الفلاح کي راځي:

ووقتها ما بعد صلاة العشاء على الصحيح إلى طلوع الفجر و لتبعيتها للعشاء و يصح تقديم الوتر على التراويح وتأخيره عنها وهو أفضل حتى لو تبين فساد العشاء دون التراويح والوتر أعادوا العشاء ثم التراويح دون الوتر عند أبي حنيفة رحمه الله . (مراقی الفلاح:۱۵۹، فصل فی صلاة التروايح، مكة المكرمة).

په درمختار کي راځي:

ووقتها بعد صلاة العشاء إلى الفجر قبل الوتر وبعده فی الأصح...... وفی الشامية: أي من أقوال ثلاثة: الأول أن وقتها الليل كله، قبل العشاء وبعده وقبل الوتر وبعده...... الثاني: أنه ما بين العشاء والوتر، وصححه في الخلاصة ...... الثالث: ما مشى عليه المصنف تبعًا للكنز،

وعزاه في الكافي إلى الجمهور، وصححه في الهداية والخانية والمحيط بحر. (الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ٤٤، صلاة التروايح، سعيد). والله ﷻ اعلم.

دوهم ...... فصل

د دعاء قنوت بيان

كه يې د وترو د ركعتونو په تعداد كي شک وي نو د دعاء قنوت ويلو حكم

سوال: كه چا ته د وترو په تعداد كي شک وي چي دوه ركعته يې كړی دي او كه دري نو قنوت دي په كوم ركعت كي ووايي؟

الجواب: په ياد صورت كي چي په هر ركعت كي يې شک وي په هغه كي دي دعاء قنوت ولولي بيا دي كښېنى كېداى سي چي دغه يې درېيم ركعت وي بيا دي د درېيم ركعت له پاره ولاړ سي او په هغه كي دي هم قنوت ووايي ركعت دي پوره كړي او سجده سهو دي وكړي.

وګوري په درمختار كي راځي:

أمالو شک أنه فی ثانيته أو ثالثته كرره (القنوت) مع القعود فی الأصح وفی الشامی: (قوله كرره مع القعود) أي فيقنت ويقعد في الركعة التي حصل فيها الشك لاحتمال أنها الثالثة، ثم يفعل كذلك في التي بعدها لاحتمال أنها هي الثالثة وتلك كانت ثانية. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۱۰، باب الوتر والنوافل، سعيد).

په خلاصة الفتاوى كي راځي:

لوشک فی الوتر وهو قائم أنها ثانية أم ثالثة يتم تلک الركعة ويقنت فيها أيضًا ويسجد للسهو هو المختار. (خلاصه الفتاوى:۱/ ۱۷۰، الفصل السادس عشر فی السهو فی الصلاة، الرشدية).

همدا ډول وګورئ: (الفتاوی الهندية:۱/ ۱۱۱، باب الوتر، بلوچستان- وفتاوی قاضيخان:۱/ ۱۰۵، علی هامش الهندية – والبحر الرائق:۲/ ٤۱، باب الوتر الماجدية).

په عمدة الفقه کي راځي:

که دوترو په لمانځه کي شک ورته پيښ سي چي دغه دوهم رکعت دي او که دريم نو په هغه کي دي قنوت ووايي او بيا دي کښېني او بيا دي ولاړ سي او يو بل رکعت دي اداء کړي او په هغه کي دي هم قنوت ووايي او بيا دي کښېني او سجده سهو دي وکړي. (عمدة الفقه، کتاب الصلاة:۲/ ۲۹٤)

همدارنګه وګورئ: (فتاوی حقانيه:۳/ ۲۳٦، باب الوتر). والله ﷻ اعلم.

که يې دعاء قنوت ياد نه وي نو د بلي دعاء د ويلو حکم

سوال: که يو چا ته دعاء قنوت ياد نه وي نو څه به وايي؟

الجواب: که يې دعاء قنوت ياد نه وي نو اللّٰهم اغفرلی دي ووايي يا دي اللّٰهم ربنا اتنا فی الدنيا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار. ووايي يا دي درې ځله يا رب يا رب ووايي.

وګورئ په مراقي الفلاح کي راځي:

ومن لم يحسن دعاء القنوت المتقدم قال الفقيه أبو الليث رحمه الله: يقول: اللّٰهم اغفر لي ويكررها ثلاث مرات أو يقول: ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار، في التجنيس هو اختيار مشايخنا أو يقول: يا رب يا رب يا رب، ثلاثًا ذكره الصدر الشهيد فهذه ثلاثة أقوال مختارة. (مراقی الفلاح: ١٤٤،باب الوتروا أحكامها، مكة المكرمة – وكذا فی البحر الرائق:۲/ ٤۲، باب الوتر – وكذا فی الشامی:۲/ ۷، باب الوتر والنوافل، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د دعاء قنوت پر ځای د سورة اخلاص ويلو حکم

سوال: که کوم څوک د سپين ږيرتوب له امله او يا د کمزوري له امله مشهور دعاء قنوت ويلای نه سي نو ايا د هغه پر ځای سورة اخلاص ويلای سي؟

الجواب: حنفي فقهاء فرمايي، چې کوم څوک چې دعاء قنوت ويلای نه سي نو دري ځله دې اللّٰهم اغفرلی ووايي يا دې اللّٰهم ربنا اتنا فی الدنيا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار يا دې دري ځله يا رب يارب يارب ووايي دغه افضل دي، البته سورة اخلاص هم ويلای سي ځکه د دعاء قنوت د نه يادېدو په صورت کي کومه لازمي دعا نه سته او د کريم تعريف د هغه څخه د څه غوښتلو په معنا دئ ((الثناء علی الکريم سوال)).

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

ومن لا يحسن القنوت بالعربية أو لا يحفظه ففيه ثلاثة أقوال مختارة قيل يقول: يا رب ثلاث مرات ثم يركع وقيل يقول: اللهم اغفر لي ثلاث مرات وقيل: اللهم ربنا آتنا في الدنيا حسنةً وفي الآخرة حسنةً وقنا عذاب النار والظاهر أن الاختلاف في الأفضلية لا في الجواز وأن الأخير أفضل لشموله. (البحر الرائق:۲/۴۲، باب الوتر والنوافل، الماجدية).

په مراقی الفلاح کي راځي:

ومن لم يحسن دعاء القنوت المتقدم قال الفقيه أبو الليث رحمه الله: يقول: اللّٰهم اغفر لي ويكررها ثلاث مرات أو يقول: ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار، في التجنيس هو اختيار مشايخنا أو يقول: يا رب يا رب يا رب ثلاثًا ذكره الصدر الشهيد فهذه ثلاثة أقوال مختارة. (مراقی الفلاح:۱۴۴، باب الوتر و أحكامها، مكة المكرمة – وكذا في البحر الرائق:۲/ ۴۲، باب الوتر – وكذا في الشامی:۲/ ۷، باب الوتر والنوافل، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د وترو په دريم رکعت کي لاس پورته کول او دعاء کول او د مقتديانو آمين ويل څه حکم لري؟

سوال: د وترو په دريم رکعت کي چې کوم کسان لاس پورته کوي او دعاء کوي، امام دعاء کوي او مقتديانو لاسونه پورته کړي وي امين وايي دغه په کوم صحيح حديث ثابت دي او که نه؟

الجواب: د وترو په دریم رکعت کي داسي کول په کوم صحیح مرفوع روایت سره ثابت نه دي، څو موقوف اثار له صحابه وو او تابعینو څخه مروي دي خو اکثره یې د لیث بن ابی سلیم له امله ضعیف دي او حال دا چي د لمانځه بنیاد پر سکون او عزت دئ لهذا داسي کول ښه نه دي.

وګورئ په مصنف ابن ابي شبیه کي راځي:

حدثنا أبو بكر قال حدثنا أبو الأحوص، عن مغيرة، عن إبراهيم، قال: ارفع يديك للقنوت. حدثنا معاوية ابن هشام، قال: حدثنا سفيان، عن ليث، عن عبد الرحمن بن الأسود، عن أبيه، عن عبد الله؛ أنه كان يرفع يديه في قنوت الوتر، حدثنا عبد الرحمن بن محمد المحاربي، عن ليث، عن ابن الأسود، عن أبيه، عن عبد الله؛ أنه كان يرفع يديه إذا قنت في الوتر. (مصنف ابن أبی شيبة:٤/ ٥٣١/ ٧٠٢٦-٧٠٢٨، باب رفع اليدين فی قنوت الوتر، المجلس العلمی).

په سنن الکبری للبیهقي کي راځي:

أخبرنا أبو عبد الله الحافظ أنبا أبو بكر الجراحی ثنا يحيى بن شاسويه ثنا عبد الكريم السكری ثنا وهب بن زمعة أخبرنی علی الباشانی قال: سألت عبد الله يعنی ابن المبارك رحمه الله عن الذی دعاء ومسح وجهه، قال: لم أجد له ثبتًا. قال علي: ولم أره يفعل ذلك. قال: وكان عبد الله يقنت بعد الركوع فی الوتر، وكان يرفع يديه، وروی عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وأبی هريرة رضي الله عنه فی قنوت الوتر. (السنن الكبری للبيهقی، باب رفع اليدين فی القنوت:٢/ ٢١٢، بيروت).

په مجمع الزوائد کي راځي:

وعن الأسود قال: كان عبد الله ﷺ يقرأ في آخر الركعة من الوتر: [قل هو الله أحد] ثم يرفع يديه فيقنت قبل الركعة. رواه الطبراني في الكبير، وفيه ليث بن أبي سليم وهو مدلس وهو ثقة. (مجمع الزوائد: ۲/ ۲٤٤، باب القنوت فی الوتر، دار الفكر).

په ارواء الغليل کې راځي:

روى الأثرم عن ابن مسعود ﷺ " أنه كان يقنت في الوتر وكان إذا فرغ من القراءة كبر ورفع يديه ثم قنت" .

لم أقف على سنده عند الأثرم لأننى لم أقف على كتابه وإنما وجدت قطعة منه فى الطهارة فى مجموع محفوظ فى المكتبة الظاهرية بدمشق وغالب الظن أنه لا يصح فقد أخرجه ابن أبى شيبة والطبرانى والبيهقى من طريق ليث عن عبد الرحمن بن الأسود عن أبيه عن عبد الله أنه كان يرفع يديه فى قنوت الوتر، وليث هو ابن أبى سليم وهو ضعيف لاختلاطه. (ارواء الغليل فى تخريج أحاديث منار السبيل: ۲/ ۱٦۹/ ٤۲۷، باب صلاة التطوع، المكتب الاسلامى، بيروت).

خلاصه: له دغو ټولو اثارو څخه د قنوت په پيل کې د لاسونو د پورته کېدو ثبوت معلومېږي، د دوام ثبوت يې نه ستنه احناف هم همدغه وايي. والله ﷻ اعلم.

د رفع اليدين فی قنوت الوتر اړوند د شوافو او حنابله وو دلائل

سوال: په وترو کې چې په دعاء قنوت کې شوافع او حنابله په ټوله دعاء کې لاسونه پورته کوي د هغوی دلائل څه دي؟ کوم صريح حديث موجود دئ او که نه؟

الجواب: د کتابونو له تلاش څخه وروسته معلومه سوه چې په دې هکله د شوافعو او حنابله وو سره کوم څرګند مرفوع روايت موجود نه دئ، البته يو حديث چې په مستدرک حاکم کې راغلی دئ له هغه څخه يې استدلال کړی دئ خو محققين فرمايي لم اقف عليه عند الحاكم يعني په عامه توګه

دغه روایت په مستدرک حاکم کي نه پیدا کیږي له دې څخه پرته د صحابه وو عمل او د عمومي دعاء ګانو روایات چي په هغو کي د رفع الیدین ذکر راځي له هغو څخه استدلال کوي.

وګورئ د شوافعو دلائل په البیان کي راځي:

وهل یستحب رفع الیدین فی القنوت؟ فیه وجهان: أحدهما: وهو اختیار الشیخ أبی إسحاق: أن ذلک غیر مستحب لأن النبی ﷺ لم یرفع یدیه إلا فی الاستسقاء والا ستنصار وعشیة عرفة. والثانی: أن ذلک مستحب وهو قول أکثر أصحابنا لما روی أن النبی ﷺ قال: لاترفع الأیدی إلا فی سبعة مواضع: عند رؤیة البیت وعلی الصفا والمروة وفی الصلاة وفی الموقف بعرفة وعند لجمرتین، وروی عن عثمان رضی اللہ عنہ أنه کان یرفع یدیه حتی یبدو ضبعاه، وفی مصنف ابن أبی شیبة: کان عمر رضی اللہ عنہ یقنت بنا بعد الرکوع ویرفع یدیه حتی یبدو ضبعاه، وعن ابن مسعود رضی اللہ عنہ وابن عباس رضی اللہ عنہ أنهما کانا یرفعان أیدیهما إلی صدروهما، فعلی هذا: یستحب أن یمسح یدیه علی وجه عند الفراغ من الدعاء لما روی ابن عباس رضی اللہ عنہ أن النبی ﷺ قال: إذا دعوت...... فادع الله ببطون کفیک ولاتدع بظهور هما فإذا فرغت ...... فامسح راحتیک علی وجهک انتهی، قال ابن الصباغ ولایمسح بیدیه علی غیر وجهه من جمیع بدنه فإن فعل ذلک کان مکروهًا. (البیان فی مذهب الامام الشافعی:۲/ ۲۵۶).

په حاشیتان علی کنز الراغبین شرح منهاج الطالبین کي راځي:

ویسن القنوت في اعتدال ثانیة الصبح ، وهو : " اللّٰهم اهدني فیمن هدیت " إلخ) للاتباع.

رواه الحاکم فی المستدرک عن أبی هریرة رضی اللہ عنہ قال: کان رسول الله إذا رفع رأسه من الرکوع فی صلاة الصبح فی الرکعة الثانیة رفع یدیه فیدعو بهذا الدعاء: اللّٰهم اهدنی إلی آخرما تقدم لکن لم یذکر "ربنا" وقال: صحیح، ورواه البیهقی عن ابن عباس رضی اللہ عنہ قال: کان

رسول الله ﷺ يعلمنا دعاء ندعوبه فی القنوت من صلاة الصبح فذكر ماتقدم، وفی رواية له كان يقنت فی صلاة الصبح وفی وتر الليل بهؤلاء الكلمات فذكر ماتقدم والصحيح سن الصلاة علی رسول الله وفی آخره رواها النسائی فی قنوت الوتر الذی علمه النبی ﷺ الحسن بن علی رضي الله عنه، فالحق به قنوت الصبح والصحيح سن رفع يديه فيه لما تقدم من حديث الحاكم والثانی قاسه علی غيره من أدعية الصلاة. (حاشيتان علی كنز الراغبين:۱/ ۲۴۳).

قال عماد ذكی البارودی فی تعليقه علی حاشيتيه علی كنز الراغبين فی حديث الحاكم: "لم أقف عليه عند الحاكم ". (حاشيتان علی كنز الراغبين:۱/ ۲۴۳).

د حنابله وو مذهب:

په المغني کي راځي:

فيرفع يديه في حال القنوت، قال الأثرم : كان أبو عبد الله يرفع يديه في القنوت إلى صدره واحتج بأن ابن مسعود رضي الله عنه رفع يديه في القنوت إلى صدره وروي ذلك عن عمر رضي الله عنه، وابن عباس رضي الله عنه وبه قال إسحاق ، وأصحاب الرأي ...... ولنا ، قول النبي ﷺ :[إذا دعوت الله فادع ببطون كفيك ، ولا تدع بظهورهما ، فإذا فرغت فامسح بهما وجهك] . رواه أبو داود ، وابن ماجه، ولأنه فعل من سمينا من الصحابة، وإذا فرغ من القنوت فهل يمسح وجهه بيده ؟ فيه روايتان : إحداهما ، لا يفعل ؛ لأنه روي عن أحمد أنه قال : لم أسمع فيه بشيء ولأنه دعاءفي الصلاة ، فلم يستحب مسح وجهه فيه ، كسائر دعائها . الثانية : يستحب ؛ للخبر الذي رويناه وروى السائب بن يزيد رضي الله عنه، أن رسول الله ﷺ كان إذا دعا رفع يديه ، ومسح وجهه

بيديه، ولأنه دعاءيرفع يديه فيه، فيمسح بهما وجهه، كما لو كان خارجًا عن الصلاة، وفارق سائر الدعاء، فإنه لا يرفع يديه. (المغنى:۱/ ۷۸٦).

د دې دلائلو جواب:

د احنافو د مذهب مطابق د دغو رواياتو جواب دا دئ چې د رفع دين څخه مراد په پيل کې لاسونه پورته کول دي يعني د دعاء قنوت له پاره دې لاسونه پورته کړې بيا دې لاسونه بند وساتي ولاسونو پورته نيول مراد نه دي.

وګورئ په محيط برهاني کې راځي:

وفى آثار أبى حنيفه رحمه الله قال محمد رحمه الله: يرفع يديه فى تكبيرات القنوت كما يرفع فى افتتاح الصلاة ثم يضعهما ويدعو وهذا قول أبي حنيفه رحمه الله.

قال الشيخ الإمام أبو عبد الله الجرجانى رحمه الله: قد صرح بوضع اليمنى على الشمال.(المحيط البرهانى: الفصل الثالث عشر، التروايح والوتر:۲/ ۲۷۱).

په فتاوى شامي کې راځي:

ويكبر قبل ركوع ثالثته رافعًا يديه كما مرثم يعتمد، وفى الشامى: قوله ثم يعتمد أى يضع يمينه على يسارى كما فى حالة القراءة. (الشامى:۲/ ٦).

همدا ډول شيخ عزبن عبد السلام شافعي فرمايي، چې د وترو په قنوت کې د لاسونو پورته کول مستحب نه دي.

وګورئ په فتاوى موصله کې راځي:

ولا يستحب رفع اليدين فى القنوت، كما لايرفع فى دعاء الافتتاح، ولافى الدعاء بين السجدتين، ولم يصح فى ذلک حديث، وكذا لايرفع اليدان فى الدعاء إلا فى المواطن التى

رفع فيها رسول الله ﷺ يديه. (الفتاوى الموصلة: ص ٣٤، للشيخ العز بن عبد الله الشافعي، دار الفكر، بيروت). والله ﷻ اعلم.

دريم ..... فصل

د قنوت نازله بيان

د فقهي له كتابونو څخه د قنوت نازله الفاظ

سوال: د فقهي په كتابونو كي د قنوت نازله كوم الفاظ ليكلي دي او څه بايد وويل سي چي څه غواړي هغه ويلای سي؟

الجواب: په عامه توګه هغه دعاء معمول وه كومه چي په فتاوى شامي كي ليكلي ده، البته نور مناسب الفاظ هم ويلای سي خو ښه دا ده چي په فتاوى شامي كي راغلی ده كله اوږده الفاظ د مقتديانو له پاره د تكليف لامل جوړيږي بلكي ځيني وختونه يې له دوهم ركعت څخه قومه اوږده وي.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

اللّٰهم اهدني ...... اللّٰهم غفر للمؤمنين والمؤمنات والمسلمين والمسلمات . وألف بين قلوبهم، وأصلح ذات بينهم، ونصرهم على عدوك وعدوهم، اللّٰهم العن كفرة الكتاب الذين يكذبون رسلك ويقاتلون أوليائك، اللّٰهم خالف بين كلمتهم، وزلزل أقدامهم، وأنزل عليهم بأسك الذي لا يرد عن القوم المجرمين. (شامي: ٢/ ٦، باب الوتر والنوافل، سعيد).

په نور الايضاح كي راځي:

اللّٰهم اهدنا بفضلك فيمن هديت وعافنا فيمن عافيت وتولنا فيمن توليت وبارك لنا فيما أعطيت وقنا شر ما قضيت إنك تقضي ولا يقضى عليك إنه لا يذل من واليت ولا يعز من

عاديت تبارکت ربنا وتعاليت وصلى الله على سيدنا محمد وآله وصحبه وسلم. (نور الايضاح ص ۹۵، باب الوتر، مجدديه ملتان).

په مراقی الفلاح کي راځي:

اللّٰهم اهدني فيمن هديت وعافني فيمن عافيت وتولنا فيمن توليت وبارك لنا فيما أعطيت وقنا شر ما قضيت إنك تقضي ولا يقضى عليك وإنه لا يذل من واليت تبارکت ربنا وتعاليت وحسنه الترمذي . (رواه أبو داؤد في كتاب الوتر باب القنوت في الوتر والترمذي في كتاب الوتر باب ماجاء في قنوت والوتر وقال هذا حديث حسن لانعرفه الامن هذا الوجه وابن ماجة في كتاب اقامة الصلاة والسنة فيها باب ماجاء في القنوت في الوتر والدارمي في كتاب الصلاة باب الدعاء في القنوت والنسائي في كتاب قيام الليل باب الدعاء في الوتر) وزاد البيهقي بعد واليت ولا يعز من عاديت وزاد النسائي بعد وتعاليت وصلى الله على النبي فهو كما ترى بصيغة الإفراد وفي المروى عنه ﷺ حال دعائه في قنوت الفجر لما كان يفعله، قال الكمال ابن الهمام لكنهم أي المشايخ لفقوه من حديث في حق الإمام عام لا يخص القنوت فقالوه بنون الجمع أي اللّٰهم اهدنا وعافنا وتولنا إلى أخره انتهى . قلت: ومنهم صاحب الدرر والغرر والبرهان . (مراقی الفلاح:۱۴۳، باب الوتر وأحكامها، مكة المكرمة)؟ والله ﷻ اعلم.

په قنوت نازله کي د مسنونو دعاګانو څخه پرته د نورو دعاګانو د ويلو حکم

سوال: ايا دا روا ده چي په قنوت نازله کي له مسنونو دعاګانو څخه پرته نوري دعاګاني ووايي او که چيري امام له مسنونو دعاګانو سره نوري هم اضافه کړي نو حکم به يې څه وي؟

الجواب: په دعاء قنوت کي له منقولو دعاګانو پرته نوري دعاوي هم ويلای سي البته له دنياوي دعاګانو سره به مشابه نه وي مثلاً يا الله فلاني ځای د سروزګان راکړي يا د فلاني نجلی سره مي د نکاح انتظام وکړي په فتاوی شامي کي دغه دعاء منقول ده:

اللّٰهم غفر للمؤمنين والمؤمنات والمسلمين والمسلمات . وألف بين قلوبهم، وأصلح ذات بينهم، ونصرهم على عدوك وعدوهم، اللّٰهم العن كفرة الكتاب الذين يكذبون رسلك ويقاتلون أوليائك، اللّٰهم خالف بين كلمتهم، وزلزل أقدامهم، وأنزل عليهم بأسك الذي لا يرد عن القوم المجرمين. (شامي:۲/ ٦، باب الوتر والنوافل، سعيد).

او دغه ته ورته دعاء علامه خوارزمي د هدايې په شرح كفايه كي: ۳۷۹/۱، كي نقل كوي.

علامه كاساني رحمة الله عليه په بدائع الصنائع كي ليكي:

وأما دعاء القنوت: وليس في القنوت دعاءموقتكذا ذكر الكرخي في كتاب الصلاة ؛ لأنه روي عن الصحابة أدعيةمختلفةً في حال القنوت ؛ ولأن الموقت من الدعاء يجري على لسان الداعي من غير احتياجه إلى إحضار قلبه وصدق الرغبة منه إلى الله تعالى فيبعد عن الإجابة .

(بدائع الصنائع:۱/ ۲۷۳، سعيد).

د علامه كاساني رحمة الله عليه له عبارت څخه دغه خبري معلوميږي.

۱_ په قنوت كي ځانګړي دعاء ضروري نه ده.

۲_ له صحابه وو څخه مختلفي دعاګاني نقل دي.

۳_ د خاصي دعاء د عادت جوړيدو له امله كله كله خشوع او توجه نه پاته كيږي بلكې د معنا لوري ته فكر نه ځي.

البته په قنوت كي د وترو د احنافو په اند اللّٰهم انا نستعينک ويل مسنون دي او كه له دې سره بله دعاء هم ووايي نو درسته ده.

په بدائع الصنائع كي راځي:

وقال بعض مشايخنا : المراد من قوله ليس في القنوت دعاء موقتا سوى قوله اللّهم إنا نستعينك ؛ لأن الصحابة رضي الله عنهم اتفقوا على هذا في القنوت . (بدائع الصنائع:١/ ٢٧٢، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د مصائبو د دفع کېدو له پاره د قنوت نازله د ويلو حکم

سوال: ايا قنوت نازله د مصائبو د رفع کېدو له پاره يوازي تر دېرشو ورځو پورې ويل کيږي آيا له دې څخه زيات هم دئ او که نه؟ او کوم وخت؟ ايا د ماخستن په څلورم رکعت کې يې هم ويلای سي؟

الجواب: قنوت نازله بايد د مصائبو د رفع کېدو له پاره وويل سي او د دېرشو ورځو محدود کول يې نه سته تر څو چې مصيبت او بلاګاني عامې وي تر هغه وخت دې وواييې او د سهار په دوهم رکعت کې دې له رکوع څخه وروسته په قومه کې وواييې، همدا ډول يې د ماخستن په څلورم رکعت کې هم ويلای سي۔

وګورئ په درمختار کې راځي:

ولا يقنت لغيره إلا لنازلة فيقنت الإمام فى الجهرية وقيل فى الكل . وفى الشامى: قال في الصحاح: النازلة الشديدة من شدائد الدهر، ولا شك أن الطاعون من أشد النوازل أشباه (قوله فيقنت الإمام في الجهرية) يوافقه ما في البحر والشرنبلالية عن شرح النقاية عن الغاية: وإن نزل بالمسلمين نازلة قنت الإمام في صلاة الجهر، وهو قول الثوري وأحمد، وكذا ما في شرح الشيخ إسماعيل عن الغاية: قنت في صلاة الفجر، ويؤيده ما في شرح المنية حيث قال بعد كلام: فتكون شرعيته أي شرعية القنوت في النوازل مستمرة ...... وهو صريح في أن قنوت النازلة عندنا مختص بصلاة الفجر دون غيرها من الصلوات الجهرية أو السرية. (شامى:٢/ ١١٠، باب الوتر، سعيد).

په تقریرات الرافعي کي راځي:

(قوله یوافقه ما فی البحر) قال العلامة ط والسندی ما وقع فی بعض نسخ البحر والإمداد عن الغایة إن نزل بالمسلمین نازلة قنت الإمام فی صلاة الجهر فهو تحریف من النساخ وصوابه الفجر. (تقریرات الرافعی:۲/ ۸۸، سعید).

په کفایت المفتي کي راځي:

د جهري لمنځونو په اخرني رکعت کي دې له رکوع څخه وروسته په قومه کي قنوت نازله ووايي امام دې په زوره قنوت ووايي او مقتدي دې په کراره کراه آمین وايي، ديو مصيبت په وخت کي د قنوت نازله ويل روا دي. (کفایت المفتی:۳/ ٤٤٢).

په عمدة الفقه کي راځي:

د دواړو جهانو سردار رحمة العالمین او صحابه کرامو ښه طريقه دا وه چي کله پر مسلمانانو کوم عام مصيبت نازل سي مثلاً د کافرو حکومتونو له طرفه حمله او تشدد وړباندي وکړل سي او په دنيا کي بېرونکی جنګونه پيښ سي يا په نورو بلاګانو او هلاکونکو طوفانونو کي مبتلاء سي نو د داسي مصيبت د دفاع له پاره به يې په فرضي لمنځونو کي قنوت نازله وايه او تر څو چي هغه مصيبت به رفع نه سو دا عمل به جاري وو لهذا چي کله يو عام مصيبت پيښ سي نو د مصيبت تر وخته د قنوت نازله ويل روا دي. (عمدة الفقه:۲/ ۲۹۵). والله ﷻ اعلم.

امام طحاوي رحمه الله به قنوت نازله ته منسوخ ويل د دې مطلب څه دئ؟

سوال: د سهار په لمانځه چي کله مسلمانان په مشکلاتو کي ولوېږي نو قنوت نازله ويل کېږي خو امام طحاوي رحمه الله هغه منسوخ ګڼي د ده د قول مطلب څه دئ؟

الجواب: د سهار په لمانځه کي قنوت منسوخ دئ (۲) ثابت دي، دغه دواړه قولونه د ده څخه مروي دي په دواړو کي تطبيق داسي کېدلای سي چي په سخت مصيبت کي روا دي او په عامو جنګو کي روا نه دي يا دا چي د امام طحاوي رحمه الله د قول چي لاباس به مطلب دا دئ چي سنت نه دي که څه هم روا دئ دا هم ويلای سي چي د امام طحاوي رحمه الله په دغه قول د فقهاوو په اند عمل نه ستبه.

په شرح معاني الاثار کي راځي:

فثبت بما ذكرنا أنه لا ينبغي القنوت في الفجر في حال حرب ولا غيره قياسًا ونظرًا على ما ذكرنا من ذلك . وهذا قول أبي حنيفة رحمة الله عليه وأبي يوسف رحمة الله عليه ومحمد رحمة الله عليه. (شرح معانی الآثار:١/ ١٨٠، باب القنوت فی صلاة الفجر وغيرها، فيصل).

په نشر الازهار على شرح معانی الآثار کي راځي:

وليعلم أن كلام المصنف رحمة الله عليه صريح فی نسخ القنوت فی غير الوتر سواء كان لنازلة أو غيرها والمصرح فی كتب المذهب جوازه عند النازلة وذكروه عن المصنف رحمة الله عليه ايضًا.

(نثر الأزهار على شرح معانی الآثار:١/ ٤٧١).

په امانی الاحبار کي راځي:

والظاهر من كلام الطحاوی أن أبا حنيفة رحمة الله عليه وصاحبيه رحمة الله عليه لايقولون بالقنوت فيما سوى الوتر مطلقًا .... وذكر أئمتنا الثلاثة أنهم قالوا لاقنوت فی الفجر أصلًا لكن ذكر غير واحد عن الإمام المصنف رحمة الله عليه لابأس بالقنوت إن وقعت بلية وعلى هذا فمشروعية القنوت للنازلة مستمرة لم ينسخ كما صرح الشيخ ابن الهمام وغيره وعلى هذا مشى الشامی وغيره ...... وقد تقدم الجمع بين ما أثبته المصنف رحمة الله عليه ههنا وبين ماذكروه عن المصنف رحمة الله عليه من ثبوت القنوت فی النازلة بأنه لايشرع لمطلق الحرب وإنما يشرع لبلية شديدة.

(امانی الأحبار:٤/ ٥٩).

په فتاوی شامي کي راځي:

لكن في الأشباه عن الغاية: قنت في صلاة الفجر، ويؤيده ما في شرح المنية حيث قال بعدكلام: فتكون شرعيته: أي شرعية القنوت في النوازل مستمرة، وهو محمل قنوت من قنت

من الصحابة بعد وفاته عليه الصلاة والسلام، وهو مذهبنا وعليه الجمهور، وقال الحافظ أبو جعفر الطحاوي رحمه الله إنما لا يقنت عندنا في صلاة الفجر من غير بلية، فإن وقعت فتنة أو بلية فلا بأس به، فعله رسول الله ﷺ. (شامی:۲/ ۱۱، مطلب فی القنوت للنازلة، سعید).

همدا ډول وګوري: (امانی الاحبار:۴/ ۵۹ – وعمدة القاری:۵/ ۲۳۹، ۲۴۱، باب القنوت قبل الرکوع وبعده – وشرح فتح القدیر:۱/ ۴۳۴، باب صلاة الوتر، دار الفکر – ومراقی الفلاح مع الطحطاوی:۳۷۷، باب الوتر، قدیمی). والله ﷻ اعلم.

د سهار په لمانځه د قنوت نازله په وخت کې د لاس بندولو یا ځړولو حکم

سوال: د سهار په لمانځه کې چې کله امام دعاءقنوت وايي نو په دغه وخت کې دي لاسونه بند کړي او که دي لاسونه وځړ وي؟

الجواب: په دې هکله د احنافو په مذهب کې د دواړو اجازه سته یو پر بل به ملامتیا نه وایي، البته پر لاس ځړولو تعامل راغلی دئ.

وګورئ په هدایه کې راځي:

ثم الاعتماد سنة القيام عند أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله حتى لا يرسل حالة الثناء والأصل أن كل قيام فيه ذكر مسنون يعتمد فيه ومالا فلا هو الصحيح فيعتمد في حالة القنوت وصلاة الجنازة ويرسل في القومة وبين تكبيرات الأعياد. (هداية:۱/ ۱۰۲، باب صفة الصلاة).

په شرح العنایه کې راځي:

وعن محمد رحمه الله أنه سنة القراءة ...... قال الفضلي: إن السنة في صلاة الجنازة وتكبيرات العيد والقومة التي بين الركوع والسجود هو الإرسال...... والصحيح ما قاله شمس الأئمة الحلواني وهو الذي أشار إليه في الكتاب أن كل قيام فيه ذكر مسنون، فالسنة فيه الاعتماد كما في حالة الثناء والقنوت وصلاة الجنازة، وكل قيام ليس فيه ذكر مسنون فالسنة فيه الإرسال

فيرسل في القومة عن الركوع وبين تكبيرات الأعياد، وبه كان يفتي شمس الأئمة السرخسي رحمه الله وبرهان الأئمة رحمه الله والصدر الشهيد رحمه الله وذكر في فتاوى قاضي خان: وكلما فرغ من التكبير يضع يده اليمنى على اليسرى تحت السرة، وكذا في تكبيرات العيد وتكبيرات الجنازة والقنوت ويرسل في القومة. (شرح العناية على الهداية على هامش فتح القدير: ۱/ ۲۸۷، باب صفة الصلاة – وكذا فی البحر الرائق: ۱/ ۳۰۸ – والشامی: ۱/ ۴۸۷ و ۲/ ۹، باب الوتر، سعيد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د سهار په لمانځه کي د رکوع څخه وروسته چي کله دعاء قنوت ویل کیږي په دي هکله زموږ معمول دا دئ چي لاسونه دي وځړوي ځکه پر دغه موقع د لاسونو نیول راغلی نه دي او پورته کول یې هم د احنافو له قواعده سره نه برابریږي ځکه نو د احتیاط او ښه خبره دا ده چي لاسونه دي ایله ونیسي. (فتاوی دار العلوم دیوبند: ۴/ ۱۹۲). **همدا ډول وګورئ:** (کفایت المفتی: ۳/ ۴۴۱، فتاوی محمودیه: ۷/ ۱۷۸). والله تعالیٰ اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿من صلى فى يوم ثنتى عشرة ركعة بنى الله له بيتًا فى الجنة﴾

(مصنف عبد الرزاق)

نهم.............باب

د ستنونو او نوافلو بيان

كه يې بېله عذره سنت مؤكده په ناستې اداء كړل نو د هغه حكم

سوال: د ماپښين سنت بېله عذره په ناستې اداء كولاى سي او كه نه؟

الجواب: د ماپښين سنت په ناستې اداء كول بېله عذره هم روا او درست دي.

په حاشيه الطحطاوي كي راځي:

يجوز النفل إنما عبر به ليشمل السنن المؤكدة وغيرها فتصح إذا صلاها قاعدًا مع القدرة على القيام وقد حكي فيه إجماع العلماء قوله ...... فلا يستثنى من جواز النفل جالسًا بلا عذر شيء على الصحيح (قوله يجوز النفل قاعدًا) مطلقًا من غير كراهة كما فى مجمع الأنهر. (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى :۴۰۲، فصل فى صلاة النفل جالسًا، قديمى – وهكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۲۹۲). والله ﷻ اعلم.

كه نفلي لمونځ فاسد سي نو په ناسته يې د راګرځولو حكم

سوال: يو چا نفل په ولاړې شروع كړل بيا ورځخه فاسد سوه، اوس يې په ناستې اداء كولاى سي او كه نه؟

الجواب: نفل لمونځ په شروع سره واجب او لازم ګرځي نو اوس يې حكم د واجب په شان دئ نو په پورتنى صورت كي يې په ناستې اداء كول روا نه دي.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

قوله ويتنفل المقيم راكبًا أى بلا عذر...... واحترز بالنفل عن الفرض والوجب بأنواعه كالوتر والنذور ومالزم بالشروع والإفساد وصلاة الجنازة ...... فلايجوز على الدابة بلا عذر لعدم الحرج كما فى البحر . (شامى:١/ ٢٣٢، سعيد – وهكذا فى غمز عيون البطائر شرح الأشباه والنظائر – وكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:٤٠٢، قديمى). والله ﷻ اعلم.

له فرائضو سره د سنتو د قضاء حكم

سوال: كه يو څوك سنت او فرض لمونځ بېله اوداسه وكړل كله چي يې په ياد سي نو د سنتو قضاء هم سته او كه نه؟

الجواب: كه په دغه وخت كي په ياد ورغلل او د اوداسه وروسته يې اداء كول نو سنت دي هم دوهم ځل اداء كړي او كه يې له وخت څخه وروسته قضاء راوړل وغوښتل نو قضاء يوازي د فرائضو سته د سنتو قضاء نه سته. د زوال څخه مخكي يوازي د سهار د سنتو قضاء راوړلای سي.

وګورئ په شرح معاني الاثار كي راځي:

عن أم سلمة ﵂ قالت : صلى رسول الله ﷺ العصر ثم دخل بيتي فصلى ركعتين فقلت: يا رسول الله : صليت صلاةً لم تكن تصليها قال : قدم علي مالفشغلني عن ركعتين كنت أصليهما بعد الظهر فصليتهما الآن . قلت : يا رسول الله أفنقضيهما إذا فاتتا قال : لا . (شرح معانى الآثار للامام الطحاوى :١/ ٢٤١).

له دې حديث شريف څخه معلومېږي چي د وخت څخه وروسته د سنتو قضاء نه سته.

په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما بيان أن السنة إذا فاتت عن وقتها هل تقضى أم لا ؟ فنقول وبالله التوفيق : لا خلاف بين أصحابنا في سائر السنن سوى ركعتي الفجر أنها إذا فاتت عن وقتها لا تقضى سواءفاتت وحدها ، أو مع الفريضة ، لما روت أم سلمة ﵂ أن النبي ﷺ دخل حجرتي بعد

العصر...... أما سنة الفجر فإن فاتت مع الفرض تقضي مع الفرض استحسانًا لحديث ليلة التعريس فإن النبي ﷺ لما نام في ذلك الوادي ثم استيقظ بحر الشمس فارتحل منه ثم نزل وأمر بلالًا فأذن فصلى ركعتي الفجر ، ثم أمره فأقام فصلى صلاة الفجر. وأما إذا فاتت وحدها لا تقضى عند أبي حنيفة رحمه الله، وأبي يوسف رحمه الله . (بدائع الصنائع:١/ ٢٨٧، سعيد).

په امداد الفتاح کي راځي:

حكم قضاء الصلاة المسنونة: ولم تقض سنة الفجر إلابفر ائضها مع الفرض إلى الزوال سواء قضى الفرض بجماعة أو منفرداً فإنه يصلي السنة ثم يقضي الفرض والقياس أن لاتقضى السنة الاختصاص القضاء بالواجب لكن ورد الخبر بقضائها قبل الزوال تبعًا للفرض: وما روى أنه عليه السلام "قضاها مع الفرض غداة ليلة التعريس بعد ارتفاع الشمس" فيبقى ما رواه على الأصل فلا تقضى وحدها قبل طلوع الشمس اتفاقًا وتقضى بعده قبل الزوال تبعًا اتفاقًا ...... وأما غيرها من السنن فلا تقضى تبعًا لا فى الوقت على الصحيح .

(امداد الفتاح:٢ ٠ ٥، حكم قضاء الصلاة المسنونة، بيروت). والله تعالىٰ اعلم.

که يې سنت او يا نفل بيله اوداسه کړي وي د هغو د راګرځولو حکم

سوال: که کوم چا سنت يا نفل بيله اوداسه وکړل نو د لزم النفل بالشروع له امله يې قضاء واجب ده او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي يې قضاء واجب نه ده او د لزم النفل بالشروع مطلب دا دئ چي په شروع کول يې درست دي بيا په کوم سبب سره فاسد سوی وي او په پورتنی صورت کي يې بيله اوداسه شروع راغلي نه ده.

په بدائع الصنائع کي راځي:

قال أصحابنا : إذا شرع في التطوع يلزمه المضي فيه ...... ثم الشروع إنما يكون سبب الوجوب إذا صح ، فأما إذا لم يصح فلا ، حتى لو شرع في التطوع على غير وضوء ، أو في ثوب نجس لا يلزمه القضاء . (بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع:۱/ ۲۹۱، سعید کمپنی). واللہ ﷻ اعلم.

د مازديگر څخه مخکې سنت که يې په منځ کې پرېښودل نو د مازديگر څخه وروسته يې د کولو حکم

سوال: يو چا د مازديگر مخکنی سنت شروع کړل بيا د جماعت د شروع کېدو له امله پرېښودل نو د مازديگر څخه وروسته يې اداء کولای سي؟

الجواب: د مازديگر څخه وروسته يې کول مکروه دي د مکروه وختو څخه پرته يې قضاء راوړل صحيح دي نو سره له کراهته اداء کيږي يعني له ذمې څخه يې ساقطيږي.

وګورئ په شرح منية المصلى کي راځي:

ولو افتتح النافلة فی وقت مستحب ثم أفسدها أو فسدت ...... لايقضيها فيها بعد العصر قبل الغروب أو بعد طلوع الفجر قبل ارتفاع الشمس أی يكره أن يقضيها ...... ولو قضاها فيها تسقط عنه وتصح مع الكراهة. (شرح منية المصلى:۲۴۴، سهيل اكيدمى لاهور – وكذا فی الدر المختار مع درالمحتار:۱/ ۳۷۴، سعيد – وكذا فی حاشية الطحطاوی علی الدر:۱/ ۲۹۹). واللہ ﷻ اعلم.

په فرض کونکي پسي د سنت کونکي حکم

سوال: يو چا د ماپښين لمونځ په امام پسي وکړ له دې څخه وروسته بل ځای يو چا د ماپښين لمونځ کاوه نو دغه کس د ماپښين سنت په هغه پسي اداء کولای سي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي سنت کول رواء دي ځکه د ذمه داري څخه د وتلو له پاره مطلق نيت کافي دئ لکه چي علامه شامي رحمه الله فرمايي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

ثم اعلم أن ما ذکره المصنف هنا مخالف لما قدمه في شروط الصلاة بقوله وكفى مطلق نية الصلاة لنفل وسنة وتراويح، وذكر الشارح هناك أنه المعتمد، ونقلنا هناك عن البحر أنه ظاهر الرواية وقول عامة المشايخ وصححه في الهداية وغيرها، ورجحه في الفتح ونسبه إلى المحققين. قلت: فعلى هذا يصح الاقتداء في التراويح وغيرها بمفترض وغيره، ومثلها سائر السنن الرواتب كما تقيده عبارة الخانية تأمل. (شامی:۱/ ۵۹۰، باب الامامة، سعید کمپنی). والله ﷻ اعلم.

د ماښام د اذان او اقامت په منځ کې د دوو رکعتونو د کولو حکم

سوال: د څلورو امامانو په اند د ماښام د اذان او اقامت تر منځ د دوو رکعتونو د کولو حکم څه دئ؟

الجواب: د احنافو په اند مباح دي او د شوافعو دوه قوله دي:

۱_ مستحب.

۲_ مباح.

د مالکیه وو په اند مستحب نه دي او د ځینو په اند منسوخ دئ د حنابله وو په اند روا دي مګر سنت نه دئ.

وګورئ په درمختار کې راځي:

وحرر إباحة ركعتين خفيفتين قبل المغرب: وأقره في البحر والمصنف ...... وفي الشامي: (قوله وحرر إباحة ركعتين) فإنه ذكر أنه ذهبت طائفة إلى ندب فعلهما، وأنه أنكره كثير من السلف وأصحابنا ومالك واستدل لذلك بما حقه أن يكتب بسواد الأحداق ثم قال: والثابت بعد هذا هو نفي المندوبية، أما ثبوت الكراهة فلا إلا أن يدل دليل آخر وما ذكر من استلزام تأخير المغرب فقد قدمنا عن القنية استثناء القليل، والركعتان لا يزيد على القليل إذا تجوز فيهما. (الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۱۴، باب الوتر والنوافل، سعید – وکذا فی تبیین الحقائق:۱/ ۸۷،

مکروهات الصلاة، امدادية ملتان – وكذا فى فتح القدير: ١/ ٤٤٥، باب النوافل – والفتاوى الهندية: ١/ ٥٢).

پہ شرح المهذب کي راځي:

فرع في استحباب ركعتين قبل المغرب وجهان مشهوران في طريقة الخراسانيين (الصحيح) منهما الأستحباب لحديث عبد الله بن مغفل رضي الله عنه ......الخ. (شرح المهذب: ٤/ ٨، باب صلاة التطوع، دار الفكر – وكذا في روضه الطالبين: ١/ ٣٢٧، فى صلاة التطوع، المكتبة الاسلامى – وكذا فى حاشية الجمل: ١/ ٤٨١، باب فى صلاة النفل، دار الفكر).

پہ فتح الباري کي راځي:

وادعى بعض المالكية نسخهما فقال: إنما كان ذلك في أول الأمر حيث نهى عن الصلاة بعد العصر حتى تغرب الشمس .....الخ. (فتح البارى: ٢/ ١٠٨، كتاب الاذان باب كم بين الاذان والاقامة – وفى مواهب الجليل: ٢/ ٤١٠، دار الكتب العلمية، بيروت).

پہ المغني کي راځي:

ركعتان قبل المغرب بعد الأذان فظاهر كلام أحمد رحمه الله: أنها جائزتان وليستا سنة ...... الخ. (المغنى لابن قدامة: ١/ ٧٦٦، دار الكتب العلمية، بيروت). والله تعالى اعلم.

د ماخستن څخه مخکي د څلورو رکعتو د کولو حکم

سوال: د ماخستن څخه مخکي د څلورو رکعتونو د کولو حکم څه دئ؟ ایا په حدیث سره ثابت دئ او که نه؟

الجواب: د ماخستن څخه مخکي د څلورو رکعتونو قول فقهاوو مستحب بللی دي او د حدیث په ځینو کتابو کي ذکر دئ خو د حدیث په کتابو کي دغه روایت نه موندل کیږي، البته له یوه عام حدیث څخه استدلال کېدلای سي مثلا نبي کریم ﷺ فرمایي، چي د هر اذان او اقامت په منځ کي لمونځ دئ. بیا له دې حدیث څخه مطلق لمونځ مراد دئ او هغه دوه رکعته دي، البته د امام ابو حنیفه

رحمه الله د اصولو مطابق د شپږ لمونځ څلور رکعته په يوه تحريمه سره افضل دي له دې امله فقهاوو څلور رکعته مستحب ګڼلي دي او ځيني فرمايي، چې اختيار سته .

په بخاري شريف کې راځي:

عن عبد الله بن مغفل رضي الله عنه أنه عليه السلام: بين كل أذانين صلاةبين كل أذانين صلاة، ثم قال في الثالثة : لمن شاء. (رواه البخاري:١/ ٨٧، باب بين كل اذانين صلاة، فيصل).

په امداد الفتاح کې راځي:

و ندب قبل العشاء لما قاله في الاختيار شرح المختار: يستح أن يصلى قبل العشاء أربعًا وقيل: ركعتين،...... عن عائشة رضي الله عنها " أنه عليه السلام كان يصلي قبل العشاء أربعًا ثم يصلي بعدها أربعًا ثم يضطجع". (امداد الفتاح:ص ٤٢٨، بيروت – وكذا في الاختيار:١/ ٧٢، باب النوافل، بيروت).

په شرح منية المصلی کې راځي:

وأما الأربع قبل العشاء فلم يذكر في خصوصها حديث لكن يستدل له بعموم مارواه الجماعة من حديث عبد الله بن مغفل رضي الله عنه أنه عليه السلام قال: بين كل أذانين صلاة بين كل أذانين صلاة ثم قال في الثالثة: لمن شاء" فهذا مع عدم المانع من التنفل قبلها يفيد الاستحباب لكن كونها أربعاً يتمشى على قول أبي حنيفة رحمه الله لأنها الأفضل عنده فيحمل عليها لفظ الصلاة حملًا للمطلق على الكامل ذاتاً ووصفًا . (شرح منية المصلى:ص ٣٨٥، سهيل).

والله سبحانه وتعالى اعلم.

د وترو څخه وروسته د دوو رکعته نفلو حکم

سوال: د وترو څخه وروسته دوه رکعته نفل کول ثابت دي او که نه؟

الجواب: د وترو څخه وروسته دوه رکعته نفل کول له احاديثو څخه ثابت دي همدا ډول د اکابرينو په مختلفو فتاواوو کي هم ذکر دي، البته د فقهيي په کتابونو کي يې يادونه نه سته خو علامه شامي رحمة الله عليه د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه دا فرمان ذکر کړي دئ اذا صح الحديث فهو مذهبی لهذا د وترو څخه وروسته دوه رکعته کول به له مذهب څخه وتل نه وي بلکي په عين مذهب سره به عمل کول وي ځکه صحيح احاديث موجود دي.

وګورئ په مسلم شريف کي راځي:

عن أبی سلمة قال: سألت عائشة رضي الله عنها عن صلاة رسول الله ﷺ فقالت: كان يصلی ثلاث عشرة ركعةً ثم يصلی ثماني عشرة ركعة ثم يوتر ثم يصلی ركعتين وهو جالسفإذا أراد أن يركع قام فركع ثم يصلی ركعتين بين النداء والإقامة من صلاة الصبح. (رواه مسلم:١/ ٢٥٤).

په بيهقي سنن كبرى كي راځي:

عن أنس بن مالک رضي الله عنه أن النبی ﷺ كان يصلی بعد الوتر الركعتين وهو جالس. (السنن الكبرى للبيهقی:٣/ ٣٣، دار المعرفة).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (بخاری شريف:١/ ١٥٥ - باب المداومة على ركعتی الفجر – مسلم شريف:١/ ٢٥٦ – وابو داؤد شريف:ص ١٩٠ – جامع ترمذی شريف:١/ ١٠٨ - وابن ماجه شريف:ص ٨٣- ومسند امام احمد بن حنبل:٦/ ٢٩٨/ ٢٦٥٩٥ – ودار قطنی:٢/ ٣٧ –ومؤطا امام محمد:ص ١٤٨).

په معارف السنن کي راځي:

والركعتان بعد الوتر لم يرو عن أبی حنيفة رحمة الله عليه والشافعی رحمة الله عليه شئ. وأنكر هما مالک رحمة الله عليه، وقال أحمد رحمة الله عليه: لا أفعلهما ولا أمنع من فعلهما، حكاه النووی رحمة الله عليه فی "شرح مسلم" و "شرح المهذب" وكذا فی "شرح المواهب" وأبا حهما الأوزاعی

رحمه الله...... وحكى عن أبى الحسن الآمدى رحمه الله: أنها من السنن الراتبة، وذكر أنه أوصى بهما خالد بن معدان، وكثير بن مرة الحضرمى، وفعلهما حسن. (معارف السنن:٤/ ٢٠٥، بيان المذاهب فى الركعتين بعد الوتر جالسًا، سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

وفي حاشية البحر للخير الرملي: رأيت في كتب الشافعية أنه قد يسن الأذان لغير الصلاة ......، وعند تغول الغيلان: أي عند تمرد الجن لخبر صحيح فيه . أقول ولا بعد فيه عندنا، أي لأن ما صح فيه الخبر بلا معارض فهو مذهب للمجتهد وإن لم ينص عليه، لما قدمناه في الخطبة عن الحافظ ابن عبد البر رحمه الله والعارف الشعراني رحمه الله عن كل من الأئمة أنه قال: إذا صح الحديث فهو مذهبي. (الشامى:١/ ٣٨٥، مطلب فى المواضع التى يندب لها الأذان فى غير الصلاة، سعيد – شرح عقود رسم المفتى:ص ١٧).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د وترو څخه وروسته نفل کول روا دي ځينو صحابه کرامو چي د ماخستن څخه وروسته به يې وتر کول هغوی به دشپي په اخر کي تهجد کاوه نو معلومه سوه چي د وترو څخه وروسته نوافل ممنوع نه دي، همدا ډول نبي کريم ﷺ د وترو څخه وروسته دوه رکعته نفل کړي دي. (فتاوی دار العلوم ديوبند:٤/ ٢٢٠). **همدا ډول وګورئ:** (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٢/ ٣٣٥، او کفایت المفتی:٣/ ٣١٨، او فتاوی محمودیه:٧/ ٢٢٤، او فتاوی رحیمیه:٣/ ٢٤).

اشکال او جواب:

اشکال: **له دغه حديث سره په اجعلوا آخر صلاتكم بالليل وترا. هغه روايت چي ركعتين بعد الوتر پکښي ذکر دئ تعارض لري د دې جواب څه دئ؟**

الجواب: **علماوو يې بيل جوابونه کړي دي:**

۱_ واجعلوا اخر صلاتکم باللیل وترا حکم پر استحباب حمل دئ او رکعتان بعد الوتر د جواز له پاره دئ.

۲_ دغه دوه رکعتونه د وترو د پوره کېدو له پاره دي.

۳_ د شپې اخرني لمونځ دي وتر وي ماښام او ماخستن به مخکي وي او وتر به وروسته وي.

۴_ د شپې اخرنی لمونځ چي عشاء مع الوتر دي د هغه مجموعه وتر یعنی طاق وګرځوه مطلب دا چي وتر مه پرېږده دا هم لازم دي او وترانکره دي چي د دې توجیه تائید کوي ځکه د صلاة وتر له پاره معرفه د الوتر لفظ په احادیثو کي مستعمل دئ. والله ﷻ اعلم.

د ماخستن د لمانځه څخه وروسته د تهجد په نیت د دوو یا څلورو رکعتونو د کولو حکم

سوال: که یو څوک د ماخستن د لمانځه له پاره راپورته کېدای نه سي نو د ماخستن څخه وروسته د دوو یا څلورو رکعتونو د کولو څخه د تجهد ثواب سته او که نه؟

الجواب: تهجد په اصل کي هغه لمونځ دئ چي د خوب څخه د راپورته کېدو وروسته اداء کېږي لهذا کوښښ باید دا وي چي د خوب څخه د راپورته کېدو وروسته یې د شپې په اخیر کي اداء کړي خو که د کوښښ سره سره راپورته کېدل مشکل وي یا طالب علم د شپې تر ډېره مطالعه کوي که د بیدېدو څخه مخکي دوه یا څلور رکعتونه د تهجد په نیت سرته وکړئ نو امید دئ چي ثواب به ورکول سي.

په البحر الرائق کي راځي:

ومن المندوبات صلاة اللیل حثت السنة الشریفة علیها کثیرًا وأفادت أن لفاعلها أجرًا کبیرًا فمنها ما في صحیح مسلم مرفوعًا ...... وروی الطبراني مرفوعًا، لا بد من صلاة بلیل ولو حلب شاة وما کان بعد صلاة العشاء قبل النوم. (البحر الرائق:۲/ ۵۲، باب النوافل، لماجدیة).

په فتاوی شامي کي راځي:

قلت: قد صرح بذلك في الحلية، ثم قال فيها بعد كلام: ثم غير خاف أن صلاة الليل المحثوث عليها هي التهجد، وقد ذكر القاضي حسين من الشافعية أنه في الاصطلاح التطوع بعد النوم، وأيد بما في معجم الطبراني من حديث الحجاج بن عمرو ﷺ قال: " بحسب أحدكم إذا قام من الليل يصلي حتى يصبح أنه قد تهجد، إنما التهجد، المرء يصلي الصلاة بعد رقدة " غير أن في سنده ابن لهيعة وفيه مقال، لكن الظاهر رجحان حديث الطبراني الأول لأنه تشريع قولي من الشارع ﷺ بخلاف هذا، وبه ينتفي ما عن أحمد من قوله قيام الليل من المغرب إلى طلوع الفجر...... أقول: الظاهر أن حديث الطبراني الأول بيان لكونه وقته بعد صلاة العشاء، حتى لو نام ثم تطوع قبلها لا يحصل السنة فيكون حديث الطبراني الثاني مفسرًا للأول، وهو أولى من إثبات التعارض والترجيح، لأن فيه ترك العمل بأحدهما، ولأنه يكون جاريًا على الاصطلاح ولأنه المفهوم من إطلاق الآيات والأحاديث، ولأن التهجد إزالة النوم بتكلف مثل: تأثم أي تحفظ عن الإثم، نعم صلاة الليل وقيام الليل أعم من التهجد وبه يجاب ما أورد على قول الإمام أحمد هذا ما ظهر لي. والله أعلم. (شامي:۲/ ۲۴، باب النوافل، سعيد کمپنی – وهكذا فی شرح منية المصلی:۴۲۴، سهيل).

همدا ډول وګورئ: (امداد المفتيين:۲/ ۳۵۹ – وفتاوی محموديه:۷/ ۲۳۴، باب السنن والنوافل، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

په جماعت سره د تهجد د لمانځه د اداء کولو حکم

سوال: په رمضان المبارک کي د تهجد لمونځ په قصده په جماعت سره اداء کول څنګه دي؟

الجواب: د تهجد لمونځ په جماعت سره اداء كول مكروه دي ځكه د نفلو جماعت مكروه دئ خو كه كله بېله راغوښتلو يو او دوه نفره په كوم چا پسې اقتداء وكړي نو ګنجائش يې سته خو همېشه توب مكروه دئ افضل او ښه دا دي چې يوازي دي اداء كړئ.

په مراقي الفلاح كي راځي:

والجماعة في النفل في غير التراويح مكروهة فالاحتياط تركها ...... وعن شمس الأئمة رحمه الله أن هذا كراهة الجماعة في النفل إذا كان على سبيل التداعي أي طريق يدعو الناس للإجتماع عليهم أما لو اقتدى واحد بو احد أو اثنان بواحد لا يكره لأن النبي ﷺ أم ابن عباس رضي الله عنهما في صلاة الليل ...... وصح أنه ﷺ أم أنسًا واليتيم والعجوز فصلى بهم ركعتين، وكانت نافلة وإذا اقتدى ثلاثة بواحد اختلف فيه والأصح عدم الكراهة، وإن اقتدى أربعة بواحد كره اتفاقًا. (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى:۳۸۶، باب الوتر، قديمى كتب خانه –وكذا فى الشامى:۲/ ۴۹، كراهة الاقتداء فى النفل على سبيل التداعى، سعيد كمپنى – وكذا فى المبسوط للامام السرخسى:۲/ ۸۶، باب صلاة الكسوف، ادارة القرآن).

البته حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله په اعلاء السنن كي ليكي: چي كه بېله اهتمامه له درو څخه زيات كسان جمع سي نو دا هم په تداعي كي شامل نه دي او همدغه لغت ته نژدې دي.

په اعلاء السنن كي راځي:

قلت: وتفسير التداعى بالاهتمام والمواظبة أولى من تفسيرها بالعدد والكثرة كما لايخفى، لأن الأول أقرب إلى اللغة وأشبه بهادون الثانى. (اعلاء السنن:۷/ ۹۳، باب كراهة الجماعة فى النوافل، ادارة القرآن، كراچى). والله تعالىٰ اعلم.

كه د تهجد په لمانځه كي سپيدي راپورته سي نو د لمانځه حكم

سوال: یو چا د تهجد لمونځ کاوه او د سهار وخت را داخل سو نو د دې نفلو راګرځول واجب دي او که مستحب دي؟

الجواب: که د تهجد کولو په وخت کې سپیدي را ښکاره سي نو هغه نفل دي پوره کړي د هغه نفل یې صحیح دي.

په فتاوی شامي کي راځي:

لو صلى تطوعًا فی آخر اللیل فلما صلى ركعة طلع الفجر فإن الأفضل إتمامها، لأن وقوعه فی التطوع بعد الفجر لاعن قصد ولاینوبان عن سنة الفجر على الأصح.

(شامی:۱/ ۳۷٤، سعید کمپنی).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ومن صلى تطوعًا في آخر الليل فلما صلى ركعة طلع الفجر كان الإتمام أفضل......

(الفتاوی الهندیة:۱/ ۵۲). والله تعالیٰ اعلم.

که د تهجد په وخت کي قضاء عمري کوي ایا د تهجد ثواب ورکول کیږي؟

سوال: که کوم څوک د تهجد په وخت کي قضاء عمري کوي نو ده ته به د تهجده ثواب ورکول کیږي او که نه؟

الجواب: د تهجد په وخت کي د قضاء عمري په کولو سره د تهجد د لمانځه ثواب ورکول کیږي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

ظاهر ما مر أن التهجد لا يحصل إلا بالتطوع، فلو نام بعد صلاة العشاء ثم قام فصلى فوائت لا يسمى تهجدًا وتردد فيه بعض الشافعية ...... قلت: والظاهر أن تقييده بالتطوع بناء على الغالب وأنه يحصل بأي صلاة كانت لقوله في الحديث المار " وما كان بعد صلاة العشاء فهو من الليل " . (شامی:۲/ ۲٤، فی الصلاة اللیل، سعید).

په فتاوی حقانیه کي راځي:

که څوک د خوب څخه راپورته سي او د قضاء سوي لمانځه قضاء راوړي نو د ځینو فقهاوو په اند دغه هم په تهجد کي شمېرل کیږي.(فتاوی حقانیه:۳/ ٢٦٠، باب السنن والنوافل). والله ﷻ اعلم.

په تراويح کونکي پسي د تهجد کولو حکم

سوال: که يو چا څلور رکعته تراويح پرېښودي چي کله يې د شپې په اخير کي اداء کوي نو د تهجد کونکی په ده پسي لمونځ کولای سي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي تهجد کونکی په تراويح کونکی پسي لمونځ کولای سي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

ولو اقتدى من يصلي سنةً بمن يصلي سنةً أخرى فإنه يجوز كسنة العشاء خلف من يصلي التراويح .... (البحر الرائق:١/ ٣٦١، باب الامامة، الماجدية).

په فتاوی هنديه کي راځي:

لو اقتدى من يصلى السنة بعد العشاء لمن يصلى التراويح ولو نوى سنة العشاء جاز.......

(الفتاوى الهندية:١/ ١١٧ – وكذا فى الفتاوى الولواجية:١/ ١٧ – وكذا فى الطحطاوى على الدر المختار:١/ ٢٩٦ – وفى بدائع الصنائع:١/ ٢٩٠، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د اشراق په لمانځه کي له دوو څخه د زياتو رکعتونو ثبوت

سوال: د اشراق په لمانځه کي فقهاء کرام دوه او يا څلور رکعتونه ليکي په احاديثو کي له دوو رکعتونو څخه زيات ثابت دي او که نه؟

الجواب: په احاديثو کي له دوو رکعتونو څخه د زياتو ثبوت راځي.

وګورئ په الترغيب والترهيب کي راځي:

روى عن أبى أمامة رضي الله عنه قال: من صلى الفجر ثم ذكر الله حتى تطلع الشمس ثم صلى ركعتين أو أربع ركعات لم تمس جلده النار وأخذ الحسن بجلده فمده. رواه البيهقى.

(الترغيب والترهيب:١/ ١٧٨).

په شعب الايمان كي راځي:

عن العلاء، وأبي الجهم، قالا: كان الحسن بن علي جالسًا بعد صلاة الصبح في المسجد، فأتاه رجلفدعاه وجلساءه إلى طعام فأضرب عنه ثم عاد فدعاه، فقال الحسن لجلسائه: قوموا فما منعني أن أجيبه في المرة الأولى إلا أني سمعت رسول الله ﷺ يقول: " من صلى الغداة ثم ذكر الله عز وجل حتى تطلع الشمس، ثم صلى ركعتين أو أربع ركعات لم تمس جلده النار"، وأخذ الحسن بجلده فمده فإذا الذي دعاهم عبد الله بن الزبير فلما وضع الطعام، قال الحسن: إني صائم، فقال ابن الزبير: أتحفوه بتحفة. (شعب الايمان:٣/ ٤٢٠).

په سنن ترمذي كي راځي:

عن أبي الدرداء وأبي ذر رضي الله عنهما: عن رسول الله ﷺ عن الله تبارك وتعالى أنه قال " ابن آدم اركع لي من أربع ركعات من أول النهار أكفك آخره ". (رواه الترمذى:١/ ١٠٨، باب ماجاء فى صلاة الضحى، فيصل – وأبو داؤد:١/ ١٨٣).

دغه حديث محديثنو د صلوة الضحى په باب كي ذكر كړى دئ خو د اشراق د لمانځه په فضيلت كي هم كېدلاى سي ځكه محدثينو په اند د اشراق او څاښت دواړو يو لمونځ دئ.

وګورئ حضرت مولانا انور شاه كشميري رحمه الله فرمايي:

قال الفقهاء والمحدثون : إن صلاة الضحى وصلاة الإشراق واحدة إن صلى بمجرد ذهاب الوقت المكروه بعد الطلوع فصلاة إشراق ولو تأخر عنه بزمان فصلاة الضحى غير صلاة الإشراق ويفيدهما بما روى علي : أن النبي ﷺ صلى الإشراق حين كانت الشمس من هاهنا مقدار ما يكون ههنا وقت العصر ...... (العرف الشذى على هامش الترمذى:١/ ١٠٧، باب ماجاء فى صلاة الضحى). والله تعالى اعلم.

د تحية المسجد كولو حكم

سوال: تحية المسجد سنت دي او كه مستحب؟ كه د نوافلو وخت نه وي نو څه دي وكړي؟

الجواب: تحية المسجد سنت دئ خو كه مسجد ته د ننوتلو وروسته په فرضو او يا مخكنيو سنتو مشغول سو نو دغه لمونځ د تحية المسجد قائم مقام دئ كه مكروه وخت وي چي نوافل نه پكښي كيږي نو په ذكر دي مشغول سي مثلاً سبحان الله والحمد الله ولا اله الا الله والله اكبر او داسي نور.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

(قوله ويسن تحية) كتب الشارح في هامش خزائن أن هذا رد على صاحب الخلاصة حيث ذكر أنها مستحبة ...... ثم قال: وقد حكي الإجماع على سنيتها غير أن أصحابنا يكرهونها في الأوقات المكروهة تقديمًا لعموم الحاظر على عموم المبيح ...... فإنه يسبح ويهلل ويصلي على النبي ﷺ فإنه حينئذ يؤدي حق المسجد كما إذا دخل للمكتوبة فإنه غير مأمور بها حينئذٍ كما في التمرتاشي ...... قال في النهر: وينوب عنها كل صلاة صلاها عند الدخول فرضًا كانت أو سنة، وفي البناية معزيًا إلى مختصر المحيط أن دخوله بنية الفرض أو الاقتداء ينوب عنها وإنما يؤمر بها إذا دخله لغير الصلاة (قوله فى الضياء) عبارته وقال بعضهم: من دخل المسجد ولم يتمكن من تحية المسجد إما لحدث أو لشغل أو نحوه يستحب له أن يقول: سبحان الله، والحمد لله، ولا إله إلا الله، والله أكبر، قاله أبو طالب المكى فى قوت القلوب. (شامى: ٢/ ١٨-١٩، باب النوافل، سعيد).

په معارف السنن كي راځي:

الصلاة هذه تسمى تحية المسجد سنة عندنا وعند الكل عبر عنها بالسنة صاحب الدر المختار وعبر عنها صاحب الخلاصة بأنها مستحبة وكذالک اختلف فيها كلمات المالكية والشافعية والأمر متقارب. (معارف السنن:٣/ ٤٩٥، سعيد). والله تعالى اعلم.

سره د قدرت په ناستي د تحية المسجد د اداء كولو حكم

سوال: كه څوک مسجد ته راسي اوپر ولاړه هم قدرت لري خو د هغه سره سره په ناستي تحية المسجد وكړي نو درسته ده او كه نه؟

الجواب: نفلي لمونځ بيله عذره په ناسته كول ېخي روا او درست دي لهذا په پورتنى صورت كي تحية المسجد هم د نفلو يو ډول دئ له دې امله يې په ناستي كول روا او درست دي، البته ثواب به يې كم وي.

وګورئ په حديث شريف كي راځي:

عمران بن حصين رضي الله عنه : سألت النبي ﷺ عن صلاة الرجل وهو قاعدًا فقال " من صلى قائمًا فهو أفضل ، ومن صلى قاعدًا فله نصف أجر القائم ..... (رواه البخاري:١/ ١٥٠/ ١١٠٥، فيصل).

په حاشية الطحطاوى كي راځي:

يجوز النفل إنما عبر به ليشمل السنن المؤكدة وغيرها فتصح إذا صلاها قاعدًا مع القدرة على القيام وقد حكي فيه إجماع العلماء إلى قوله ...... فلا يستثنى من جواز النفل جالسًا بلا عذر شيء على الصحيح (قوله يجوز النفل قاعدًا) مطلقًا من غير كراهة كما فى مجمع الأنهر. (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى:٤٠٢، فصل صلاة النفل جالسا، قديمى – وهكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار:١/ ٢٩٢ – والدر المختار مع الشامى:٢/ ٣٦، سعيد). والله تعالى اعلم.

صلاة التسبيح په جماعت سره د اداء کولو حکم

سوال: ایا صلاة التسبیح په جماعت سره اداء کیدلای سي د احنافو او شوافعو په اند یې حکم څه دئ؟

الجواب: صلوة التسبیح په جماعت سره اداء کول درست نه دي د احنافو او شوافعو دواړو په اند همدغه حکم دئ ځکه د نوافلو جماعت مکروه دئ مګر که کله نا کله یو یا دوه د راغوښتلو پرته په یو چا پسي اقتداء وکړي نو درسته ده همدا ډول که دري وي نو هم د اصح قول مطابق بیله کراهته صحیح دي، البته که څلور کسان وي بالاتفاق مکروه دي، البته حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله په اعلاء السنن کي لیکي چي که د رابللو پرته له دروشخه زیات کسان جمع سي نو دا هم په تداعي کي داخل نه دي او همدغه لغت ته نژدې ده.

وګورئ په اعلاء السنن کي راځي:

قلت: وتفسير التداعي بالاهتمام والمواظبة أولى من تفسيرها بالعدد والكثرة كما لايخفى، لأن الأول أقرب إلى اللغة وأشبه بها دون الثاني. (اعلاء السنن:۷/ ۹۳، باب کراهة الجماعة فی النوافل، ادارة القرآن، کراچی).

په مراقی الفلاح کي راځي:

والجماعة في النفل في غير التراويح مكروهة فالاحتياط تركها ...... وعن شمس الأئمة رحمه الله أن هذا كراهة الجماعة في النفل إذا كان على سبيل التداعي أي طريق يدعو الناس للإجتماع عليهم أما لو اقتدى واحد بو احد أو اثنان بواحد لا يكره لأن النبي ﷺ أم ابن عباس رضي الله عنهما في صلاة الليل ...... وصح أنه ﷺ أم أنسًا واليتيم والعجوز فصلى بهم ركعتين، وكانت نافلة وإذا اقتدى ثلاثة بواحد اختلف فيه والأصح عدم الكراهة، وإن اقتدى أربعة بواحد كرہ اتفاقًا. (مراقی الفلاح مع حاشیة الطحطاوی:۳۸۶، باب الوتر، قدیمی کتب خانه – وکذا فی

الشامي:٢/ ٤٩، كراهة الاقتداء في النفل على سبيل التداعي، سعيد كمپنى – وكذا في المبسوط للامام السرخسي:٢/ ٨٦، باب صلاة الكسوف، ادارة القرآن).

په فتاوى محموديه كي راځي:

صلاة التسبيح په جماعت سره منقول او مشروع نه دي. (فتاوى محموديه:٧/ ٢٥٣، باب السنن والنوافل، جامعه فاروقيه – وفتاوى حقانيه:٣/ ٢٦٦، باب السنن والنوافل).

په البجيرمي كي راځي:

تتمة: من القسم الذى لاتسن الجماعة فيه صلاة التسابيح. (البجير مى على الخطيب:٢/ ٨٠، القول فى النوافل المؤكدة بعد الرواتب، التوفيقية).

په نهاية المحتاج كي راځي:

ومما لاتسن فيه الجماعة ...... وصلاة التسبيح. (نهاية المحتاج:٢/ ١٢٢، باب فى صلاة النفل، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

د صلوة التسبيح په لنډه او اوږده طريقه ثبوت او د دواړو تر منځ فرق

سوال: د صلوة التسبيح په لنډه او اوږده طريقه كي فرق څه دئ؟ او د سند په اعتبار له دواړو څخه كوم يو زيات اصح دئ؟

الجواب: صلاة التسبيح په اوږده طريقه زيات مشهور دي او د سند په لحاظ تر ټولو زياته صحيح طريقه د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ده په دغه كي پريوه راوي موسى بن عبد العزيز ځينيو كسانو كلام كړى دئ او د محدثينو مختلف نظرونه دي د ځينو په اند حسن او د ځينو په اند ضعيف دئ، البته موضوعي بلل يې غلط دي او شيخ الباني صحيح ګڼلي دئ. (تعليق الالبانى على سنن الترمذى:٢/ ٣٥٠/ ٤٨٢، او سنن ابن ماجه:١/ ٤٤٢/ ١٣٨٦، بيروت او سنن ابو داؤد:١/ ٤٩٩/ ١٢٠٠).

خو همدغه روايت يې د صحيح ابن خزيمه په تعليق كي ضعيف ګڼلى دئ. وګورئ: (صحيح ابن خزيمه:١/ ١٢١٦، باب صلوة التسبيح).

خلاصه الکلام دا ده چې د طرقو د مجموعي په اعتبار د حسن له درجې څخه کم نه دئ، البته صلاة التسبیح په لنډه توګه د سند په لحاظ اصح دئ د دواړو تر منځ فرق دا دئ چې په مختصر کې د تسبیحاتو تعداد دېرش دئ او په مطول کې ټول تعداد درې سوه دي په هر رکعت کې پنځه اویا (۷۵) دي.

وګورئ په ترمذي شریف کې راځي:

عن أبي رافع رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ للعباس رضي الله عنه ألا أصلك ألا أحبوك ألا أنفعك؟ قال بلى يا رسول الله قال: يا عم صل أربع ركعات تقرأ في كل ركعة بفاتحة الكتاب وسورة فإذا انقضت القراءة فقل الله أكبر والحمد لله وسبحان الله، ولا إله إلا الله خمس عشرة مرة قبل أن تركع ثم اركع فقلها عشرًا ثم ارفع رأسك فقلها عشرًا ثم اسجد فقلها عشرًا ثم ارفع رأسك فقلها عشرًا ثم اسجد فقلها عشرًا ثم ارفع رأسك فقلها عشرًا قبل أن تقوم فتلك خمس وسبعون في كل ركعة وهي ثلاث مائة في أربع ركعات فلو كان ذنوبك مثل رمل عالج غفرها الله لك ......قال أبو عيسى هذا حديث غريب من حديث أبي رافع...... عن أنس بن مالك رضي الله عنه: أن أم سليم غدت على النبي ﷺ فقالت علمني كلمات أقولهن في صلاتي فقال: كبري الله عشرًا وسبحي الله عشرًا واحمديه عشرًا ثم سلي ما شئت يقول نعم نعم. وفي الباب عن ابن عباس رضي الله عنه وعبد الله بن عمرو رضي الله عنه والفضل بن عباس رضي الله عنه وأبي رافع رضي الله عنه قال أبو عيسى حديث أنس رضي الله عنه حديث حسن غريب وقد روي عن النبي ﷺ غير حديث في صلاة التسبيح ولا يصح منه كبير شيء وقد رأى ابن المبارك وغير واحد من أهل العلم صلاة التسبيح وذكروا الفضل فيه. (ترمذی شریف:۱/ ۱۰۹، باب ماجاء فی صلاة التسبیح، فیصل).

قال الألباني: صحيح. (سنن ترمذی:۲/ ۳۵۰/ ٤۸۲، بیروت).

حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمايي:

والحديث في صلاة التسبيح مختلف فيه، قيل: ضعيف ، وقيل : إنه حسن ، وهو المختار عند جمهور المحدثين وأدرجه ابن الجوزي في كتاب الموضوعات ، وقال الحافظ ابن حجر في أماليه على كتاب الأذكار للنووي : إنه قد أشار ابن الجوزي حيث أدرجه في كتاب الموضوعات وكلام الحافظ مضطرب في الحكم على حديث التسبيح فإنه قال في التلخيص : إن كل الأسانيد ضعيفة . (العرف الشذى على سنن الترمذى:۱/ ۱۹۰، باب ماجاء فى صلاة التسبيح).

همدا دول وګورئ: (ابو داؤد شريف: ص ۱۸۳، باب صلاة التسبيح – وابن ماجه شريف:ص ۹۹، صلاة التسبيح – سنن كبرى للبيهقى:۳/ ۵۱، باب ماجاء فى صلاة التسبيح – مجمع الزوائد:۲/ ۲۸۱، باب صلاة التسبيح، دار الفكر).

مختصر صلاة التسبيح وګورئ په نسائي شريف كي راځي:

أنس بن مالك رضي الله عنه: قال: جاءت أم سليم إلى النبي ﷺ فقالت: يارسول الله علمني كلمات أدعوبهن في صلاتي قال سبحي الله عشرًا واحمديه عشرًا وكبريه عشرًا ثم سليه حاجتک يقول: نعم نعم . (نسائى شريف:۱/ ۹۱، باب الذكر بعد التشهد).

الباني صاحب فرمايي:

حسن الأسناد الترمذى. (صحيح وضعيف سنن النسائى:۳/ ۴۴۳/ ۱۲۹۹، تحقيق الالبانى).

په صحيح ابن خزيمه كي راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال : جاءت أم سليم إلى رسول الله صلى ﷺ فقالت : يا رسول الله علمني كلمات الخ ..... وعلى هامشه قال الأعظمى: إسناده حسن. (صحيح ابن خزيمة مع الحاشية:۱/ ۴۳۰/ ۸۵۰، باب اباحة التسبيح والتحميد والتكبير فى الصلاة، المكتب الاسلامى).

په صحیح ابن حبان کي راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: جاءت أم سليم إلى رسول الله ﷺ فقالت ...... الخ. وعلى

هامشه: قال شعيب الأرنؤوط: إسناده حسن. (صحيح ابن حبان:٤/ ٢٢٩/ ٢٠١١)/

په مستدرک کي راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: أن أم سليم غدت على النبي ﷺ فقالت ...... الخ. هذا حديث صحيحى على شرط مسلم ولم يخرجاه. (المستدرك:٢/ ٤٤٩/ ٨٩٣). وقال الذهبي في التلخيص: على شرط مسلم.

لكن قال الألباني في "سلسلة الضعيفة والموضوعة": ضعيف.

(أخرجه النسائي:١/ ١٩١ - والترمذي:١/ ١٠٩ – وابن خزيمة...... وقال الترمذي: حديث حسن غريب).

وقال الحاكم صحيح على شرط مسلم، ووافقه الذهبي وأقول: هو كما قالا؛ لولا أن عكرمة بن عمار فيه ضعف من قبل حفظه، كما أشار إليه الحافظ بقوله: صدوق يغلطىء، وفي روايته عن يحيى بن أبي كثير اضطراب، ولم يكن له كتاب، قلت: فبحسب مثله أن يكون حسن الحديث، وأما الصحة؛ فلا وهذا إذا لم يخالف من هو أوثق منه أحفظ، وليس الأمر كذلك هنا. (السلسلة الضعيفة والموضوعة:٨/ ١٦٥).

قلت لايصح ما قاله الشيخ الألباني فإن عكرمة بن عمار ثقة إلا في روايته عن يحيى بن أبى كثير فهى ضعيفة لاضطرابه فيها فقد أطلق توثيقه أيوب السختياني والعجلى وابن المدينى وأحمد بن حنبل وابن معين وأحمد بن صالح المصرى و أبو داؤد وأبو زرعة الدمشقى وابن عمار وعلى بن محمد الطنافسى وإسحاق بن إحمد بن خلف البكارى الحافظ والدار قطنى

وغير هم واجمعوا على اضطراب روايته عن يحيى بن أبى كثير وإنما تكم منه يحيى بن سعيد القطان لأجل ذلک . (تحرير التقريب:٣/ ٣٢).

وهذا الحديث ليس من رواية عكرمة عن يحيى بن أبى كثير فالرواية صحيحة وكون الحديث مرسلًا بسند آخر لاينافى صحة الرواية المرفوعة. والله اعلم.

همدا ډول د محدیثنو په اند چې کله یوه حدیث ته قبولیت حاصل سي او امت تعامل وربانديشروع کړي نو هغه حديث د استدلال وړتيا لري او هغه حديث به صحيح ګڼل کيږي.

وګورئ په قواعد فى علوم الحديث کي راځي:

قد يحكم للحديث بالصحة إذا تلقاه بالقبول، وإن لم يكن له إسناد صحيح، قال ابن عبد البر في الاستذكار لما حكى عن الترمذي أن البخاري صحح حديث البحر " هو الطهور ماؤه وأهل الحديث لا يصححون مثل إسناده لكن الحديث صحيح لأن العلماء تلقوه بالقبول.

قلت: والقبول يكون تارة بالقول وتارة بالعمل عليه ولذ قال المحقق فى الفتح وقول الترمذى العمل عليه عند أهل العلم يقتضى قوة أصله وإن ضعف خصوص هذا الطريق.

(قواعد فى علوم الحديث: ص ٦٠).

وقال البيهقى كان عبد الله بن المبارک رحمه الله يصليها وتداوله الصالحون بعضهم عن بعض وفى ذلک تقوية للحديث الموفوع. (قواعد فى علوم الحديث:ص ٦٢، دار السلام).

بل الحديث إذا تلقته الأمة بالقبول فهو عندنا فى معنى المتواتر. والله أعلم.

په معارف السنن کي راځي:

والأحاديث المروية فيها تجاوز العشرة: من رواية عبد الله بن عباس رضي الله عنه والفضل رضي الله عنه وأبيهما العباس رضي الله عنه وأبى رافع رضي الله عنه وأنس رضي الله عنه وابن عمر رضي الله عنه وعلى بن أبى طالب رضي الله عنه

وأخيه جعفر رضي الله عنه وابنه عبد الله بن جعفر رضي الله عنه و أم سلمة رضي الله عنها والأنصار ...... غير مسمى ..... وقيل: هو جابر بن عبد الله رضي الله عنه، وقيل أنه أبو كبشة الأنصاري رضي الله عنه، تجدها مسرودة في اللآلى المصنوعة، وأمثل هذه الأحاديث وأشهرها وأصحها إسنادًا حديث ابن عباس رضي الله عنه وموسى بن عبد العزيز فيه وثقة بن معين والنسائى وابن حبان وأخرج البخارى من طريقه فى القراءة، وأخرج له فى الأدب. وحديث أبى رافع رضي الله عنه فيه موسى بن عبيدة الربذى ضعفوه، ولكن ابن حبان ذكره فى الثقات، وقال ابن سعد: ثقة وليس بحجة، وعسى أن يصلح مثله شاهداً لحديث ابن عباس رضي الله عنه وأقول: وحديث عبد الله بن عمرو رضي الله عنه عند أبى داؤد له طرق، وأحسنها طريق أبى داؤد، وقد حسنها المنذرى فيكفى شاهدًا لحديث ابن عباس رضي الله عنه، علا أنه قد صححه الحاكم من غير طريق أبى داؤد أيضا، ووافقه الذهبى فى "تلخيصه" قال: هذا إسناد صحيح لاغبار عليه. وحديث أنس رضي الله عنه الذى رواه الترمذى فى الباب الظاهر أنه لاعلاقة له بصلاة التسبيح كما ينبه عليه العراقى وابن حجر وغيرهما، والبقية لاتخلو عن ضعيف وساقط، وربما أفاد قوة اجتماعها وإن كان آحادها ضعيفة، وصحة حديث ابن عباس رضي الله عنه وحده يكاد يكون كفيلًا لصحة البقية والله أعلم. ولاشک أن الشريعة الغراء عينت أنواعًا من الصلاة، وكل نوع ليس له أصل فى الشريعة بدعة، ومن أحدثها من غير أصل ثابت ابتدع.

والحديث فى صلاة التسبيح قد اختلفوا فيه. الخلاف غالبه فى حديث ابن عباس رضي الله عنه لاغير، والأقوال فيه وفى غيره تبلغ إلى خمسة: الصحة والحسن......

فالأول: اختاره أبو على بن السكن وابن خزيمة وابن مندة و أبو بكر الآجرى وأبو بكر بن أبى داؤد وأبو موسى المدينى والديلمى صاحب مسند الفردوس وأبو بكر الخطيب وأبو سعد السمعانى صاحب " كتاب الأنساب " وأبو الحسن بن الفضل وأبو محمد عبد الرحيم المصرى شيخ المنذرى وأبو الحسن المقدسى وسراج الدين البلقينى وصلاح الدين العلائى شيخ الحافظ ابن حجر البدر الزركشى، وكلهم من حفاظ الحديث وجها بذة الفن.

والثانى: ذهب إليه ابن المدينى شيخ البخارى ومسلم بن الحجاج والمنذرى وابن الصلح والنووى فى تهذيب الأسماء وفى الأذكار والتقى السبكى وابن حجر فى أمالى الأذكار وفى الخصال المكفرة للذنوب المقدمة المؤخرة. (معارف السنن:٤/ ٢٨٤، باب ماجاء فى صلاة التسبيح، سعيد كمپنى).

د صلوة التسبيح په هکله چي کوم احاديث منقول دي هغه د تعداد په لحاظ له لسو څخه زيات دي چي د لاندي صحابه وو څخه مروي دي:

(١) حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه (٢) حضرت فضل بن عباس رضي الله عنه

(٣) حضرت عباس رضي الله عنه (٤) حضرت ابو رافع رضي الله عنه

(٥) حضرت انس رضي الله عنه (٦) حضرت ابن عمر رضي الله عنه

(٧) حضرت على رضي الله عنه (٨) حضرت جعفر رضي الله عنه

(٩) حضرت عبيد الله بن جعفر رضي الله عنه (١٠) **يو انصاري صحابي رضي الله عنه چي په نامه کي يې اختلاف دئ.**

په دغو احاديثو کي تر ټولو زيات مشهور او د سند په اعتبار تر ټولو زيات صحيح او معتبر د حضرت ابن عباس رضي الله عنه حديث دئ له دې څخه پرته نور ځيني احاديث محدثينو ضعيف يا

موضوعي ګڼلی دي خو په مخکنيو محديثنو کي تر ټولو غټ او ډېر جليل القدر حضراتو د صلوة التسبيح حديث صحيح يا لږ تر لږه حسن ګڼلی دئ او د موضوعيت قول يې هيڅ غوره کړی نه دئ لکه څنګه چي لاندي محديثنو دغه حديث صحيح ګڼلی دئ.

(۱) ابو علی بن سکن رحمۃ اللہ علیہ (۲) ابن خزيمه رحمۃ اللہ علیہ

(۳) حاکم رحمۃ اللہ علیہ (٤) ابن منده رحمۃ اللہ علیہ

(٥) ابو بکر الآجری رحمۃ اللہ علیہ (٦) ابو بکر ابن ابو داؤد رحمۃ اللہ علیہ

(۷) ابو موسی المدينی رحمۃ اللہ علیہ (۸) ديلمی رحمۃ اللہ علیہ

(۹) خطيب رحمۃ اللہ علیہ (۱۰) سمعانی رحمۃ اللہ علیہ

(۱۱) ابو الحسن المصری رحمۃ اللہ علیہ (۱۲) ابو الحسن المقدسی رحمۃ اللہ علیہ

(۱۳) بلقينی رحمۃ اللہ علیہ (١٤) علائی رحمۃ اللہ علیہ

(۱٥) زرکشی رحمۃ اللہ علیہ (۱٦) البانی رحمۃ اللہ علیہ

لاندي مشائخو دغه حديث حسن ګڼلی دئ:

(۱) ابن المديني چي د امام بخاري او امام مسلم شيخ دئ. (۲) منذري رحمۃ اللہ علیہ.

(۳) ابن الصلاح رحمۃ اللہ علیہ (۴) نووي رحمۃ اللہ علیہ

(۵) سبکي رحمۃ اللہ علیہ (٦) ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ

دغه ټول حضرات په احاديثو کي دفن امامان او ماهرين دي او په دغه فن کي مقتدايان او امامان منل سوي دي نو د دوی په مقابله کي چي څوک دغه حديث ته ضعيف يا موضوعي وايي د هغو قول به څه اعتبار نه لري، شيخ الباني هم دغه حديث صحيح ګڼلی دئ. والله تعالیٰ اعلم.

د ماښام د لمانځه څخه وروسته د اوابينو د اداء کولو حکم

سوال: د ماښام وروسته شپږ رکعته لمونځ ته اوابين ويل څه حکم لري؟ په حديثو کي د دې لمونځ کول ثابت دي او که نه؟ د امام مذهب څه دئ؟ نن سبا عرب په دې اعتراض کوي؟

الجواب : د مابنام د لمانځه څخه وروسته شپږو رکعتونو ته سلفو اوابين ويلي دي او د اوابينو لمونځ په احاديثو ثابت دئ که څه هم احاديث يې له ضعف څخه خالي نه دي خو په مجموعي توګه له حسن څخه کم نه دي په خاصه توګه په فضائلو کي په ضعيف حديث هم عمل کيږي او د فقهاوو په اند د صلوة الاوابين ثبوت سته.

وګورئ په ترمذي شريف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ " من صلى بعد المغرب ست ركعات لم يتكلم فيما بينهن بسوء عدلن له بعبادة ثنتي عشرة سنة" قال أبو عيسى: وقد روي عن عائشة رضي الله عنها عن النبي ﷺ قال: "من صلى بعد المغرب عشرين ركعة بنى الله له بيتا في الجنة ".

(ترمذی شریف:١/ ٩٨، باب ماجاء فی فضل التطوع ست رکعات بعد المغرب – وكذا رواه ابن ماجة:٨١، باب ماجاء فی الست الركعات بعد المغرب – وكذا رواه الطبرانی فی الكبير:١٩/ ١٣٩– والأوسط:٢/ ٣٣٠/ ٨٣١، من اسمه أحمد وقال: لم يرو هذا الحديث عن يحيى بن أبی كثير الاعمر بن عبد الله تفرد به زيد بن الحباب – وكذا رواه ابن خزيمة:١/ ٥٨٨/ ١١٩٥، باب فضل التطوع بين المغرب والعشاء، المكتب الاسامی – وقال الأعظمی: إسناده ضعيف – وكذا رواه أبو يعلى فی مسنده:١٢/ ٢٧٥/ ٥٨٨٧ – وكذا رواه المنذری فی الترغيب والترهيب:١/ ٤٠٤، الترغيب فی الصلاة بين المغرب والعشاء).

حضرت مولانا شاه صاحب کشميري رحمه الله فرمايي:

فسمى هذه الصلاة بصلاة الأوابين في عرف الناس ولم يصح فيها حديث وحديث ، الباب أيضاً ضعيف والعمل به مع ضعفه . (العرف الشذی علی سنن الترمذی:١/ ١٠١، فيصل).

په اعلاء السنن کي راځي:

قلت: إخراج ابن خزيمة له في "صحيحه" يدل على أنه ثقه عنده ويؤيده ما قال في تهذيب التهذيب (٥/ ٢٩١) وأما عبد الله (هو ابن عبد الرحمن بن ثابت بن الصامت) فلم أر فيه جرحًا ولا تعديلًا، لكن إخراج ابن خزيمة له في صحيحه يدل على أنه عنده ثقة، وجعل العلامة الحافظ السيوطي كل ما في صحيح ابن خزيمة صحيحًا كما في كنز العمال(١/ ٣) فعلى هذا يكون الحديث صحيحًا وهو مقتضى موضوع صحيح ابن خزيمة أيضًا وإن كان عند البخاري والترمذي ضعيفًا، فإن الاختلاف غير مضر فافهم. (اعلاء السنن:٧/ ١٩، باب النوافل والسنن، ادارة القرآن).

په مجمع الزوائد کي راځي:

عن محمد بن عمار بن ياسر قال: رأيت عمار بن ياسر رضي الله عنه يصلي بعد المغرب ست ركعات وقال: رأيت حبيبي رسول الله ﷺ يصلي بعد المغرب ست ركعات وقال: "من صلى بعد المغرب ست ركعات غفرت له ذنوبه وإن كانت مثل زبد البحر". (مجمع الزوائد:٢/ ٢٣٠، باب الصلاة قبل المغرب وبعدها).

په طبراني اوسط کي راځي:

حدثنا محمد بن يحيى حدثنا صالح بن قطن البخاري قال: حدثنا عثمان بن محمد بن عمار بن ياسر قال: حدثني أبي عن جدي قال رأيت عمار بن ياسر رضي الله عنه صلى بعد المغرب ست ركعات ..... الخ . لايروى هذا الحديث عن عمار رضي الله عنه إلا بهذا الإسناد تفرد به صالح بن قطن. (رواه الطبراني في الأوسط:٨/ ١٢٠/ ٧٢٤١، مكتبة المعارف رياض).

په لسان الميزان کي راځي:

له حديث في صلاة عمار رضي الله عنه ست ركعات بعد المغرب، وهو غريب لأنه تفرد به وأورده ابن الجوزي في العلل وقال في إسناده مجاهيل. (لسان الميزان:٢/ ٢٩٥/ ٣٨٨٠، المطبوعات الاسلامی).

وذكره المنذري في الترغيب والترهيب:

وقال صالح هذا لايحضرني الآن فيه جرح ولاتعديل. (الترغيب والترهيب:١/ ٤٠٤، الترغيب في الصلاة بين المغرب والعشاء، بيروت).

په فيض القدير کي راځي:

"من صلى ست ركعات بعد المغرب قبل أن يتكلم غفرله ذنوب خمسين سنة" . رواه ابن نصر في الصلاة عن ابن عمر بن الخطاب وفيه محمد بن غزوان قال في الميزان: عن أبي زرعة منكر الحديث وعن ابن حبان: يقلب الأخبار ويرفع الموقوف. (فيض القدير:٦/ ١٩٨).

په الترغيب والترهيب کي راځي:

وروى عن عائشة رضي الله عنها...... وهذا الحديث الذي أشار إليه الترمذي. ورواه ابن ماجة من رواية يعقوب بن الوليد المدائني عن هشام بن عروة عن أبيه عن عائشة، ويعقوب كذبه أحمد وغيره. (الترغيب والترهيب:١/ ٤٠٤، الترغيب في الصلاة بين المغرب والعشاء).

په ترمذي شريف کي راځي:

قال أبوب عيسى وقد روى عن عائشة رضي الله عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " من صلى بعد المغرب عشرين ركعة بنى الله له بيتا في الجنة". (ترمذی شریف:١/ ٩٨، باب ماجاء في فضل التطوع ست ركعات بعد المغرب).

وروى محمد بن المنكدر مرسلًا: من صلى ما بين المغرب والعشاء فإنها صلاة الأوابين.

په فیض القدیر کي راځي:

من صلى مابين المغرب والعشاء فإنها في رواية فإن ذلک صلاة في رواية من صلاة الأوابين ثم تلا قوله تعالى: ﴿إنه كان للأوابين غفورًا﴾ (الاسراء:٢٥) ابن نصر في كتاب الصلاة عن محمد بن المنكدر مرسلًا ورواه أيضاً ابن المبارک في الرقائق. (فيض القدير:٦/ ١٩٧/ ٨٨٠٤ – وكذا في الاستذكار:٢/ ٤٠ – والتمهيد:١٩/ ٢٣ – والتيسير شرح الجامع الصغير:٢/ ٨٢٧).

علامه بنوري رحمة الله عليه دباب پر احاديثو تبصره کوي فرمايي:

ولم يصح فيها حديث أي في فصل الست والأربع والعشرين مع كثرة الأحاديث الواردة فيها، فإنها لاتخلو عن ضعيف أو مجهول، وتجد هذه الروايات مجموعة في شرح المنتقى وبعضها في زوائد الهيثمي ولكن بضم بعضها إلى بعض يقوى حالها، وبالأخص في باب الفضائل فإنه واسع وفضل الله أوسع وحديث الباب ضعيف والعمل به مع ضعفه. (معارف السنن:٤/ ١١٤، النوافل بعد المغرب وتحقيق صلاة الأوابين، سعيد).

په حياة الصحابه کي راځي:

أخرج ابن زنجويه عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: إن الملائكة لتحف بالذين يصلون بين المغرب والعشاء وهي صلاة الأوابين، كذا في الكنز:٤/ ١٩٣ . (حياة الصحابة:٣/ ٣٧٦، الاهتمام بالنوافل بين المغرب والعشاء، المكتبة التجارية).

د الاوابين د لفظ استعمال:

په فيض القدير کي راځي:

من صلى مابين المغرب والعشاء فإنها فى رواية فإن ذلك صلاة فى رواية من صلاة الأوابين ثم تلا قوله تعالى: ﴿ إنه كان للأوابين غفورًا ﴾ (الاسراء:٢٥) ابن نصر فى كتاب الصلاة عن محمد بن المنكدر مرسلًا ورواه أيضاً ابن المبارك فى الرقائق. (فيض القدير:٦/ ١٩٧/ ٨٨٠٤ – وكذا فى الاستذكار:٢/ ٤٠ – والتمهيد:١٩/ ٢٣ – والتيسير شرح الجامع الصغير:٢/ ٨٢٧).

په شرح د بلوغ المرام كي راځي:

ما بين المغرب والعشاء ويقولون: الصلاة فى هذا الوقت هى صلاة الأوابين. (شرح بلوغ المرام:١/ ٢٦٨، للشيخ عطيه سالم).

د مشكاة په شرحه مرقات كي راځي:

قال ابن الملک عن ابن عباس رضي الله عنه: الصلاة بين المغرب والعشاء صلاة الأوابين. رواه الترمذى. (مرقات شرح مشكاة:٤/ ٢٨٣، باب السنن وفضائلها).

په معارف السنن كي راځي:

قال الشيخ: التنفل بعد صلاة المغرب بست ركعات يسمى بصلاة الأوابين فى عرف الناس، ولعله أراد رحمه الله أنه لم يثبت تسميتها صلاة الأوابين فى رواية وإن قد اشتهرت بها فى العرف، والأمر كذلک، فقد ورد فى حديث زيد بن أرقم عند أحمد ومسلم وترمذى وابن أبى شيبة وغيرها تسمية صلاة الضحى بصلاة الأوابين فقال ﷺ: صلاة الأوابين إذا رمضت الفصال من الضحى، وفى تفسير القرطبى عن عون العقيلى قال: الأوابون هم الذين يصلون صلاة الضحى وعزاه فى " شرح المنتقى " إلى الأصبهانى فى الترغيب عن عون غير أنه قال: سميت الصلاة ما بين المغرب والعشاء فى رواية مرسلة بصلاة الأوابين أيضًا ففى شرح

المنتقى في باب ماجاء في الصلاة بين العشائين: روى عن محمد بن المنكدر أن النبي ﷺ قال: إنها صلاة الأوابين وفي الحلبي الكبير عن المبسوط من حديث ابن عمر رضي الله عنه مرفوعًا قال: من صلى بعد المغرب ست ركعات كتب من الأوابين وتلا: ﴿إنه كان للأوابين غفورًا﴾ ولكذلك في فتح القدير لكن لم أقف على مخرجه مع استقراء، ولا بدله من أصل وإن كان ضعيفًا من جهة السند، فإذن لامانع من أن تكون هذه أيضًا صلاة الأوابين كما كانت صلاة الضحى الأوابين، وتسميتها في الصحيح بها لاينافي تسمية غيرها بها كما يقوله شارح المنتقى ثم رأيت في " قيام الليل" لابن نضر عن محمد بن المنكدر وأبي حازم تسميتها بصلاة الأوابين، وكذلك مرفوعًا عن ابن المنكدر بإسناد ثابت، ولعله ما أشار إليه صاحب (المنتقى) وكذا رواه عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه موقوفًا عليه. (معارف السنن:٤/ ١١٣، تحقيق صلاة الأوابين، سعيد).

په څلورو مذاهبو کي د صلاة الاوابين ثبوت:

د احنافو مذهب:

و ندب ست ركعات بعد المغرب لقوله ﷺ " من صلى بعد المغرب ست ركعات كتب من الأوابين " وتلا قوله تعالى ﴿أنه كان للأوابين غفورا﴾ (الاسراء:٢٥)......... (امداد الفتاح:٤٢٩، فصل في بيان النوافل، بيروت).

د مالكيه وو مذهب:

وګورئ الثمر الداني کي راځي:

وإن تنفل بعدها (بعد المغرب) بست ركعات فحسن أي مستحب لقوله ﷺ " من صلى بعد المغرب ست ركعات الخ. رواه ابن خزيمة في صحيحه والترمذي .... (الثمر الداني:٩٢، باب النوافل والسنن، بيروت).

د شوافعه وو مذهب:

وګورئ په الاقناع کي راځي:

وصلاة الأوابين وتسمى صلاة الغفلة لغفلة الناس عنها بسبب عشاء أو نوم أو نحو ذلك، وهي عشرون ركعة بين المغرب والعشاء، وأقلها ركعتان لحديث الترمذي. (الاقناع:١/ ١٧٨ – وكذا في اعانة الطالبين:١/ ١٥١ – واسنى المطالب:٣/ ٢١٧ – وحواشي الشرواني:٢/ ١١).

د حنابله وو مذهب:

وګورئ په مغني کي راځي:

ويستحب التنفل بين المغرب والعشاء ؛ لما روي عن أنس بن مالك رضي الله عنه في هذه الآية : ﴿ تتجافى جنوبهم عن المضاجع ﴾ الآية ، قال : كانوا يتنفلون ما بين المغرب والعشاء ، يصلون . رواه أبو داود . وعن عائشة رضي الله عنها عن رسول الله ﷺ قال : " من صلى بعد المغرب عشرين ركعةً بنى الله له بيتًا في الجنة ". قال أبو عيسى : هذا حديث غريب. (المغني:١/ ٧٧٤، التنفل بين العشاءين، دار الكتب العربية، بيروت). والله تعالى اعلم.

د اولي ناستي د پرېښودلو سره دلمانځه حکم

سوال: که یو چا د دوو رکعتونو نفلو نیت وکړ او ناسته یې پرېښوده درېیم رکعت ته ولاړ سو بیا یې ځلورم هم ورسره یو ځای کړ نو حکم یې څه دئ؟

الجواب: که یو چا د دوو رکعتونو نیت وکړ او ناسته یې پرېښوده په هیره سره او ولاړ سو نو ناستي ته دي راو ګرځیږي او سجده سهو دي وکړي او لمونځ دي پوره کړي او که له درېیم رکعت څخه

وروسته ورپاده سوه نو څلورم رکعت دي ورسره یو ځای کړي او لمونځ دي پوره کړي په اخر کي دي سجده سهو وکړي لمونځ يې اداء کيږي.

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله والأصل أن كل شفع صلاة) أي فلا يلزمه بتحريمة النفل أكثر من ركعتين وإن نوى أكثر منهما وهو ظهر الرواية عن أصحابنا بحر ...... (قوله أو ترك قعود أول) لأن كون كل شفع صلاة على حدة يقتضي افتراض القعدة عقيبه فيفسد بتركها كما هو قول محمد وهو القياس . لكن عندهما لما قام إلى الثالثة قبل القعدة فقد جعل الكل صلاة واحدة شبيهة بالفرض وصارت القعدة الأخيرة هي الفرض وهو الاستحسان وعليه فلو تطوع بثلاث بقعدة واحدة كان ينبغي الجواز اعتبارًا بصلاة المغرب لكن الأصح عدمه لأنه قد فسد ما اتصلت به القعدة وهو الركعة الأخيرة، لأن التنفل بالركعة الواحدة غير مشروع فيفسد ما قبلها .

(شامى:٢/ ٣٢، باب النوافل، سعيد – وكذا فى مراقى الفلاح:١٤٩، فصل فى النوافل، مكة المكرمة).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وإن لم ينو أربعًا وقام إلى الثالثة يعود إجماعًا وتفسد إن يعد كذا فى البرجندى. (الفتاوى الهندية:١/ ١١٤).

په احسن الفتاوی کي راځي:

استحسانا څلور رکعتونه صحيح دي ځکه په دوهمه شفع د شروع کولو وروسته د فرائضو د تشبيه له امله د نوافلو د اولي ناستي فرضيت په وجوب سره بدل سو او د واجب د پرېښودلو د نقصان تدارک په سجده سهو سره وسو. (احسن الفتاوى:٣/ ٤٦٣). **همدا ډول وګورئ:** (فتاوى محموديه:٧/ ٤٢٥، باب سجود السهو). والله ﷻ اعلم.

سنت له اذان څخه مخکي کول

سوال: که يو څوک د ماپښين سنت د وخت د داخلېدو وروسته له اذان څخه مخکي وکړي نو سنت به يې اداء کيږي او که نه؟ همدا دول له استحباب څخه خلاف دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي يې سنت اداء کيږي، البته له اذان څخه وروسته له فرضو څخه مخکي يې اداء کول افضل او ښه دي لامل يې دا دي چي سنت قبليه د فرائضو مقدمه ده چي فرائض په خشوع او توجه سره په كامله توګه اداء سي له دې امله د فرائضو او سنتو په منځ كي فقهاء دنيايي خبري منع کوي، لهذا له اذانه وروسته دي اداء کړل سي خو له اذان څخه وړاندي يې اداء كول هم درست دي.

وګورئ په ترمذي شريف كي راځي:

عن عبد الله بن السائب ﷺ أن رسول الله ﷺ كان يصلي أربعًا بعد أن تزول الشمس قبل الظهر وقال إنها ساعة تفتح فيها أبواب السماء وأحب أن يصعد لي فيها عمل صالح . (رواه الترمذی:۱۰۸ – وكذا فی الشامی:۲/ ۱۳ – وكذا فی الطحطاوی على مراقی لافلاح:۳۸۸، قديمی).

په بدائع الصنائع كي راځي:

وأما الصلاة المسنونة فوقت جملتها وقت المكتوبة لأنها توابع للمكتوبات فكانت تابعة لها فی الوقت. (بدائع الصنائع:۱/ ۲۸٤، سعيد).

په فتاوی شامي كي راځي:

ثم اختلف في الأفضل بعد ركعتي الفجر قال الحلواني رحمه الله ركعتا المغرب ثم التي بعد الظهر بخلاف التي قبلها لأنها قيل: هي للفصل بين الأذان والإقامة . (شامی:۲/ ۱٤، سعید- وکذا فی الطحطاوی علی مراقی الفلاح:۳۸۸، قدیمی). والله تعالی اعلم.

په بل چا سره استخاره کول

سوال: بل چا ته د استخاري له پاره ويل درست دي او که نه؟ که يې په دوا ويا زياتو کسانو وکړي نو د کوم يوه رايي به اعتبار لري؟

الجواب: د استخاري معنی ده خير طلبول او د دعاء له پاره بل ته ويلای سي نو طلب خير هم دعاء ده د هغه له پاره هم ويل درست دي، همدا ډول د چا څخه چي د دعاء قبوليت زيات اميد کيږي له هغه څخه هم د دعاء غوښتنه کيږي که يې په څو کسانو وکړل نو د هر چا په رايي چي عمل وکړي هغه به خير وي انشاء الله.

وګورئ په عمدة القاري کي راځي:

قوله يعلمنا الاستخارة أي صلاة الاستخارة ودعاءها وهي طلب الخيرة ......من قولك اختاره الله وفي النهاية: خار الله لك أي أعطاك ما هو خير لك ...... وهو في لسان العرب على معان منها سؤال الفعل والتقدير أطلب منك الخير فيما هممت به. (عمدة القاری:٥/ ٥٢٢، دار الحديث ملتان).

په فتاوی مهمه کي راځي:

النوع السادس : التوسل إلى الله عز وجل بدعاء الرجل الصالح الذي ترجى إجابته، فإن الصحابة رضي الله عنهم كانوا يسألون النبي ﷺ أن يدعو الله عز وجل لهم بدعاء عام، ودعاء خاص؛ ففي الصحيحين من حديث أنس بن مالك رضي الله عنه " أن رجلًا دخل يوم الجمعة والنبي ﷺ يخطب فقال: يا رسول الله هلكت الأموال وانقطعت السبل فادع الله يغيثنا، فرفع النبي

ﷺ يديه وقال: " اللّهم أغثنا ثلاث مرات، فما نزل من منبره إلا والمطر يتحادر من لحيته، وبقي المطر أسبوعًا كاملًا، ...... (الصحيح البخاري:١/ ١٣٧) وهناك عدة وقائع سأل الصحابة النبي ﷺ أن يدعو لهم على وجه الخصوص ومن ذلك " أن النبي ﷺ ذكر أن في أمته سبعين ألفًا يدخلون الجنة بغير حساب ولا عذاب ......الخ، فقام عكاشة بن محصن وقال: يا رسول الله ادع الله أن يجعلني منهم فقال: أنت منهم " ...... وأيضًا من التوسل الجائز وهو أن يطلب الإنسان من شخص ترجى إجابته أن يدعو الله تعالى له..... (الفتاوى المهمة للشيخ محمد صالح العثيمين: ص ٥٩ – ومجموعة فتاوى ورسائل ابن عثيمين:٢/ ٢٦٦).

په امداد الاحکام کي راځي:

په دواړو کي خير دئ په هريوه چي وغواړي عمل دي په وکړي په دې شرط چي هغه دواړه شقونه روا وي.(امداد الاحکام:١/ ٦١٦). والله ﷻ اعلم.

درې ځله د استخاري کولو حکم

سوال: درې ځله د استخاري کولو څه حکم دئ؟

الجواب: استخاره په اصل کي دزړه رحجان دئ که يې په يو ځل د خير لوري ته ميلان وسو نو يوي ځل هم درسته ده او که درې ځله هم ونه سو نو اووه ځله دي وکړي.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن أنس ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ : يا أنس ، إذا هممت بأمر فاستخر ربك فيه سبع مرات ، ثم انظر إلى الذي سبق إلى قلبك ، فإن الخير فيه . (آخرجه ابن السنى فى عمل اليوم والليلة: ١٦١).

په حاشية الطحطاوى کي راځي:

قوله ومنها رکعتا الاستخارة وفی البخاری فلیستخر ربه سبعًا. (طحطاوی علی الدر:۱/ ۲۸۸ – وکذا فی امداد الفتاح: ۴۴۰، فصل فی تحیة المسجد، بیروت – وکذا فی شرح منیة المصلی: ۴۳۱، سهیل).

په فتاوی شامي کي راځي:

ینبغی أن یکررها سبعًا . (شامی:۲/ ۲۷، باب النوافل، سعید).

مرقات کي راځي:

قیل ویمضی بعد الاستخارة لما ینشرح له صدره انشراحًا خالیًا عن هدی النفس فإن لم ینشرح لشیء فالذی یظهر أنه یکرر الصلاة حتی یظهر له الخیر قیل إلی سبع مرات. (مرقاة شرح مشکاة:۳/ ۲۰۹).

همدا ډول وګوریٔ: (فتاوی حقانیة:۳/ ۴۶۳، باب السنن والنوافل). والله ﷻ اعلم.

د استخاري په دعاء کي د ((خرلی واخترلی)) تر منځ فرق

سوال: د استخاري په دعاء کي د ((خرلی واخترلی)) **تر منځ فرق څه دیٔ؟**

الجواب: ((اللّٰهم خرلی)) **اې الله زما له پاره د خير فيصله وکړه و** ((واخترلی)) **او هغه زما له پاره غوره کړه.**

عن أبي بكر الصديق رضي الله عنه: أن النبي ﷺ كان إذا أراد أمرًا قال " اللّٰهم خر لي واختر لي ". هذا حديث غريب ...... وهو ضعيف عند أهل الحديث. (ترمذی شریف:۲/ ۱۹۱، أبواب الدعوات).

خار الله لک فی الأمر جعل لک ما فیه من الخیر. (تاج العروس:۳/ ۱۹۵).

په لسان العرب کي راځي:

ومنه دعاء الاستخارة " اللّٰهم خرلی " أی اخترلی أصلح الأمرين واجعل الخيرة فيه.

(لسان العرب:٤/ ٢٥٩).

"واخترلی " په اړه کي وګورئ:

وبالمختار أی اخترما شئت. (تاج العروس:٣/ ١٩٥).

په لسان العرب کي راځي:

والاختيار: الاصطفاء وكذلک التخير. (لسان العرب:٤/ ٢٥٩)

په مجمع بحار الانوار کي راځي:

خرلی واخترلی أی اجعل أمری خيرًا وألهمنی فعله واخترلی الأصلح. (مجمع بحار الأنوار:٢/ ١٣١).

علامه وحيد الزمان صاحب په لغات الحديث کي يادونه کوي:

"خرلی واخترلی " زما کار ښه کړه او چي زما په حق کي ښه وي هغه زما له پاره اختيار کړه.(لغات الحديث:١/ ١٥٦، باب الخاء مع الياء، آرام باغ کراچی).

په القاموس الوحيد کي راځي:

د خاص لمانځه څخه وروسته د الله ﷻ څخه دا دعاء کول چي د ده له پاره چي په فلاني معامله کي کومه خبره د خير باعث وي د هغه لارښونه وکړه په دې هکله د حضرت ابو بکر صديق ﷛ څخه دا دعاء منقول ده، اللهم خرلی واخترلی. (القاموس الوحيد:١/ ٤٨٩). والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿ من قام إيمانًا واحتسابًا غفر له ما تقدم من ذنبه وما تأخر ﴾

(رواه البخاری).

لس .... باب

د تراویحو د لمانځه بیان

د تراویحو د لمانځه د نیت حکم

سوال: تراویح په مطلق نیت سره اداء کیږي یې یا د تراویحو نیت ضروري دئ؟

الجواب: د اکثرو فقهاوو په اند مطلق نیت کافي دئ، البته د ځینو کسانو په اند مطلق نیت کافي نه دئ لهذا احتیاط په دې کې دئ چې د تراویحو نیت دې وکړي یا یوازې د سنتو او یا قیام اللیل چې له اختلاف څخه ووزي او بالاتفاق صحیح سي.

په درمختار کې راځي:

وكفى مطلق نية الصلاة لنقل وسنة راتبة وتراويح على المعتمد إذ تعيينها بوقوعها وقت الشروع، والتعيين أحوط، وفى الشامى (قوله وكفى الخ) أي بأن يقصد الصلاة بلا قيد نفل أو سنة أو عدد (قوله على المعتمد) أي من قولين مصححين وإنما اعتمد هذا لما في البحر من أنه ظاهر الرواية وجعله في المحيط قول عامة المشايخ ورجحه في الفتح ونسبه إلى المحققين (قوله أو تعيينها الخ) لأن السنة ما واظب عليها النبي ﷺ في محل مخصوص فإذا أوقعها المصلي فيه فقد فعل الفعل المسمى سنة والنبي ﷺ لم يكن ينوي السنة بل الصلاة لله تعالى وتمام تحقيقه فى الفتح (قوله والتعيين) أى بالنية أحوط لاختلاف الصحيح بحر. (الدر المختار مع الشامى: ١/ ٤١٧، سعيد).

پہ البحر الرائق کي رائي:

قوله: (ويكفيه مطلق النية للنفل والسنة والتراويح) وأما في السنة والتراويح فظاهر الرواية ما في الكتاب كما في الذخيرة والتجنيس وجعله في الهداية هو الصحيح وفي المحيط إنه قول عامة المشايخ وفي منية المفتي وخزانة الفتاوى إنه المختار ورجحه في فتح القدير ونسبه إلى المحققين بأن معنى السنة كون النافلة مواظبًا عليها من النبي ﷺ بعد الفريضة المعينة أو قبلها ...... وذكر قاضيخان في فتاواه في فصل التراويح اختلاف المشايخ في السنن والتراويح والصحيح أنها لا تتأدى بنية الصلاة وبنية التطوع لأنها صلاة مخصوصة فتجب مراعاة الصفة للخروج عن العهدة وذلك بأن ينوي السنة أو متابعة النبي ﷺ وهل يحتاج لكل شفع من التراويح أن ينوي ويعين قال بعضهم يحتاج لأن كل شفع صلاة والأصح أنه لا يحتاج لأن الكل بمنزلة صلاة واحدة . فقد اختلف التصحيح فلذا قال في منية المصلي: والاحتياط في التراويح أن ينوي التراويح أو سنة الوقت أو قيام الليل . (البحر الرائق: ١/ ٢٧٨ كوئٹہ – وكذا فى الفتاوى الهندية: ١/ ٦٥ – وكذا فى فتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ١/ ٨١ – والبزازية على هامش الهندية: ٤/ ٢٩ – وحاشية الطحطاوى على الدر المختار: ١/ ١٩٤).

پہ سعایہ کي رائي:

فالحاصل أنه اختلف التصحيح فى هذه المسئلة فلهذا ذكر جم غفير من أصحابنا منهم صاحب السراجية وصاحب المنية وصاحب الظهيرية وابن الهمام وغيرهم أن الاحتياط أن لايكتفى بمطلق النية بل ينوى السنة أو متابعة الرسول ﷺ وفى فتاوى العلامة قاسم بن

قطلوبغا ..... فلاحتياط أن ينوى التراويح أو سنة الوقت فإنه أبعد عن الخلاف انتهى.

(السعاية: ٢/ ١٠٢، سهيل)، والله تعالیٰ اعلم.

يو حافظ په دوو مسجدونو کي لس لس رکعته کوي

سوال: يو حافظ په يوه مسجد کي لس او په بل مسجد کي لس رکعته تراويح ورکړي نو روا دي او که نه؟

الجواب: په ياد صورت کي په يوه مسجد کي لس رکعته او په بل مسجد کي لس رکعته کول روا دي او د تراويحو سنت اداء کيږي، البته که په يوه مسجد کي شل رکعته ورکړي نو د بل مسجد سنت نه اداء کيږي.

وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

إماميصلي التراويح في مسجدين في كل مسجد على الكمال لا يجوز، كذا في محيط السرخسي والفتوى على ذلك، كذا في المضمرات ...... والأفضل أن يصلي التراويح بإمام واحد فإن صلوها بإمامين فالمستحب أن يكون انصراف كل واحد على كمال الترويحة فإن انصرف على تسليمة لا يستحب ذلك في الصحيح وإذا جازت التراويح بإمامين على هذا الوجه.

(الفتاوى الهندية: ١/ ١١٦، فصل في التراويح، بلوچستان).

ولو أم فى التراويح مرتين فى مسجد واحد ...... وإن فى المسجدين اختلف فيه، حكى عن أبى بكر الاسكاف أنه لايجوز يعنى لايجوز تراويح أهل المسجد الثانى واختاره أبو الليث. (شرح منية المصلى: ٤٠٨، سهيل).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

که امام دوه ځایه ترواېح ورکړي نو تراویح یې اداء کیږي که دواړه ځایه پوره پوره تراویح ورکړي نو د مفتی به قول مطابق د دوهم مسجد والاوو تراویح نه کیږي. (فتاوی دار العلوم دیوبند: ٤/ ٢٨٨).

والله ﷻ اعلم.

یو حافظ چې په تراویحو کې دوه ځایه قرآن ختم کړي

سوال: که یوه حافظ په تراویحو کې یو ځل قرآن ووایه بیا یې دوهم قرآن شروع کړ نو په ده پسې د لمونځ کونکو سنت به اداء کیږي او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کې د مقتدیانو سنت اداء کیږي او امام صاحب ته هم د فضیلت ثواب ورکول کیږي.

په درمختار کې راځي:

والختم مرة سنةومرتين فضيلة وثلاثًا أفضل. (الدر المختار: ٢/ ٤٦، باب النوافل – وكذا فى البحر الرائق: ٢/ ٦٨، باب الوتر و النوافل، الماجدية).

په مجموعة الفتاوى کې راځي:

سوال: یو حافظ صاحب په لسو ورځو لومړی قرآن شریف په یوه مسجد کې او بیا یې دوهم قرآن شریف په دوهم مسجد کې ووایه نو ایا د تراویحو سنت د دواړو له پاره اداء کیږي او که نه او ثواب مومي او که نه؟

الجواب: تراویح یې اداء کیږي.

په خزانة الرویات کې راځي:

. قد روى بعض أهل العلم عن كنز الفتاوى: رجل أم قومًا فى التراويح وختم فيها ثم أم قومًا آخرين له ثواب الفضيلة ولهم ثواب الختم، ځینو علماوو له کنز الفتاوی څخه نقل کړی دئ چې یو څوک چې په تراویحو کې په یوه جماعت کې قرآن ختم کړي او بیا یې دوهم ځای امامت وکړ، نو دغه کس ته به د فضیلت ثواب ورکول کیږي او خلکو ته به د ختم ثواب وي. (حرره الراجى عفو

ربه القوی أوبو الحسنات محمد عبد الحی). (مجموعة الفتاوی:١/ ٢٧٨، کتاب الصلاة، آرام باغ کراچی).

همدا ډول ګورئ: (فتاوی محمودیه:٧/ ٣١٥، فصل ثالث تروایح قرآن ختم کرنی کا بیان مبوب ومرتب – امداد الاحکام:١/ ٦٢٦، فصل فی التراویح – وفتاوی دار العلوم دیوبند:٤/ ٢٧٤، مسائل تراویح). والله ﷻ اعلم.

د مسجد امام پر تراويحو مجبوره کول

سوال: که یو امام صاحب د تراویحو د لمانځه د ورکولو څخه انکار وکړي چي زه همېشه بل ځای تراویح ورکوم ستاسو له پاره به بل انتظام وکړم نو پر هغه جبر کېدلای سي او که نه، او که امام ووایي چي زه یې په خپله تراویح ورکوم نو دا د ده حق دي او که نه؟

الجواب: تاکلي امام د تراویحو زیات حقدار دي خو که یې امام تراویح بل ځای ورکوي نو مجبوره کیږي به نه، البته که د مسجد کسان د تراویحو ورکولو غوښتنه وکړي نو امام ته یې منل په کار دي ځکه دا هم د امامت یو ډول دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

واعلم أن صاحب البيت ومثله إمام المسجد الراتب أولى بالإمامة من غيره مطلقًا . (الدر المختار:١/ ٥٥٩، سعيد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

سوال: بکر په یو مسجد کي امام وټاکل سو او د قرآن حافظ دئ او زید هم د قرآن حافظ دئ او دی له ډېر وخته په دغه مسجد کي تراویح ورکوي اوس بکر وایي چي اوس زه امام یم د تراویحو ورکولو حق زما دئ او هغه حافظ وایي چي زما حق مخکي دئ نو څوک حقدار دئ؟

جواب: په پورتنی صورت کي چي کله بکر امام سو نو د تراویحو حق هم د ده دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٤/ ٢٨٢).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

د تراویحو ورکولو حق د امام دئ که یې امام ورکولای نه سي یا اجازه وکړي نو بل حافظ ته یې هم سپارلای سي. (فتاوی رحیمیه: ۴ / ۴۲۵). والله ﷻ اعلم.

دږیري وهونکي د تراویحو د امامت حکم

سوال: د ږیري وهونکي د تراویحو د امامت حکم څه دئ؟

الجواب: ږیره وهونکي د شریعت له نظره فاسق دئ او د فاسق امامت مکروه تحریمي دئ په نیک امام پسي دي تراویح وکړي. البته که موجود نه وو او پر لیري کېدو یې قدرت نه درلودئ نو جماعت دي یې نه پرېږدي بلکي په امام پسي دي وکړي. (د دلائلو تفصیل تر باب الامامت لاندي تیري سوی دئ هلته یې کتلای سي). والله ﷻ اعلم.

د هغه چا د امامت د تراویحو چي د سنت مطابق ږیره نه پرېږدي

سوال: یو حافظ صاحب په یو مسجد کي د څلوېښتو کلونو څخه تراویح ورکوي اخلاق یې ډېر ښه او د خلکو خیر خواه دئ د کفن او دفن په کارونو کي هم شراکت کوي او ډېر لمونځ کونکي یې شاګردان هم دي خو دی ږیره د سنت مطابق نه ساتي وهي یې نو اوس څه کول په کار دي که دی له تراویحو ورکولو څخه لیري کړل سي نو د مقتدیانو تر منځ بې اتفاقي لوېږي کومه لاره راته وښایاست؟

الجواب: د سنت مطابق چي څوک ږیره نه پرېږدي د هغه د تراویحو امامت مکروه دئ په پورتنی صورت کي لکه څنګه چي حافظ صاحب په نورو امورو کي د شریعت تابع وي نو ږیره د قبضې په اندازه پرېښودل خو هم د شریعت حکم دئ او د نبي کریم ﷺ همېشنی سنت دئ لهذا حافظ صاحب ته دي وویل سي چي د سنت مطابق یې پرېږدي او د قبضې څخه مخکي دي ږیره نه وهي نو دده په اتباع شریعت کي به نور هم زیاتونه راسي او د نبي کریم ﷺ قرب او نژدې والی به ورته حاصل سي او د لمونځ کونکو به نور هم محبت ورسره زیات سي که حافظ صاحب ته دا خبره خوښه نه وي نو دي دی پرېښودل سي څکه نوري نیکی د طاعاتو له جملي څخه دي او د تراویحو امامت له عباداتو څخه دي چي پر طاعاتو مقدم دي او د ټولو لمونځ کونکو غټ عبادت له هغه سره اړه لري دلائل یې په باب الامامت کي تیر سوی دئ. والله ﷻ اعلم.

د نفلو په جماعت کي له شراکت کولو څخه د تراويحو کولو حکم

سوال: يو چا د رمضان المبارک په مياشت کي په امام پسي اقتداء وکړه دا فکريې وکړ چي تراويح دي وروسته معلومه سوه چي دا د نفلو جماعت وو نو د تراويحو رکعتونه يې وسوه او که نه، ولزم النفل بالشروع له امله يې قضاء سته او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي د دغه کس تراويح صحيح نه دي سوی، البته نفلي لمونځ يې وسو خو په لمانځه کي يې څه فساد راغلی نه دئ، لهذا قضا يې واجبه نه ده، البته تراويح دوهم ځل اداء کول ضروري دي که په بل مسجد کي جماعت وي نو شراکت دي پکښي وکړي که نه انفراد دي خپل لمونځ وکړي، البته د شپې له تيرېدو څخه وروسته د تيري شپې قضاء نه سته.

وګورئ په تاتار خانيه کي راځي:

إذا صلى التراويح مقتديًا بمن يصلى مكتوبة أو نافلة غير التراويح اختلف المشايخ منهم من بنى هذا الاختلاف على الاختلاف فى النية، من قال من المشايخ إن التراويح لاتتأدى إلا بنيتها يجب أن يقول بعدم صحة الاقتداء هاهنا لما كانت لاتتأدى إلابنيتها لاتتأدى بنية الإمام وهى تخالف نيته ومن قال بأنها تتأدى من غير نيتها بل بنية مطلقة يجب أن يقول بصحة الاقتداء هاهنا ومنهم من قال لايصح قال القاضى الإمام أبو على النسفى رحمه الله وهو الأظهر والأصح. (الفتاوى التاتار خانية:١/ ٦٦٧).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولو صلى التراويح مقتديًا بمن يصلي مكتوبةً أو وترًا أو نافلةً الأصح أنه لا يصح الاقتداء به؛ لأنه مكروه مخالف لعمل السلف. (الفتاوى الهندية:١/ ١١٧ – وكذا فى فتاوى قاضيخان على هامش الهندية:١/ ٢٣٦ –وكذا فى الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ٢٩).

په بدائع الصنائع کي راځي:

فقد قال أصحابنا إذا شرع فی التطوع يلزمه المعنی فيه وإذا أفسده يلزمه القضاءو. (بدائع الصنائع:۱/ ۲۹۰ – وکذا فی الشامی:۲/ ۲۹، سعيد). والله ﷻ اعلم.

که یې د ماخستن لمونځ بې اوداسه وکړ نو د تراویحو او د وترو راګرځولو حکم

سوال: که یو چا د ماخستن د لمانځه څخه وروسته تراویح او وتر وکړل بیا یې وروپه یاد سو چې ما خو د ماخستن لمونځ بې اوداسه وکړ نو اوس د وترو او تراویحو اعاده سته او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کې د تراویحو راګرځول ضروري دي د وترو راګرځول لازم نه دي، لامل یې دادئ چې تراویح د ماخستن د لمانځ تابع دي او وتر یې تابع نه دي.

په فتاوی هندیه کې راځي:

والصحيح أن وقتها ما بعد العشاء إلى طلوع الفجر قبل الوتر وبعده حتى لو تبين أن العشاء صلاها بلا طهارة دون التراويح والوتر أعاد التراويح مع العشاء دون الوتر ؛ لأنـها تبعللعشاء هذا عند أبي حنيفة رحمه الله فإن الوتر غير تابع للعشاء في الوقت عنده ، والتقديم إنما وجب لأجل الترتيب وذلك يسقط بعذر النسيان فيصح إذا أدى قبل العشاء بالنسيان بخلاف التراويح فإن وقتها بعد اداء العشاء فلا يعتد بما أدي قبل العشاء. (الفتاوی الهندية:۱/ ۱۱۵، فصل فی التراويح بلوچستان– وکذا فی تبيين الحقائق:۱/ ۷۸، باب الوتر والنوافل، امدادية ملتان). والله ﷻ اعلم.

د ماخستن د لمانځه پرته د تراویحو په جماعت کې د شراکت حکم

سوال: که یو څوک د رمضان په میاشت کې مسجد ته راغی او د تراویحو لمونځ کېدئ ده د ماخستن لمونځ نه وو کړي نو ایا دی د تراویحو په جماعت کې شراکت کولای سي او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کې د دغه کس له پاره د تراویحو په جماعت کې د شرکت ګنجائش نه سته، لومړی دي فرض لمونځ وکړي او بیا دي ورسره شریک سي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

ووقتها بعد صلاة العشاء إلى الفجر وفى الشامية: (قوله بعد صلاة العشاء) قدر لفظ صلاة إشارة إلى أن المراد بالعشاء الصلاة لا وقتها وإلى ما في النهر من أن المراد ما بعد الخروج منها حتى لو بنى التراويح عليها لا يصح وهو الأصح، وكذا بناؤها على سنتها كما في الخلاصة.

(الدر المختارمع ردالمحتار: ٢/ ٤٤، باب الوتر والنوافل، سعيد – وكذا فى الفتاوى الهندية: ١/ ١١٥، فصل التراويح – وتبيين الحقائق: ١/ ١٧٨، باب الوتر والنوافل). والله ﷻ اعلم.

په تراويحو كې چې غير له مقتدى څخه بل څوک له قرآن څخه امام ته فتحه وركړي نو حكم يې څه دئ؟

سوال: په تراويحو كي چې غير له مقتدى څخه بل څوک له قرآن څخه امام ته فتحه وركړي نو حكم يې څه دئ؟

الجواب: په دې مسئله كې كه امام فتحه واخيسته نو د امام او ټولو مقتديانو لمونځ فاسديږي.

وګورئ په شامي كې راځي:

أخذ الإمام بفتح من ليس فى صلاته كما فيه عن القنية. (شامى: ١/ ٦٢٢، باب مايفسد الصلاة، سعيد).

په خلاصه الفتاوى كې راځي:

ولو فتح على المصلى رجل ليس فى الصلاة فأخذ المصلى بفتحه تفسد صلاته. (خلاصة الفتاوى: ١/ ١٢١، رشيديه).

په نفع المفتي والسائل كې راځي:

الاستفسار: لو كان الإمام يقرأ القرآن وخلفه مقتد يسمعه لاعن القلب بل بالنظر فى المصحف ويفتح إمام من المصحف ويأخذ الإمام فتحه كما جرى فى بعض البلاد فى صلاة التراويح هل تفسد صلاتهما أم لا؟

الاستبشار: تفسيد صلاتهما لأن التلقن من الغير فى الصلاة مفسد .... ولهذا إذا كان الفاتح خارجًا من الصلاة والإمام المستفتح فى الصلاة تفسد صلاة المستفتح لأنه تلقن من الغير صرح به الزيلعي. (فتاوى اللكنوى:ص ٢٧٧، ما يتعلق بما يفسد الصلاة، دار ابن حزم).

همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوى:٣/ ٥٢٤). والله ﷻ اعلم.

په تراويحو کي له قرآن شريف څخه د تلاوت حکم

سوال: په بخاري شريف کي روايت دئ چي ذکوان به د حضرت عائشي ؓ قرآن شريف ته کتل او امامت په يې کاوه ايا دا ډول روا دي؟

الجواب: د احنافو په اند قراءة من المصحف لمونځ فاسد وي که فرض وي او که نفل يا تراويح وي د ټولو حکم دغه دئ.

د حديث جواب حضرت ذکوان به له مصحف څخه امامت کاوه د دې مطلب دا دي چي د لمانځه څخه وړاندي به يې رجوع ورته کوله او په لمانځه کي په يې هغه وايه.

وګورئ په شرح د منية المصلى کي راځي:

روى أن ذكوان مولى عائشة ؓ كان يؤم بها فى شهر رمضان من المصحف، قلنا إن صح فهو محمول على أنه كان يراجعه قبيل الصلاة ليكون بذكره أقرب. (شرح منية المصلى:٤٤٧، فصل فيما يفسد الصلاة — وكذا فى تبيين الحقائق:١/ ١٥٩، باب يفسد الصلاة وما يكره فيها، امدادية ملتان).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما حديث ذكوان فيحتمل أن عائشة ؓ ومن كان من أهل الفتوى من الصحابة لم يعلموا بذلك وهذا هو الظاهر بدليل أن هذا الصنيع مكروهبلا خلاف ...... ويحتمل أن يكون قول الراوي كان يؤم الناس في رمضان وكان يقرأ من المصحف إخبارًا عن حالتين مختلفتين أي كان يؤم الناس في رمضان، وكان يقرأ من المصحف في غير حالة الصلاة إشعارًا

منه أنه لم يكن يقرأ القرآن ظاهره فكان يؤم ببعض سور القرآن دون أن يختم أو كان يستظهر كل يوم ورد كل ليلة ليعلم أن قراءة جميع القرآن في قيام رمضان ليست بفرض . (بدائع الصنائع:١/ ٢٣٦، فصل بيان ما يفسد الصلاة، سعيد).

همدا ډول به حضرت عمر ﷺ قرآن ته په کتلو سره امامت کول منع کړي وه:

وګورئ په کنز العمال کي راځي:

عن ابن عباس ﷺ قال: نهانا أمير المؤمنين عمر ﷺ أن نؤم الناس فى المصحف ونهانا أن يؤمنا إلا المحتلم. ابن أبى داؤد. (كنز العمال:٨/ ٢٦٣/ ٢٢٨٣٧، فصل فى اداء ب الامام – وكذا ذكره الامام السيوطى فى جامع الأحاديث:٢٨/ ٤٩٢/ ٣١٥٦٠، مسند عمر بن الخطاب – وكذا فى البحر الرائق:٢/ ١٠، باب ما يفسد الصلاة، الماجدية).

په المصاحف کي راځي:

حدثنا عبد الله حدثنا محمد بن عامر بن إبراهيم، عن أبيه عامر بن إبراهيم قال : سمعت نهشل بن سعيد، يحدث، عن الضحاك، عن ابن عباس ﷺ قال : " نهانا أمير المؤمنين عمر ﷺ أن نؤم الناس في المصحف، ونهانا أن يؤمنا إلا المحتلم ". (المصاحف لابن أبى داؤد:٢/ ٣٩٤/ ٦٥٥). والله ﷻ اعلم.

د ستړيا له امله په ناستي د تراويحو کولو حکم

سوال: که يو څوک په تراويحو کي ستړي سي نو په ناستي يې کولای سي او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي په ناستي د تراويحو کول روا دي.

وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

اتفقوا على أن اداء التراويح قاعدًا لا يستحب بغير عذر واختلفوا في الجواز قال بعضهم : يجوز وهو الصحيح . (الفتاوى الهندية:١/ ١١٨، فصل فى التراويح).

په امداد الفتاح كي راځي:

وقال قاضی خان فی اداء التراويح قاعدًا: اتفقوا على أنه لايستحب بغير عذر واختلفوا فی الجواز قال بعضهم: لايجوز بغير عذر ...... وقال بعضهم: يجوز له أداء التراويح قاعدًا بغير عذر ...... وهو الصحيح إلا أن ثوابه يكون على النصف من صلاة القائم ..... وفی الخلاصة: وأما صلاة التراويح قاعدًا من غير عذر اختلف المشايخ فيه والأصح أنه يجوز.

(امداد الفتاح: ٤٤٦، فصل فی صلاة النفل جالسا، بيروت كذا فی الشامی: ٢/ ١٥، باب النوافل، سعيد).

والله ﷻ اعلم.

په چا پسي چي په تجويد كي بې احتياطي كوي د تراويحو كولو حكم

سوال: په داسي حافظ پسي لمونځ كول چي تجويد يې زده وي خو بيا هم ډېر چابک قرآن شريف وايي او د تجويد لحاظ هم نه ساتي څه حكم لري؟

الجواب: په پورتنی صورت كي كه حافظ په ډېره تيزي قرآن شريف وايي چي مقتديان نه په پوهيږي او لحن جلی كوي، نو لمونځ به يې درست نه وي او كه لحن خفی كوي نو لمونځ خو يې نه فاسديږي مګر مكروه به وي همدا ډول قرآن مجيد په بې پرواهي او بېله تجويده ويل سخته ګناه ده.

وګورئ په قاضي خان كي راځي:

ولا ينبغی للقوم أن يقدموا فی التراويح الخوشخو ان (**ښه اواز والا**) ولكن يقدموا الدرستخو ان (**صحيح ويلو والا**) فإن الإمام إذا كان يقرأ بصوت حسن يشغل عن الخشوع والتدبر والتفكر وكذا لو كان الإمام لحاناً لابأس بأن يترك مسجده. (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ١/ ٢٣٨، فصل فی مقدار القراءة فی التراويح – وكذا فی شرح منية المصلی: ٤٠٧، سهيل – وكذا فی الفتاوى الهندية – وعلى هامشه قال: قوله الخوشخوان معناه حسن الصوت والدر ستخوان صحيح القراءة: ١/ ١١٦).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

په جمال القران کي لیکي: د تجوید خلاف قرآن ویل یا غلط ویل یا بېله قاعدي ویل لحن بلل کیږي او دغه لحن پر دوه قسمه دئ یو دا چي د یوه حرف پر ځای بل حرف ووایي لکه د الحمد پر ځای چي الهمد ووایي یا د ش پر ځای س ووایي یا دغسي ح پر ځای کوچني هـ ووایي یا د ذال پر ځای زاء وایي یا د ص پر ځای س وایي دغه غلطیو ته لحن جلی وویل کیږي په ځینو ځایونو کي په دغه سره معنا هم خرابیږي او لمونځ یې هم له منځه ځي. (جمال القرآن).

لهذا داسي څوک د امامت قابل نه دئ د ده له پاره ضروري ده چي لومړی دي قرآن ویل زده کړي بیا دي امامت ورکړي. (فتاوی رحیمیه:٤/ ٣٥١).

بل ځای کي لیکي: چي کله د امام قرائت صاف او صحیح نه وي او مقتدیان وربادي نه پوهیږي نو د ده له پاره امامت درست نه دئ مقتدیانو ته په کار ده چي د داسي امام انتظام وکړي چي قرآن شریف صحیح ووایي. (فتاوی رحیمیه:١/ ١٨٨). همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی:٣/ ٦٩، فتاوی دار العلوم دیوبند:٤/ ١٥٩). والله ﷻ اعلم.

د تراویحو په هره شفعه کي د نیت کولو حکم

سوال: د تراویحو په هره شفعه کي بېل بېل نیت کول ضروري دي یا چي یو ځل د شلو رکعتونو نیت وکړي دا هم کفایت کوي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي په یو ځل د شلو رکعتونو نیت کول کافي دي د هري شفعي له پاره د بېل نیت کولو ضرورت نه سته.

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وهل یحتاج لكل شفع من التراويح أن ينوي التراويح، قال بعضهم يحتاج لأن كل شفع منها صلاة على حدة والأصح أنه لايحتاج لأن الكل بمنزلة صلاة واحدة. (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية:١/ ٢٣٧، فصل في نية التراويح).

پہ فتاوی هندیه کي راځي:

ولو صلى التراويح كلها بتسليمة واحدة إن قعد في كل ركعتين يجوز عند الكل وإن لم يقعد في كل ركعتين وقعد في آخرها ففي الاستحسان على القول الصحيح يجزيه عن تسليمة واحدة، كذا في السراج الوهاج، وهكذا في فتاوى قاضي خان. (الفتاوى الهندية:١/ ١١٩، فصل فى التراويح – وكذا فى شرح منية المصلى:٤٠٥، سهيل).

پہ فتاوی رحیمیه کي راځي:

د تراويحو له پاره په شروع کي د شلو رکعتونو نيت کول کافي دئ پر هر دوو رکعتونو نيت کول شرط نه دي، مګر ښه دي. (فتاوی رحیمیه:١/ ٣٥٤). والله ﷻ اعلم.

د تراويحو څخه وروسته د نفلي لمانځه په جماعت سره د کولو حکم

سوال: د تراويحو څخه وروسته نفلي لمونځ په جماعت سره کول څنګه دي؟ که مکروه وي نو تحريمي مکروه دي او که تنزيهي؟

الجواب: نفلي لمونځ په جماعت سره کول مکروه دي د رمضان او غير رمضان تخصيص نه سته، البته که ېله غوښتي يو يا دوه کسان په يو چا پسي اقتداء وکړي نو بېله کراهته روا دي او په درو کي اختلاف دئ علامه طحاوی رحمه الله فرمايي چي د اصح قول مطابق بېله کراهته روا دي او که څلور يا زيات وي نو بالاتفاق مکروه تنزيهي دي.

وګورئ په مراقی الفلاح کي راځي:

والجماعة في النقل في غير التراويح مكروهة فالاحتياط تركها...... وعن شمس الأئمة أن هذا أى كراهة الجماعة فى النفل إذا كان على سبيل التداعى أى طريق يدعو الناس للاجتماع عليهم أما لو اقتدى واحد بواحد أو اثنان بواحد لايكره لأن النبى ﷺ أم ابن عباس رضي الله عنه فى صلاة الليل ...... وصح أنه ﷺ أم أنسا رضي الله عنه واليتيم والعجوز فصلى بهم ركعتين، وكانت نافلة وإذا اقتدى ثلاثة بواحد اختلف فيه والأصح عدم الكراهة، وإن اقتدى أربعة

بواحد کره اتفاقًا. (مراقی الفلاح مع حاشية الطحطاوی:٣٨٦، باب الوتر، قديمی کتب خانه – وکذا فی المبسوط للإمام السرخسی:٢/ ٧٦، باب صلاة الكسوف، ادارة القرآن – وخلاصة الفتاوی:١/ ١٥٤، رشيديه).

په فتاوی شامي کي راځي:

والظاهر أن الجماعة فيه غير مستحبة ثم إن كان ذلك أحيانًا كما فعل عمر رضي الله عنه كان مباحًا غير مكروه، وإن كان على سبيل المواظبة كان بدعة مكروهة لأنه خلاف المتوارث، قلت: ويؤيده أيضا ما في البدائع من قوله: إن الجماعة في التطوع ليست بسنة إلا في قيام رمضان. فإن نفي السنية لايستلزم الكراهة، نعم إن كان مع المواظبة كان بدعة فيكره وفی حاشية البحر للخير الرملی ...... والنفل بالجماعة غير مستحب لأنه لم تفعله الصحابة فی غير رمضان وهو كالصريح فی أنها كراهة تنزيه تأمل. (شامی:٢/ ٤٨، باب النوافل، سعيد).

خو ظفر احمد عثماني رحمه الله بيله دوو له څلورو شخه دزياتو كسانو ديو ځای والی ګنجائش ليکلي دئ.

وګورئ په اعلاء السنن کي راځي: -

قلت: وتفسير التداعی بالاهتمام والمواظبة أولى من تفسيرها بالعدد والكثرة كما لايخفی، لأن الأول أقرب إلى اللغة وأشبه بها دون الثانی. (اعلاء السنن:٧/ ٩٣، باب كراهة الجماعة فی النوافل، ادارة القرآن كراچی). والله تعالىٰ اعلم.

په جماعت سره د تراويحو د قضاء راوړلو حکم

سوال: د تراويحو په لمانځه کي دوه رکعته فاسد سوه بيا ټول جماعت په دوهمه شپه کي (٢٢) رکعته وکړل نو دا دو قضا راوړل صحي دي او که نه؟ همدا ډول چي د قضاء په نيت يې دوه رکعته زايد وکړل په هغه کي چي يې کوم قرائت وکړ هغه اعتبار لري او که نه؟

الجواب: د تراويحو لمونځ چې کله فاسد سي نو په دوهمه ورځ يې په جماعت سره قضا راوړل مکروه دي همدا ډول هغه قرائت د قرآن په ختم کي نه شمېرل کېږي.

وګورئ په فتاوى قاضي خان کي راځي:

وإن تذكر في الليل أنه فسد عليهم شفع من الليلة الماضية فأراد القضاء بنية التراويح يكره لأنه زيادة على التراويح بنية التراويح. (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:١/ ٢٣٦، فصل في وقت التراويح).

په فتاوى محموديه کي راځي:

که په يادورغلل چي په تيره شپه کي د تراويحو کومه شفعه فاسده سوي وه نو د هغه قضاء راوړل د تراويحو په نيت سره مكروه ده. (فتاوى محموديه:٧/ ٢٧٦، باب التراويح). والله ﷻ اعلم.

بېله کښېناستلو درېيم رکعت ته په تللو سره د تراويحو حکم

سوال: که په تراويحو کي درېيم رکعت ته بېله کښېناستلو ولاړ سو او راونه ګرځېدئ نو لمونځ يې وسو او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي که امام له درېيم رکعت څخه نه کښېناستی او پر دري رکعته يې سلام وګرځاوه نو د صحيح قول مطابق يې لمونځ فاسد سو دوهم ځل دي اداء کړي که يې څلورم رکعت ورسره يو ځای کړ نو يوازي دوه رکعته يې تراويح شمېرل کېږي يعنی لومړی شفعه يې صحيح نه ده چي کوم قرائت يې ويلي وي هغه دي راوګرځوي.

وګورئ په فتاوى هنديه کي راځي:

وعن أبي بكر الإسكاف أنه سئل عن رجل قام إلى الثالثة في التراويح ولم يقعد في الثانية قال: إن تذكر في القيام ينبغي أي يعود ويقعد ويسلم وإن تذكر بعدما سجد للثالثة فإن أضاف إليها ركعةً أخرى كانت هذه الأربع عن تسليمة واحدة. (الفتاوى الهندية:١/ ١١٨، فصل في التراويح).

په فتاوى قاضي خان کي راځي:

وإن صلى ثلاث ركعات بتسليمة واحدة فهو على وجهين إما إن قعد فى الثانية أولم يقعد فإن قعد جاز عن تسليمة واحدة ويجب عليه قضاء ركعتين لأنه شرع فى الشفع الثانى بعد إكمال الشفع الأول فإذا أفسد الشفع الثانى بترك الرابعة كان عليه قضاء ركعتين، وإن لم يقعد فى الثانية ساهيا أو عامدًا لاشك أن فى القياس وهو قول محمد وزفر رحمهما الله، وإحدى الروايتين عن أبى حنيفة رحمه الله تفسد صلاته ويلزمه قضاء ركعتين لاغير، وأما فى الاستحسان هل تفسد صلاته فى قول أبى حنيفة رحمه الله وأبى يوسف رحمه الله اختلفوا فيه قال بعضهم تفسد ولايجزئ عن شيء وقال بعضهم تجزئ عن تسليمة واحدة...... وجه من قول أنه لايجوز عن شيء وهو الصحيح أنه ترك القعدة المشروعة وهى القعدة على رأس الثانية والقعدة على رأس الثالثة غير مشروعة فى التطوع فصار كأنه لم يقعد أصلًا فلا يجوز. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:١/ ٢٤٠، فصل فى السهو).

په فتاوی هندیه کي راځي:

وإذا فسد الشفع وقد قرأ فيه لا يعتد بما قرأ فيه ويعيد القراءة ليحصل له الختم في الصلاة الجائزة وقال بعضهم: يعتد بها ، كذا في الجوهرة النيرة . (فتاوى هندية:١/ ١١٨، فصل فى التراويح). والله ﷻ اعلم.

که یې څلور رکعته د اولي ناستي پرته وکړه نو د تراویحو حکم یې څه دئ؟

سوال: که یې څلور رکعته وکړل او پر دوهم رکعت نه کښیناستی نو تراویح یې کیږي او که نه؟ او د کومي شفعي قرائت یې صحیح دئ او د کومي شفعي د تلاوت قضاء به راوړي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي د اصح قول مطابق د اولي ناستي د نه کولو له امله لومړی شفعه فاسده سوه لهذا تلاوت یې هم صحیح نه دئ، البته دوهمه شفعه او تلاوت دواړه صحیح دي، یوازي د لومړی قضاء لازمه ده.

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

وقال الفقيه أبو جعفر رحمه الله والشيخ الإمام أبو بكر محمد بن الفضل رحمه الله فى التراويح تنوب الأربع عن تسليمة واحدة وهو الصحيح لأن القعدة على رأس الثانية فرض فى التطوع فإذا تركها كان ينبغى أن تفسد صلاته أصلًا كما هو وجه القياس وإنما جاز استحسانًا فأخذنا بالقياس وقلنا بفساد الشفع الأول وأخذنا بالاستحسان فى حق بقاء التحريمة وإذا بقيت التحريمة صح شروعه فى الشفع الثانى وقد أتمها بالقعدة فجاز عن تسليمة واحدة. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:١/ ٢٤٠، فصل فى السهود، رشيديه).

په فتاوی هندیه کي راځي:

وإذا فسد الشفع وقد قرأ فيه لا يعتد بما قرأ فيه ويعيد القراءة ليحصل له الختم في الصلاة الجائزة وقال بعضهم : يعتد بها ، كذا في الجوهرة النيرة . والله اعلم. (فتاوى هندية:١/ ١١٨، فصل فى التراويح).

همدا ډول وګورئ: (البحر الرائق:٣/ ٦٧، باب الوتر والنوافل، الماجدية — وحاشية تبيين الحقائق:١/ ١٧٩، باب الوتر والنوافل، امدادية ملتان). والله تعالى اعلم.

په تراویحو کي له قرآن څخه امام ته د فتحې ورکولو حکم

سوال: په تراویحو کي یو شافعي مقتدی قرآن ته ګورئ او حنفي امام ته فتحه ورکوي او حنفي امام له هغه څخه د خپلي غلطي اصلاح کوي نو لمونځ به يې فاسد وي او که نه؟

الجواب: د احنافو په مذهب کي دغه عمل د لمانځه له پاره مفسد دئ خو کله چي حنفي مقتدی فتحه ورکړي نو د شوافعو په اند د دغه ګنجائش سته لهذا لمونځ يې نه فاسدیږي خو داسي کول به مکروه وي.

وګورئ په روضة الطالبين کي راځي:

ولو صلى على وجه لايصححه والشافعی يصححه فعند القفال لايصح الاقتداء الشافعی به، وعند أبی حامد يصح اعتبارًا باعتقاد المأموم. (روضة الطالبين:١/ ٣٤٧، باب صفة الأئمة، المكتب الإسلامی).

یہ الفقہ الاسلامي کي رائـي:

اشترط الحنفية والشافعية أن تكون صلاة الإمام صحيحة فی مذهب المأموم. فلوصلى حنفی خلف شافعی سال منه دم ولم يتوضأ بعده أو صلى شافعی خلف حنفی لمس امرأة مثلًا فصلاة المأموم باطلة لأنه يرى بطلان صلاة إمامه....... وإما ماكان شرطًا فی صحة الاقتداء فالعبرة فيه بمذهب المأموم. (الفقة الإسلامی وأدلته:٢/ ١٨٠، دار الفكر).

یہ فتاوی شامي کي رائـي:

قلت: وهذا بناء على أن العبرة لرأي المقتدي وهو الأصح وقيل لرأي الإمام وعليه جماعة ...... قوله: إن تيقن المراعاة لم يكره: أي المراعاة في الفرائض من شروط وأركان في تلك الصلاة وإن لم يراع في الواجبات والسنن ...... وأما الاقتداء بالمخالف في الفروع كالشافعي فيجوز ما لم يعلم منه ما يفسد الصلاة على اعتقاد المقتدي عليه الإجماع، إنما اختلف في الكراهة ...... وفي رسالة الاهتداء في الاقتداء لملا علي القاري: ذهب عامة مشايخنا إلى الجواز إذا كان يحتاط في موضع الخلاف وإلا لا. (شامی:١/ ٥٦٣، باب الإمامة، سعيد). واللہ ﷻ اعلم.

تراويح او تهجد دواړه بېل بېل لمنځونه دي؟

سوال: د تراويحو څخه وروسته تهجد سته او که نه تراويح د تهجد قائم مقام دئ؟

الجواب: د احاديثو او اثارو څخه معلوميږي چي تراويح او تهجد دواړه بېل لمنځونه دي تراويح د تهجد قائم مقام نه دي، د تهجد د فضيلت د تر لاسه کولو له پاره بايد جلا اداء سي.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن أبي سلمة بن عبد الرحمن أنه سأل عائشة رضي الله عنها، كيف كانت صلاة رسول الله ﷺ في رمضان فقالت: ما كان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان، ولا في غيره على إحدى عشرة ركعةً ...... يصلي أربعًا فلا تسل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي أربعًا فلا تسأل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثًا ...... (رواه البخاري:١/ ٥٤، باب قيام النبي ﷺ بالليل في رمضان وغيره).

له محدثينو څخه امام مسلم، امام مالک، امام عبد الرزاق، امام ابو داؤد، امام نسائي، امام ترمذي، امام ابو عوانه، امام ابن خزيمه، امام مروزي، امام دارمي، صاحب د بلوغ المرام او صاحب د مشکاة دغو ټولو دا حديث نقل کړی دئ خو د ترايحو په باب کي نه دئ.

په لامع الدراري کي راځي:

ومما ينبغي التنبيه له أن عائشة رضي الله عنها لم تذكرها إلاما كانت عادته في صلاته بالليل وكان دوامه عليها فأما ملوقع أحيانًا ونادرًا كصلاته بالقوم في رمضان ليالي فغير معترض به نفيًا ولا إثباتًا وذلك كثير في الكلام ...... قوله في رمضان ولافي غيره: أي في صلاته المعتادة المعروفة بالتهجد وصلاة الليل لا أنه لم يزد على ذلك أبدًا.

په حاشيه کي حضرت شيخ رحمه الله فرمايي:

وهذا أيضًا ظاهر أن التراويح صلاة مختصة برمضان والسوال كان عن صلاة تعم رمضان وغيره. (لامع الدراري:٢/ ١٨٦، باب قيام النبي ﷺ في رمضان وفي غيره).

په فتح الباري کي راځي:

وفی الحدیث دلالة علی أن صلاته کانت متساویة فی جمیع السنة. (فتح الباری:٣/ ٣٣، باب قیام النبی ﷺ، دار نشر الکتب الإسلامیة).

په عمدة القاري کي راځي:

ذکر مایستفاد منه فیه أن عمله ﷺ کان دیمة فی شهر رمضان وغیره وأنه کان إذا عمل عملًا أثبته ودوام علیه. (عمدة القاری:٥/ ٤٩٥، باب قیام النبی ﷺ، دار الحدیث ملتان).

آپ کي مسائل اور ان که حل نومي کتاب کي راځي:

تهجد بېل لمونځ دئ چي په رمضان او غیر رمضان دواړو کي سنت دئ تراویح یوازي د رمضان المبارک عبادت دئ تهجد او تراویح یو نه بلل کیږئ. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٣/ ٣٠). والله ﷻ اعلم.

د اکابرینو د تحقیق مطابق د تراویحو او تهجد فرق:

او د شاه صاحب رحمة الله علیه نظریه:

د تراویحو او تهجد لمونځ یو دئ او که جلا دي؟

د حضرت مولانا انور شاه کشمیري له تحقیق څخه معلومیږي چي دواړه لمنځونه یو دي یوازي د دواړو په صفت او وخت کي فرق سته لمونځ یو دئ، البته حضرت شاه صاحب د شل (٢٠) رکعتونو قائل دئ.

په العرف الشذي علی الترمذي کي ذکر سوی دي:

ولم یثبت في روایة من الروایات أنه علیه السلام صلی التراویح والتهجد علی حدة في رمضان، بل طول التراویح، وبین التراویح والتهجد في عهده لم یکن فرق في الرکعات بل في الوقت والصفة أي التراویح تکون بالجماعة في المسجد بخلاف التهجد، وإن الشروع في

التراويح يكون في أول الليل وفي التهجد في آخر الليل، نعم ثبت عن بعض التابعين الجمع بين التراويح والتهجد ....

فإنه لم يثبت عنه عليه السلام، ولا عن الصحابة جمعهم بين التراويح والتهجد. وأما ما في موطأ مالك : أن عمر ﷺ كان يصلي التراويح آخر الليل فمراده أنه إذا لم يصل مع الجماعة أول الليل. (العرف الشذى على الترمذى:١/ ١٦٦، ديوبند).

په فيض الباري كي رائحي:

وهما متحدان عند الشافعية: فإن صلاها قبل النوم سميت صلاة الليل، وإن صلاها بعدما استيقظ من نومه سميت تهجدًا. فالفرق بينهما وصفي، وكذا الوتر عندهم، فالوتر والتهجد وصلاة الليل كلها عندهم متحدة ماصدقًا، ومتباينة مفهومًا ...... وقلنا: أما الفرق بين صلاة الليل والتهجد فكما ذكرتم، لكن الوتر صلاة مستقلة. (فيض الباري:٢/ ٤٠٧).

د نورو اكابرينو تحقيق:

د جمهورو په اند د تراويحو لمونځ له تهجد څخه بېل او ځانګړي لمونځ دئ پر دغه ډېر دلائل موجود دي.

۱_ د نبي كريم ﷺ په احاديثو او د فقهاوو او محدثينو په كلام كي د دغه لمانځه اضافت د رمضان طرف ته سوى دئ مثلا په سنن نسائى كي د حضرت عبد الرحمن بن عوف ﷺ مرفوع حديث دئ.

قال رسول الله ﷺ : " إن الله تبارك وتعالى فرض صيام رمضان عليكم وسننت لكم قيامه".

(سنن نسائى:١/ ٣٠٨).

او په مسلم شريف كي د حضرت ابو هريره ﷺ روايت دئ:

كان رسول الله ﷺ يرغب في قيام رمضان من غير أن يأمرهم بعزيمة. (مسلم شريف:١/ ٢٥٩).

او صلاة اللیل نسبت د شپې طرف ته سوی دئ چې د هغه مطلب دا دي چې دغه لمونځ د هري شپې سره خاص دئ همدا ډول د قیام رمضان مطلب داسي لمونځ دئ چې په رمضان کي اداء کیږي او صلاة اللیل یا تهجد د رمضان سره خاص نه دئ ځکه دا د قیام رمضان څخه بېل لمونځ دئ.

۲_ د تراویحو او تهجد تر منځ د فرق یوه قرینه د وخت اختلاف دئ د دواړو لمنځونو په وختونو کي اختلاف دئ د تهجد وخت د خوب د راپورته کېدلو څخه وروسته دئ او د تهجد اصلي معنا همدغه ده د خوب څخه راپورته کېدل لهذا تهجد به همدغه لمانځه ته ویل کیږئ چې له خوب څخه تر راپورته کېدو وروسته اداء کیږي.

علامه طبری رحمه الله ﴿ ومن اللیل فتهجد به نافلةً لك ﴾ په تفسیر کي فرمايي:

ومن اللیل فاسهر بعد نومة یا محمد بالقرآن نافلةً لك خالصةً دون أمتك، والتهجد : التیقظ والسهر بعد نومة من اللیل . (تفسیر طبری:١/ ٩٥، دار المعرفة، بیروت لبنان).

په تفسیر ابن کثیر کي راځي:

فإن التهجد ما كان بعد نوم، قاله علقمة والأسود وإبراهيم النخعي وغير واحد، وهو معروف فی لغة العرب، وکذلک ثبتت الأحاديث عن رسول الله ﷺ أنه كان يتهجد بعد نومه.

(تفسیر ابن کثیر:٣/ ٦١- ومثله فی روح المعانی:١٥/ ١٣٨).

په لسان العرب کي راځي:

وأما التهجد فهو القائم إلی الصلاة من النوم. (لسان العرب:٣/ ٤٣١، بیروت).

وفی الصحیح للإمام مسلم عن عائشة رضي الله عنها قالت: کنا نعد له سواکه وطهوره فیبعثه الله ماشاء أن یبعثه من اللیل فیتسوک...... (مسلم شریف:١/ ٢٥٦).

خلاصه دا چې تهجد هغه لمونځ دئ چې د خوب څخه د راپورته کېدلو وروسته اداء کیږي د دې بر عکس د تراویحو د شروع کولو مستحب وخت د شپې اول دئ او همدغه دامت تعامل دئ د دې اړوند په المغنی لابن قدامه کي ذکر سوی دي:

وقيل لأحمد نؤخر القيام يعني في التراويح إلى آخر الليل، قال: لا، سنة المسلمين أحب إلي. (المغني: ١/ ٨٠١، دار الكتب العلمية، بيروت).

چي کله د دوارو لمنځونو مستحب وخت سره بيل دئ نو دواړه به بيل بيل لمنځونه شمېرل کيږي.

٣_ د ده مبارک ﷺ په زمانه کي د صلاة الليل په جماعت اداء کولو له پاره هيڅکله اجتماع نه ده سوي او نه يې په جماعت سره د صلوة الليل د اداء کولو ترغيب ورکړی دئ د خلفاء راشدينو او په وروسته زمانه کي هم د صلوة الليل په جماعت سره د اداء کېدو رواج نه وو خو ده مبارک ﷺ د تراويحو جماعت ورکړی دئ او د نورو کسانو د تراويحو جماعت يې ښه وباله او حضرت عمر ﷺ د ټولو صحابه وو په موجوديت کي د تراويحو لمونځ په جماعت شروع کړ او دغه معمول تر اوسه په مساجدو کي پاته دئ.

أخرج البخاري برواية عن عائشة أم المؤمنين ﷺ، أن رسول الله ﷺ صلى ذات ليلة في المسجد فصلى بصلاته ناس، ثم صلى من القابلة فكثر الناس، ثم اجتمعوا من الليلة الثالثة ، أو الرابعة فلم يخرج إليهم رسول الله ﷺ فلما أصبح قال: قد رأيت الذي صنعتم ولم يمنعني من الخروج إليكم إلا أني خشيت أن تفرض عليكم ، وذلك في رمضان. (بخاري شريف: ١/ ١٥٢).

وأخرج عبد الرزاق بسنده عن السائب بن يزيد قال: كنا ننصرف من القيام على عهد عمر ﷺ وقد دنا فروع الفجر، وكان القيام على عهد عمر ﷺ ثلاثة وعشرين ركعة . (مصنف عبد الرزاق: ٤/ ٢٦١، ٢٥٢).

٤_ د تهجد مشروعيت په قرآن کريم سره سوی دئ.

قال الله تعالى: ﴿ ومن الليل فتهجد به نافلةً لك ﴾.

قال الله تعالى: ﴿ يا أيها المزمل (١) قم الليل إلا قليلًا (٢) نصفه أو انقص منه قليلًا ﴾.

که څوک وایي چي د سنت مطلب دا دئ چي ده مبارک ﷺ د الله تعالی حکم عملي طریقه وښودل نو د تراویحو مشروعت په سنت سره رانه غلی؟

الجواب: ده مبارک ﷺ د تقابل پر طریقه داسي وفرمایل، ان الله تبارک وتعالی فرض صیام رمضان علیکم وسنت لکم قیامه، حال دا چي روژې عملي طریقه هم ده مبارک ﷺ ښودلي وه.

۵_ د تهجد حکم په مکه مکرمه کي وسو او د تراویحو حکم په مدینه منوره کي وو.

۶_ ده مبارک ﷺ هیڅکله ټوله شپه تهجد کړی نه دئ.

په مسلم شریف کي راځي.

عن عائشة رضي الله عنها في حديث طويل، قالت: ولا أعلم نبي الله ﷺ قرأ القرآن كله في ليلة ولا صلى ليلة إلى الصبح . (مسلم شريف:۱/ ۲۵۶).

خو د تراویحو اړوند د حضرت ابو ذر غفاري رضي الله عنه په روایت کي ذکر سوی دي چي ده مبارک ﷺ د رمضان المبارک په اخري لسو ورځو کي په درو متفرقو شپو کي له صحابه وو سره تراویح په جماعت سره اداء کړی دي او په هغو کي يې په دریمه شپه ده مبارک ﷺ د تراویحو له پاره خپل د کور افراد هم جمع کړل او دومره زیات وخت يې لمونځ وکړ چي موږ ته دا ېره پیدا سوه چي د پیشلمی وخت تېر نه سي.

په ابو داؤد کي روایت دئ.

عن أبي ذر رضي الله عنه قال: صمنا مع رسول الله ﷺ رمضان فلم يقم بنا شيئًا من الشهر حتى بقي سبع، فقام بنا حتى ذهب ثلث الليل فلما كانت السادسة لم يقم بنا، فلما كانت الخامسة قام بنا حتى ذهب شطر الليل ...... فلما كانت الثالثة جمع أهله ونساءه، والناس فقام بنا حتى خشينا أن يفوتنا الفلاح. قال: قلت: ما الفلاح قال السحور . (أبو داؤد:۱/ ۱۹۵، قيام شهر رمضان – ونسائي:۱/ ۲۳۸، قيام شهر رمضان – وابن ماجة:۱/ ۹٤، قيام شهر رمضان).

د ټولو فقهاوو او محدثينو طريقه همدغه ده چي هغه پر صلاة الليل تهجد وغيره بېل فصلونه قائموي او پر تراويحو بېل حتى چي ډېرو محدثينو د قيام رمضان يادونه په كتاب الصوم كي كړي ده مثلاً امام بخاري په بخاري شريف كي او علامه ابن خزيمه په صحيح ابن خزيمه كي، امام ترمذي رحمه الله په سنن الترمذى، كي له دې څخه هم معلوميږي چي دا دواړه بېل بېل لمنځونه دي.

٨_ د مسلم شريف له روايت څخه معلوميږي چي تهجد لومړى فرض وو بيا منسوخ سو او حال دا چي په تراويحو كي نسخ نه ده راغلى.

په مسلم شريف كي راځي:

عن سعد بن هشام سأل عائشة رضي الله عنها فقلت أنبئينى عن قيام رسول الله ﷺ فقالت: ألست تقرأ (يا أيها المزمل) قلت: بلى. قالت فإن الله عز وجل افترض قيام الليل فى أول هذه السورة فقام نبى الله ﷺ وأصحابه حولاً وأمسك الله خاتمتها اثنى عشر شهرًا فى السماء حتى أنزل الله فى آخر هذه السورة التخفيف فصار قيام الليل تطوعًا بعد فريضة. (مسلم:١/ ٢٥٦).

٩_ مفتي رشيد احمد صاحب پورتنى فرق داسي بيان كړى دئ چي د تهجد لمونځ لومړى فرض وو له هغه څخه وروسته په الهى وحى سره يې فرضيت منسوخ سو او س يې بيا د فرضيت بيره نه سته، حال دا چي رسول الله ﷺ پر تراويحو د دوام نه كولو حكمت د فرضيت بيره بيان كړي ده له دې څخه ثابتيږي چي دغه تراويح د تهجد څخه بېل دئ ځكه د تهجد فرضيت خو له دې څخه مخكي منسوخ سوى دي. (احسن الفتاوى:٣/ ٥٣٢).

١٠_ يو فرق دا دئ چي رسول الله ﷺ به تهجد د شپې په اخر كي كاوه لكه څنګه چي د بخاري او مسلم په روايت كي راځي: ثم قلت فأى حين كان يقوم من الليل، قالت: كان إذا سمع الصارخ.

او د نورو رواياتو څخه هم همدغه ثابتيږي او تراويح يې د شپې په اول كي كړي دي.(فتاوى رشيديه:ص ٣٥٤).

قوله اذا سمع الصارخ. (بخارى:١/ ١٥٢، او مسلم شريف:١/ ٢٥٥، عن عائشة).

قوله چي ترايح يې د شپې په اول کي کړی دي هذا لحديث قدمر ذکره. (سنن نسائی:١/ ٢٣٨).

بيا د احاديثو په رڼا کي هم د دې دواړو لمنځونو جلا والی ثابتيږي چي ده مبارک ﷺ به تراويح وکړي او بيا به يې بل لمونځ کاوه يعنی تهجد همدا ډول د صحابه وو څخه هم دغه عمل ثابت دئ.

١ ــ أخرج أبو داؤد بسنده عن قيس بن طلق قال: زارنا طلق بن علی فی يوم من رمضان وأمسی عندنا وأفطر، ثم قام بنا تلك الليلة وأوتر بنا ثم انحدر إلی مسجده فصلی بأصحابه حتی إذا بقی الوتر قدم رجلاً فقال: أوتر بأصحابك فإنی سمعت رسول الله ﷺ يقول: " لا وتران فی ليلة ". (أبو داؤد:١/ ٢٠٣).

حضرت گنگوهي رحمه الله د دغه حديث په هکله فرمايي:

له دغه حديث څخه ښکاره کيږي چي طلق بن علي رضي الله عنه لومړی له خلکو سره د رسول الله ﷺ د فعل موافق په اول وخت کي تراويح اداء کړي او وتر يې هم ورسره وکړه لکه څنګه چي د رسول الله ﷺ څخه ثابت دي او بيا خپل مسجد ته ولاړئ په اخر وخت کي يې تهجد وکړ او له هغه سره يې وتر ونه کړه. (فتاوی رشيديه: صـ ٣٦١).

د صحابه وو له عمل څخه هم ثابته ده چي دا دواړه بېل بېل لمنځونه دي:

وفی المؤطا عن عمر رضي الله عنه قال: والتی تنامون أفضل من التی تقومون يعنی آخر الليل.

(مؤطا:٩٨).

حضرت گنگوهي رحمه الله فرمايي:

که له دې څخه د دواړو لمنځونو توپير معلوم سي نو ليري نه ده ځکه د دې قول معنا دا ده چي کوم لمونځ چي تاسو له هغه څخه بېده واست يعني تهجد چي د شپې په اخر کي کيږي ښه دئ له هغه لمانځه څخه چي تاسو يې کوي يعني تراويح چي په اول وخت کي به يې کولي. (فتاوی رشيديه: صـ ٣٦٠).

۲_ دامام بخاري رحمه الله په حالاتو کي ليکي، چي د شپې په اول کي به يې له خپلو شاګردانو سره په جماعت سره تراويح اداء کولې او د پيشلمي په وخت کي به يې تهجد يوازي اداء کاوه. (احسن الفتاوى:۳/ ۵۳۲).

قلت: وقد ذكره الحافظ في مقدمة الفتح في ترجمة أبي عبد الله رحمه الله:

وقال الحاكم أبو عبد الله الحافظ أخبرني محمد بن خالد ثنا مقسم بن سعد قال: كان محمد بن إسماعيل البخاري رحمه الله إذا كان أول ليلة من شهر رمضان، يجتمع إليه أصحابه فيصلي بهم ويقرأ في كل ركعة عشرين آية، وكذلك إلى أن يختم القرآن، وكان يقرأ في السحر ما بين النصف إلى الثلث من القرآن فيختم عند السحر في كل ثلاث ليال. (هدى السارى:۴۸۱).

۳_ په احسن الفتاوى کي راځي:

د حنبلي فقهي په مشهور کتاب مقنع کي راځي:

ثم التراويح وهي عشرون ركعة يقوم بها في رمضان في جماعة ويوتر بعدها في الجماعة، فإن كان له تهجد جعل الوتر بعده. (المقنع:۱۸۴). (احسن الفتاوى:۳/ ۵۳۲).

دغه عبارت په ((المبدع شرح المقنع: ۲/۲۴۵)) کي ذکر سوى دى له دې څخه معلوميږي چي تراويح او تجهد بېل لمنځونه دي. والله ﷻ اعلم.

په تراويح کي جهر او د بسم الله ويلو حکم

سوال: په فتاوى رشيديه کي راځي چي په تراويحو کي بالسر او بالجهر دواړه ويل درست دي که يې څوک بالجهر ووايي نو پر هغه اعتراض کول مناسب نه دي(ص۳۳۷) له دې څخه وروسته حميد الله مقيم مدرسه مطلع العلوم مير تهـ ليکي، البته دومره خبره ده چي د بسم الله په جهر ويل پر ښودل کيږي نو دا د مره سنت په حکم کي ده په رواجولو کي يې اميد دئ چي د سلو شهيدانو ثواب به ورکول سي نو ښه دا ده چي اکثره دي بسم الله په جهر سره وايي که هغه فرض لمنځونه وي چي په هغو کي قرائت په جهر سره ويل کيږي لکه سهار، ماخستن، ماښام او که تراويح اوس سوال دا دئ

چي كه په تراويحو كي بالجهر بسم الله وويل سي د سنت د راژوندى كولو په نيت نو ايا دى به د سلو شهيدانو د اجر مستحق وي؟ او ايا د فرضي لمنځونو حكم به هم همدغه وي؟ بينوا توجروا؟

الجواب: د احنافو د مذهب مطابق بسم الله په جهر سره ويل خلاف اولى دي كه تراويح وي يا فرض لمنځونه وي په ټول قرآن كي يوازي يو ځل په تراويحو كي ديوه سورت په شروع كي په جهر سره بسم الله ويل په كار دي له دې ځخه پرته دي سرا وايي، د فقهاوو په عبارتونو او فتاواوو كي يې تصريحات موجود دي او په احياء سنت كي د سلو شهيدانو ثواب موندل د دغه حديث تحقيق په ابواب الحديث كي تير سوى دئ او د هغه مطلب دا دئ چي كه چا بدعت قبيحه له منځه يو وړي او د هغه پر ځاى يې اصلي سنت راژوندى كړي نو د سلو شيهدانو ثواب به وركول كيږي ګويا كي دلته سنت د بدعت په مقابله دي او په پورتنى مسئله كي يعني تسميه جهراً يا سرا كي دواړو طرفونو ته احاديث دي، البته د سرا ويلو احاديث اكثر او درجه يې لوړه ده او د حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمة الله عليه د قول مطلب دا دئ چي جهرا خلاف اولى دئ د دې له امله په مسجد كي اختلاف او جګړه په كار نه ده، لوموړى بايد وپوهول سي كه يې ونه مني نو اعتراض دي نه كوي ځكه دا هم له حديث ځخه ثابته او درسته ده.

په حاشية الطحطاوي كي راځي:

و تسن التسمية أول كل ركعة قبل الفاتحة لأنه ﷺ كان يفتتح صلاته ببسم الله الرحمن الرحيم ...... وهى آية واحدة من القرآن ...... وأنزلت للفصل بين السور ...... و يسن الإسرار بها للآثار الواردة بذلك . (حاشية الطحطاوى مع مراقى الفلاح:ص ٢٦٠، ٢٦٢، قديمى).

په الدرالمختار كي راځي:

وسمى غير المؤتم بلفظ البسملة سرا فى أول كل ركعة ولو جهرية...... وفى الشامية: (قوله سرًا فى أول كل ركعة) كذا فى بعض النسخ وسقط سرًا من بعضها ولابد منه، قال فى

الکفایة عن المجتبی: والثالث أن لایجهر بها فی الصلاة عندنا. (الدر المختار مع الشامی: ١/ ٤٩٠، سعید).

په فتاوي دار العلوم ديوبند کي راځي:

په لمانځه کي د احنافو په اند بالاتفاق بايد بسم الله سرا وويل سي په دې کي د احنافو تر منځ اختلاف نه سته او مطلق لمونځ فرائضو، نوافلو او تراويحو وغيره ته شامل دئ او دا هم له عبارته څرګنديږي چي د امام اتباع د قاريانو د لمانځه څخه د باندي ده نه په لمانځه کي او پر دغه مورد ځېل استاذان حنفي علماء موندلي دي. (فتاوی دار العلوم دیوبند: ٤/ ٢٦٤). **همدا ډول وګورئ:** (فتاوی رحیمیه: ٤/ ٣٨٠، باب التراویح – مجموعة رسائل اللکهنوی، احکام القنطرة فی احکام البسملة: ١/ ١٧، ادارة القرآن – وفتاوی محمودیه: ٧/ ٢٩٩ – ٣١٠، جامعه فاروقیه – وامداد الفتاوی: ١/ ٢٢٨ – ٢٣٠، فصل فی التجوید – وامداد الاحکام: ١/ ٦٣٠، فصل فی التراویح).

علامه عبد الحی لکهنوي رحمه الله فرمايي:

قد صرحوا أن ختم القرآن بجميع أجزاءه فی التراويح مرة سنة مؤكدة حتى لو ترك آية منه لم يخرج عن العهدة، وقد ثبت أن البسملة أيضًا آية منه على الأصح، فيستخرج منه أنه لو قرأ تمام القرآن فی التراويح ولم يقرأ البسملة فی ابتداء سورة من السور سوى ما فی سورة النمل لم يخرج عن عمدة السنية ولو قرأها الإمام سراً خرج عن العهدة لكم لم يخرج المقتدون عن العهدة. (مجموعة رسائل اللكهنوى: " أحكام القنطرة فی أحكام البسملة: ١/ ١٠٣، امدادية).

همدا ډول وګورئ: (امداد المفتین: جلد دوهم ص ٣٦١، فصل فی التراویح، دار الاشاعت – وفتاوی محمودیه: ٧/ ٣٠٠، باب التراویح، جامعه فاروقیه). والله تعالیٰ اعلم.

په نفل کونکي پسي د تراويحو کونکي حکم

سوال: په نفل کونکي پسي د تراويحو کونکي تراويح صحيح کيږي او که نه؟

تراويح سنت مؤكده او اعلى دي او نفل ادنى دي نو د اعلى اقتداء به په ادنى پسي درسته نه وي لهذا په پورتنى صورت كي به د تراويحو لمونځ درست نه وي.

په منحة الخالق كي ليكي:

أقول: حيث صرح قاضي خان بأن الصحيح أنه إذا صلى التراويح مقتديًا بمتنفل بغيرها لا يجوز بناءً على أن السنة لا تتأدى بنية التطوع يكون ذلك تصحيحًا لعدم جواز اقتداء مصلي التراويح بالمفترض؛ لأن معنى أن السنة لا تتأدى بنية التطوع أنها لا بد لها من التعيين والإمام غير معين للتراويح سواء كان مصليًا نفلًا أو فرضًا فلا تصح نية التراويح من المقتدي، وقد صرح بذلك العلامة قاسم في فتاويه ضمن رسالة فقال (فصل) إذا صلى التراويح مقتديًا بمن يصلي المكتوبة أو وترًا أو نافلةً غير التراويح اختلفوا فيه منهم من بنى هذا الاختلاف على الاختلاف في النية من قال من المشايخ إن التراويح لا تتأدى إلا بنيتها فلا تتأدى بنية الإمام وهي بخلاف نيته ومن قال منهم إنها تتأدى بمطلق النية ينبغي أن يقول هنا إنه يصح والأصح لا يصح الاقتداء. (منحة الخالق حاشية البحر الرائق: ١/ ٣٦٥، باب الأمامة، الماجدية).

په فتاوى هنديه كي راځي:

ولو صلى التراويح مقتديًا بمن يصلي مكتوبةً أو وترًا أو نافلةً الأصح أنه لا يصح الاقتداء به؛ لأنه مكروه مخالف لعمل السلف. (الفتاوى الهندية: ١/ ١٧٧ – وكذا فى ردالمحتار: ١/ ٥٩٠ – والطحطاوى على الدر المختار: ١/ ٢٩٦ – وبدائع الصنائع: ١/ ٢٨٨ – والفتاوى الهندية: ٤/ ٢٩، الثالث فى التراويح). والله ﷻ اعلم.

د (٨) اته رکعتونو تراویحو حکم

سوال: هل يجوز أن نصلي صلاة التراويح (٨) ركعة فقط أم لا؟ ولماذا؟

الجواب: مسئلة عدد ركعات التراويح قد صنف فيها العلماء قديمًا وحديثًا من صغير وكبير وتعرضوا لها تعرضًا وافيًا بإطناب وإيجاز، وذكرت المسئلة في جميع الكتب الفقهية والفتاوى، ولايسع المقام التفصيل فأقتصرهنا على ذكر بعضه المهم:

التراويح عشرون ركعة سنة مؤكدة واظب عليها الخلفاء الراشيدون ومن بعدهم إلى يومنا هذا، فلا يجوز الاقتصار على ثماني ركعات.

حجة من زعم أن التراويح (٨) ركعة:

١ ــ أخرج البخارى عن أبي سلمة بن عبد الرحمن أنه سأل عائشة ، ﵂، كيف كانت صلاة رسول الله ﷺ في رمضان، فقالت: ما كان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان ، ولا في غيرها على إحدى عشرة ركعةً يصلي أربعًا فلا تسل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي أربعًا فلا تسل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثًا . (الصحيح البخارى:١/ ١٥٤).

دل هذا الحديث على أنه كان يصلى (٨) ركعة صلاة التراويح و (٣) وترًا.

والجواب عن هذا:

١ ــ ليس المراد بالحديث المذكور بيان عدد ركعات التراويح ولا يعلم بيان عدده منه، لأن فيه أنه عليه السلام كان يصلى أربعًا أربعًا والتراويح لاتصلى أربعًا أربعًا بل مثنى مثنى.

٢ ــ الحديث المذكور فيه بيان قيام الليل وهو التهجد لا التراويح لأن لفظ الحديث: " ما كان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان ولا في غيره يدل على أن السؤال المعروض إنما كان عن

صلاة تصلى دائمًا وهى التهجد لا التراويح، وإنما خص رمضان بالذكر لما ثبت أنه عليه الصلاة والسلام كان يجتهد فى رمضان ما لايجتهد فى غيره فظن السائل أنه كان يزيد فى رمضان فى التهجد أيضًا كغيره من الصلوات فقالت: لا ما كان يزيد على (٨) فى التهجد لا فى رمضان ولا فى غيره.

ويدل على ما قلنا أيضًا صنيع أكثر المحدثين أنهم لم يذكروا الحديث المذكور فى أبواب التراويح مثل الإمام محمد بن نصر المروزى له كتاب مسيمى بـ " قيام الليل " فبوب فى كتابه هذا " باب عدد الركعات التى يقوم بها الإمام للناس فى رمضان" وذكر فيه عدة أحاديث، لكن لم يذكر حديث عائشة رضي الله عنها المذكور لاصريحًا ولا إشارةً بل ذكرو الحديث المذكور فى أبواب قيام الليل.

وأراد من زعم أن التروايح (٨) ركعة الاستدلال ببعض الآثار مثل ماجاء فى المؤطا بسند مالک عن السائب بن يزيد رضي الله عنه أنه قال أمر عمر بن الخطاب رضي الله عنه أبى بن كعب وتميما الدارى رضي الله عنهما أن يقوم للناس بإحدى عشرة ركعة. (مؤطا الامام مالک:٩٥).

وقد إجاب العلماء والمحدثون عن هذا الاستدلال بوجوه كثيرة بكل بسط وتفصيل لايسعه المقام.

فليراجع: اعلاء السنن:٧/ ٨٤ – وفتح البارى:٤/ ٢١٩ – واحسن الفتاوى:٣/ ٥٣٤.

• وأماكون صلاة التراويح عشرون ركعة فقد ثبت بحجج كثيرة لايصح الإنكار عنها، مثل:

١_ عن ابن عباس رضي الله عنهما أن رسول الله ﷺ كان يصلي في رمضان عشرين ركعة والوتر.
أخرجه ابن أبي شيبة في مصنفه – والبغوي في معجمه – والطبراني في الكبير – والبيهقي في سننه – (التعليق الحسن:٢/ ٥٦) – (وفي إسناده إبراهيم بن عثمان وفيه كلام).

٢_ قال عليه الصلاة والسلام: عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ. (رواه أحمد وابو داؤد والترمذي وابن ماجه).

وما ثبت من عمل الخلفاء الرشدين المهديين مثل التراويح ٢٠ ركعة نتبعه بقول النبي ﷺ وأمره بقوله عليكم بسنتي الخ.

٣_ عن السائب بن يزيد رضي الله عنهما قال: كنا نقوم من زمن عمر بن الخطاب رضي الله عنه بعشرين ركعة والوتر. رواه البيهقي في المعرفة وصححه السبكي في شرح المنهاج. (التعليق الحسن:٢/ ٢٥٤).

٤_ عن عبد العزيز بن رفيع قال: كان أبي بن كعب رضي الله عنه يصلي بالناس في رمضان بالمدينة عشرين ركعة يوتر بثلاث. أخرجه أبو بكر بن أبي شيبة في مصنفه وإسناده قوي مرسل. (آثار السنن:٢/ ٥٥).

٥_ عن أبي الحسناء أن علي ابن أبي طالب رضي الله عنه أمر رجلاً يصلي بالناس خمس ترويحات عشرين ركعة. رواه البيهقي في سننه وضعفه (كنز العمال:٤/ ٢٨٤).

٦_ عن يزيد بن رومان أنه قال: كان الناس يقومون في زمان عمر بن الخطاب رضي الله عنه في رمضان بثلاث وعشرين ركعة. رواه مالك وإسناده قوي مرسل –(بيهقي:٢/ ٢٩٦).

٧_عن نافع عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه قال: كان ابن أبي مليكة يصلي بنا في رمضان عشرين ركعة. (مصنف ابن أبي شيبة: واسنادة حسن:٥/ ٢٢٣).

٨_ قال عطاء: أدركت الناس وهم يصلون في زمان عمر بن الخطاب رضي الله عنه في رمضان عشرين ركعة يطيلون فيها القراءة ويو ترون بثلاث. (مصنف ابن ابي شيبة: واسناده حسن:٥/ ٢٢٤).

٩_ قال محمد بن كعب القرضي كان الناس يصلون في زمان عمر بن الخطاب رضي الله عنه في رمضان عشرين ركعة يطيلون فيها القراءة ويو ترون بثلاث. (قيام الليل للمروزي:ص ٩١).

١٠ - قال الأعمش: كان عبد الله بن مسعود رضي الله عنه يصلي عشرين ركعة ويوتر بثلاث. (قيام الليل:ص ٩٠).

(تلک عشرة كاملة).

فهذا المأثور عن الصحابة والخلفاء الراشدين ومن بعدهم أحق أن يتبع وهذا بالقبول أليق والقلب إليه أميل وعن الخطأ أبعد. والله اعلم. (ملخص من احسن الفتاوى:٣/ ٥٢٨ -٥٤٥).

دا ته (٨) رکعتونو د تراویحو د روایت جواب

سوال: غیر مقلدین حضرات اته رکعته تراویح کوي د هغوله دلائلو څخه یو دلیل د حضرت سائب بن یزید رضي الله عنه روایت دئ چي د احادیثو په مختلفو کتابونو کي ذکر دي او په خاصه توګه د موطا روایت خلکو ته وړاندي کوي او وايي چي د دې روایت په رڼا کي تراویح باید اته رکعته وکړل سي.

د موطا امام مالک رحمه الله روایت وګورئ:

مالك عن محمد بن يوسف عن السائب بن يزيد أنه قال: " أمر عمر بن الخطاب رضي الله عنه أبي بن كعب رضي الله عنه وتميما الداري رضي الله عنه أن يقوما للناس بإحدى عشرة ركعة . (رواه امام مالک في المؤطا:٩٨).


په دغه روایت کي اته (٨) رکعته تراویح او دري رکعته وتر یوولس کیږي د دې استدلال جواب څه دئ؟

الجواب: د دې روایت جواب دا دئ چې د حضرت سائب بن یزید رضی الله عنه څخه روایت کونکی درې کسان دي.

١_ حارث بن عبد الرحمن رحمه الله.

٢_ یزید بن خصیفه د دغو دواړو په روایت کي بیله اختلافه د شلو یادونه سوي ده.

٣_ د محمد بن یوسف د شاګردانو تر منځ اختلاف دئ لاندي نقشه وګورئ:



١_ الحارث بن عبد الرحمن: عبد الرزاق عن الأسلمى عن الحارث بن عبد الرحمن بن أبي ذباب عن السائب بن يزيد قال كنا ننصرف من القيام على عهد عمر رضي الله عنه وقد دنا فروع الفجر، وكان القيام على عهد عمر رضي الله عنه ثلاثة وعشرين ركعة . (مصنف عبد الرزاق:٢/ ٢٦١، باب قيام رمضان:ادارة القرآن).

٢_ محمد بن نصر: وما حمله عليه فى الحديثين صحيح بدليل ما روى محمد بن نصر من رواية يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيد رضي الله عنه أنهم كانوا يقومون فى رمضان بعشرين ركعة فى زمن عمر بن الخطاب رضي الله عنه . (عمدة القارى شرح صحيح البخارى:٨/ ٢٤٥).

٣_ ابن أبى ذئب: ابن أبى ذئب عن يزيد بن خصيفة: كانوا يقومون على عهد عمر بن الخطاب رضي الله عنه فى شهر رمضان بعشرين ركعة. (السنن الكبرى للبيهقى:٢/ ٤٩٦، باب ما روى فى عدد ركعات القيام فى شهر رمضان).

٤_ محمد بن جعفر: محمد بن جعفر حدثنى يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيد رضي الله عنه قال: " كنا نقوم فى زمان عمر بن الخطاب رضي الله عنه بعشرين ركعة والوتر. (السنن الصغير للبيهقى:١/ ٢٣٥، بابا قيام شهر رمضان، دار الفكر).

٥_ داود بن قيس: عبد الرزاق عن داؤد بن قيس وغيره عن محمد بن يوسف عن السائب بن يزيد رضي الله عنه: أن عمر رضي الله عنه جمع الناس في رمضان على أبي بن كعب رضي الله عنه وعلى تميم الداري رضي الله عنه على إحدى وعشرين ركعة، يقرؤون بالمئين وينصرفون عند فروع الفجر. (مصنف عبد الرزاق:٤/ ٣٦٠، إدارة القران).

٦ - الإمام مالک رحمه الله عن مالك عن محمد بن يوسف عن السائب بن يزيد أنه قال: " أمر عمر بن الخطاب رضي الله عنه أبي بن كعب رضي الله عنه وتميما الداري رضي الله عنه أن يقوما للناس بإحدى عشرة ركعة. (رواه الامام مالک فی المؤطا:٩٨).

٧- عبد العزيز بن محمد: أن مالكاً قد تابعه عبد العزيز بن محمد عند سعيد بن منصور في سننه ويحيى بن سعيد القطان عند أبی بكر بن أبی شيبة فی مصنفه كلاهما عن محمد بن يوسف وقالا إحد عشرة. (تحفة الأحوذی:٢/ ٣٤٩، باب ماجاء فی قيام شهر رمضان).

٨- يحيى بن سعيد القطان: حدثنا يحيى بن سعيد القطان عن محمد بن يوسف أن السائب أخبره أن عمر رضي الله عنه جمع الناس على أبی رضي الله عنه وتميم رضي الله عنه فكانا يصليان إحدى عشرة ركعة، يقرآن بالمئين يعنی فی رمضان. (المصنف لابن أبی شيبة:٥/ ٢٢٠، فی صلاة رمضان).

٩- إسماعيل بن جعفر: حدثنا علي حدثنا إسماعيل حدثنا محمد بن يوسف بن عبد الله بن يزيد الكندی عن السائب بن يزيد رضي الله عنه أنهم كانوا يقومون فی زمن عمر بن الخطاب بإحدى عشرة ركعة يقرؤون فی الركعة بالمأتين...... (حديث اسماعيل بن جعفر:١/ ٤٥٣/ ٤٣٧).

١٠- محمد بن إسحاق: وأخرج محمد نصر المروزی فی قيام الليل من طريق محمد بن إسحاق: حدثنی محمد بن يوسف عن جده السائب بن يزيد رضي الله عنه قال: كنا نصلی فی زمن عمر رضي الله عنه فی رمضان ثلاث عشرة ركعة. (تحفة الأحوذی:٢/ ٣٤٩، باب ماجاء فی قيام شهر رمضان).

د دې روایت په هکله د محدث اعظم حضرت مولانا حبیب الرحمن صاحب رحمه الله جواب وګورئ:

دغه روایت مضطرب دئ تر څو چې یوې طریقې ته د اصولو او قواعدو مطابق ترجیح یا تطبیق حاصل نه سي تر هغوېې په استدلال کې وړاندې کول درست نه دي محققینو علماوو متقدمینو دواړه صورتونه اختیار کړي دي لکه څنګه چې ابن عبد البر مالکی یوویشت (۲۱) صحیح ګڼلي دي او یوولس (۱۱) یې د راوي وهم ښودلی دئ او تطبیق یې هم ورکړی دئ چې مخکې دیوولسو حکم وو بیا په قیام کې د تخفیف له پاره دیوولسو پر ځای یوویشت رکعتونه سوه. (تحفة الاحوذی:۲/ ۷٤).

او زرقانی مالکي رحمه الله دغه تطبیق ته ترجیح ورکړې ده همدا ډول امام بیهقي رحمه الله هم دا ډول جمع کړې ده. (تحفة الاخیار: صـ ۱۹۱، او زرقانی شرح موطأ:۱/ ۲۱۵).

همدا ډول د حضرت سائب بن یزید له شاګرادانو څخه:

۱_ عبد الرحمن شل (۲۰) رکعتونه نقل کوي.

۲_ د یزید بن خصیفه د ده شاګردان هم شل (۲۰) رکعته نقل کوي یوازې اختلاف د محمد بن یوسف په شاګردانو کې دي لهذا اوس د عبد الرحمن او یزید بن خصیفه روایت زیات د اعتماد وړ ګڼي او د محمد بن یوسف پر روایت به ترجیح ورکوي یا دې د محمد بن یوسف د روایت هغه طریقه د اعتماد وړ وګڼل سي چې د یزید او عبد الرحمن سره متفق دي یعنی د داؤد بن قیس طریقه او پر نورو دې ترجیح ورکول سي یا دې د محمد بن یوسف په ټولو طروقو کې د علامه ابن عبد البر او امام بیهقي رحمه الله تطبیق ورکول سي چې د یزید او عبد الرحمن له روایت سره تکرار نه سي. (ملخص از رساله رکعاته تراویح مناظره از مولانا حبیب الرحمن اعظمی: صـ ۷-۹).

د ترجیح او تطبیق څو دلائل وګورئ په الاستذکار کې راځي:

(وفي حديث مالك عن محمد بن يوسف عن السائب إحدى عشرة ركعة) وغير مالك رحمه الله يخالفه فيقول في موضع إحدى عشرة ركعة (إحدى وعشرين) ولا أعلم أحدا قال في هذا الحديث إحدى عشرة ركعة غير مالك. والله أعلم .

إلا أنه يحتمل أن يكون القيام في أول ما عمل به عمر رضي الله عنه بإحدى عشرة ركعة ثم خفف عليهم طول القيام ونقلهم إلى إحدى وعشرين ركعة يخففون فيها القراءة ويزيدون في الركوع والسجود إلا أن الأغلب عندي في إحدى عشرة ركعة الوهم. (الاستذكار:٢/ ٦٨، باب ماجاء في قيام رمضان، دار الكتب العلمية).

دمؤطا په حاشيه كي راځي:

قال الزرقاني رحمه الله : ولا وهم مع أن الجمع بالاحتمال الذي ذكره قريب، وبه جمع البيهقي رحمه الله، وقوله " انفرد به مالک رحمه الله ليس كما قال فقد رواه سعيد بن منصور من وجه آخر عن محمد بن يوسف فقال: إحدي عشرة ركعة.

قلت: لكن قال العيني رحمه الله: روى في المصنف عن داؤد بن قيس وغيره عن محمد بن يوسف عن السائب بن يزيد أن عمر بن الخطاب رضي الله عنه جمع الناس في رمضان على أبي بن كعب رضي الله عنه وتميم الداري رضي الله عنه على إحدى وعشرين ركعة الحديث، وروى الحارث بن عبد الرحمن عن السائب بن يزيد قال: كان القيام على عهد عمر رضي الله عنه بثلث وعشرين ركعة، وروى محمد بن نصر في قيام الليل من رواية يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيد قال: إنهم كانوا يقومون في عهد عمر رضي الله عنه بعشرين ركعة انتهى، والاختلاف هذا محمول على اختلاف الوتر. (حاشية مؤطا الإمام مالک: برقم ٢ صـ٩٨، مير محمد كتب خانه كراچی).

امام بيهقي رحمه الله تطبيق وكوري:

ويمكن الجمع بين الروايتين، فانهم كانوا يقومون بإحدى عشرة ركعة، ثم كانوا يقومون بعشرين ويوترون بثلاث. والله أعلم. (السنن الكبرى للبيهقى:٢/ ٢٩٦، باب ما روى فى عدد ركعات القيام فى شهر رمضان، دار المعرفة بيروت).

په اوجز المسالک کي حضرت شيخ رحمه الله فرمايي:

قلت: والظاهر عندي ما رجحه ابن عبدالبر رحمه الله؛ لأن جل الروايات نص في أنها كانت عشرين ركعة ، لكن الوهم عندي فيه عن محمد بن يوسف ؛ لأن نسبة الوهم إلى الإمام أبعد من النسبة إليهم، ويؤيده رواية سعيد بن منصور ، وقد روى يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيد: أنهم كانوا يقومون في عهد عمر بن الخطاب رضي الله عنه بعشرين ركعة ذكره فى البذل. (أوجز المسالک:٢/ ٥٢٨، باب ماجاء فى قيام رمضان).

والمحفوظ ما رواه يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيد قال: " كانوا يقومون على عهد عمر بن الخطاب رضي الله عنه فى شهر رمضان بعشرين ركعة " .أخرجه البيهقى وسنده صحيح وعزاه الحفاظ فى الفتح الى مالک أيضًا(٤/ ٢١٩) لمإن له شواهد كثيرة صحيحة. (اعلاء السنن:٧/ ٨٤، باب التراويح).

د يزيد بن خصيفه د روايت تحقيق:

په التعليق الحسن کي راځي:

قلت: رجال إسناده كلهم ثقات ...... (ثم ذكر الرواة واحدًا بعد واحد) وقال فى آخره: قلت: لهذا الأثر قد صحح إسناده غير واحد من الحفاظ كالنووى رحمه الله فى الخلاصة وابن العراقى رحمه الله فى شرح التقرين والسيوطى رحمه الله فى المصابيح. (الحاوى للفتاوى:١/ ٤١٧).

(آثار السنن:٢٥١، رقم الحاشية:٢٨٣، باب في التراويح بعشرين ركعات – وشرح المهذب:٤/ ٣٢، دار الكفر).

پر يزيد بن خصفيه اعتراض او د هغه جواب

اعتراض ځيني كسان وايي چي امام احمد يزيد بن خصيفه منكر الحديث بللي دئ؟

الجواب: تر ټولو وړاندي د امام احمد رحمه الله په ژبه د يزيد بن خصيفه اړوند اوري.

په كتاب العلل ومعرفة الرجال كي راځي:

يزيد بن خصفيفه ما أعلم إلا خيرًا. (كتاب العلل ومعرفة الرجال للإمام أحمد بن حنبل:٢/ ٤٩٠/ ٣٢٣٢).

وقال الذهبي في سير أعلام النبلاء:

وثقه يحيى بن معين، وقال ابن سعد: كان ثبتًا، عابدًا، ناسكًا كثير الحديث.

قلت: توفي بعد الثلاثين ومئة. (سير أعلام النبلاء:٦/ ١٥٨).

وقال المزي: قال أبو بكر الأثرم عن أحمد بن حنبل وأبو حاتم والنسائي: ثقة.

وقال أبو عبيد الآجري عن أبي داؤد: قال أحمد: منكر الحديث وقال أحمد بن سعد بن أبي مريم: عن يحيى بن معين: ثقة حجة. (تهذيب الكمال في أسماء الرجال:٣٢/ ١٧٢).

په خپله يې د امام احمد شخه توثيق ذكر سوى دئ بيا د نورو كسانو له ده شخه د منكر الحديث نقل كول درست نه دي په خپله نسائي له ابن معين وغيره شخه د ده توثيق كړى دئ، محقق الدكتور بشار عواد معروف د منكر الحديث اړوند ليكي:

هذا شيء لم يثبت عن أحمد رحمه الله فيما أرى، والله أعلم فقد تقدم قول الأثرم عنه، وفي العلل لابنه عبد الله، أنه قال: ما أعلم إلا خيرًا (٢/ ٣٥) وهو توثيق واضح. (تهذيب الكمال:٣٢/ ١٧٢، حاشية:١٧٣). **يا به منكر الحدي د قليل الرواية په معنا وي. والله تعالى اعلم.**

د تراویحو پر امامت د اجرت اخیستلو حکم

سوال: د تراویحو پر امامت اجرت یا هدیه اخیستل روا دي او که نه؟

الجواب: پر تراویحو اجرت یا هدیه اخیستل درست نه دي که یې مخکې د اخیستلو نیت نه وي او اتفاقاً خلکو څه ورکړل نو د هغه اخیستل روا دي د علماء دیوبند همدغه فتوی ده.

په فتاوی شامي کې راځي:

وأن القراءة لشيء من الدنيا لا تجوز وأن الآخذ والمعطي آثمان لأن ذلك يشبه الاستئجار على القراءة ونفس الاستئجار عليها لا يجوز فكذا ما أشبهه كما صرح بذلك في عدة كتب من مشاهير كتب المذهب وإنما أفتى المتأخرون بجواز الاستئجار على تعليم القرآن لا على التلاوة وعللوه بالضرورة وهي خوف ضياع القرآن ولا ضرورة في جواز الاستئجار على التلاوة كما أوضحت ذلك في شفاء العليل وسيأتي بعض ذلك في باب الإجارة الفاسدة إن شاء الله تعالى. (شامی:۲/ ۷۳،سعید).

ځینې مفتیان فرمایي، چې دغه اجرت پر امامت دئ ځکه یوازې د قرآن کریم اورول مقصد نه دي بلکې د امامت په ضمن کې د قرآن اورول مقصد يې نو دغه پر امامت مسنونه باندې اجرت دئ لکه څنګه چې یو څوک د جمعې په ورځ یو چا ته دا ووایې، چې ته به د سهار لمونځ ورکوې او په هغه کې الم سجده او سورة الدهر وایې، نو دغه امامت او اجرت روا دي همدا ډول دا هم روا دي، همدارنګه د تراویحو د امام د شکل او صورت لحاظ ساتل چې ډیره به یې پوره وي پر توګ به یې له بجلکو کښته نه وي له دې څخه هم معلومیږئ چې امامت مقصد دئ که یوازې د قرآن د اورولو له پاره وایې نو دغه شرطونه به یې نه لرلای او په ظاهره دغه اجرت هم نه دئ ځکه څوک یو شی ورکوي او څوک بل شی څوک لږ هدیه ورکوي او څوک زیاته اجرت خو هغه دي چې معلوم او یا مشروط وي، دلته خود ورکولو عرف سته خو په اندازه کې یې ډېر زیات فرق دي، د دې نظیر.

په حدیث شریف کې وګورئ:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه: أن رجلا من كلاب سأل النبي ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال: يا رسول الله ! إنما نطرق الفحل فنكرم فرخص له في الكرامة. وقال الترمذي رحمه الله وقد رخص قوم في قبول الكرامة على ذلک. (رواه الترمذي وقال: هذا حديث حسن:١/ ٢٤٠، باب ماجاء فی كراهية عسب الفحل).

له دغه روايت څخه معلوميږي چي اجرت ممنوع دئ خو د اكرام په توګه چي كومه هديه وركول سي د هغه ګنجائش سته.

وګورئ په فتاوی فريديه كي راځي:

حافظ چي د تراويحو په ختم كي پيسې او اجرت اخلي دغه اجرت على الامامت دئ على التلاوت نه دئ.

سوال: حافظان چي د تراويحو د ختم كولو وروسته كومي پيسې وغيره اخلي هغه روا دي او كه نه؟

الجواب: فقهاء كرامو پر تلاوت اجرت اخيستل ناروا بللي دي خو زموږ په ښارونو كي تلاوت هم كوي او امامت هم كوي نو دغه پيسې يوازي د تلاوت عوض ګرځول او د امامت څخه پټه خوله كېدل بې دليله كار دئ او كه يوازي تلاوت په نظر كي ونيول نو د تلاوت څخه خو هيڅ تراويح نه خالي كيږي نو پر مطلق تراويحو به اجرت روا نه وي، په هر حال د حافظ پر دغو پيسو انكار كول هندي مسئله ده حنفي نه ده، دغه اجرت على الامامت دئ نه يوازي پر تلاوت. (فتاوی فريديه:١/ ٦٠٧، مسائل شتى). والله تعالى اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿من نسي صلاة أو نام عنها فكفارتها أن يصليها إذا ذكرها﴾ (رواه مسلم).

يوولس .... باب

د قضايي لمنځونو بيان

د تهجد پر وخت د قضايي عمرۍ کولو حکم

سوال: د تهجد په وخت کي تهجد کول ښه دئ او که قضايي عمرۍ ښه ده؟ په داسي حال کي چي د تهجد وخت دئ او قضاء مهمه ده؟

الجواب: قضايي عمري کول ښه ده، البته که تهجد هم ورسره وکړي نو نور على نور دئ.

وګورئ په فتاوى شامي کي راځي:

الاشتغال بقضاء الفوائت أولى وأهم من النوافل إلا السنن المعفروضة وصلاة الضحى وصلاة التسبيح والصلاة التي وريت فيها الأخبار أي كتحية المسجد، والأربع قبل العصر والست بعد المغرب. (شامى:٢/ ٧٤، باب قضاء الفوائت، سيعد).

په فتاوى هنديه کي راځي:

وفي الحجة: والاشتغال بالفوائت أولى وأهم من النوافل إلاالسنن المفروضه......

(الفتاوى الهندية:١/ ١٢٥ –وكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:٢٤٣، قديمى).

په فتاوى دار العلوم ديوبند کي راځي:

دوخت سنت مؤکد دي ته پرېښودل کيږي قضايي لمنځونه دي په فارغه وختونو کي اداء کړي او چي سنت مؤکده هم پري نه ږدي ښه به وي. (فتاوى دار العلوم ديوبند:٤/ ٣٤٤، وحسن الفتاوى:٤/ ١١). والله ﷻ اعلم.

که یې د سهار لمونځ په جماعت سره راګرځوي نو د جهر کولو حکم

سوال: د سهار لمونځ فاسد سوی وو نو که یې په جماعت قضاء راوړه نو جهر به کوي او که نه؟

الجواب: که یې په جماعت سره جهري لمونځ راګرځاوه نو قرائت به جهرا کوي او که یې یوازي کاوه نو په جهر او اخفاء کي اختیار لري خو جهر کول ښه دي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما بيان كيفية قضاء هذه الصلوات فالأصل أن كل صلاة ثبت وجوبها في الوقت وفاتت عن وقتها أنه يعتبر في كيفية قضائها وقت الوجوب وتقضى على الصفة التي فاتت عن وقتها. (بدائع الصنائع: ١/ ٢٤٧، فصل فى بيان حكم الصلاة إذا فسدت اوفاتت عن وقتها، سعيد).

په امداد الفتاح کي راځي:

وجهر الإمام بقراءة الفجر وأوليي العشائين ولو قضاء لفعله ذلک فى القضاء. (امداد الفتاح: ص ٢٧٨، فصل فى واجبات الصلاة – وكذا فى الدر المختار: ١/ ٥٣٢، فصل فى القراءة).

په طحطاوي على مراقى الفلاح کي راځي:

والمنفرد بفرض مخير فيما يجهر فإن شاء جهر لأنه إمام نفسه ...... وجهره أفضل ليكون الاداء على هيئة الجماعة، وظاهرة، ولو قضاء نهارًا وهو ما فى الكافى وغيره. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ص ٢٥٤، فى واجبات الصلاة – وكذا فى الفتاوى الهندية: ١/ ١٢١، الباب الحادى عشر فى قضاء الفوائت). والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي په جماعت سره د قضاء راوړلو حکم

سوال: که د امام د مازدیګر لمونځ فاسد سو د ماښام په وخت کي خلک راغله او امام ته یې وویل نو اوس په جماعت سره په مسجد کي د مازدیګر د لمانځه قضاء راوړای سي او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت لکه څنګه چي دیو عام سبب له امله قضاء راورل دي نو په مسجد کي په جماعت سره درست دي په دې شرط چي په وخت کي به ګنجائش وي چي د قضاء راوړلو څخه وروسته به وختي لمونځ هم کولای سي.

وګورئ په الدرالمختار کي راځي:

(ولا فيما يقضى من الفوائت في مسجد).لأن فيه تشويشًا وتغليطًا، وفى الشامى: (قوله لأن فيه تشويشًا) إنما يظهر أن لو كان الأذان لجماعة..... وفى الإمداد أنه إذا كان التفويت لأمر عام فالأذان فى المسجد لايكره لإنتفاء العلة كفعله ليلة التعريس ...... (الدر المختار مع الشامى:١/ ٢٩١، مطلب فى اذان الجوق، سعيد كمپنى).

په فتاوی هندیه کي راځي:

الترتيب بين الفائتة والوقتية وبين الفوائت مستحق كذا فى الكافى حتى لايجوز اداء الوقتية قبل قضاء الفائتة كذا فى محيط للسرخسى. (الفتاوى الهندية:١/ ١٢١). والله ﷻ اعلم.

په حرم شریف کي د ماپښین لمونځ پرېښودل او د مازدیګر په لمانځه کي شراکت کول

سوال: یو څوک حنفي دئ د ماپښین لمونځ یې کړي نه دئ حرم ته راغلی هلته د مازدیګر لمونځ کېدئ دې صاحب ترتیب هم نه وو نو ایا د مازدیګر په لمانځه کي به شرکت کوي یا به مازدیګر پرېږدي د ماپښین لمونځ به کوي؟

الجواب: د سفر او عذر له امله د مازدیګر لمونځ په مثل ثاني کي کولای سي خو په پورتنی مسئله کي د مازدیګر لمونځ د ماپښین پر لمانځه مخکي کول درست نه دي او که د ماپښین د لمونځ د اداء کېدو وخت هم وي لهذا داسي به نه کوي چي د مازدیګر لمونځ کوي او د ماپښین لمونځ قضاء کوي.

وګورئ په تنویر الابصار کي راځي:

الترتيب بين الفروض الخمسة والوتر اداء وقضاء لازم . وفى الشامى: (قوله اداء وقضاء) الواو بمعنى أو مانعة الخلو، فيشمل ثلاث صور: ما إذا كان الكل قضاء أو البعض قضاء والبعض اداء أو الكل اداء كالعشاء مع الوتر ط ودخل فيه الجمعة، فإن الترتيب بينها وبين سائر الصلوات لازم. (تنوير الأبصار مع الشامى:٢/ ٦٥، باب قضاء الفوائت).

په فتاوی شامي کي راځي:

(ووقت الظهر من زواله ...... إلى بلوغ الظل مثليه) هذا ظاهر الرواية عن الإمام نهاية، وهو الصحيح بدائع ومحيط وينابيع وهو المختار غيانية، واختاره الإمام المحبوبي وعول عليه النسفي وصدر الشريعة تصحيح قاسم واختاره أصحاب المتون وارتضاه الشارحون. (شامي:١/ ٣٥٩، سعيد).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

ولايجوز اقتداء المفترض بالمفترض الأخر عند اختلاف الفرضين بأن كان أحدهما يصلى الظهر و الآخر يصلى العصر. (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية::١/ ٨٩). والله ﷻ اعلم.

د لمانځه په وخت کي ښځي ته د حيض راتلو له امله د قضاء حکم

سوال: يوې ښځي د ماپښين لمونځ په اول وخت کي اداء نه کړ تر داسي بريده چي په وخت کي حيض ورته راغی اوس د دې لمانځه قضاء وربانديِ واجب ده او که نه؟

الجواب: په پورتنی مسئله کي پر ښځه د ماپښين د لمانځه قضاء واجب نه ده ځکه د قضاء د جوب تعلق له اخري وخت سره دئ او په اخری وخت کي دا حائضه وه.

وګورئ په تبيين الحقائق کي راځي:

والمعتبر فيه آخر الوقت أي المعتبر في وجوب الأربع أو الركعتين آخر الوقت فإن كان آخر الوقت مسافرًا وجب عليه ركعتان وإن كان مقيمًا وجب عليه الأربع ؛ لأنه المعتبر في

السببية عند عدم الاداء في أول الوقت ؛ ولهذا لو بلغ الصبي أو أسلم الكافر أو أفاق المجنون أو طهرت الحائض أو النفساء في آخر الوقت تجب عليهم الصلاة وبعكسه لو حاضت أو جن أو نفست فيه لم تجب عليهم لفقد الأهلية عند وجود السبب . (تبيين الحقائق:١/ ٢١٥، باب صلاة المسافر).

په درمختار کي راځي:

قوله: والمعتبر في تغيير الفرض أي من قصر إلى إتمام وبالعكس قوله وهو أي آخر الوقت فقدر ما يسع التحريمة كذا في الشرنبلالية والبحر والنهر ...... والحاصل أن السبب هو الجزء الذي يتصل به الاداء أو الجزء الأخير إن لم يؤد قبله وإن لم يؤد حتى خرج الوقت فالسبب هو كل الوقت. قال في البحر: وفائدة إضافته إلى الجزء الأخير اعتبار حال المكلف فيه، فلو بلغ الصبي أو أسلم كافر أو أفاق مجنون أو طهرت الحائض أو النفساء في آخره لزمتهم الصلاة ولو كان الصبي قد صلاها في أوله وبعكسه لو جن أو حاضت أو نفست فيه لفقد الأهلية عند وجود السبب . (الدر المختار:٢/ ١٣١، باب صلاة المسافر، سعيد).

هذا ډول وګورئ: (البحر الرائق:٢/ ١٣٧، باب المسافر، کوئټه – وحاشية تبيين الحقائق:١/ ٢١٥) . والله ﷻ اعلم.

په قضايي لمنځونو کي چي څلور او يا له هغه څخه لږ پاته سي نو د ترتيب د راګرځېدو حکم

سوال: که قضاء سوی لمنځونه لس وي خو ده يې قضاء راوړل څلور پاته سوه نو اوس به دی صاحب ترتيب وي او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کي دوه قوله دي او اصح يې دا دئ چي تر څو ټول لمنځونه اداء نه کړي ترتيب نه راګرځي چي کله يې ټوله اداء کړل نو بيا به صاحب ترتيب وګرځي.

وګورئ په فتح القدير کې راځي:

(عاد الترتيب عند البعض وهو الأظهر) خلاف ما اختاره شمس الأئمة رحمه الله وفخر الإسلام رحمه الله وصاحب المحيط رحمه الله وقاضيخان رحمه الله وصاحب المغنى رحمه الله والكافي رحمه الله وغيرهم وما استدل به عن محمد رحمه الله فيه نظر ...... فالأصح أن الترتيب إذا سقط لا يعود كماء نجس دخل عليه ماء جار حتى سال ثم عاد قليلًا لم يعد نجسًا، فلذا صح في الكافي أنه لا يعود. (فتح القدير:١/ ٤٩٣، باب قضاء الفوائت، دار الفكر).

په شرح نقايه کې راځي:

ومتى سقطت الترتيب لايعود فى أصح الروايات حتى لوترک صلاة شهر ووقضاها إلا صلاة ثم صلى الوقتية ذاكرًا لهاجاز. (شرح النقاية:١/ ٢٥٦).

په امداد الفتاح کې راځي:

ولم يعد الترتيب بين الفوائت التي كانت كثيرة بعودها إلى القلة بقضاء بعضها كذا فى الكنز لأن الساقط قد تلاشى فلا يحتمل العود فى أصح الروايتين، قال أبو حفص الكبير رحمه الله وعليه الفتوى وهو اختيار شمس الأئمة رحمه الله وفخر الإسلام رحمه الله وقاضيخان رحمه الله وصاحب المحيط رحمه الله والمغنى رحمه الله وغيرهم وفى المجتبى وهو الأصح، وقال بعضهم يعود الترتيب ...... ولكن علمت أن الأكثر على أنه لايعود الترتيب فأتبعناه خصوصًا وقد قال الزيلعي رحمه الله: ولا دلالة فيما استدل به صاحب الهداية على عود الترتيب. (امداد الفتاح:٨٤٩، الساقط لايعود – وكذا فى النهر الفائق:١/ ٣٨١ – وكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ١٢٢ – وكذا فى البحر الرائق:٢/ ٨٦، باب قضاء الفوائت – وكذا فى الجوهرة النيرة:١/ ٨٠).

په عمدة الفقه کې راځي:

چي كله د ډېرو لمنځونو يعني شپږو يا له هغو څخه د زياتو لمنځونو د قضاء كېدو له امله ترتيب ساقط سي نو اصح قول دا دئ چي ترتيب نه راګرځي همدغه د اعتماد وړ او مفتى به دئ. (عمدة الفقه، حصه دوهم كتاب الصلاة: صـ ٣٥٤). والله ﷻ اعلم.

د ډېرو لمنځونو د قضاء له امله د سنن رواتب پر ځاى د قضايي لمنځونو حكم

سوال: د يو چا پر ذمه قضايي لمنځونه ډېر زيات دي چي اداء كول يې ډېر ګران دي، دى كه د سنتونو پر ځاى قضايې لمنځونو كوي نو د دې ګنجائش سته او كه نه؟

الجواب: د قضايې لمنځونو اهميت كه څه هم زيات دئ بيا هم فقهاوو د سنن رواتب اداء كول ضروري ګڼلي دي لهذا په پورتنى صورت كي دي د فرائضو وروسته سنتونه اداء كړي او د نفلو پر ځاى دي قضايې لمنځونه وكړي.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

الاشتغال بقضاء الفوائت أولى وأهم من النوافل إلا السنن المفروضة . (شامى: ٢/ ٧٤، سعيد – وكذا فى الهندية: ١/ ١٢٥ – وكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ٢٤٣، قديمى).

په احسن الفتاوى كي راځي:

د قضايې لمنځونو د اداء كولو له پاره دي سنت مؤكد او تراويح نه پرېږدي بلكي فقهاء خو نوافل ماثوره لكه څاښت او اېين او صلوة التسبيح هم پر قضايې د مخه كوي مګر دا به په هغه صورت كي وي چي ظاهري اسبابو ته په كتلو سره د مرګ څخه وړاندي د لمنځونو څخه د ځان خلاصولو اميد وي كه قضايې لمنځونه ډېر زيات وي او عمر كم ښكاري نو قضايې لمنځونو ته پر نوافلو ترجيح وركول لازمه دي. (احسن الفتاوى: ٤/ ١٩).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

دوخت سنت مؤکد به نه پرېږدي او قضايي به په فارغه وختونو کي اداء کوي او دا ښکاره ده چي د قضايي لمنځونو راګرځول مهم دي خو که دواړه کارونه وسي چي قضايي هم وکړي او سنت مؤکد هم پرې نه ږدي نو دا ښه ده. (فتاوی دار العلوم ديوبند: ٤/ ٣٤٤). والله ﷻ اعلم.

د درويشت (٢٣) کلونو د لمنځونو د قضاء حکم

سوال: يو چا په مسقط کي د خارجي اباضي فرقي په يوه کس پسي درويشت (٢٣) کاله لمنځونه کړي دي وروسته معلومه سوه چي هغوی په سري لمانځه کي سورة نه وايي نو اوس د درويشت (٢٣) کلونو د لمنځونو قضاء سته او که نه؟

الجواب: په پورتني صورت کي د دورويشت کلو د لمنځونو قضاء لازمه نه ده.

په حاشية الطحطاوي کي راځي:

وإن كان تركه الواجب عمدًا أثم ووجب عليه إعادة الصلاة تغليظًا عليه لجبر نقصها فتكون مكملة وسقط الفرض بالأولى وقيل تكون الثانية فهي المسقطة فإن لم يعدها حتى خرج الوقت سقطت عنه مع كراهة التحريم هذا هو المعتمد. (مراقى الفلاح على حاشية الطحطاوي: ٤٦٢، باب سجود السهود، قديمی).

په فتاوی عالمګيري کي راځي:

وتجب قراءة الفاتحة وضم السورة أوما يقوم مقامها من ثلاث آيات قصار و آية طويلة فى الأولين بعد الفاتحة كذا فى النهر الفائق. (الفتاوى الهندية: ١/ ٧١).

په فتاوی شامي کي راځي:

أن تيقن المراعاة لم يكره أى المراعاة فى الفرائض من شروط وأر كان فى تلك الصلاة وإن لم يراع فى الواجبات والسنن كما هو ظاهر سياق كلام البحر. (شامى: ٥٦٣، سعيد).

په امداد الفتاوی کي راځي:

اقتداء په غير مقلد پسې د شامي د عبارت څخه وروسته يې ليکلي دي چې د مراعات ځای يوازې فرائض دي. (امداد الفتاوى: ١/ ٢٥٠) والله ﷻ اعلم.

که يې په قصدا لمونځ پرېښود د هغه د قضاء حکم

سوال: يو چا په قصده لمونځ پرېښودئ نو پر ده قضاء سته او که نه؟

الجواب: په پورتنى صورت کې د جمهورو په اند قضاء واجب ده ځينې اهل ظاهر په دې کې اختلاف لري.

قال ابن حزم فى المحلى:

" فإذا نسى أحدكم صلاة أو نام عنها فليصلها إذا ذكرها" وأما من تعمد ترك الصلاة حتى خرج وقتها فهذا لايقدر على قضائها أبدًا فليكثر من فعل الخير وصلاة التطوع ليثقل ميزانه يوم القيامة وليتب وليستغفر الله عزوجل وقال أبو حنيفة رحمه الله ومالک رحمه الله والشافعى رحمه الله يقضيها بعد خروج الوقت. (المحلى:٢/ ٢٣٥).

په بداية المجتهد کې راځي:

وأما تاركها عمدًا حتى يخرج الوقت فإن الجمهور على أنه آثم وأن القضاء عليه واجب، وذهب بعض أهل الظاهر إلى أنه لا يقضي فأنه آثم وأحد من ذهب إلى ذلك أبو محمد بن حزم. وسبب اختلافهم اختلافهم في شيئين: أحدهما في جواز القياس في الشرع. والثاني في قياس العامد على الناسي، إذا سلم جواز القياس فمن رأى أنه إذا وجب القضاء على الناسي الذي قد عذره الشرع في أشياء كثيرة فالمتعمد أحرى أن يجب عليه لأنه غير معذور أوجب القضاء عليه ومن رأى أن الناسي والعامد ضدان: والأضداد لا يقاس بعضها على بعض إذ أحكامها مختلفة وإنما تقاس الأشباه، لم يجز قياس العامد على الناسي، والحق في هذا أنه إذا جعل

الوجوب من باب التغليظ كان القياس سائغاً. وأما إن جعل من باب الرفق بالناسي والعذر له وأن لا يفوته ذلك الخير فالعامد في هذا ضد الناسي والقياس غير سائغ لأن الناسي معذور والعامد غير معذور.

والأصل أن القضاء لا يجب بأمر الاداء وإنما يجب بأمر مجدد على ما قال المتكلمون لأن القاضي قد فاته وهو الوقت إذ كان شرطاً من شروط الصحة والتأخير عن الوقت في قياس التقديم عليه لكن قد ورد الأثر بالناسي والنائم وتردد العامد بين أن يكون شبيهًا أو غير شبيه والله الموفق للحق. (بداية المجتهد:١/ ١٣٢).

وتعقب ابن عبد البر كلام ابن حزم فأجاب عنه وأنكر عليه أشد الإنكار فهذا بعض ما احتج به عبد البر في كتابه الاستذكار:

(١) وهو أن رسول الله ﷺ لم يصل هو ولا أصحابه يوم الخندق صلاة الظهر والعصر حتى غربت الشمس لشغله بما نصبه المشركون له من الحرب ولم يكن يومئذ ناسيًا ولا نائمًا ولا كانت بين المسلمين والمشركين يومئذ حرب قائمة ملتحمة، وصلى رسول الله ﷺ الظهر والعصر في الليل.

(٢) ودليل آخر وهو أن رسول الله ﷺ قال بالمدينة لأصحابه يوم انصرافه من الخندق ((لا يصلين أحدكم العصر إلا في بني قريظة فخرجوا متبادرين وصلى بعضهم العصر في طريق بني قريظة خوفًا من خروج وقتها المعهود ولم يصلها بعضهم إلا في بني قريظة بعد غروب الشمس فلم يعنف رسول الله ﷺ إحدى الطائفتين وكلهم غير ناس ولا نائم وقد أخر بعضهم

الصلاة حتى خرج وقتها ثم صلاها وقد علم رسول الله ﷺ ذلك فلم يقل لهم إن الصلاة لا تصلى إلا في وقتها ولا تقضى بعد خروج وقتها .

(٣) ودليل آخر وهو قوله ﷺ ((سيكون بعدي أمراء يؤخرون الصلاة عن ميقاتها قالوا أفنصليها معهم قال نعم)). (وأتى بسنده الصحيح).

قال: وفي هذا الحديث أن رسول الله ﷺ أباح الصلاة بعد خروج ميقاتها ولم يقل إن الصلاة لا تصلى إلا في وقتها . والأحاديث في تأخير الأمراء الصلاة حتى يخرج وقتها كثيرة جدًا وقد كان الأمراء من بني أمية أو أكثرهم يصلون الجمعة عند الغروب.

(الإستذكار: ١/ ٣٠٣-٣٠٤، بيروت).

وتمسک الجمهور أيضًا بهذه الوجوه:

(١) مايستفاد من قوله ﷺ: المذكور أعنى (من نسى صلاة أو نام عنها ، فكفارتها أن يصليها إذا ذكرها) لا كفارة لها الا ذالک.

(الف) فيكون من باب التنبيه بالأدنى على الأعلى لأنه إذ أوجب القضاء على الناسى مع سقوط الإثم والحرج عنه فالعامد أولى.

(باء) لأنه لغفلته عنها بجهله وعدمه كالناسى ومتى ذكر تركه لها لزمه قضائها.

(جيم) والكفاره إنما تكون من الذنب والنائم والناسى لاذنب له وإنما الذنب للعامد.

(إكمال المعلم: ٢/ ٦٧١).

واستضعف إبن حجر رحمه الله فى الفتح هذه الوجوه ورجح الوجه الثانى:

وهو ما يستفاد من قوله ﷺ: " فدين الله أحق أن يقضى" فالمعتمد قد خوطب بالصلاة ووجب عليه تأديتها فصارت ديناً عليه والدين لايسقط إلا باداء ئه. (فتح الباری:۲/ ۷۱).

(۱) تمسكوا أيضا بقياس تارك الصلاة عامدا على تارك الصوم عامدا:

فقال ابن عبد البر رحمه الله:

وسوى الله تعالى في حكمه على لسان نبيه ﷺ بين حكم والصلاة الموقوتة والصيام الموقوت في شهر رمضان بأن كل واحد منهما يقضى بعد خروج وقته.

فنص على النائم والناسي في الصلاة لما وصفنا ونص على المريض والمسافر في الصوم، وأجمعت الأمة ونقلت الكافة فيمن لم يصم رمضان عامدًا وهو مؤمن بفرضه وإنما تركه أشرًا وبطرًا تعمد ذلك ثم تاب عنه أن عليه قضائه فكذلك من ترك الصلاة عامدًا ....

وإذا كان النائم والناسي للصلاة وهما معذوران بقضائها بعد خروج وقتها كان المتعمد لتركها المأثوم في فعله ذلك أولى بالا يسقط عنه فرض الصلاة وأن يحكم عليه بالإتيان بها .

(الإستذكار:۱/ ۳۰۱).

ومن شرائط التوبة أداء حقوق الله وحقوق العباد الواجبة على المكلف فمن ترك الصلاة ثم يتوب فعليه أن يقضى الصلاة المتروكة لإتمام توبته وتكميل استغفاره . والله ﷻ أعلم.

د سنتو د قضاء حکم

سوال: د سنتو قضاء ثابته ده او که نه؟

الجواب: د سنتو قضاء نه سته مګر د سهار سنت چې کله له فرضو سره قضاء سي د زوال څخه مخکې او د ماپښين مخکنی سنت له فرضو وروسته کولای سي له دغو دواړو څخه پرته د نورو سنتونو قضاء ثابته نه ده.

وګورئ په مسلم شریف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: عرسنا مع نبي ﷺ فلم نستيقظ حتى طلعت الشمس ...... ثم دعا بالماء فتوضأ ثم سجد سجدتين ثم أقيمت الصلاة فصلى الغداة. (رواه مسلم: ۱/ ۲۳۸، باب قضاء الصلاة الفائتة).

په ابن ماجه کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها، قالت: كان رسول الله ﷺ إذا فاتته الأربع قبل الظهر، صلاها بعد الركعتين بعد الظهر. (رواه ابن ماجه: ۸۰، باب من فاتته الأربع قبل الظهر).

په تبيين الحقائق کي راځي:

(لم تقض سنة الفجر إلا تبعًا للفرض إذا فاتت مع الفرض وقضاها مع الجماعة أو وحده لأن القياس في السنة أن لا تقضى لاختصاص القضاء بالواجب لكن ورد الخبر بقضائها قبل الزوال تبعًا للفرض وهو ما روي [أنه عليه الصلاة والسلام قضاها مع الفرض غداة ليلة التعريس بعد ارتفاع الشمس] فيبقى ما رواه على الأصل وفيما بعد الزوال اختلاف المشايخ .... وأما غيرها من السنن فلا تقضى وحدها بعد الوقت واختلفوا في قضائها تبعًا للفرض، وقضى التي قبل الظهر في وقته أي وقت الظهر قبل شفعه أي قبل الركعتين اللتين بعد الفرض وهذا عند محمد رحمه الله وعندهما يبدأ بالركعتين، ثم يقضي الأربع ....(تبيين الحقائق: ۱/ ۱۸۳، باب ادراک الفريضة، امدادية – وكذا في مجمع الأنهر باب ادراک الفريضة – وكذا في الهداية: ۱/ ۱۵۲، باب ادراک الفريضة – وكذا في امداد الفتاوى: ۱/ ۳۳۷، باب قضاء الفوائت). والله تعالى اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿ إذا لم يدر أزاد أم نقص فليسجد سجدتين وهو جالس ﴾.

(مصنف ابن أبى شيبة).

دوولس .... باب

د سجده سهوي بيان

د سورة فاتحي له تكرار څخه د سجهد سوي حكم

سوال: که يو چا د سورة فاتحي ځيني اياتونه مکرر ووېل نو سجده سهو واجب ده او که د لمانځه راګرځول؟

الجواب: که يې فاتحه سهوا تکرار کړه نو سجده سهو واجب ده او که يې قصدا وکړل نو د لمانځه راګرځول واجب دي خو دا چي څومره تکرار د سهوي موجب يا د ارګرځولو سبب دئ نو په فتاوى شامي کي د اکثره فاتحي او په طحطاوي کي وځيني برخي يادونه سته په دواړو کي دا تطبيق کېدای سي چي که له بعض څخه اکثره يعني له نصف څخه زيات مراد سي په دې کي اسانی ده لهذا که يې له نصف څخه زيات مراد سي په دې کي اسانی ده لهذا کي يې له نصف څخه زائده سهوا تکرار کړل نو سجده سهو واجب ده او که يې په قصده وکړل نو راګرځول يې واجب دي.

وګورئ په طحطاوي کي راځي:

ولو كرر الفاتحة أو بعضها فى إحدى الأوليين قبل السورة سجد للسهو. (طحطاوى على مراقي الفلاح: ٤٦٠، باب سجود السهود، قديمى).

په فتاوى شامي کي راځي:

قوله وكذا ترك تكريرها: فلو قرأها في ركعتين الأوليين مرتين وجب سجود السهو لتأخير الواجب وهو السهو كما في الذخيرة وغيرها، وكذا لو قرأ أكثرها ثم أعادها كما في الظهيرية.

(شامی:١/ ٤٦٠، سعيد).

که يې د فرضو په لومړنيو دواړو رکعتونو کي د سورت ديو ځای کېدو څخه مخکي الحمد لله دوهم ځل ووېل يا يې دوهم ځل له نيمايي څخه زياته ولوسته نو سجده سهو واجبيږي. (عمدة الفقه:٢/ ٢٦٤). والله ﷻ اعلم.

د سورة فاتحي د يوه ايت له تكرار څخه د سجده سهوي حكم

سوال: كه يو چا د سورة فاتحي يو ايت په لمانځه كي مكرر كړ نو ايا سجده سهو لازمه ده او كه نه؟

الجواب: د سورة فاتحي د يوه ايت له تكرار څخه لمونځ صحيح دئ سجده سهو واجب نه ده، البته د اكثره فاتحي تكرار د سجده سهوي موجب دئ په دغه قول كي اساني ده لهذا د يوه ايت له تكرار څخه بايد سجده سهو واجب نه سي.

وګورئ په ردالمحتار كي راځي:

(قوله وكذا ترك تكريرها) فلو قرأها في ركعتين الأوليين مرتين وجب سجود السهو لتأخير الواجب وهو السهو كما في الذخيرة وغيرها، وكذا لو قرأ أكثرها ثم أعادها كما في الظهيرية.

(شامی:١/ ٤٦٠، سعيد).

په البحر الرائق كي راځي:

ولو قرأ الفاتحة مرتين يجب عليه السجود لتأخير السورة كذا في الذخيرة وغيرها ......

وقراءة أكثر الفاتحة ثم إعادتها كقراءتها مرتين كما في الظهيرية. (البحر الرائق:٢/ ٩٤، كوئتة).

په عمدة الفقه كي ذكر سوى دي:

که یې د فرضو په لومړنیو دوو رکعتونو کې د سورة د یو ځای کېدو څخه مخکې سورة فاتحه دوهم ځل وویل یا یې دوهم ځل له نیمې څخه زیاته ولوسته نو سجده سهوه به واجب وي.(عمدة الفقه:٢/ ٣٦٣). والله ﷻ اعلم.

دواړو طرفونو ته د سلام ګرځولو وروسته د سجده سهوي حکم

سوال: که په لمانځه کې واجب پاته سو بیا یې د سلام ګرځولو وروسته ور په یاد سو نو سجده سهو به کوي او که به لمونځ راګرځوي؟

الجواب: په پورتنی صورت کې که د لمانځه څخه وروسته پر دغه ځای ناست وي او خبري یې هم کړي نه وي یعني د لمانځه فاسدونکی ښې سوی نه وي نو سجده سهوه دي وکړي لمونځ یې درست دئ خو که د لمانځه څخه وروسته پر همدغه ځای ناست وو او خبري یې هم کړي نه وي یعنی د لمانځه مفسد کوم کار پېښ سوی نه وي نو سجده سهو به کوي لمونځ یې درست دئ خو که یې کوم داسې کار وکړ چې لمونځ فاسد وي نو د لمانځه راګرځول واجب دي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

ويسجد للسهو ولو مع سلامه ناويًا للقطع لأن نية تغيير المشروع لغو ما لم يتحول عن القبلة أو يتكلم لبطلان التحريمة ولو نسي السهو أو سجدة صلبية أو تلاوية يلزمه ذلك ما دام في المسجد. وفي الشامي: قوله (لبطلان التحريمة) أي بالتحول أو التكلم، وقيل لا يقطع للتحول ما لم يتكلم أو يخرج من المسجد كما في الدرر عن النهاية، إمداد (قوله ولو نسي السهو) ...... وهي ما لو كان عليه سهوية فقط ...... ففي هذه كلها إذا سلم ناسيًا لما عليه كله أو لما سوى السهوية لا يعد سلامه قاطعًا، فإذا تذكر يلزمه ذلك الذي تذكره ...... (قوله ما دام في المسجد) أي وإن تحول عن القبلة استحسانًا لأن المسجد كله في حكم مكان واحد ولذا صح الاقتداء فيه وإن كان بينهما فرجة، وأما إذا كان في الصحراء فإن تذكر قبل أن يجاوز

الصفوف من خلفه أو يمينه أو يساره عاد إلى قضاء ما عليه، لأن ذلك الموضع ملحق بالمسجد، وإن مشى أمامه فالأصح اعتبار موضع سجوده أو سترته إن كان له سترة بين يديه كما في البدائع والفتح ...... في البدائع من أن السجود لا يسقط بالسلام ولو عمدًا إلا إذا فعل فعلا يمنعه من البناء بأن تكلم أو قهقه أو أحدث عمدًا أو خرج من المسجد أو صرف وجهه عن القبلة وهو ذاكر له لأنه فات محله وهو تحريمة الصلاة فسقط ضرورة فوات محله. (الدر المختار مع الشامي:٢/ ٩١، باب سجود السهو، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:٤٧٦، باب سجود السهو، قدیمی – بهشتی زیور:٢/ ١٦٠، احسن الفتاوی:٤/ ٤٦). والله ﷻ اعلم.

د ولاړې په حالت کې د فاتحې څخه مخکې د تشهد ویلو حکم

سوال: که یې په ولاړه کې له فاتحې څخه مخکې تشهد وویل نو سجده سهو واجب ده او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کې که یې په دوهم رکعت کې د سورة فاتحې څخه مخکې تشهد ولوسته نو سجده سهو واجب ده په لومړی، دریم او څلورم رکعت کې له سورة فاتحې څخه مخکې د تشهد ویلو څخه سجده سوه نه واجبیږي.

وګورئ په طحطاوي کې راځي:

إن قرأ (التشهد) في قيام الأولى قبل الفاتحة أو في الثانية بعد السورة أو في الأخيرتين مطلقًا لاسهو عليه وإن قرأ فی الأولیین بعد الفاتحة والسورة أو فی الثانية قبل الفاتحة وجب عليه السجود لأنه أخر واجبًا. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:٤٦١، باب سجود السهو – وكذا فی تبيين الحقائق:١/ ١٩٣ – وشرح منية المصلی:٤٦٠ – والفتاوی الهندية:١/ ١٢٧). والله ﷻ اعلم.

په ناسته کي د تشهد پر ځای د سورة فاتحي د ویلو څخه د سجده سهوي حکم

سوال: که چا د التحیات پر ځای سورة فاتحه ولوسته نو سجده سهوه واجب دا او که نه؟

الجواب: که یې د تشهد پر ځای فاتحه یا قرائت ولوستی نو سجده سهو واجبیږي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

وإذا قرأ الفاتحة مكان التشهد فعليه السهو وكذلك إذا قرأ الفاتحة ثم التشهد كان عليه السهو، كذا روي عن أبي حنيفة رحمه الله في الواقعات الناطفية وذكر هناك إذا بدأ في موضع التشهد بالقراءة ثم تشهد فعليه السهو. (الفتاوى الهندية:١/ ١٢٧، الباب الثانی عشر فی سجود السهو – وكذا فی امداد الفتاح: ٥١٠، باب سجود السهو، بيروت – وكذا فی حاشية الطحطاوی على مراقی الفلاح: ٤٦١، باب سجود السهو، قديمی – وفتاوی رحیمیه: ١/ ٢٤٢). والله ﷻ اعلم.

د سجده تلاوت څخه وروسته د سورة فاتحي په ویلو سره د سجده سهوي حکم

سوال: که یو حافظ د تراویحو په لمانځه کي د سجده تلاوت کولو وروسته دوهم ځل سورة فاتحه ولوسته نو سجده سهوه به واجب وي او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي د فاتحي تکرار د سورة دیو ځای کېدو څخه وروسته دئ لهذا سجده سهوه واجب نه ده.

وګورئ په شرح منية المصلی کي راځي:

ولو قرأ الفاتحة ثم السورة ثم الفاتحة لايلزمه السهو وقيل يلزمه. (شرح منية المصلی: ٤٦٠، سهيل).

په الجوهرة المنيرة کي راځي:

ولو قرأ فيهما الفاتحة ثم السورة ثم الفاتحة ساهيًا لم يجب عليه سهووصار كأنه قرأ سورةً طويلةً. (الجوهرة النيرة ٩٢، باب سجود السهو، امدادية ملتان – وكذا فی الفتاوی

الهندية: ١/ ١٢٦، - وفتاوى قاضيخان على هامش الهندية: ١/ ١٢١ - والدر المختار: ١/ ٤٢٩، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په اوله ناسته کي په درود ويلو سره د سجده سهوي حکم

سوال: که يو چا د سنت مؤکده وو په اوله ناسته کي درود شريف ووايه نو سجده سهوه به واجب وي او که نه؟

الجواب: په سنن مؤکد وو کي د جمعي څخه وروسته د څلورو رکعتونو حکم مختلف دئ څنګه چي هغه څلور رکعتونه په يوه سلام سره اداء کول لازم نه دي څکه نو که يې درود شريف په اوله ناسته کي ولوست نو سجده سهوه نه واجبيږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولا يصلي على النبي ﷺ في القعدة الأولى في الأربع قبل الظهر والجمعة وبعدها ولو صلى ناسيًا فعليه السهو، وقيل لا (وفى الشامية) أقول: قال في البحر في باب صفة الصلاة إن ما ذكر مسلم فيما قبل الظهر لما صرحوا به من أنه لا تبطل شفعة الشفيع بالانتقال إلى الشفع الثاني منها، ولو أفسدها قضى أربعا والأربع قبل الجمعة بمنزلتها، وأما الأربع بعد الجمعة فغير مسلم فإنها كغيرها من السنن، فإنهم لم يثبتوا لها تلك الأحكام المذكورة ومثله في الحلية وهذا مؤيد لما بحثه الشرنبلالي من جوازها بتسليمتين لعذر ...... (قوله وقيل لا) قال في البحر: ولا يخفى ما فيه، والظاهر الأول. (الدر المختار مع الشامى: ٢/ ١٦، باب الوتر والنوافل، سعيد - وكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ٢٥١، واجبات الصلاة، قديمى - وكذا فى الفتاوى الهندية: ١/ ١٢٧، سجود السهود - وأحسن الفتاوى: ٤/ ٢٩، باب سجود السهو). والله ﷻ اعلم.

په سري لمانځه کي په یو څه جهري قرائت کولو سره د سجده سهوي حکم

سوال: منفرد که په سري لمانځه کي په جهر سره دوه ایاتونه او یا دري ایاتونه ولوستل نو سجده سهو واجب ده او که نه، او که امام داسي وکړي نو حکم به یې څه وي؟

الجواب: په پورتني صورت کي پر منفرد سجده سهو نه سته، البته که امام دري کوچني ایاتونه یا یو غټ ایت په جهر سره ولوستي نو سجده سهو به واجب وي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ولو جهر الإمام فيما يخافت أو خافت فيما يجهر تلزمه سجدتا السهو لأن الجهر في موضعه والمخافتة في موضعها من الواجبات واختلفت الرواية في المقدار والأصح قدر ما تجوز به الصلاة في الفصلين لأن اليسير من الجهر والإخفاء لا يمكن الاحتراز عنه وعن الكثير يمكن إلى...... وهذا في حق الإمام دون المنفرد لأن الجهر والمخافتة من خصائص الجماعة. (الهداية: ۱/ ۱۵۸ – وكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ۱/ ۱۲ – وكذا فى شرح العناية على الهداية: ۱/ ۵۰۵ – والشامى: ۲/ ۱۸، باب سجود السهو، سعيد).

په درمختار کي راځي:

ولو قرأ آية طويلة في الركعتين فالأصح الصحة اتفاقا لأنه يزيد على ثلاث آيات قصار قاله الحلبي...... وفى الشامى: (قوله لأنه يزيد على ثلاث آيات) تعليل للمذهبين لأن نصف الآية الطويلة إذا كان يزيد على ثلاث آيات قصار يصح على قولهما فعلى قول أبي حنيفة رحمه الله المكتفي بالآية أولى. قال في البحر: وعلم من تعليلهم أن كون المقروء في كل ركعة للنصف ليس بشرط بل أن يكون البعض يبلغ ما يعد بقراءته قارئا عرفا ...... وفي التاتارخانية والمعراج وغيرهما: لو قرأ آية طويلة كآية الكرسي أو المداينة البعض في ركعة والبعض في

رکعة اختلفوا فیه علی قول أبي حنیفة رحمه الله ...... وعامتهم علی أنه یجوز لأن بعض هذه الآیات یزید علی ثلاث قصار أو یعدلها فلا تکون قراءته أقل من ثلاث آیات ...... وقدرها من حیث الکلمات عشر، ومن حیث الحروف ثلاثون...... (الدر المختار مع الشامی:١/ ٥٣٧، فصل فی القراءة). والله تعالیٰ اعلم.

که مسبوق له امام سره په سهو سلام وګرځوي نو د سجده سهوي حکم

سوال: مسبوق که دامام سره په سهو سلام وګرځوي نو سجده سهو به واجب وي او که نه؟

الجواب: مسبوق کي دامام له سلام سره یوځای سلام وګرځاوه یا دامام لـه سلام څخه مخکـي نو سجده سهو واجب نه ده او که یې دامام له سلام څخه وروسته وګرځاوه نو سجده سهو واجب ده او په عامه توګه له امام څخه وروسته سلام ګرځول کیږي لهذا سجده سهو به واجب وي.

په درمختار کي راځي:

ولو سلم ساهیًا إن بعد إمامه لزمه السهو وإلا لا...... وفی الشامی: (قوله وإلا لا) أي وإن سلم معه أو قبله لا یلزمه لأنه مقتد في هاتین الحالتین، وفي شرح المنیة عن المحیط إن سلم في الأولی مقارنًا لسلامه فلا سهو علیه لأنه مقتد به، وبعده یلزم لأنه منفرد ثم قال: فعلی هذا یراد بالمعیة حقیقتها وهو نادر الوقوع، قلت: یشیر إلی أن الغالب لزوم السجود لأن الغالب عدم المعیة وهذا مما یغفل عنه کثیر من الناس فلیتنبه له. (الدر المختار مع الشامی:١/ ٥٥٩، سعید – وکذا فی الطحطاوی:١/ ٢٥٥).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولا یسلم إذا سلم الإمام ؛ لأن هذا السلام للخروج عن الصلاة وقد بقي علیه أرکان الصلاة فإذا سلم مع الإمام فإن کان ذاکرًا لما علیه من القضاء فسدت صلاته ؛ لأنه سلام عمد ، وإن

لـم يكن ذاكرًا له لا تفسد ؛ لأنه سلام سهو فلم يخرجه عن الصلاة، وهل يلزمه سجود السهو لأجل سلامه ينظر إن سلم قبل تسليم الإمام أو سلما معًا لا يلزمه ؛ لأن سهوه سهو المقتدي ، وسهو المقتدي متعطل، وإن سلم بعد تسليم الإمام لزمه ؛ لأن سهوه سهو المنفرد فيقضي ما فاته ثم يسجد للسهو في آخر صلاته . (بدائع الصنائع:١/ ١٧٦، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په لومړی رکعت کي د سورت د نه يو ځای والي له امله د سجده سهوي حکم

سوال: که ديو چا څخه درې رکعتونه پاته سوه د امام له سلام څخه وروسته يې اداء کول نو په لومړی رکعت کي يې د سورة فاتحي څخه وروسته سورت يو ځای نه کړ له دې څخه وروسته يې په دواړو رکعتونو کي سورت يو ځای کړ نو لمونځ يې وسو او که نه؟ او سجده سهو واجب ده او که نه؟

الجواب: د فقهاوو پر دغه اتفاق دئ چي د امام له سلام څخه وروسته د مسبوق په لومړی رکعت کي د سورت يو ځای والي ضروري دئ لهذا په پورتنی صورت کي په سهو سره د پرېښودلو له امله سجده سهو واجب ده او لمونځ به يې درست وي.

په درمختار کي راځي:

(قوله ويقضي أول صلاته في حق قراءة الخ) هذا قول محمد رحمه الله كما في مبسوط السرخسي، وعليه اقتصر في الخاصة وشرح الطحاوي والإسبيجابي والفتح والدرر والبحر وغيرهم وذكر الخلاف كذلك في السراج لكن في صلاة الجلابي أن هذا قولهما وتمامه في شرح الشيخ إسماعيل. وفي الفيض عن المستصفى: لو أدركه في ركعة الرباعي يقضي ركعتين بفاتحة وسورة ويشهد ثم ركعتين أولاهما بفاتحة وسوة وثانيتهما بفاتحة خاصة، وظاهر كلامهم اعتماد قول محمد رحمه الله . (ردالمحتار:١/ ٥٩٦، احكام المسبوق، سعيد).

يأتي بالثالثة بفاتحة خاصة عند أبي حنيفة

په ردالمحتار كي راځي:

(قوله فى الأولیین) تنازع فيه قراءة وضم فى قول المصنف قراءة فاتحة الكتاب وضم سورة لأن الواجب فى الأوليين كل منهما فافهم. (ردالمحتار:١/ ٤٥٩، باب الواجبات – وكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ٧١، الفصل الثانى فى واجبات الصلاة).

په فتاوى هنديه كي راځي:

ولا يجب السجود إلا بترك واجب أو تأخيره أو تأخير ركن أو تقديمه أو تكراره أو تغيير واجب بأن يجهر فيما يخافت وفي الحقيقة وجوبه بشيء واحد وهو ترك الواجب، كذا في الكافي. (الفتاوى هندية:١/ ١٢٦). والله ﷻ اعلم.

د فرضو په درېيم ركعت كي د سورت د شروع كولو څخه د سجده سهوي حكم

سوال: كه يو چا د فرضو په درېيم ركعت كي د سورة فاتحي څخه وروسته سورت شروع كړ بيا چي كله يې ورپه ياد سو نو پرېښوده نو د لمانځه حكم يې څه دي؟ سجده سهو واجب ده او كه نه؟

الجواب: د فرضو په درېيم ركعت كي يوازي سورة فاتحه ويل مسنون دي د سورت يو ځاى كول خلاف اولى او مكروه دي، البته د دې له امله سجده سهو نه واجبيږي.

وګورئ په شرح منية المصلى كي راځي:

وإن كانت تلك الصلاة فريضة ثلاثية أو رباعية فهو مخير فيما بعد الأوليين والقراءة أفضل وإن قرأ يقرأ الفاتحة فحسب ولايزيد عليها شيئًا لما فى البخارى من حديث أبى قتادة رضي الله عنه "أن النبى ﷺ كان يقرأ فى الظهر فى الأوليين بأم القرآن وسورتين وفى الركعتين الأخريين بأم الكتاب" الحديث. فإن ضم السورة إلى الفاتحة ساهيًا...... فى أظهر الروايات لايجب عليه سجود السهو لأن القراءة فيهما مشروعة من غير تقدير والتقييد بالفاتحة مسنون لا أن الاقتصار عليها واجب. (شرح منية المصلى:ص ٣٣١، سهيل اكيدمى).

په فتاوی شامي کې راځي:

وهل يكره في الأخريين؟ المختار لا أي لا يكره تحريمًا بل تنزيهًا لأنه خلاف السنة ...... وفي البحر عن فخر الإسلام أن السورة مشروعة في الأخريين نفلا، وفي الذخيرة: أنه المختار، وفي المحيط: وهو الأصح. والظاهر أن المراد بقوله نفلًا الجواز، والمشروعية بمعنى عدم الحرمة فلا ينافي كونه خلاف الأولى كما أفاده في الحلية. (شامی:١/ ٤٥٩، واجبات الصلاة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د سجده سهوي کولو وروسته که دوهم ځل لازمه سوه نو د سهو ي د تکرار حکم

سوال: د سجده سهوي کولو وروسته که يې د التحيات پر ځای سورت فاتحه ولوسته نو ايا دوهم ځل به سجده سهو کوي او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي دوهم ځل سجده سهو کول لازمي نه ده بلکي لومړی کافي ده د سجده سهو تکرار مشروع نه دئ.

وګورئ په تبيين الحقائق کي راځي:

وإن تكرر ترك الواجب حتى لايجب عليه أكثر من سجدتين. (تبيين الحقائق:١/ ١٩١، باب سجود السهو، امداديه ملتان).

په خلاصة الفتاوی کي راځي:

ولو سهى في صلاته مرارًا يكفيه سجدتان. (خلاصة الفتاوی:١/ ١٧٣، رشيدية).

په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله وإن تكرر) حتى لو ترك جميع واجبات الصلاة سهوًا لا يلزمه إلا سجدتان بحر، لأن تكراره غير مشروع سيأتي أن المسبوق يتابع إمامه فيه ثم إذا قام لقضاء ما فاته فسها فيه يسجد

أيضًا فقد تكرر، وأجاب في البدائع بأن المسبوق فيما يقضي كالمنفرد فهما صلاتان حكمًا وإن كانت التحريمة واحدة . (شامي:٢/ ٨٠، باب سجود السهو، سعيد).

په البحر الرائق کې راځي:

الخامس أنه لا يتكرر الوجوب بترك أكثر من واجب حتى لو ترك جميع واجبات ساهيًا فإنه لا يلزمه أكثر من سجدتين لأنه تأخر عن زمان العلة وهو وقت وقوع السهو مع أن الأحكام الشرعية لا تؤخر عن عللها فعلم أنه لا يتكرر إذ الشرع لم يرد به وسيأتي أن المسبوق يتابع إمامه في سجود السهو وثم إذا قام إلى القضاء وسها فإنه يسجد ثانيًا فقد تكرر سجود السهو وأجاب عنه في البدائع بأن التكرار في صلاة واحدة غير مشروع وهما صلاتان حكمًا وإن كانت التحريمة واحدةً لأن المسبوق فيما يقضي كالمنفرد ...... وعلله في المحيط بأن السجدة المتقدمة لا ترفع النقصان المتأخر، فأما السجدة المتأخرة فإنها ترفع النقصان المتقدم. (البحر الرائق:٢/ ٩٩، باب سجود السهو، الماجدية).

د بحر له ذکر سوي عبارت څخه دا شبه کیږي چي که د سجده سهو وروسته څخه نقصان وسو نو نه به جبیره کیږي ځکه علت له حکم څخه وروسته دي او قاعده دا ده چي علت به پر حکم مقدم وي د دې جواب دا دئ چي لمونځ ګویا که یو فعل دئ نو یوه سجده سهو به یې کافي وي او که څه هم علت وروسته وي خو د علت دیو ځای والی له امله وراندي حکم لره هم متضمن دي بیا دوهمه شبه دا پیدا کیږي چي د محیط له عبارت څخه معلومیږي چي سجده سهو د راتلونکي نقصان جبیره کوي خو د مخکي نقصان جبیره نه کوي نو د دغه عبارت مطلب دا دئ چي دا د مسبوق له پاره ده یعنی مسبوق به د امام سره په سجده سهو کي اتباع کوي بیا که په خپل لمانځه کي څه غلطي وکړي نو دوهم ځل به سجده سهو کوي او دا له دې امله چي د مسبوق لمونځ حکما یو نه دئ بېل دي یعني د امام سره د مقتدي کېدو له امله به سجده سهو کوي او وروسته به د منفرد کېدو له امله وي.

په بهشتي زیور کي راځي:

که د سجده سهوي کولو وروسته داسي شی پېښ سو چي امله یې سجده سهو واجبیږي نو هغه لومړی سجده سهو کافي ده بیا به سجده سهو نه کوي. (بهشتی زیور: ۲/ ۴۰۸، او حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح: صـ ٤٦٤، باب سجد السهو). والله تعالی اعلم.

په ناسته کي له تشهد ویلو وروسته د سورة فاتحي د ویلو څخه د سجده سهوي حکم

سوال: که چا په ناسته کي تشهد ولوسته بیا یې سورة فاتحه ولوسته نو سجده سهو به واجب وي او که نه؟

الجواب: که په اوله ناسته کي یې له تشهد څخه وروسته سورة فاتحه ولوسته نو سجده سهو لازمه ده او که نه، نه ده.

وګورئ په حاشیة الطحطاوي کي راځي:

وإن قرأ بعد التشهد فإن كان في الأول فعليه السهو لتأخير الواجب وهو وصل القيام بالفراغ من التشهد وإن كان في الأخير فلا سهو عليه لعدم ترك واجب لأنه موسع له في الدعاء والثناء بعده فيه والقراءة تشتمل عليهما. (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح: ٤٦١، باب سجود السهوف قديمی- وكذا فی الفتاوی الهندية: ١/ ١٢٧). والله تعالی اعلم.

که په اخیره ناسته کي له تشهد څخه وروسته ولاړ سو کله چي بیر ته کښېناستی نو د سجده سهوي کولو حکم

سوال: یو څوک په څلورم رکعت کي کښېناستی تشهد یې هم ولوسته بیا ولاړ سو کله چي یې په یاد ورغله نو بیا کښېناستی اوس به دوهم ځل سجده سهو کوي او که به تشهد وایي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي به دوهم ځل تشهد نه وایي لومړی کافي ده، البته د سجده سهو کولو وروسته بیا تشهد درود او دعاء دي ووایي او لمونځ دي پوره کړي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وإن قعد في الرابعة مثلًا قدر التشهد ثم قام عاد وسلم وسجد للسهو، وفي الشامي: قوله عاد وسلم أي عاد للجلوس لما مرأن ما دون الركعة محل للفرض وفيه إشارة إلى أنه لايعيد التشهد وبه صرح في البحر. (الدر المختار مع الشامي:٢/ ٨٧، باب سجود السهو، سعيد).

په مراقي الفلاح کي راځي:

وإن قعد الجلوس الأخير قدر التشهد ثم قام ولو عمدًا وقرأ وركع عاد للجلوس لأن ما دون الركعة بمحل الفرض وسلم .... وسجد للسهو لتأخير السلام. (مراقی الفلاح:١٨٠، باب سجود السهو، مكة المكرمة – وكذا في البحر الرائق:٢/ ٩٣، باسی سجود لسهود – وكذا في عمدة الفقه:٢/ ٣٦٩ – وكذا في شرح منية المصلى:٤٦٣، سهيل – وكذا في فتاوى محمودية:٧/ ٤٢٩، باب سجود السهو، جامعه فاروقيه). والله ﷻ اعلم.

که يې سينه د قبلې له طرفه وګرځول تر هغه وروسته د سجده سهو کولو حکم

سوال: ديو چا څخه سجده سهو هيره سوه او دواړو طرفونو ته يې سلام وګرځاوه او سينه يې هم له قبلې څخه واړول اوس سجده سهو کولای سي او که به لمونځ راګرځوي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي چي تر څو له مسجده وتلی نه وي سجده سهو دي وکړي او لمونځ دي پوره کړي لمونځ به يې درست وي راګرځول يې ضروري نه وي خو که د مسجد څخه ووځي بيا يې را ګرځول ضروري دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ويسجد للسهو ولو مع سلامه ناويًا للقطع لأن نية تغيير المشروع لغو ما لم يتحول عن القبلة أو يتكلم لبطلان التحريمة ولو نسي السهو أو سجدة صلبية أو تلاوية يلزمه ذلك ما دام في المسجد. وفي الشامية: (قوله لبطلان التحريمة) أي بالتحول أو التكلم، وقيل لا يقطع للتحول ما لم يتكلم أو يخرج من المسجد كما في الدرر عن النهاية، إمداد (قوله ولو نسي

السهو) .... وهي ما لو كان عليه سهوية فقط ...... ففي هذه كلها إذا سلم ناسيًا لما عليه كله أو لما سوى السهوية لا يعد سلامه قاطعًا، فإذا تذكر يلزمه ذلك الذي تذكره .... (قوله ما دام في المسجد) أي وإن تحول عن القبلة استحسانًا لأن المسجد كله في حكم مكان واحد ولذا صح الاقتداء فيه وإن كان بينهما فرجة . (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۹۱، باب سجود السهو، سعید – وكذا فی حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:۴۷۶، باب سجود السهو، قدیمی – وكذا فی شرح العنية علی هامش فتح القدير:۱/ ۵۱۶، باب سجود السهو، دار الفكر – وكذا فی احسن الفتاوی:۴/ ۴۶ – وبهشتی زیور:۲/ ۱۶۰). والله ﷻ اعلم.

د مقتدي د سجده سهوي له پوره کېدو څخه مخکې په سجده سهو کې د امام متابعت کول

سوال: که د متقدي د تشهد پوره کېدو څخه مخکې امام سجده سهو وکړي نو مقتدي به څه کوي؟ هغه به پوره کوي یا به یې فوراً اتباع کوي؟

الجواب: په پورتنۍ صورت کې دې مقتدي تشهد ژر تر ژره پوره کړي بیا دې له امام سره په سجده سهو کې شریک سي که څه هم یو قول دا هم دئ چې فوراً دې اتباع وکړي خو په دغه کې ترک د واجب لازمیږي او د تشهد په پوره کولو کې یوازې تاخیر دئ چې اخف البلیتین دئ ددې له امله دې هغه اختیار کړي.

وګورئ په طحطاوي علی مراقي الفلاح کې راځي:

تنبيه: من الواجب متابعة المقتدى إمامه في الأركان الفعلية .... أما لو قام الإمام إلى الثالثة قبل أن يتم المقتدي التشهد فإنه يتم ثم يقوم لأن التشهد واجب وإن لم يتم وقام للمتابعة جاز وكذا لو سلم في القعدة الأخيرة قبل أن يتمه بخلاف ما إذا رفع رأسه قبل التسبيح أو سلم قبل الصلاة عليه ﷺ فإنه يتابعه، والحاصل أن متابعة الإمام في الفرائض والواجبات من غير تأخير

واجبة، فإن عارضها واجب آخر لا ينبغي أن يفوت ذلك الواجب بل يأتي به ثم يتابع لأن الإتيان به لا يفوت المتابعة بالكلية وإنما يؤخرها، والمتابعة مع قطعه تفوت الواجب بالكلية فكان الإتيان بالواجبين مع تأخير أحدهما أولى من ترك أحدهما بالكلية بخلاف ما إذا عارضها سنة لأن ترك السنة أخف من تأخير الواجب . (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:٢٥٦، فصل فی واجبات الصلاة، قديمی – وكذا فی الدر المختار مع ردالمحتار:١/ ٤٧٠، فی تحقيق متابعة الإمام – وكذا فی شرح منية المصلی:٢٩٦، سهيل). والله ﷻ اعلم.

كه مسبوق قعده ونه كړي نو د سجده سهوي حكم

سوال: كه ديو چا څخه دما پښين په لمانځه كي درې ركعته تير سوى وه چي كله يې اداء كول نو پر لومړى ركعت نه كښيناستى پر دوو ركعتونو كښيناستى نو ايا پر ده سجده سهو واجب ده او كه نه؟

الجواب: په پورتنى صورت كي د تير سوي ركعت د اداء كولو طريقه دا ده چي د امام له سلام څخه وروسته دي پر لومړى ركعت كښېنى بيا دي دوه ركعته وكړي پر اخيرني ركعت دي كښېنى خو كه يو چا پر لومړى ركعت ناسته ونه كړه او له امام څخه وروسته يې پر دوهم ناسته وكړه نو دا هم استحسا ناروا ده نه سجده سهو لازمه ده او نه راګرځول.

وګورئ په مجمع الزوائد كي راځي:

وعن ابن مسعود ﷺ أن جندباً ومسروقًا أدركا ركعة يعني: من صلاة المغرب فقرأ جندب ولم يقرأ مسروق خلف الإمام فلما سلم الإمام قاما يقضيان فجلس مسروق في الثانية والثالثة،وقام جندب في الثانية ولم يجلس فلما انصرفا تذاكرا ذلك فأتيا ابن مسعود ﷺ فقال: كل قد أصاب. أو قال: كل قد أحسن، واصنع كما يصنع مسروق. (رواه الطبرانی فی الكبير بأسانيد بعضها ساقط منه رجل وفی هذه الطريق جابر الجعفی والأكثر علی تضعيفه. (مجمع الزوائد:٢/ ٨٦، باب فيما يدرك مع الإمام وما فاته، دار الفكر).

پہ شرح منية المصلي کي راځي:

لو أدرک مع الإمام رکعة من المغرب فإنه يقرأ فی الرکعتين الفاتحة والسورة ويقعد فی أو ليهما لأنها ثنائية ولو لم يقعد جازا استحسانًا لاقياساً ولم يلزمه سجود السهولو سهوًا لكونها أولى من وجه. (شرح منية المصلى:٤٦٨، فصل فی سجود السهو، سهيل – وكذا فی الدر المختار مع الشامی:١/ ٥٢٣، سعيد).

په حاشية الطحطاوی علی مراقي الفلاح کي راځي:

والمسبوق هو من سبقه الإمام بكلها أو بعضها وحكمه أنه يقضي أول صلاته في حق القراءة وآخرها في حق القعدة وهو منفرد فيها يقضيه. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:٣٠٩، فصل فيما يفعل المقتدی – وكذا فی الشامی:١/ ٥٩٧، باب الامامة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

که يې د سورت يو ځای کېدل هير سوه نو د سجده سهوي حکم

سوال: که ديو چا په لمانځه کي د سورت يو ځای والی هير سو او رکوع ته ولاړئ نو بيا راپورته کېدل ضروري دي او که به رکوع پوره کوي په اخر کي به سجده سهو کوي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي دي راپورته سي او د سورت ديو ځای کېدو وروسته دي دوهم ځل رکوع وکړي خو که راپورته نه سو او په اخير کي يې سجده سهو وکړه نو لمونځ يې درست دئ.

وګورئ په حاشيه الطحطاوي کي راځي:

ولو ترك السورة فتذكرها في الركوع أو بعد الرفع منه قبل السجود فإنه يعود ويقرأ السورة ويعيد الركوع وعليه السهو لأنه بقراءة السورة وقعت فرضًا فيرتفض الركوع حتى لو لم يعده فسدت صلاته. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:٤٦٠، باب سجود السهو – وكذا فی الشامی:٢/ ٨٥، باب سجود السهو – وكذا فی الفتاوی الهندية:١/ ١٢٦).

په مراقي الفلاح کي راځي:

وإن عاد الساهي عن القعود الأول إليه بعد ما استتم قائمًا اختلف التصحيح في فساد صلاته وأرجحهما عدم الفساد لأن غاية ما في الرجوع إلى القعدة زيادة قيام في الصلاة وإن كان لا يحل لكنه بالصحة لا يخل ...... وقال صاحب البحر والحق عدم الفساد. (مراقي الفلاح: ۱۷۹، باب سجود السهو، مكة المكرمة).

له دې عبارت څخه معلومیږي چي کله یې ناسته پرېښوده او ولاړ سو بیا کښېناستی نو لمونځ یې نه فاسدیږي حال دا چي فقهاوو د فرضو څخه د واجبو طرف ته راګرځېدل منع کړی دي خو که را وګرځېدئ نو لمونځ یې نه فاسدیږي نو په پورتنۍ صورت کي هم فقهاء فرمايي، چي له رکوع څخه دي راوګرځیږي چي کوم واجب پاته سوی وو د هغه تلافی وکړل سي او چي کله راونه ګرځیدئ نو لمونځ یې په درجه اولی نه فاسدیږي ځکه د رکوع څخه راګرځېدل خو سپک دي په نسبت د هغه چي د قیام څخه د قعدي پر لوري را وګرځي.

خلاصه دا چي په پورتنۍ صورت کي د رکوع څخه د نه را ګرځېدو په صورت کي هم سجده سهو کفايت کوي او لمونځ یې درست دئ، که څه هم ځیني مفتيان فرمايي، چي د نه راګرځېدو په صورت کي د لمانځه راګرځول واجب دئ. (احسن الفتاوی: ٤/ ٢٣). خو دا خبره نه راته معلومیږي.

والله ﷻ اعلم.

بېله ضرورته د سجده سهوي کولو څخه د لمانځه حکم

سوال: که سجده سهو واجب نه وه او ده وکړل نو حکم یې څه دئ؟

الجواب: مصنف د درمختار لیکلي دي چي لمونځ فاسدوي خو علامه شامي رحمه الله فرمايي، چي د مفتی به قول مطابق یې لمونځ نه فاسدیږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولوظن الإمام السهوو سجد له فتابعه فبان أن لاسهو فالأشبه الفساد لاقتدائه فى موضع الانفراد. وفى الشامي: وفى الفيض: وقيل لاتفسد وبه يفتى وفى البحر عن الظهيرية قال الفقيه

أبـو الليـث رحمه الله: فـي زمانـا لاتفـسد لأن الــجهل فـي القـراء غالـب. (الـدر المختـارمع الشامي:۱/ ۵۹۹، سعيد). والله تعالى اعلم.

د ماپښين په اخرني دوو رکعتونو کي له جهري قرائت څخه د سجده سهوي حکم

سوال: که يو څا د ماپښين په اخري دوو رکعتونو کي د قرائت څه حصه په جهر ولوسته نو پر ده سجده سهو سته او که نه؟ په داسي حال کي چي په لومړنيو دوو رکعتونو کي يې په کراره قرائت ويلي وي؟

الجواب: د امام له پاره په جهري لمانځه کي جهر واجب دئ همدا ډول په سري لمانځه کي په کراره قرائت ويل واجب دي لهذا که يې د سري پر ځای د درو اياتونو په اندازه يا له دې څخه زيات جهر وکړ نو سجده سهو واجب ده او که منفرد وي نو د جهري پر ځای د کرار ويلو اختيار هم سته خو د سري پر ځای د جهر کولو اختيار نه لري، لهذا د ده له پاره هم حکم دغه دئ يعني که يې د درو اياتونو په اندازه يا له هغه څخه زيات جهر وکړ نو سجده سهو واجب ده خو علامه شامي رحمه الله فرمايي، چي د ظاهر الرواية مطابق پر منفرد سجده سهو واجب نه ده او همدغه قول صحيح دئ.

وګورئ په شامي کي راځي:

والـحاصل أن الـجهر في الـجهرية لا يـجب علی الـمنفرد اتفاقًا وإنمـا الـخلاف في وجوب الإخفاء عليه في السرية، وظاهر الرواية عدم الوجوب كمـا صرح بذلك في التاتارخانية عن الــمحيط، وكـذا في الـذخيرة وشروح الــهداية كالنهايـة والكفايـة والعنايـة ومعـراج الدرايـة. وصرحوا بأن وجوب السهو عليه إذا جهر فيمـا يـخافت رواية النـوادر، فعلی ظاهر الرواية لا سهو علی الـمنفرد إذا جهر فيما يـخافت فيه وإنمـا هـو علی الإمـام فقـط . (شـامي:۲/ ۱۸، بـاب سجود السـهو، سعيد).

وګورئ په شرحه د منية المصلي کي راځي:

ولو جهر الإمام فيما يخافت أو خافت فيما يجهر قدرما تجوزبه الصلاة يجب سجود السهو عليه وهو أى التقدير بمقدار ما تجوزبه الصلاة هو الأصح وإلا فلايجب. (شرح منية المصلى: ١/ ٤٥٧، سهيل – وكذا فى الفتاوى الهندية: ١/ ١٢٨ – والدر المختار: ١/ ٥٣٣ – والهداية: ١/ ١٥٧ – ومجمع الأنهر: ١/ ١٠٢).

په هدايه کي راځي:

ولو جهر الإمام فيما يخافت أو خافت فيما يجهر تلزمه سجدتا السهو لأن الجهر في موضعه والمخافتة في موضعها من الواجبات واختلفت الرواية في المقدار والأصح قدر ما تجوز به الصلاة في الفصلين لأن اليسير من الجهر والإخفاء لا يمكن الاحتراز عنه وعن الكثير يمكن إلى قوله....... وهذا فى حق الإمام دون المنفرد لأن الجهرو والمخافتة من خصائص الجماعة. (الهداية: ١/ ١٥٨ – وكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ١/ ١٢ – وكذا فى شرح العناية علي الهداية: ١/ ٥٠٥). والله ﷻ اعلم.

درې آياتونه او يا د يوه اوږده آيت اندازه

سوال: د درو آياتونو او يا يوه اوږده آيت اندازه څومره ده؟

الجواب: د يوه آيت اندازه چي په هغه سره د لمانځه فرضيت اداء کيږي هغه دي چي د درو کوچنيو آياتونو په اندازه وي او د درو کوچني آياتونو اندازه لس کلمي او دېرش حروف دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولو قرأ آية طويلة في الركعتين فالأصح الصحة اتفاقًا لأنه يزيد على ثلاث آيات قصار قاله الحلبي...... وفى الشامى: (قوله لأنه يزيد على ثلاث آيات) تعليل للمذهبين لأن نصف الآية الطويلة إذا كان يزيد على ثلاث آيات قصار يصح على قولهما فعلى قول أبي حنيفة رحمه الله

المكتفي بالآية أولى. قال في البحر: وعلم من تعليلهم أن كون المقروء في كل ركعة للنصف ليس بشرط بل أن يكون البعض يبلغ ما يعد بقراءته قارئًا عرفًا...... وفي التاتارخانية والمعراج وغيرهما: لو قرأ آية طويلة كآية الكرسي أو المداينة البعض في ركعة والبعض في ركعة اختلفوا فيه على قول أبي حنيفة رحمه الله ...... وعامتهم على أنه يجوز لأن بعض هذه الآيات يزيد على ثلاث قصار أو يعدلها فلا تكون قراءته أقل من ثلاث آيات...... وقدرها من حيث الكلمات عشر، ومن حيث الحروف ثلاثون ...... (الدرالمختار مع الشامی:۱/ ۵۳۷، فصل فی القراءة – وفی فتح القدير:۱/ ۳۳۲، دار الفكر – ومجمع الأنهر:۱/ ۱۰٤ – وشرح منية المصلی:۱/ ۲۷۸، سهيل – وبدائع الصنائع:۱/ ۱۱۲، سعيد).



﴿ قرأ النبی ﷺ: النجم بمكة فسجد فيها وسجد معه ﴾ (بخاری ومسلم).

دیارلس .... باب

د سجده تلاوت بیان

د سجدې له ایت سره د څو آیاتونو له ویلو وروسته د سجده تلاوت حکم

سوال: یو چا په لمانځه کي د سجده تلاوت آیت ولوستی خو سجده یې ونه کړه له دروآیاتونو وروسته یې فکر سو ایا اوس به یې هم کوي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي چي کله په یاد ورغله هغه وخت دي فوراً سجده تلاوت وکړي لمونځ به یې درست وي.

په مراقي الفلاح کي راځي:

و يجزئ عنها أيضًا سجودها أي سجود الصلاة إذا لم ينقطع فور التلاوة وانقطاعه أن يقرأ أكثر من آيتين بعد آية سجدة التلاوة بالإجماع وقال شمس الأئمة الحلواني رحمه الله لا ينقطع الفور ما لم يقرأ أكثر من ثلاث آيات وقال الكمال: أن قول شمس الأئمة رحمه الله هو الرواية ...... إذا انقطع فور التلاوة صارت دينًا فلا بد من فعلها بنية فيأتي لها بسجود أو ركوع خاص

. (مراقی الفلاح: ۱۸۵، باب سجود التلاوة، مكة المكرمة).

که یې په بل رکن کي ورپه یاد سوه بیا به یې هم فوراً اداء کړي او د هغه رکن راګرځول مستحب دي:

ولو تذكر المصلى فى ركوعه أو سجوده أنه ترک سجدة صلبية أو تلاوية فانحط من ركوعه بلا رفع أو رفع من سجوده فسجدها عقب التذكر أعادهما أى الركوع والسجود ندبًا لسقوطه بالنسيان وسجد للسهو. وفى الشامى: قيد بالركوع أو السجود لأنه لو تذكر السجدة

في القعدة الأخيرة فسجدها أعاد القعدة نهر، قوله لسقوطه أي سقوط وجوب الإعادة المبني على وجوب الترتيب، فإن الترتيب فيما شرع مقررا من أفعال الصلاة واجب، يأثم بتركه عمدًا ويسقط بالنسيان وينجبر بسجود السهو. (الدر المختار مع الشامي:١/ ٦١٢، باب الاستخلاف، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د سورة ص د سجدې تحقيق

سوال: د سورة ص سجده د ﴿ اناب ﴾ پر لفظ ده او كه د ﴿ حسن مآب ﴾ كه يو څوك ﴿ حسن مآب ﴾ پر ځاى پر ﴿ أناب ﴾ باندي سجده وكړه نو حكم يې څه دئ؟

الجواب: د سورة ص سجده پر ﴿ حسن مآب ﴾ ده او كه يې د ﴿ أناب ﴾ پر ځاى وكړه نو هم د يوه قول مطابق اداء كيږي او كه يې د سورة ص څخه پرته پر نورو ځايونو د سجدې د لفظ څخه مخكي سجده وكړه نو دوهمه سجده لازميږي او سجده سهو به هم لازمه وي.

وګورئ په بدائع الصنائع كي راځي:

قول نحن نسجد ذلك شكرًا لما أنعم الله على داود ؏ بالغفران والوعد بالزلفى وحسن المآب، ولهذا لا يسجد عندنا عقيب قوله " وأناب " بل عقيب قوله " مآب ". (بدائع الصنائع:١/ ٢٨٧، سعيد كمپنى).

په مراقي الفلاح كي راځي:

وص ﴿ وظن داود أنما فتناه فاستغفر ربه وخر راكعًا وأناب فغفرنا له ذلك وإن له عندنا لزلفى وحسن مآب ﴾ وهذا هو الأولى مما قال الزيلعي تجب عند قوله تعالى: ﴿ وخر راكعًا وأناب ﴾ وعند بعضهم عند قوله تعالى: ﴿ وحسن مآب ﴾. (مراقى الفلاح:١٨٤، باب سجود التلاوة، مكة المكرمة).

په فتاوى شامي كي راځي:

(قوله من كل واحد حرفًا) لما تقدم أن الموجب للسجدة تلاوة أكثر الآية مع حرف السجدة والظاهر أن المراد بالحرف الكلمة ويكون الحرف الحقيقي مفهومًا بالأولى.

(شامى:٢/ ١١٨، باب سجود التلاوة، سعيد).

په فتاوى هنديه كي راځي:

ولا يجب السجود إلا بترك واجب أو تأخيره أو تأخير ركن أو تقديمه أو تكراره أو تغيير واجب بأن يجهر فيما يخافت وفي الحقيقة وجوبه بشيء واحد وهو ترك الواجب ، كذا في الكافي . (الفتاوى الهندية:١/ ١٢٦).

په فتاوى رحيميه كي راځي:

ښه دا دي چي په سورة ص كي سجده تلاوت پر حسن مآب باندي وسي پر اناب باندي سجده كول د احتياط ښخه خلاف ده په فتاوى شامي كي راځي وفى ص عند حسن مآب فهو اولى من قول الزيلعى عندو اناب.(فتاوى شامى:١/ ٧١٦).

په دې صورت كي پر اناب سجده سوي ده د احتياط ښخه خلاف ده خو د راګرځولو ضرورت يې نه سته.(فتاوى رحيميه:٤/ ٤١٩، فتاوى محموديه:٧/ ٤٧١). والله ﷻ اعلم.

پر سپرلۍ د آيت د سجدې له تكرار ښخه د سجدې د تكرار حكم

سوال: كه يو ښوك په سپرلۍ سپور وو او د سجدې آيت يې وايه نو ډېري سجدېورباندي لازميږي او كه يوه؟

الجواب: پر سپرلۍ د سجدې د آيت له تكرار ښخه كه په لمانځه كي وي نو يوازي يوه سجده واجب ده او كه په لمانځه كي نه وي نو ډېري سجدې واجب دي، همدغول په دريابې كښتۍ كي هم د سجدې د آيت د تكرار ښخه ډېري سجدې لازميږي كه ښه هم د فقهاوو له عبارتونو ښخه

معلومیږي چې یوازې یوه واجب ده خو په هغه زمانه کې د دریاب کښتۍ په هوا سره تلی او په اوس وخت کې یې د ماشین وغیره په ذریعه کښتیوان چلوي، نو د ځای د بدلېدو امله به دېرې سجدې واجب وي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

وانتقاله من غصن إلى آخر وسبحه في نهر أو حوض تبديل فتجب أخرى بخلاف زوايا مسجد وبيت وسفينة سائرة وفعل قليل كأكل لقمتين وقيام وزد سلام وكذا دابة يصلى عليها لأن الصلاة تجمع الأماكن ولو لم يصل تتكرر. وفي الشامي: (قوله لو لم يصل تتكرر) لأن سيرها مضاف إليه حتى يجب عليه ضمان ماأتلفت بخلاف سير السفينة. (الدر المختار مع ردالمحتار: ۲/ ۱۱۵، باب سجود التلاوة، سعيد).

په حاشیة الطحطاوي کې راځي:

ولايتبدل مجلس التلاوة والسماع بسير سفينة كما لو كانت واقفة لأن سير السفينة لايضاف إليه. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ٤٩٦، باب سجود التلاوة – وكذا فى الطحطاوى على الدر المختار: ۱/ ۳۲۸).

په طحطاوی علی مراقي الفلاح کې راځي:

إذا كررها مصليًا أما إذا كررها خارج الصلاة تكرر الوجوب لأن سير الدابة يضاف إلى راكبها. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ٤٩٦، باب سجود التلاوة، قديمى). والله ﷻ اعلم.

که یې له راډیو څخه د سجدې آیت واورېدئ نو سجده واجب ده او که نه؟

سوال: که یې له راډیو څخه د سجدې آیت واورېدئ نو سجده واجب ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې که یې تلاوت د کومې آلې څخه لکه کیسټ، سی ډي یا ټیپ وغیره په ذریعه خپراوه نو پر اورېدونکی سجده واجب نه ده او که قاري تلاوت کاوه نو وربانديې واجب ده.

خلاصه دا چي له اصلي تلاوت څخه سجده تلاوت واجبيږي د نقل او يا عکس څخه نه واجبيږي.

وګورئ په حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح کي راځي:

ولا تجب بسماعها من الصدى وهو ما يجيبک مثل صوتك في الجبال والصحاري ونحوها، الأولى قول بعضهم الصوت الذى يسمعه المصوت عقب صياحه راجعًا إليه من جبل أو بناء مرتفع فإنه لاإجابة فى الصدى إنما هو محاكاة. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:٤٨٦، باب سجود التلاوة، قديمي).

په نظام الفتاوى کي راځي:

د ټيپ، ګرامو فون وغيره چي په هغه سره د متکلم اواز په خپله نه راځي بلکي د متکلم د اوازه نقل راځي نو د هغه د تلاوت له امله سجده تلاوت نه واجبيږي په راډيو کي اکثره د بيان کونکي اواز او تقرير ټيپيږي او بيا هغه نشر کيږي نو که يې غالب ګمان وو نو پر دغه اواز سجده تلاوت کول نه لازميږي، البته که بيان کونکي له دغو وسائلو پرته په خپله ويناکوي او د سجدې ايت تلاوت کړي نو د ده د سجدې د ايت پر تلاوت کولو د تلاوت سجده واجبيږي. (منتخب نظام الفتاوى:١/ ٧٢، اسلامک فقه اکدمى). او همدا ډول وګورئ: (فتاوى محموديه:٧/ ٤٧٢، باب سجود التلاوة او احسن الفتاوى:٤/ ٦٥). والله ﷻ اعلم.

د نابالغه کوچني د سجدې د ايت له امله د سجده تلاوت د وجوب حکم

سوال: که يو نابالغه کوچني د سجدې ايت تلاوت کړ نو پر سامع سجده واجب ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که کوچني پوهـ وي نو پر سامع سجده تلاوت واجب ده او که نه د صبي غير مميز له تلاوت څخه پر سامع د تلاوت سجده واجب نه ده.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

ذكر شيخ الإسلام إذ لايجب السجود بالسماع من مجنون أو نائم أو طير، لأن السبب سماع تلاوة صحيحة وصحتها بالتمييز ولم يوجد. (امداد الفتاح: ٥٣١، باب سجود التلاوة، بيروت).

په فتح القدير کي راځي:

وهذا التعليل يفيد التفصيل فى الصبى فليكن هو المعتبر إن كان له تمييز وجب بالسماع منه وإلا فلا. (فتح القدير: ٢/ ١٥، باب سجود التلاوة، دار الفكر – واحسن الفتاوى: ٤/ ٦٠). والله ﷻ اعلم.

د سجدې د ايت د اکثره برخې په ويلو سره د سجده تلاوت حکم

سوال: که يو چا داسي الفاظ ولوسته چې په هغو کي د سجدې ذکر وو خو پوره ايت يې ونه وايه مثلاً ﴿وخر راكعًا وأناب﴾ يې ووايه نو سجده تلاوت به واجب وي او که نه؟

الجواب: که يې د سجدې د ايت اکثره برخه ولوسته نو سجده تلاوت به واجب وي او که نه بيا واجب نه ده، لهذا په پورتنی صورت کي سجده واجب نه ده.

وګورئ په فتاوى هنديه کي راځي:

ولو قرأ آية السجدة إلا الحرف الذي في آخرها لا يسجد ولو قرأ الحرف الذي يسجد فيه وحده لا يسجد إلا أن يقرأ أكثر آية السجدة بحرف السجدة. (الفتاوى الهندية: ١/ ١٣٢، الباب الثالث عشر فى سجود التلاوة – وكذا فى امداد الفتاح: ٥٢٨، باب سجود التلاوة، بيروت – وكذا فى الطحطاوى على مراقى الفلاح: ٤٨١، قديمى). والله ﷻ اعلم.

په لمانځه کي که د سجدې کولو وروسته دوهم ځل همدغه ایت ولولي نو د سجده تلاوت حکم

سوال: که یو حافظ صاحب په تراویحو کي د سجدې ایت ولوستی بیا یې سجده وکړه بیا یې دوهم ځل همدغه ایات ولوستی نو د دې حکم به څه وي؟

الجواب: په پورتنی صورت کې دوهم ځل د سجدې کولو ضرورت نه سته لومړی کافي ده .

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

ولو تلاها في ركعة فسجدها ثم أعادها في تلك الركعة لا تجب ثانيًا ، كذا في محيط السرخسي، المصلي إذا قرأ آية السجدة في الأولى ثم أعادها في الركعة الثانية والثالثة وسجد للأولى ليس عليه أن يسجدها وهو الأصح ، كذا في الخلاصة . (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۳۵، سجود التلاوة – وكذا في خلاصة الفتاوى:۱/ ۱۸۷، مسائل السجدات، الرشيدية).

په بهشتي زېور کي راځي:

که یې په لمانځه کي د سجدې یو ایت څو ځله ولوستی بیا هم یوه سجده واجب ده که څه هم ډېر ځله یې ولولي په اخیر کي سجده وکړي یا یې یو ځل ولوست سجده یې وکړه بیا یې په همدغه رکعت یا دوهم رکعت کي همدغه ایت ولوست. (بهشتی زیور:صـ ٤٤). والله ﷻ اعلم.

که یې د مختلفو کسانو څخه د سجدې مختلف ایاتونه واورېدل نو د سجدې د تکرار حکم

سوال: یو څوک یو ځای ناست وي او د مختلفو کسانو څخه د سجدې مختلف ایاتونه اوري نو څو سجدې ورباندي واجبیږي؟

الجواب: په دې صورت کي څنګه چي سجدې د مختلفو کسانو څخه اوري له دې امله پر هر ایت بېله سجده واجبیږئ نو څومره ایاتونه چي اوري د هغو مطابق سجدې ورباندي واجبیږي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

الأصل أنه لا يتكرر الوجوب إلا بأحد أمور ثلاثة: اختلاف التلاوة أو السماع أو المجلس أما الأولان: فالمراد بهما اختلاف المتلو والمسموع حتى لو تلا سجدات القرآن كلها أو سمعها في مجلس أو مجالس وجبت كلها ...... قوله بشرط اتحاد الآية والمجلس أي بأن يكون المكرر آية واحدة، فلو تلا آيتين في مجلس واحد أو آية واحدة في مجلسين فلا تداخل ولم يشترط اتحاد السماع لأنه إنما يكون باتحاد المسموع فيغني عنه اشتراط اتحاد الآية.

(شامی:۲/ ۱۱٤، باب سجود التلاوة، سعید).

په حاشیه الطحطاوی کي راځي:

(قوله بشرط اتحاد الآية) أما لوقرأ القرآن كله فی مجلس واحد لزمه أربع عشرة سجدة لأن المجلس لايجعل الكمات المختلفة الجنس بمنزلة كلام واحد. (حاشية الطحطاوی علی الدر:۱/ ۳۲۷، باب سجود التلاوة – وكذا فی الجوهرة النيرة:۹۷). والله ﷻ اعلم.

د مجلس په بدلونه د وجوب د تکرار حکم

سوال: که یو چا د سجدې ایت په مسجد کي واورېدئ بیا یې هغه ایت د مسجد پر غولي واورېدئ او غولی له مسجد څخه دباندي وي نو بیا یې حکم څه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي چي د مسجد غولی له مسجد څخه دباندي وي لهذا د مجلس د بدلیدو له امله دوې سجدې واجبیږي۔

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

ولو تبدل مجلس السامع دون التالی يتكرر الوجوب عليه. (الفتاوی الهندية:۱/ ۱۳٤، الباب الثالث عشر فی سجود التلاوة).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

أجمعوا على أنه إذا اختلف مجلس السامع في غير الصلاة واتحد مجلس التالي يتكرر الوجوب على السامع بتكرر التلاوة. (فتاوى قاضيخان:۱/ ۷۷- وكذا فى فتاوى السراجية على هامش قاضيخان:۱/ ۷۸ – وكذا فى الهداية:۱/ ۱۵۷ – والبحر الرائق:۲/ ۱۲٦). والله ﷻ اعلم.

د مکان د اتحاد په صورت کي د ځای په بدلون سره د تکرار د وجوب حکم

سوال: که د مسجد صحن دباندي نه وي بلکي دواړه مسجد وي نو اوس څو سجدې لازميږي؟

الجواب: په دې صورت کي د مکان د اتحاد له امله يوازي يوه سجده واجبيږي.

په امداد الفتاح کي راځي:

ولا يتبدل مجلس السماع والتلاوة بزوايا البيت الصغير كذا في البرهان :..... وفي التاتار خانية ولو قرأها في زوايا المسجد الجامع يكفيه سجده واحدة .... وقد جزم قاضي خان حيث قال: ولا يتكرر الوجوب لو انتقل من زاوية البيت أو المسجد إلى زاوية إلا إذا كانت الدار كبيرة كدار السلطان وإن انتقل في المسجد الجامع من زاوية إلى زاوية لايتكرر الوجوب، وإن انتقل فيه من دار إلى دار ففي كل موضع يصح الاقتداء يصير كمكان واحد ولايتكرر الوجوب، انتهى. (امداد الفتاح:٥٤٠، بيروت – وكذا في الفتاوى الهندية:۱/ ۱۳٤). والله ﷻ اعلم.

که مقتديانو په رکوع کي د سجده تلاوت نيت وکړ نو د مقتديانو د سجدې حکم

سوال: که يې په رکوع کي د سجده تلاوت نيت وکړ او مقتديانو ونه کړه نو د مقتديانو سجده اداء کيږي او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کي که څه هم اختلاف دئ خو قياس ته نژدې دا ده چي د امام نيت د مقتدي له طرفه کفايت کوي لکه مسافر امام د سفر نيت يا د مقيم د اقامت نيت د مقتديانو له پاره کفايت کوي او د ټولو سجده اداء کيږي خو ښه طريقه دا ده چي په جهري لمانځه کي دي سجده اداء کړي چي پر عوامو کومه اشتباه رانه سي.

وګورئ په منحة الخالق کې راځي:

(قوله : وفي القنية ، ولو نواها في الركوع إلخ) قال في النهر وينبغي حمله على الجهرية، قلت : لعل وجهه والله تعالى أعلم ما يأتي عن القنية أيضًا أن الركوع أولى في صلاة المخافتة وعلله في التتارخانية بقوله لئلا يلتبس الأمر على القوم فإنه يفيد أنه لا يلزم القوم نيتها في الركوع ؛ لأنه لا علم لهم بتلاوته وإلا لم يحصل عليهم التباسبخلاف الجهرية . (منحة الخالق على هامش البحر الرائق:۲/ ۱۲۳، باب سجود التلاوة).

په مراقي الفلاح کې راځي:

ويجزئ عنها أي عن سجدة التلاوة ركوع الصلاة إن نواها أي نوى اداء ئها فيه نص عليه محمد رحمه الله لأن معنى التعظيم فيها واحد وينبغي ذلك للإمام مع كثرة القوم أو حال المخافتة حتى لا يؤدي إلى التخليط وفى الطحطاوى: قوله وينبغى ذلک للإمام ان يجعلها فى ركوع الصلاة إن كانت سرية. (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى:ص ٤٨٦، باب سجود التلاوة، قديمى – والشامى:۲/ ۱۱۲، باب سجود التلاوة – والفتاوى الهندية:۱/ ۱۳٤).

په احسن الفتاوی کې راځي:

راجح دا دئ چې په رکوع کې د امام نیت د مقتدی له لوري هم کفایت کوي.(احسن الفتاوی:٤/ ٥٩، او کفایت المفتی:۳/ ٤١٥). والله تعالى اعلم.

د سجده تلاوت پر پاته کېدو د فديې د وجوب حکم

سوال: که د چا څخه سجده تلاوت پاته سي نو د هغه فديه به ورکوي او که نه؟

الجواب: که احتياطاً د سجده تلاوت فديه ورکول سي نو درسته ده خو واجب نه ده.

وګورئ په فتاوی شامي کې راځي:

ولا رواية في سجدة التلاوة أنه يجب أو لايجب كما في الحجة والصحيح أنه لا يجب كما في الصيرفية إسماعيل. (شامی:۲/ ۷۳، باب قضاء الفوائت، سعید – وکذا فی البحر الرائق:۲/ ۹۱، کوئٹۃ).

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب په جواهر الفقه کي ليکي:

که سجده تلاوت پاته سي نو احتياط په دغه کي دئ چي د هري سجدې په بدله کي دي پاوکم دوه سيره غنم او يا د هغه قيمت صدقه کړي. (جواهر الفقه:۱/ ۳۹۳، مسائل فديه، نماز اوزه وغيره).

والله ﷻ اعلم.

که يې سجده تلاوت د لمانځه دباندې په رکوع سره اداء کړه نو د هغه حکم

سوال: د تلاوت سجده له لمانځه څخه دباندې په رکوع کي کولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که څه هم ځينو کسانويې په رکوع کي اداء کول درست ګڼلی دي خو د محققينو په انديې په رکوع کي اداء کول درست نه دي ځکه رکوع کوم مستقل عبادت نه دئ، البته فتاوی هندی له عبارت څخه معلوميږي چي د مريض له پاره روا ده.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وتؤدى بركوع وسجود غير ركوع الصلاة وسجودها فى الصلاة وكذا فى خارجها ينوب عنها الركوع فى ظاهر المروى بزازية لها أى للتلاوة. وفي الشامي: قوله وكذا في خارجها الخ: هذا ضعيف لما قدمناه عن البدائع من أنه لا يجزئ لا قياسًا ولا استحسانًا وما عزاه إلى البزازية تبع فيه صاحب النهر وهو خلل في النقل لأن الذي رأيته في نسختين من البزازية هكذا ......والله اعلم. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۱۱۱، باب سجود التلاوة – وكذا فی البدائع الصنائع:۱۸۹، سعید – والفتاوی الهندية:۱/ ۱۳۵).



قال رسول الله ﷺ : ﴿ صل على الأرض أن استطعت وإلا فأوم إيماءً واجعل سجودک أخفض من رکوعک ﴾. (السنن الکبری).

څوارلس .... باب

د مریض او معذور د لمانځه بیان

په چوکۍ کښیناتل او لمونځ کول

سوال: په چوکۍ کي د لمانځه حکم څه دئ؟

الجواب: تر څو چي پر ولاړه قدرت وي په ناسته لمونځ روا نه دئ او که پر سجده قدرت نه وي نو په ناسته لمونځ روا دئ کوم کسان چي پر ولاړه او سجده قدرت نه لري هغوی ته لومړی دا حکم دئ چي په ناستی دي لمونځ وکړي په چوکۍ کي لمونځ درست نه دئ که یې پر ولاړه قدرت درلودئ او پر سجده یې قدرت نه درلودئ نو قیامه ساقطیږي ځکه اصلي مقصد په لمانځه کي سجده ده او قیام او رکوع د هغه له پاره وسیله ده له دې امله په ناستي لمونځ افضل دئ د سجدې د سقوط په وخت کي ځکه ناسته مشابه بالسجود ده او اقرب الی الارض ده د امکان تر حده د مقصد طرف ته اشاره ده له دې امله په ناسته لمونځ ښه دئ او پر چوکۍ دغه افضیلت نه حاصلیږي، البته که د مریض له پاره پر ځکه کښېناستل ډېر د تکلیف لامل وي او د سجدې څخه هم عاجز وي نو بیا د مجبورۍ په حالت کي په اشاره سره لمونځ کولای سي، مګر نن سبا په دې مسئله کي ډېره بې احتیاطي کیږي د دې د اصلاح ضرورت دئ او په دې کي لاندي خرابۍ هم موجودي دي:

١ _ لمونځ د ډېر تذلل او عاجزي نوم دئ لکه چي په الاشباه کي ذکر سوی دي وهی التذلل والخضوع علی ابلغ الوجوه. (الاشباه والنظائر:١/ ١٥٤).

او پر چوکۍ د خپل شان اظهار دئ که څه هم اراده یې نه وي.

٢_ د الله ﷻ په وړاندي دي داسي ودريږي لكه څنګه چي د پادشاه په مخكي وي يعنى د خپلي عاجزي اعتراف او د فقير په شان لكه څنګه چي احياء العلوم كي راځي:

فتم بين يديه قيامک بين يدى بعض ملوک الزمان. (احياء علوم الدين:١/ ١٧٢).

او په چوكۍ كي دا خبره نه سته اسلامي شريعت د انسان ضعف تسليم كړى دئ او د هغه مختلف حالات يې بيان كړي دي چي كه معذور وي په ناستى دي وكړي او صحيح قول دا دئ چي څنګه چي كښيناستلى سي هغه سي دي كښيني او پر مځكه دي كښيني لكه څنګه چي په حديث كي هم همدغه حكم دئ، صل على الارض. (السنن الكبرى:٢/ ٤٣٥).

د نبي كريم ﷺ او خير القرون په زمانه كي په هيڅ وخت كي داسي جزئيه نه ده موندل سوى چي دا ډول ثبوت دي پكښي راغلى وي معذوران او مريضان هغه وخت هم وه او چوكۍ هم هغه وخت موجودي وي لكه څنګه چي د مسلم اول او اول ابو داؤد په روايت كي د چوكۍ يادونه سته، د دې سره لمونځ پكښي كول ثابت نه دي لهذا پر دغه مسئله د غور كولو ضرورت دئ چي په مساجدو كي چوكۍ اېښودل كيږي او دا اوس عام رواج سو او يوازي د سستۍ له امله په چوكۍ كي لمنځونه كوي حال دا چي په لمانځه كي سستي كول يې د منافقينو علامه بللي ده او مذمت يې كړى دئ.

قال الله تعالى: ﴿ وإذا قاموا إلى الصلاة قاموا كسالى يراءون الناس ولا يذكرون الله إلا قليلا ﴾.

(سورة النساء: الآية:١٤٢).

په اوسنۍ دور كي چي د شريعت د جاري كېدو اسلحه د مسلمانانو سره د يو څو عباداتو څخه علاوه بل څه نه سته په هغه كي هم روژه او حج خو په كال كي يو ځل وي او همدا ډول زكات هم دئ او دغه دواړه هم له خاصو افرادو سره دي په كلي توګه نه سته، په عامه توګه يوازي لمونځ دئ كه هغه هم همداسي ضايع سي نو د مسلمانانو له پاره ډېره د افسوس خبره ده.

وګورئ په سنن بيقهي كي راځي:

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال: أن رسول الله ﷺ عاد مريضًا ، فرآه يصلى على وسادة ، فأخذها فرمى بها ، فأخذ عودًا ليصلى عليه فأخذه فرمى به وقال : " صل على الأرض إن

استطعت ، وإلا فأومئ إيماءً ، واجعل سجودك أخفض من ركوعك ". (السنن الكبرى للبيهقي: ٢/ ٤٣٥).

په طحطاوي كي راځي:

إذا تعذر على المريض كل القيام أو تعسر كل القيام بوجود ألم شديد كدو ران رأس ووجع ضرس أو شقيقة أو رمد كما في القهستاني وسواء حدث ذلک في الصلاة أو قبلها كما في "النقاية" وقيد بالشديد لأنه إن لحقه نوع من المشقة لم يجز ترک القيام كما في " مسكين " أو خاف بأن غلب في ظنه بتجربة سابقة أو إخبار طبيب مسلم حاذق ..... صلى قاعدًا بركوع وسجود ويقعد كيف شاء أي كيف تيسر له بغير ضرر من تربع أو غيره في الأصح من غير كراهة كذا روى عن الإمام للعذر، وإن تعذر الركوع والسجود وقدر على القعود ولو مستندًا صلى قاعدًا بالإيماء وجعل إيماءه برأسه للسجود أخفض من إيمائه للركوع وكذا لو عجز عن السجود وقدر على الركوع يومى بهما لأن النبي ﷺ عاد مريضًا فرأه يصلى على وسادة فأخذها فرمى بها.... الخ(صلى قاعدًا بإيماء) أو قائمًا به والأول أفضل لأنه أشبه بالسجود ولكونه أقرب إلى الأرض وهو المقصود كذا في " التبيين" . (حاشية الطحطاوى على مراقي الفلاح: ١/ ٢٣٤، قديمى).

په فتاوی شامي كي راځي:

(وإن تعذرا) ليس تعذرهما شرطًا بل تعذر السجود كاف نقله في " البحر " عن " البدائع " وغيرها وفي " الذخيرة ". رجلبحلقه خراجإن سجد سال وهو قادرعلى الركوع والقيام والقراءة يصلي قاعدًا يومئ ؛ ولو صلى قائمًا بركوع وقعد وأومأ بالسجود أجزأه ،

والأول أفضل لأن القيام والركوع لم يشرعا قربةً بنفسهما ، بل ليكونا وسيلتين إلى السجود .
(شامي :۲/ ۹۷، سعيد).

په عالمکيري کي راځي:

إذا عجز المريض عن القيام صلى قاعدًا يركع ويسجد ، هكذا في الهداية وإن عجز عن القيام والركوع والسجود وقدر على القعود يصلي قاعدًا بإيماء ويجعل السجود أخفض من الركوع ، كذا في فتاوى قاضي خان، ثم إذا صلى المريض قاعدًا كيف يقعد الأصح أن يقعد كيف يتيسر عليه ، هكذا في " السراج الوهاج " وهو الصحيح ، هكذا في " العيني " وإذا لم يقدر على القعود مستويًا وقدر متكئًا أو مستندًا إلى حائط أو إنسان يجب أن يصلي متكئًا أو مستندًا ، كذا في "الذخيرة ". (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۳۶).

په کفايت المفتي کي ذکر سوي دي په چوکۍ کي دلمانځه کولو حکم

سوال: خلاصه په لاندي توګه ده: په نس کي مو نا ارامي وي پر مځکه باندي لمونځ کول راته ډېر ګران ښکاري نو که په چوکۍ کښېنم پر لاندي ميز راته سجده کول روا دي او که نه؟

الجواب: پر چوکۍ پښي ځړول او کښېناستل او پر ميز باندي سر کښېښودل روا نه دي مګر په هغه صورت کي چي پر مځکه کښېناستل او پر مځکه سجده کول يې په توان نه وي که پر مځکه کښېناستی او پر يو داسي لوړ شي سجده وکړي چي د مځکي څخه تر يوې لوېشتې زيات لوړ نه وي نو د عذر په حالت کي روا دي. (کفايت المفتی:۳/ ۴۲۲).

په احسن الفتاوی کي ذکر سوي دي:

سوال: په چوکۍ کي لمونځ کول صحيح دي؟

الجواب: ځيني کسان په چوکۍ کښيني د سجدې پر ځای په اشاره لمونځ کوي که پر مځکه د کښېناستلو او سجدې کولو طاقت وي نو په چوکۍ کي په اشاره کولو سره يې لمونځ نه کيږي. فقط والله ﷻ اعلم. (احسن الفتاوی:۴/ ۵۱).

په عمدة الفقه کي راځي:

ضروري تنبیه: نن سبا په عامه توګه داسي لیدل کیږي چي کله یې لږ څه تبه سوه یا څه تکلیف ورته پیښ سو په ناستی لمونځ شروع کړي حال دا چي همدغه کسان په دې حالت کي لس دقیقې او یا زیات ولاړ وي خبري کوي نن سبا موږ دا ویلای سو چي په مسجدونو کي پر چوکیو لمونځ کونکي حضرات چي په خپلو دوکانو کي څو ساعته ولاړ وي په دې خبره کي باید ډېر احتیاط وکړي او کوم فرض او واجب لمنځونه چي یې د قیام وغیره د قدرت سره سره په ناستی کړي وي د هغو راګرځول فرض او واجب دي. (عمدة الفقه:۲/ ۴۰۲) والله تعالی اعلم.

که یې پر سجده قدرت نه درلود نو د ولاړي حکم

سوال: یو څوک دربدلای سي مګر سجدې ته د تللو قدرت نه لري خو چي کښېني او پښې وغځوي په اشاره سره لمونځ کولای سي نو د ده له پاره پر کوم هیئت لمونځ کول افضل دي؟

الجواب: که دغه کس پر سجده قدرت نه لري نو قیام ورڅخه ساقط ده تر هغه وخته چي صحت پیدا کوي لهذا داسي کس دي په ناستی د رکوع او سجدې اشاره کوي او لمونځ دي اداء کوي ځکه قیام د سجدې له پاره وسیله ده او چي کله سجده نه سته نو قیام ساقطیږي.

وګورئ په مبسوط کي راځي:

وأما إذا كان قادرًا على القيام وعاجزًا عن الركوع والسجود، فإنه يصلي قاعدًا بإيماء وسقط عنه القيام؛ لأن هذا القيام ليس بركن؛ لأن القيام إنما شرع لافتتاح الركوع والسجود به، فكل قيام لا يعقبه سجود لا يكون ركنًا، ولأن الإيماء إنما شرع للتشبه بمن يركع ويسجد والتشبه بالقعود أكثر. (المبسوط للامام السرخسي:۱/ ۲۱۳، باب صلاة المريض، ادارة القرآن).

تبیین الحقائق کي راځي:

(وإن تعذر الركوع والسجود لا القيام أومأ قاعدًا) وقال زفر رحمه الله والشافعي رحمه الله: يصلي قائمًا بالإيماء؛ لأن القيام ركن فلا يسقط بالعجز عن اداء ركن آخر، ولنا أن المقصود

الخضوع والخشوع لله تعالى وإنما يحصل ذلك بالركوع والسجود ، والقيام وسيلة إلى السجود فلا يجب بدونه ، وهذا ؛ لأن التواضع يوجد في الركوع ونهايته توجد في السجود ؛ ولهذا لو سجد لغير الله تعالى يكفر والقيام وسيلة إلى السجود فصار تبعًا له فسقط بسقوطه ...... (تبيين الحقائق: ۱/ ۲۰۲، باب صلاة المريض – وكذا فی العناية شرح الهداية: ۲/ ۶، باب صلاة المريض على هامش فتح القدير – والجوهرة النيرة: ۱/ ۹۶، باب صلاة المريض – والفتاوی الهندية: ۱/ ۱۳۶، باب صلاة المريض). والله ﷻ اعلم.

ميز مختہ ايښودل او سجده ورباندې كول

سوال: څوک چې معذور وي او پر چوکۍ لمونځ کوي که دی خپل مخ ته ميز کښېږدي او پر هغه سجده وکړي نو حکم يې څه دئ؟

الجواب: څوک چې داسې مريضی او يا معذور وي چې کښيناستل ورته مشکل وي او په چوکۍ کې لمونځ کوي نو درسته ده خو مختہ ميز ايښودل ضروري نه دي د سجدې له پاره اشاره کافي ده که پر ميز سجده وکړي هغه په اشاره کې شمار ده.

وګورئ په درمختار کې راځي:

ولا يرفع إلى وجهه شيئًا يسجد عليه فإنه يكره تحريمًا. وفی الشامی: (قوله فإنه يكره تحريمًا) قال في البحر: واستدل للكراهة في المحيط بنهيه عليه الصلاة والسلام عنه وهو يدل على كراهة التحريم وتبعه في النهر، أقول: هذا محمول على ما إذا كان يحمل إلى وجهه شيئًا يسجد عليه بخلاف ما إذا كان موضوعًا على الأرض يدل عليه ما في الذخيرة حيث نقل عن الأصل الكراهة في الأول ثم قال: فإن كانت الوسادة موضوعة على الأرض وكان يسجد عليها جازت صلاته، فقد صح أن أم سلمة ﵂ كانت تسجد على مرفقة موضوعة بين يديها لعلة كانت بها ولم يمنعها رسول الله ﷺ من ذلك، فإن مفاد هذه المقابلة والاستدلال عدم الكراهة في

الموضوع على الأرض المرتفع ثم رأيت القهستاني صرح بذلك . (الدر المختار مع الشامي:۲/ ۹۸، باب صلاة المريض – وكذا في الهداية:۱/ ۱۳٦، باب صلاة المريض).والله ﷻ اعلم.

څوک چي پر چوکۍ لمونځ کوي د هغه له پاره ميز مخته ايښودل ضروري نه دي

سوال: که معذور کس په چوکۍ کي لمونځ کاوي او مخته چي ميزه کښيږدي سجده يې کولای سوه نو پر ميز سجده ضروري ده او که نه؟ ځيني مفيتان فرمايي، چي ميز ايښودل ضروري دي مثلاً وګورئ: (فتاوی بينات:۲/ ۳۹۰، او احسن الفتاوی:٤/ ٥٤)؟

الجواب: معذوره انسان چي کله پر چوکۍ لمونځ کوي نو مخته ميز ايښودل ضروري نه دي لامل يې دا دئ چي د سجدې د موجودېدو له پاره تندی، د دواړو لاسونو ګنډه يو لاس د دواړو ځنګنونو ګنډه يو ځنګون او د پښو له ګوتو ګنډه يو ګوته پر مځکه ايښودل ضروري دي که څه هم دلړوخت له پاره وي له دې پرته سجده نه موجوديږي او پر ميز او چوکۍ له سجدې کولو ګنډه دا شيان نه موجوديږي لهذا معذور کس دي رکوع او سجده په اشاره سره وکړي ميز ايښودل ضروري نه دي.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

والسجدة إنما تتحقق بوضع الجبهة والأنف مع وضع إحدى اليدين وإحدى الركبتين وشيء من أطراف أصابع إحدى القدمين على ظاهر من الأرض، وإلا فلا لم يوجد وضع هذه الأعضاء لاتتحقق السجدة ...... وإلى ذلک أشار في الفتاوى الصغرى حيث قال: وضع القدمين على الأرض حالة السجود فرض فإن وضع أحدهما دون الأخرى يجوز ......(امداد الفتاوى: ص ۲٥٦، بيروت).

په درمختار کي راځي:

ومنها السجود بجبهته وقدميه ووضع أصبع واحدة منهما شرط، وفي الشامي: وأفاد أنه لو لم يضع شيئًا من القدمين لم يصح السجود وهو مقتضى ماقدمناه آنفًا عن البحر. (الدر المختار

مع الشامی:۱/ ٤٤٧، بحث الرکوع والسجود، سعید – وکذا فی حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۲۲۱).

همدا ډول له احادیثو څخه هم معلومیږي چي کله رسول الله ﷺ پر سپرلۍ لمونځ کاوه نو ده مبارک ﷺ د سجدې له پاره اشاره وکړه حال دا چي پر زین تندی اینبودل کېدای سو له دې سره سره یې په اشاره سره سجده وکړه نو میز مخته اینبودل او زین سره برابر دئ.

وګورئ په بخاري شریف کي راځي:

کان عبد الله بن دینار یصلی فی السفر علی راحلته أینما توجهت به یؤمی، وذکر عبد الله أن النبی ﷺ کان یفعله.

عامر بن ربیعة ﷺ قال: رأیت رسول الله ﷺ وهو علی الراحلة یسبح یومئ برأسه قبل أی وجه توجه، ولم یکن رسول الله ﷺ یصنع ذلك في الصلاة المکتوبة. (بخاری شریف:۱/ ۱٤۸).

که پر پورتنی حدیث څوک اشکال وکړي چي دا خو د نفلو واقعه ده نه د فرض لمانځه نو جواب دا دئ چي په نفلي لمانځه کي د قدرت علی القیام سره سره ناسته روا ده خو بیا هم که یې پر سجده قدرت درلودئ نو په پروتي په اشاره سره لمونځ کول روا نه دي.

وګورئ په درالمختار کي راځي:

ویتنفل مع قدرته علی القیام قاعدًا لامضطجعًا إلا بعذر. وفی الشامیة: قوله لا مضطجعًا ...... وکذا لو شرع منحنیًا قریبًا من الرکوع لا یصح، بحر، وما ذکره من عدم صحة التنفل مضطجعًا عندنا بدون عذر، نقله في البحرعن الأکمل في شرحه علی المشارق. وصرح به في النتف،وقال الکمال في الفتح: لا أعلم الجواز في مذهبنا وإنما یسوغ في الفرض حالة العجز عن القعود . (الدر مع الشامی:۲/ ۳٦، سعید). والله ﷻ اعلم.

په پروتي د لمانځه کولو په وخت کي مخ د قبلي طرف ته د کولو حکم

سوال: که یو څوک معذور وي او په پروتي لمونځ کوي نو پښي به د قبلي طرف ته کوي یا به پر اړخ پربوزي او پښي به له قبلي څخه اړوي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي د معذور له پاره افضله دا ده چي مخ دي د قبلي طرف ته کړي او پښي دي لږ څه ورپیچي چي د قبلي طرف ته نه سي او دغه طریقه له پر اړخ پرېوتلو څخه ښه ده.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وإن تعذر القعود ولو حكمًا أومأ مستلقيًا على ظهره ورجلاه نحو القبلة غير أنه ينصب ركبتيه لكراهة مد الرجل إلى القبلة ويرفع رأسه يسيرًا ليصير وجهه إليها أو على جنبه الأيمن أو الأيسر ووجهه إليها والأول أفضل على المعتمد.

وفي الشامي: (قوله ويرفع رأسه يسيرًا) أي يجعل وسادة تحت رأسه لأن حقيقة الاستلقاء تمنع الأصحاء عن الإيماء . فكيف بالمرضى بحر، (قوله والأول أفضل) لأن المستلقي يقع إيمائه إلى القبلة والمضطجع يقع منحرفًا عنها بحر قوله على المعتمد ......بأن الاستلقاء هو ما مشاهير الكتب والمشهور من الروايات. (الدر المختار مع الشامي:۲/ ۹۹، باب صلاة المريض، سعيد – وكذا في الفتاوى الهندية:۱/ ۱۳۷، باب صلاة المريض – وبهشتي زيور حصه دوهم:۴۶). والله ﷻ اعلم.

د معذور شرعي حکم

سوال: یو کس ته د بادونو وتلو مریضی رسېدلی ده له اوداسه څخه وروسته یې تر پنځه دقیقې زیات اودس نه پاتیږي دی غواړي چي په جماعت سره د لمانځه کولو حکم معلوم کړي او د قرآن تلاوت، سنن او نوافل وغیره اداء کړي له کلونو څخه یې علاجونه هم کړی دي خو فائده یې نه ده سوي، لهذا په دې هکله شرعي حکم راته وښایاست؟

الجواب: که یو ځل کامل وخت په داسي حالت کي تیر سي چي خروج ریح یې وي یعني دومره وخت هم نه بندیږي چي اودس وکړي وختي لمونځ پوره کړلای سي نو بیا خو دغه کس معذور دئ د ده حکم دا دئ چي د هر وخت له پاره د ده پر ذمه اودس ضروري دئ په دغه اودسه سره فرض، سنت او نوافل، د قرآن تلاوت اداء قضاء چي زړه یې غواړي هغه دې کوي د باد وتل یې اودس نه ماتوي د وخت وتل د ده له پاره د اوداسه ماتونکی دي د هر وخت له پاره بیل اودس ضروري دي او دغه کس به معذور وي چي تر څو دیوه پوره لمانځه وخت بېله عذره وربانديي تیر نه سي یعني د معذور ګرځېدلو له پاره ضروري نه ده چي عذر به یې مسلسل وي، البته دا ضروري ده چي د هر لمانځه په کامل وخت کي یو یا دوه ځله عذر ورته پېښ سي چي کله داسي حالت راسي چي کامل وخت یې یو ځل له عذر څخه خالي تیر سي نو دا کس به معذور نه وي پاته او که یو کامل وخت داسي نه تیریږي چي دی له عذر څخه خلاص وي او د لمانځه اداء کول ورته ممکن وي بلکي دومره ګنجائش ورته وي چي په هر وخت کي بېله عذره لمونځ اداء کولای سي نو دې معذور نه دئ د باد وتل د ده له پاره اودس ماتوي.

(فتاوی محمودیه:۷/ ۵۲٦، او بهشتي زیور:صـ ۷٤).

په شرح معاني الاثار کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها أن فاطمة بنت أبي حبيش رضي الله عنها أتت النبي ﷺ فقالت : إني أحيض الشهر والشهرين . فقال رسول الله ﷺ: إن ذلك ليس بحيض وإنما ذلك عرق من دمك فإذا أقبل الحيض فدعي الصلاة وإذا أدبر فاغتسلي لطهرك ثم توضئي عند كل صلاة . (شرح معاني الآثار:١/ ٨٠، باب المستحاضة كيف تطهر للصلاة).

له دې حدیث څخه معلومیږي چي د معذور کس به د هر لمانځه د وخت له پاره اودس کوي.

په درمختار کي راځي:

وصاحب عذر من به سلس بول لا يمكنه إمساكه أو استطلاق بطن أو انفلات ريح ...... إن استوعب عذره تمام وقت صلاة مفروضة بأن لا يجد في جميع وقتها زمنًا يتوضأ ويصلي فيه

خاليًا عن الحدث ولو حكمًا لأن الانقطاع اليسير ملحق بالعدم وهذا شرط العذر في حق الابتداء وفي حق البقاء كفي وجوده في جزء من الوقت ولو مرة وفي حق الزوال يشترط استيعاب الانقطاع تمام الوقت حقيقة لأنه الانقطاع الكامل ونحو لكل فرض، اللام للوقت كما في لدلوك الشمس ثم يصلي به فيه فرضًا ونفلًا ...... فإذا خرج الوقت بطل .... وفي الشامي: (قوله أو انفلات ريح) هو من لا يملك جمع مقعدته لاسترخاء فيها نهر. (قوله ولو حكما) أي ولو كان الاستيعاب حكمًا بأن انقطع العذر في زمن يسير لا يمكنه فيه الوضوء والصلاة فلا يشترط الاستيعاب الحقيقي في حق الابتداء كما حققه في الفتح والدرر ...... (قوله اللام للوقت) أي فالمعنى لوقت كل صلاة بقرينة قوله بعده فإذا خرج الوقت بطل فلا يجب لكل صلاة...... قال في الإمداد: وفي شرح مختصر الطحاوي: روى أبو حنيفة رحمه الله عن هشام بن عروة عن أبيه عن عائشة رضي الله عنها أن النبي صلى الله عليه وسلم قال لفاطمة بنت أبي حبيش رضي الله عنها "توضئي لوقت كل صلاة ". (الدر المختار مع الشامي:١/ ٣٠٦، أحكام المعذور، سعيد – وكذا فى امداد الفتاح:١٥٢-١٥٤، بيروت – وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:١٤٩، قديمي – وكذا فى المبسوط: باب المسح على الخفين، ادارة المعارف – وفى مجمع الأنهر شرح ملتقى الأبحر: فصل المستحاضة ومن به سلسل بول – وفتاوى دار العلوم ديوبند:٤/ ٤٤٢، مدلل ومكمل، دار الاشاعت).

تنبيه: د معذور احكام مشكل او دقيق دي لهذا د معذور جوړېدو او يا نه كېدو په هكله بهشتي زېور له علماوو څخه د زده كړې كوښښ وكړي او كه په خپله صلاحيت لري په خپله يې زده كړي. والله تعالى اعلم.

د معذوره د لمانځه حکم

سوال: ۱ _ زما لاس پرې سو ما هغه زخم صاف کړ تر داسې حده چې زما اطمینان سو چې زخم وچ سوی دئ او وینه وربانديِ نه سته بيا مي اودس وکړ او د زخم له وچیدو وروسته مي وربانديِ پلستر ولګاوه بيا زه د جمعې لمانځه ته ولاړم بيا مو دوه ساعته وروسته هغه پلستر ليري کړ نو پر هغه څه د وینو اثرات ښکاریدل ايا زما جمعه صحیح ده؟

۲ _ ايا دا صحيح ده چې زخم صفا کړي او پر هغه پلستر ولګوي او مسح وکړي؟ ايا د زخم وينه بندول ضروري دي پر داسي موقع به څه کوي؟

۳ _ ما د قرآن د ويلو اراده وکړه خو پر زخم د وينو د اثراتو له امله زما اودس نه وو چې کله به مي په کاغذ وينه وچول نو پر هغه به د وينو اثرات ښکاره کېدل خو ما په کاغذ سره قرآن د پوښ څخه راوکښي او بيله لاس وروړلو مي تلاوت کاوه په قلم سره مو ورقي اړولي يا دغه طريقه صحيح ده؟

۴ _ ما ته څه لارښووني وکړي چې که ائنده داسي مسئله پيښه سي نو څه بايد وکړل سي؟

الجواب: که د زخم پر پټي وينه لګېدلي وي خو دباندي ښکاره نه سي يعنی ونه بهيږي نو اودس نه ماتيږي لهذا په اول صورت کي چې زخم يې صفا کړي او بيا يې پرهمينځي او د اودسه کولو وروسته يې پټي وربانديِ وتړل بيا دوه ساعته وروسته د وينی اثرات پر پلستر لګېدلی وه څنګه چې دغه د بهېدونکي وينی په حکم کي نه دي او نه دباندي ښکاره سوی دي لهذا اودس يې پاته دئ او د جمعې لمونځ يې درست دئ.

۲ _ که يې وينه پرېمينځل نو د پټی لګولو وروسته يې مسح درسته ده چې تر څو يې وينه دباندي ښکاره نه سي اودس يې پاته دئ او په عامه توګه چې کله پلستر او پټی ولګيږئ نو وينه بنديږي هغه اثرات چې پر پټی ولګيږي هغه ضرر لرونکي نه دي، البته که د بل لمانځه وخت راسي او وينه دننه زياته معلوميږي نو پټی دي وکاږي بيا دي صاف کړي اودس دي وکړي او بيا دي پټی ولګوي.

۳ _ که پر زخم پټی نه وي او د وينو اثرات وربانديِ ښکاري هغه يې څو ځله په کاغذ سره وچه کړه نو ودي کتل سي چې که چيري په يوه مجلس کي ټوله جمع سي او دومره وي چې که يې وچه کړي نه وای نو له زخم څخه به بهيدلی وای نو اودس يې ماتيږي او دا چې قرآن دي بيله لاس وروړلو تلاوت کړ او صفحي دي په قلم واړولي دا به درسته وي بيله اودسه قرآن ته لاس وروړل درست نه دي

او که توله وچې سوی په یوه مجلس کې د بهیدو اندازه نه وي نو اودس یې نه ماتیږي نو قرآن ته لاس وروړل هم درست دي.

۴_ بیا که اینده داسې عذر پیښ سي مثلاً د زخم څخه وینه بهیږي نو بیا ده چې د پلستر پټۍ دې وریاندې واچوي نو انشاء الله بند به سي او پر پټۍ هغه اثرات چې تر څو زیات نه وي ضرر نه لري اودس یې پاته دئ او که زیات بهیږي او د یوه لمانځه پوره وخت داسې تیر سي چې د لمانځه کولو موقع ورته پیدا نه سي نو دي د معذور په حکم کې دئ لهذا په ائنده وخت کې دې یو ځل اودس وکړي نو دغه کافي دئ چې تر څو وخت پاته وي اودس به یې هم پاته وي او کله چې وخت ووځي نو د بل لمانځه له پاره دې نوې اودس وکړي، همدا ډول دې کوي چې تر څو یې دغه عذر پاته وي.

په فتاوی شامي کې راځي:

(قوله لو مسح الدم كلما خرج الخ) وكذا إذا وضع عليه قطنًا أو شيئًا آخر حتى ينشف ثم وضعه ثانيًا وثالثًا فإنه يجمع جميع ما نشف فإن كان بحيث لو تركه سال نقض وإنما يعرف هذا بالاجتهاد وغالب الظن وكذا لو ألقى عليه رمادًا أو ترابًا ثم ظهر ثانيًا فتربه ثم وثم فإنه يجمع قالوا وإنما يجمع إذا كان في مجلس واحد مرة بعد أخرى فلو في مجالس فلا تاتار خانية ومثله في البحر.

أقول: وعليه فما يخرج من الجرح الذي ينز دائمًا وليس فيه قوة السيلان ولكنه إذا ترك يتقوى باجتماعه ويسيل عن محله فإذا نشفه أو ربطه بخرقة صار كلما خرج منه شيء تشربته الخرقة ينظر إن كان ما تشربته الخرقة في ذلك المجلس شيئًا فشيئًا بحيث لو ترك واجتمع أسال بنفسه نقض وإلا لا ولا يجمع ما في مجلس آخر وفي ذلك توسعة عظيمة لأصحاب القروح ولصاحب كي الحمصة فاغتنم هذه الفائدة . (شامی:۱/ ۱۳۵، سعيد).

په فتاوی هندیه کې راځي:

وإن كان رأس الجرح مبتلا بالدم لا يعيد شيئًا منها هكذا في المحيط ولو كانت جراحةفربطها فابتل ذلك الرباط إن نفذ البلل إلى الخارج نقض الوضوء وإلا فلا، ولو كان الرباط ذا طاقين فنفذ البعض دون البعض ينتقض الوضوء . كذا في التتارخانية في نواقض الوضوء . (الفتاوى الهندية:۱/ ۳٦).

وإنما يمسح إذا لم يقدر على غسل ما تحتها ومسحه بأن تضرر بإصابة الماء أو حلها .هكذا في شرح الوقاية وإن كان يضره الغسل بالماء البارد ولا يضره الغسل بالماء الحار يلزمه الغسل بالماء الحار هكذا في شرح الجامع الصغير لقاضي خان . (الفتاوى الهندية:۱/ ۳۵).

(قوله ولو شد الخ) قال في البدائع ولو ألقى على الجرح الرماد أو التراب فتشرب فيه أو ربط عليه رباطًا فابتل الرباط ونفذ قالوا يكون حدثًا لأنه سائل وكذا لو كان الرباط ذا طاقين فنفذ إلى أحدهما لما قلنا، قال في الفتح: ويجب أن يكون معناه إذا كان بحيث لولا الربط سال، لأن القميص لو تردد على الجرح فابتل لا ينجس ما لم يكن كذلك لأنه ليس بحدث أي وإن فحش كما في المنية . (شامی:۱/ ۱۳۹، سعید).

(قوله فابتل الرباط ونفذ) ولو لم ينفذ من الرباط لاينتقض، من السندى انتهى. (تقريرات الرافعی علی هامش الشامی:۱/ ۱۹، سعید).

تنبیه: د معذور احکام مشکل او دقیق دي لهذا د معذور جوړېدو او یا نه کېدو په هکله بهشتي زېور له علماوو څخه د زده کړي کوښښ وکړي او که په خپله صلاحیت لري په خپله يې زده کړي۔

والله ﷻ اعلم۔

د نجاست له کڅوني سره په مسجد کي په جماعت دلمانځه کولو حکم

سوال: یو څوک مریض دئ د ده له نس سره یو کڅونه منښتي ده چي په هغه کي فضله مواد د پائپ په ذریعه جمع کیږي چي په عامه توګه د مقعدي له لاري څخه وي د داسي چا مسجد ته راتلل او د خلکو سره لمونځ کول څه حکم لري، ایا دا مسجد ته د نجاست راوړلو په حکم کي دي او که نه؟ او د بدبویۍ پیدا کېدو او یا نه کېدو څخه په مسئله کي فرق راځي او که نه؟

الجواب: په عامو حالاتو کي خو بدبویه شی یا نجاست مسجد ته راوړل مکروه تحریمي دئ په خاصه توګه چي کله د مسجد د ککړتیا ېره وي خو کوم څوک چي معذور وي لکه په پورتنی صورت کي نو دغه کڅوړه د ده د نس او معدې حکم لري، لهذا که بدبویه نه وي او پټه وي او د خلکو له پاره د نفرت باعث نه وي نو مسجد ته یې وړل روا دي د نبي کریم ﷺ په زمانه کي د مستحاضي ښځي په مسجد کي اعتکاف کول ثابت دي که څه هم نجاست به ورسره وو خو پټ به وو او بدبویي به یې هم نه وه لهذا ده مبارک ﷺ وربانديي انکار نه دئ کړی.

وګورئ په بخاري شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت: اعتكفت مع رسول الله ﷺ امرأة من أزواجه مستحاضة فكانت ترى الحمرة والصفرة فربما وضعنا الطست تحتها وهي تصلي. (رواه البخاري: ۱/ ۲۷۳/ ۱۹۹۱، باب اعتكاف المستحاضة، فيصل).

ددې حدیث په تشریح کي علامه عیني رحمه الله فرمایي، چي که جامي او یاي مسجد نه ککړیدئ نو درسته ده همدا ډول چي د مستحاضي په معنا وي یعني معذور وغیره د هغه له پاره هم مسجد ته ننوتل او د اعتکاف کولو اجازه سته.

وګورئ په عمدة القاري کي راځي:

ومما يستنبط منه: جواز اعتكاف المستحاضة، وجواز صلاتها لأن حالها حال الطاهرات وأنها تضع الطست لئلا يصيب ثوبها أو المسجد وأن دم الاستحاضة رقيق ليس كدم الحيض، ويلحق بالمستحاضة ما في معناها كمن به سلس البول والمذي والودي ومن به

جرح یسیل في جواز الاعتکاف. (عمدة القاری:۳/ ۱۳۰، کتاب الحیض، باب الاعتکاف للمستحاضة،
دار الحدیث ملتان). واللہ ﷻ اعلم.

تمت

